# له ولایتــه تر وزارتــه

د ننګرهار د ولایت یاد داشتونه

دلو ۱۳۹۷ل – چنګاښ ۱۳۹۹ل

لیکوال:

شاه محمود میاخیل

**له ولایته تر وزارته**

د ننگرهار د ولایت یاد داشتونه؛ دلو ۱۳۹۷ ل- چنگابس ۱۳۹۹ل


| | |
|---|---|
| لیکوال: | شاه محمود میاخېل |
| خپرندوی: | شاه محمود میاخېل فرهنگي او ټولنیز مرکز |
| ډیزاین چارې: | رحمن الله بهیر |
| د چاپ کال: | ۱٤۰۰ل، ۲۰۲۱م |
| چاپ وار: | لومړی |
| چاپ شمېر: | ۲۰۰۰ټوکه |


د چاپ بشپړ حقوق یې له لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

# ډالۍ

دا کتاب د ننګرهار د ولسونو سرښندنو او قربانیانو ته ډالۍ شو
چې همېشه یې د خپل نظام ملاتړ کړی دی.

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**


د پیل خبرې ........................................ ۸
څنگه د ننگرهار والي شولم؟ ............................ ۲۶
د معرفت غونډه ........................................ ۴۰
د کار پیل او غني خېلو ته د جمهور رئیس راتگ ............ ۴۹
په درنښت .............................................. ۴۹
د ننگرهار له هاها ډلې او فرهنگي مافیا سره مبارزه ........ ۶۰
د مثبت فرهنگي او ټولنیز بدلون لپاره ستراتېژیک کمیونکیشن ...... ۷۳
د امنیتي وضعیت ساتنه، ستونځې او پلانونه ................ ۸۱
د تورخم ستونځه ........................................ ۱۰۳
د لعل پورې نیول ........................................ ۱۰۷
د شېرزادو پر ولسوالۍ یرغل او د الفتح جگړې اعلان ........ ۱۱۴
په چپرهار کې د داعش او طالبانو پر ضد تصفیوي عملیات ...... ۱۲۱
سره رود او خوگیاڼو ته توجو ............................ ۱۳۴
د داعش خراسان د خلافت مرکزونو له منځه وړل ............ ۱۴۲
د هسکې مېنې د جودرې پېښه .............................. ۱۵۱
د داعش ماتې او د هغو د کورنیو ساتلو مدیریت .............. ۱۵۵
د شېرزادو او حصارک ولسوالیو د لارې خلاصول ............. ۱۸۲
د محلي پاڅون کوونکو گټې او تاوان ....................... ۱۸۵
ښه حکومتولي ........................................... ۱۸۸

ولسوالیو ته سفرونه ........................................ ۱۹۸
تورخم، دوربابا او مهمندرې ته سفر ........................ ۲۰۵
سره رود ولسوالۍ ته سفرونه ................................ ۲۰۶
هسکې مینې ته سفرونه ...................................... ۲۰۷
د بټې کوټ ولسوالۍ ته سفرونه .............................. ۲۰۹
د کوټ او روداتو ولسوالیو ته سفرونه ....................... ۲۱۱
د ګوشتې ولسوالۍ ته سفر ................................... ۲۱۴
د دره نور ولسوالۍ ته سفر .................................. ۲۱۷
د پچیر و اګام ولسوالۍ ته سفر .............................. ۲۱۷
د نازیانو، اچین /سپین غر ولسوالیو ته سفرونه ............... ۲۱۹
د کامې ولسوالۍ ته سفرونه .................................. ۲۲۱
د شینوارو (غني خیلو) ولسوالۍ ته سفرونه ..................... ۲۲۲
د کوز کونړ (ښیوې) ولسوالۍ ته سفرونه ........................ ۲۲۳
له فساد سره مبارزه ........................................ ۲۲۵
په جلال اباد کې د ۱۴ ولایتونو د والیانو کنفرانس ............. ۲۳۳
د استقلال د سلمې کالیزې لمانځل ............................ ۲۴۰
د جمهوري ریاست ټاکنې ...................................... ۲۴۸
ننګرهار ته د علي وزیر او محس داوړ راتګ ...................... ۲۶۰
د افغانیو ترویج او د کلدارو بندولو پروسه .................... ۲۶۲
د تېرو ناکامو هڅو ستونځې ................................... ۲۷۸
عامه پوهاوی ............................................... ۲۸۰
له بېلابېلو اقتصادي سکتورونو سره همغږي او هغوی په پروسه کې ..... ۲۸۲
له افغانستان بانک سره همغږي ............................... ۲۸۳
د پروسې عملي مدیریت له جلال آباد ښار، ولسوالیو او د همجوارو ........ ۲۸۳
متوقع ستونځې .............................................. ۲۸۶

له کورونا سره مبارزه ........................................ ۲۹۰
د ترسره شویو فعالیتونو لنډیز ........................................ ۳۲۹
د خپلو کاري تجربو په اړه په زړه پورې کیسې ........................................ ۳۳۹
جالبې او په زړه پورې کیسې ........................................ ۳۳۹
د خلکو نیوکې او منفي نظرونو په اړه ........................................ ۳٤۱
د فعالیتونو د اجراء په وخت کې فرصتونه، ننګونې، مثبت او د ضعف ........ ۳٤۲
د نازیانو او دور بابا شخړه ........................................ ۳٤٦
د جلال اباد ښاري نظم ........................................ ۳۵۰
د پاکستان د ویزو مسئله ........................................ ۳۵۲
انکشافي پروژې او ستونځې ........................................ ۳٦۱
د پښتونستان چوک او قصر بیا جوړول ........................................ ۳٦۳
د غازي امان الله خان د مقبرې جوړول ........................................ ۳٦۷
د پاچا خان (خان عبدالغفار خان) د مقبرې جوړول ........................................ ۳۷۰
د کابل – جلال اباد سرک د لومړي فیز بشپړول ........................................ ۳۷٤
د سپین جومات قرار داد لغو کول او د چارو پیل ........................................ ۳۷۷
د اسلامي پوهنتون د احاطې دیوال مسئله ........................................ ۳۸۱
د برکاشکوټ او کچړې د سرک تکمیلول ........................................ ۳۸۵
د ختیځ صحي کامپلکس د کار پیل ........................................ ۳۸٦
د درونټې- هجرت کلي او یوسف میړني د چوک پورې د سرک پراخول ... ۳۸۸
د بهسود د پلونو رغول او د عبدالخېلو ځلوښت متره سرک جوړول ......... ۳۹۲
هدفي وژنې او عوامل یې ........................................ ۳۹٦
د ډاکتر ناکامورا ترور ........................................ ٤۰٤
د حاجي ګل خالق او نور محمد شهادت ........................................ ٤۱۲
د پچیر و اګام د ولسوالی د ماهر شهادت ........................................ ٤۱٤
د مولوی محمد حنیف شهادت ........................................ ٤۱٤
د مولوي سمیع الله ریحان شهادت ........................................ ٤۱۵

د مولوي عزت الله عزتماب شهادت ........................................ ۴۱۵
د قاري هدایت الله هجران شهادت ........................................ ۴۱۶
د ډاکتر نوروز شینواري شهادت ........................................ ۴۲۰
د ډګرمن میر عباس پاچا شهادت ........................................ ۴۲۲
د استیناف محکمې د دوه کارکوونکو شهادت ........................................ ۴۲۲
د ملک تور شهادت ........................................ ۴۲۳
د استاد مسعود نیکبخت شهادت ........................................ ۴۲۳
د شیخ اکرم په جنازه کې ځانمرګي حمله ........................................ ۴۲۳
د اختطاف پېښې ........................................ ۴۲۵
د سولې مشورتي لویه جرګه ........................................ ۴۳۹
تورخم ته تګ او هلته د عمران خان راتګ ........................................ ۴۴۷
چین ته سفر (۲۳-۲۹ اپریل ۲۰۱۹م کال) ........................................ ۴۵۳
د تاوتریخوالي د منع د کمېسون د جلسې یوه پېښه ........................................ ۴۵۵
شخصي امنیتي ګواښونه ........................................ ۴۵۷
له ننګرهار څخه استعفاء او خدای په اماني ........................................ ۴۶۵

## د پیل خبرې

د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې دا دود دی؛ چې اکثره لوړ پوړي سیاسي او دولتي چارواکي او همدا شان عادي کسان د خپل ورځني ژوند او کار یاداشتونه لیکي او د فرصت په وخت کې که لازم یې وګڼي، چاپوي یې. له بده مرغه، د افغانانو په منځ کې دا دود ډېر کم او په نشت حساب دی. پخوانیو سیاسي او دولتي چارواکو ډېرې لیکنې په میراث نه دي پرېښودلي. تېرې پنځه لسیزې چې د افغانستان د ژوندي تاریخ یوه مهمه برخه ده، اکثرو سیاسي او دولتي مشرانو دا دود نه دی ساتلی، چې خپل یاداشتونه وساتي او چاپ یې کړي. څنګه چې په تیرو پنځو لسیزو کې د ولسونو قرباني له خاورو لاندې شوې، همداسې ورسره د افغانستان د تاریخ لویه برخه هم د خاورو لاندې شوې ده. ډېرو مهمو مشرانو ته مې لکه استاد عبدالرب رسول سیاف او قاضي محمد امین وقاد[1] ـ الله تعالی دې وبخښي ـ سره څو ځلې یادونه وکړه، که د خپل ژوند خاطرات چاپ کړي، نو ډېر ښه به وي. دا دوه مشران مې ځکه یاد کړل چې له دوی سره ډېرې قصې شته اوباید لیکلې یې وې.

[1] متاسفانه قاضي محمد امین وقاد د ۱۴۰۰ل کال د جوزا د میاشتې په ۲۴مه نیټه د کرونا د وبا له امله وفات شو او ډېر څه یې د ځان سره یوړل. دا لیکنه د هغه د وفات نه د مخه ما کړې وه.

په دې توګه د افغانستان اکثره سیاسي مشران او حکومتونه لکه څنګه چې د بهرنیانو په مرسته تکیه کوي، همداسې لیکوالانو هم تاریخ لیکنه بهرنیانو ته پرېښودې ده. د نړۍ په کچه د افغانستان د مسایلو په هکله اکثرې معتبرې لیکنې د بهرني تاریخ پوهانو او لیکوالانو له خوا تر سره شوي دي. همداعلت دې چې افغانان د خپلو خبرو او لیکنو په عوض د بهرنیانو په لیکنو او خبرو زیات استناد او تکیه کوي او حتی د افغاني لیکوالانو لیکنو ته د شک په سترګه ګوري. زما په اند که افغانان پخپله لیکنې ونه کړي او د لیکوالانو د لیکنو اعتبار لوړ نشي، د افغانستان د تاریخ لویه برخه به همیشه نیمګړې او ډېر واقعیتونه به مسخ شوې وي ځکه چې د بهرنیانو د لیکنو داخلي منابع همیشه محدودې او ځیني بیا د سلیقوي او خاصو اهدافو په خاطر بیطرفه لیکنې نه کوي. نیمګړی او مسخ شوې تاریخ د نیم علم په شان دی، چې راتلونکي نسلونه بیا په ښه توګه نشي کولای، چې د تاریخي پیښو په هکله سالم قضاوت وکړي او د خپل هېواد د پالیسو په هکله سم تصمیم ونیسي.

زما په اند، همدې نیمګړتیاو افغانانو ته کاذبه غرور، د کمترۍ او په ځینو مواردو کې د بیځایه برترۍ احساس هم ورکړی دی. د اکثره افغانانو په بحثونو کې قضاوتونه د تاریخ په واقعي روایتونو ولاړ نه دي. د بیلګې په توګه لکه چې ویل کیږي افغانستان هېڅکله اشغال شوې نه دی او یا په افغانستان باندې بل چا پادشاهي نه ده کړې. دوی دې ته نه ګوري چې سلطان محمود غزنوي، بابر او نادر افشار د افغانستان نه و خو کلونه کلونه هغوی او کورنیو یې په دې سیمو باندې حکمراني کړیده. یا افغانستان او جاپان په یوه ورځ ازاد شویدي؛ اما افغانستان وروسته پاتې شو او جاپان پر مختګ وکړ. جاپان هېڅکله چا نیولې نه و او کله چې لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه پیل کېدله، جاپان د پرمخ تللو هېوادونو په قطار کې و؛ چې بحري او هوايي جهازونه یې جوړول او د جګړې یوه خوا وه. په دې توګه د افغانانو قضاوت د افراطي حالت په تور او سپین لیکو ویشل شوی دی.

دا شرط نه ده، چې هر ليکوال دې د تاريخ ليکنې په قواعدو او اصولو پوه وي، بلکې سياسي او دولتي چارواکي او حتی عادي کسان هم کولای شي، چې د خپل وخت خاطرات او د سترګو ليدلې پېښې د راپور په شکل ثبت او وليکي؛ څو مسلکي تاريخ ليکونکي او ليکوالان د دغه ليکنو په استناد تحليلي ليکنې او تاريخ وليکلای شي. د تېرو پيرونو تاريخ که لولو او يا په تيرو پيښو بحثونه کوو، استناد يوازې په هغو ليکنو کېږي چې په ميراث پاتې دي. کېدای شي چې پخوا زرګونه نورې پېښې بې له ثبت او ليکلو تېرې شوي وي او موږ ترې خبر نه يو.

زما په اند، د ياداشتونو د نه ليکلو او چاپولو يو مهم علت وېره ده. اکثره سياسي او دولتي چارواکي فکر کوي که څه وليکي، څوک به خفه شي، څوک به پرې نيوکې وکړي او يا د ملامتې ګوته به ورته ونيول شي. دا سمه نه ده. وېره انسان د کار او ابتکار نه پاتې کوي. هغه کسان چې په ځان باور نه لري او وېره ورسره وي، هغوی مستقل نظر نشي درلودلی، په سمه توګه د خدمت مصدر هم نشي ګرځېدلی او نه د خپل کار او ژوند په هکله ليکنې کولی شي. هر څوک چې کار کوي، خامخا به يو ځای نيم اشتباه هم کوي، يو شمېر کسان به ترې خفه کېږي او يو شمېر کسان به پرې نيوکې هم کوي. ما د خپل ماموريت په ټولو دندو کې هميشه خپل همکاران تشويق کړي، چې په صداقت کار وکړي او د خلکو د نيوکو او ملامتياو پروا ونه ساتي.

متل دی، چې وايي نيت صفا منزل اسان او يا کله کله خلک وايي: چې غل نه يې له پادشاه نه مه ويرېږه. په همدې نيت او کاري ميتود مې تيرو څه د پاسه څلورو لسيزو کې کار کړيدی، د خپل ورځني ژوند او د دندو لويه برخه يادداشتونه مې ليکلي، ساتلي او چاپ کړي دي. زما لومړی کتاب چې د بيړنۍ لوی جرګې په هکله و، د ډيزاين او سبک له اړخه يې نيمګړتياوې درلودلې. د نيمګړتياو يو برخه زما د ليکلو وه او بله برخه د ګران ملګري عبدالله پيکار وه چې د اديټ شوې نسخې په عوض يې نا اډيت شوې نسخه چاپ کړې وه. هغه کتاب يو ځل بيا اصلاح او چاپ ته اړتيا لري. اما زما وروستۍ ليکنې يو د

بل پسې ښه کېدلې. کله چې په ۲۰۰۵م کال کې له کورنیو چارو وزارت استعفا ورکړه، په هغه وخت کې مې هم د کورنیو چارو وزارت یاداشتونه د (د کورنیو چارو وزارت: لاسته راوړنې او خنډونه) تر عنوان لاندې چاپ کړل. د کونړ ولایت کتاب مې هم له مشرانو سره د مرکو، په خپلو سترګو د پېښو لیدو او تحقیق یوه برخه ده. د واقعیتونو په بهیر کې او زما نور کتابونه د همدغه لړۍ دوام دی.

اوس به هم زما لیکنې د ادبیاتو په ټولو قوایدو سمې نه وي خو دا وېره راسره نشته، چې ګوندې د (ی) ګانو د غلطیو او یا سبک د نیمګړتیاو له امله به مې څوک د دسترخوانه پاڅئ او یا به مې ملامته کړي. که سبک، ادبیات او محتوا ټول سم وي، نو ډېره ښه خبره ده خو همیشه محتوا د سبک نه مهمه ده. په دې کتاب کې به هم ډېرې نیمګړتیاوې وي خو ډېر څه ټولنې ته وړاندې کوي. هیله ده چې ګران لوستونکي دا کتاب په غور سره ولولي.

له ولایته تر وزارته کتاب هم زما د ماموریت یو له مهمو کتابونو څخه دی. په دغه دوره کې، که څه هم لنډه وه خو ډېر تحولات په ننګرهار کې رامنځته شول. په دې ولایت کې زما ماموریت د څو بحرانونو د مدیریت دوره وه او د هر بحران مدیریت ځانګړې توجه او تګلاره غوښتله. ولس دغه بحرانونو ته په ذهني لحاظ برابرول او بیا د بحران مدیریت کول زما په فکر اسانه کار نه و. د مدیریت په علم کې ویل کېږي، چې له نه پرېکړې بده پرېکړه هم ښه ده. د بحران په مدیریت کې مو د همدې فرمولې نه کار اخیسته. ارزونه مو دا وه که پرېکړې ونه کړو، مسؤلیت په غاړه وانخلو، خطر ونه منو، نو عواقب به څه وي؟ د هر بحران د مدیریت لپاره مو باید هره ورځ په لس ګونو پرېکړې کړې وې. په داسې حالت کې چې هممهاله دا ممکن نه و، چې د هرې پرېکړې ټول اړخونه په ښه توګه څېړلې او ارزولې وې. یعنې SWOT (Strength, Weakness, Opportunity and Threat Analysis) تحلیل په سمه توګه نشو کېدلی. توجه مو یوازې دې ته وه چې ریسک یا خطر څنګه کم کړو. په

تاریخي اهمیت سربېره د دې کتاب د لیکلو اهمیت نورو دولتي چارواکو ته دی چې د مدیریت د بحران په هکله او هم په راتلونکې کې د ښې حکومتولۍ لپاره ترې گټه واخلي.

په دغه لنډه دوره کې ننگرهار کې د داعش مرکزونه او جغرافیوي موجودیت له منځه یوړل شو، امنیتي توسعه، د افغانیو ترویج، له کورونا ویروس (وبا) سره مبارزه، د استقلال د سلمې کلیزې او د بیرغ د ملي ورځو لمانځل، د جمهوري ریاست ټاکنې، فرهنگي او ټولنیز مثبت تغیر لپاره کار کول، د ننگرهار د تاریخي ځایونو لکه د غازي امان الله خان او پاچا خان د مزارونو جوړول، د ننگرهار د شاهي ماڼې بیا رغونه، د پښتونستان او یوسف میرني د چوکونو جوړول، د سپین جومات د قضې حل او داسې نورې پروژې بشپړې شوې، چې هر یو یې ځانگړی تاریخي او فرهنگي اهمیت لري.

په حکومتي دندو کې د امکاناتو او قانوني صلاحیتونو محدودیتونه همیشه شتون لري او هر څه چې د یو چارواکي زړه غواړي هغه نشي۔ کولای. له بله پلوه د ټولنې عیني او ذهني شرایط هم په کارونو باندې خاص اغیز لري. په حکومتي دندو کې که کار کوي، همیشه به له یو شمېر کسانو سره چې گټې یې په خطر کې لویږي ټکر کوې. دا ډول کسان او گروپونه خامخا کوښښ کوي، چې د چارواکو کارونه له خنډ او ځنډ سره مخ کړي. په دې توگه هیڅ حکومتي چارواکی نشي کولای، چې د ولس ټولې غوښتنې په خپله کارې موده کې پوره کړي.

د ننگرهار د ماموریت پرمهال زما ټول فوکس یا توجه په شپږو برخو وه، چې هرې برخې له بلې برخې سره مستقیم تړاو درلود:

۱. امنیتي وضعیت ساتل او پراخوالی

۲. د وخت له تقاضا سره سم د روایتي مدیریت بدلول نوي بڼې ته.

۳. د ولایتي ادارې اعتبار لوړول، د ولس او خلکو ترمنځ واټن کمول او د حکومتولۍ ښه کول.

٤. انکشافي کارونو ته زمینه مساعدول.

۵. لـه فسـاد سره مبـارزه، د قـانون واکنمنـي او پـه ادارو کـې د زورواکـو د مداخلو مخنيوي او

٦. له ټولو نه اړينه مسئله په ټولنه او ادارو کې فرهنگی، ټولنيزاومثبت فکـري تغير راوستل و.

په دې کتاب کې هـره برخـه پـه تفصـيل سره څيـړل شـوې او بـې لـه زيـاتي اوکمښت مې ټولې پېښې ثبت کړي دي. په ډېـرو مـواردو کـې مـې د اشخاصـو نومونـه پـه دې خـاطر نـه دي اخيسـتي، چـې لـه دوی سره مـې کومـه شخصي-ستونځه نه درلوده اما د ادارو او سيمو نومونه مې ذکر کړی دي. لـه ټولـو مهمـه خبره دا ده چې په هره ډله، اداره او سيمه کې ښه او خراب شته، نو کـه د کـومې ادارې، گروپ او سيمې نومونه اخستل شوي وې، هدف تـرې د چـا تـوهين نـه دی او هميشه استثنا وجود لـري. دلتـه مـې ارښـاواد گـل پاچـا الفـت صيب تـه منسوب شوې يو شعر راياد شـو، چـې د خپـل پـلار نـه مـې څـو لسيزې پخـوا اوريدلې و. مگر ما چيرته په کوم کتاب کې نه دی لوستی.

نـــه دي بـــد تمـــام غلجـــي او دراني<br>
نـــه ازبـــک نـــه هـــزاره نـــه ترکمنـــي<br>
نـــه ښـــه دي او نـــه بـــد ټـــول ولســـونه<br>
دې قـــانون نـــه مســـتثنې دي لغـــماني

(دا چې الفت صيب پخپله د لغمان و، نو فکر کوم چـې مطلـب بـه يـې دا و چې لغمانيان ټول هوښيار دي. پخوا د لغمان اوسيدونکي نظـر نـورو سـيمو تـه زيات تعليميافته او گرځندويه و، نو ځکه لغمانيانو په هوښيارۍ شهرت درلود.)

په ننګرهار کې په تیرو پنځه لسیزو کې پنځو[۲] کورنیو د ننګرهار ولایت په عایداتي سرچینو او ادارو کافي نفوذ او کنترول درلود. د ولایتي شورا اکثره غړیو او وکیلانو هم د همدغه کړیو پورې تړاو درلود. په حقیقت کې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د ننګرهار سیاسي، اقتصادي او امنیتي کنترول د دغه پنځوکورنیو په لاس کې و. ننګرهاریانو دغه کورنۍ د حویلیو په نامه یادولې. که له حویلیو سره به د حکومتي چارواکو اړیکه ښه نه وه، په ننګرهار کې دنده سرته رسول ستونځمن و. په لویه کې د ننګرهار اکثره مشران، ملکان، علماء، مدني ټولنې، ژورنالستان او تجاران د دې حویلیو د حمایت او سوري لاندې ژوند کاوه او د دوی په ګوندیو کې ښکیل و. که د یوې حویلۍ حمایت به دې پیدا کړ نو د بلې حویلۍ دښمنې به دې په غاړه شوه. دا ممکن نه و، چې د ټولو حویلیو قدرتمندان په یوه لاره سره تللي وی. همدوي به همیشه په ننګرهار کې د ولسونو استازولي په رسمي او غیر رسمي محافلو کې کوله. کابل او د افغانستان په نورو سیمو کې هم دوی مطرح و. په حقیقت کې ولس له دوی په تنګ و؛ خو له دې سره سره ولس حرکت هم نشو کولای؛ ځکه د ننګرهار او حتی د ختیځو ولایتونو سیاسي، اقتصادي او امنیتي قوت له دوی سره و. د کونړ، لغمان او نورستان ولایتونو اکثره مشرانو به هم له دغه حویلیو سره تړاو درلود او ډلو ډلو به د دوی په حویلیو کې شپې او ورځې تیرولې.

د امنیتي ادارو لویه برخه د دغه حویلیو په خدمت کې وه او اکثره د ادارو مشرانو به هره ورځ او یا په اونۍ کې یو ځل د دغه حویلیو نه لیدنه کوله او د دوی حمایت به یې تر لاسه کاوه. په حقیقت کې دا ډول علایق د پښتنو په ټولنه کې ژورې ریښې لري. دا د پخوانیو ګوندویواو د ساتلو لړۍ ده، چې اوس یې سیاسي رنګ نیولای یا په اصطلاح د ماډرن ګوندیو لړۍ ده. د تورو او

[۲] د شهید حاجي عبدالقدیر، شهید حاجي محمد زمان غمشریک، د مشرانو د جرګې د مشر-فضل هادي مسلمیار، حاجي حضرت علي او وکیل فریدون خان مومند کورنۍ وې. البته دې کورنیو بیا په ولسونو کې قومي او سیاسي ګوندي ماران درلودل چې ریښې یې په ولسوالۍ او کلیو کې وې.

سپینو بیرغونو، د سقاوي او امان الله خانۍ د دورو ګونـدي اوس هـم د مشرقي په ځینو سیمو کې او حتې د لرې پښتونخواه پـه پاړاچنـار او وزیـرو سـیمو کـې پالل کېږي.

دا چې په تیرو پنځـو لسـیزو کـې زه د ننګرهـار لـه ولسـونو سره نـږدې پـاتې شوې یم، د مشرقي په سیمو کې د قومونو او روحاني نفوذ په هکله مـو تحقیـق او ریسرچ کړی؛ نـو د ننګرهـار اقتصـادي، سیاسي او بشري جغرافیـه راتـه ښـه معلومه ده. د ننګرهار له ولایت د مخـه، مـا د حویلیـو ټـول مشرـان او د کورنیـو غړي د نږدې نه پیژندل او د ټولو سره مې په شخصي لحاظ ښه سلام علیک هم درلود. دا چې ما مستقیم مسؤلیت په ننګرهار کې نه درلود، نو د دوی په کارونو مې هم سر نه خوږوه او نه مې له دوی سره په پره، ګوندۍ او یا اقتصادې معاملو کې برخه درلودله. هغه د عوامو په اصطلاح د چا سره په معاملو کې شریـک نـه وم او نه د چا د تاثیر لاندې وم.

د ولایت په دوره کـې مـې د دوی د بـدنامیو لپـاره بیځایـه شـعارونه هـم نـه ورکول، خو د ولایت چارې او پروګرامونه مـې د حویلیـو د مشـورو نـه پـه غیـر سرتـه رسـول. لـه ټولـو سره مـو اړیکـي د قـانون د پـلي کولـو پـه چوکـاټ کـې درلودلې. دوی هم په دې پوهیدل چې ما له یوې او بلې حـویلې سره پـه پـره او ګوندې کې برخه نه اخیستله، له هیچا سره په اقتصادي ګټو کې شریـک نـه وم، د قانون او ولسي راشه درشې په چوکاټ کې د ننګرهار د ټولو قومونـو، مشرـانو او شخصیتونو عزت مې ساته.

افغانان په ټوله کې په سیستم جوړونې عقیده نه لري. همیشه د اکثرو کسـانو د ویلو او عمل تر منځ مغایرت یا Contradiction وجود لري. د افـرادو، ټولنـو او سیاسیونو اړیکي او دوستي په مقطعي او موقتي توګه د سـیاسي او اقتصـادي اهدافو په خاطر همیشه د تغیر په حالت کې وي. همـداعلت دی، چـې د اکـثره افغانانو عمل، کردار او پریکړې له ارزښتونو سره متناقضې وي. پـه دې خـاطر د سیاسونو په مخالفت او ملاتړ ډېر باور نه دی پکار.

په ننګرهار کې زما له ماموریت د مخه، اکثرو چارواکو خپله د ناکامیو پړه د صلاحیت په نه لرلو سره په حویلیو اچوله او پـه ګونـګ ډول بـه یـې د مافیـایې کړیو یادونـه کولـه، چـې ګونـدې دوی چـارواکي کـار تـه نـه پریـږدي. دا ډول یادونې هم سمې نه وې؛ ځکه د والي نوم پخپله د یوې سـیمې د لـومړي درجـه مسوول په توګه لوی صلاحیت دی. چارواکو باید خطـر منلـی وي. هـر څـوک چې د چارواکو د کار مخه نیسي، باید په مقابل کې یې ودریږي.

د ولایت د چارو له مسؤلیت اخیسـتلو وروسـته؛ د مـا لپـاره دوه بدیلونـه یـا تګلارې وې. یا به مې د ولس ملاتړ د خدمت او سیستم جـوړونې پـه چوکـاټ کې تر لاسه کولای او یا به مې له یوې یا دوه حویلیو سره اړیکې ساتلی. دویـم اپشن یا تګلاره د ناکامې او بدنامې وه. که له یو یا دوه حویلیو سره مـې اړیکـې ساتلي وی، خامخا به د نورو حویلیو له مخالفت سره مخامخ کېـدلم. افغانسـتان کې که د سیستم جوړونې او خلکوته خدمت هم کـوې، خـو هغـه کسـان چـې متضرر کېږي، هغـوی د حکـومتي چـارواکو پریکـړې شخصـي- ګڼـي او ځینـو وختونو کې خبره دښـمنۍ او د دوسـتۍ او خپلـوۍ د علایقـو پریکولـو تـه هـم رسیږي. دا چې زما یوازنۍ موخه خدمت و، نو له حویلیو سره د جوړ جـاړي پـه عوض مـې ولسـونو تـه د خـدمت کولـو تګـلارې تـه تـرجیح ورکـړه. د دا ډول تګلارې غوره کول څه اسانه کار نه و. که د مهارت نه مو کار نه وې اخستې، له ډېرو سره دښمنیو ته هم پکې رسیدلې شوم؛ ځکـه زمـا پـه هـره پرېکـړه؛ د دوی اقتصادي او سیاسي نفوذ کمېده.

په هر حال د ولایت په ماموریت کـې زه د ننګرهـار د باعلمـه او بـا فرهنګـه ولسونو او هم د حویلیو د ټولو مشرانو نـه د زړه لـه کـومې مننـه کـوم؛ چـې پـه مستقیمه او غیرمستقیمه توګه یې زما حمایت وکړ. د حویلیو د مشرانو نـه ځکـه مننه کوم چې تر ډېره حده یې زما په کارونو کې مداخله نـه کولـه. کـه ځینـو بـه کله کله مخالفت هم کاوه، خو خبره یې د دښمنۍ تر سرحده نه رسوله. لـه کـوم یو سره به چې ټکر راتله؛ که هغوی به ځانونه غلي ونیول، نو ما به هم ځان غلـې ونیوه او کوم یو به خبره علنې کړه نو ما به هم د دوی مخالفت علني کړ.

په دغه لنډه دوره کې له ډېرو ستونځو او نیمګړتیاو سره سره، ننګرهار یو ځل بیا د هېواد په کچه د ښې حکومتولۍ بېلګه شوه. ډېرو ولایتونو او حتی مرکزي حکومت هم د ننګرهار د کارونو ستاینه کوله. زیادتره ولایتونو ډېر پروګرامونه لکه د افغانیو رواجول، له کورونا سره مبارزه او له ولسونو سره هره ورځ مثبت معلومات شریکول له ننګرهار کاپي کول. په اخر کې تر ډېره حده ولسونه، د حویلیو اکثره مشران او مرکزي حکومت د ننګرهار د کارونو او چارو راضي و. جمهور رئیس محمد اشرف غني راته د وزیر محمد اکبر عالي مډال او له ننګرهاره د خدای په امانۍ په ورځ ولسونو سلګونه ستاینلیکونه راکړل.

اړینه بولم، چې د ننګرهار د ټولو امنیتي او ملکي ادارو د مشرتابه او همکارانو ځانګړې منده وکړم، چې د دوی د حمایت نه په غیر ما ډېر څه نه شو کولای او په ټولو لاسته راړونو کې د ننګرهار د ولایتي ادارې ټول همکاران له مستخدم او سرباز نه نیولې تر ولایت د معاونینو پورې شریک بولم. زما په اند که د دندو مسؤلیتونه سره توپیر لري؛ خو د یو مستخدم او سرباز د دندې او د والي د دندې په اهمیت کې هېڅ توپیر نشته دی. که سرباز د والي امنیت ونه ساتي نو والي هېڅکله هم خپلې چارې په سمه او ارامه توګه پر مخ وړلی نه شي. لکه څنګه مې چې د ماموریت په وخت هم د ټولو لاسته راوړنو کریډیت ادارو او د هغوی مسوولینو ته ورکاوه او د نیمګړتیاو پړه ما منله اوس هم وایم؛ چې زما د ماموریت په دوره کې که هره نیمګړتیا زما په کارونو که وه، د ټولو نیمګړتیاو پړه او مسؤلیت زما په غاړه و/ دی.

زما د کورنۍ، ملګرو او دوستانو، همکارانو او کابل کې د اکثرو مشرانو لویه اندیښنه زما د امنیت په تړاو وه؛ ځکه زه قوماندان نه وم، غیر مسؤل وسله وال اشخاص مې نه درلودل، د کوم تنظیم او ډلې غړی نه وم او زیات وخت مې له قلم سره سر و کار و. ننګرهار ته هم له یو قلم سره ورغلی وم. ورونه، خپلوان او نږدې کسان راسره نه و؛ چې زما امنیت یې ساتلی وی. یوازې د نظام په ادارو او سیستم مې اتکا وکړه. دا په دې معنی نه وه؛ چې ګوندې ما ورونه، د کاکا زامن،

خپلـوان، ملگـري، دوسـتان او کلیـوال نـه درلـودل. زمـا شـپاړس ورونـه او اوه خویندي وې، په سلهاو د کاکا زامن او خپلوان مې درلـودل. یـو څـوک چـې د څلورو لسیزو نه زیات په مهمو دندو کـار وکـړي، خامخـا بـه ډېـر دوسـتان او د کندهاري ورونو په اصـطلاح شـناخته گـان لـري. د پـلار لـه خـوا، زه د میـاعلي صیب (رح) او د مور لخوا دکونړ د لوی خان غازي میرزمان خان د لمسـیانو لـه جملې یم. د دواړو اړخه مې کافي خپل پردې او دوستان پـه ننگرهـار او ختـیځ ولایتونو کې درلودل. د دومره زیاتو خپلوانو او دوستانو عدم مداخلـه د ولایـت په اداره کې هم څه اسانه کار نه و او یو څه بدسترگۍ ته یې اړتیـا درلـوده، چـې ځینې رانه اوس هم خفه دي او گیلې لري.

د ماموریت په لومړیو شپو او ورځو کې هدفي وژنې، چاودنې، انتحـاري یـا ځان وژونکي پیښې، د طالـب، داعـش او نـورو تروریسـتي ډلـو موجودیـت؛ د جلال اباد ښار اوشاوخوا سیمو او ولسوالیو کې عامه خبره وه. طبعي خبره ده که ولسونو ته کار کوې، نو د یو شمېر کسـانو گټـې؛ چـې زیـان گـوري، هغـوی بـه خامخا مخالفت کوي او که وسه یې وشي، په ژوند دې هـم صرفـه نـه کـوي. د کامې، کوز کونړ (ښیوې) او دره نور ولسوالیو پرته نورو ولسوالیو ته د حکـومتي مامورینو او د هغو، چې لږ کاروبار ښه و تـگ راتـگ پـه وېـره او نـاممکن و. د شیخ مصري صنعتي ښارگوټې ته، چې له جلال ښار سره لږه فاصله لري، ډېـرې د فابریکو خاوندانو راته ویلې چې په میاشتو هم د اختطاف او تهدید له املـه د خپلو فابریکو نه کتنه نشي کولای او که کوم وخت لیدنه کوله، هغه هـم پـه پټـه او په چریکي توگه باندې ورتلل. د جلال اباد ښار شپږمه، اتمه او نهمه ناحیـه د باړې او غیرې علاقې په نوم یادیدله؛ ځکه پولیس حتې د ورځې هم هغه سـیمو ته بې له پوره تدابیرو نشو تللې[3].

[3] د خیبر پښتونخواه قبایلي سیمو ته پخوا علاقه غیر ویل کېدله. باړه پیښور سره نږدې سیمه ده هرچا چې بـه په پیښور کې کوم جرم وکړ نو د باړې سیمې ته به تښتېدل ځکه د پیښور پولیسو هلته کنترول نه درلود.

کله چې موږ د امنیت خبره کوو نو په داسې ماحول کې د والي شخصي-امنیت ساتل ډېر ستونځمن کار دی؛ ځکه د ترورستي حملو تر څنګ د والي د اوسیدلو ځای، تګ او راتګ لارې، دفتر او موټرې باید هره لحظه د څار لاندې وي، چې څوک کوم بمب کینږدي، د خوړولو څارنه باید په جدي توګه وشي چې څوک پکې زهري مواد وانه چوي او امنیتي کسانو باندې هم باید نظارت موجود وي، چې کوم نفوذي کس په ساتونکو کې لاره پیدا نه کړي او یا له مخالفینو سره اړیکه ونه لري، چې د کندهار او ځینو نورو ځایونوغونډې پېښې تکرارنشي[٤]. همدا شان د غونډو او سفرونو پوره امنیت باید ونیول شي. که والي خپل مجالس محدودوي، نو بیا له ولسونو سره د والي اړیکه پرې کېږي او که سفرونه او مجالس زیاتوي؛ نو تهدید هم زیاتیږي، چې د ځینو پېښو یادونه په دې کتاب کې شوې ده.

په تېرو څو لسیزو کې چې ما د ملګرو ملتونو او یا له نورو ادارو سره دنده درلودده، د دفتر، همکارانو او فردي امنیت د ساتنې په هکله مو، چې هر څومره ټریننګونه اخیستی و، د ټولو ټرینګونو په اخره کې به دا توصیه کېده، چې امنیت د هر چا فردي مسؤلیت دی. که یو څوک هر څومره ښه امنیتي سیستم د ځان لپاره ولري، د دښمن له حملې یې بچ کولای نه شي، څو چې پخپله د ځان لپاره امنیتي سیستم جوړ نه کړي. په دې توګه د ټولو امنیتي کسانو د حمایت ترڅنګ، زه همېشه خپل امنیت ته پخپله متوجه وم او زما د تګ او راتګ پلان یوازې د ما سره و. زما ډریوران، د امنیت مسوول او نږدې ساتونکي به هم خبر نه و، چې زما وروستی حرکت په کومه خوا دی. دوې هم له ما پوښتنه نه کوله، چې چیرته ځو او څه کوو. کله به چې موټر ته وختلم؛ نو بیا به

---

[٤] ۲۰۱۸م کال د اکتوبر په اتلسمه نېټه د یو کس نفوذي په واسطه د کندهار امنیه قوماندان، جنرال عبدالرازق، د ملي امنیت ریس، جنرال مومن شهیدان، د کندهار والي جنرال توریالی ویسا زخمي شو. په دغه حمله کې د غوڅ ملاتړ عمومي قوماندان جنرال سکاټ میلر بچ شو خو دوه امریکایان ووژل شول.

مې خپل ډریور او امنیتي کسانو ته وویلې چې فلاني ځای ته ځو. په ځینې موارود کې د ځان د تیاري لپاره به مې صرف دومره ورته وویلې، چې ځانونه تیار کړئ او سفر ته په کتو به مې ورته ویلې چې څنګه تدابیر ونیسي.

په دې برخه کې د دفاعي او امنیتي ادارو له مشرانو خاصه مننه کوم، چې زما امنیت ته همېشه متوجه و او هر یو راسره په خپله برخه کې پوره مرسته کړې ده. په لومړي سر کې د ملي امنیت د عمومي رئیس محمد معصوم ستانکزي، د کورنیو چارو وزارت ارشد امنیتي معین، جنرال خوشال سادات او د ملي امنیت د ۶۴۲ ادارې مشر جنرال نجیب احمدزي نه مننه کوم؛ چې زما د تقرر په لومړیو میاشتو کې یې زما د امنیت مسؤلیت په مستقیمه توګه په غاړه واخیست. دوی د خاصو قطعاتو او ملي امنیت د ادارې یو شمېر مسوولین مؤظف کړل؛ چې زما امنیت وساتي. په دې لړ کې زه د کورنیو چارو وزارت د ختیځ زون د ۹۹۹ لوا له ځانګړو قطعاتو قوماندان سمونوال ایمیل نیازي نه مننه کوم؛ چې یو مجهز دلګی یې زما د امنیت ساتلو لپاره راولیږه. همدا شان د ملي امنیت په مسؤلینو کې د لومړی بریدمن مجیب ځاځي، لومړی بریدمن خان محمد مومند او تورن عمر ځاځی مننه کوم؛ چې د امنیتي مسؤلیت ترڅنګ یې په لومړیو میاشتو کې زما د سکرترانو په توګه دنده هم اجرا کوله.

په ننګرهار کې د ملي امنیت رئیس، ډګرجنرال نظرعلي واحدي، د ننګرهار د ملي امنیت د ریاست لومړي مرستیال جنرال سید نورالله سادات، د ملي امنیت اطرافي مرستیال فضل هادي، دملي امنیت اوپراتیفي مرستیال جانشاه، د ملي امنیت د ښاري څانګې مرستیال سید حکیم، امنیه قوماندانانو هر یو پاسوال غلام سنایي ستانکزي، سمونوال عبدالرقیب مبارز، سمونمل ایمل نیازي اوپه ولسوالیو او جلال اباد ښار کې د دوی له ټولو همکارانو مننه کوم، چې همیشه به یې په ډېر لږ وخت کې زموږ د هرې غونډې او په جلال اباد ښار کې د ګرځېدلو لپاره لازم امنیتي تدابیر نیول. همداشان د ۲۰۱ سیلاب قول اردو د قوماندانانو ډګرجنرال محمد زمان وزیري او تورنجنرال عبدالهادي ترین، د څلورمې پلې لوا قوماندان، برید جنرال محمد کریم نیازي، د سرحدي لوا

قوماندان، برید جنرال محمد ایوب حسین خیل، د عامه نظم لوا قوماندان برید جنرال محمد نصیر ساپي او د دوی له همکارانو، چې ولسوالیو ته به په اکثرو سفرونو کې یو ځای و او له نورو امنیتي ادارو سره یې په پوره همغږۍ، امنیتي تدابیر نیول.

د ولایت، د جلال اباد د شاهي ماڼۍ، د ښاروالۍ د میلمستون او زما د شخصي امنیت د قطعې قوماندان سمونیار فریدالله حمزه او د هغه مرستیال محمد ایمل او د ولایت د امنیت مسوول محمد یعقوب مومند او له ټولو سربازانو او سرګروپانو خاصه مننه کوم، چې ۲۴ ساعته ستړیاوې یې ګاللې؛ څو زما او زما د کورنۍ امنیت وساتي. ما به خپل کار سهار شپږنیمې یا اوه بجې پیل کاوه او زیاتره وخت به د شپې تر نهو او یوولسو بجو پورې لګیا وم؛ چې تر دغه وخت به ټول په خپلو دندو کې حاضر و. دوی به سهار وختې زما د دفتر میزونه، الماری، کوچونه، چوکۍ او لارې چیک کولې. د ترافیکو په مسوولینو کې له لومړي ساتنمن سیداوقیانوس پاچا او لومړي ساتنمن بلال نه مننه کوم، چې په ډېر لږ وخت کې به یې زموږ د لارو تنظیم؛ بې له دې چې لارې بندې کړي تر سره کاوه. د ولایت په دوره کې چې هر څومره خطر به هم و، ما نه غوښتل چې لارې زما د وتلو په خاطر بندې شي او همیشه به ډرېوران ترافیکي اشارو ته ودریدل او ترافیکي قوانین به یې مراعات کول.

په اداري بخش کې د ولایت د دواړو مرستیالانو محمد عارف تمیم مومند او حبیبه کاکړ، د دفتر رئیس انجینر محمد فرید ناصرزي، د بشري سرچینو رئیس احمد ضیا عبدالزي، اداري ریس قریب الله هجرت، د ټولو ادارو رئیسانو، ولسوالانو، د جلال اباد ښاروالانو هر یو ریاض الله درمل او روح الامین حسن نه مننه کوم. چې د دوی دوامداره ملاتړ د ولایت په ټولو مالي او اداري کارونو او د ولسونو ستونځو ته د رسیدګي په هکله نهایت اړین و. د خپلو سکراترانو هر یو محمد صادق کریمزي، فواد حاجي زاده او عصمت الله ابراهیمي مننه، چې په نوبت به یې څلورویشت ساعته دنده اجرا کوله؛ څو د

خلکو تلیفونو ته ځواب ووایې او مهم مسایل له ما سره شریک کړي. د شکایتونو او د خلکو سره د ستونځو د اورېدو د ۱۶۰ شمېرې د مسوولینو هر یو پرویزخان او انجینر ذبیح الله نه هم مننه کوم؛ چې شپه او ورځ یې د خلکو ستونځو ته رسیدګي کوله او هغه مهم مسایل؛ چې حل یې د دوی له وسې پوره نه و، له ما سره شریکول. د ټولو ادارو له ریسانو، د ادارو د مشرانو او ولسوال صیبانو؛ چې نومونه یې د کتاب په وروستیو کې شتون لري له ملاتړ او همکارۍ یې مننه کوم.

د عطاءالله خوګیانۍ په مشرۍ د مطبوعاتي ټیم، سنګر پښتون، نوراحمد حبیبي، اسدالله بارکزي او موسم خان نه مننه کوم؛ چې هره ورځ یې د مهمو کړنو راپورونه ترتیبول، فلمبرداري یې کوله او ټول راپورونه، عکسونه او ویډیوګانې یې د ولایت د پاڼې او یوټوپ له لارې نشر ته سپارلې. له دوی یو ځل بیا مننه، چې د جمعې او نورو رخصتیو په ورځو به یې هم کار کاوه او تر هغه به کورونو ته نه تلل، چې خپل کار به یې نه و خلاص کړی.

د ولایت په چوکاټ کې سید روح الله پاچا چې دمخه سکتوري ریس او زما په وخت کې سکتوري کارپوه و او همدا شان زما د دفتر رئیس انجینر فرید احمد ناصرزی؛ هغه دوه کسان و، چې کلونه یې په ننګرهار کې کار کړې و او هیڅا پرې د فساد تور نشو پورې کولای. د ولایت هر مهم کار به چې خاصه توجه غوښتله، نو ما به دوی مؤظف کول؛ چې موضوع وڅېړي او ما ته خپل نظر راکړي. د پاکۍ تر څنګ دوی د ننګرهار په مسایلو او اداري ستونځو په هکله پوره معلومات درلودل او په کار پوه همکاران مو و. له فساد سره د مبارزې په هکله، دوی زما د سنګر نېږدي کسان و او همیشه یې ښې مشورې راکولې. له دواړو ډېره زیاته مننه کوم.

د ننګرهار ولایت د ملي شورا او ولایتي شورا له وکیلانو او سناتورانو مننه کوم؛ چې د دوی ملاتړ او د ځینو مخالفت دواړه د ننګرهار د امنیت او ولسونو په خیر و. د مشرانو د جرګې د ریس ښاغلي فضل هادي مسلمیار نه خاصه مننه کوم؛ چې زما د ماموریت په دوره کې یې زما په کارونو کې مداخله نه کوله او

همیشه یې ملاتړ کاوه. د ننګرهار د ټولو مشرانو، علماو، ځوانانو او بیلابیلو اقشارو او ولسونو نه مننه کوم چې د دوی د ملاتړ نه په غیر ما ډېر څه نشو کولای.

د ولایت خانه سامان حاجي هفته ګل ماما او د هغه له کورنۍ او زامنو حاجي راحت، همت او لمسیانو هر یو حکمت، عنایت او عظمت مننه کوم، چې په ډېر کم وخت کې به یې څو ځایه په سلهاو کسانو ته ډوډۍ او د غونډو تنظیم نیوه. هفته ګل ماما تقریبا شپیته کاله د جلال اباد په شاهي ماڼۍ او د ننګرهار په ولایت کې کار کړی او د ننګرهار د شاهي ماڼۍ او اداري یو ژوندي تاریخ دی. که هر څومره لوی غونډې به وې، موږ تشویش نه درلود او دوی به د میلمنو خدمت په ښه توګه تر سره کاوه. ما د خپلو خوړو په هکله هېڅ تشویش له دوی او هم د خپل شخصي-اشپز، نورعلم ماما نه درلود. نورعلم ماما د کابل د قره باغ اوسیدونکې دی، چې له لسو کلونو راپدېخوا له ما سره کار کوي. جلالتماب جمهور رئیس زما د ماموریت پرمهال پنځه ځلې ننګرهار ته راغلی دی او د راتګ پرمهال به زیات ترتیبات نیول کېدل؛ د جمهور رئیس د سل ګونو امنیتي کسانو او ورسره لوړ پوړو چارواکو میلمه پالنه دوی ټولو په ښه شکل کوله.

د خپلې کورنۍ او په خاصه توګه له خپل کشري زوي احسان محمود میاخېل نه مننه کوم، چې د ماسترۍ درسونه یې پرېښودل او اته میاشتې یې له ماسره په افتخاري توګه په ننګرهار کې کار وکړ. احسان په اداره او منجمنټ کې له امریکې لسانس لري او زما له امنیتي مسایلو نیولې د کور او تقسیم اوقات د تنظیم ټولې چارې یې سرته رسولې او زما د نږدې امنیت مسؤلیت یې په غاړه درلود. نوموړې راته یو ښه امنیتي سیستم جوړ کړی و او کله چې له ننګرهاره تللم، خپل ټول امنیتي کسان او سکرتران مې نوي والي، ښاغلي ضیاالحق امرخیل ته پرېښودل چې هغه زما په شان په لومړي سر کې له ستونځو سره مخامخ نه شي.

د یادونې وړ ده، چې د ولایت تقریبا ۴۵ امنیتي گاردانو او ډریورانو ته مې د داخلي او نړیوالو خاصو قطعاتو لـه خـوا ځـانگړی ټریننـگ ورکـړې و. دا ډول ټریننگونه خورا قیمته او مسلکي و، چې څنگه امنیتـي کسـان او ډریـوران د یـو چارواکي نږدې امنیت (Close Protection) وساتي. له خپلو ډریورانو، حـاجي شرین اغا، خان، دولت شاه، ماڼوگل، اعتبارگل او دل اغا مننه کوم چې همېشه د موټرو ساتنې ته متوجه و. کـه څـه هـم ټولـو امنیتـي مسـوولینو او ډریورانـو زمـا امنیت ته زیاته توجه کوله، مگر حاجي شیرین اغا چې زمـا پخـوانې دوسـت او ملگری او په افتخاري توگه یې ډریورۍ راته کوله، زما له زوی هم زما امنیت ته ډېر متوجې و. په یقین سره ویلای شم؛ که زما امنیتي کسانو او ډریوانو ټریننگ اخیستی نه وی، په څو پیښو کې به موږ ډېر تلفـات ورکـړي وی. د خـدای (ج) فضل و؛ چې یو ځل یوازې یو ډریور اعتبارگل په ورمیږ کې زخمي شو؛ مگر د الله تعالی مهرباني وه، چې مرمۍ یې دننه ورمېږ ته داخل نه شوه او لـه دوه درې اوونیو وروسته ښه شو.

د ښاغلي حکیم الدین منځني نه خاصه مننه کوم چې د دې کتاب د ایډیټ چارې یې په لـږ وخـت کـې سرتـه ورسـولې او لازمـې مشـورې یـې راکـړې. د پوهنمل هجرت الله اختیار نه مننه کوم چې د کتاب د محتوا په هکلـه یـې راسره خپلې مشـورې شریکـې کـړې. کـه د محتـوا، سـبک او ادبیـاتو لـه لحـاظ هـره نیمگړتیا په دې کتاب کـې وي، هغـه زه خپلـه نیمگړتیـا او تقصـیر گـڼم، لکـه د کارونو پېړه په بل چا نه اچوله، نو د دې نیمگړتیاو پړه هم په دواړو نه اچوم.

په اخر کې یادونه کوم؛ چې پـه ننگرهـار کـې زمـا د ماموریـت دوره تقریبـا یونیم کال وه. د حکومت په چوکات کې یو نیم کال ماموریت زیات وخت نـه دی. کـه د دې لنـډې دورې ورځـې او سـاعتونه لـه کـارونو سره مقایسـه شي، لوستونکې قضاوت کولای شي، چـې مـوږ لـه هـرې شـیبې څـومره مـؤثره گټـه اخیستې ده او د وخت مدیریت مو څنگه کړی دی. خپل وخت مو پـه چکـرو، میلمستیاوو، بېځایه غونډو، گپ شپ او بنډارونو باندې نه دی تېر کړی. پـه هـر

حال، د دې لنډې دورې د ښـو او بـدو مقایسـوي قضـاوت درنـو لوسـتونکو، د ننګرهار ولسونو او په راتلونکې کې تاریخ لیکونکو ته پرېږدم.

**په درنښت او کونړۍ مینه**

**شاه محمود میاخیل**

د ننګرهار پخوانی والي، کابل، وزیر اکبرخان مینه

د ۲۰۲۱م کال د مې د میاستې یولسمه نېټه

## څنګه د ننګرهار والي شولم؟

د افغانستان جمهور رئیس محمد اشرف غني مې لـه ۱۹۹۰م کـال راپـدېخوا پېژنده او سلام کلام مو سره درلود. زه هغه وخـت پـه پېښـور کـې د امریکـا غـږ راډیو سیمه اییز خبریال وم. له ۲۰۰۲م کال راپـدېخوا مـو سره پېژنـدګلوي نـوره هم زیاته شوه. په بېړنۍ لویه جرګه کې زه د خاص کونړ د ولسوالۍ اسـتازی وم او ډاکتر محمد اشرف غني د مرستو د تنظیـم کـوونکي کمېټـې مشر۔او هـم د بېړنۍ لوی جرګې په چـارو بوخـت و او اړیکـه مـو سره درلـوده.[5] کلـه چـې پـه ۲۰۰۳م کال کې د کورنیو چارو وزارت معین مقرر شوم، رابطه مو سره نوره هـم زیاته شوله؛ ځکه دی د مالیه وزیر و او کارونه مو سره تړلي و.

د ۲۰۱۴م کال کې له ټـاکنو د مخـه د نړیـوالې ټـولنې لـه خـوا پـه امنیتـي او اقتصادي انتقال باندې زیات بحث و، خو په سیاسي انتقال چې څنګه ټاکنې تر سره شي او سیاسي قدرت له یو منتخب جمهور رئیس نـه بـل منتخـب جمهـور رئیس ته ولېږدول شي؛ کم بحث تر سره کېـدو. پـه سـیاسي انتقـال بانـدې د لـږ بحث اصلي علت دا و؛ چې جمهور رئیس حامد کرزی؛ حاضر نه و چې ټاکنې په خپل وخت وشي او له امریکـا سره یـې د امنیتـي تـړون BSA (US-Afghan Bilateral Security Agreement) په سر نانډرۍ رواني وې. هغه وخـت زه پـه افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت رئیس وم. زموږ نظر دا و کـه سیاسي ثبات په افغانستان کې نه وي، امنیتي او اقتصادي ثبات په یو هېـواد کـې نشي راتللی، نو باید سیاسي انتقال د افغانستان د حکومت، سیاسیونو او نړیـوالې

---

[5] تفصیل یې، بېړنۍ لویه جرګه او د مشرقي په ولایتونو کې د ټاکنو په بهیرنومې کتـاب کـې لوسـتلې شي (د لیکوال اثر).

ټولنې او په خاصه توګه د امریکا د پالسیو په سر کې ځای ولري. په هغو بحثونو او مجالسو کې چې ما د سیاسي مشرانو، نړیوالې ټولنې او په خاصه توګه له امریکایانو سره په مختلفو محافلو او مجالسو کې درلودل، د ټولو نظر دا و؛ چې ښاغلی حامد کرزی د ترون له لاسلیک د مخه غواړي، چې د هغه د قدرت دوام ګرنټي شي اویا داسې یو کس انتخاب شي چې د ده په خوښه وي. دا بحثونونه هم و؛ چې ښاغلی حامد کرزی د یوې بلې دورې د ټاکنو حق هم لري؛ ځکه د لومړۍ دورې ټاکنې د بن د ترون په اساس شوې وې نه د اساسي قانون له چوکاټ سره سم. ځینو بیا د روسیې د جمهور رئیس پوتین او میدویدوف مثالونه وړاندې کول که دی څوک وټاکې نو له هغې وروسته به بیا دا ځان کاندید کړي ځکه په اساسي قانون کې دا واضحه نه ده؛ چې د دوه پرله پسې دورو وروسته د وقفې په صورت کې یو کس بیا ځان جمهوري ریاست ته کاندید کولې شي او که نه؟

پورته هدف ته د رسیدو په موخه، د جمهور رئیس حامد کرزي کوښښ دا و، چې داسې زمینه مساعده کړي؛ څو ټاکنیز ټیمونه غیر متجانس او هم د ټاکنو پایله جنجالي شي او په اخره کې ټاکنې نا مشروع اعلان کړي. باالاخره په ۲۰۱۴م کال جمهوري ریاست ټاکنو کې د امریکې خارجه وزیر John Kerry په اخرې شیبو کې مداخله وکړه او د ملي وحدت حکومت باندې توافق وشو چې جمهور رئیس محمد اشرف غني به جمهور رئیس او ډاکتر عبدالله عبدالله به د اجرائیه شورا رئیس وي. دمخه له دې د ۲۰۰۹م کال د جمهوري ریاست د ټاکنو پر سر هم د امریکا او جمهور رئیس حامد کرزي ترمنځ اختلاف د نظر موجود و او په ټاکنو کې یې د امریکا د خاص استازي ریچارد هولبروک (Richard Holbrook) مداخله غندله. د جمهور رئیس حامد کرزي په قول امریکا د ټاکنو په کمېسون فشار راوړ، چې په لومړي پړاو کې دې ګټونکې اعلان نشي. د دویم پړاو ټاکنې ترسره نه شوې ځکه چې ډاکتر عبدالله عبدالله په دویم پړاو ټاکنو کې برخه نه اخیستله او په دې توګه د حامد کرزي حکومت

له بشپړ مشروعیت برخمن نه و. په حقوقي لحاظ د ټاکنو دویم پړاو باید تر سره شوی وی. نړیوالې ټولنې او په خاصه توګه امریکا هم د دویم پړاو مصارفو او امنیتي تدابیرو نیولو ته خوښه نه وه. په هغه وخت کې ډاکتر عبدالله عبدالله داسې وښودله؛ چې ټاکنې یې په لومړي پړاو کې ګټلي دي او له ده ګټلې ټاکنې اخستل شوي دي. د ښاغلي کرزي د دویمې دورې د عدم مشروعیت په هکله ډنډوره تر اخره پورې غږیدله.

په ۲۰۱۴م کال کې د جمهور رئیس محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله عبدالله ټاکنیز ټیمونه هم په دې پوه شوې و که د ملي وحدت حکومت (د ۵۰/۵۰ حکومت) د جوړولو پریکړه ونه مني، نو کېداې شي چې جمهور رئیس کرزی، تاکنې باطلې اعلان کړي. په یوه مجلس کې جمهور رئیس کرزي ویلې و چې د اساسي قانون په اساس باید سیاسي قدرت منتخب جمهور رئیس ته انتقال شي که کمېسون د ټاکنو پریکړه اعلان نه کړي، نو دې هم سیاسي قدرت ډاکترغني او ډاکتر عبدالله ته نه تسلیموي. د ښاغلي کرزي په قول، سبا به ډاکتر سپنتا او هېوادمل هم وایې چې قدرت ما ته انتقال کړه، نو زه دا کار نه کوم. زما په اند، د ۲۰۱۴م کال د ټاکنو د جنجال او د ملي وحدمت د حکومت د جوړیدو او راولاړ شوو ټولو ستونځو مسؤلیت د جمهور رئیس کرزي په غاړه و؛ ځکه دې په قدرت کې و او باید با اعتباره او کره ټاکنو ته یې زمینه برابره کړي وای. که امریکایانو مداخله وکړه، یا ټاکنې شفافي نه وې او یا سم کمېسون نه و تعین شوی، د دې ټولو مسؤلیت د ده په غاړه و ځکه دی جمهور رئیس و؛ نه ډاکتر محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله عبدالله.

دا چې زه د سیاسي انتقال پلوې وم، تر خپله وسه به مو په ټولو نړیوالو او ملي کنفرانسونو او مجالسو کې همیشه په سیاسي انتقال اصرار کاوه. د سیاسي انتقال په هکله مو له سیاسي مشرانو سره ډېر بحثونه درلودل. کله چې د امریکې پخواني خارجه وزیر John Kerry چې د امریکا د سنا مجلس د خارجي کمیټې رئیس و، د ۲۰۱۲م کال د اپریل په میاشت کې کابل ته راتلله، نو د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت نه یې غوښتنه کړې وه چې د کابل په دفتر کې

ورته ناسته له ځينو سياسي مشرانو او مدني ټولنو سره برابر کړو، نو ښه به وي؛ څو په سياسي انتقال او ټاکنو بحث وشي. د امريکې سفارت د سياسي او امنيتي ملحوظاتو په خاطر د دغه مجلس مخالفت کاوه. د امريکې سفير، James Cunningham دا وېره درلوده؛ چې جمهور رئيس حامد کرزی به کوم عکس العمل وښايي، خو د سناتورجان کيري په اصرار دا مجلس د اپريل په دولسمه نېټه تر سره شو. په دغه مجلس کې ډاکتر عبدالله عبدالله، محمد حنيف اتمر، ستانه گل شيرزاد، هوسۍ وردک، پلوشه حسن، جانداد سپين غر او سليمان کاکړ برخه درلوده. که فرصت و انشاالله، د ۲۰۱۴م کال د جمهوري رياست د ټاکنو په هکله به يو جدا کتاب ليکم؛ ځکه کافي اسناد او شواهد راسره شته چې دا پروسه څنگه ترسره شوله.

د ۲۰۱۴م کال په ټاکنو کې ما د جمهور رئيس محمد اشرف غني ملاتړ وکړ. زه دلته يوازې نه وم بلکې موږ د فکر او عمل جرگه جوړه کړه. د کورنيو چارو وزارت پخوانی وزيرعلي احمد جلالي چې يو له احتمالي کانديدانو نه و، ځان کانديد نه کړ، نو د فکر او عمل جرگې ترې وغوښتل چې له ډاکتر محمد اشرف غني خپل ملاتړ اعلان کړي. زما شخصي- نظر دا و که سياسي انتقال وشي نو دا به د افغانستان په تاريخ کې لومړی ځل وې چې قدرت له يو منتخب جمهور رئيس څخه بل منتخب جمهور رئيس ته انتفال شي. له جنگ وروسته هېوادونو کې دا مهمه ده، چې د سياسي قدرت انتقال د ټاکنو په وسيله دوام پيدا کړي. کله چې د سياسي قدرت انتقال د څو ټاکنو په وسيله دوام پيداکړي، نو بيا يو هېواد د جنگ د بحران نه وځي. همېشه په سوله ايېزه لار د سياسي قدرت انتقال د کودتاه گانو، د نظام د سقوط او زور له لارې د قدرت له نيولو غوره لار او د ولس په خير ده. که څه هم ما جمهور رئيس غني ته په هغه وخت کې ويلې و؛ چې په حکومت کې د کار کولو په خاطر دې ملاتړ نه کوم او اراده هم نه لرم؛ خو د ده اصرار دا و که ټاکني مو وگټلې نو حتما به ورسره کار کوم؛ ځکه کار د يو ټيم په توگه ښه په مخ ځي.

له ټاکنو وروسته د جمهوري ریاست د لوړې د مراسمو په وخت کې زه امریکې کې وم. له امریکې چې راغلم، نو کونړ ته تللې وم؛ چې ښاغلي محمد معصوم ستانکزي راته تلیفون وکړ؛ چې کابل ته راشه او یو مهم کار مو درسره دی. که څه هم ما ورته وویلې که په تلیفون یې راته ووایې نو ښه به وي خو دی وویلې: چې په تلیفون نه ویل کېږي او حتماً راشه. هماغه و چې کابل ته ولاړم او له ستانکزي صیب سره مې ولیدل. ستانکزي صیب راته وویل که هرات ته د والي په توګه لاړ شي څنګه دې خوښه ده؟ ما ورته وویلې که یوه خبره وي؛ نو هرات ته نه ځم. درې څلور علتونه یې درلودل چې ما د هرات ولایت مسؤلیت ونه مانه.

څه موده وروسته راته جمهور رئیس زنګ ووهه چې د کونړ او ننګرهار لپاره به مناسب کسان څوک وي؛ چې د والیانو په توګه وټاکل شي. ما ورته وویل چې دکونړ لپاره د کونړ پخواني والي اسدالله وفا مناسب شخص دی؛ چې څو دورې یې هلته کار کړی دی او خلک ترې خوشاله و. رئیس صیب وویل: چې هغه به یې ونه مني. ما ورته وویل چې زه به ورسره وغږیږم او تېر ځل هم کله چې زه د کورنیو چارو وزارت معین وم، ما ورته وویلې که له پکتیا کونړ ته لاړ شي نو ښه به وي او هغه دا ومنله. رئیس صیب ته راوویل چې ته ورسره خبره وکړه. د ننګرهار لپاره ما ورته وویل چې که د بل ولایت نه څوک تعینوي نو ښه به دا وي چې د هرات والي، ډاکتر داود سبا د ننګرهار والي شي. په چوټ اندازه توګه تعینات ګټه نه لري؛ باید د یوې ستراتیژۍ له مخې ګومارنې وشي. رئیس صیب راته وویل: چې ته پرې فکر وکړه او ماښام به درته بیا زنګ ووهم. زموږ له خبرو لږه شیبه وروسته راته بیا ښاغلي معصوم ستانکزي صیب زنګ ووهه چې د رئیس مطلب دا دی که زه د ننګرهار والي شم نو ښه به وي. ما ورته وویلې چې ننګرهار د سیمې او خلکو سره بلد یم او ستونځې راته معلومې دي نو ټرینینګ او زده کړې ته حاجت نشته، سمه ده. د دې بحث نه وروسه د جمهوررئیس د شاوخوا مهمو کسان لکه محمد اکرم خپلواک، غلام نبي فراهي، اکلیل حکیمي او ځینو نورو راته وویلې چې ستا کار خلاص

دی او ننګرهار ته به ځي. ما ورته وویلې چې سمه ده زه د یو کنفرانس لپاره امریکې ته ځم او درې څلور ورځې وروسته به بیرته راشم. په همدې وخت کې د کابل په هوایي ډګر کې وم؛ چې حاجي ظاهر قدیر هم راته تلیفون وکړ؛ چې له رئیس صیب سره مو مجلس درلود نو ستا په هکله یې پوښتنه وکړه که د ننګرهار والي شي، څه نظر لرئ؟ حاجي ظاهر وویل: چې رئیس صیب ته مې وویلې چې نوموړی نهایت مناسب کس دی او موږ ټول یې ملاتړ کوو. فیصله وشوله چې ته به ننګرهار ته ځې او دا وړاندیز رد نه کړې. ما ورته وویل: چې سمه ده خو حاجي ظاهر قدیر خبر نه و؛ چې ګوندې ما له رئیس صیب سره په دې هکله د مخه خبرې کړې دي.

کله چې واشنګټن نه ورسیدم او فیسبوک مې بیرته کړ، ګورم چې سلیم خان کندوزی د ننګرهار د والي او وحید الله کلیمزی د کونړ د والي په توګه تعین شوی دي. خدای شاهد دی سخت خفه شوم. د خپل ټاکلو په هکله نه؛ بلکې ما له وفا صیب سره خبرې کړې وې او هغه راسره منلې وه. د دوی دا ګړندی پریکړه سمه نه وه. زما د ټاکلو په هکله د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکې ادارې مشر، جیلاني پوپل چې هغه وخت جمهور رئیس غني ته نږدې کس و، مخالفت کړې و. که څه هم زه د مخالفت په دلیل هغه وخت نه پوهیدم، خو وروسته کلونو کې راته جیلاني پوپل د جاوید لودین په کور کې وویل: چې کله زه د کورنیو چارو وزارت معین وم، د دوی د افغان ملت یو ګوندي ملګری مې د تګاو د ولسوال په توګه نه و ټاکلې نو ځکه خفه و او مخالفت یې وکړ.

په هر حال کله چې له امریکې راستون شوم، له ډاکتر محمد اکرم خپلواک او ښاغلي غلام نبي فراهي سره یو ځای مو جمهور رئیس غني په ارګ کې د هغه د اوسیدو په ځای کې ولید؛ چې پښه یې پلستر وه. د جمهور رئیس د پښې هډوکي په ارګ کې له ځوانانو ټیم سره د منډې سیالۍ کې درز کړی و او په بستر کې و. ما ورته وویل: چې رئیس صیب له ځوانانوسره سیالي ښه نه ده؛ لږ

احتیاط کوه. د رئیس صیب دلیل دا و چې ښه یې پایخه کې ونښتله؛ نو ځکه راغورځېده که نه له ځوانانو یې منډه ګټله.

د خبرو په جریان کې ما ورته وویل: چې رئیس صیب ما د دندې غوښتنه نه وه کړې او تاسي راته وړاندیز وکړ. د کونړ د والي د تعین کېدو په هکله زه له وفا صیب سره غبرېدلې وم او هغه منلې وه. کونړ زموږ سیمه ده، په ټاکنو کې مو هلته منډې تړړې وهلې وې، نو باید یو مصلحت راسره شوی وی. رئیس صیب وویل: چې زه ملامتې منم خو راشه د ملګرو ملتونو په چارو کې زما ستر سلاکار شه. ما ورته وویلې چې رئیس صیب زه ښه دنده لرم. په حکومت کې مې دوه دندې نه خوښېږي؛ چې یو مشاوریت او بل معینیت ځکه مشوره خو هسې هم نه اخلې او معینیت مې کړی دی؛ که وزیر درسره جوړ نه وي نو معینیت هېڅ معنی نه لري. ښه به دا وي چې که کله اړتیا وه، یو خدمت راته وسپاري، انشاالله په ښه توګه به یې اجرا کړم. وروسته رئیس صیب اغلې زهرا نادري د ملګرو ملتونو په چارو کې ستره سلاکاره وټاکله.

له دې خبرو وروسته، د ملي وحدت د حکومت د پرېکړو په اساس د ټاکنو په سیستم کې اصلاحات رامنځته شوي وی. د دغه اصلاحاتو لپاره باید یو کمېسون تعین شوی وی؛ چې لازم وړاندیزونه یې حکومت ته ورکړي وی. که څه هم د ملي وحدت د حکومت له پرېکړو دا مهمه پرېکړه وه؛ خو د کمېسون د غړو د تعین پر سر د جمهور رئیس غني او ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیمونو تر منځ ناندریو یو کال ونیوه او بالاخره په څوارلس کسیز ټیم هوکړې ته ورسېدل. د ملیتي ترکیب په اساس په دغه کمېسون کې دوه پښتانه، اوه تاجک، درې شیعه، یو ازبک او د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي مرستیال د غړو په توګه تعین شوې و[6]. د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي- مرستیال د رایې حق نه

[6] سلطان شاه عاکفي د ټاکنو د اصلاحاتو د کمېسون د رئیس، صدیق الله توحیدي د کمېسون مرستیال، او وکیل اسدالله سعادتي، فیض الله ذکي، ډاکترمحمد علي امیري، عبدالقدیر کریاب، صالح محمد ریګستاني، ډاکتر عالمه، ډاکتر بشیر فاروق، د ولسي جرګې پخواني وکیله صبرینا ثاقب، د عدلي وزرات د تقنین رئیس

درلود؛ خو د کمېسون افتخاري غړی و؛ ځکه چې د یونیما دفتر تخنیکي همکاري کوله. شخصا له ما سره او هم د کمېسون د اکثرو نورو غړو سره د مخه مصلحت شوی نه و، چې ایا موږ د دغه کمېسون غړیتوب مانه که نه؟ خو بیا د یو فرمان په ترڅ کې دا کمېسون اعلان شو.

د ما لپاره دا مهمه وه؛ چې مخکې له دې چې د کمېسون عضویت قبول کړم، باید له خپل دفتر سره مې پرې بحث کړی وی او د هغوی موافقه مې ترلاسه کړي وای. په هر حال د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت دفتر ته مې وویل: چې ټاکنیز سیستم په سوله او ثبات تاثیر لري او زه باید د موجوده دندې په دوام سره په دغه کمېسون کې کار وکړم. هغوی زما دا وړاندیز ومانه او د کمېسون کار مو پیل کړ. په دغه وخت کې راته پوهاند اسمعیل یون زنګ ووهه؛ چې د کمېسون غړیتوب مه قبلوه؛ ځکه پښتانه په دغه کمېسون کې کم دي. ما ورته وویل: چې موږ د پښتنو د استازو په توګه نه؛ بلکې د مسلکي کسانو په توګه تعین شوې یو او خپل نظر په ښه توګه څرګندولې شو نو نه منل څه ګټه نه لري. بل دا چې موږ ته د پښتنو کومې مجموعې صلاحیت نه دې راکړې تر څو د دوی استازیتوب وکړو؛ خو هر یو په خپله برخه کې کار کوو او له هغه پریکړو به حمایت کوو؛ چې د افغانستان د اکثریت ولس په خیر وي.

د فرمان په اساس کمېسون باید خپلې پریکړې د اجراییه شورا رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله ته وړاندې کړی وی. د دغه کمېسون د بحثونو په هکله ځانګړې لیکنه مهمه ده؛ ځکه په کمېسون کې د کاوون کاکړ او زما نظر دا و چې ټاکنیز سیستم باید حوزوي وي. مګر د کمېسون د نورو غړو نظر په تناسبي او بالاخره هغوی په MDR چې د حوزوي او تناسبي سیستمونو مختلط سیستم دی، فیصله

---

عبدالمجید غني زاده، کاوون کاکړ، شاه محمود میاخیل او د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشی مرستیال Tadamichi Yamamoto د غړو په توګه په ۱٦ د جولای ۲۰۱۵م کال تعین شول.

وکړه. د MDR سیستم د افغانستان په شرایطو کې غیر عملي سیستم دی او حتی د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم عام نه دی.

له ما او کاوون کاکړ پرته د کمېسون د نورو غړو نظر دا و؛ چې دوی باید په رای ګیرۍ فیصله وکړي؛ خو موږ دواړو ورته وویل: چې دا مسئله په رای ګیرۍ نه حل کېږي. د دوی فیصله غیر عملي او په خاصه توګه د پښتنو شمېر په ولسي جرګه کې راټیټوي، نو دا تاریخي ملامتیا موږ نشو منلې. دوی ته مې وویل: چې ستاسي فیصله هغه قصې ته ورته ده چې دوه غله سره یو ځای شوي و، یو یې ټوپک درلود او بل بې وسلې و. د ټوپک والا خپل ملګري ته ویلې و؛ چې هره غلا مو وکړه، نو هغه به درې تقیسمه کېږي. یوه برخه ستا، یوه برخه زما او بله برخه به زما د ټوپک وي. ملګري یې ورسره دا ومنله. کله چې دوی غلا وکړه، نو د ټوپک والا ورته وویلې چې یوه برخه زما، یوه برخه زما د ټوپک او دا دریمه برخه هم تاته د ټوپک په زور نه درکوم؛ لاس دې ښکته پورته خلاص. د کمېسون غړو ته ما وویل: چې ستاسې پرېکړه د دې غلو په شان ده او دا د منلو نه ده. دا خبره مو په خبرې کنفرانس او خپلو مصاحبو کې هم هغه وخت وکړه. زموږ نظر دا و؛ چې ښه به دا وي چې جمهور رئیس او کابینې ته دواړه نظرونو وړاندې کړو او هغوي به نهایي پرېکړه وکړي ځکه د کمېسون نظر مشورتي دی نه الزامي. له بده مرغه د کمېسون غړي زموږ له نظر سره مخالف و او نه یې غوښتل چې زموږ نظر حکومت ته وړاندې شي. کاوون کاکړ او زه مجبور شولو؛ چې له کمېسون بایکاټ وکړو. موږ د کمېسون له پریکړو سره خپل بایکاټ او مخالفت د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې اعلان کړه.

شپږ میاشتې مو په دغه کمېسون کې کار وکړ؛ خو څه نتیجه یې ورنکړه او بالاخره پارلماني ټاکنې ځنډنې او د پخواني سیستم له مخې چې (SNTV ) ورته وایي چې په کې ټول ولایت یوه حوزه وي؛ تر سره شوې. زه اوس هم په همدې نظر یم؛ چې د نړۍ ټولې لوی ډیموکراسي ګانې لکه: امریکا متحده ایالات، هندوستان، انګلستان، فرانسه، ایران او حتی پاکستان هم حوزوي

سیستم لري او دا د افغانستان په خیر او ګټه سیستم دی. د یادونې وړ ده چې کاوون کاکړ او ما د کمېسون ځانګړي حقوق د حق الحضور په نوم، په دغه شپږو میاشتو کې چې یو نیم میلیون افغانۍ وې، وانخستلې او ورته مو وویل چې دومره امیتاز اخستل مناسب کار نه دی او موږ هر یو دنده لرو. لازمه یې بولم؛ چې یادونه وکړم چې د دغه پروسې په هکله که فرصت په لاس راغی یو هر اړخیزه لیکنه وکړم او دا به د ټاکنو په تړاو تصمیم نیولو لپاره مهمه وي.

له دغه مسئلې وروسته ما هڅه ونه کړه؛ چې په حکومت کې کار وکړم ځکه ورځ تر بلې د جمهور رئیس غني د A ټیم ترمنځ چې په هغه کې محمد حنیف اتمر، اکلیل حکیمي، غلام جیلاني پوپل، محمد اکرم خپلواک، عبدالسلام رحیمي، حکمت خلیل کرزی، غلام نبي فراهي، محمد معصوم ستانکزي او ډاکتر محمد عمر زاخیلوال شامل و، اختلاف زیاتیده او اکثرو یې د راتلونکي جمهوري ریاست خوبونه کتل. په دې وخت کې ما یوه مقاله هم ولیکه؛ چې جمهوري رئیس غني خامخا دویم ځل ته کاندید دی او کوښښ وکړئ، چې نوموړی کامیاب کړئ. که د ده دوره بریالۍ نه وي، نو تاسې له ملامتیا اوږه خالي کولای نه شئ. زما دا مقاله د پژواک خبري اژانس له لوري هم خپره شوه.

کله چې د جمهور رئیس غني A ټیم وپاشل شو؛ نو د جمهور رئیس B ټیم چې په هغه کې ډاکتر حمدالله محب او ډاکتر فضل محمود فضلي مهم رول پیدا کړ، دوی بیا له ما غوښتنه وکړه چې د ننګرهار د والي په توګه تعین شم؛ خو دا ځل بیا په اخري دقیقو کې د سلیم خان کندوزي په عوض، محمد ګلاب منګل د ننګرهار والي تعین شو. جمهور رئیس غني پخپله ګلاب منګل ته ویلې و؛ چې میاخیل صیب ننګرهار ته نه لیږم چې بدنامه نشي؛ ځکه هغه نرم مزاجه دی، ګلاب منګل ورته ویلې و؛ چې دې بدنامې ته ما لیږې؟ رئیس صاحب ورته ویلي و؛ چې نه تا په نورو ولایتونو کې کار کړی دی او د ننګرهار وضعیت مدیریت کولای شې. په دریم ځل بیا هم کله چې د محمد ګلاب

منګل د تبدیلۍ بحث رامنځته شو او د ننګرهار وضعیت خراب شو، د ډاکټر فضل محمود فضلي نظر دا و چې زه د ننګرهار والي شم او ما ته یې وویلې چې رئیس صاحب درې نومونه غواړي؛ چې زما نوم هم پکې دی. دا ځل ډاکټر صیب محب د هلمند والي، حیات الله حیات طرف ته لنګر واچوه او هغه یې تعین کړ. کېدای شي چې د رئیس صیب نظر هم هماغه پخوانی و؛ چې زه شاید د ننګرهار ولایت مدیریت ونه کړی شم. دا اوازې به په فیسبوکونو کې هم مطرح کېدلې او زیاتو دوستانو به راته زنګونه وهل؛ چې دا اوازې ثقه دي او که نه؟ یو شمېر دوستانو به زما په پلوۍ پوستونه هم کول، چې که د ننګرهار لپاره د والي په توګه تعین شم؛ ښه به وي. ما هم ګڼو دوستانو ته د ثقه توب په اړه څه نه ویلې، ځکه د رئیس صیب نظر راته معلوم نه و.

په اخره کې راته ډاکټر صیب فضلي وویل: چې رئیس صیب وایې که چین ته د سفیر په حیث لاړ شي نو ښه به وي او دا ډان ډیل یعنې نهایي شوې فیصله ده. ما ورته وویل: چې چین ته نه ځم ځکه د چین د سفارت نه زما خپل دفتر چې د سولې په مسایلو کې بوخت یم ښه او په بهر کې د کار کولو اراده نه لرم. دا چې جمهور رئیس غني په لومړي سر کې پخپله ماته د ننګرهار د ولایت وړاندیز کړې و؛ نو ما هم ضد نیولې و که د ننګرهار ولایت نه وي، بله دنده په حکومت کې نه کوم. په دې کار کې ما دوه مهم هدفونه درلودل. لومړی د ننګرهار سیمه مې ښه پېژندله او فکر مې کاوه؛ چې له بل هر ځای به په ننګرهار کې ښه کار وکړای شم. دویم دا چې که کار مې وکړای شو، نو دا به ثابته کړم چې د قلم په زور حکومت کېدلای شي او دا ضرور نه ده، چې والیان دې زورواکي وی.

د افغانستان دننه او بهر د ځینو تحلیلګرانو ترمنځ دا بحثونه و؛ چې ولایتونو کې زورواکي ښه کار کولای شي او تعلیمیافته کسان نشي کولای؛ چې ولایت وکړي. زه د دوی له بحثونو سره همېشه مخالف وم. ما په خپلو ټولو لیکنو کې د افغانستان د مشکلاتو د حل یوازنۍ لاره د حکومتولۍ ښه والی ګڼله او دا دلیل مې راوړه؛ چې د زورواکانو په موجودیت کې هېڅکله حکومتولي ښه

کېدلی نشي. که د دوی په موجودیت کې حکومتولي ښه کېدای شوی، نو دا ځلور لسیزې خو په اکثرو سیمو کې زورواکان یا جنگسالاران په قدرت کې دي، نو ولې یې ونه کړای شول؛ چې حکومتولي ښه، امنیت تامین او انکشاف ته زمینه برابره کړي. زه په دې عقیده یم؛ چې د افغانستان د موجوده قوانینو، بشري ظرفیت او امکاناتو په چوکاټ کې د یوې سیمې او حتی د ټول هیواد حالت په ډېره اسانۍ سره ښه کېدلی شي؛ په دې شرط، چې د حکومت پاملرنه یوازې د حکومتولۍ ښه والي ته وي؛ نه له باجگیرانو سره معاملې او سازش.

هماغه و چې د ۲۰۱۹م کال د جنورۍ میاشتې په ۲۹مه نېټه چې د سه شنبې ورځ وه، یو ځل بیا راته محب صیب زنگ ووهه چې سفر لرم، دوه دریو ورځو کې بیرته راگرځم، نو سره کینو او یو مهم کار مې درسره دی. ما ورته وویلې چې د پنجشنبه په ورځ زه امریکې ته د خپل دفتر د کلنۍ (Annual Retreat) مجلس په خاطر ځم. د امریکې نه چې راغلم بیا به سره وگورو. محب صیب وویل: دا چې تاسې ځئ، نو غواړم چې یو موضوع در سره همدا اوس په تلیفون شریکه کړم. اوله پوښتنه دا ده چې تا مطلق د حکومت سره بایکاټ کړی دی، چې په حکومت کې به کار نه کوې او که څنگه؟ ما ورته وویلې چې نه مطلق بایکاټ مې نه دی کړی، خو تا ته معلومه ده چې زما اوسنۍ دنده مهمه او ډېرښه امتیازات لرم. د سولې په نارسمي خبرو کې سره اخته یو، له پوهنتونونو او زیاتو دولتي او نا دولتي ادارو سره د سولې، قانون واکمنۍ، حکومتولۍ، پالیسیو او نورو مسایلو باندې کار کوو. په دې هم پوهیږم چې د موجوده دندې امتیازات حکومت ماته نشي راکولای، خو که دا دنده پرېږدم، نو بله داسې دنده باید وي، چې له دې دندې مهمه او د کار په لحاظ باید اغېزناکه وي، چې ښه خدمت وکړی شم. محب صیب وویل: که داسې وي، نو دوه انتخاب یا اپشنه دي، که غواړې چې د ملک نه بهر کار وکړې، هند ته د سفیر په حیث لاړ شه او که په داخل د افغانستان کې دې کار ته زړه وي، نو ننگرهار ته د والي په توگه لاړ شه. ما ورته وویلې چې دا خبره ثقه ده او که بیا

هسې د پخوا په شان اوازې خپروئ؟ هغه وویل چې ثقه ده؛ خو که قبوله یې کړې، نو رئیس صیب ته به اطمینان ورکړم. ما ورته وویل: چې سفارت خو ما د چین هم ونه مانه او له سفارت سره دلچسپي نه لرم، خو له ټولو ستونځو سره سره د ننګرهار دنده قبولوم.

هماغه و، چې له محب صیب سره د خبرو لړې شیبې وروسته د سیمه ایزو ارګانونو د ادارې عمومي رئیس عبدالمتین بیګ راته زنګ ووهه که خپله سي وي دې راولیږې؛ نو ښه به وي. ما ورته وویلې چې زما په سي وي څه کوي؛ ځکه کله چې زه د کورنیو چارو وزارت معین وم، هغه وخت محلي ارګانونه زما د معینیت لاندې و او زما سوانح هلته شته دی. بیګ صیب وویلې چې د هغه وخت اسناد په ارشیف کې دي، د قبله ګاه صیب (پلار) نوم که دې راکړې؛ نو ښه به وي چې ستاسي د ټاکل کېدو وړاندیز ولیکو. هماغه و؛ چې د پلار نوم مې ورکړ او د فبرورۍ په دویمه نېټه یې له جمهور رئیس زما د ټاکل کېدو حکم واخیست. په دغه وخت کې د جمهور رئیس عادت دا و چې همېشه یې د مهمو دندو کاندیدان انترویو کول. دا چې زه یې له ډېرو کلونو نه پېژندلم او کاري رابطه مو هم سره درلوده، نو انټرویو یې نه کړم. جمهور رئیس ونه غوښتلم، نه یې رانه پوښتنه وکړه چې ته به په ننګرهار کې څه کوي، کاري پلان به دې څه وي او یا د هغه توقع به د ما نه څه وي؟ ممکن علت به یې دا و؛ چې څو ځلې یې په ننګرهار کې تغیرات راوستل او نتیجه یې ورنه کړه؛ نو زه یې هم شاید په مصرف کې حساب کړی وم. په هر حال، بیګ صیب ته مې وویل: چې دا فرمان دوه درې ورځو پورې مه اعلانوه؛ څو زه د خپل دفتر کارونه راټول او له دوی سره خدای په اماني وکړم.

د فبرورۍ په څلورمه نېټه زما د ټاکل کېدو فرمان اعلان شو. د فبروري د میاشتې په شپږمه نېټه مو د جمهوري ریاست له دویم مرستیال محمد سرور دانش، اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله او وروسته مې له جمهور رئیس محمد اشرف غني سره په یوه ورځ ولیدل. دریواړو ته مې وویل: چې زما دنده په ننګرهار کې د حکومتولۍ ښه کول او د امنیتي توسعې راوستل دي. کله چې

امنیت او حکومتولي ښه شوه، د راروان کال په ټاکنو کې به خامخا کریدیت یو له کاندیدانو نه اخلي. د ټوکو په شکل مې رئیس صیب او ډاکتر صیب عبدالله عبدالله ته وویل: چې تاسې بیا خپل زور معلوم کړئ، چې څوک یې کریدیت اخیستلي شي. ډاکتر صیب عبدالله عبدالله راسره ټوکه هم وکړه چې کله پرون ستا د ټاکل کېدو له اعلان خبر شوم، نو زه هم حیران شوم چې څنگه ته یې تعین کړې یې؟ ځکه دوی، د رئیس صیب جمهور ټیم خو با تجربه کسان نه غواړي چې ویې ټاکي او زه د ځوانانو په اصطلاح د ټامیانو[۷] په ډله کې نه راځم.

بالاخره د۱۳۹۷ لمریز کال د دلوې د میاشتې په شلمه نېټه؛ چې د ۲۰۱۹م کال د فبروري د میاشتې نهمه نېټه وه، په رسمي توگه د ننگرهار د والي په توگه معرفي شوم. ننگرهار ته له تگ د مخه مې د ننگرهار پخوانی والي، حیات الله حیات په ارگ کې ولید او ځینې مې وغوښتل چې د معرفت په غونډه کې باید حتمې برخه واخلي؛ ځکه هغه دوه ورځې د مخه د ننگرهار له خلکو سره خدای په اماني کړې وه. ما ورته وویلې چې تغیر او تبدیل په اداره کې مهم اصل دی او که د معرفت په غونډه کې ووسي؛ نو په دې توگه به د دواړو حیثیت خوندي پاتې شي. حیات صیب راسره دا ومنله او د معرفت په غونډه کې یې گډون وکړ. د ننگرهار پخواني والي، سلیم خان کندوزي – خدای تعالی دې وبخښي - هم په دې غونډه کې گډون درلود. د معرفی په غونډه کې د کابل، ختیځو او حتې ځینو نورو ولایتونو نه گڼو ولسونو او دوستانو گډون کړې و او د سیمه اییزو اورگانونو د خپلواکې ادارې مالي او اداري مرستیال،

---

[۷] د جمهور رئیس غني په دور کې هغه ځوانان چې د بهر نه راغلي او په حکومت کې کار کوه، په عامو مجالسو کې یې د ټامیانو په نوم یادول. دوی ته ځکه ټامیان ویل کېدل چې ځینو یې په پښتو او دري لیکل نشو کولې او په خبرو کې به یې انگلیسي-کلمات زیات استعمالول. د حکومت سیاسي مخالفینو د حکومت پر ضد په پروپا گند کې ټوله ملامتیا په ټامیانو اچوله چې جمهور رئیس ورته زیات صلاحیت او موقع ورکړیده.

ښاغلي روح الله نیازي لخوا په رسمي توګه معرفي شوم او په خپل کار مې پیل وکړ.

## د معرفت غونډه

د ننګرهار د والي په توګه د ټاکل کېدو له اعلان سره سم په ټولنیزو رسنیو کې ډېر مثبت غبرګونونه وښودل شو. په هېواد کې دننه او بهر د زیاتو دوستانو او پلویانو له خوا راته په سلهاو مسیجونه او تلیفونونه وشول. په ټولنیزو رسنیو کې زما په ملاتړ لس ګونو پوستونه وشول او ګڼو دوستانو به د څو کلونو پخواني پوستونه هم بیا بیا خپرول چې ننګرهار ته یې زما د ټاکل کیدو په هکله کړي و. دې کار ګټه او تاوان دواړه درلود. ګټه دا وه چې پراخ ملاتړ یې ښوده خو په عینې حال کې یې د ننګرهارد ولسونو او هېوادوالو توقع هم لوړوله. کله چې توقع لوړه شي او بیا چارواکي ونشي ـ کړای، چې د ولسونو توقعات اوغوښتنو مطابق کار وکړي، نو چارواکي یا سیاستمدار ډېر ژر خپل محبوبیت او اعتبار د ولسونو په منځ کې له لاسه ورکوي. همداشان د تېرو څو لسیزو جګړو له امله د چارواکو او سیاسیونو زیاتو وعدو، فساد، جنګ او نورو ټولنیزو ناخوالو د ولسونو بې باوري په سیاسي او دولتي چارواکو، ملکانو، علماو، سپین ږیرو، ټولنو او شوراګانو باندې نهایت زیاته شوی ده. که موږ د ټولنې موجوده حالت ته وګورو، ټول پر یو بل بې باوره دي.

لکه چې په د سر خبرو کې مې یادونه کړې ده، کله چې د ۱۳۹۷ل کال په اخره کې د ننګرهار د والي په توګه وټاکل شوم، د ننګرهار امنیتي وضعیت د اندېښنې وړ و. اکثرو ولسوالیو ته تګ او راتګ په وېره و. د ننګرهار په ټولو ۲۲ ولسوالیو او جلال اباد ښار کې د طالبانو، داعش او سازمانیافته جنایي مافیایي ګروپونو نفوذ زیات و. یوازې درې ولسوالۍ، کامه، ښیوه او دره نور نسبتا امن وې؛ خو د کامې او ښېوې په ولسوالیو کې د داعش او طالبانو کورنیو شتون درلود او د خپلو کورنیو په خاطر یې په دغه سیمو کې ناامني نه جوړوله. له ولایت دمخه کامې ولسوالۍ ته د اوښې، قاضي نجم الدین جنازې ته تللې وم؛

چې یو کاموال راته وویل: چې په کامه کې پټ پیریان (مخالفین) شته خو چاته څه نه وایي.

د طالبانو او داعش له خوا، د جلال اباد په ښار کې هدفي وژنو دوام درلود، جنايي پېښې او اختطافونه هم زيات و، د چسپکي ماينونو، انتحار او انفجار لړۍ روانه وه، د جنايي او تروريستي پېښو ترمنځ به توپير نه کېده، د طالبانو او داعش شبکو به سوداګر، ډاکتران، علماء ، مشران او دولتي چارواکي په نښه او ترورول. تروريستي او جنايي ډلو له ډاکترانو، سوداګرو او نسبتاً پيسه دارو کسانو ، د داعش او طالبانو د ګروپونو په نوم باج او پيسې اخستلې. ځينو به په پټه له دوی سره معامله کوله؛ چې د هدفي وژنو ښکار نه شي او ځينو به مقاومت کاوه. د ملي امنيت رياست د موثقو معلوماتو له مخې، يوازې ډاکترانو د مياشتې د دوه لکه ډالرو په شاوخوا کې د داعش او طالبانو شبکو ته باج ورکاوه. همدا شان د تورخم-جلال آباد له لارې او د بټي کوټ د فارمونو نه د طالبانو کلنی عايد د ۱۳ نه تر۱۴ ميليونو ډالرو په حدود کې اټکل شوی و. د شېرزادو د شوکانې او د نورو غيرقانوني معدنونو د کيندلو، مخدره موادو او غيرقانوني اجناسو له قاچاق طالبانو، داعش او داخلي اقتصادي مافيايي کړيو او زورواکانو په ميلونونو ډالره عايد درلود. د يوې احصايې له مخې د خوږيانو او شېرزادو سيمو کې د طالبانو او داعش د اوچ په وخت کې يوازې د شوکانې له درکه ۴٦ ميليونه ډالره کلني عايد درلود[8]. چپرهار، سره رود، خوږيانې او د لعل پورې د چکنور سيمې د جنايي او تروريستي ګروپونو مرکزونه وو. اکثرو متمولو او يا نسبتا د چا چې ژوند ښه و، خپل کورونه کابل او يا له هېواد نه بهر وړي و. د ننګرهار سياسي مشران او معززين به هم په وېره ننګرهار ته تلل.

---

[8]https://www.kpsrl.org/sites/default/files/2018-06/AfghanistanTalcInvestigation_May2018.pdf

په لومړيو شپو کې مې، چې ولسواليو ته سفرونه پيل کړل، له ولسونو سره وېره او انديښنه وه، چې د پسرلي او اوړي په رارسېدو سره به جنګونه شدت پيدا کوي او د داعش او طالبانو نفوذ به په اکثرو ولسواليو کې نور هم زياتيږي. سياسي وضعيت هم روښانه نه و، چې آيا د سولې خبرې به څه نتيجه ورکړي يا نه؟ د جمهوري رياست ټاکنو په هکله هم شک او ترديد موجود و. د ننګرهار په ادارو کې د باجګيريو او زورواکانو کنټرول تر ډېره حده موجود و. سهمونه د ادارو نه په يو شکل نه يو شکل اخيستل کېدل، د ولسونو او هم د دولتي ادارو د مشرانو او کاروکوونکو مورال کمزوری و.

کله چې موږ د فساد نه بحث کوو، طالبان او نورې تروريستې ډلې هم د دغه فساد لويه برخه ده؛ ځکه دوی په ميلونونو ډالر د عشر-او زکات په نوم د سوداګرو او ولسونو نه او همدا شان د معدنونو، لرګيو او مخدره توکو د قاچاق نه عايد درلود. دوی دا عايد په کلونو تر لاسه کړی و، خو په دومره زياتو عوايدو دوی نه کومه عام المنفعه پروژه تطبيق کړې او نه يې کوم جومات د خلکو لپاره جوړکړی دی. د دې تر څنګ يې له عام المنفعه پروژو د تطبيق نه هم خپل باج په ډېرو سيمو کې اخيسته. دوی د خير او بيا رغونې په عوض په دې امکاناتو باروت اخستل، چې ښوونځي، جوماتونه، سرکونه، پلونه، کلينکونه او نور تاسيسات وران کړي. په همدې امکاناتو مشرانو يې په پاکستان او عربو هېوادونو کې خپلو کورنيو ته مرفه ژوند برابر کړی او اکثرو يې دوه، درې او څلور ښځې کړي دي. د دوی نجونې او هلکان د عربو او پاکستان په کالجونو او پوهنتونونو کې درسونه وايي؛ خو د غريبو افغانانو په بچو يې جنګ، وحشت او وينې تويول پيرزو دي. د جنګ دوام، ټولو بدبختيو او په افغانستان کې فساد، وينې تويولو او د بهرنيانو مداخلو ته زمينه مساعده کړې ده. په حقيقت کې دوی د فساد لويه منبع ده. طالبانو او داعش د پورته لوټ ترڅنګ، د بهرنيو استخباراتي کړيو او د عربو ځينو شيخانو نه هم بې حسابه امکانات ترلاسه کول. جنګ او بې ثباتي لکه څنګه، چې يو شمېر فاسدو کړيو ته په افغانستان

کې د عاید او فساد زمینه مساعده کړې وه؛ همداسې جنګي اقتصاد ( War Economy) د طالبانو مشرانو ته هم د فساد زمینه مساعده کړې ده.

د ننګرهار اقتصادي وضعیت هم د اندیښنې وړ او د تورخم له لارې تجارت مخ په کمېدو و. له لویو کاروباریانو او صنعت کارانو سره وېره زیاته وه او کوښښ یې کاوه چې له ننګرهاره فرار وکړي او خپله سرمایه بل ځای ته انتقال کړي. منفي تبلیغات د ولایتي ادارې او نظام پرضد اوج ته رسېدلي و. د ادارو له مشرانو سره هم وېره وه؛ چې خپل کارونه څنګه په مخ یوسي؛ ځکه د حکومت حاکمیت په زیاتو سیمو کې محدود او نظارت د پروژو په زیاتو ولسوالیو کې ممکن نه و. یو شمېر وکیلانو، د ولایتي شورا غړو او د زر او زور متنفذینو په ادارو فشار راوسته؛ چې د دوي په خوښه کسان په ادارو کې وګماري او یا پروژې د دوی ته نږدې شرکتونو ته ورکړي.

لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، زما ټاکل کېدلو یو څه ښه انعکاس پیدا کړ، خو دغه انعکاس په عینې حال کې د هېواد دښمنانو، جنایي ډلو او هغه کسانو غوبرونه بوخ کړل؛ چې ګټې یې په خطر کې لویدلې. د دندې له پیل کېدو دمخه سمدستې په سیستماتیکه توګه زما پر ضد منفي تبلیغات پیل شول؛ د ولایت مخې ته یو څو کسانو زما د راتګ پر ضد خیمې ووهلې؛ ځینو کړیو تبلیغات پیل کړل؛ چې ننګرهار ته باید میاخیل نه، بلکې یو زوراکی والي ټاکل شوی وای؛ څو په دې وتوانیږي، چې زورواکي او باجګیري ختمه کړي. میاخېل یو علمي او فرهنګي شخص دی او په ننګرهار کې کار نشي کولای. په حقیقت کې دا ډول تبلیغ تعلیم او تعلیمیافته کسانو ته توهین و؛ ځکه زورواکي هېڅکله په زورواکۍ نه شي ختمېدلی او که کېدلای شوی، دا څلوېښت کاله ډېرو زورواکانو په ډېرو لوړو پوستونو کار وکړ ؛ خو نظام او اداره یې جوړه نه شوه کړای. دا تبلیغات دومره زیات شول؛ چې زما نږدې خواخوږو، دوستانو، د کورنۍ غړیو او حتی لوړپوړو دولتي چارواکو د جلالتمآب جمهور رئیس صیب پورې ټولو تشویش درلود؛ چې آیا زه به په ننګرهار کې کار وکړای شم

که نه؟ په دې خاطر، د معرفت له غونډې د مخه راتـه دوسـتانو زيـاتې مشـورې راکولې؛ چې د معرفت په غونډه کې باید زیاتې وعدې خلکو ته ورکـړم او ډېـر تند او تيز وغږيږم. د شینوارو قوله یا مشرقیواله لونګۍ باید په سر کـړم او داسـې نور. خو ما دوستانو ته وویل چې لکه څنګه پخوا ننګرهار ته تلم، همداسـې بـه اوس هم ځم او ځان کې په ظاهري او فکري لحاظ تغیر نشـم راوسـتلای. لکـه څنګه چې یم؛ همداسې به خلکو ته خپل ځان معرفي کوم.

که څه هم سیاسي علومـو تـه سـیاسي سـاینس (Political Science) وايـي؛ مګر محاسبه يې د ډېرو (Variables) یا بـدلونونو پـورې تـړاو لـري. سـیاسي او ټولنیزه محاسبه د رياضي په شان اسانه نه ده؛ چې درې جمع درې به شـپږ شي؛ ځکه سیاسي بدلونونه او حالات کله درې جمع درې شل؛ ځینې وخت سـل او کله صفر کیږي. پورته حالاتو ته په کتو، د معرفت په غونډه کې مې لـه خلکـو سره ډېرې وعدې ونه کړې؛ ځکه ټولو ستونځو لپـاره د حـل لارې چـارې پیـدا کول اسانه نه و. یوهیدم چې د حکومت په چوکاټ کې همېشه د صـلاحیت او بودیجې محدودیتونه شتون لري؛ نو په دې اساس د راتلونکې حالاتو پـه هکلـه وړاندوینه اسانه نه وي؛ چې د حرکت معادله به کومه خوا څرخي.

دا چې د ستراتیژیک کیمونیکشن په هکله مې یو څه تجربه درلوده او پخوا هم خبریال پاتې شوی وم، کوښښ مې وکړ؛ چې د خلکو توقع راټیټـه، وعـدې کمې، عمل او کار زیات کړم تر څو د خلکو اعتبار زمـا پـه خـبرو او د ننګرهـار پـه ولایتـې اداره پیـدا شي. سـتراتیژیک کمیونیکشـن پـه خـبرو کـې مبـالغې او دروغو ته نه وايې؛ بلکې کره معلومـات لـه ولسـونو، همکـارانو او ادارو سره پـه دوامداره توګه شریکولو ته وایـې. حکومتـولي، بـزنس، ټـولنیز او حتـې کـورنۍ ژوند هم په اعتبار او اعتماد مخې ته ځي. که اعتبار او اعتماد په یـو بـل نـه وي، نو له یو بل سره همکاري امکان نه لري. دا ډول اعتبار ته په سیاسي علومو کـې ولسي مشروعیت وايي. حکومتـولي یـوازې پـه حقـوقي مشـروعیت نـه کیـږي؛ بلکې ولسي مشروعیت له حقوقي مشروعیت نه زیات مهم دی.

زه ښه مبلغ او مقرر نه یم. تشریفاتي خبرې مې یادې نه دي. بیانیې مې تل لنډې وي؛ خو خبرې مې د زړه او د خلکو په ژبه دي. د عینې موضوع په هکله، په غونډو او ناستو کې اوریدونکو ته په کتو سره د خبرو طرز اومثالونه مې سره توپیر لري. محلي مثالونه په خبرو کې زیات استعمالوم او د عامو خلکو په سطحه خبرې کوم. همېشه له کلیوالو سره په کلیوالي ژبه، له علماو سره د علماو په ژبه، له ځوانانو سره د هغوی په ژبه، سیاسي، ټولنیزو او اداري مجالسو کې د اوریدونکو د عمر او تجربو په کچه مثالونه او روایتونه په خپلو خبرو کې راوړم. کوښښ کوم چې په خبرو کې له اوریدونکو او مخاطب کسانو سره خپلې او د نورو هېوادونو تجربې شریکې کړم. همدا طریقه په مرکو او لیکنو کې هم کاروم. په دې خاطر خبرې مې یو څه د اوریدونکو په زړونو کې ځای نیسي. که یو کس ډېرې ښې خبرې وکړي، اوریدونکي او ولس پرې پوه نشي، د ولس په ذهن تاثیر نه کوي. په قران شریف کې هم الله تعالی عربو ته په هغه وخت کې د هغوی د چاپیریال په اساس مثالونه راوړلي دي لکه تاسي وګوري چې دا اوښ مو څنګه پیدا کړی دی. (أَفَلاَ يَنْظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ).

که یو کس ډېره پوهه او تجربه ولري، خو په خبرو یې څوک پوه نشي-، اعتماد یې په خبرو نه وي او یا خپل مطلب په سمه توګه د خلکو په ژبه افاده کولی نشي، بې محتوا او له موضوع وتلې زیاتې خبرې کوي، داسې خبرې د مخاطبینو په ذهنونو تاثیر نه لري. په هر وخت کې خبرې او عمل سره باید توپیر ونه لري او دا هغه وخت امکان لري چې په خبرو کې صدافت شتون ولري اود زړه خبرې وي. که صداقت نه وي، بیا یو کس تل په خپلو خبرو کې مبالغه کوي او زیاته مبالغه انسان دروغ ویلو ته مجبوروي. هغه مهم متل د دري ژبې دی چې وایې "دروغگو حافظه نه دارد" هغه کس چې په خبرو کې مبالغه کوي او بېځایه وعدې ورکوي، پایله یې دا وي، چې د یو مجلس وعدې یې د

بل مجلس د وعدو او خبرو سره توپیر پیدا کوي او د خلکو اعتماد او باور د لاسه ورکوي.

پدی توگه، د معرفت په غونډه کې مې ولسونو ته وویل: چې زه له تاسې سره زیاتې وعدي نه کوم؛ خو هغه وعدې کوم چې بوديجې، د خارجیانو مرستې، ورکشاف او ټریننگ ته اړتیا نه لري او زما له وسې پوره ده. ما په نوموړې غونډه کې لاندې وعدې وکړې:

- زه د چا په سهم کې نه یم مقرر شوی. په همدې خاطر نه به رشوت اخلم، نه به رشوت او باج چاته ورکوم او نه به واسطه منم.
- قانون د ترافیکو سور څراغ په شان دی؛ چې لنډکروزر، وړې موټرې، رکشا، بایسکل او پیاده کسان ټول به ورته یو شان ودریږي. د قانون حاکمیت لپاره به ټول په شریکه سره کار کوو.
- دا چې زه ننگرهار ته د چا په سهم کې نه یم مقرر شوی، چاته په ادارو کې هم سهم نه شم ورکولی. له سهم مې هدف دا و؛ چې د ننگرهار په بېلابېلو ادارو کې به چارواکي د حویلیو په خوښه ټاکل کېدل، حکومت هم د ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله د ډلو ترمنځ په ۵۰/۵۰ سلنه سهمونو تقسیم شوې و. دوی ته مې وویل: چې په ننگرهار کې چاته سهمونه نشم ورکولی.
- د حکومتولۍ د ښه والي لپاره به کار کوم او د حکومتولۍ په ښه والي کې ولس باید په تصمیم نیولو کې برخه ولري. له ولسونو سره به معلومات شریکوم. د نهمې پېړۍ اسلامي عالم، ابن قطبیه وايي: چې د یو نظام لپاره اردو پکار ده، اردو بې پیسو نه جوړیږي، پیسې بې له انکشافه نشي- رامنځته کېدلی او انکشاف د ښې حکومتولۍ په موجودیت کې رامنځته کېږي. ښه حکومتولي د تصمیم نیولو پروسه ده؛ چې ولسونه باید په تصیم نیولو کې برخه ولري او هم پوه وي؛ چې چارواکي ولې د بېلابېلو مسایلو په هکله تصمیم نیسي. په اخره کې ولسونه، ټولې دولتي او غیر دولتي ادارې او چارواکي یو بل ته د حقوقو او وجایبو د ترلاسه کولو په هکله مسوول دي.

- د امنیت په برخه د ولس حمایت ته اړتیا ده او په دې اړه مې په خپلو خبرو کې مثال راوړه؛ که په یوه کریټ منو کې یوه منه خوسا وي، منطق دا ایجابوي چې خوسا منه باید له کریټه لرې شي؛ څو نورې منې خوسا نه کړي. امنیت هم همداسې دی؛ که زموږ په کور، کلي او سیمه کې یو څوک زموږ او ستاسې د کور، کلي او سیمې امنیت او د خلکو ژوند خرابوي، نو باید په شریکه د همدغه کس مخه ونیسو او پرینږدو؛ چې دا یو کس د ټولې سیمې او خلکو امنیت خراب کړي. دا زموږ د ټولو شریکه دنده ده؛ چې خوسا منه په شریکه له کریټ نه لرې کړو. ولسونو ته مې وویل: چې دا خوسا منه اول تاسې له کریټه لرې کړئ؛ څوک چې ورانې کوي، نصحیت ورته وکړئ اوکه ستاسې وس پرې نه برېده، نو بیا به یې په شریکه مخه نیسو؛ زما لپاره د دښمن د وژلو تعداد معیار نه دی؛ بلکې د کار معیار راته سوله راوستل او د حکومتولۍ ښه کول دي.
- د ننګرهار او د ننګرهار د خلکو عزت خپل عزت ګڼم. ننګرهار ته له راتګ د مخه ما د کمپیوټر د هارډ دیسک په شان خپل ماغزه فارمت[٩] یا پاک کړي دي. د هېچا په هکله منفي قضاوت نه لرم؛ نه غواړم چې یوه ډله راته نږدې او بله لرې وي او یا یو قوم د بل قوم پر ضد استعمال کړم. ننګرهار ته له یو قلم سره راغلی یم. نه راسره ورونه او انډیوالان شته او نه مې له ځان سره د مسلحو کسانو ډله راوستې ده؛ زه په نظام او د ننګرهار په خلکو اعتماد لرم او ولسونه زما قوت دی؛ شخصي اجندا نه لرم؛ هر چا چې له ما سره په صداقت کار کوه، هغه زما ورور، انډیوال او ټیم دی.

---

[٩] فارمت د کمپیوټر بټنه ده چې د کمپیوټر ټوله ډیټا یا معلومات له منځه وړي او د کمپیوټر ډیټا د هارد دیسک نه خالي کوي.

- د حکومتولۍ د ښه کولو لپاره به له ولس او علماو سره یو ځای کار کوم؛ څو د ولس او حکومت تر منځ واټن کم شي. دا چې الله تعالی انسان ته دوه غوږونه او یوه ژبه ورکړې ده، نو زه به ډېر اورم او لږې خبرې به کوم.

دا پورته وعدې مختصرې وې؛ خو زما د زړه خبرې وې؛ هغه کسانو چې له ما سره نږدې کاري پیژندګلوي لرله، په پورته خبرو یې سر خلاص و؛ چې همدا د حکومتولۍ اساسي ټکي دي اما ځینو دا خبرې نرمې او بابیزه وګڼلې.

د معرفت له غونډې وروسته د سلوګونو کسانو سره د مبارکیو تر څنګ مې د افغانستان د مډرنې حکومتولۍ بنیانګزار، غازي امان الله خان، د عدم تشدد د مبارزې سر لاري پاچا خان او له انګریزانو سره د مبارزې اتل ملا نجم الدین اخندزاده[١٠] زیارتونو ته لاړم. د دوی مقبرو ته د ورتګ نه مې موخه دا وه؛ چې په افغانستان کې د قدرت درې ستنې دي. حکومت، ولس او علما. کله چې د دې دریو قوتونو تر منځ تعادل موجود او د یو د بل د نفې سیاست نه و، افغانستان کې ثبات و. کله چې د نفې سیاست رامنځته شوی دی، افغانستان د بې ثباتې خواته تللی دی. زما موخه د دغه دریو ستنو تر منځ وصلت و؛ نه دا چې دوی د یو بل پرضد وکاروم او د تقابل سیاست ته دوام ورکړم.

---

[١٠] ملانجم الدین اخون زاده چې اخون زاده صیب د هډې او د هډې صیب په نوم هم یادیږي، د سوات د اخون ملا عبدالغفور اخوند مؤذن و چې اصلا د غزني د شلګر د سیمې و او کابل نه نیولې د افغانستان په ختیځو سیمیو کې خاص نفوذ په خپل وخت درلود چې د انګریزانو سره یې د ملاکنډ، ناقې، شبقدر او د کوزې پښتونخواه په نورو سیمو جهاد کړې و. د ترنګزو حاجي صیب، د سرکاڼو میاصیب، ملا صیب د تګاو، د شمس الدین مجروح پلار د تیرګړو پاچا صیب، شیخ صیب د سنګر، د چکنور ملا صیب، د بټې کوټ صوفي صیب عبدالحکیم، د کجورې ملا صیب، حضرت صیب د چارباغ، حضرت صیب د بتخاک، د دولت زو ملا صیب، د بړو میاصیب، پاچا صیب د اسلامپور چې اکثره دوی د انګریزانو په مقابل کې جنګیدلي و، د ملا نجم الدین اخون مریدان او مؤذنان و. د اخوان زاده صیب د هډې په هکله ما د یو امریکایي مشهوره انتروپالوجسیت پروفیسور David Edwards سره په اتیاومه میلادې لسیزه کې په پیښور کې تحقیق کړې و او هغه بیا درې کتابونه د
Heroes of The Age, Before Taliban: Genealogy of Afghan Jihad او Caravan of Martyrs په نومونو لیکلي دي.

**د کار پیل او غني خپلو ته د جمهور رئیس راتګ**

ولایت سیاسي او اداري دنده ده؛ هره ورځ نوې پېښې رامنځته کېږي، د ولسونو نوې غوښتنې وي، زیات مشران، کشران او د ادارو کار کوونکي هره ورځ له والي سره د لیدنې غوښتنه کوي؛ په دې توګه د والي مهالویش په ورځ کې څو ځلې تغیر کوي او ستونځمنه ده؛ چې والي هره ورځ د یو ټاکلي مهال ویش له مخې خپلو کارونو ته دوام ورکړي. دا چې ننګرهار کابل ته نږدې دی، په خاصه توګه د ژمي په موسم کې هره اوونۍ په لس ګونو پلاوي او سلهاوو کسان جلال اباد ته د چکر او کورنیو د لیدلو لپاره راځي، نو د رسمي او شخصي لیدونو غوښتنه هم زیاته وي. په دې توګه د والي د کاري مهال ویش لومړیتوبونه هره ورځ تغیر پیدا کوي. ګیلې او ګذارې ډېرې وي. په انفرادي ډول له هر چا سره د والي لیدل ممکن نه دي. د بیلګې په توګه، زما لا د کار اوونۍ نه وه پوره، د مبارکېانو بیروبار هم زیات و، له ولسوالانو سره مې غونډه درلوده، غمشریک صیب به لږ منتظر پاتې شوی و او غوښتل یې یو په یو له ما سره وګوري؛ نو لاندې پرزه یې راولیږله:

۱۳۹۷/۱۱/۲۷

هوالمستعان

اشنا په تمه د دیدار ناست یم
په انتظار کې انتظار ناست یم
ستا د بري او نیکنامۍ په هیله
په ډېر اخلاص کې امید وار ناست یم
الله دې راولي وطن ته سکون
په دغه هیله نا قرار ناست یم
د ملاقات قصه کې وشي ښه ده
لاره د زړه چې زړه ته وشي ښه ده

په درنښت

محمد هاشم غمشریک، د کورنیو چارو د وزیر فرهنګي سلاکار

کله چې یو څوک د والي په توګه ټاکل کېږي؛ باید د مخه د ولایت کولو لپاره په ډېرو ساحو کې تیارې ولري. په نارمل حالت کې هم دا اړینه ده؛ چې والي له ډریور او ګاردانو نیولې تر سکرتر او رئیس دفتر پورې یوکاري ټیم ترتیب او د کار د لومړنې ورځې نه ورسره هم مهاله کار پیل کړي. متاسفانه د افغانستان د تقرر چارې په دا ډول نه دي؛ لکه څنګه مې چې دمخه د خپلې ګومارنې کیسه کړې، چارواکي دفعتا مقررېږي اوځو چې تیارې نیسي، وخت تېر وي. که څه هم تر یوه حده مې د ادارو او حکومت له کارونو سره اشنایې درلوده، خو دا چې زه دفعتاً د والي په توګه وټاکل شوم، نو له وړاندې مې پوره تیارې نه درلوده؛ یو څه نارمل ژوند مې درلود او یو څه وخت یې نیوه چې زه بیرته په غیر نارمل کار ماحول کې ځان نارمل او اشنا کړم.

مرکزي حکومت او ولسونه هم ډېر ژر له یو والي نه د کار نتیجه او په ځینو حالاتو کې معجزه غواړي. ځینې لا دا فکر کوي؛ چې والي د دغه سیمې پادشاه دی. په محلي روایتونو کې همدا خبره ده چې والي د پادشاه یا جمهور رئیس نماینده دی او هرڅه چې وغواړي، کولی یې شي. د خلکو توقع هم پر ځایه ده؛ ځکه د تېرو څو لسیزو په بېلابېلو رژیمونو کې ډول ډول والیان تېر شوي دي. د مجاهدینو د وخت والیان د هېڅ قانون تابع نه و؛ له مجاهیدنو پخوا د خلقیانو په وخت کې به هم هر عادي خلقي ویل، چې د ده او د تره کي خبره یوه ده. د والي او تره کي خبره خو بیخې سره یوه وه؛ بلکې تړل، بندي کول، خوشې کول او حتی وژل یې هم کولای شول، چې مثالونه او قصې یې په افغانستان او په خاصه توګه په مشرقي کې ډېرې دي. د طالبانو د وخت والیان هم د کومو مشخصو اصولو او قوانینو تابع نه و. د هغوی او د مشر ـ ملا صیب خبره یوه وه. له ۲۰۰۲م کال راپدېخوا هم څو قسمه والیان په ننګرهار کې تیر شوې و؛ چې ځینو یې د اصولو او قوانینو پیروي کوله او ځینو نه. په دې کتاب کې زما فوکس یوازې د ۲۰۰۲م کال نه راپدیخوا دی.

په ۲۰۰۱م کال کې د طالبانو د سقوط نه وروسته، لکه د نورو ولایتونو په شان، د مجاهدینو د اداري هماغه پخوانیو کسانو قدرت ونیوه. حاجي عبدالقدیر د ننګرهار والي شو. جهادي قوماندانان د پخوا په شان د امنیتي او نورو ادارو په راس کې راغلل. مرکزي حکومت ضعیفه او د محلي ادارو عایدات زیات په محل کې تقسیم کیدل. د بیړنۍ لوی جرګې نه وروسته د مهمو ولایتونو لکه هرات، بلخ، کندهار او ننګرهار د ګمرکونو د عایداتو یو څه انتقالیدل مرکز ته پیل شول. متاسفانه په هغه وخت کې د مجاهدینو د بیلابیلو ډلو لکه څنګه چې د طالبانو د راتګ نه د مخه یې په خپلو منځو کې اختلاف درلود، زاړه اختلافات یو ځل بیا په ننګرهار کې تازه او د حکومتولۍ د ښه کولو لپاره کار ونشو. د هغه وخت د ستونځو په هکله یو څه یادونه مې د بیړنۍ لوی جرګې په کتاب کې چې؛ بیړنۍ لویه جرګه: په مشرقي ولایاتو کې د ټاکنو د بهیر په نوم دی، کړیده. کله چې د بیړنۍ لوی جرګې نه وورسته، حاجي عبدالقدیر د جمهوري ریاست مرستیال او د فواید وزیر وټاکل شو، په عوض یې د هغه مشر ورور، حاجي دین محمد د ننګرهار والي شو. حاجي دین محمد تقریبا دوه کاله تر ۲۰۰۴م کال پورې د ننګرهار والي و. په دغه وختونو کې د مرکزي او محلي حکومتونو تر منځ رابطه مخ په بدلیدو وه. د مرکزي حکومت رول مخ په قوي کیدو او محلي ادارې مرکزي حکومت ته ځواب ویونکې وي. له یوه پلوه دا ښه کار و ځکه چې د دې نه مخکې ګډوډې او ملک الطوایفي وه او محلي زورواکانو مرکزي حکومت ته ځواب ویونکي نه و خو له بله پلوه هر څه زیات مرکزي کولو هم ستونځه درلوده او کارونه چې څنګه لازم و، پر مخ نه تلل. د دغه دورې د پیښو په هکله یو څه معلومات ما د کورنیو چارو وزارت د یاد داشتونو په کتاب کې چې؛ د کورنیو چارو وزارت: لاسته راوړنې او خندونه نومیږي یاد کړیدي. د حاجي دین محمد نه وروسته ګل اغا شیرزی په ۲۰۰۴م کال کې د ننګرهار والي شو او تقریبا د لس کلونو لپاره د ننګرهار والي پاتې شو. د شیرزي صیب په وخت کې بهرنۍ مرستې، د

PRT (Provincial Reconstructions Teams) او هم داخلي عواید په تورخم او ګمرګونو کې نهایت زیات و. د تورخم او سپین بولدک له لارې به هره ورځ په زرګونو لاریو د ناتو تقریبا ۱۴۰ زره فوځیانو ته د کراچۍ نه اکمالات کول. په ۲۰۰۶م کال کې د اسیایي پراختیایي بانک د راپور په اساس، یوازې د تورخم د لارې د ورځې درې زره لوی ټریکونه یا لارې افغانستان ته دا خل کیدلې[۱۱]. د تورخم په ګمرګ کې د بازسازۍ او حتی د جلال اباد د سپین جومات په نوم د هرې لارې نه جلا سهم اخستل کیده او د هغه پیسو زیاته برخه حیف و میل کیدله. د شیرزي صیب د حکومتولۍ ستایل په بنداړ ولاړ و. د هغه نه یوه محدوده حلقه د هواخواهانو راچاپیره وه. زما په اند، هغه وخت زیات امکانات و او څنګه چې لازمه وه هغسې انکشاف په ننګرهار کې رامنځته نشو. البته یو څو محدود کارونه په هغه وخت کې وشول خو لس کاله اوږده موده وه، امکانات هم زیات و، خو هغسې چې لازم و، په اقتصادي ساحه کې په ننګرهار کې انکشاف رامنځته نشو. په ننګرهار کې د ځمکو زیات غصب هم په همدغه دوره کې وشو چې زیاتې لانجې د ځمکو د هماغه وخت نه پاتې دي. د ننګرهار عدلي او قضایي او نورې اړوندې ادارو زیات وخت اوس هم د ځمکو په مسایلو ضایع کیږي.

تر شیرزي صیب وروسته مولوی عطاوالله لودین د ننګرهار والي شو. مولوی صیب تقریبا یو کال د ننګرهار والي پاتې شو. هغه امکانات چې د شیرزي صیب په وخت کې و، په ننګرهار کې وجود نه درلود. په دغه دوره کې هم د حکومتولۍ د ښه کولو لپاره په دغه لنډه موده کې توجه ونشوله او مولوي صیب مجبوره شو چې استعفا ورکړي. د لودین صیب نه وروسته خدای د وبښي، سلیم خان کندوزی د ننګرهار والي شو. د سلیم خان کندوزي دوره هم یو نیم کال وه. په دغه وخت کې امنیتي وضعیت ورځې تر بلې خرابیده. د

---

[۱۱] https://www.adb.org/sites/default/files/project-document/67082/36292-afg-tacr.pdf
(اخرې ځل دا ویپانه د ۲۰۲۱م کال د جولاې د میاشتې په نهمه نیته وکتل شوله)

شوکانې قانوني او غیر قانوني قاچاق اوج ته ورسید او د حکومتولۍ د ښه کولو لپاره لږ کار وشو. د محلي زوراکانو بزنس ښه ګرم و. د هغه نه وروسته محمد ګلاب منګل والي شو چې د هغه دوره هم ډېره لنډه او جنګ د جلال اباد ښار ته داخل شو. د داعش او طالب تور او سپین بیرغونه د ننګرهار په پوهنتون کې اوچت شول. ننګرهار د سقوط حالت ته نږدې شو. په دغه وخت کې حیات الله حیات د ننګرهار والي شو. حیات صیب او امنیتي ټیم د محلي زورواکانو سره مقابله پیل او د حکومتولۍ په ښه کیدو باندې فوکس وکړ. اما لوی تهدید چې د داعش او طالب د پرمختګ و، د هغه د مخنیوي لپاره جامع پلان جوړ نشو ځکه د امنیت په توسعه او د حکومتولۍ په ښه کیدو سره د زوراکانو نفوذ پخپله کمیده. همداشان د ولایت او امنیتي ادارو تر منځ د همغږۍ د نشتون له امه جنګونو په ننګرهار کې دوام پیدا کړ. د جلال اباد په ښار کې د انتهار او انفجار لړې زیاته شوله چې یادونه یې وروسته شویده. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، حیات صیب تقریبا نه میاشتې د ننګرهار والي پاتې شو او د امنیتي ادارو سره د نه همغږۍ له وجې تبدیل او زه د ننګرهار والي شوم.

د افغانستان په موجوده قوانینو کې، والي د قوانینو او اصولو له خوا په ټولو برخو کې د صلاحیتونو او بودیجوي امکاناتو له محدودیتونو سره مخامخ وي. والیان د قوانینو په چوکات کې څوک خوشې کولای نشي-او نه مجرمین اعدامولی شي او نه هم والي د صحرایي محکمې صلاحیت لري؛ اما د ځینو توقع د پخوانیو رژیمونو د والیان په شان وه. کله چې کوم مجرم یا تروررست به ونیول شو، ډېرو تعلیمیافته کسانو به راته ولیکل چې بندي کوه یې مه، د تالاشۍ په چوک کې یې په دار کړه. د والي په اختیار کې ځانګړې بودیجه نشته؛ چې د سیمې د اړتیاو په پام کې نیولو سره انکشافي کارونه پیل کړي او یا د کارونو د پیل کیدو وعده ولسونو ته ورکړي؛ والي مجبور دی؛ چې له وزارتونو او ریاستونو سره کار وکړي؛ چې په کلنۍ بودیجه کې ځینې پروژې شاملې کړي.

اکثرو والیانو چې ډېرې وعدې له ولسونو سره کړې وې او بیا یې هغه وعدې نه وې تر سره کړې، یو څه اعتبار یې د لاسه ورکړې و.

د افغانستان د اوسني اداري سیستم او د ملکي خدمتونو د طرزالعملونو له امله والي په ادارو کې د تقرر صلاحیت نه لري؛ بلکې یو والي یوازې په ادارو کې پیاده مقررولې شي. نور ټول پوستونه د اداري اصلاحاتو او یا د وزارتونو له خوا په مستقیمه توګه له کابله ټاکل کېږي. د اداري اصلاحاتو په اصولو کې د ولایتونو د لوړ رتبه پوستونو په تقرر کې د والیانو استازي شتون نه لري. په دې اساس رئیسان، حتې تر پنځمې رتبې بستونو پورې مامورین او د امنیتي ادارو مشران او کشران د وزارتونو په خوښه ښکته پورته کېږي. اما که کوم رئیس، قوماندان او یا د ولایت مامورکار و نه کړې او یا ستونځه په کومه اداره کې پیدا کېږي، نو بیا ولسونه د وزارتونو په عوض والي ملامتوي. د ملامتولو کچه تر دې حده وي؛ چې د امنیتي ادارو نه د ملاتړ په ورځ، په مشاعره کې عنانسر یو شاعر ته وروسته وخت ورکړې و. مشاعره هم په ژوندې بڼه د محلي تلویزنونو له لارې خپرېدله. کله چې دغه شاعر د ستیج سر ته پورته شوې و، له شعر د مخه یې شعار ورکړې و چې مرګ پر والي. وروسته مې دا شاعر راوغوښت او پوښتنه مې ترې وکړه چې په مشاعره کې د وخت په نه ورکولو، د والي ګناه څه وه؟ هغه شاعر راته وویلې چې بس خولې ته مې دا خبره راغله او شعار مې ورکړ.

د معرفت له غونډې وروسته چې کله د غازي امان الله خان، پاچا خان او ملا نجم الدین اخونزاده زیارتونو ته لاړوم، نو سمدستي منفي تبلیغات پیل شول؛ چې د میاعلي صیب لمسي په زیارتونو ګرځېدل پیل کړل، خدای دې ننګرهار ته خیر کړي. لکه ځنګه چې مې مخکې یادونه وکړه، دوی په دې نه پوهېدل؛ چې دغه مقبرو ته له ورتګ زما موخه ولسونو او حکومت تر منځ واټن کمول او د حکومتولۍ د مثلث قوي کول و. له راتګ دمخه مې همدا خبره جمهور رئیس غني ته هم کړې وه؛ چې لومړی به دغه دریو مقبرونو نه لیدنه کوم.

کله چې ماښام د ملا نجم الدين اخونزاده د زيارت نه راو ګرځېدلم، شپږ بجې وې، چې د امنيې قوماندان، غلام ثنايي راته وويل، چې شفر راغلی سبا ته جمهور رئيس د ننګرهار غني خيلو ولسوالي ته راځي او موږ بايد تدابير ونيسو. کله چې ځه ننګرهار ته تلم، نو جمهور رئيس غني راته ويلې و؛ چې د سه شنبې په ورځ به ننګرهار ته راځي. د هوا د خرابې له امله چې هليکوپترونو د سه شنبه په ورځ ناسته نشوه کولای، خپل سفر يې رامخکې کړې و؛ ځکه د هغه لپاره دا سفر مهم و؛ چې د پنجشنبه په ورځ جرمنې ته تله؛ څو د مونيخ په امنيتي کنفرانس کې ګاونډيانو او نړيوالو ته پيغام ورکړي، چې دی هغې سيمې ته سفر وکړ، چې څه موده د مخه د داعش په ولکه کې وه. په دغه سفر کې د پاکستان لپاره هم واضح پيغامونه درلودل، چې په افغانستان کې مداخله د دوی په ګټه نه ده. دا چې د اچين، هسکې مېنې، چپرهار، پچير او اګام او يو شمېر نورو سيمو کې داعش شتون درلود، غني خېلو ته د جمهور رئيس سفر لوی خطر يا ريسک درلود، چې کومه امنيتي پېښه رامنځته نشي-او د سفر اصلي مؤخه د شعاع لاندې رانه ولي.[۱۲]

د جمهور رئيس راتګ لپاره ډېرو امنيتي او لوژستيکي تدابيرو ته اړتيا وه؛ خو لومړی ځل راتګ يې ماته هم انديښنه پيدا کړې وه، ځکه زما د کار لومړۍ ورځ وه؛ ما لا خپله د خوب خونه نه وه ليدلې، د ولايت معاونين او د امنيتي ادارو مشران او ولسوالان مې سم نه پيژندل؛ په دې هم نه پوهيدلم، چې له

---

[۱۲] د يادونې وړ ده چې زما د ماموريت په يو نيم کال دوره کې جمهور رئيس غني پنځه ځلې، د جموري رياست لومړی مرستيال امرالله صالح يو ځلې، د ټاکنو په وخت کې ډاکټر عبدالله عبدالله او انجينر ګلب الدين حکمتيار، د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازی، سفيران، د څوارلس ولايتونو د واليانو کنفرانس او داسې نور مهم سفرونه ننګرهار ته وشول. دا چې په ننګرهار کې ورځ تر بلې امنيت مخ په ښه کيدو، نو ننګرهار ته سفرونه د نورو ولايتونو په پرتله هره مياشت زياتيدل او اکثره هېوادوال به د چکر لپاره ننګرهار ته راتلل چې د سيمې په اقتصاد يې هم خاص اثر درلود. د ولايت او امنيتي ادارو تر منځ د ښې همغږۍ له وجهې د خدای احسان و چې په دغه ټولو غونډو او مجالسو کې کومه امنيتي پيښه رامنځته نشوله.

مشرانو او ولسونو څوک غونډې ته دعوت شي او څوک راونه بلل شي. شپه هم وه او باید موږ ټوله شپه کار کړی وی؛ له دې وړاندې هم دوه شپې بې خوبه او پوره ستړي وم؛ ځکه ټوله ورځ مو په مبارکیو او غېږو وهلو تېره کړې وه.

په هر حال د شپې اوه بجې مو د ۲۰۱ قول اردو قوماندان، جنرال محمد زمان وزیري او د ننګرهار نظامي شورا راوغوښتله؛ چې ترتیبات ونیسو. د ولایت مرستیال تمیم عارف مومند، اداري رئیس قریب الله هجرت، د خدماتو مسؤلینو، د ننګرهار د رسنیو د دفتر مسوول عطاوالله خوګیاڼي او سکتوري رئیس فضل ربي همیم مې هم راوغوښتل؛ څو کارونه وویشو او همغږي وکړو. په همدې شپه مو باید کم تر کمه دوه زره کسان د شینوارو له شپږو ولسوالیو او هم د ننګرهار له نورو ولسوالیو نه خبر کړی وی. د خطابې له مېز نه نیولې تر چوکیو، تجیرونو، بینرونو، لوډسپیکرې، د غرمې ډوډۍ لپاره چمتوالی، اوبه او نور ټول لوژیستیکي مواد مو هلته رسولی وی. د خبرو په اجنډا هم باید بحث شوی وی، چې جمهور رئیس څومره وخت په غني خېلو کې تیروي، په خبرو کې قومي ترکیب څنګه مراعات شي او داسې نور. د ځینو ولسوالیو مشرانو دا رخه هم درلوده؛ چې ګوندې جمهور رئیس ولې غني خېلو ته ځي؟ باید د ولایت په مقام کې دا غونډه جوړه شوې وی؛ حال دا چې غني خېلو ته د جمهور رئیس د سفر موخه یوازې له سیمې او ننګرهار نه لیدنه نه وه؛ بلکې موخه یې نړیوالو او پاکستانیانو ته پیغام و.

د شپې په نهه بجو، لوی درستیز جنرال یفتلي، د کورنیو چارو وزارت ارشد معین جنرال خوشال سادات، د ملي امنیت د عمومي ریاست مرستیال جنرال عبادالله عباد او د جمهوري ریاست د خاص ګارد (PPS) مرستیال جنرال محمدي او ورسره مسوولین راورسیدل او تر دولسو بجو پورې مو په امنیتي او لوژیستیکي پلان کار وکړ. غونډې ته د مشرانو د بلنې لستونه برابر او د جمهوري ریاست خاص ګارد ته د امنیتي تدابیرو او چیک کولو لپاره ورکړل شول. د خلکو راوستلو او خبرولو مسؤلیت د ملي امنیت ریاست ته ورکړل شو.

د شپې له خوا د ځينو دوکانونو مالکان راپيدا او د هغوی له دوکانونو د اړتيا وړ شيان وپلورل شول او د ملي اردو او ملي پوليسو په موټرو کې انتقال شول. سهار تر اتو بجو پورې تجيرونه او نور ترتيبات هلته ونيول وشول او د غونډې له ځای راته همکارانو عکسونه د اطمينان په خاطر راوليږل؛ چې د ټولو نه يو ځل بيا مننه کوم.

په شينوارو کې د داعش او د نورو امنيتي ستونځو ترڅنګ مهمه ستونځه قومي تضادونه هم و. د همدې تضادونو او قومي دښمنيو او رقابتونو له امله داعش، طالبانو، لشکر اسلام او تحريک طالبانو په دغه سيمو کې نفوذ پيدا کړ. په سل ګونو او زرګونو شينواري او د ننګرهار ولسونه د دغه بې اتفاقي له امله په شينوارو، نورو نږدې ولسواليو او د جلال اباد په ښارکې د ځانمرګو حملو او جګړو قرباني شول. د ننګرهار تصور د افغانستان او په نړيواله کچه خراب شو؛ د بمونو مور[۱۳] هم د شينوارو د اچين ولسوالۍ د اسدخېلو په سيمه کې استعمال شوه. په بمونو مشران او ځوانان کينول شول او بيا والوزول شول. د چېرهار سره کلا او د کوټ د چنارو پل د انسانانو د حلالولو په قصاب خانو بدلې شولې.

يو ځلې له هسکې مېنې نه د کوټ په لاره جلال اباد ته راتلم، په موټر کې راسره د حج او اوقافو رئيس قاري محمد داود مجاهد هم ناست و؛ چې هغه هم د کوټ اوسيدونکی و. کله چې د چنارو پل ته راورسيدلو، راته يې وويل: چې د دغه پله پر سر يو ځل داعش شپاړس کسان حلال کړي و او د انسانانو

[۱۳] د ۲۰۱۷م کال د اپريل په ۱۳ ديارلسمه امريکايانو د شينوارو د اچين ولسوالی د اسدخيلو په سيمه کې د داعش په يومرکز باندې د بمونو مور استعمال کړه. د همدې موضوع په هکله ما يوه مقاله وليکله چې د بمونو نه مهمه خبره د پيغام ده او د بمونو استعمال د افغانستان مشکل نشي حل کولې. دا مقاله د امريکا د سولې انستيتوت له خوا په انګليسي ژبه نشر شوله. د داعش د راپيداکېدلو او جنګونو په هکله جلا تحقيق او ليکنو ته اړتيا ده چې د دې کتاب د بحث نه بيرونه ده.

https://www.usip.org/blog/2017/04/afghanistan-time-message-more-powerful-bomb

(اخرې ځل دا ويپاڼه د ۲۰۲۱م کال د جنورې د مياشتې په اتمه نېټه چيک شوله)

سرونه یې له ځان سره وړي و. یوازې تنې یې پرېښودې وې. یوې ښځې د نیاز بي بي په نوم چې د کوټ د سه پای اوسېدونکې وه، نوروکسانو ته چیغې وهلې؛ چې بچو هغه زما د مېړه چې جلیل نومیده، سر خو راته راوړئ. خدای خبر چې د دې مېرمنې به څه حالت و او څه به یې په زړه ګرځېدل؟ د خپل مېړه پرې شوي سر یې هم د دې ظالمانو اخیستلای نه شو. د کوټ د حاجي سید رحمن په قول، یوازې د کوټ په سیمه کې به تر زرو پورې کسان له داعش سره په جګړو کې شهیدان شوي وي. په همدې سیمو کې جوماتونه، کورونه، ښوونځي او بندونه ټول وران او په زرګونو کورنۍ بېځایه شوې وې.

د جمهور رئیس د راتګ په وخت کې یو شمېر ځوانانو؛ چې د رقابتونو تر څنګ د سیمې د استخباراتو له خوا هم په غیر مستقیمه توګه تحریکېدل، کوښښ کاوه، چې د جمهور رئیس دا غونډه ګډه وډه کړي. دوی خلکو ته په خوله کې ورکړه، چې جمهور رئیس شینوارو ته په دې خاطر راځي چې د شینوارو په نوم ولایت اعلانوي او غني خېل به د دغه نوې ولایت مرکز وي. د شینوارو شپږو ولسوالیو ځینو مشرانو د شینوارو په نوم د ولایت غوښتنه د ډېرو کلونو راهیسې درلوده؛ اما لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، د دغه سفر موخه د ولایت اعلان نه و؛ نوموړیو ځوانانو کوښښ کاوه؛ که جمهور رئیس ولایت اعلان نه کړي؛ نو مشران باید له غونډې پاڅیږي او ګډوډي جوړه کړي.

سهار وختي د ننګرهار د نظامي شورا د غړو او هم له کابل نه راغلیو امنیتي مسوولینو سره د غونډې ځای ته ورغلو. د ننګرهار د ملي امنیت رئیس جنرال نظرعلي واحدي ته مو دنده ورکړله؛ چې د دې ځوانانو مخه ونیسي-او غونډه څوک ګډوډه نه کړي. د شینوارو او محلي پاڅون کوونکو په استازیتوب به د اچین ولسوالۍ حاجي معاون او د ننګرهار د ولسونو په استازولۍ به د پچیراګام حاجي ملک نظیر خبرې کوي.

کله چې جمهور رئیس او ورسره مل پلاوی راغی؛ نو د هلیکوپترونو د کیناستو په ځای کې مو ورته هرکلي ووایه او له راکوزېدو سره سم یې له ما پوښتنه وکړه چې مثلث دې پوره شو؟ هدف یې د غازي امان الله خان، پاچا

خان او ملا نجم الدین اخونزاده مقبرو ته تګ و ځکه په کابل کې د هغه سره په کتنه کې مې ورته ویلې و چې په لومړی ورځ د دغه دریو مهمو شخصیتونو مقبرو ته ځم. ما ورته وویلې چې هو.

د ننګرهار د والي او کوربه په توګه مې جمهور رئیس ته هرکلی ووایه او ورته مې وویل: چې زه پرون ننګرهار ته د والي په توګه راغلم؛ په دغه لږ وخت کې د داسې غونډې ترتیب نیول څه اسانه کار نه و. د دې پرتمینې غونډې له ترتیب نه معلومیږي؛ چې د ننګرهار په ولایتي اداره او هم په امنیتي ادارو کې ظرفیت شته؛ چې د ننګرهار وضعیت ته تغیر ورکړي. زما دنده به دا وي، چې د ټولو امنیتي او ولایتي ادارو او همداشان د ولسونو تر منځ کار وکړم؛ څو همغږي رامنځته کړو. موږ ټول د یوه هدف لپاره چې د دغه سیمې امنیت، سوکالي او ابادي ده، په شریکه سره کار کوو؛ جمهور رئیس ته مې وویل: چې پرون ما د معرفي غونډه کې له ولسونو سره وعدې ونه کړې او یوازې یوه وعده مې وکړه؛ چې زما په وسه کې ده. نه به رشوت اخلم، نه به رشوت او باج چاته ورکوم او نه به واسطه منم. قانون سور چراغ دی. د لینډکروزر، موټرسایکل، بایسکل خاوندان او پیاده ټول به ورته ودریږي. زه به د حکومتولی د ښه کولو لپاره کار کوم.

جمهور رئیس هم په خپلو خبرو کې منته وکړه او په ضمن کې یې خپل پیغامونه پاکستان او نړیوالو ته ورکړل. غونډه په ښه توګه تر سره شوه او هېڅ کومه پېښه او ګډوډي رامنځته نه شوه. البته د غونډې له پای ته رسیدو وروسته، د شینوارو یو شمېر ځوانانو او د معاون حاجي تر منځ سوک څپېړه رامنځته شوه، خو امنیتي مسوولینو د دوی تر منځ د زیات تاوتریخوالي مخه ونیوه. دغه ځوانانو غوښتل چې ولې معاون حاجي د شینوارو د ولایت د جوړیدو مسئله په خپلو خبرو کې مطرح نه کړه.

په ننګرهار کې زما د ماموریت لومړی امتحان چې د جمهور رئیس راتګ و، په ښه توګه تر سره شو؛ وړاندې له دې؛ چې جمهور رئیس هر ځلې جلال

اباد ته راغلي و؛ خامخا یوه پېښه د جلال اباد په ښار کې یا په غونډو کې ګډوډې رامنځته شوې وه. یو ځلې له ولایت سره نږدې د اهل هنودو په ګروپ د موټر بمب ځانمرګي حمله وشوه؛ چې د اهل هنودو دیارلس کسه د دوی د مشرانو راوېل سنګ، اقبال سنک او اوتار سنګ په نومونو ووژل شول. اوتار سنګ پارلمان ته کاندید هم و. اقبال سنګ مې له نږدې پېژند او ډېر په وطن مئین افغان و. همداشان پنځه تنه د امنیتي ادارو او ولسي-وګړي هم شهیدان شول. سربېره پر دې د ۲۵ کسانو په شاوخوا کې زخمیان شوي و[14].

**د ننګرهار له هاها ډلې او فرهنګي مافیا سره مبارزه**

فساد د ننګرهار په حکومتي ادارو کې له تورخم نه تر درونټې پورې شتون درلود. د شېرزادو، خوګیاڼو، اګام او شینوارو شوکانې، د ګوشتې نفرایډ او مخدره مواد، د ځنګلونو قطع کول او قاچاق عامه خبره وه. د جلال آباد ښار په هره اداره کې فساد موجود و. په دغه قاچاق او فساد کې د طالبانو، داعش، د امنیتي او محلي ادارو یو شمېر غړیو، محلي زورواکانو، مشرانو او یو شمېر منتخبو کسانو ساعت تېر و. د دې لپاره چې دغه قاچاق دوام پیدا کړي، باید بېلابېلو ډلو او ګروپونو نا امنې ته لمن وهلې وی او یا په بله اصطلاح له ادارو باج اخیستل عامه خبره وه. په ننګرهار کې حتې داسې وخت هم و؛ چې ځانمرګي به خرڅېدل او د ننګرهار ځینو ډلو به د یو بل پرضد استعمالول. د ننګرهار اوسیدونکي او عام ولس په دې ټولو نیمګړتیاو پوهېدل او هرکله به چې کومه امنیتي پېښه وشوه، دوی به د زورواکانو، مافیا، حویلیو او باجګریو خبره کوله.

د ننګرهار د ولایتي شورا له غړیو سره په ناسته کې راته ځینو وکیلانو وویل: چې یو وخت یوازې له تورخم څخه د ننګرهار ولایتې شورا ته د میاشتې اتیا

---

[14] https://pa.azadiradio.com/a/29330382.html (اخرې ځل دا ویبپاڼه د ۲۰۲۰م کال د جنوري دمیاشتې په ۱۴مه نېټه چیک شویده)

زره ډالره باج ورکول کېده. دا باج به د دوی په منځ کې ویشل کېده او د هرچا سهم معلوم و. په ولایتي شورا سربېره والي، امنیتي ادارو او حتی په کابل کې د ځینو وکیلانو او وزارتونو سهم هم معلوم و. د ننګرهار د ولایتي شورا یو وکیل راته وویل چې یوځل والي د تورخم په کمیسار فشار راووړه؛ چې برخه یعنی سهم یې زیات کړي. کمیسار بېچاره بل کوم درک نه درلود، نو د ولایتي شورا سهم یې راټیټ کړ. کله چې ولایتي شورا خبره شوه، دوی د والي پسې ورغلل او هغه یې وګواښه؛ چې ولې یې د دوی سهم کم کړی او هغه فیصله یې ونه منله. پدې توګه د والي سهم په پخواني شکل پاتې او زیات نه شو.

د عایداتي ادارو مشرانو او مامورینو؛ چې په ګمرک، کمیساری، مستوفیت، ترانسپورت، کانال، عامې روغتیا، کلیو او پراختیا، ښاروالۍ یا نورو عایداتي ځایونو کې کار کاوه، باید لسو[15] حلقو ته یې سهمونه ورکړي وی. د ولایتي اداري ریاستونه هم د ولایتي شورا د ځینو غړو په منځ کې تقسیم شوي و او له هغوی به یې قلنګ او باج اخیسته. د ولایتي شورا د یو وکیل په قول، د ښاروالۍ د تاجایي اخیستلو چیک پوستونه هم په ځینو وکیلانو او زورواکانو تقسیم شوې و. د دغه وکیل په قول، یو ځل د ولایتي شورا یو وکیل له ثمرخیلو سره د ښاروالې چیک پوست مؤظف مامور ته زنګ وهلې و؛ چې پدې اوونۍ کې خو دې زما سهم رانه وړ؟ هغه مامور ورته ویلي و؛ چې زما مور مړه ده او

[15] د تورخم، ګمرک، ښاروالي، مستوفیت، ترانسپورت او هر بلې اداري مسوولینو به وزارت کې هغه کسانو ته میاشتني سهم ورکاوه چا چې مقرر کړې و. که یو مامور به د کوم وکیل او یا ولایتي شورا د کوم غړي په واسطه مقرر شوې و، مکلف و چې هغوی ته هم باج ورکړي. د والي، امنیت ملي، قوماندان امنیه او ولایتي شورا سهم جلا معلوم و. محلي زورواکو، طالبانو، داعش او جنایي ډلوچې څوک تهدیدول، هغوی ته هم باید یو څه ورکړل شوي وې او همداشان باید د ځان لپاره یو مامور هم څه غریبي کړې وې. دوی فرهنګي مافیا او په نامه مدني مافیا ته چې ما ورته د هاها ډلې لقب ورکړې و، هم باید باج ورکوه تر څو د هغوی د منفي تبلیغاتو مخه نیولې وې.

رخصت يم. وکيل صيب ورته ويلي و، مور دې خداې وبښه، پاتې خو رخصت نه دی؛ زما سهم راوليږه.

همداسې په امنيتي ادارو او سرحدي قواو کې د فساد کچه اوج ته رسيدلې وه. د اردو، پوليسو او سرحدي قواو په رينجرو کې د مخدره موادو او د وسلو قاچاق کېده؛ د کندک او د ولسواليو د قوماندانانو په سطحه په لس ګونو کسان وروسته ونيول شول، عدلي او قضايي ادارو ته معرفي شول؛ چې د ځينو پېښو تفصيل به د دې کتاب په امنيتي برخه کې ورکړل شي.

همدا علت و؛ چې په هره چوکۍ (دنده) باندې به په ولايت او مرکز کې د پيښورو په اصطلاح بولي يا مزايده کېدله؛ د همدې سهمونو له امله به هر کال د ولايتي شورا د اداري هيئت په ټاکنو کې په لکونو او حتې د يو ميليون ډالرو نه هم زيات رقم ښکته پورته کېدل. يوه شپه مې د ننګرهار يو شمېر سناتوران، وکيلان او د ولايتي شورا غړي ميلمانه و. دوی د تېرو ټاکنو او په خاصه توګه د ولايتي شورا د اداري هيئت د ټاکنو قصې او ګپ شپ پيل کړ؛ د ولايتي شورا يو وکيل وويل: چې يو ځل يې د ننګرهار يوې وکيلې ته د دوی ګروپ اتيا زره ډالره ورکړل؛ چې د ولايتي شورا د رياست لپاره ورته ترې واخلي. د دې لپاره چې مقابل لورې له دې وکيلې سره تماس ونه نيسي او قيمت لوړ نه شي، دوی دوه موټرې چې د تليفون جامرې پکې نصب وې، د هغه وکيلې له کور سره نږدې د کوڅې په دواړو خواو کې ټوله شپه ودرولې وې؛ څو مقابل لورى له دې وکيلې سره تليفوني تماس ونه نيسي او همدغه وکيل پخپله په موټرو کې هلته شپه تېره کړې وه؛ ما ورته وويل چې داسې چلونه ولاکه د شيطان هم زده وي. يو بل وکيل دغه وکيل صيب ته وويل: چې دا کومې قصې مو چې نن شپه وکړې؛ نو والي صيب به خامخا دا قصې سبا سهار په فيسبوک کې ليکي؛ ما ورته وويل چې په فيسبوک کې سبا ته نه ليکم خو ما ريکارډ کړې او انشاالله دا قصې به د ننګرهار ياد داشتونو په کتاب کې ليکم او دا دې نن يې له وعدې سره سم تاسې لولئ.

همدا علت و؛ چې د مخالفینو په ګډون، په دغه لوی فساد کې زیات شمېر دولتي او حکومتي کسانو برخه درلوده؛ په دې توګه د ټولو ادارو او متنفذینو توجه امنیت او د حکومتولۍ ښه کولو ته نه وه؛ بلکې پاملرنه یې شخصي ـ ګټو ته وه؛ که د ولایتي شورا د مدیره هیئت چوکۍ لپاره له یو میلیون نه زیات ډالر ښکته پورته کېږي، خامخا به دوی ددې څو چنده بېرته راګرځولي. همدا علت و چې د حویلو مصارف، په زرهې موټرو او د کاروانونو په شکل د وکیلان ګرځېدل، په کابل او ننګرهار کې کورونه او دا ټول مصارف اکثره د فساد او یا د استخباراتي شبکو د لارې لاسته راوړل څکه اکثرو معلوم تجارت او بزنسونه نه درلودل اما مصارف یې ډېر لوړ و.

د زورواکانو، مافیایي کړیو او نورو فاسدو حلقو تر څنګ له ټولو نه مضرـ فساد په ننګرهار کې فرهنګي فساد و؛ چې د ځینو تش په نامه فرهنګیانو او مدني فعالانو له خوا ترسره کیده. اکثره سیاسي او اقتصادي حلقو یا قراردادیانو د مدني فعالانو په نوم ټولنې هم درلودې. که والي او یا کوم چارواکي به له دوی سره جوړ جاړې ونه کړ، دوی به خپلو تش په نامه مدني فعالانو ته وویل: چې ټولنیز رسنیو کې د دوی پرضد منفي تبلیغات پیل کړي؛ هر په نامه مدني فعال به په مستعارو نومونو لس شل جعلي ایډګانې درلودلې او په دې توګه به یې والي او یا د ادارو رئیسان د تاثیر لاندې راوستل. د دغه فساد په سر کې یو څو کسه په نامه مدني فعالان او د رسنیو یو شمېر استازو قرار درلود. دوی د بیان د ازادۍ تر عنوان لاندې څو اړخیزه باجګیري کوله؛ دوی به له دولتي چارواکو باج اخیسته؛ که چا به باج نه ورکاوه، د هغوی پر ضد به یې ناروا منفي تبلیغات کول؛ له دوی سره ریډي میډ یا تیار پوسټونه او د پخوانۍ پېښو زاړه عکسونه موجود و او د ادارو نواقص او ضعیفه نقطې هم ورته معلومې وې، نو د هر نوي چارواکي په مقابل کې به یې سمدستي منفي تبلیغات پیلول؛ څو هغه تر تاثیر لاندې راولي، والي او د ادارې رئیس به هم حیران و، چې له دوی سره څه وکړي.

همدا شان د فرهنګي مافیا غړیو تر کابل پورې لاینونه درلودل. یو شمېر یې له لوړ پوړو چارواکو سره خاص علایق درلودل، په کابل کې لوړپوړو چارواکو به د دوی نظریاتو ته د بېطرفه کسانو په سترګه کتل؛ مګر خبر نه و، چې دوی د فساد د تقویي اصلي عاملین و. د دې په نامه مدني فعالانو لاسونه لېږ نور هم اوږده وو. دوی به په هره غونډه او مجلس کې خبرې کولې او له نړیوالو ادارو سره یې هم نږدې اړیکې درلودې. دوی د نړیوالو ادارو او د ولایت په هر مجلس کې مطرح و او وهمدا مشخص کسان به هر مجلس ته غوښتل کېدل؛ دوی به د زوراکانو او د ننګرهار په اصطلاح، له حویلیو نه هم باج اخیسته؛ ځکه د دوی او د حویلیو ګټه د یو بل په حمایت کې وه؛ هرې حویلۍ او زورواکي به د مدني فعالانو، ملکانو، ملایانو، فرهنګیانو او شاعرانو یو یو ګروپ درلود؛ چې د حویلیو په مدحه او حمایت به یې کار او تبلیغ کاوه.

د رسنیو ځینو ژورنالستانو هم یوه خاصه خبیثه حلقه درلوده او دوی به هم په نامه مدني فعالانو په شان باجګیري او له خپلې سپېڅلې دندې ناوړه استفاده کوله. دوی به له حویلیو او دولتي چارواکو باج اخسته او د هغه چا په حمایت به یې راپورونه نشرول؛ چا چې دوی ته باج ورکاوه. که څوک به له حویلیو سره وران یا همنظره نه و، دوی به د هغوی د مخالف لورې کسانو وړوکی منفي کار لوی ښکاره کاوه او منفي راپورونه به یې په خوالو رسنیو او د خپلو چینلونو له لارې خپرول. حتی بعضې چارواکو او زورواکانو به د رسنیو ځینو غړیو ته پیسې ورکولې؛ چې په مجالسو کې د دوی عکسونه برجسته او په خپلو راپورونو کې مهم وښايي.

همدا ګروپونه به د والي او یا د ادارو د مشرانو نه د غنې د جالې په توګه راچاپېرېدل او د والي بیچاره نه به هم لار ورکه وه؛ چې په کومه جبهه کې مبارزه وکړي. جنګ مهار کړي، که له داخلي زورواکانو او فرهنګي مافیا سره مبارزه وکړي او که په اقتصادي پروګرامونو فوکس وکړي او یا په مرکز کې له وزارتونو سره د پروژو او استخدام په هکله د کارونو تعقیب سرته ورسوي.

ولې وایم چې فرهنګي مافیا او فساد د زورواکانو د فساد نه زیات مضر دی؟ ځکه چې دوی د ولس ذهنونه ملوث کوي، ملي روحیه وژني او د بې اعتمادۍ فضاء رامنځته کوي. که ښه فرهنګیان او مدني ټولنې ولرو، دوی کولای شي، چې ولس ته سم جهت ورکړي او ولس د راتلونکې په هکله سم فکر وکړي، د دوی منفي رواني جګړه د ټوپک له جګړې نه زیاته د افغانستان او د ولسونو په ضرر ده. د افغانستان مشکل دومره لوی نه دی لکه چې رواني جګړې لوی کړی او دښمن یې قوي کړی دی. د افغانانو روحیه دغه رواني جګړې د ملي افسردګۍ (National Depression) په مرض اخته کړې ده. که په حکومت کې څوک وي هم شکایت کوي؛ که حکومت کې نه وي هم شکایت کوي، لوړپوړې چارواکي هم شکایت کوي، سیاسیون هم شکایت کوي. غریب هم شکایت کوي، متمول هم شکایت کوي. دا ټوله فضا په افغانستان کې همدې فرهنګي مافیا د بیان د ازادۍ د نوم لاندې خړه کړیده او مخالفینو هم له همدې خړې فضاء ګټه پورته کوي. دا اوسنې حالات داسې دي، که هرڅوک په حکومت، سیاسي ډلې ټپلې، مدني حرکتونو او یا ټولنو کې نه وي او بیا د دغه ګروپونو په راس کې نه وي، د نورو ټولو کارونه ورته خراب ښکاري او دا ممکنه نه ده چې ټول دې په یو دسترخوان راټول شي که هغه حکومت وي، سیاسي احزاب وي او ټولنې.

دا چې ننګرهار ته زما د والیتوب په دویمه ورځ، د جمهور رئیس سفر د ننګرهار یوې مهمې ولسوالۍ ته چې داعش مخکې هلته نفوذ درلود ښه تېر شو، باید د ټولو رسنیو مهم خبر همدا وی. په همدې ورځ د جلال اباد ښار له میا اسلم پلازې سره یو غل یو کس په چاقو وهلی و؛ چې مبایل ترې وتښتوي. پولیسو غل نیولی و؛ افغانستان کې نه، بلکې د دنیا په زیاترو لویو ښارونو کې چې ګڼه ګونه وي، جنایي پېښې خامخا رامنځته کېږي؛ دا چې غل نیول شوی و؛ نو دا خبر دومره مهم نه و، ځکه جنایي پېښه وه او پولیسو خپل اجراات کړي و. متاسفانه، په همدې ورځ د رسنیو او په نامه مدني ټولنو د خبرونو سر خط

همدا و؛ چې د نوې والي له راتګ سره د جلال اباد له ښاره باړه جوړه شوې ده، له ولایت شل متری سره، اسلم پلازه کې څوک ګرځېدلی نه شي او خدای دې د ننګرهار راتلونکي ته خیر کړي.

د جلال اباد پـه ښـار کـې لـه اولسـو ولایتونـو نـږدې یـو نـیم میلیـون کسـان اوسیږي، د جلال اباد ښارله د درونټې نیولې تر باریکاب پله پورې او همداشان د چپرهار د ملا صیب له قبره نه د ښېوې ولسوالۍ د عبـدالخیلو د سیمې پـورې دی. د جلال اباد په ښار کې ۹۸ سلنه د بهسودو ولسوالۍ، اومه ناحیه د سره رود د ولسوالۍ ، شپږمه ناحیه د چپرهار له ولسوالۍ او نهمـه ناحیـه د بټـې کـوټ او روداتو له ولسوالیو نه مدغم شویده. د مهاجرینو ریاست او UNHCR د ارقـامو په بنیاد ۸۰ سلنه له پاکستان بیرته راګرځېدونکي کډوال په جلال اباد کې مېشت شوي دي. د روسانو د وتلو او همداشان د ډاکتر نجیب الله د رژیم له سقوط نـه وروسته له کونړ، نورستان او لغمان ولایتونـو پـه لـس ګونـو زره کـورنۍ، چـې د رژیم پلوې وې، اکثره یې جلال اباد ته کډه شوي او اوس هم په جلال اباد ښار کې اوسیږي. د طالبانو په وخت کې هم د لوی پکتیا او غزني په زرګونو کورنۍ په ننګرهار او جلال اباد ښار کې استوګن شوي دي. د کابل د نـویمې لسـیزې د جنګونو له امله په زرهاوو کـورنۍ لـه کابـل، کاپیسـا او نـورو ګاونـډیو ولایتونـو ننګرهار ته راکډه شوي او اوس هم د کابل کمپ په نـوم لـوی کمـپ، چـې لـه ثمرخیلو سره نږدې شتون لري؛ مېشت دي. د مهاجرینو ریاست د احصـاییه پـه استناد، په وروستیو کلونو کـې د غـزني او کنـدوز لـه جګـړو ۵۲٪ سـلنه بېځایـه شوې کورنۍ جلال اباد ته کډه شوي دي، چې په دومره لویـه جغرافیـا او سـیمه کې چـې ګـڼ شـیمر کـورنۍ د اولـس ولایتونـو اوسي، حـتماً بـه جنـایي پېښـې رامنځته کیږي.

هغه وخت، چې جمهور رئیس ننګرهار ته راغلی و، د ننګرهار رسـینو زمـا د خبرو یو کلیپ او انځور هم نه و راخیستی او د جمهور رئیس د خبرو په کلیـپ کې یې لا زیاته کړه، چې جمهور رئیس د والي د ملاتړ په هکله هېڅ ونـه ویـل. هغه وخت راته معلومه شوه، چې دلته پـه نامـه مـدني او فرهنګـي مافیـا هماغـه

پخواني تاکتیکونه استعمالوي، څو ما له تاثیر او اغیز لاندې راولي. پخوا د ځینو ژورنالستانو مزې وې، ځینو خپله ګذاره کوله او ځینو تر خپل وسه په صادقانه ډول دنده سرته رسوله. په ولایت کې ښه خبره دا وي، چې والي د هر چا په هکله معلومات ډېر ژر لاسته راوړلې شي. هغه کسان چې غواړي والي ته ځانونه نږدې کړي، بیا درته د نورو ټول تاریخ ډېر ژر بیانوي. اکثره د فرهنګي او مدني مافیا ګروپونه په ننګرهار کې له تېرو دوه لسیزو د ننګرهار په فساد کې شریک او له اداروبه یې باج اخیسته نو دوی یو بل ته ښه معلوم و چې څوک څه کوي. یو وخت یو والي یو ژورنالست ته لس زره ډالره د واده په خاطر ورکړي و او دا چې بیا یې هغه ژورنالست ته د نورو ژورنالستانو په مخکې څه ویلې و، مناسب نه ګڼم چې هغه الفاظ دلته یاد کړم.

د فبرورۍ په ۱۶مه نېټه مې د کار په لومړۍ اوونۍ کې د رسنیو له استازو سره ناسته درلوده او ورته مې وویل، چې زه له تاسې هېڅ توقع نه لرم او نه له تاسې غواړم، چې زما د کارونو په هکله مثبت تبلیغ وکړئ؛ ځکه زه خپل تبلیغ پخپله د فیسبوک او ټویټر له لارې کولای شم. ورته مې وویل: چې د امریکې جمهور رئیس ډانالډ ټرمپ د خپل ټویټر د استعمال په اساس جمهور رئیس شو او خپل تبلیغ یې وکولای شو، زه هم کولای شم، چې د یو ولایت تبلیغ او له خلکو سره اړیکه په مستقیمه توګه او یا د فیسبوک او تویټر له لارې وساتم. زما توقع له تاسې داده، چې خپل اعتبار او حیثیت لپاره کار وکړئ او له ځانونو معیاري خبریالان جوړ کړئ. تاسې ځینې کرایي ژورنالستان بولي، څوک درته د حویلیو ژورنالستان وایي او څوک درته نور نومونه یادوي. ښه داده، چې د خپلو ځانونو د اعتبار لپاره کار وکړئ او د نیویارک ټایمز د خبریال مجیب مشال په شان په نړیواله سطحه خبریالان شئ؛ زه هم یو وخت خبریال وم او د امریکا غږ راډیو لپاره مې کار کاوه. ما له هېچا باج ن دی اخیستی او نه مې د چا په خوښه راپورونه لیکلي دي؛ بلکې د مسلک د تقدس په چوکاټ مې له سیاسیونو او خلکو سره اړیکه ساتله. دوی ته مې په یو سپینه پاڼه درې ټکې به

نښنه کړل او ورقه مې ورته وښودله، چې د دې سپینې ورقې په منځ کې څه گورئ؟ ټولو وویل: چې درې تور ټکي. ما ورته وویل چې ستاسي سترگې کار نه کوي ځکه یوازې په دې سپینه ورقه دا درې تور ټکې گورئ؛ مگر دا ټوله سپینه ورقه نه گورئ. په راپورونو لیکلو کې باید بیطرفي، شخصي عقدې لرې کول، توازن او ابجکټیویټې (Objectivity) مراعات کړئ.

د خپلې کاري دورې تر اخره پورې مې له هغه ژورنالستانو او رسنیو سره، چې شخصې عقدې یې پاللې، جوړ جاړې ونه کړ؛ اما د ولایت په هکله به مې معلومات او ورځني کارونه په منظمه توگه هره ورځ د ولایت د رسنیو له دفتر څخه او هم د فیسبوک او ټویټر له لارې خپرول. زه پوهیدلم، چې د ژورنالستانو لپاره دویم لاس معلومات خبري ارزښت نه لري او دوی باید لومړی لاس معلومات د ولایت او یا ادارې د لومړي درجه مسؤلینو نه ترلاسه کړي. ځینو به کوښښ کاوه، چې د والي په عوض په خاصه توگه د ملي امنیت د رئیس کلیپونه واخلي او یو قسم د والي د کار اهمیت راټیټ کړي. دا چې له امنیتي ادارو سره مو ښه همغږي درلوده، کله به چې زه ولاړ وم؛ نو د ملي امنیت رئیس، د امنیه قوماندان او نورو امنیتي مسوولینو به دوی ته ویل، چې د والي صیب خبرې د ټولو په استازیتوب دي او اکثره وخت به هغوی خبرې نه کولې. د دوی دا تاکتیک چې زموږ په منځ کې درز واچوي، چندان گټه نه درلوده.

د حکومتولی لویه برخه معلومات شریکول دي. که چیرته به نیمگړتیا وه، هر وخت مو کوښښ کړی، چې د اصلاح لپاره کار وکړو. د نیمگړتیاو په گوته کولو په هکله مو څه ویره هم نه درلوده. د یادونې وړ ده، چې په وروستیو کې بیا اکثریت ژورنالستان تر ډېره پورې ښه شول او کوښښ یې کاوه، چې واقعیتونه منعکس او د باجگیرې په خاطر راپورونه جوړ نه کړي. دا ډول تغیر ماته په ننگرهار کې یو لوی فرهنگي تغیر ښکاریده.

په همدې موخه مې له فیسبوک او ټویټر کار واخیست او هره ورځ به مې د خپلو کارونو جریان له ولسونو او دوستانو سره شریکوه. که څه هم ډېرو دوستانو راته په لومړي سر کې وویل، چې باید له خپلو اکونټونه پوستونه ونه

کړم؛ ځکه خامخا به ځیني کسان چې زما له کارونو سره مخالف او یا د مخالفینو د ګروپونو پلوي کوي، په فیسبوک کې به بد رد راپسې لیکي. ما د دوی دا مشوره ونه منله او ورته مې وویل، چې زه له رسنیو کومه هیله نه لرم او د هر چا په خوله برغولې هم نشم ایښودلای؛ خو زه باید هر ورځ خپل نظر او د کارونو ګزارش په مستقیمه توګه له ولسونو سره شریک کړم.

د کار په لومړي اوونۍ کې مې ولسوالیو ته سفرونه پیل کړل؛ چې په مستقیمه توګه له ولسونو سره معلومات شریک کړم. په ولایت کې مې له بېلابېلو ګروپونو سره هره ورځ لیدل او خپل نظریات او د کارونو پرمختګ او ستونځې مو شریکولې. هر سهار به مې د فیسبوک او تویټر له لارې د ولایت د کارونو په هکله معلومات له ولسونو سره شریکول. تلویزونونه او رسنۍ هم مجبوره وې، چې یو څه نشر کړي او کله کله به مې له دوې سره مرکې کولې او د ټاون هال د غونډو له لارې مو معلومات شریکول. سربېره پر دې مې د حکومتولۍ په هکله وخت ناوخت په پوهنتونونو، ځیني مدني ټولنو او هم له ژورنالستانو سره خپل نظریات د لیکچر په بڼه شریکول. په هر حال له ما سره د خلکو د منفي غبرګون وېره نه وه؛ ځکه د سیاسي او دولتي چوکیو مسؤلین به خامخا د یو شمېر کسانو له نیوکو سره مخ کیږي. ما هم کوښښ کاوه؛ چې د منفي کسانو نیوکو ته تر ډېره حده ځواب ووایم؛ څو د یو بل د زغملو، د افهام او تفهیم فضا رامنځته شي. کله چې وېره نه وي؛ بیا یو کس په خپل کار او حتی د ژوند په چارو کې کار او ابتکار کولای شي.

یوه ورځ د یو تلویزون ټیم له کابله راغې؛ چې له ما سره مرکه وکړي. له مرکې وروسته زما سکرتر راغې؛ چې د تلویزیون ټیم بیرون ناست دی او وایې چې والي صیب باید موږ ته خرچه راکړي، چې د دوی راپور نشر-او کابل ته بېرته لاړ شي. ما ورته وویل چې ورته ووایه مرکه بېرته ډیلیت کړه اوهېڅ یې مه نشروئ؛ خو چاته خرچې نشم ورکولای. سبا ته مې په فیسبوک کې د دې تلویزیون قصه ولیکله؛ له ټولو سره دا وېره وه؛ چې والي د هېڅا خبره نه پټوي

او هر څه له ولسونو سره شریکوي. د فیسبوک لارې زما لیکنو تر ډېره حده ښه نتیجه ورکړه؛ که کوم دوستان غواړي، چې هغه لیکنې په منظم ډول ولولي؛ د (ننگرهار څپې) په نوم مې ټولې هغه لیکنې د کتاب توگه چاپ کړې دي؛ کولای شي، چې ورته مراجعه وکړئ.

زما د فیسبوک د لوستونکو او فالورز شمېر تر لسهاو زرو پورې و؛ چې نه یوازې د ننگرهاریانو لپاره؛ بلکې د افغانستان په نورو سیمو کې د ولسونو او والیانو لپاره یو ښه مثال شو او اکثرو به ډېر کارونه د ننگرهار له اداري کاپي کول. البته درې – څلور سلنه کسان چې د قانون د تطبیق او د حکومتولۍ د ښه کېدو له امله متضرره کېدل، یا به د مخالفو مسلحو ډلو طرفدار او خواخوږي و، یا هغه کسان چې له حکومت سره مخالف و او یا ځینې کسان چې همېشه منفي گرا وي او دوی که څپله خبره هم له بل چا واوري پرې اعتراض کوي، مخامخا مخالفت به یې کاوه. خو د حمایت کچه نهایت زیاته وه. زه د خپلو ټولو دوستانو او پلویانو د ملاتړ منندویه یم؛ ځکه د دوی له حمایت پرته ما نشو کولای، چې د ننگرهار وضعیت او په خاصه توگه فکري تغیر لپاره کار کړی وی.

لکه، چې دمخه مې یادونه وکړه، د رسنیو ترڅنگ، په ننگرهار کې په نامه د مدني ټولنو یو څو کسه ټیکه داران و؛ چې بزنسونه او هوټلونه یې درلودل. ځینې یې کمیشنکاران و؛ چې د قراردادونو په اخیستلو کې به یې له شرکتونو کمیشن اخیسته او یا به ور سره شریک و. دوی به هم د مدني فعالیت په نوم په ادارو فشار راوړه؛ چې د دوی په خوښه کار وکړي. دغه ډله ما د هاها د ډلې په نوم ونوموله ؛ څو له واقعي مدني فعالانو سره یې توپیر وشي. دا ډول مدني فعالان څو کاله د مخه ما په یوه مقاله کې د مدني ټولنو د جنگسالارانو[16] په نوم هم یاد کړي و. د مدني فعالانو د هاها ډله د ننگرهار ولسونو ته ښه معلومه وه او

[16] https://www.cigionline.org/publications/plan-stabilize-afghanistan ( اخرې ځل دا ویبپانه ۱۶ جنورې ۲۰۲۱م کې وکتل شوله)

دوی د لوچکۍ تر سرحده به په مجالسو کې د چارواکو توهین کاوه. کله به چې یو نوی والي، د امنیت رئیس، قوماندان او یا د نورو ادارو مشران مقرر شول، د هاها ډلې او هم یو شمېر نور هغه کسانو؛ چې په فساد کې ککړ و؛ لومړنۍ هڅه یې دا وه، چې د ادارو د مشرانو تر منځ نمامت وکړي او دوی د یو بل پرضد وکاروي. دا چې ما تقریبا څلور لسیزې کاري تجربه درلوده او په لوړو موقفونو کې مې پخوا هم کار کړې و، د دا ډول اشخاصو په کنترول او اهدافو پوهېدلم. د هاها ډلې نوم نه یوازې په ننګرهار، بلکې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې د والیانو، د ولسونو او ټولنو ترمنځ عامه اصطلاح شوله؛ ځکه په هر ولایت کې همداسې کسانو شتون درلود، چې محلي چارواکي او هم ولس ترې په تنګ و.

زما د ماموریت درېیمه ورځ وه، چې د ننګرهار ولایت اداري مرستیال، تمیم عارف مومند راغی او راته یې وویل، چې یو کس د لطیف واحدي په نوم چې د سپوږمۍ هوټل مالک دی، د دې پرضد په فیسبوک کې لیکل کړي دي؛ نو د خپل حیثیت اعاده غواړي. ما ورته وویل که ثبوت ورسره نه وي، ته د خپل حیثیت د اعادې حق لرې. موږ همدومره خبره سره وکړه؛ خو د ولایت مرستیال قوماندانۍ ته په خپل لاسلیک مکتوب لېږلی و او له هغوی یې غوښتنه کړې وه، چې لطیف واحدي جلب او د دغه لیکنې په هکله ترې وضاحت وغواړي.

د شپې له مېلمنو سره ډوډۍ ته ناست وم، چې د پژواک خبري اژانس مشر- دانش کړوخېل راته تلیفون وکړ؛ چې د ژورنالستانو په ګروپ کې سخته غوغا ده، چې تا کوم ژورنالست څارنوالۍ ته معرفي کړی دی. ما ورته وویل چې ما خو هېڅوک نه دی معرفي کړې او نه مې لا تر اوسه د اداري کارونو په هکله امضا کړې ده. هغه وویل چې مکتوب ستا په امضا قوماندانۍ ته تللی دی. ما ورته وویل چې د مکتوب کاپي راولېږه، چې مسئله څه ده؟ دانش کړوخېل مکتوب د وټس اپ له لارې راولیږه، چې د ولایت مرستیال مکتوب امضا کړی او د حیثیت اعادې غوښتنه یې کړې وه. د ولایت په چارو کې د خلکو د

ستونځو د حل په خاطر چې ورځني عادي کارونـه لـه ځنډ سره مـخ نـه شي، د مکتوب په اخر کې چې ولیکي؛ د ننگرهـار والي؛ دا مکتـوب مرسـتیالان امضـا کولای شي او که نوم د والي ورسره ولیکل شي؛ نو بیا والي هغه مکتوب پخپلـه امضا کوي او معاونین یې نه امضا کوي. دا چې د ولایت مرستیال پخپله مـدعی و؛ نو باید مکتوب یې زما په امضا لیږلـی وی. پـه عینـې حـال کـې هغـه دا حـق درلود چې مکتوب پخپلـه امضـا کـړي، یـا عریضـه ولیکـي او اعـاده د حیثیـت وکړي؛ له حقوقي اړخه دې برخه کې کومه ستونځه نه وه.

په همدې ورځ سهار ما د فیسبوک په پاڼه د یو کس جزا نورو ته د عـبرت[۱۷] تر عنوان لاندې یو پوست لیکلي و؛ چې ما لا خپل کار نه دی پیـل کـړی؛ خـو ځینو حلقو خپل چوکرگان فعاله او منفي تبلیغات پیل کړي دي. د دغـه پوسـت په استناد، لطیف واحدي او ځینو نورو د هاهـا ډلـې فکـر کـاوه، چـې د ولایـت مرستیال مکتوب زما په امضا لیږل شوې دی. په حقیقت کې د مکتـوب د لیږلـو او زما د پوست ترمنځ کومه رابطه نه وه. مخکې له دې چې قضـیه وڅیـړل شي، په سبا یې لطیف واحدي په ولایتـې شـورا کـې مطبوعـاتې کنفـرانس ورکـړاو د ولایت په مرستیال یې د فساد تورونه ولږول. نوموړي په یـو شـاپنگ بیـگ کـې کاغذونه اچولي او رسنیو ته ښودلي و؛ چې دا د فساد اسناد دي. کـه والي د دې اسنادو پوښتنه ونه کړي، نو دوي به د ولایت مخې تـه مظاهرې پیـل کـړي. مـا ورته وویل؛ چې مظاهرې د مدني حرکت برخه ده او څه خـبره نـه ده. معـاون د والي هم له خپل ځان نه د دفاع حق لري او مسئله باید څارنوالۍ ته محـول شي؛ څو ملامت او سلامت معلوم شي. که ادعاء کاذبه وي، واحدي ته بایـد دقـانون په رڼا کې سزا ورکړل شي او که د ولایت مرستیال په فساد کې دخیل وي، هغـه ته باید سزا ورکړل شي.

---

[۱۷] د ننگرهار څپې (د فیسبوک د لیکنـو او بحثونـو پنځمـه تولگـه) ۳۱مـه صـفحه، د چـاپ کـال ۱۳۹۹م، خپرېدونکې اداره: د شاه محمود میاخیل فرهنگي او تولنیز مرکز، خاص کونړ

واحدي مؤثق اسناد نه درلودل، څارنوالۍ ته له تګ یې ډډه کوله او په مظاهره یې ټینګار کاوه. دا چې له هاها ډلو سره زما لومړنی برخورد و؛ نو ما هم ورته وویل چې اوس به دا مسئله څېړم. له خلکو سره په لیدو کتو مصروفه وم، قاري ضیاالرحمن ضیاء، چې د مشرانو جرګې د رئیس د دفتر آمر و، راته راغی او ویې ویل چې که له دوی سره وګوري نو ښه خبره به وي. ما ورته وویل، چې سمه ده، رادې شي خبرې به سره وکړو. دوی چې ولایت ته داخلېدل، څلوېښت پنځوس کسه ورسره و. د شاو په شان یې د واحدي په غاړه ګلان اچولي و او شعارونه یې ورکول. ما ورته وویل؛ چې دومره غوغا ته څه اړتیا ده. تاسي ادعاء کوئ، چې د ولایت مرستیال په وړاندې د فساد اسناد په لاس لرئ او هغه د خپل حیثیت اعاده غواړي. دواړه به څارنوالي ته ولېږم؛ چې ستاسي ادعاوې وڅېړي. واحدي دې ته حاضر نه و؛ چې له اسنادو سره څارنوالي ته لاړ شي او نه یې اسناد زموږ په اختیار کې راکول. ما ورته وویل؛ چې بې تحقیقه او د اسنادو په نه موجودیت کې زه تصمیم نشم نیولای.

له دې ټکر وروسته هرې مدني ټولنې او فعالینو به چې کومه لیکنه او یا خبره په مجالسو او محافلو کې کوله؛ نو دا به یې خامخا د مخه ذکر کول؛ چې دوی د هاها ډله نه ده. د هاها ډلې تر اخره پورې ډېرې لیکنې وکړې؛ خو څه ګټه یې ونه کړه. ځینو د هاها ډلې د همدې هاها له لارې کارو بار جوړ کړې و او ځینو هېڅ دنده نه درلوده؛ خو د یو او بل په حجرو کې به یې ناسته پاسته کوله، د ادارو نه به یې جیب خرچ اخیسته او لوکس به هم ګرځېدل. د دې ځینو کسانو کورنۍ هم ما پیژندلې؛ چې د کورنیو مشران هم له دوی ناراضه و او د ولسونو په منځ کې یې رول نه درلود.

## د مثبت فرهنګي او ټولنیز بدلون لپاره ستراتېژیک کمیونکیشن

له کلونو راهیسې زما لپاره دا مهمه ده، چې مثبت فرهنګي او ټولنیز تغیر په ځان او ټولنه کې څنګه راوستلی شو؟ د دنیا اکثره هېوادونو چې پرمختګ کړی

دی، په هغه هېوادونو کې فکري او فرهنګي مثبت تغیر رامنتخه شوی دی. زما په اند؛ څو چې افغانان او په ځانګړې توګه پښتانه په خپله ټولنه، ژوند او کاري چاپېریال کې فرهنګي او ټولنیز مثبت تغیر رانه ولي، تر هغې دوی له فقر، بدبختۍ او جنګ نه خلاصېدلی نه شي. فرهنګي او ټولنیز تغیر بودېجې او مالي امکاناتو ته اړتیا نه لري. پوهه او علم باید د دوی په عادتونو کې مثبت فکري تغیر رامنځته کړي. ډېری کسان وایي؛ چې د علم او پوهې کمبود دی؛ نو ځکه افغانان له ستونځو سره مخامخ دي، اما داسې نه ده. هر انسان کافي پوهه او علم لري، چې د ښو او بدو فرق وکړای شي؛ د بیلګې په توګه هر څوک پوهیږي؛ چې رشوت اخیستل، رشوت ورکول، واسطه، غلا، ورور وژنه، مکتب او سرک ورانول او داسې نور اعمال بد کار دی، خو بیا هم ډېری کسان د دغه بدو اعمالو مرتکب ګرځي؛ ځکه چې پوهه او علم د دوی په عادتونو کې تغیر نه دی راوستی.

فرهنګي او ټولنیز مثبت تغیر له خپل ځان او خپلې کورنۍ پیل کېږي. یو څوک چې خپل ځان ونه پیژني، هغه خدای هم نشي پېژندلی. د ځان د اصلاح په عوض اکثره افغانان کوښښ کوي، چې نور اصلاح او د ټولو ناکامیو مسؤلیت په نورو واچوي. د فرد مسؤلیت د ټولنې په وړاندې او د ټولنې مسؤلیت د فرد په وړاندې، یا حقوق او وجایب د اسلام او سوسیالوژي د علومو له اړخه ډېر لوی بحث دی. ډېری کسان چې د حقوقو اخیستلو خبره کوي، ترڅنګ یې د خپلو وجایبو اداء کولو باندې بحث نه کوي. حال دا چې حقوق د وجایبو له اداء کولو سره مستقیمه رابطه لري. څومره چې وجایب یو کس او ګروپ په ښه توګه ادا کوي، په هماغه اندازه خپل حقوق هم په ښه توګه ترلاسه کولای شي. د بېلګې په توګه یو کس یو کاندید ته د پیسو او شخصي- ګوندیو په خاطر رایه ورکوي؛ نو په حقیقت کې د دغه شخص رایه د یو خراب پارلمان جوړولو لپاره ده او خراب پارلمان د دغه شخص د رایې په اساس جوړیږي. خراب پارلمان به خرابې کابینې ته رایه ورکوي، خرابه کابینه به ناسمې پالیسۍ جوړوي او غلطې پالیسۍ پر ټولنه او د یو هېواد په پرمختګ منفي اغېز لري.

همدا شان خراب پارلمان به خراب قوانین جوړوي او خراب قوانین د خلکو په ژوند مستقیم منفي تاثیر لري. که ولس خپله رایه یو کاندید ته د اهلیت او خدمت په نظر کې نیولو سره ورکړي، یو هېواد به ښه پارلمان ولري، ښه پارلمان به ښې کابینې ته رایه ورکوي او ښه قوانین به تصویب کوي. طبیعي خبره ده چې ښه کابینه او قوانین د هېواد او ولسونو په ژوند مثبت تاثیر لري. په دې لنډ مثال کې موږ د وجایبو او حقوقو ترمنځ مستقیمه رابطه ګورو. داسې نه شي کېدلای، چې ولس دې رایه ابوجهل ته ورکړي او طمع بیا د عمري عدالت کوي.

په همدې موخه مې له کلونو کوښښ کړی، چې یو څه زده کړم، په خپل ځان کې اصلاحات راولم او په عین حال کې ټولنې او کورنۍ ته د ښه خدمت جوګه شم. که یو څوک په خپله جوړ نه وي، هغه نشي کولای، چې نورو ته د خدمت مصدر وګرځي. زه له څلوېښت کلونو راهیسې په همدغه فورموله کار کوم او ډېرو کسانو ته مو تر یوه حده خیر رسېدلی دی. چا ته مو شر نه دی رسولی او نه مو د چا په مقابل کې دسیسه جوړه کړې او یا مو د چا شخصیت وژنه کړې ده. زما د عمر زیاته برخه په مدني او فرهنګي چارو کې تېره شوې؛ خو له چا مې باج اخیستی نه دی؛ د خپل خدای، وطن او خلکو پر وړاندې مو له خپل ځان سره تعهد کړی، چې تر خپل وس به خدمت کوم او له خیانت به ځان لرې ساتم؛ همدا لاره مې تعقیب کړې او تر اوسه مې کوم تاوان نه دی کړی.

د همدې فکر د غوړېدو لپاره مې څو کاله دمخه د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د شاه محمود میاخېل په نوم فرهنګي او ټولنیز مرکز جوړ کړ؛ چې تر ډېره حده په هغه سیمه کې مؤثر ثابت شوی دی؛ په ۱۹۹۳م کال کې په نوموړې ولسوالۍ کې مکتبونه جوړ کړل، ځکه مو دغه برخې ته له بل هر څه ډېر ضرورت لرو؛ البته کله چې کار کوې، د کورنۍ د غړیو او ولسونو توقعات هم زیاتیږي؛ د توقعاتو پوره کول اسانه نه وي، ځکه یو کس نشي- کولای، چې

خپل توقعات پوره کړي، نو دا هېڅکه امکان نه لري چې د کورنۍ د ټولو غړو او د ولس غوښتنې او توقعات دې پوره شي.

په ننگرهار کې مو هم تر ډېره حده فرهنگي او ټولنیز تغیر له ځان نه پیل کړ؛ لومړی تغیر د همدې فرهنگي او مدني مافیا پر ضد جدي غبرگون ښودل و، د ننگرهار یو شمېر په نامه مدني فعالانو شخصیت وژنه او باجگیري کوله. دا ډول فرهنگي او په نامه فعالانو د افغانستان او په خاصه توگه د ننگرهار سیاسي، ولسي او ټولنیزه فضا ککړه کړې وه، داسې کسان، چې بې له مسؤلیته اتهامات واردوي، غلطې اوازې او انگازې خپروي، د ولس او چارواکو اذهان مغشوش کوي، دوی د ټولنې د سیاسي ککړتیا عاملین او ټولنې ته غلط جهت ورکوي، ټولنې ته دوی له یو مجرم او ټوپکمار زیات زیان متوجې کوی؛ ځکه چې دوی په ولسونو کې فکري خوځښت او د خدمت انگیزه وژني. همدا ډول حلقې د مافیایي کړیو د تقوي باعث گرځي. همدا علت و، چې د دوی په مقابل کې مې سخت دریځ ونیوه او اجازه مې ور نه کړه، چې د ولایت په چارو او ادارو کې تر اخره لاس وهنه وکړي. یو والي چې له خپلو کارونو، ولایت او ځان دفاع نشي کولای، هغه هېڅکله له ولایت مقام او د ولسونو له گټو هم دفاع نشي کولای.

د هاها ډله مو انزوا حالت ته یوړله او اوس د ننگرهار د ولسونو په منځ کې دهاها ډله چندان اهمیت نه لري؛ د مراجعینو کلمه مو په مشتري بدله کړه او په اکثرو دفترونو کې مو د مشتریانو ورځ او د مشتریانو لپاره مناسب ځایونه ترتیب کړل؛ هغه کسان چې دفاترو ته د کارونو د اجرا لپاره ځي، باید له هغوی سره د یو مشتري په توگه ښه سلوک او چلند وشي. که څه هم په لومړیو کې د همدې هاها ډلې تبلیغ پیل کړ، چې والي غواړي له ولایت دوکانداري جوړه کړي؛ نو ځکه د مشتري کلمه کاروي. زما ځواب دا و؛ چې هو! حکومتولي د دوکاندارۍ په څېر ده، که یو دوکاندار له خپلو مشتریانو سره ښه سلوک کوي، ښه او ارزانه سودا خرڅوي، د هغه دوکاندار کارو بار ښه کېږي او خلک تل له نوموړي سواد کوي. که کوم دوکاندار له خپلو مشتریانو سره بد سلوک کوي،

خرابه او په لوړ قیمت سودا په مشتریانو پلوري، د هغه دوکاندار مشتریان کمیږي او بالاخره د هغه دوکاندار کارو بار سقوط کوي. په حکومتولۍ کې هم همداشان ده، که ټول دولتي مامورین له ولسونو سره ښه سلوک وکړي او څوک په زحمت نه کړي، خدمت وکړي او چا ته دسیسه جوړه نه کړي، حکومتولي پخپله ښه او د حکومت او ولس تر منځ واټن کمیږي.

د ستراتیژیک کمیونیکشن په هکله مو له مستقیمو او غیر مستقیمو مېتودونو کار واخیست؛ په مستقیمه توګه مو هر ورځ له بېلا بېلو اقشارو سره کتل او د ولسوالیو سفرونه مو تنظیم کړل. که مبالغه ونه کړم، په تېرو شلو کلونو کې به زه په ننګرهار کې لومړنی والي ووسم، چې یوویشت ولسوالیو ته موسفرونه وکړل او حتی ډېرو ولسوالیو ته څو څو ځلې لاړم. یواځینۍ ولسوالي چې رانه پاتې شوه، هغه د حصارک ولسوالي وه، چې باید ورغلی وی؛ مګر د نظامي شورا د پریکړې پر اساس مې سفر ونه کړ؛ ځکه هغوی زما له تګ سره مخالف و؛ ځکه هلته د هوا له لارې تګ او اکمالات کېدل. باید ووایم؛ چې د حصارک او شېرزادو دواړو ولسوالیو د ولسونو پوروړی یم، چې دا سیمې مې د طالبانو له نفوذ او شتون نه په بشپړه توګه پاکې نه شوې کړای. که څه هم د شېرزادو ولسوالۍ لار مو پس له یوې لسیزې خلاصه کړه؛ خو ټوله ولسوالۍ تصفیه نه شوه. له ننګرهاره زما د استعفاء یو لامل هم د شېرزادو عملیات او د امنیتي او دفاعي قوتونو کمزورې حرکت و؛ چې د امنیتي سکتور په برخه کې به پرې پوره بحث وکړم.

په غیرې مستقیمه توګه مو هره ورځ د ننګرهار د رسنیو دفتر، د خپل فیسبوک او ټویټر له لارې معلومات شریکول؛ له رسنیو سره مو مرکې، ټاون هال غونډې او کنفرانسونه سرته رسول؛ ځینو پوهنتونونو او مدني ټولنو ته مې د حکومتولۍ په هکله لیکچرې هم ورکولې. حتې له څو کسانو لکه: ډاکتر ایمل

ذکي، شریفه احمدزی او شهلا شایق سره مو د ژورنالیست په توګه مرکې وکړې، چې د انعکاس او شرق د تلویزیونونو له لارې نشر شوې[18]. د دوی د ژوند قصې او لاسته راوړنې د ډېرو لپاره د ورځني ژوند ښه تګلاره کېدای شي. ځینو نیوکه کوله؛ چې والي ولې له ځانه خبریال جوړ کړې دی. د دې دریواړو د ژوند قصې دلچسپه وې او باید له ولسونو سره شریکې شوې وای. دوی د خپلو کورنیو له اقتصادي ستونځو سره سره ځانونه ورسول، خپل اولادونه یې وروزل او زرګونو کسانو ته یې خیر ورسید.

کله کله د سیستم له لارې د ادارو مسوولین خپلو مشرانو ته فلتر شوي معلومات ورکوي او لوړپوړي چارواکي د ټولنې له اصلي حالت نه نه خبرېږي. په دې خاطر مو له خوالو رسنیو او مستقیمو تماسونو له لارې له ولسونو سره هره ورځ معلومات شریکول او نېغ په نېغه اړیکه مو نیوه؛ د هغوی مثبتو او منفي نظریاتو، نیوکو او غوښتنو ته مو په خوالو رسینو کې ځوابونه ویل؛ یعنې والي باید له ولس پټ نه وي، بلکې له ولس سره مستقیمه رابطه ولري. هره ورځ مو د لس ګونو ځوانانو، علمای کرامو او مشرانو مسیجونو، تلیفونونو او تماسونو ته ځواب ویلی؛ په دې توګه مو روایتي مدیریت تغیر کړ او تر ډېره حده مې د ولسونو او دوستانو عکس العملونه ته ځواب ووایه.

د معلوماتو په شریکولو کې مې ستونځه نه لرله؛ اما که چا به د معلوماتو حاصلولو په نوم تخریب کاوه، بیا به مې هغه ته تونډ ځواب ویلی؛ د خلکو په منځ کې ځینې ځوابونه د قصو او روایتونو په شکل شهرت هم پیدا کړ؛ د بېلګې په توګه، د کورونا ویروس د مخنیوي په خاطر د قرنطین په شپو او ورځو کې د کابل ښاروالۍ او مرکزي حکومت څلورنیم کیلو غنم په خلکو وویشل، دا توزیع بیخي غیر منطقي او په خلکو ریشخند وهل و، څلور نیم کیلو غنم ډېر

[18] https://www.facebook.com/100010605631038/videos/1219955378367972/

(د ډاکتر ایمل ذکي سره مرکې لینک)

(د شریفي احمدزي سره د مرکې لینک) https://fb.watch/5oNAkqkgZk/

کم او څه ډول اوړه شوي وای؟ ځینو څلور نیم کیلو غنم په پلاستیکي خلطو کې اچولې و او د کابل په ښار کې به ګرځیدل، چې فیسبوکونو کې یې غوغا جوړه کړې وه؛ د کورونا فنډ له لارې مو ننګرهار کې زرګونو کسانو ته د درې نیم زره افغانیو معادل خوراکي موادو د ویشلو پوست وکړ؛ یو کس راته لیکلي و چې والي صیب! په دا څلور نیم کیلو غنمو باندې څه وکړو؟ دا چې د غنمو توزیع کابل کې شوې وه او ما پورې یې هېڅ اړه نه درلوده، خو ما ورته ولیکل: که دانه دانه یې وخورې، نو هم به مو قرنطین کې ښه ساعت تېر شي او هم به مو روژه لنډه شي، که په لپو لپو یې وخورې؛ نو یو روژه ماتې به مو پرې تېر شي. د قرنطین په وخت کې یو ځوان راته د ښار عکس واچوه، چې ګوره دلته د خلکو بیروبار دی؛ ما ورته وویل چې بیروبار خو همدا تا جوړ کړی دی، چې د فیسبوک د عکسونو اخیستلو لپاره بازار ته وتلی یې؛ که هرڅوک په خپلو کورونو کې کینې نو بیرو بار پخپله کمیږي.

په ټولو ساحو کې د کارونو د نیمګړتیاو پړه ما په بله اداره نه اچوله؛ نه مې جمهور رئیس، وزیرانو او نه هم ولسونو ته د کاري ستونځو په هکله شکایتونه کول. د والي دنده همدا ده، چې ستونځو ته د حل لارې چارې پیدا کړي او تر ممکن حده خپل کوښښ وکړي. د کارونو د نیمګړیتاو لپاره مې نور نه دي ملامت کړي، بلکې مسؤلیت مې پخپله مانه او د ښو کارونو کریدت مې خپلو همکارانو او ولسونو ته ورکاوه. تل په دفتر کې موجودیت او حاضری ورکول، کار ته له نورو مامورینو د مخه راتګ او وروسته تګ، مجالس په خپل وخت پیلول، وخت پیژندل او له وخته مؤثره ګټه اخیستل او مسؤلیت منل؛ د ولایت په کارونو کې بل مثبت تغیر و، چې اوس په ننګرهار کې عام شوی دی.

د خپل ځان او د ولسونو د توقعاتو ترمنځ مې یو متناسب بیلانس ساتلی دی. که د ولس توقعات ووژل شي په حقیقت کې دا د ولسونو د فکرونو وژل دي او که د ولس توقعات دومره پورته یوړل شي، چې عملي بڼه ونه لري، بیا د کارونو خنډ و ځنډ او د ولسونو د مایوسۍ سبب ګرځي. که ولسونه د کار په

اهميت پوه نه شي او محدوديتونه په نظر کې ونه نيسي، بيا يو قسم د افسردګۍ مرض باندې ولسونه اخته کېږي. په همدې فرموله مې کله د ولسونو توقعات پورته وړل او کله ښکته؛ څو د خلکو د اړتياو او کاري محدوديتونو ترمنځ د توقعاتو مديريت (Expectation Mangament) وکړای شم. د يو چارواکي لپاره د خپل ځان د توقعاتو مديريت هم ډېرمهم دی؛ ځکه د ولايت امکانات او د دندې موده محدوده وي، نو ټول کارونه چې د يو والي زړه غواړي، هغه نه شي تر سره کولای؛ پکار ده، چې يو والي د خپل کاري مودې په محدوده کې مشخص کارونه تر سره او له شته محدودو امکاناتو مؤثره استفاده وکړي. زه په دې پوهيدم، چې د خپل ماموريت په لنډه موده کې ډېر څه نشم کولای؛ نو دا سمه نه ده چې د دروغو وعدې ولسونو ته ورکړم؛ اما دا هم بايد ونه وايم چې هېڅ نه شم کولای.

نظامونه او سيستمونه په تدريجي توګه رشد کوي. زما لويه موخه دا وه، چې په دې لنډه موده کې د ولايت لپاره يو نوې طرز د مديريت پريږدم او يو څو مشخص کارونه چې عامو خلکو ته مهم و؛ تر سره کړم. فکر کوم له يو نيم کال لنډه موده کې مو د ننګرهار ولايت په کارونو کې يو څه مثبت تغير راوست، چې راتلونکي والي صيبانو لپاره د تګلارې په توګه پاتې کېدلی شي او هغوی کولای شي چې په دې تهداب نور مهم کارونه تر سره کړي. له بده مرغه په ملي او محلي کچه اکثره پخوانيو چارواکو، راتلونکو چارواکو ته ډېرې ستونځې په ميراث پرېښودي دي. د يوې ادارې مشر بايد راتلونکې ځای ناستې ته ستونځې زياتې نه کړي، بلکې د ستونځو په کموالي کې رول ولوبوې. په همدی فورموله مو راتلونکې والی صيبانو ته ستونځي نه دي پرېښي؛ بلکې ډېرې ستونځي مو حل کړی دي. البته ډېر نور کار ته هم اړتيا شته؛ څو د ننګرهار هميشه بهار سيمه خپل تاريخي او فرهنګي قدامت بيا لاسته راوړي.

**د امنیتي وضعیت ساتنه، ستونځې او پلانونه**

د ننګرهار مساحت تقریبا ۹۱٦،۷ کیلومتره مربع او له خیبر پښتونخوا فرضي کرښې سره ۲۰۲.۲۵ کیلومتره سرحد لري. د دغه فرضي کرښې ۱۰۹ کیلومتره برخو کې د امنیتي قواو پوستې شتون نه لري[۱۹]. د عوامو په اصطلاح سمه د ملا نصرالدین قلعه ده، چې یو دېوال یې شته او درې دېوالونه یې نشته. سربېره پر دې ننګرهار له کابل، لوګر، پکتیا، لغمان او کونړ ولایتونو سره ګډه پوله لري. همدا ډول بدخشان، کاپیسا، نورستان او پنجشیر ولایتونو ته اکثره تروریستي ګروپونه د ننګرهار د غرونو له لارې لنډې لارې لري، چې پخوا هم مجاهدینو پورته ولایتونو ته له همدغو لارو تګ او راتګ کاوه. د ننګرهار امنیت، اقتصاد او ثبات نه یوازې په ختیځو ولایتونو باندې تاثیر لري، بلکې په مستقیمه توګه د کابل په امنیت او ثبات هم اغېز شیندي.

د چارواکو او سیاسي تحلیګرانو لپاره مهمه ده، چې د یوې سیمې سیاسي، اقتصادي او بشري جغرافیه په سمه توګه وپیژني. یوه ورځ د ننګرهار څو تنه وکیلان دفتر ته راغلل. وکیل صیب میرویس یاسیني راته وویل، چې ننګرهار خو وړوکی ښار دی؛ نو امنیت یې ولې نه ساتل کېږي؟ ما ورته وویل چې یاسیني صیب! که د جلال اباد ښار څلور خواوې راته تشریح کړې؛ نو ښه به وي؟ یاسیني صیب او نورو وکیلانو او هغه کسان چې په دفتر کې ناست و، ونه توانېدل، چې د جلال اباد ښار څلور خواوې تشریح کړي. ما ورته وویل لکه څنګه چې تاسي فکر کوئ د جلال اباد ښار هومره کوچنی نه دی او لکه، چې مخکې مې یادونه کړې ده، دجلال اباد ښار ساحه ډېره پراخه او نفوس یې له پخوا څو چنده اضافه شوی دی.

په دې اساس د ننګرهار او هم د نورو سیمو ګڼ اوسیدونکي د ننګرهار له ټول جغرافیوي موقعیت سره بلد نه دي او فکر کوي، چې ننګرهار یوازې جلال

---

[۱۹]. د ملي دفاع وزارت اوپراسون د معلوماتو په اساس.

اباد ښار او څو نږدې ولسوالۍ دي. که څوک د شیرزادو او خوګیاڼو د وزیرو تنګیو پورې لاړ شي، یا د تورې بوړې او د پچیرو واګام له ګیرو خیلو تر د هسکې مېنې اوغز تنګي او تړلو کندو پورې او همداسې د اچین د باغدرې او نازیانو د دوه خولې او دیوانه بابا پورې وګرځي، د دور بابا د ماشین ناو او د لعل پورې د غوړکي، رینې پارچاو اوچکنور سیمې او دښتې ووینې او هم د ګوشتې د ځپري او خوګاخیلو غرونه او د دره نور ولسوالۍ پورته لوړو غرونو پورې لاړ شي؛ نو بیا قضاوت کولای شي، چې د ننګرهار ولایت جغرافیه څومره لویه او غرنیزه ده. اکثره دا غرنیزې سیمې په ځنګلونو پوښل شوې دي او د دومره غرنیزو سیمو امنیت ساتل څه اسان کار نه دی. د ننګرهار په شپږو ولسوالیو کې د جلغوزو ونې او نښتر هم شتون لري. د دې لوې جغرافیې امنیت ساتل یوازې په پوستو اچولو او امنیتي قواو باندې امکان نه لري؛ څو چې ولسونه له حکومت سره همکاري ونه کړي او خپل امنیت پخپله ونه ساتي.

سربېره پر دې په رسمي اسناد کې د ننګرهار نفوس یو نیم میلون کسه اټکل شوی دی. حال دا چې د ارګ د ویپاڼې له مخې په ننګرهار کې اته لکه هلکان او نجوني ښوونځیو ته ځي خو د ننګرهار د معارف ریاست د ارقامو پر بنسټ د ښوونځیو د زده کوونکو شمېر تر یو میلون کسانو پورې رسیږي. که د هر زده کوونکي د کورنۍ نه دوه کسه وراضافه کړې، د ننګرهار نفوس له درېو میلیونو کسانو زیات دی؛ اما په کابل کې د ننګرهار امنیتي قواوې او نور خدمات د یو نیم میلیون کسانو په اساس محاسبه کیږي[20]. د نفوسو شمېر په امنیتي او ټولو ټولنیزو خدماتو باندې مستقیم تاثیر لري.

---

[20] https://president.gov.af/ps/?page_id=11300 (اخرې ځل دا ویپاڼه په ۹ فبروري ۲۰۲۱ م کال کې وکتل شو)

لوی[۲۱] ننگرهار چې د علم او فرهنګ زانګو او د افغانستان د بیروکراسۍ د ملاء تېر حیثیت درلود، له بده مرغه د ځو لسیزو جنګونو، د جهادي قوماندانانو او د هغوی د کورنیو د دښمنیو او منفي رقابتونو له امله د ځمکو په مافیا او غصب، د معدنونو او لرګیو په قاچاق، په فساد او زورواکۍ بدل او شهرت پیدا کړ. د همدې اختلافونو له امله، چې ریښې یې په ولسوالیو کې هم وې، ننګرهار د داعش، طالب، تحریک طالبان پاکستان، لشکر اسلام، لشکر طیبه، القایده، حزب تحریر، شرقي ترکستان اسلامي حرکت (ETIM)، جنود خراسان، جماعت الاحرار او نورو تروریستي ډلو ځاله وګرځیده او ننګرهار د افراطیت ګرایي مشهوره سیمه شوه. د ننګرهار په پوهنتون کې د داعش او طالب تور او سپین بیرغونه اوچت شول او په علني توګه په ټولو تعلیمي مراکزو کې د داعش او نورو تروریستي ډلو د جلب و جذب لپاره کار کېده[۲۲]. د ننګرهار پوهنتون یو شمېر استادانو د افراطیت په ترویج کې مهم رول درلود او د زیاتو ځوانانو فکرونه لا اوس هم افراطي دي. همدا شان د افغانستان په نورو سیمو باندې د تروریستي حملو پلانونه هم له ننګرهاره پلان او سازماندهي کېدل او کېږي.

ننګرهار کې زما له راتلو دمخه تقریبا په دوه کلونو کې ډېر زیات وحشت تېر شوی و. له ما وړاندې د ننګرهار د پخواني والي ښاغلي حیات الله حیات د ولایت پرمهال په یوه اوونۍ کې نږدې ۶۰۰ کسان د جلال اباد په ښار کې د

[۲۱] خدای دې وبښي، عبدالله بختانی صیب د لوی کلمې سره مخالف و او ویلې که د لوی کلمه یادو نو وړوکی ننګرهار کوم یو دی. د بختاني صیب خبره په خپل ځای سمه وه اما دا چې د ختیځ سیمې د کونړ، لغمان، نورستان او ننګرهار ولایتونه پخوا د مشرقي په نوم یادیدل، نو دا سیمه سره ګډ ټولنیز ژوند، تاریخ، اقتصاد، فرهنګ او مړی او ژوندی لري. په دې أساس دا ولایتونه که د اداري جوړښت له لحاظه سره جلا شویدي، خو د فرهنګي، تاریخي، اقتصادي او کلتوري لحاظه یوه سیمه او یو زون دی نو ځکه د لوی ننګرهار د کلمې نه هدف د مشرقي ټول څلور ولایتونه دي.

[۲۲] https://ariananews.af/ps/د-ننګرهار-محصلین-چې-ملي-بیرغ-ته-یې-سپکاو/ (اخري ځل دا ویبپاڼه د ۲۰۲۰م کال د نومبر میاشتې په ۱۸مه نېټه چیک شویده)

ځانمرګو حملو په لړ کې شیهدان او زخمیان شوي و. کله چې جمهور رئیس ننګرهار ته په سفر و؛ له ولایت سره نږدې په سکهانو ځانمرګی برید وشو، چې ۱۹ کسان پکې ووژل شول[23]. له طالبانو سره د درې ورځني اوربند په وخت د ولایت مخ ته له پښتونستان چوک سره ځانمرګي حمله وشوه، چې په لس ګونو کسان پکې زخمیان او شهیدان شول[24]. په شیرزي لوبغاړي کې د کرکټ د لوبو په مراسمو ځانمرګی برید وشو، چې انجینر زهیر او ګڼ شمېر نور کسان پکې شهیدان او زخمیان شول[25]. همداشان د ننګرهار په مستوفیت، د معارف ریاست، محبس، د ملګرو ملتونو په یونیسف ادارې، مهاجرینو ریاست، مکاتبو او نور ځایونو کې ځانمرګي حملې تر سره شوې وې، چې د خلکو روحیه یې خپلې وه[26]. په لرې پرتو ولسوالیو کې زیات مکاتب بند و.؛ مامورینو به کلاشینکوفونه او سلاوې دفترونو ته له ځانونو سره وړلې. ګڼو کسانو به په فیسبوک کې د خپلو مېزونو لاندې د سلاو عکسونه پوست کول؛ که په دفترونو یې حمله وشي؛ نو دوی به له ځانونو دفاع کوي. ښاریان په دې عقیده و ، چې ښار به سقوط کوي او داعش به ښار نیسي- د ننګرهار دملي امنیت د رئیس، جنرال واحدي په قول چې په کومه ورځ نوې دندې ته معرفي شو، په هماغه ورځ د ننګرهار په مستوفیت باندې حمله وشوله. د والي صیب نظر دا و، چې په خلکو سلاوې وویشي؛ څو خلک خپل امنیت پخپله وساتي. البته له نظامي پلوه دا تصمیم سم نه و، نو بالاخره د جمهور رئیس لخوا امر وشو، چې اردو

---

[23] https://www.bbc.com/news/world-asia-44677823 (اخر ځل دا ویبپانه په ۱۵ د فروري ۲۰۲۱م کال وکتل شوه)

[24] https://www.bbc.com/news/world-asia-44513657 (اخر ځل دا ویبپانه په ۱۵ د فروري ۲۰۲۱م کال وکتل شوه)

[25] https://www.rferl.org/a/explosions-cricket-match-jalalabad-kill-at-least-eight-nangarhar-province-afghan/29236802.html (اخر ځل دا ویبپانه په ۱۵ د فروري ۲۰۲۱م کال وکتل شوه)

[26] https://www.nytimes.com/2018/07/31/world/asia/afghanistan-isis-civilians.html (اخر ځل دا ویبپانه په ۱۷ د فروري ۲۰۲۱م کال وکتل شوه)

باید د جلال اباد ښار امنیت ونیسي ـ او په عیني حال کې په ښار کې دننه تصفیوي عملیات پیل شي، چې ښار له سقوط نه وساتي. له حیات صیب د مخه د ګلاب منګل صیب په وخت کې هم د جلال اباد په ښار کې انتهار او انفجار عامه خبره وه او داعش او طالبان ښه په زور کې وو.

د رسمیاتو له مخې والي د نظامي شورا رئیس وي؛ خو د افغانستان په اکثره ولایتونو کې د والیانو او امنیتي ادارو د مشرانو تر منځ کشمکشونو د بېلابېلو دلایلو له امله شتون لري. کله چې د کورنیو چارو وزارت معین وم او سیمه ایيزې ادارې زما د معینیت یوه برخه وه، هغه وخت د امنیه قوماندانو او والیانو تر منځ جنجالونه کم و، ځکه والیان، د امنیې قوماندانان، ولسوالان او ښاروالان ټول له یو چتر لاندې د کورنیو چارو وزارت له خوا اداره کېدل. پدې توګه د دوی ترمنځ نسبتاً همغږي هم ښه وه. که شکایتونه به موجود هم و، د تصمیم ګیری مرجع یوه وه او مسایل به ژر حل کېدل. اکثره قوماندانانو، والیان او ولسوالان د ولایت او ولسوالیو د لومړي درجې مسوولینو په توګه منل؛ کله چې په ۲۰۰۷م کال کې سیمه ایيزه اداره (ارګانهای محل) ایجاد شوه، په ولایتونو او ولسوالیو کې د والیانو او امنیه قوماندانانو تر منځ کشمکشونه زیات شول؛ ځکه دوی ځانګړو ادارو ته ځواب ویونکي و. د یادونې وړ ده، چې دا تصمیم د کرزي صیب له لوري هغه وخت سم نه و؛ چې سیمه ایيزه اداره یې د کورنیو چارو له وزارته جلا کړه. په افغانستان کې د حکومتولۍ د خرابېدو یو مهم علت د سیمه ایيزې ادارې جوړول و؛ چې د پولیسو او اداري اصلاحاتو په نوم ریفورمونو د افغانستان اداري سیستم ګډوډ کړ؛ زاړه سیستمونه یې وران او نوې سیستمونه ناقص او هم په سمه توګه عملي نه شول. په حقیقت کې پولیس د قانون د تنفیذ مرجع او نیمه نظامي بڼه لري. دواړه د حکومتولۍ برخه ده باید د یوې اداري پورې یې تړاو درلودلې. زما په اند؛ خو چې دا دواړه ادارې بیا مدغم نشي او له یو چتر لاندې اداره نشي ـ؛ په افغانستان کې حکومتولي ښه

کېدای نه شي. په دې هکله مې يو څه وضاحت د کورنيو چارو وزارت يادښتونو کتاب کې هم ورکړی دی.

پورته حالاتو ته په کتو، ډېری قوماندانانو به د واليانو او ولسوالانو خبرو ته چندان غوږ نه نيوه او تل به واليانو او قوماندانانو له يو بل څخه شکايتونه او حتې د يو بل پرضد دسيسې جوړولې او اسناد به يې د يو بل د بدنامولو لپاره راټولول. په ولايت او ولسواليو کې ملي امنيت او امنيه قوماندانان د واليانو او ولسوالانو د ښي او چپ لاس قوتونه دي. که دوی له والي سره همغږي ونه اوسي؛ نو بيا خو والي د تنفيذ د قانون لپاره اجراييه قوه نه لري او طبيعي خبره ده، چې د دوی د اختلاف له وجهې واليان او قوماندانان ټول ناکامېږي او په پايله کې يې زيان ولسونو ته رسيږي.

په افغانستان کې درې ډوله واليان و: عادي ((Regular، VIP او VVIP. عادي هغه و، چې فقط پهلوان زنده خوش است چې د والي نوم پرې پروت و او خپلې شپې به يې سبا کولې. په کابل کې هم ورته وزارتونو چندان اهميت نه ورکاوه او د ولايت کارونه به مخکې نه تلل. VIP هغه واليان و چې په کابل کې يې نفوذ درلود، جمهور رئيس او وزيرانو يې خبرو او پلانونو ته غوږ نيوه او د قانون په چوکاټ کې يې کار کاوه. زه په دې دويمه کټګورۍ کې وم. VVIP هغه واليان و، چې د هېڅ قانون تابع نه و او په خپله خوښه يې کار او بندارونه کول. په تېرو شلو کلونو کې په ننګرهار کې دا هر ډول والي تېر شوی چې مخکې مې يادونه کړيده.

دغه پورته وضعيت په ولايتونو کې د واليانو او قوماندانانو د ټاکنې په تړاو په لږه موده کې پرله پسې ادلون بدلون ته زمينه مساعده کړې وه. په ادارو کې چې څومره زيات تغير او تبديل رامنځته کېږي، په هماغه کچه د بې ثباتۍ لامل ګرځي. په کابل کې تل د زياتره سياسيونو، زورواکانو، وکيلانو او مشرانو ټوله انرژي او کشمکشونه په تغير او تبديل وي. په اصلي لامل چې څنګه امنيت او حکومتولۍ ښه شي تمرکز نه کوي؛ هر څوک کوښښ کوي چې خپل نيالګي په ولايتونو، ولسواليو، حوزو او ناحيو کې د خپلو شخصي-ګټو د

خوندي کولو په خاطر ځای پر ځای کړي. په حقیقت کې تغیر او تبدیل د اداري د ښه والي لپاره نه، بلکې د محدودو اشخاصو د ګټو ساتلو لپاره رامنځته کېږي او همدې وضعیت د هېواد امنیت له بحران سره مخامخ کړی و/ دی. له بده مرغه په ولسونو او ادارو کې دا فرهنګ زیات حاکم دی، چې یو د بل پرضد دسیسه سازي او شخصیت وژنه وکړي؛ څو یو بل ناکام کړي. هغه کسانو چې زما پرضد تخریب کاوه، همېشه به مې دوی او ولسونو ته ویلې، چې د والي په ناکامولو کې د ولسونو خیر نشته؛ بلکې ټول کوښښ وکړئ، چې یو والي کامیاب کړئ.

که څه هم د ننګرهار امنیت زما له کاري لومړیتوبونو څخه و، خو په لومړی ورځ مې د امنیت په تړاو زیاتي خبرې ونه کړې؛ ځکه چارواکو تل زیاتې خبرې کړي او ډېرې وعدې یې ولسونو ته ورکړي او د خلکو توقعات یې لوړ کړي دي، خو وروسته هغه وعدې نه دي تر سره شوي او ولس له مایوسۍ سره مخ شوی او په نتیجه کې ولس په اداره او چارواکو زیات بې باوره شوی دی. تر یوه حده په ځان باوري وم؛ خو بیا هم د راتلونکې حالاتو وړاندوینه راته مشکله وه. په دې توګه مې په خپلو خبرو کې صرف دومره وویل: چې امنیت او د حکومتولۍ ښه کول زما له کاري لومړیتونو څخه دی او قانون سور چراغ دی، چې هر څوک به ورته ودریږي. امنیت بې له تحلیله، ښو پلانونو او د ادارو او ولسونو تر منځ د ښې همغږۍ پرته نه شي ښه کېدلی. د امکاناتو او محدودیتو په چوکاټ کې هر تصمیم باید وسنجول شي، مثبت او منفي اړخونه په نښه او بیا لومړیتوبه وټاکل شي. حکومتولي او جنګ مهار کول په چوټ اندازو فیصلو او ملکې باندې نشي کېدای، بلکې علمي او عملي تحلیل، ارزونه او پلانونه جوړول غواړي.

دا چې جنګ او حکومتولي تحلیل غواړي نو والي هم باید د خلکو، ادارو او ټولو همکارانو تر منځ بې پرې پاتې شي. الله تعالی انسان ته دوه غوږونه او یوه ژبه ورکړې؛ نو یو والي باید دوه چنده واوري او یو چند وغږیږي. زموږ په

هېواد اکثره خلک لس چنده غرېـږي او یـو چنـد اوري. والي او د هـرې ادارې مشر باید د خپلو ټولو همکارانو، ادارو او ولسونو مثبتو او منفي خبرو، معلوماتو، نظریاتو او ستونځو ته غوږ ونیسي. والي باید سمدستي د یو چا په خـبره او نظـر اقدام ونه کړي؛ ځکه د افواهاتو، معلومـاتو او اسـتخباراتو تـر مـنځ پرتلنـه کـول ستونځمن کار دی. هر معلومات او افواه تحلیلول غواړي؛ څو پریکړې د واقعي معلوماتو پر بنیاد تر سره شي. که والي د یو چا په خـبره لـه کـره معلومـات پرتـه عاجل تصمیم نیسي؛ نود پریکړو عواقب به یې خامخا ناسم او نیمګړي وي.

زما له راتګ دمخه د ننګرهار د نظامي شورا او ولایت ترمنځ همغږي نـه وه. د پخواني والي، حیات صیب د تبدیلۍ یـو علـت د نظـامي شـورا او پـه خاصـه توګه د ملی امنیت له ریاست سره عدم همغږي وه؛ چې یـو بـل یـې ملامتـول. د ولایت نه کابل کې د ننګرهـار د حویلیـو پـه هکلـه شـکایتونه زیـات و؛ چـې د دوی د کارونو خنډ ګرځي. د ننګرهار د امنیت او پراختیا لپاره کوم ستراتیژیک پلان شتون نه درلـود. د ولسـوالیو د سـاتنې او امنیـت د توسـعې لپـاره د قوتونـو ارزونه شوې نه وه. د عملیاتو او جنګ هدف د ولسونو ساتنه نـه؛ بلکـې یـوازې له دښمن سره مقابله وه. زیاتره وخت د عملیاتو په دوران کې هم فسـاد متصـور و؛ چې امنیتي ادارو د تېلو، مهماتو او نورو لګښتونو بیلونه او مصرفونه تېرول.

د ننګرهار د نظامي شورا له اکثره غړو سره مې په مستقیمه او یا غیر مسـتقیمه توګـه پخـوانۍ شـناخت او پېژنـدګلوي درلـوده. د ۲۰۱ قـول اردو قومانـدان، ډګرجنرال محمدزمان وزیري مې له پخوا پېژانده، له امنیته قوماندان تـورنجنرال غلام سنایي ستانکزي سره مې د کورنیو چارو وزارت له وختونو شناخت و او په هغـه وخـت کـې مـو د خاصـو پېښـو د څېړنـې د ادارې مرسـتیال تـاکلی و. د سرحدي قواو قوماندان برید جنرال محمد ایوب حسین خیل مې هم له ولایـت دمخه پېژانده. د عامه نظم د لوا قوماندان برید جنرال نصیر احمد ساپی چـې لـه کونړ و، په غیاب کې مو سره پېژندل. د څلورمې پلې لوا قومانـدان بریـد جـنرال کریم نیازی مې له پخوا نه پیژنـده؛ خـو دا چـې دریـواړه لـوا ګـانې د قـول اردو لاندې وې؛ نو په دوی د قول اردو قوماندان له خـوا څـار او کنـټرول اسـانه و. د

ملي امنیت رئیس نظرعلي خان مې هم دمخه نه و لیدلی او نه مې پېژنده. د دې ځو کسه دوستان او خپلوان او په خاصه توګه شاه ولي خان چې د ملي امنیت د رئیس له شناخته ګانو څخه و، زما د پوهنتون د دورې همصنفي و. هغه ورته زما په هکله ډېر څه ویلي و. کله چې د ننګرهار والي شوم، د ملي امنیت عمومي رئیس ستانکزی صیب چې زما نږدې ملګری و، راته یې وویل: چې د ننګرهار د ملي امنیت رئیس نظر علي خان ډېر تکړه سړی دی پېژنې یې او که نه؟ ما ورته وویل چې نه یې پېژنم. ستانکزي صیب ورته زنګ ووهه او ورته یې وویل: چې میاخیل صیب پیژني که نه؟ نظرعلي خان ورته وویل چې هو پېژنم یې، خو ستانکزي صیب ورته وویل چې نه سم یې نه پیژني، دی ته په همدې نظر ګوره لکه ماته چې ګورې او دی لکه زه. هماغه و چې له نظرعلي خان سره تر اخره پورې اختلاف د نظر پیدا نشو او په شریکه مو د ننګرهار د امنیت د تامین لپاره د یو بل حمایت کاوه.

په لومړۍ نظامي جلسه کې مې د امنیتي او دفاعي ادارو له مشرانو د ننګرهار د امنیتي وضعیت، تدابیرو او تهدیداتو په هکله ګزارش واورېد. متآسفانه په دغه غونډه کې راته معلومه شوه؛ چې یوازې د ملي امنیت رئیس د وضعیت په هکله ښه تحلیل لري او د نورو ادارو مشرانو واضح تحلیل او پلانونه نه درلودل. دا هم راته جوته شوه؛ چې د نظامي شورا د غړیو ترمنځ همغږي وجود نه لري. ملي امنیت په پولیسو، اردو او سرحدي قواو باندې اعتراضونه درلودل، چې پوره همکاري د ښار د امنیت په ساتلو او د ننګرهار په امنیتي پراختیا کې نه کوي. د نورو ادارو مشرانو هم کوښښ کاوه، چې د ملي امنیت د محلي پاڅون کوونکو حمایت له سوال لاندې راولي او هغوی په قاچاق کولو متهم کړي. دا شکایتونه او اتهامات به هرې ادارې د خپلو چینلونو له لارې جمهور رئیس او امنیت شورا ته هم رسول.

همدا علت و، چې په ننګرهار کې د نظامي شورا د نه همغږي له وجهې ستونځې ورځ تر بلې زیاتېدلې. بالاخره جمهور رئیس تصمیم ونېوه، چې زه نازړه ما ننګرهار ته د والي په توګه وټاکي.

دا چې په کابل کې مې له امنیتي ادارو او اکثره مشرانو سره نږدې اړیکې او د ننګرهار د نظامي‌شورا له اکثرو غړو سره بلدیتا درلوده، نو مو کولای شول، چې د نظامي شورا د غړو او ادارو تر منځ همغږي رامنځته کړم. دوی هم د والي په حیث او هم د سن وسال او پخوانیو دندو او تجربو په لرلو د مشرې د منلو تر څنګ ژمنه وکړه، چې په ګډه به سره کار کوو. دا چې د ننګرهار له ستونځو او جغرافیې سره مې یو څه اشنایي درلوده او همد اشان په نظامي برخه کې د کورنیو چارو د وزارت تجربه او څو لسیزې مو په جنګي ماحول کې تېرې کړې وې، د نظامي شورا په خبرو او پلانونو مو سر خلاصېده. کوښښ مې کاوه، چې د دوی تر منځ طرف واقع نشم او صرف د هغه چا نظر، طرحه او پلان تائید کړم، چې ګټور او عملي بڼه یې درلوده او د ننګرهار درد په دوا کېده. په دې اړه په لومړي سر کې له ډګرجنرال محمد زمان وزیري خاصه مننه کوم، چې همېشه به یې راته ویلې؛ چې ستا خبره په موږ بدې نه لږیږي او هره فیصله چې تا کوله موږ یې په سر سترګو منو. که په غونډو کې مو سره هر څومره ترخې ویلې؛ مګر بیرون به مو یو له بل سره همغږي لرله او د یو بل نهایت زیات احترام مو کاوه.

د ننګرهار د وضعیت په هکله د نظامي شورا د غړیو راپور زړه بوږنوونکی او د مایوسۍ وړ و. د ملي امنیت د ګزارش په اساس، د ننګرهار ختیځ پلوته د بټي کوټ، مهمند درې او د شینوار (غني خیل) ولسوالۍ تر تورخم پورې ټولې سیمې له جدي تهدید لاندې وې. د جلال اباد - تورخم په لاره به هره ورځ طالبانو په یو ځای نه یو ځای کې موټرې درولې او یا به یې کمینونه نیول. هر لوړ پوړي دولتي چارواکی به چې تورخم ته تله؛ نو خامخا به په یو ځای کې له کمین سره مخ کېده او باید تورخم ته له تګ دمخه یې جدي تدابیر نیولي وی. د لعل پورې ولسوالۍ یوازې لس سلنه د کونړ سیند جنوب پلوته د تورخم په

لوري د حکومت په لاس کې وه. نوره ټوله ولسوالي د چکنور او ګلداک د سیمې پورې له تېرو پنځلس کلونو راپدېخوا د افغاني او پاکستاني طالبانو TTP تر کنترول لاندې وه. چکنور د ټولو جنایي پېښو مرکز و.

د چپرهار او د شینوارو شپږګوني ولسوالیو (هسکه مېنه، نازیان، اچین، سپین غر، دور بابا او شینوار) کې د داعش او طالبانو موجودیت او تهدید شتون درلود. که څه هم د کوټ ولسوالي له لویو جنګونو وروسته امن وه؛ خو تګ او راتګ ورته ستونځمن و، ځکه شاوخوا ولسوالۍ نا امنه وې. روداتو ولسوالی ته هم د چپرهار د غلام ډاګ له لارې تګ او راتګ نه کېده. غلام ډاګ کې د طالبانو ګروپونه موجود و، د جلال ښار شپږمه ناحیه د علاقه غیر په نوم یادېدله، د داعش خراسان مرکز په دیوانه بابا او بندر سیمو کې و او هلته یې فعاله راډیو هم درلوده. د سره رود او خوګیاڼیو درې ګونې ولسوالیو (شیرزاد، خوګیاني، او پچیر او اګام) کې تر حصارکه پورې د طالبانو نفوذ زیات و. د شېرزادو او حصارک ولسوالیو ودانۍ له کلونو راهیسې د طالبانو له خوا محاصره وې. دواړو ولسوالیو ته د هوا له لارې اکمالات تر سره کېدل. د جلال اباد په ښار کې هم د هدفي وژنو، مقناطیسي- چسپکي بمونو، ځانمرګو او موټر بمونو پېښې او تهدیدات هره ورځ ممکن و، جنایي ګروپونه فعاله او هره ورځ به جنایي پېښې، غلاوې او اختطافونه تر سره کېدل.

د پاکستان تحریک طالبان ګروپونو (TTP) د لعل پورې او د ننګرهار په غربي ولسوالیو کې شتون درلود او په زیاتو مهمو اختطافونو او وژنو کې یې لاس درلود؛ ځکه د ډېرو لپاره دا اختطافونه د عاید منبع وه، د پاکستان ISI به ځینې مهمې هدفي وژنې او اختطافونه د پاکستاني طالبانو په وسیله تر سره کولې. پاکستاني طالبانو په سرحدي سیمو کې عشر-او زکات هم له ولسي- خلکو ټولوه او د سیمې ولسونه ورسره په تنګ و. د یادونې وړ ده، چې د تحریک طالبان پاکستان ګروپ د افغاني طالبانو او نورو تروریستي ډلو مجموعه وه، چې په ۲۰۰۷م کال کې اعلان د موجودیت وکړ. په وزیرستان کې یې بیت

الله محسود مشر و، خو دوی ملا محمد عمر خپل رهبر ګاڼه. په سوات کې په لومړي سر کې د شرعیت نفاذ محمدي ګروپ مشري مولانا صوفي محمد کوله او وروسته ملا فضل الله چې د صوفي محمد زوم و، د پاکستاني طالبانو مشري په غاړه واخیسته؛ د صوفي محمد ډله په دوه برخو وویشل شوه، چې یوه برخه یې د پاکستان د حکومت پرضد او بله برخه د پاکستان طرفداره ډله وه. پاکستان هغه ګروپونو ته، چې په افغانستان کې یې فعالیت کاوه، ښه طالبان او هغه ګروپونو ته، چې به یې د پاکستان حکومت پرضد فعالیت کاوه؛ بد طالبان ویل او کوښښ یې کاوه چې د امریکي د قواو په وسیله بد طالبان له منځه یوسي. همدا علت و، چې ملا فضل الله د کونړ په غرونو کې د امریکایي فوځونو د ډرون حملې په پایله کې ووژل شو.

تحریک طالبان پاکستان د سوات، دیر، باجوړ او مهمندو سیمو کې فعالیت درلود. د هغوی په ګروپونو کې د پاکتسان استخباراتي ادارو خپل کسان ځای پر ځای کړي و، چې د افغانستان حکومت د دوی ترمنځ توپیر نه شو کولای؛ دا چې له فرضي کرښې سره دا ډله نږدې اوسېده، له سیمه اییزو مشرانو او افغاني طالبانو سره یې اړیکي درلودې او کله به یې له افغاني طالبانو سره یو ځای په افغانستان کې عملیات کول، د طالبانو د نفوذ له سیمو لکه لعل پوره کې، چې د حکومت د کنترول لاندې نه وه، پاکستاني طالبانوځانګړي تشکیلات درلودل او هلته به اوسیدل. افغاني او پاکستاني ښو طالبانو ډلې ګروپونو به د پاکستان د استخباراتي شبکو په مرسته د ننګرهار او هم د افغانستان په نورو ښارونو کې ترورستي او جنایي پیښې تر سره کولې. په مهمو اختطافونو، وژنو او عملیاتو کې دوی به په شریکه پلانونه جوړول. کله چې د غوړکي سیمه ونیول شوه، ډېر مهم اسناد د افغانستان امنیتي قواو لاس ته ورغلل او دا معلومه شوه، چې دا سیمه د لشکر طیبه او نورو ترورستي ډلو مهمه قرارګاه

وه، چې په کابل کې هم دوی عملیات له دغه ځایونو نه پلان کول[27]. د انعکاس د تلویزیون مشر، انجینر زلمی هم د همدغه ډلې له خوا اختطاف شوی و؛ په ننګرهار کې د ناکامورا په مړینه کې هم همدغه ډلې لاس درلود چې د دواړو پېښو تفصیل وروسته یاد شویدی.

د ملي امنیت نظر دا و، که دوی غواړي، چې په افغانستان کې واوسېږي او دلته د دوی کورني ژوند وکړي، دوی باید د افغانستان قوانینو ته درناوی وکړي او که نه په مقابل کې دې علمیات وشي او وسلې دې ترې ټولې شي. تحریک طالبان پاکستان مرکزونه له لعل پورې نه نیولې د مهمندو او باجوړ ایجنسیو او هم د کونړ د غازي اباد ولسوالۍ په غرونو کې پراته و.

د ملي امنیت د ګزارش په اساس، د طالبانو نام نهاده والي د پیراغا په نوم چې اصلاً د هلمند و، شېرزادوولسوالۍ کې اوسیده، پیر اغا د طالبانو د سرې قطعې مسوول هم و او په همدې موخه طالبانو ننګرهار ته رالیږلې و، څو د پسرلي له راتګ سره په ننګرهار کې حملې زیاتې او د شېرزادو ولسوالۍ ونیسي.

د ملي پولیسو د اټکل په اساس، په ننګرهار کې د دښمن تعداد تقریبا پنځه زره کسانو ته رسیده. د امنیه قوماندان په قول، جنګ مافیایي حالت غوره کړی دی، د دولت په پیسو بیرته له دولت سره مخالفین جنګیږي، څو د جنګ مصارف پورته لاړ شي، قراردادیان هم په جنګ کې خوشاله دي، څو د اکمالاتو قراردادونه په لوړ نرخ تر لاسه کړي، په غرونو کې ځنګلونه او شوکانې د مخالفینو په لاس کې دي؛ محلي او امنیتي‌اداري او مخالفین د دغه فساد زیاتو برخو کې یو له بل سره تفاهم لري. د دوی د تخمین په اساس هره ورځ د

---

27 https://www.cidob.org/content/download/65003/1999170/file/65-82_THE+PAKISTAN+TALIBAN+MOVEMENT-+AN+APPRAISAL.pdf (اخري ځل دا ویبپاڼه ۱۶ فروري ۲۰۲۱م کال کې وکتل شوه)

۲-۱ میلیونه ډالرو پورې فساد په ادارو کې تـر سره کېږي. لـه گمرکـاتو نیـولې د مسـتوفیت، ښـاروالۍ او نـورو عایـداتي ادارو کـې دا لـوی فسـاد موجـود و. پـه ننگرهار کې ۳۷۷ د پولیسو امنیتي پوستې او مراکز شـتون لـري، چـې اکثـره یـې اساسي امکانات نه لري او اکمالات ورته مطابق د تشکیل نه رسیږي.

د امنیه قوماندان په قـول، د کورنیـو چـارو وزارت د امـن عـامې تقریبـا درې سـوه کسـیزه قطعـه چـې پـه جـلال ابـاد کـې موجـود ده، اعاشـه او امکانـات د قوماندانۍ نه اخلي، خو راپور او گزارش کابل ته ورکوي. دا قطعـه د قومانـدانۍ له قوماندې لاندې نه ده او په خپل سر اجراات کوي. د پولیسو په رینجـرو کـې اختطافونه تر سره کېږي، د محبس قوماندان هم امنیه قومندان ته مسؤل نـه دی او کابل ته راپور ورکوي. علاوه له دې د پولیسـو د شرقـي زون ۹۹۹ کمانـدویي لوا هم پـه خپـل سر عملیـات تـر سره کـوي او لـه قومانـدانۍ سره یـې عملیـات همغږي نه دي. د پولیسو خاصه قطعه چې له ثمرخیلو سره نږدې د سرخ دیـوال په سیمه کې پرته ده، د قوماندانۍ د پروگرامونو په چوکات کې عملیات نه کوي او ډېری عملیات په خپل سر تر سره کوي او دا ټول قطعات له کابـل نـه حمایـه کېږي، کله چې د شوکانۍ لارۍ له شېرزادو حرکـت کـوي، تـر تـورخم پـورې ورته د ټولو ادارو استازي په لاره کې ولاړ وي او خپل سهم تـرې پـه هرچیـک پاینټ کې اخلي. د بټۍ کوټ د باریکاو، دورنټې او نـورو چیـک پـاینټونو کـې هرې امنیتي ادارې خپل کسان کېنولي؛ له موټرو او لاریو اخازي کوي.

د ملي اردو، سرحدي قواو او عامه نظم د لواگانو تر منځ هم همغـږي نـه وه، که په یوه سیمه کې به د دوی قواوې پرتې وې، د ملي پولیسو، محلي پولیسـو او پاڅون کوونکو حمایت به یې په سـمه توگـه نـه کـاوه. اردو بـه هـم عملیـات د خپلو پلانونو په اساس تر سره کول او د دوی لپاره عملیات هم د فساد یوه لویـه منبع وه، ځکه د عملیاتو په نوم به یې مصارف تېرول. د فساد کچه تـر دې حـده وه، چې وروسته پتـه ولگېـده، چـې د ۲۰۱ سیلاب قـول اردو پـه چوکـاټ کـې تقریبا ۱۷ میلیونه لیتره تېل غلا شوی و. د دغه قضیې دوسیه څارنوالۍ ته ولېږل شوه، چې لا تر اوسه حل شوې نه ده. سربېره پر دې د سرحدي قواو په هـاموي

او د ملي اردو په موټرو کې مخدره مواد او سلاوې ونیول شوې، چې قاچاق کېدې او د کندک او ټولیو د قوماندانانو په سطحه مجرمین عدلي او قضایې ارګانونو ته معرفي شول. د چرسو قاچاق له پکتیا د ازرې ولسوالۍ او له هغه ځای د حصارک، شېرزادو، زاوې او قیلغو پرلاره؛ کله په عمومي سرک او کله به د پچیر و اګام له لارې د دور بابا د ماشین ناو پورې ترسره کېده او په واپسۍ کې یې د افغانستان داخل کې مخالفینو ته سلاوې قاچاق کولې. په دغه قاچاق او بزنس کې له ولسوالیو نیولې تر اخري سرحده پورې د ټولو ولسوالیو او په لارو کې د ټولو ملکي او نظامي ادارو ګڼ شمېر پرسونل، ځینې وکیلانو، محلي ملکانو، مشرانو او لوړو پوړو چارواکو برخه درلوده. په دې توګه ملکي او امنیتي ادارې د امنیت ښه کولو ته متوجه نه وې؛ بلکې خپلو شخصي ګټو لپاره یې کار کاوه. زما په یو نیم کال موده کې د کندکونو او ټولیو قوماندانانو، د څو ولسوالیو د پولیسو قوماندانان، جنایي کارمندان او یو شمېر نور کسان له دندو ګوښه او یا څارنوالۍ ته معرفي شول؛ چې د فساد کچه ور سره ورکه شوې نه وه؛ مګر په پوره اندازه راټیټه شوې وه.

د پورته وضعیت تحلیل او د امنیتي ادارو تر منځ د اختلاف او نه همغږۍ ته په کتو، جدي تصامیمو ته اړتیا وه. د قواو د کمبود مسئله مطرح نه وه؛ دوی ګډ پلان او عملیات نه درلودل، د ولسونو د امنیت په عوض دوی خپل امنیت او ګټو ته متوجه و، د اشخاصو په تغیر او تبدیل هم څه نه کېدل، ځکه له بدو نه بدتر کسان تعینېدل او نه دا زمینه برابره وه، چې ټول له یوې مخې تبدیل شي؛ له بده مرغه فساد په فرهنګ بدل شوی و او د فرهنګ بدلیدل یوازې د اشخاصو په تغیر او تبدیل ممکن نه و.

یو مشهور انګلیسي- متل دی، چې وایي " کامیابي زیات پلرونه لري او ناکامې همیشه یتیمه وې " دا چې امنیتي وضعیت د اندیښنې وړ و، نو امنیتي ادارو مشرانو له بحثونو مالومیده، چې دوی په یو بل پړه اچوله او تورونه یې لګول. کله چې د همکارۍ او ګډ مسؤلیت روحیه مړه وي، مسؤلیت څوک نه

اخلي او پړه په يو بل اچوي. هر چا له خپل ځان او ادارې په حقه او ناحقه دفاع کوله. په لومړۍ امنيتي غونډه کې راته جوته شوه؛ چې د همکاري روحيه مړه ده.

زما له ولايت د مخه په اکثرو امنيتی جلسو کې د ولايت د دفتر رئيس، د مطبوعاتو مسؤل او د ولايتي شورا استازو هم ګډون درلود. په نظامي شورا کې د دوی د ګډون لوی تاوان دا و، چې د غونډې راز به نه ساتل کېده. د نظامي شورا اختلاف به په ادارو او هم په ولسونو کې انعکاس پيدا کاوه؛ چې ګونډې د امنيتي ادارو ترمنځ همغږي نشته او ټول د شخصي ګټو په خاطر يو له بل سره اختلاف لري.

د نظامي شورا د لومړۍ غونډې له راپور وروسته مې تصميم مې ونيوه، چې په امنيتي جلسه کې بايد يوازې د امنيتي ادارو مشران ګډون وکړي. د ولايت د دفتر رئيس، د مطبوعاتو مسوول، د امنيتي ادارو ياوران او سکرتران او د ولايتي شورا غړي بايد ګډون ونه کړي او دوی بايد د نظامي د جلسې ګډوانوال نه وي؛ ځکه په قصدي او يا غير قصدي توګه د جلسو محرميت نه ساتل کېده. د نظامي شورا د لومړنۍ جلسې له ګزارش نه له هاها ډلې نيولې د اکثره ادارو کارکوونکي، وکيلان او د جلال اباد د اتحاديو مشران خبر و؛ هرې ډلې په ادارو کې خپل چوکرګان او اشخاص درلودل او د هغوی په ذريعه يې د نظامي شورا او نورو اداري پرېکړو معلومات تر لاسه کول. هغه فيصلې چې به د دوی په ګټه نه وې، د هغوی په تطبيق کې يې تل ستونځه جوړوله. بهترينه طريقه همدا وه، چې دوی ته په اکثرو مجالسو کې اجازه ورکړل شوي نه وای.

د همدغه جلسو د معلوماتو په اساس به د ولايتي شورا ځينو غړيو په ادارو اعتراضونه کول، چې فساد شتون لري او يا ولايتي اداره بيکفايته ده. حال دا چې همدا کسان پخپله په فساد کې شريک و او په يو ډول نه يوه ډول به يې د دغه اتهاماتو په واردولو سره په ولايتي اداره فشار راوړه او د ځانونو لپاره به يې د فساد کولو زمينه او طريقه برابروله. زما او د ولايتي شورا د رهبرۍ ترمنځ د اختلاف يوه مهمه موضوع همدا وه، چې ولايتي شورا غړيو ته مې په امنيتي

جلسو کې د ګډون اجازه تر اخره پورې ور نه کړه؛ ولایتي شورا په کراتو کراتـو سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداري او کابل کې مشرانو تـه شـکایتونه وکـړل او حتی له کابل یې مکتوبونه راوړل؛ چې ولایتي شورا ته د قانون او طرزالعمل پـه اساس په نظامي شورا کې اجازه ورکړل شي، خو د ننګرهـار د امنیـت پـه خـاطر مې د دوی ګډون په نظامي شورا خیر نه ګاڼه او دوی ته مې اجازه ورنه کړه. مـا ورته وویل: دا سمه ده، چې د قانون او طرزالعمـل پـه اسـاس تاسـې بایـد برخـه ولرئ؛ خو دا چې ستاسي ټاکنې ځنډیدلې او تاسې هم هر کال پـه خپلـو منځـو کې د مدیره هئیت لپاره ټاکنې نه دي کړي، نو په حقیقت کې تاسي هم حقوقي او قانوني حیثیت نه لرئ. د قانون په اساس، ولایتي شورا د ټاکنو وخت هم تېـر شوی دی او تاسي په غیر قانوني توګه منتخبې چوکۍ نیولي دي. مـا بـه ورتـه ویل، چې داسې نشي کېدای، چې د قـانون د هغـه مـادې تطبیـق غـواړئ، چـې ستاسي په ګټه وي او له هغه مادو سرغړونه کوئ، چې ستاسي په تاوان وي.

د ولایتي شورا غړیو تـه مـې پـه لـومړنې ناسـته کـې وویـل: کـه د ولایـت د پریکړو او زموږ ترمنځ اخـتلاف راپیـدا کېـده؛ نـو ښـه بـه دا وي، چـې تـاسي د اساسي قانون د څـار کمېسـون تـه شـکایت وکـړئ. هغـوی بـه بیـا د ولایـت او ولایتي شورا ترمنځ قضاوت وکړي؛ خو دلته باید یو بل له غور (جـاغور) څخـه ونه نیسو؛ په تاسف سره، چې د ولایـت او د ولایتـي شـورا د رهـبرۍ تـرمنځ تـر اخره همغږي ونه شوه او دا اختلاف تر دې حده ورسېد، چـې د ولایتـي شـورا ځینو غړو په ما تهمتونه ولګول، چې زه داعش تقویه کوم؛ نو ځکه دوی تـه پـه نظامي شورا کې اجازه نـه ورکـوم. د جمهـور رئـیس کـرزي پـه شـمول اکثره د حکومت مخالفینو او ګاونډي هېوادونـو دا تورونـه لـرول، چـې امریکـا داعـش تقویه کوي. دوی هم دا تور لـروه چـې زمـا کـورنۍ پـه امریکـا کـې ده او یـا د متحـده ایـالاتو لـه سـولې انسـتیتوت سره مـې ډېـر کلونـه کـار کـړی دی؛ نـو امریکایانو زه ننګرهار ته په دې خاطر رالېږلی یم، چې داعش تقویه کړم. حـال دا چې زه امریکایانو نه؛ بلکې جمهور رئیس غنـي ټـاکلې وم او د امریکـا لپـاره

هم زما ټاکل حیرانوونکي و؛ ځکه چې په کابل کې راته د امریکې شارژدافیرې وویل؛ چې دا ستا تصمیم دی؛ ته چې ننګرهار کې د کومې ډلې پورې تړاو نه لرې؛ نو څنګه به هلته کار وکړې؛ په پایله کې د دوی ټول تهمتونه غلط ثابت شول، په ننګرهار کې د داعش مرکرونه له منځه یوړل شول او امنیتي پراختیا رامنځته شوه. په دې بحث پکار نه دی چې ځینو د ولایتي شورا غړو د امریکا، هند، پاکستان او ایران سره روابط درلود او دهغوي پروژې یې غوښتل چې په ننګرهار کې عملي کړي.

دا چې د جلال اباد ښار نظم په امنیت مستقیم تاثیر درلود، د ښاري نظم په کمېسون کې هم د ولایتي شورا د ځینو غړو دلچسپي ډېره وه، دوی ته مې اجازه ورکړه چې د ښاري نظم په کمېسون کې برخه واخلي؛ خو وروسته راته پته ولږېده، چې ځینې یې په هڅو کې شریک او برخه یې درلوده. یو څو کسه د جلال اباد ښار کې د ډنډه مارانو په نوم شهرت درلود، چې دوی بیا خپل نفر درلودل او په هره میاشت کې به یې تقریبا د پنځه دیرش لکه افغانیو پورې تاجایي له پرچون فروشانو، لاسي ګاډو او تخت فروشانو نه راټولوله. یو ډنډه مار هره میاشت دومره پیسې په یوازې ځان کې هېڅلکه نه شي خوړلی، بلکې په دغه پیسو کې له ښاروالې او پولیسو نیولې د ولایتي شورا ځینو غړیو او زورواکانو سهم معلوم و. د ننګرهار د اکثرو زورواکانو د حویلیو وچه او تازه میوه، سبزي او غوښه به د همدغه ډنډه مارانو له خوا تهیه کېدله. په دې اساس، د ډنډه مارانو، د موټرو او اصنافو د اتحادیو غړیو به هر وخت کوښښ کاوه، چې د ښاري کمېسون له پرېکړو خبر شي او بیا د هغه پریکړو په مقابل کې چې د دوی په تاوان وې، ستونځې جوړې کړي. د دې لپاره چې د ډنډه مارانو او د هڅو د منشیانو قلنګونه کم نشي، دوی به په غیرې مستقیم ډول د پرېکړو د تطبیق د مخنیوي لپاره یو شمېر کسان د ولایت د پریکړو په وړاندې د مظاهرو په توګه راپارول. د ولسي ستونځو په نوم به یې د ولایتي شورا په انګړ کې د ولایت پرضد غونډې او رسنیز کنفرانسونه ورکول، له ما دمخه دا دود و چې دوی د ادارو رئیسان په مستقیمه توګه جلبول او یا به ریاستونو ته د نظارت په

نوم ورتلل؛ څو په هغوی د ولسونو د غوښتنې په نوم فشار راوړي او خپل اهداف تر سره کړي. ټول رئيسان مې منع کړل او ورته مې وويل: که ولایتي شورا تاسي غواړي، باید د ولایت له طریقه مو وغواړي. که ولایت لازمه وګڼله؛ نو تاسي به ورشئ او کنه څه اړتیا نشته. د ښاري کمپسون، نظامي شورا او یا د ولایت کومې پرېکړې به چې د دوی په ګټه نه وې، یو څو وکیلان به سره یو ځای شول او ولایت ته به راغلل؛ څو په ما فشار راوړي، چې د خپلو پرېکړو تېر شم. وکیلانو به تل ځانونه بیطرفه ښودل چې دوی یوازې غواړي د ولسونو اواز او ستونځې شریک کړي؛ خو واقعیت داسې نه و او د ولسونو اواز او ستونځې ما له دوی ښه اورېدلې.

د نظامي شورا له غړیو مې غوښتنه وکړه، چې د وضعیت د تحلیل په اساس، باید موږ یو کلن عملي پلان جوړ کړو او په دغه پلان کې باید د هر چا دنده واضحه وي؛ څو په یو بل پړه وانه اچول شي او راتلونکي جلسې ته باید هر څوک خپله طرحه راوړي. د یادونې وړ ده، چې نظامې شورا په اوونۍ کې یو ځل او په مهمو حالاتو کې مو بیا هر وخت دابروله. ما دوی ته وویل چې د ولایت د لومړۍ درجې مسوول په توګه د ټولو تصامیمومسؤلیت زه په غاړه اخلم او د کامیابیو کریدیت تاسې ته درکوم.

متاسفانه په بله امنیتي غونډه کې بیا هم په امنیتي پلان بحث ونه شو او د جلال اباد په ښار کې هدفي وژنو زموږ کارونه د سوال لاندې راوستل. هر پېښه به چې په ننګرهار کې کېدله، دهاها ډلې او د هغه کسانو او چارواکو چې ګټې په خطر کې وې د خپلو ګروپونو له لارې به په ټولنیزو رسنیو کې شعارونه ورکول، چې په دې ټولو ناامنیو کې د ننګرهار حویلۍ لاس لري. اما امنیتي ادارو تر اخره پورې داسې شواهد ماته رانه کړل، چې ګوندې حویلۍ دې په چاودنو، ځانمرګو او تروریستي حملو کې لاس ولري. البته په جنایي او اقتصادي مسایلو کې د حویلیو ځینو کسانو، یا د هغوی نږدې خپلوانو او پلویانو، چې د هغوی له نومونو او نفوذ استفاده کوله، لاس درلود، هغوی هم دا

کارونه په ډېره ماهرانه توګه ترسره کول، که څوک به ونېول شو، داسې قانوني شواهد او ثبوت به ور سره نه و، چې په محکمه کې په هغې استدلال وکولای شي.

وړاندې مې هم یادونه وکړه، چې یو شمېر کسانو د امنیتي ادارو تر منځ اختلافاتو او ګډوډۍ کې خپل کبان نیول او کوښښ یې کاوه، چې امنیتي ادارې د یو بل پر ضد استعمال کړي او په خپلمنځي جنګ یې واچوي او یا امنیتي ادارې له والي سره په مقابله کې راولي، څو والي مجبور شي، چې د امنیتي ادارو ضد منفي څرګندونې په مجالسو، محافلو او له ولسونو سره په ناستو کې وکړي. د ولایت په لومړیو ورځو کې راته ډېرو وکیلانو، د ولایتي شورا غړیو، ژورنالستانو، مدني فعالانو، مشرانو، علماو او نورډې دوستانو وویل چې ته ولې د امنیتي او حتی نورو ادارو د نیمګړتیاو مسؤلیت په خپله اخلې؟ ټولو ته زما ځواب همدا و، چې زه د ولایت د ټولو نیمګړتیاو مسؤلیت په غاړه اخلم او هېڅکله د ولایت د نیمګړتیاوو مسؤلیت د نورو په غاړه نه اچوم، ځکه د رهبرۍ او مدیریت د علم تقاضا همدا ده، چې یو مشر باید د مسؤلیت اخیستلو ونه ویرېږي. هو! په مقابل کې به مې د لاسته راړونو کریډیت خپلو همکارانو او د ادارو مسؤلینو ته ورکاوه. دا په دې معنی نه وه، چې ما د ادارو په نیمګړتیاوو سترګې پټولې، بلکې نه مې غوښتل چې ادارې او د ادارو مشران سپک کړم. له ولایت نه نیولې د ننګرهار په هره اداره کې ستونځې او نیمګړتیاوې وې؛ خو کوښښ مې کاوه، چې د ادارو له مشرانو سره ځانته بحثونه ولرم او هغوی خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړم. که زه د هر څومره فشار لاندې اوسم، په خپلو خبرو کې توهین امیزه الفاظ نه استعمالوم او ډېر کم وخت زما د خبرو لهجه تېزه وي، دا عادت هم نه لرم، چې د ادارې یو مشر د نورو په مخ کې سپک کړم. که د ادارو مشران د خلکو په منځ کې سپک شي، نو بیا دا ممکنه نه ده، چې د حکومت، ولایت او هغه ادارو حیثیت او وقار وساتل شي. د ولایت حیثیت د ادارو د حیثیت له ښه کېدو سره مستقیم تړاو لري.

جمهو رئیس او د مرکز مشرانو ته مې د کارپه ټوله دوره کې هڅکله د ننګرهار د وکیلانو او زورواکانو له لاسه شکایت ونه کړ، چې ګوندې دوی ما کار ته نه پرېږدي او نه مې د خپلو نیمګړتیاوو پړه په نورو اچوله. له هرچا سره مې که خبرې ښکته پورته شوي دي، مخامخ مې ورته خبره کړې ده. له ننګرهاره بیرون مې د دوی او هم د ننګرهار د خلکو د ملاتړ او د ښو یادونه کړې ده، هېڅکله مې یو کس د بل په مقابل کې او یا یو قوم او ډله د بلې ډلې او قوم په مقابل کې نه استعمالوله. همدا عمده علت و، چې په ننګرهار کې مو د اعتماد جوړونې فضا رامنځته کړه، د ولس اعتماد مو تر لاسه کړ او د دغه اعتماد جوړونې په اساس مو وکړای شو، چې په ننګرهار کې تر یوه بریده مثبت بدلونونه رامنځته کړو.

د ولایت تر اخرې ورځې ما له همدې پالیسۍ کار واخیست او ښه پایله یې هم ورکړه. د همدې پالیسۍ په اساس د ادارو تر منځ همغږي رامنځته او د ادارو مشرانو او مسوولینو په اخلاص سره تر خپله وسه کار کاوه. د یادونې وړ ده، چې هېڅ اداره او چارواکی نشي کولای، چې په ټولو برخو کې سل په سله بریالی ووسي، بلکې هرڅوک مشکلات او نیمګړتیاوې لري او زما کوښښ همدا و، چې نیمګړتیاوو لپاره د حل لارې پیدا کړو، نه دا چې ملامتي په یو بل واچوو، که یو څوک د چا په کارونو قضاوت کوي، نو باید د ښوونځي د نمرو فرموله په نظر کې ونیسي؛ سل په سله نومرې اخستل اسانه نه دي، خو که کوم زده کوونکي د ۷۰-۹۰ سلنې پورې نومرې اخلي، د هغه زده کوونکي ارزونه ښه وي او په خپلو درسونو کې کامیاب وي. هو که له اویا سلنې کمې نومرې اخلي، نو بیا یې نومرې د ستایلو نه دي او که د زده کوونکي نمرې له پنځوس سلنې کمیږي؛ هغه وخت بیا زده کوونکی ناکام شمېرل کیږي.

که څه هم د ننګرهار یو شمېر ولسوالیو ته مې د جهاد او هجرت په وختونو کې او هم په دې وروستیو کلونو کې سفرونه کړې و، خو بیا مې هم د ولایت له دندې دمخه د ننګرهار شل سلنه جغرافیه په سمه توګه نه پیژندله. د ولایت په

وخت کې چې کله د ننګرهار زیادتره سیمو کې د حکومت نفوذ ورځ تر بلې پراخېده او ولسوالیو ته مې سفرونه پیل کړل، زه هم حیران شوم، چې څنګه مو په دې لویه او غرنیزه جغرافیه کې د حکومت د حاکمیت ساحه پراخه کړې شوه. کله چې له ولایت نه تلم، د حصارک نه په غیرد ننګرهار یوویشت ولسوالیو ته دولتي او غیر دولتي کسانو شپه او ورځ تګ او راتګ کولای شو. دا په دې معنی نه وه، چې په ځینو لرو پرتو سیمو کې کله ډزو ډوز نه کېده، خو هغه وېره، چې له ولسونو او په خاصه توګه دولتي مامورینو، سوداګرو او تعلیمیافته کسانو سره، چې د جلال اباد شپږمې ناحیې ته به یې د تګ پرمهال درلوده راکمه شوه او په ډاډه زړه به یې سفرونه کول. د پچیر او اګام، سیکارام، د مملي باغ او د هسکې مېنې مشاعرې، د بتې کوټ د مالتو او د لعل پورې د ماهیانو خوړولو بنداړونه بیا تازه شول، د کامې شیریخ خوړل او د دره نور چکرې چې زما له راتګ دمخه هم عام وې، لا تقویه شوې. زیاتره به مې د نورو سیمو مېلمنو ته د شپې لخوا د کامې شیریخ خوړلو لپاره چکر ورکاوه.

د ننګرهار له نظامي شورا سره د ناستې وروسته مو بحث په دوه ټکو و. یو دا که یونیفورمونه مو سره جلا دي خو ټول د یو نظام لپاره کار کوو او باید په خپلو منځو کې همغږي ولرو. دویم دا چې د عملیاتو موخه باید د ولسونو حمایت او امنیتي توسعه وي. عملیات یوازې د عملیاتو په خاطر نه وي. د هر عملیاتو لپاره موږ باید اهداف وټاکو او د ننګرهار وضعیت او د دښمن د تحرکاتو تحلیل په سیمه کې ولرو.

دا چې موږ پراخه امنیتي امکانات او پرسونل نه درلود، باید له کمو امکاناتو مو زیات او مؤثره کار اخیستی وای. په همدې فرموله مو دوه درې میاشتې کار وکړ او د ټولو په مشوره مو دوه ځانګړې شپږ میاشتني پلانونه جوړکړل. په عمومي امنیت او پراختیا سربېره، په امنیتي پلان کې د نارنج ګل د مشاعرې او د تولیداتو او صنایعو د نندارتون نه نیولې، د امنیتي قواو د حمایت ملي ورځ، د بیرغ د ملي ورځې او د استقلال سلمې کالیزې نمانځل، د جمهوري ریاست ټاکنې، د سولې د مشورتي لویې جرګې لپاره د ټاکنو تدابیر، د جلال اباد ښار

امنیت تامین او د اخترونو د لمونځونو په شمول ټول امنیتي تدابیر پکې شامل و. د دغه مراسمو او ورځو امنیتي تدابیر په عملیاتو او نورو امنیتي پروګرامونو باندې مستقیم تاثیر درلود، ځکه زیاتې قواوې په دې مراسمو او فعالیتونو مصروفه کېدلې. سربېره پر دې هره ورځ په ننګرهار کې زیاتې غونډې، د هئیتونو تګ او راتګ، ودونه او جنازې هم وې او د دې ټولو د امنیت ساتلو لپاره هره ورځ پلان جوړونې ته اړتیا وه.

## د تورخم ستونځه

د نظامي شورا د تحلیل په اساس مو باید د طالبانو، داعش او نورو تروریستي او جنایي ډلو مالي منابع وچې کړي وی؛ ځکه جنګ په امکاناتو کېږي اوځو چې دوی مالي امکانات ولري، تر هغې به جنګ دوام پیدا کوي. په همدې ملحوظ مو د ۲۰۱۹م کال د فبروري په ۲۲مه نېټه، مهمندرې، دوربابا د ګوړوکو سیمې او تورخم ته سفر وکړل، چې حالات له نږدې وګورو. د دورباباو او مهمندرې ولسونه په وېره کې و، چې د پسرلي په راتګ سره داعش دا سیمې بېرته نیسي. په تورخم کې لویه ګډوډي روانه وه، چې له پنځه زرو زیاتې لارۍ (ټرکونه) ولاړې وې او د تورخم له بندر د تېرېدو نوبت ورته نه رسیده. د تورخم کمیساري، ګمرک، ترانسپورت، قومي شوراګانو او د ترانسپورت اتحادیو او د زورواکانو استازو په غیر قانوني توګه له هرې لارۍ د پنځ ویشت زرو نیولې تر دېرش زره افغانیو پورې اخیستلې او دوی به په خپلو منځو کې ویشلې. که د ورځې به پنځه سوه لارې تېرېدلې، نو په اوسط ډول هره شپه د پنځلس میلونو افغانیو په شاوخوا کې فساد تر سره کېده. علاوه له دې نه له مسافرینو او re-export یا بیا صادراتي مالونو نه پاکستان ته د قاچاق په توګه د تیریدلو نه جلا حق اخستل کېده. لکه مخکې مې چې یادونه کړېده، په دغه فساد کې د هر چا سهم معلوم و. کله چې تورخم ته ورسېدو، د همدغه ظلم له امله تجارانو او د لاریو مالکینو اعتصاب کړې و، دا ګډوډي له تېرو څو

کلونو راهسي روانه وه. د کابل پورې د حکومتي مامورینو، امنیتي ادارو، ځینو منتخبو استازو، زورواکانو، په تورخم کې د قومي شوراګانو اوغیر قانوني ترانسپورتي اتحادیو ساعت تېر و. د یادونې وړ ده، چې د ګټو په خاطر به د تورخم د ګمرګ، ترانسپورت، ملي امنیت او کمیسارۍ ټول مشران او حتی ټیټ رتبه مامورین هم له کابل نه ټاکل کېدل. د تورخم کمیساري د ننګرهار د امنیه قوماندانۍ لاندې نه وه او راسآ یې د کورنیو چارو وزارت ته راپور ورکاوه.

له تجارانو سره وغږېدم او ورته ومې وویل: چې زه نوی راغلی یم، تاسي ماته وخت راکړئ او که دا مشکل مې حل نشو کړای، بیا به زه هم له تاسي سره یو ځای اعتصاب یا پرلت وکړم. د هغوی دې هم کور ودان وي چې لاره یې خوشې کړه او اعتصاب یې ختم کړ؛ د تورخم لس بستریز صحي کلینک چې کار یې تکمیل شوې و، په واپسۍ کې مو پرانیست. همداشان د دور بابا د ګوړوکو په سیمه کې او د مهمندرې په ولسوالۍ کې د دوه نوو کلینکونو د جوړولو د تهداب ډبره د عامې روغتیا له رئیس ډاکتر نجیب الله کاموال سره یوځای کېښوده. د ګوړو په سیمه کې پخوا په یوې مظاهره کې د ځانمرګي برید له امله ۸۴ کسه محلي اوسیدونکي شهیدان او ۲۱٦ کسه زخمیان شوي و، د دغه شیهدانو قبرونه په یوه ځای کې و او په لاره کې مو ورته دعاء وکړه.

پر لاره وم، چې د کورنیو چارو ارشد معین، جنرال خوشال سادات ته مې زنګ ووهه، چې د تورخم وضعیت خراب دی او کمیسار باید تبدیل شي. یو ښه کس هلته مقرر کړئ، ځکه که کمیسار همکاري ونه کړي، نو موږ بیا نشو کولای، چې نورې ادارې کنټرول کړی شو. جنرال سادات وعده وکړه، چې ډېر ژر به یو نوې کس د کمیسار په توګه راولیږي. دوه ورځې وروسته په تورخم کې د ښاروالۍ د جوازونو مدیر سید رحمن او د املاکو مدیر شیرزاده چا د شپې له خوا شهیدان کړل، خو د تورخم کمیسار مو د سبا سهار تر یوولس بجو پورې پیدا نشو کړای. بالاخره د تورخم له ښاروالۍ مو یو کس کمیسارۍ ته ولیږه، چې وګوري کمیسار خو چا وژلی نه دی. کمیسار، چې ډېر چوتار انسان و، کېدای شي، چې شپه یې له لاریو په اخازي تېره کړې وه، کرارې خپل

خوبونه کول، امنیتي معین ته مې دا قصه وکړه، نو هغه سمدستي قومانداني ته امر وکړ، چې کمیسار او معاون برطرف او تحت الحفظ بېې کابل ته راولیږي. کله چې دواړه کابل ته د تحقیق لپاره ولیږل شول، درې ورځې وروسته دواړه بېرته تورخم ته د کورنیو چارو وزارت د سرحدي رئیس له خوا ولېږل شول او هلته ورته بیا ګلان په غاړه کې واچول شول او ټولو ته یې ویلې، چې د والي زور په ما نه رسیږي او څوک مې بدلولی نه شي. وګورئ مافیایي کړې څومره ژورې ریښې لرلې؛ له کورنیو چارو وزیر او امنیتي معین سره مې بیا تماس ونیوه، چې که داسې وي، بیا یې زه جمهور رئیس ته وایم، چې تورخم د ننګرهار ولایت پورې هېڅ تړاو نه لري او د کورنیو چارو وزارت دې له هغه ځای کنترول وکړي. جنرال خوشال سادات راته وویل: چې دا خو هېڅ د منلو نه ده او راته یې وویل، چې ډاډه یې، چې هماغه کمېسار بیا درغلی دی؟ ما ورته وویل چې هو سل په سلو کې متیقین یم. په انګلیسي ژبه یې راته مسیج پرېښود او ویلي و چې It is unbelieveable یعنې دا بیخي د منلو وړ نه ده. هماغه و، چې کمیسار یې بیا تبدیل او جنایي تحقیقاتو ته معرفي کړ او بل نوې کمیسار د نجیب الله ساپي په نوم یې راولیږه.

نوې کمیسار ته مې وویل چې ته به د هېچا نه منې او ټولې اتحادیې او قومي شوراګانې لغوه دي او د موټرو تنظیم مسؤلیت ستا په غاړه دی. هماغه و، چې په یوه اوونۍ کې ټولې موټرې خلاصې شوې او د لاریو کرایه له پېښوره، جلال اباد ته له پنځه اویا زره افغانیو؛ پنځه ویشت زره افغانیو ته راټیټه شوه او د خوارکي توکو نرخونه هم تقریبا د ۱۰-۱۵ سلنه پورې ښکته راغلل. په لومړیو دوه درې ورځو کې راته ډېرو وویل، چې دا هېڅ امکان نه لري او هسې ځان مه بدناموه. د تورخم د قومي شوراګانو، دوکاندارانو او ترانسپورت اتحادیو غړو ډېر منفي تبلیغات پیل کړل، چې کمیسار پیسې اخلي خو دا ممکنه نه وه، ځکه هره شپه کمیسار د فیس ټایم له لارې په ژوندۍ بڼه د لاریو د تګ راپور راکوه او ترڅو به چې د تورخم دروازه د شپې په لس بجو تړل کېده، ما به د لاریو

تګ په ژوندي بڼه کاته. هره شپه به د ۶۰۰-۷۰۰ پورې لارۍ له فرضي کرښې ها خوا تېرېدې، کله مې چې دويم ځل تورخم ته سفر وکړ، په غير مستقيمه توګه مې د لاريو له کلينرانو او مالکينو پوښتنه وکړه، چې څوک خو به درنه پيسې نه اخلي؟ اکثرو وويل: چې نه؛ خو يو ډريور راته وويل، چې کله کله په يوه پوسته کې رانه يو تن، چې هېڅ رسمي دنده يې نه درلوده؛ پينځه سوه کلدارې اخيستلې. ما ورته وويل، چې تاسې ورته ولې پيسې ورکوي؟ که بيا موهغه کس وليد؛ پوليسو ته يې په لاس ورکړئ. د تورخم د لاريو د اخازي فساد تقريبا صفر ته راټيټ شو او که چا هسې د شيرينۍ په نوم چاته څه ورکول جلا خبره وه. کله چې اراده موجود وي، بيا هر مشکل ته د لارې حل پيدا کېږي. له هماغه ورځې د ننګرهار تجاران له ولايتي ادارې خوشاله و.

کله چې تورخم ته د لومړي ځل لپاره لاړم، تجاران مې ولايت ته راوغوښتل، چې د دوی ستونځې واورم او د حل لارې چارې په شريکه سره ولټوو. تجارانو له حکومت او ولايتي ادارې زياتې ګيلې درلودې. انجنير محمد قاسم يوسفي، چې د غوړيو فابريکه او کارو بار يې درلود، په خبرو کې وويل چې جومات ته لاړ شو، خلک هم له تجارانو طمعه لري، که کلي او کور کې يو، د خلکو سترګې هم سوداګرو ته وي، که ادارو ته ځو، دولتي مامورين هم د تجارانو جيب ته ګوري، جنايي ډلې هم تجاران تهديدوي او د پيسو غوښتنه کوي، موږ هم نه پوهيږو؛ چې څه وکړو. انجنير يوسفي په خپلو خبرو کې داسې وانمود کړه، چې زه به ترې هم د پخوانيو ځينو واليانو په څېر څه غواړم. د انجنير يوسفي له دې خبرې سره زه لږ په قهر شوم او ورته مې وويل، چې ما خو به درنه تر اوسه د مرستې او کمک په نامه غوښتنه نه وي کړې؟ بيا مې زياته کړه، چې زه تاسي ټولو ته په ډاګه وايم، چې ستاسي په جنسنګ او ټماټرو ولايت نه چلوم او نه له تاسو د چاندو غوښتنه کوم. که له چا سره خير خيرات کوئ، هغه ستاسي خپل کار دی او په ولايت احسان مه کوئ. د ياودنې وړ ده چې پخوانيو اکثرو واليانو د ولايت مصارف او همداشان له غريبو سره د مرستې په نوم او يا جوماتونو جوړولو په خاطر، له تجارانو مرستې اخيستې. د

سپین جومات مسئله یې ښه بیلګه وه، چې په سل ګونو میلیونه افغانۍ له تجارانو ټولې او بیا حیف و میل شوې؛ مګر سپین جومات همداسې وران ویجاړ پاتې و، نو دوی هم ګرم نه و. دا پارګراف چې لیکم، د انجینر یوسفي خبرې مې بیا سترګو ته ودرېدې او د نوموړي ځوان ځوی ډاکتر میهن یوسفي د هغه ډریور او یو کس باډیګارد د جلال اباد په ښار کې د ۲۰۲۱م کال د فبروري په شپاړسمه نېټه د هېواد دښمنانو لخوا شهیدان کړل شول. ( انا لله او انا الیه راجعون ).

## د لعل پورې نیول

د لعل پورې سیمه تاریخي اهمیت لري، د چکنور ملاصیب، وزیر محمد ګل خان مومند او اکبرخان غوندې مهم سیاسي، قومي او روحاني اشخاص په دغه سیمه کې تیر شوي دي. د دې سیمې مشرانو له انګریزانو سره په ډکه او مهمندو سیمو کې ډېرې غزاګانې کړې دي. د لعل پورې ولسوالۍ په ۳۷ قریو تقسیم شوې ده. کوزه لعل پوره، چکنور، ګل ډاک، شاکوټۍ، سده، ګرداو، کوز خویزي، رینه، یعقوبي، پارچاو، بیله او مارسنګې، د دغه ولسوالۍ مهم کلي دي.

د تورخم، مهمندرې او دورباba له سفر وروسته راته دا جوته شوه، چې له ولسونو سره د پسرلي د راتګ او جنګونو د زیاتوالي په هکله سخت تشویش او وېره موجود ده؛ نو دهرې ولسوالۍ اوسیدونکو د محلي پاځون کوونکو او پولیسو د پرسونل د زیاتوالي غوښتنه کوله او دا ممکنه نه وه. د مور لپاره د تورخم-جلال اباد لاره مهمه وه، ځکه طالبانو یوازې د دغه ترانزیتي لارې او د بټي کوټ له فارمونو نږدې ۱۴ میلیونه ډالره کلني عواید درلودل. د ملي امنیت رئیس د تحلیل په اساس، دا ممکن نه و، چې په پسرلي کې د ننګرهار شرقي ولسوالۍ وساتلی شو؛ څو د لعلپورې ولسوالۍ ونه نیسو. که هرڅومره فشار په طالبانو راشي، هغوی د لعل پورې ولسوالۍ چکنور، بیلې، ګل ډاګ، رینې او

پارچاو سیمو ته پناه وړي او له هغه ځآیونو د ننګرهار په ختیځو ولسوالیو حملې کوي. تقریبا د یادې سیمې دوه سوه کسه تیار و، چې د محلي پاڅونکوونکو په لیکو کې سوق شي؛ په دې شرط چې د ګلډاګ په سیمه کې د ملي اردو یا سرحدي قواو یو بیس د ۸۰-۱۰۰ کسانو په شاوخوا کې واچول شي؛ څو د اړتیا په وخت کې د محلي پاڅونکوونکو له پوستو د درندو وسلو په ذریعه حمایت وکړي. که بیس جوړ نشي، محلي پاڅون کوونکي جرئت نه کوي، چې د طالبانو پر وړاندې ودریږي.

که څه هم د لعل پورې سیمې لپاره لسم لمبر سرحدي کندک منظور شوی و، خو مکمل تجهیزات او پرسونل یې نه درلود. د ملي اردو او سرحدي قواو مشران دې ته حاضر نه و، چې د ګل ډاګ په سیمه کې بیس جوړ کړي. دوی درې دلیله درلودل، چې دریواړه دلیله مؤجه نه و. دوی ویل چې سرحدي قواوې باید سرحد وساتي او دا ځای سرحدي اهمیت نه لري. دویم دوی کافي پرسونل نه لري، چې هلته بیس جوړ کړي او دریم دا چې د لعل پورې او ګوشتې ترمنځ سرک د کلونو راهیسې بند دی او له ها خوا حمایت هم امکان نه لري؛ نو د لعل پورې د ټولې ولسوالۍ ساتل ستونځمن دی. په دې توګه دوی کافي قوت نه لري، چې د ګل ډاک له سیمې دفاع وکړي؛ ځکه په تېرو پنځلس کلونو کې دلته حکومت نفوذ نه درلود او له نږدې ساحو پرې طالبان او TTP خامخا حملې کوي. د دوه - دریو اونیو مسلسلو بحثونو وروسته پته ولږېده، چې سرحدي قواوې او اردو نه غواړي، چې له ملي امنیت سره همکاري وکړي.

زه مجبوره شوم؛ چې کابل ته لاړ شم او له دفاع وزیر اسدالله خالد سره دا مسئله مطرح کړم. هماغه و چې په کابل کې مې له دفاع وزیر سره وکتل او وعده یې وکړه، چې ننګرهار ته به راشي او د سیلاب قول اردو قوماندان ته به هدایت وکړي؛ چې د لعل پورې په سیمه کې بیس واچوي. هر څومره امکاناتو او حمایت ته چې اړتیا وي، د دفاع وزارت به مرسته وکړي. له همدې کتنې وروسته، د دفاع وزیر اسدالله خالد او قاطع ملاتړ عمومي قوماندان جنرال سکاټ میلر د مارچ د میاشې په ۲۷مه نېټه ننګرهار ته راغلل او د نظامي شورا

په غونډه کې مو له دوی مرسته وغوښته، چې د لعل پورې ولسوالۍ ونیسو او د شېرزادو د ولسوالۍ لاره ازاده کړو. په دغه غونډه کې یې راته د محلي اردو درې ټولي منظور کړل، چې دوه د شېرزادو د ولسوالۍ لپاره او یو د چپرهار د ولسوالۍ لپاره و؛ ځکه د چپرهار نیول د جلال اباد ښار د امنیت لپاره مهم و. اسدالله خالد او جنرال میلر وعده وکړه، چې هر څومره مرسته مو پکار وي او هر څومره د محلي اردو ټولي غواړي؛ هغوي یې راته منظوروي. د یادونې وړ ده، چې کله زه د کورنیو چارو وزارت معین وم، اسدالله خالد د غزني والي و او له هماغه وخت راپدېخوا مو سره نږدې اړیکې درلودې. جنرال میلر مې هم د ۲۰۰۹م کاله راپدېخوا؛ چې زه د په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت رئیس وم، پېژانده.

د دفاع وزیر او جنرال میلر له راتګ وروسته راته د قول اردو او سرحدي قواو قوماندانانو وویل؛ چې دوی دا قوت د پاڅون کوونکو د حمایت په خاطر اچوي، خو د ملي امنیت رئیس باید دا خبره ومني چې دا بیس سرحدي اهمیت نه لري او زما په خاطر به دوی عملیات پیل کړي. جنرال محمد زمان وزیري او د ملي امنیت رئیس نظر علي واحدي دواړه سرتنبه کسان و او دوی ملامتي په یو بل اچوله؛ نو ځکه یې پخوا لعل پوره نه وه نیولې. ما وزیري صیب ته وویل چې ګورئ، دلته د خاطر مسئله مطرح نه ده. موږ ټول د یو نظام لپاره کار کوو او تاسي هم په دې قانع یاستئ. چې د لعل پورې له نیولو سره به د ننګرهار ټوله ختیځه سیمه امن شي؛ نو په دې توګه د ملي امنیت د رئیس تحلیل او پلان سم دی او د هغه ملاتړ کوم. د لعل پورې ولسوالۍ سرحدي سیمه ده او دا چې تاسې سرحد ساتلی نه شئ؛ نو ځکه له سرحد لرې مو بیسونه او قرارګاوې جوړې کړي دي. که تاسې سرحد وساتئ؛ نو خبره حل ده. په هر حال، دا چې د والي دنده همغږي ده او د یو بیطرفه مشر په توګه د ادارو تر منځ توازن باید وساتي، زما خبرې په دواړو بدې نه لږېدې او هر یو راته په وروستیو کې ویل چې ښنګه ستا خوښه او امر وي، موږ یې اجراء کوو. د ملي دفاع وزیر د راتګ

نه وورسته مو د نظامي شورا تر منځ همغږي راوستله. د لعل پورې عملیات مو د ۲۰۱۹م کال د مارچ د میاشتې په دېرشمه نېټه پیل کړل.

د پلان مطابق باید محلي پاڅون کوونکو په یولس مشخصو ځایونو کې پوستې جوړې کړي وې او سرحدي لوا باید د ګل ډاګ په سیمه کې بیس جوړکړی وی؛ پوځي عملیات د ګوشتې د ولسوالۍ له اړخه او هم د لعل پورې د ولسوالۍ له مرکز نه پیل شول. په درې ورځو کې دفاعي او امنیتي قواوې له مقاومت پرته چکنور سیمې ته ورسیدې. د اپریل په دریمه نېټه سهار وختي راته د سرحدي قواو قوماندان جنرال حسین خیل اطمینان راکړ، چې د ګل ډاګ په سیمه کې یې په بیس جوړولو پیل وکړ او د لعل پورې لخوا قواو ته باید هدایت ورکړم، چې له دوی سره یو ځای شي. د لعل پورې ولسوالۍ نیول یوه لویه لاسته راوړنه وه، ځکه دا سیمه د پنځلس کلونو راهیسې د طالبانو په کنترول کې وه. طالبانو په کراتو هلې ځلې وکړې، چې دا سیمه بېرته ونیسي او د ننګرهار ختیځې ولسوالۍ نا امن کړي؛ خو د امنیتي او دفاعي قوتونو د ښه همغږۍ له امله طالبان ونه توانېدل، چې دا سیمه بیا نارامه کړي. په حقیقت کې د طالبانو طلسم په دغه سیمه کې مات شو؛ ځکه طالبانو هېڅ مقاومت ونه شو کولای.

له عملیاتو دمخه، د ملي امنیت رئیس د تحریک طالبان پاکستان له مشرانو سره اړیکه نولې وه؛ که دوی د افغاني طالبانو په حمایت له امنیتي قواو سره جنګ وکړي، نو امنیتي او دفاعي قواو ته امر شوی، چې کورونه یې په نښه او د دوی پرضد هم په دغه سیمه کې عملیات پیل کړي. دوی باید د کډوالو په توګه واوسیږي او د افغانستان په کورنیو مسایلو کې ګوتې ونه وهي او هم په جنایي پېښو کې باید برخه وانخلي. د یادونې وړ ده، چې د لعل پورې ولسونه له طالبانو او TTP نه په تنګ و او د دې ساعت په انتظار و، چې حکومت دا سیمه تصفیه او دوی له حکومته حمایت وکړي. د چکنور په نیولو سره په ټنونو انفجاریه مواد، ځانمرګي واسکټونه او سلاوې امنیتي قواو ته په بېلابېلو ځمځو او سیمو کې لاسته ورغلې. د یادونې وړه ده، چې د لعل پورې ولسوال نعمت

الله نورزی، چې ډېر فعاله او تکړه ولسوال و، د خلکو او محلي پاڅون کوونکو په انسجام کې یې فعاله ونډه درلوده. له امنیتي او دفاعي قوماندانانو سره په ګډه یې هرې پوستې او سنګر ته رسیده ګي کوله.

د دې لپاره، چې د ولسونو باور ترلاسه او ډاډ حاصل شي، چې دا ځل د لعل پورې ولسوالۍ نه امنیتي قواوې بیرته نه وځـي، د اپریـل پـه دریمـه نېټـه مـو پـه نظامي شورا کې فیصله وکړه، چې د اپریل په اومه نېټـه بـه چکنـور تـه د نظـامي شورا له غړیو او د ننګرهار سکتوري ادارو له مشرانو سره یوځای ځو. هلته بـه د نوو پوستو له جوړېدو لیدنه کوو او هم به په چکنور کې لویه غونډه جوړو. کله چې د لعل پورې له پله واوښتولو؛ په نږدې بازار کې ودرېدلو او له سلهاو کسانو سره مو روغبړ وکړ. هېڅ فکر نه کاوه، چې والي او لوړپوړي امنیتـي کسـان دې دغه سیمې ته لاړ شي. چکنور ته په لاره زمونږ د کاروان په تیریدو ماشـومانو او ځوانانو د لاسونو په جګولو خوشالي ښودله.. تقریبـا لـه دوه زره کسـانو زیـات مشران، ځوانان او د مکتوبونو زده کوونکي د چکنور د لېسې په انګړ کې راټول شوې و او په سلهاو کسان بیرون ولاړ و؛ ځکه د لېسې په انګړ کې ځای نه و. دا چې دا سیمه نوې ازاده شوې وه او امنیتي پوستې لا فعاله شوې نه وې، نو د هـر ډول امنیتي پېښې احتمال موجود و؛ مګر له دې سره سره مو ریسـک واخیسـت او هلته مو له خلکو سره پوره وخت تېر کړ.

له بده مرغه دغه سیمه چې د پنځلس کلونو راپـدېخوا د طالبـانو لـه کنـترول لاندې وه، د خلکو اقتصادي وضـعیت او فقـر پـه کـې لـه ورایـه معلومېـده او د ننګرهار له هغه سیمو سره یې، چې د حکومت د کنترول لاندې وې ډېـر تـوپیر درلود. په دغه وخت کې د لعل پورې په ولسوالۍ کې د هلکانو او نجونـو ټـول شل ښوونځي، چې اکثرو یې تعمیرونه نه درلودل موجود و، خو سره له دې هـم د چکنور په لېسه کې ۸۰۰ نجونو او ۱۸۰۰ هلکانو سبقونه ویـل، د یـادې لیسـې جونو او هلکانو په خپلو ښکلو وطني ترانو ښـه راغلاسـت ووایـه، ټـول ولسـونه ملي سرود ته ودرېدل او تا به فکر کـاوه، چـې پـه دې خلکـو د اخـتر خوشـالي

راغلې ده. د ناامنۍ له وجهې د حکومت اکثره پروګرامونه لکه د ملي پيوستون برنامه په دغه سيمه کې پلې شوې نه وه، د بېلابېلو ادارو مشرانو له ځان سره کرهنيز توکې، وسايل او د ښوونځيو کتابچې او درسي مواد راوړي و او هغه مو په خلکو او د ښوونځيو په زده کوونکو ووېشل. د لعل پورې ولسوالۍ په استازيتوب، ميا ګل حسين او ملک شاه رخ خان خبرې وکړې او ټولو وويل، چې دوی خوب ګوري چې دا سيمې دې د طالبانو له ولکې ازاده شوي وي؛ يادو مشرانو په خپلو خبرو کې وړانديزونه وکړل، چې د بيارغونې په برخه کې دې پاملرنه وشي.

کله چې چکنور ونيول شو او دا خبر مو خپور کړ، ګڼو ژورنالستانو دا نه منله، کله چې محلي ژورنالستان له موږ سره چکنور ته لاړل، د خلکو ګڼه ګوڼه يې وليده، نو دوی هم باوري شول، چې چکنور د حکومت په لاس کې دی او وضعيت يې عادي حالت ته ګرځېدلی دی، جنرال وزيري، نظر علي واحدي او امنيه قوماندان غلام سنايي ستانکزي خبرې وکړې. دا چې د خبرو سلسله يو څه اوږده کېدله؛ په همدغه وخت کې د انعکاس تلويزيون خبريال شکيل احمد سعيد ډېر اصرار وکړ، چې دې ته هم بايد يو څو دقيقې د خبرو وخت ورکړل شي. زما نظر دا و چې دلته بايد مشران وغږېږي؛ نه ژورنالستان. عطاالله خوګيانی راته وويل: چې شکيل د همدې سيمې اوسيدونکی دی او وايي؛ که وخت رانه کړل شي، نو ډېر به نا اميده شم؛ ما هم زړه نازړه وخت ورکړ؛ څو ارمان يې پوره شي، خو په ورته وخت کې مې فکر کاوه، چې کومه ستونځه هم جوړه نه شي.

شکيل احمد په خپلو خبرو کې وويل، چې دی هېڅ تصور نه شي کولای، چې خپل کلي ته راغلی دی او شايد ډېری ځوانان او مشران يې ونه پيژني؛ نوموړي ناستو خلکو ته د خپل پلار نوم واخيست. ده وويل: ډېر وړوکې و، چې د نا امنۍ له وجهې يې خپل کورونه پرېښودل او جلال اباد ته کډه شول. د شکيل احمد د خوشالۍ احساس دې حد ته ورسېد، چې د خبرو پرمهال ژړغونی شو او نورې خبرې يې ونشو کړای. په غونډه کې د نوموړي احساس

په ټولو ګډون کوونکو د خوشالۍ یو خاص احساس او هم د یادې سیمې د بې وزلۍ وکړه.

د غونډې وروستۍ خبرې ما وکړې. په خپلو خبرو کې مې وویل، چې دا سیمه ځکه له پامه غورځېدلې وه، چې تاسې له حکومت سره همکاري نه کوله او د نه همکارۍ له وجې ناامنه وه. کله چې په یوه سیمه کې ناامني وي؛ نو طبیعي خبره ده، چې هلته دولتي او غیر دولتي مؤسسات کار نه کوي او ولسونه له اساسي خدماتو محروم پاتې کېږي. جنګ بده پدیده ده او له مصیبت پرته ولسونو ته بل هېڅ زیری نه لري. دا چې ولسونه اوس له حکومت حمایت کوي، زموږ توجه به هم دې سیمې ته زیاتېږي. کوم امکانات چې بېلابېلو ریاستونو درلودل، هغه مو دوی ته د زراعت، د کلیو او پراختیا او معارف په برخه کې اعلان کړل. د دې لپاره چې د خلکو تسکین او اطمینان حاصل شي، غرمه مو هم هلته په چکنور کې تېره کړه؛ څو ولسونه فکر ونه کړي، چې ولې بېرته ژر لاړو او دوی مو یوازې پرېښودل. اطمینان مو ورکړ، چې په سرحدي بیس باندې کار روان دی او د لعل پورې د ولسوالۍ او چکنور ترمنځ د امنیتي پوستو په جوړولو کار پیل شوی دی. دا ځل قواوې نه وځي او همدلته دایمې پاتې کېږي؛ نو تاسي ورسره همکاري وکړئ. له دې وروسته د لعل پورې ولسوالۍ د مېلو سیمه وګرځېده او هره اوونۍ به په زرهاوو کسان ورتلل.

د یادونې وړ ده، چې د لعل پورې د عملیاتو امنیتي پلان د ننګرهار د ملي امنیت ریاست د لومړي مرستیال، برید جنرال سید نورحیدر سادات له خوا ترتیب او د نظامي شورا د غړیو له خوا منظور شوي و. سید نور حیدر پاچا چې د روداتو د ولسوالۍ اوسیدونکی و، څو ځلې مخکې یې هم په ننګرهار کې کار کړی و؛ پاچا صیب د ننګرهار له جغرافیا سره ښه بلدیت درلود؛ هم ما او د ملي امنیت رئیس نظر علي خان په ډېرو برخو کې له دی مشورې اخیستې. د ننګرهار په امنیت کې د نورحیدر پاچا هلې ځلې د ستایلو دي، ځکه د دی په مشوره مو له امنیتي او دفاعي قوتونو سره یو ځای د ننګرهار نورو سیمو ته ښه

پلانونه جوړ کړل او د دغه پلانونو په عملي کولو موږ وکړای شول، چې امنیتي پراختیا رامنځته، د داعش مرکزونه ختم او د طالبانو نفوذ راکم کړو.

له لعل پورې څخه په بېرته ستنېدو کې مو د سیمه ییزو پاڅونکوونکو د پوستو له جوړولو لیدنه وکړه، چې په ډېرو حاکمو نقطو کې ټاکل شوې وې، په همدې شکل مې له ټولو تهدیداتو سره د ولسوالیو سفرونو ته ادامه ورکړه.

## د شېرزادو پر ولسوالۍ یرغل او د الفتح جګړې اعلان

له تاریخي اړخه د شېرزادو ولسوالي ډېره مهمه ولسوالي ده. پخوا چې د برېښنا سهولتونه نه و او په جلال اباد ښار کې ګرمي زیاته وه، رئیس تنظمیه یا د مشرقي والیانو به د اوړي په موسم کې خپل دفترونه له جلال اباد ښار څخه د شېرزادو ولسوالۍ ته انتقالول. د نوموړې ولسوالۍ ودانۍ د یوې ښایسته غونډۍ له پاسه موقعیت لري. د سروو ونو یادې ولسوالۍ ته ښایسته ښکلاء وربخښلې ده. د ګندمک سیمه د شېرزادو ولسوالۍ له مرکز سره نږدې پرته ده. د افغان-انګلیس له دویمې جګړې وروسته د ګندمک معاهده د ۱۸۷۹م کال د مې د میاشتې په ۲۶مه نېټه په همدغه سیمه کې د انګلیسانو او امیر محمد یعقوب خان ترمنځ امضاء شویده. د دغه معاهدې له مخې انګریزانو محمد یعقوب خان د کابل د امیر په توګه و پېژنده او په مقابل کې د لرې پښتونخوا د کورم او خیبر سیمې بریتانوي هند ته پاتې شوې. همدا شان انګلیسانو ته اجازه ورکړل شوه، چې په کابل کې خپل دایمي سفیر وټاکي. د دغه معاهدې په اساس به د افغانستان امیر بهرنۍ پالیسۍ د انګریزانو له موافقې او خوښې پرته نه شوه ټاکلی او د هند قونسلګري هم هلته له ډېر پخوا ځای درلود[۲۸].

له اتو کلونو زیاتې مودې راپدېخوا د شېرزادو ولسوالي د طالبانو لخوا محاصره وه او اکمالات ورته یوازې د هوا له لارې کېدل؛ د ولسوالۍ د ودانۍ

---

[28] https://www.nytimes.com/1879/07/15/archives/the-angloafghan-treaty-text-of-the-agreement-between-the-ameer-and.html (last visited this web page on 5 March 2021)

په شاوخوا نږدې یو کیلومتر مربع ساحه د حکومت په لاس کې او نوره ټوله ولسوالي د مخالفینو په کنترول کې وه. د شېرزادو اکثره ملکي مامورین د جلال اباد ښار په نورو دفترونو کې خدمتي و. د احصایې یعنې د تذکرو ترلاسه کولو شعبه هم د جلال اباد په ښار کې وه، چې ملکانو او سپین ږیرو به د دغه سیمې د خلکو تصدیقونه د تذکرو اخیستلو لپاره په ښار کې کول.

طالبانو ته د شېرزادو ولسوالۍ نیول په ستراتیژیکي اواقتصادي لحاظ خاص اهمیت درلود. له پکتیا نه نیولې د لوګر ولایت د ازرې او د ننګرهار ولایت د حصارک په سیمه کې د چرسو او نورو مخدره موادو قاچاق پاکستان ته د همدې لارې تر سره کېده. د شوکانې (Talc) لوی معدنونه د شېرزادو ولسوالۍ په سیمه کې و، چې د طالبانو د عایداتو لویه منبع وه. په شېرزادو کې ځایي طالبان ضعیفه و، خو قدرت د هلمند او بهرنیو هېوادونو له طالبانو سره و؛ د پیر اغاء په نوم د طالبانو د سرې قطعې قوماندان، چې د هلمند ولایت و، دې سیمې ته لیږدول شوی و؛ خو د الفتح په نوم د طالبانو پسرلني عملیات کامیاب او د شېرزادو ولسوالي په بشپړه توګه ونیسي.

طالبانو غوښتل چې د الفتح په نوم پسرلني عمومي عملیات په افغانستان کې اعلان کړي او د شېرزادو د ولسوالي نیول یې خپل هدف ټاکلی و، ځکه د دوی لپاره یې ستراتیژیکي اهمیت درلود او له بلې خوا دا چې څه موده دمخه د لعل پورې ولسوالي حکومت نیولې وه او هلته د دوی مرکزونه ختم شوي و، نو په ننګرهار کې د خپلو صفوفو د مورال د لوړېدو لپاره دوی ته یوه بله ستراتیژیکه لاسته راوړنه اړینه وه. د شېرزادو په ولسوالۍ د دوی لومړۍ حمله د ۲۰۱۹م کال د اپریل د میاشتې په ۱۲مه نېټه د ماښام په ۷:۴۵ دقیقو پیل شوه، خو د مازدیګر له پنځو بجو یې پراګنده ډزې پیل کړې وې، چې امنیتي کسان له ولسوالۍ بیرون ځارنه ونه شي کړای. تقریباً دا ډول پراګنده ډزې هره شپه وې، حمله داسې ترتیب شوې وه، چې له دریو خوا به د چادودیدونکو موادو ډکې مزدا موټرو په وسیله ځانمرګی برید کوي او بیا به ولسوالي نیسي. د یادو

موټرو له چاودنو وروسته د دې امکان نه و، چې تازه قواوې ولسوالۍ ته ورسول شي، ځکه هوا باراني وه او د هلیکوپټرونو په وسیله حمایه نه کېده. د مزدا یوه لارې یې د امنیه قوماندانۍ په دروازه او دویمه لارې یې د ملي پولیسو په ټولي منفجر کړه. له نېکمرغه، د مزدا درېیمه لارې پر لار چپه شوې وه او هدف ته ونه رسېده.

په دغه وخت کې د شېرزادو په ولسوالۍ کې د ملي امنیت اته کسه، د ملي پولیسو ۲۶ کسه او د ملي اردو ٦۵ کسه موجود و، د موټر بم د حملې په پایله کې د ملي امنیت ٦، د ملي پولیسو ۲۵ او د ملي اردو نه ۱۳ کسان زخمیان شول. همدا شان یو پولیس او د ملي اردو نه پنځه کسه شهیدان شول. د ملي اردو په پنځو شهیدانو د موټر بمب د انفجار له امله چت راغورځېدلی و او د چت لاندې بند پاتې و. له ټولو سلو کسانو نه پنځوس کسان شهیدان او زخمیان شوي و. دا یقیني برېښېده، چې طالبان به ولسوالي نیسي. د ماښام په ۸ بجو راته د ملي امنیت رئیس نظرعلي خان زنګ ووهه، چې د شېرزادو ولسوالي د سقوط په حال کې ده. د ملي امنیت له دوه تنو سره په اړیکه کې دی، چې حوصله ونه بایلي او د هوا له لارې یې حمایه وشي.

له قول اردو قوماندان، جنرال وزیري صیب سره مې تماس ونېوه، متاسفانه هغه هم په کابل کې و. وروسته له دې مې په ختیځ کې د قاطع قواو قوماندان، General Dan Hill سره اړیکه ونیوه، چې هغوی د هوا له لارې که څه ملاتړ وکولای شي. جنرال هیل وویل: چې هوا خرابه ده او یوازې دوی مزایل ویشتلی شي هغه هم باید له امنیت شورا نه تائیدي واخلو. ما ورته وویل چې میزایل ویشتل څه ګټه نه لري او کېدای شي د ملکي کسانو مرګ ژوبله رامنځته کړي. د زخمیانو انتقال او د ولسوالۍ د سقوط مخه نیول موږ ته اهمیت لري او په مزایلو ویشتلو دا مشکل نه حل کیږي. هغه بیا وویل چې دوی یوازې کولای شي، چې ISR (Intelligence Survillance and Reconnainces) بالون د شېرزادو په ولسوالۍ ودروي او که د طالبانو کوم کس یې د هوا له لارې په نښه کړ، بیا دوی کولای شي چې هغه په ډرون وولي. ما ورته وویل چې تاسې

همدا کار وکړئ او کله چې طالبان د هوا لـه لارې ای اس ار یـا ډرون وګـوري، وېره ورسره پیدا کېږي او موږ به نور تدابیر ونیسو.

د ملي امنیت د شورا مشر ډاکتر صیب محب ته مې مسیج پرېښود او له ملي امنیت رئیس محمد معصوم ستانکزي سره مې خبرې وکړې او حالت مې ورتـه تشریح کـړل؛ کـه ولسـوالۍ سـقوط وکـړي؛ نـو دا بـه ننګرهـار او پـه ټولـه کـې افغانستان ته لوی ضربه وي. سبا ته به طالبان د زخمیانو او شهیدانو عکسونه پـه فیسبوکونو کې اچوي. پدې توګه بـه د حکومـت او هـم د ولایتـي ادارې ټـولې کړنې له سوال لاندې راولي. ما ورته وویـل، چـې نظـامي شـورا راغـواړم او هـر تصمیم مو چې ونیوه بیا به خبر درکړو. د نظامي شورا غړو تـه مـې وویـل: چـې خپلو کسانو ته ډاډ ورکړئ، چې روحیه ونه بـایلي او ورتـه ووایاسـت چـې تـازه دمې قواوې دررسیږي؛ باید مقاومـت تـه دوام ورکـړئ؛ ځکـه اکثره پرسـونل د چاودونو له امله په راپرېوتو ښېښو ټپیان شوي و.

د شپې په لسو بجو مو نظامي شورا راوغوښتله؛ نظامي شورا کـې مـو وویـل: که زموږ او ستاسي اولادونه په داسې حالت کې هلته ګیر وي، څـه بایـد وکـړو؟ ټولو وویل چې موږ باید ورشو او څه مو، چې لـه لاسـه کېـږي بایـد د هغـوی د نجات لپاره اجراات وکړو. هماغه و، چې د نظامي شورا ټولو غړیو ته مو وویل: که همدا اوس حرکت وکړو، څـومره قـوه امـاده کـولای شـئ؛ چـې د شـېرزادو ولسوالیو ته د ځمکې له لارې ځانونه ورسوي، ځکه د هـوا لـه لارې د حمایـت امکان نشته دی. دوی وویل چې پینځه سـوه کسـان سمدسـتي برابـرولای شـو؛ ۳۵۰ د ملي اردو، ۵۰ کسه د پولیسو د خاصو قطعاتو، د ملک دهقان پـه مشرۍ ۵۰ کسه د ملي امنیت پاڅون کوونکي ، ۳۰ کسه د سرحدي قـواو او ۲۰ د عامـه نظم له قواو تیار شول او د شپې په یـولس بجـو مـو د شـېرزادو پـه لـوري ورتـه حرکت ورکړ، چې تر سهاره ځانونه د مملې باغ ته ورسوي او بیـا لـه هغـه ځـای په احتیاط سره د شېرزادو ولسوالۍ په لوري حرکت وکړي. دا چې پـه دغـه لاره له تېرو اتو کلونو راپدېخوا هېڅ قواوې نه وې تللـې، د بمونـو خطـر زیـات و، د

احتیاط نه باید کار اخیستل شوی وی. په نظامي شورا کې د یوې لوا قوماندان وویل، چې طالبان د بزو په پوستکو کې بمونه ږدي او د ماینونو پاکارۍ ټیم نشي کولای، چې هغه کشف کړي؛ نو زیات احتیاط په کار دی او کېدای شي، چې تر سلهاو پورې بمونه په لاره کې ښخ وي. د ملي امنیت رئیس ورته وویل چې فکر نه کوم چې زیات بمونه وي او د بزو د پوستکو خبره سمه نه ده. جنرال نصیر ساپی او جنرال کریم نیازی چې په دغه سیمه کې بلد و، ورته مسؤلیت وسپارل شو، چې سیمې ته له قواوو سره پخپله لاړ شي او له هماغه ځای جنګ رهبري کړي.

موږ په خپل پلان ځکه مطمئین و، چې طالبانو هېڅ فکر نه شو کولای، چې دومره ژر به موږ تصمیم ونیسو او د ځمکې له لارې به قواوې شېرزادو ولسوالۍ ته ولېږو. په هر حال له ما سره تشویش زیات و، که خدای ناخواسته قواوې شکست وخوري؛ نو بیا به ټولو والي ملامتولو، چې وګورئ امنیتي تجربه یې نه درلوده او بېځایه تصمیم یې ونیوه او د پردیو بچې یې په طالبانو ووژل. اته کاله د مخه هم یوه امنیتي قوه د شېرزادو ولسوالۍ د نیولو لپاره تللې وه، چې د هاشم خېلو په خوړ کې ورته دراندە تلفات اوښتي و؛ چې په لس ګونه امنیتي او دفاعي قواوې شهیدان او ټپیان شوي و.

یو کس باید په رهبرۍ او تصمیم نیولو کې دوه زړی ونه ووسي؛ شرعي مسئله همدا ده، چې له مشورې او عزم وروسته په الله تعالی توکل په کار دی. ( وشاورهم في الأمر فإذا عزمت فتوکل علی الله). ټوله شپه مو شوګیر تېره کړه، عملیات مو څارل او بالاخره زموږ قواوې د هاشم خېلو له خوړ څخه چې سخت ترینه نقطه وه، تېرې شوې؛ هاشم خېلو ته له رسېدو وروسته ما د فیسبوک او تویټر له لارې پوست وکړ، چې د طالبانو حمله شنډه شوه او زموږ قواوې شېرزادو ولسوالۍ ته ورسېدې. د ملي اردو د ماینونو پاکارۍ ټیم، په لاره کې یوازې دوه ماینونه کشف او خنثی کړي و. له قواو سره مو تقریبا ۱۵ امبولاسونه هم لېږلي و او ټول زخمیان جلال اباد ښار ته انتقال او یو کس هم د

زخمونو له امله تلف نه شو؛ په سبا یې جنرال وزیري، جنرال هیل او زه د هوا له لارې شېرزادو ته لاړو او د تخریب ساحه مو له هوا وکتله.

د شېرزادو د لارې ساتلو لپاره موږ دفعتا پلان نه درلود؛ نو له موقع نه په استفادې سره مو په یوه اونۍ کې د لارې ساتلو په موخه تازه دمې قواوې ولېږلې او هم مو د شپږو میاشتو لپاره اعاشه، مهمات او د پوستو د استحکام لپاره هیسکوګانې انتقال کړې. د هیسکوګانو د ډکولو لپاره ځایي کسانو د طالبانو له ویرې امنیتي قواو ته لوډرې په کرایه نه ورکولې، چې بیا د جلال اباد له قول اردو نه لوډرې ولېږدول شوې.

دا چې د طالبانو د الفتح عملیاتو ټول تمرکز د شېرزادو په ولسوالۍ و؛ د شېزرادو له سقوط وروسته دوی په اسانه توګه سره کولای شول، چې د خوګیاڼو او حصارک ولسوالۍ ونیسي ـ او یوه لویه ساحه یې لاس ته وغورځېږي. د طالبانو لپاره د شېزرادو نیول ځکه زیات مهم و، چې دوی غوښتل د سولې خبرو له پیل کېدو سره باید په نظامي لحاظ قوي موقف کې ووسي. د شېرزادو له حملې وروسته د طالبانو په ګروپونو هوایې حملې او شپني عملیات زیات شول. د صفر دو قطعې په متواتره توګه دوه شپې شپني عملیات تر سره کړل. د دغه عملیاتو په لړ کې په شېرازدو کې ۵۵ طالبان مړه او ۳۷ زخمیان شول. په دغه سیمه کې د طالبانو د رهبرۍ مهم غړي لکه مولوی محمد علم، چې د طالبانو د ننګرهار ولایت قاضي و، مولوي نورالله چې د طالبانو د شېرزادو ولسوال و او همدا شان د سیدعلم ورور مولوی ذبیح الله او مولوی سیداجان زخمیان او مړه شول. له دې برید دمخه د شېرزادو ولسوالۍ د طالبانو لپاره استراحت ګاه وه، د ننګرهار ولایت لپاره د طالبانو د رهبرۍ اکثره غړي په شېرزادو کې اوسېدل. حتی له لوګراو کابل نه به هم ځینې د دوی د رهبرۍ غړي د استراحت لپاره شېرزادو ته تلل. کله چې طالبان په شېرزادو ولسوالۍ کې وځپل شول، بیا دوی ونه شو کړای، چې ژر سر راپورته او د ننګرهار په ولایت کې لوی حملې تر سره کړي.

داعش ډلې چې د خوګیاڼو د وزیرو په تنګي یې کنټرول درلود، له دغې موقع نه استفاده وکړه او د شېرزادو د مرکیخېلو پورې ډېرې سیمې یې له طالبانو ونیولې. د شېرزادو ولسوالۍ یو شمېر کورنۍ د داعش د پرمختګ له وېرې بېځایه شوې او جلال اباد ښار او نږدې سیمو ته کډه شوې. د ملي امنیت د راپور په اساس، د طالبانو په نامه والي پیر اغا ملاء هیبت الله ته لیکلي و، چې د دې ځای کسان جنګ نه کوي او له هلمند څخه باید نور کسان شېرزداو ته ولېږي؛ وروسته کله چې له هلمند څخه دې سیمې ته نور کسان راغلل، هغوی هم جنګ ونشو کولای، ځکه د شېرزادو سیمه غرنۍ او د هلمند سیمه هواره ده. د ولایتي ادارې لپاره د شېرزادو د ولسوالۍ د سقوط مخنیوی لویه لاسته راوړنه وه. که د شېرزادو ولسوالۍ سقوط کړی وای، د خوګیانو ولسوالۍ هم سقوط کاوه او طالبان ته په اسانۍ سره سره رود ولسوالۍ ته داخلېدل او جګړه د جلال اباد ښار دروازو ته رسېده.

له بده مرغه په دغه وخت کې د شېرزادو یو مشر-او د هاها ډلې ځینو مغرضو کړیو د دې پر ځای، چې زموږ حمایت وکړي او د امنیتي او دفاعي قواو دا مېړانه وساتي، اوازې یې خپرې کړې، چې ګوندې د ننګرهار ولایتي اداره یعنې والي داعش تقویه کوي، نو ځکه داعش له طالبانو زیاتې سیمې ونیولې؛ خو وروسته د دوی دا ټولې ادعاوې غلطې ثابتې شوې. دا چې نظامي شورا خپل پلان درلود، چې څنګه طالبان او داعش او ورسره جنایي ګروپونه په نوبت سره له منځه یوسي او په ننګرهار کې دایمي امنیت تامین شي، نو د دوی دا ډول منفي تبلیغاتو په موږ اثر نه درلود او د خپل پلان مطابق روان و. په شېرزادو کې د طالبانو ناکامي په حقیقت کې د طالبانو د الفتح عملیاتو ناکامي وه، ځکه دوی دا بیخي یقیني ګڼلې وه، چې د شېرزاد ولسوالۍ به نیسي-او له هغه ځای به د حکومت پرضد په ننګرهار، کابل، لوګر او لغمان کې نور عملیات ترسره کوي او همدا شان به په راروانو جګړو کې برلاسي شي؛ مګر دوی خپل ارمان ته ونه رسېدل.

**په چپرهار کې د داعش او طالبانو پر ضد تصفیوي عملیات**

د لعل پورې د بريالي عملياتو او د شيزرادو ولسوالۍ د سقوط له مخنيوي نه وروسته، مطمئين شولو، چې د ننګرهار شرقي ولسوالۍ خوندي شوې او طالبان له لويديځ لوري هم نفوذ نشي کولی، نو توجه مو د جلال اباد جنوب ولسواليو او په خاصه توګه چپرهار ته وکړه. له کلونو راهيسې د چپرهار ولسوالۍ کې د داعش او طالبانو قوي مرکزونه موجود و. کوم وخت چې په ننګرهار کې امريکايي قواوې زياتې وې، په چپرهار کې له داعش او طالبانو سره قوي جنګونه شوي و خو دا ولسوالۍ يې تصفيه کړې نه وه. د داعش د نفوذ له زياتېدو سره د چپرهار سره قلا لکه د هلمند موسی قلا په څېر مشهوره وه. سره قلعه د ننګرهار د پوهنتون د طب پوهنځي د استاد، پوهاند ډاکتر محمد ظاهر ظفرزي د پلرونو قلا وه، چې د چپرهار ولسوالۍ ته نارسيده يې موقعيت درلود او دا سيمه هم د سرې قلا په نوم يادېده. د داعش ډلې به په دغه قلا کې انسانان حلالول او دلته نږدې چوک د (قصابانوچوک) په نوم شهرت پيداکړی و، ځکه هلته به يې ژوندي انسانان حلالول. د داعش د ظلمونو له لاسه د دغه سيمې د ځايي خلکو قصې زړه بوګنونکې وې. کله چې انسان وحشي شي، بيا نه عاطفه پېژني، نه انسانيت، نه اسلاميت، نه افغانيت او نه هم پښتونولي. د سرې قلا سيمه د ننګرهار د ختيځ او لويديځ تر منځ د قاچاقو د تګ او راتګ لاره هم وه. د داعش او طالبانو دواړو ډلو کوښښ کاوه، چې دا سيمه په خپل کنترول کې ولري.

د چپرهار ولسوالي د پچيرو اګام د ولسوالۍ او همدا شان د هسکې مېنې او روداتو له ولسوالۍ سره سرحد لري. د چپرهار په ولسوالۍ کې ۲۲ قريې او ۱۵۹ کلي موجود دي. په چپرهار کې ۷۷ بابه ښوونځي او يو دارالمعلمين و، چې اکثريت ښوونځيو يې ودانۍ نه درلودې. په چپرهار کې مومند، شينواري، عرب، دولتزي، سلوزي، امرخيل، احمدزي، ناصر، کاکړ، ستانکزي او اخوندزادګانو په نوم بېلا بېل قومونه مېشت دي. د چپرهار سيمه پخوا د علم، ادب او اسلامي

علومو د زده کړو زانګو وه. ډېر پخوا چې د عصري علومو ښوونځی نه و، د مشرقي له نورو سیمو نه به د دینې او په خاصه توګه د میرزایي[۲۹] زده کړو د لیک او لوست لپاره ګڼ کسان د چپرهار میرزایانو، حافظانو او کنډي باغ سیمو ته تلل. هلته به یې په جوماتونو کې د دغه سیمې له مشهورو میرزایانو، حافظانو او دیني علماو نه زده کړې حاصلولې. مولوی سید احمد جان مشهور په دولتزو ملا صیب، د کنډي باغ مولوی احمدشاه مجددي، د غزو کلي مولوي عبدالروف مشهور په صاحب الحق او د بي بي مهرو کلي قاضي حبیب الرحمن د چپرهار د خپل وخت مشهور علماء تېر شوي دي. د دولتزو ملا صاحب قبر د ملا صیب د قبر په نوم اوس هم یادیږي، چې د چپرهار ولسوالۍ او شپیرمې ناحیې تر منځ سرحد دی. د کنډي باغ، ملک میرزا عمر دین، د میرزایانو دکلي میرزا حبیب او د تریلي د کلي میرزا جلال الدین د خپل وخت نامتو او مشهور میرزایان و. سربېره پر دې په چپرهار کې مشهور شاعران او لیکوالان لکه محمد ګلاب بشار، غلام رحمان جرار (د للمې د کلي)، نصرالله حافظ (د حافظانو د کلي)، سید محمد طاهر بینا د بانډې د میرانو، حبیب الرحمن (بل) د للمې د کلي، خواجه رزق الله د شیخ قلا، غلام صدیق زهیر د ډاګو، سید عثمان اندیښمن د ماڼو، ګل خان چپرهاری د کنډي باغ، ډاکتر جمعه ګل بانډووال او مشهور شاعر سید محمد سلام بیدار (د بانډې د کلي) تېر شوي دي. په وروستیو وختونو کې د دولتوزو مامور جانداد، میرزا ملک محمود، سرمعلم عظیم خان، د سرې قلا مامور صابر، د ډاګو حاجی ملک

---

[۲۹] د عصري علومو د مکاتبو د رواج کیدونه د مخه، په جوماتونو کې به د املا، انشا او نظم کتابونه لکه بهار دانش، ګلستان، بوستان او نور د مشهورو استادانو سره لوستل کېدل. په دولتي دفاترو کې به میرزایان چې د املا او انشا فنون یې زده و، مقرریدل. دا اصطلاح په دولتي بیروکراسۍ کې ډېره عامه وه او اوس هم ده چې میرزا قلمي مه کوه، مشکل حل کړه. هدف دا و چې که میرزا به درته د کارونو د اجرا کولو او یا د دولتي مشرانو نه د اوامرو د اخیستلو لاره جوړه نه کړه، نو مشکله وه چې په دولتي ادارو کې دې کار اجرا شي. مکاتب به ټول په دفاترو کې د کاتب، سرکاتب او مامور په میزونو پراته و او اکثره دوی به ښه میرزایان هم و.

محمد داود ، د مشرانو جرګې رئیس فضل هادي مسلمیار، وکیل عبدالروف شپون، ملي تجار حاجی باز محمد، وکیل نبي الله باز، وکیل امیر جان دولت زی، حاجی محمد عمرخان د دولتزو، د ماڼو کلي ملک سید امیر ، د کنډي باغ ملک جیلاني خان، د حافظانو کلي مامور جمال خان، د هدیاخېلو غلام ګل خان او یو شمېرنور کسان د دغه سیمې مشهور مشران وو. د چپرهار د محصلینو ټولنه چې په ۱۳۷۳ ل کال د عبدالرحمن الفت په مشرۍ جوړه شوه، په ننګرهار کې یو له فعالو ټولنو نه ده، چې له سلهاو محصلینو سره یې مرسته کړې ده. په ۱۳۹۴م کال کې چې ما له ملګرو ملتونو سره کار کاوه، هغه وخت حاجي ممتار ستارزي چې د ملګرو ملتو د یونوچا په دفتر کې کار کوه، هم د دغه ټولنې په جوړښت او حمایت کې خاص رول درلود.

چپرهار ته پاملرنه، ځکه زیاته مهمه وه چې د جلال اباد ښار تل له همدغه سیمې تر تهدید لاندې و. د جلال اباد ښار شپږمه ناحیه، چې پخوا د چپرهار د ولسوالۍ یوه برخه وه، نا امنه ناحیه وه. په دغه ناحیه کې او په خاصه توګه د رینګ روډ په ساحه کې به همېشه هدفي وژنې، جګړې او د موټر بمونو حملې تر سره کېدلې. په حقیقت کې له ماښام وروسته، له جلال اباد ښار سره نږدې د هډې فارم له چیک پائنټ ها خوا علاقه غیر؛ یعنې حکومت د شپې لخوا کنترول نه درلود. د هډې چیک پائنټ د جلال اباد ښار جنوب ته د مقام خان په سیمه کې د کانال له ویالې سره، چې د ننګرهار ولایت له مقام نه تقریبا درې کیلومتره لرې واټن لري، اچول شوی و. د جلال اباد ښار پینځمه، شپږمه، اوومه او څلورمه ناحیه کې به چې جنایي او تروریستي پېښې تر سره کېدې، اکثره مجرمین به شپږمې ناحیې او له هغه ځای نه چپرهار ولسوالۍ ته تښتېدل او پولیسو او امنیتي ارګانونو ته د مجرمینو تعقیب ممکن نه و، څو چې لوی علمیات به پلان شوي نه و.

د چپرهار په ولسوالۍ کې د حکومت کنترول یوازې په توره کرښه (سرک) د ډاګو کلي پورې و، چې هلته د ملي اردو د څلورمې لوا د لومړي کندک یو

ټولې هلته موجود و. له پاخه سړک لرې شاوخوا کلیو کې د داعش او طالبانو نفوذ و. د ابوبکر او خطر کوچي په نوم د طالبانو مشهور قوماندانان، چې وروسته په عملیاتو کې ووژل شول د غلام ډاګ په سیمه کې یې فعالیت درلود. د چپرهار په څپرو، سپین جومات، سنګینه، کنډي باغ، سلوزو، غلام ډاګ، هدیاخیل، للمه او ماڼو کلو کې د طالبانو مرکزونه او نفوذ و. په تریلي، اغزو کلي، حافظانو، سره کلا، ډاګو، شولاني، کاریزو او ګلدرې کلیو کې د داعش د ګروپونو مرکزونه او نفوذ و. د داعش درې نام نهاده ولسوالان د قاري الیاس، قاري نجیب او ملا ولي په نومونو په بېلا بېلو عملیاتو کې ووژل شول.

د چپرهار د جغرافیا د ښه پېژندلو په خاطر د ۱۳۹۸ل کال د لوی اختر په لومړۍ ورځ له څلورمې پلې لوا قوماندان جنرال محمد کریم نیاري سره په زرهي هامویو کې چپرهار ته لاړوم. د بېرته راتګ په وخت کې د ځانمرګي حملو د مخنیوي په خاطر، دغه سیمې ته د ولایت په موټرو کې لاړ نه شولو، ځکه هغه معلومداره موټرې وي او چې هرخوا به تلو خلک پوهیدل چې زه چېرته ځم؛ ځکه زما د موټرو ښیښې سپینې وې. د معلوماتو له مخې د چپرهار په سیمه کې د ځانمرګو ګروپونو افراد موجود و او کولای یې شول، چې په لنډ وخت کې ځانمرګي بریدونه ترسره کړي.

د چپرهار ولسوال حاجي محمد صدیق ته مو وویل، چې ولسوالۍ ته ځان ورسوه، چې یو څو کسان هلته درځي؛ ځکه هغه هم دا فکر نه کاوه، چې زه به ورځم. ولسوالۍ ته چې نږدې شولو له ولسوال سره مې اړیکه ونیوه، چې موږ په څو دقیقو کې درځو او غواړو؛ چې د ډاګو په سیمه کې د ملي اردو سرتېري وګورو. ولسوالۍ کې مو توقف ونه کړ او راسآ د ډاګو سیمه ته د ملي اردو د کندک قرارګاه ته لاړو. هلته مو سیمه له نږدې ولیده. له کندک سره په پنځه سوه متري کې، چې د ټوپک ډز هلته رسېده، د حکومت تر کنټرول لاندې نه وه. د ملي اردو منسوبین مو تقدیر او د اختري په نوم نغدی پیسې او یو څه مټایان چې له ځان سره مو وړي و، په هغو وویشل.

د بېرته راتلو پرمهال مو د چپرهار ولسوالۍ ودانۍ او امنیه قوماندانۍ تـه سر ورښکاره کړ او پولیسو ته مو هم یو څه نغدې پیسې او مټایـان ورکـړل. د امنیـه قوماندانۍ او ولسـوالۍ دېوالونـه یـو لـه بـل سره نښتي و او د ولسـوالۍ او امنیـه قوماندانۍ د تعمیرونو تر منځ لاره وه. شاید ډېرې ووایي، چې دا خو دومره لویه خبره نه وه، چې چپرهار ته لاړوم؛ خو چپرهار سیمې ته د والي تګ مهمه خبره وه، ځکه د ولسوال په قول په تېرو شپږو کلونـو کـې هـېڅ والي دغـه سـیمې تـه ورغلی نه و. په اخري ځل چې دا سیمه ارامـه وه، د ننګرهـار پخـواني والي ګـل اغا شیرزي، د مشرانو جرګې د مشر ښاغلي مسلمیار په بلنه ورغلـی و؛ د مشرانو جرګې مشر هم څو کاله خپلې سیمې ته نه وتللی.

د بېرته راتګ په وخت، چې شېږمې ناحیې ته ورسېدو، د موټرو جامرې مـو بندې کړې. په دې وخت کې د مشرانو جرګې مشر، مسلمیار صیب زنګ ووهـه چې جلال اباد ته راغلې یم او غـواړم چې ولایـت تـه د اختـر د مبـارکۍ لپـاره درشم؛ ما ورته وویل چې له ولسوال او قوماندان د لوا سره پـه مـوټر کـې ناسـت یم او له چپرهاره راروان یو؛ نو په لاره کې به ستاسي په ځای کې دمه وکړو او د اختر مبارکۍ به هم هلته سره وکړو. مسلمیار صیب دا خبره بیخې نه منله او چـې راغلو؛ ویې ویل چې مـوږ اخـتر کـې خپـل کـلي تـه نشـو تللـی او تـه لاړې. د یادونې وړ ده، چې چپرهار ته تګ ما د ملي امنیت رئیس او امنیـه قومانـدان لـه مشورې په غیر وکړ او هغوی هم خوښ نـه و؛ چـې زه چپرهـار تـه تللـی وی. د هغوی تشویش پر ځای و چې دښمن په اسانۍ د حملې پلان جوړولای شو.

د چپرهار له سفر نه وروسته مې نظامي شورا کې ټولو ته وویل: چـې پـه هـر ډول ممکن وي؛ دا ولسوالي باید تصفیه کړو؛ ځکه د چپرهار تصفیه او امنیت د جلال اباد ښار په امنیت مستقیم تاثیر لري. د ملي امنیت رئیس، د نظـامي شـورا د راتلونکي اونۍ په جلسه کې د چپرهار د نیولو لپاره ډېر ښه پلان جـوړ کـړی و او ویې ویل که غلام ډاګ کې د ملي اردو بیس واچول شي، د تـریلي پـه دوه لارې کې مـلي پـولیس چیـک پاینـټ او دوه پوسـتې جـوړې کـړي، نـو دی د

چپرهار له خلکونه ۱۱۰ کسه محلي پاڅون کوونکي برابرولې شي او د تـریلي، پرکنډ او کنډې باغ سیمو کې به یې په اووه پوستو کې ځای پر ځـای کـړي. پـه دې توګه به د چپرهار ډېره برخه امن شي. همدا شان د داعش او طالبانو د تـګ او راتګ لارې به شېرمې ناحیې او د جلال اباد ښار ته قطع شي. البتـه نومـوړي وویل، چې د یادو پوستو له جوړولو دمخه یو ځل تصفیوي علمیات پکار دي.

متاسفانه د نظامي شورا د نورو غړو نظر د دغه پلان له عملي کولـو سره لکـه د لعل پورې د عملیاتو په څېر موافـق نـه و او زیـاترو ویلـې، چـې غـلام ډاګ د روسانو په وخت کې هم نه دی نیول شوی او د دغه پوستو ساتل ډېر ستونځمن کار دی. د ملي امنیت رئیس نظر دا و، چې په چپرهار کې د داعش او طالبانو د مسلحو افرادو تعداد لـه ۱۵۰ کسـانو زیـات نـه دی او بـل دا چـې د روسـانو پـه وخت کې ولسونو له حکومت نـه حمایـت نـه کـاوه او اوس ولسـونه حمایـت کـوي. امنیتـي او دفـاعي قوتونـه د دې تـوان لـري، چـې د ۱۵۰ کسـانو تصـفیه وکړي. ولسونه هم توازن ته ګوري او له عملیـاتو وروسـته د حکومـت حمایـت کوي. د ملي امنیت د رئیس نظر معقول و او مـا هغـه تائیـد کـړ؛ خـو خـبره لـږه جنجالي او په کابل کې د امنیت شورا غونډې ته ورسېده. د ملي امنیت شـورا د ۲۰۱۹م کال د جنون په ۱۲مه نېټه د ننګرهار له نظامي شورا نه زه، د ملي امنیـت رئیس، امنیه قومانـدان او د ۲۰۱ سیلاب قـول اردو قومانـدان وغوښـتل؛ څـو د چپرهار او هم د ننګرهار د نورو عملیاتو په هکلـه، چـې داعـش څـه ډول خـتم شي، خپل پلانونه هغوی ته وړاندې کړو.

په ۲۰۰۳م کال کې راتـه افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونـو د سرمنشـي خـاص استازي، لخدار براهیمي (Lakhdar Brahimi) د یوناما په دفتر کې وویل، چې دا ډېره اسانه ده، چې د افغانستان له قومونو سره کار وکـړم؛ خـو دا ډېـره مشـکله ده، چې د ملګرو ملتونو له قومونو سره کار وکړې شم. د لخدار براهیمي مطلـب د ملګرو ملتونو له ۱۵ بیلابیلو ادارو څخه و، چـې هـرې ادارې مسـتقله بودیجـه درلوده او له یو بل سره یې همغږي نه درلوده او یا یې نه کوله. په افغانستان کـې د امنیتـيادارو همـدا حـال دی، چـې هـره اداره جـلاء بودیجـه، امکانـات او

تشکیلات لري او هره امنیتي اداره غواړي، چې خپل استقلالیت وساتي، په خپله خوښه کار وکړي، د لاسته راوړنو کریدیت واخلي او د ناکامۍ ملامتیا په نورو واچوي. حتی په ګڼو مواردو کې یې د جګړې په ډګر کې د یو د بل حمایت نه کاوه؛ که د یوې امنیتي ادارې په یوه پوسته به جنګ و، د بلې ادارې د نږدې پوستې کسانو به له هغې حمایت نه کاوه. په ځینو وختو کې به داسې هم کېدل، چې د یوې امنیتي ادارې محلي مسؤلینو له مخالفینو سره پروتوکول درلود، چې د دوی په پوستو به حمله نه کوي اوپه مقابل کې به دوی هم د بلې امنیتي ادارې د پوستو حمایت نه کوي. یا به داسې هم و، چې مخالفینو او محلي پوستو مسؤلینو به د قاچاق او نورو ګټو لپاره سره همغږي درلوده.

کله چې د امنیت شورا ته ورغلو، د امنیت شورا دایمي غړي چې ټول مو نږدې ملګري او له کلونو راهسې مو سره پیژندل، موجوو و. د ننګرهار د نظامي شورا په استازیتوب ما یو څو خبرې وکړې او ورته ومې ویل، چې د ملي امنیت د رئیس پلان سم دی او د نقشې پر مخ هغه خپل پلان شریک کړ. ملي پولیسو او ملي اردو هم د نقشې پرمخ جدا جدا پلانونه جوړ کړي و. په غونډه کې د ننګرهار مسئله پاتې شوه او د امنیت شورا مشران په خپلو منځو کې د امنیت په عمومي تګلاره او د قواو د استعمال په هکله سره اختلاف درلود او خبره مشاجرې ته ورسېده. په دې وخت کې ما په خندا کې وویل، چې له بده مرغه په افغانستان کې مشکل څکه نه حل کېږي، چې موږ د یو بل په مقابل کې حیا حضور لرو او په اصلي مسایلو او مشکلاتو خبرې نه کوو. که رښتیا ووایم موږ یو څه جوړ راغلي و، خو ستاسې حالت مو چې وکاته، موږ مو نور هم خراب کړو. موږ فکرکاوه، چې تاسې به راته د حل لار وښیئ، خو تاسې موږ نور هم په مشکل کې واچولو. د ملي دفاع وزیر اسدالله خالد، د ملي امنیت رئیس محمد معصوم ستانکزي او د کورنیو چارو ارشد معین جنرال خوشال سادات وویل، چې ته د نظامي شورا رئیس یې او هر پلان چې تا تائید کړ، هغه موږ تائیدو او حمایت یې کوو. فیصله په همدې وشوه، چې په یوه اوونۍ کې به

موږ د ننګرهار د امنیت، د داعش د ختمېدو، د ټاکنو او د خپلواکۍ د سلمې کالیزې او د جلال اباد ښار د امنیت په هکله یو جامع پلان، چې وخت او زمان پکې قید وي، ترتیب او د منظورۍ لپاره د امنیت شورا ته ولېږو.

کله چې بېرته راغلو، په یوه اوونۍ کې مو یو جامع پلان ترتیب او امنیت شورا ته ولېږه. د دې پلان حمایت په ختیځ کې د قاطع ملاتړ د قوماندان جنرال ډان هیل لخوا هم وشو؛ ځکه د هغوی مرسته د داعش پرضد د هوایي قواو او ای اس ار د استعمال په برخه کې اړینه وه. د امنیت شورا له دغه غونډې وروسته موږ بیا هېڅ مسئله یادې شورا ته یو نه وړله او ټول مسایل مو په خپلو منځو کې حل کول. د چپرهار د عملیاتو په تړاو زما عجله د دریو مؤخو لپاره وه. لومړی د جلال اباد ښار په امنیت یې تاثیر درلود، دویم د استقلال د سلمې کالیزې مراسمو لپاره موږ په جلال اباد ښار او ولسوالیو کې یو لوی پلان درلود، چې په ښه توګه تر سره شي او د دې لپاره د جلال اباد ښار امنیت نهایت مهم و او درېیم د ټاکنو د امنیت لپاره هم موږ امنیتي توسعې ته اړتیا درلوده.

د جون د میاشتې په شپاړسمه په نظامي شورا کې فیصله وشوه، چې د پرکن، تریلي او غلام ډاګ سیمو کې به ملي امنیت، ملي پولیس او عامه نظم درې بیسونه جوړوي او په هر بیس کې باید دېرش کسه وي. د جون په ۱۹نېټه باید د ولسوال په شمول مشترک هئیت سیمې ته ولېږدول شي؛ څو تصفیوي عملیاتو او د بیسونو د جوړولو لپاره ځایونه مشخص او GPS کړي. د نظم عامې قوماندان جنرال نصیر ساپی، د سرحدي قواو قوماندان جنرال محمد ایوب حسین خېل، د ملي امنیت ریاست لومړی مرستیال جنرال نورحیدر سادات او امنیه قواماندان ډګروال رقیب مبارز چې نوي تعین شوي و، کله چې ټول سیمې ته رسیږي، د طالبانو له کمین سره مخامخ کیږي. په دغه کمین کې د سرحدي قواو یو کس شهید کیږي. د طالبانو یو مشهور سر ګروپ د خطر په نامه هم په دغه جګړه کې وژل کیږي. که څه هم د دغه سفر هدف د ساحې تصفیه نه وه، خو له همدغې ورځې تصفیوي عملیات او د پوستو جوړول پیل شول. تقریبا یوه میاشت وخت یې ونیوه، چې د چپرهار د څلورو حصو نه درې حصې

تصفیه، بیسونه او د محلي پاحون کوونکو لپاره پوستي جوړې شوې. له لومړي کمین وروسته نوره هېڅ جګړه ونه شوه او د غلام ډاګ په سیمه کې چې د طالبانو مهم مرکز و، د نظم عامې بیس واچول شول. روداتو ولسوالۍ ته غزېدلې لار، چې له کلونو راهیسې بنده وه، بېرته خلاصه شوه. د غلام ډاګ له لارې د جلال اباد ښار نه روداتو ولسوالۍ ته نیم ساعت لاره ده او د خلکو لپاره د تګ او راتګ یو لوی سهولت برابر شو. د ملي امنیت مخکنی اټکل چې شاید په چپرهار کې ۱۵۰ کسه د داعش او طالبانو وي، له هغه ارقامو د داعش او طالبانو موجودیت ډېر کم و. د دواړو ډلو ټول جنګي قوت د ۴۰-۵۰ کسانو نه زیات نه و . دغه لږ کمیت د چپرهار، روداتو ولسوالي، شېږمه ناحیه او د جلال اباد ښار له کلونو راهیسې نا ارامه کړی و. د یادونې وړ ده، چې د چپرهار له خلاصېدو او تصفیې سره ډېرې کورنۍ بېرته خپلو سیمو ته ستنې شوې. همدا شان په وروستیو درې - څلورو میاشتو کې په بېلابېلو ولسوالیو کې له تصفیې او امنیت د ښه کېدو وروسته، په زرګونو کورنۍ چې د جنګونو له امله جلال اباد ښار ته کډه شوې وې؛ بېرته خپلو ځایونو ته لاړې او له دې سره تقریباً د جلال اباد په ښار کې د کورنو کرایه دیرش سلنه راکمه شوله.

د دې لپاره چې د خلکو اعتماد نور هم زیات شي، د ۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په ۲۴مه نېټه مو له نظامي شورا سره یو ځای د چپرهار ولسوالۍ ته سفر برابر کړ. د چپرهار د لېسې په ودانۍ کې مو یوه لویه غونډه چې زرګونو کسانو په کې برخه درلوده جوړه کړه. د دغه لېسې پخوانی مدیر شهید عظیم خان د پېښور د کچه ګړۍ په کمپونو کې له موږ سره یو ځای اوسېده او هم د بلجیم په کمېټه کې زموږ شاګرد پاتې شوی و. متاسفانه عظیم خان هم د داعش لخوا د کور په مخکې شهید شوی و نو لومړی مو د هغه روح ته دوعاء وکړه. په دغه غونډه کې وکیل عبدالروف شپون، وکیل نبي الله باز، د ننګرهار د بېلابېلو ادارو رئیسانو او د چپرهار مشهورو سپینږیرو او علماوو لکه مولوی محمد رویان حقاني، مدیر فیض الله، محکم خان دولتزي اونورو هم ګډون

کړې و. د رسنيو استازو هم شتون درلود او د غونډې ټول مراسم د فيسبوک له لارې په ژوندۍ بڼه خپرېدل، چې دغه نشراتو د طالبانو او داعش تبليغات ختم کړل او د خلکو اعتماد په ولايتي اداره نور هم زيات شو. په دغه سفر کې د ۲۰۱ سيلاب قول اردو نوی قوماندان تورن جنرال عبدالهادي ترين هم زمونږ ملتيا کوله.
د چپرهار ولسوال حاجي محمد صديق وويل: چې په تېرو ۱۸ کلونو دلته داسې غونډه او دومره کسان راجمع شوي نه دي او دا د چپرهار د ولسونو لپاره لکه د استقلال د جشن په شان ده. په غونډه کې د لېسې زده کوونکو ښايسته ترانه هم وويله، چې مقطع يې وه:
مايې نوم په زړه ليکلی
زمونږ خوږ افغانستان دی
له هرڅه نه راته ګران دی
زما روح او ځان دی
د انکشافي شورا رئيس ملک محکم خان دولتزي وويل: چې پخوا چپرهار ته په هليکوپترونو کې خلک راتلل او اوس چې دا سيمه تصفيه شوې، په يوه رينجر کې تګ او راتګ پيل شوی دی. دا چې دا سيمه جنګ ځپلې وه، د ټولو غوښتنې د مکتب، سرک، پلچک او نورو پروګرامونو د پلي کولو په هکله وې. مولوی محمد رويان حقاني د علماو په استازيتوب خبرې وکړې او ويې ويل چې زه د خپل هېواد د سپي د وژلو حکم هم نه کوم او د خپل هېواد والي او جنرال ته سل وارې هرکلی او ستړي مشي-وايم. د افغانستان خلک د حضرت عثمان رضی الله عنه په وخت کې مسلمانان شوي دي، دلته اسلام څه نوې خبره نه ده؛ لکه دا ځيني چې د اسلام له نوم نه ناوړه استفاده کوي. مولوي حقاني وويل؛ چې د اختر په لمونځ کې مې سوال وکړ؛ چې خدايه سوله راولې او له دې خبرې سره د مولوی صيب حقاني له سترګو اوښکې روانې شوې او د غونډې ټول ګډون کوونکي يې وژړول. مولوي حقاني وويل: چې يو څوک ستا په کور راځي او درسره جنګ کوي بايد مقابله يې وکړې؛ که يې مړه کړلو

شهیدان یو او که هغه مړ شو قاتل دی. یوویشت کاله کېږي، چې زه دلته یم؛ مګر ما د والي داسې راتګ نه دی لیدلی، چې ولسونه یې حمایت وکړي او داسې لویه غونډه جوړه شي. دا د چپرهار لپاره د ښو زیرې دی او ټول باید د حکومت او امنیتي قواو حمایت وکړو.

قومي مشر او پخوانې صاحب منصب، مدیرفیض الله چې ښه مقرر دی، په خپلو خبرو کې یې وویل چې: چپرهار سنګین او موسی قلا وه او زه ترې تښتېدلې وم. اوس په جلال اباد کې د ګلپیانو په پټي کې پروت یم او دا دی نن له کلونو وروسته دلته راغلي یم. هغه وویل چې: نن په جامو کې نه ځاییږم او د خپلې خوشالۍ اظهار په سمه توګه نشم کولی. نوموړي زیاته کړه، چې موږ له یو جومات څخه بل جومات ته تللي نشولو او د مړو دوعاګانې مو نشوې اخیستلی. د چپرهار د محکمې قاضي به په ولایت کې ناست و او هلته به یې ټاپې لږولې؛ خو اوس دلته ناست دی. وکیل عبدالروف شپون وویل چې: د چپرهار سپین جومات او ماڼو سیمه لا امن نه ده او که هغه ته توجه وشي؛ نو ښه به وي څو ټول چپرهار تصفیه شي. چپرهار په درېو ټکرونو تقسیم شوی دی چې اول ټکر، منځ ټکر او اخر ټکر. وکیل نبي الله باز هم خبرې وکړې او ویې ویل چې: پخوا به له چپرهار څخه سل ګونو کسان پوهنتونو ته کامیابېدل؛ خو اوس ترې سره قلا جوړه شوېده. په دغه غونډه کې د قول اردو قوماندان، د امنیت رئیس او د امنیې قوماندان هم خبرې وکړې.

د RS هلیکوپترونو او ای اس ار (هوایي کشفي بالون) د چپرهار او زموږ د غونډې په ځای ګزمې وهلې او څارنه یې کوله؛ ځکه د ځانمرګي حملې احتمال نهایت زیات و. د سهار له خوا دا راپور و، چې یو تور رنګه کرولا تیاره شوې چې د جلال اباد ښار یا په لاره کې زموږ په قطار باندې ځانمرګي حمله وکړي. کله چې زما د خبرو وخت رانږدې شو، د غونډې نه لږ لرې په دوه ځایونو کې ماینونه کشف او خنثی شول. د ماینونو د انفجار ورکولو نه د مخه، د ملي امنیت د جلال اباد ښار مسؤل، سید حکیم خبر راکړ، چې پر لاره مو

ماینونه کشف کړی او انفجار ورکوو، خلکو ته احوال ورکړئ، چې اندېښنه ونه کړي. د ماینونو د انفجار اواز د غونډې په ځای کې واوریدل شو، خو هېڅوک له ځایه ونه خوځېده، په همدې وخت کې د ملي امنیت رئیس چې زما څنګ ته ناست و، راپور راکړ، چې کوم ځانمرګی د غونډې ځای ته داخل شوی او یا داخلیږي او هم دوه ځانمرګي د لارې لپاره تعین شوي دي، چې زموږ په قطار حمله وکړي، څه وکړو؟ ما ورته وویل چې غونډه مختل کولی نشو؛ ځکه د غونډې پروګرام د فیسبوک له لارې په ژوندې بڼه خپریږي. که د غونډې ګډون کوونکو ته دا خبره وکړو؛ نو سمدستي منډې پیل کېږي او د زیاتې ګډوډۍ احتمال شتون لري او حتی د مسلح برخورد امکان شته دی. که خلک وکاږواو بیا د غونډې د ګډون کوونکي تالاشي کوو؛ بیا هم ګډوډي جوړیږي، د غونډې اهمیت له منځه ځي او دښمن ته مورال ورکول کېږي. هغه ته مې وویل، چې چاته څه مه وایه، ښه به دا وي، چې ته ووځې او له بیرون نه لازم تدابیر ونیسې. که څه پېښیږي؛ نو یو کس د نظامي شورا باید بیرون وي، چې حالات کنترول کړي. همدا شان د بیرته تګ لپاره په لاره کې هم لازم تدابیر ونیسئ. د ملي امنیت رئیس د غونډې له ځای څخه ووت او موږ خپل پروګرام ته دوام ورکړ. په داسې یوه لویه غونډه کې او همدارنګه د امنیتي ادارو د بې شمېره سربازانو ترمنځ د دوست او دښمن توپیر هم ستونځمن وي؛ ځکه زموږ په قواو کې هغه نظم او دسپلین لا نشته، چې هر څوک خپل ځای او مسؤلیت ته متوجې ووسي.

په خپل خبرو کې مې خلکو ته ډاډ ورکړ، چې دا ځل یوازې د غونډې په خاطر نه یو راغلي، بلکې تاسي ګورئ چې د محلي پاڅون کوونکو، اردو او ملي پولیسو بیسونه تقریبا مخ په جوړېدو دي. د چپرهار د سپین جومات او مانو په سیمه کې به هم د محلي اردو یو ټولی ځای پر ځای شي، چې ټول چپرهار امن شي. طالبانو او داعش دغه سیمې ته چې د علم او ادب سیمه وه، پرته له بربادۍ او وحشت څخه بل څه نه دي راوړي. که چپرهار موسی قلا نه وه؛ خو سره قلا یې درلوده او دوی هر نوع وحشت هلته کړی دی. هیله مې له

ولسونو دا ده، چې د امنیتي او دفاعي قوتونو ملاتړ وکړي؛ څو بیا طالب او داعش سر پورته نه کړي، که ولس ملاتړ ونه کړي، یوازې امنیتي او دفاعي قوتونه نشي کولای چې په دې سیمه کې امن راولي. که د ولس حمایت نه وی، موږ نشو کولای، چې دلته په دومره لویه کچه راټول شوي وای، انشاالله چې امن به راځي، انکشافي پروګرامونه به یو د بل پسې عملي کېږي. د اقراء پروګرام له لارې مو ۴۲ ښوونځیو ودانۍ چېرهار ته منظور کړي او په ۱۳۹۹ل کال کې به د ۳۲ ښوونځیو په ودانیو باندې عملاً کار پیل شي.

که څه هم ځان ډېر خوږ دی؛ خو له ځان څخه مې د غونډې ګډونکو ته زیاته اندېښنه وه، ځکه موږ غوښتل چې دوی ته امن راولو او که خدای ناخواسته کومه پېښه شوي وی، نو بیا د دې جبران اسانه نه و. کله چې غونډه ختمه شوه، امنیتي مسؤلینو ته مې وویل، چې تر څو د غونډې ګډون کوونکي خواره شوي نه وي، په لارو او ټوله سیمه کې خپل امنیتي تدابیر وساتئ او هم مې له RS سره اړیکه ونیوه، چې هوايي ګزمو ته دوام ورکړي او زموږ موټرې تعقیب کړي؛ ار اس ته مې وویل چې موږ غواړو، چې د غلام ډاګ سیمې ته لاړ شو او هم د یو مکتب د ودانۍ د تهداب ډبره کېږدو. امنیتي قطار مو څلور تقسیمه کړ او د هر قطار په راس کې مو د سرحدي، نظم عامې، پولیسو او امنیت ملي مشران وټاکل چې نظم مراعات کړي او نورې موټرې د قطار په منځ کې داخلې نشي. د نظم عامې قوماندان، امنیه قوماندان، ولسوال او زه د غلام ډاګ په طرف وخوځېدو، چې د ولسون نور هم اطمینان حاصل شي او هلته مو د عامه نظم بیس وکاته، د غونډې او خوړونو په منځ کې له ولسوالۍ نه د غلام ډاګ په طرف تګ له خطر سره مخ و، خو بیا هم کومه پېښه ونه شوه او هلته مو د عامه نظم له سربازانو، بریدملانو او افسرانو سره وکتل. د غلام ډاګ په سیمه کې د سرک له شا او خوا دوکانونو سره ودرېدو او له خلکو سره مو خبرې وکړې او ټول زیات خوشاله و. په بېرته راتګ کې مو د للمې په سیمه کې د رحمت اباد د فامیلو د نجونو ښوونځي د ودانۍ د جوړېدو ډبره کېښوده. اکثرو

راته ویلې، چې غلاګ ډاګ ته زما ورتګ زیاته روحیه خلکو ته ورکړه. طالبانو د ښېرزادو له حملې وروسته خپله روحیه بایللې وه، خو داعش هم له همدې ورځې وروسته په ننګرهار کې له شکست سره مخ شو او وروستي امنیتي پلانونه مو په نورو سیمو کې یو د بل پسې په ښه توګه عملي او د ولس حمایت مو ورځ تر بلې لاسته راوړه.

د چپرهار له تصفیې وروسته د جولای د میاشتې په ۲۵مه نېټه راته د ملي امنیت ریاست رسمي خبر راکړ، چې داعش غواړي د ننګرهار د والي په کور، دفتر او امنیت ملي په ریاست باندې یوه مغلقه حمله ترسره کړي او باید لازم تدابیر ونیول شي. د قصر ملا امام، قاري امیر جان هم د تهدید لاندې دی او باید احتیاط وکړي. د دغه حملې لپاره یو موټر بمب برابر شوی دی. د ولایت په شاوخوا کې مو امنیتي تدابیر نور هم قوي کړل او خوشبختانه موټر بمب د صفر دوه قطعې لخوا د مرکیخیلو په سیمه کې له منځه یوړل شو. قاري امیرجان ته مو هم وویل، چې یوازې د جمعې په ورځ امامت ته راځه او دوه درې اوونۍ احتیاط وکړه.

## سره رود او خوګیاڼو ته توجو

لکه مخکې مې چې وویل، موږ د خپل امنیتي پلان په اساس وړاندې تللو او په ننګرهار کې د جنګ مسیر موږه تعینولو ځکه مخکې عملیات د طالبانو او داعش د حملو د عکس العمل په بنیاد تر سره کېدل او دا دفاعي او پسیف حالت و. پدې توګه مو د ننګرهار امنیتي او دفاعي قواوې له دفاعي حالت څخه تعرضي حالت ته واوښتې او د شورش ضد فرمولې ( Clear, Hold and Build) چې تصفیه، ساتل، انکشاف او توسعې ته مو دوام ورکړ.

د ننګرهار د شپږو میاشتو امنیتي پلان په اساس مو له چپرهار وروسته توجه د ننګرهار لویدیځې خوا خوږیاڼو او سره رود ولسوالیو ته ځکه واوښته، چې د چپرهار د وضعیت له ښه کېدو وروسته اکثره جنایي ګروپونو او اختطافچیانو به د سره رود سیمې ته تښتېدل او هلته د مخالفینو او د جنایات کارانو ځاله تقویه

کېده. د سره رود ولسوالۍ د ککړک، بړینې، باغباني، کړسو، بالا باغ، سلطانپور، ځرخیلې او همداسې د چمتلې او تورغر پورې سیمې د حکومت په لاس کې نه وې او په دغه سیمو کې د طالبانو مراکز او فعالیتونه موجود و. دوی په ازادانه ډول له دغه سیمې شیرزداو او خوګیاڼو ولسوالیو ته تګ او راتګ کولای شو. د سره رود ولسوالۍ یوازې د ولسوالۍ شاوخوا سیمې او د اوومې ناحیې مربوط سیمې د حکومت په کنترول کې وې، د خوګیاڼو ولسوالۍ پورې یوازې توره لیکه د حکومت په لاس کې وه. د مملې باغ په طرف تګ او راتګ ډېر کم و او یوازې د مملې په باغ کې محلي پولیس او د عامه نظم عسکر د باغ د ساتلو په خاطر موجود و. د مملې باغ په شاوخوا کلیو کې طالبانو نفوذ درلود. له خوګیاڼو ولسوالۍ سره نږدې د قیلوغو سیمه، چې د ولسوالۍ تقریبا په دوه درې کېلومترۍ کې پرته وه؛ هم د حکومت په کنترول کې نه وه. له قیلوغو نیولې تر زاوې او همداسې نکوړخېلو او هاشم خیلو پورې ټولې سیمې د طالبانو په کنترول کې وې. د وزیرو تنګی د داعش په کنترول او نفوذ کې و. د شېرزادو او حصارک ولسوالیو تر منځ طالبانو په ازادانه ډول تګ او راتګ کاوه. په دغه وخت کې د خوګیاڼو له ۱۳ قریو څخه پنځه یې د طالبانو په لاس کې وې. د شېرزادو له حملې وروسته، داعش ډلې د وزیرو تنګی له طالبانو څخه ونېوه او حتی د شېرزادو د وډیسار پورې پرمختګ یې وکړه.

دا چې د سره رود ولسوالۍ اهمیت راته معلوم و، چې د دغه ولسوالي امنیت د جلال اباد په ښار مستقیم تاثیر لري؛ نو د ولایت د دندې له پیل سره په دې فکر وم، چې دغه ولسوالۍ ته باید څوک تعین شي؟ د سره رود لپاره باید داسې یو کس ولسوال وټاکل شي، چې د جنګ په مسایلو وپوهیږي، له ولس سره رابطه وساتي او هم د محلي زوراکانو مقابله وکړای شي. د سره رود په ولسوالۍ کې د امنیتي ستونځو تر څنګ، د زمکو غصب زیات و او د محلي زورواکانو راج چلېده.

که څه هم د پچیر و اګام ولسوال قاري هجرت الله رحماني مې دمخه له نږدې نه پېژندنه، خو د بېلابېلو دوستانو او د ولایتي ادارې له مشرانو سره تر مصحلت وروسته مو لازمه وګڼله، چې هغه د سره رود ولسوالۍ ته تبدیل کړو. باید ووایم، چې قاري هجرت الله رحماني په خپل وخت په پچیر و اګام ولسوالۍ کې مؤثر و، خو دا چې یو کس ډېر وخت په خپله سیمه کې تیر کړي، خامخا له محلي ستونځو او رقابتونو سره مخ کیږي، نو اړینه وه، چې تبدیل شي. مخکني ولسوال سید علي اکبرسادات په دغه ولسوالۍ کې نږدې اته کاله تېر کړي و، صحي وضعیت یې هم ښه نه و او لږ ارامه کس و؛ نو باید په عوض یې بل کس تعین شوی وی. هغه مو روداتو ولسوالۍ ته تبدیل کړ؛ ځکه منظوري یې هماغلته وه. باید زیاته کړم، چې په لومړیو کې د نوي ولسوال له ټاکل کېدو سره یو شمېر خلکو مخالفت کاوه، خو ما ورته وویل، چې اوس مو مقرر کړی دی او دا تصمیم تغیر کولې نشم. په حکومتولۍ کې که د یو تصمیم نه په شا شولې، بیا ډېر وروستي تصامیم نشي عملي کولې. هماغه و چې نوې ولسوال مې پخپله معرفي کړ.

په نظامي شورا کې د معمول په شان له بحثونو او ضد و نقیضو خبرو وروسته، دا تصمیم ونیول شو چې د باغبانی، ښرخیلې او چمتلې په سیمو کې باید امنیتي پوستې واچول شي؛ پدیتوګه به د شېرزادو او خوګیانو له ولسوالیو سره د طالبانو د تګ او راتګ مخه سره رود ولسوالۍ ته بنده شي. د اګست په ۲۵مه نېټه تصفیوي عملیات د سره رود او هم د کندک په سطحه خوګیانو ولسوالۍ کې پیل شول. د سپتمبر په دویمه نېټه د نظامي شورا له غړیو او ولسوال سره یو ځای ښرخیلې او باغبانیو سیمو ته لاړو؛ څو د امنیتي پوستو کارونه له نږدې وګورو. د بېرته ستنېدو پرمهال مو د باغبانیو په سیمه کې د مهشور ډیپلومات، شاعر، لیکوال او ادیب، عبدالرحمن پژواک د مقبرې زیارت وکړه. باغبانیو ته زه پخوا هم د عبدالرحمن پژواک له وراره، برمک پژواک سره تللی وم، چې نوموړی مې په ملګرتیا سربېره د متحده ایالاتو د سولې په انستیتوت کې همکار هم و. له بده مرغه دا ځل وضعیت دلته بل رقم و. د نا

امنیې له وجهې هیڅوک نه ښکارېدل، باغ ځنګل شوی و، په لوی قلاګانو کې خال خال کسان لیدل کېدل. د کرسو او سلطانپور په لاره بېرته جلال اباد ته راغلو؛ د عملیاتو په ترڅ کې مو د برني په جامع جومات کې د طالبانو د چسپکي ماینونو یوه فابریکه پیدا او هغه له منځه یوړله. د دغه فابریکې له منځه وړولو وروسته، د جلال اباد په ښار او حتی په لغمان او کابل کې هم د چسپکي ماینونو حملې کمې شوې. په همدې وخت کې یو شمېر منفي پالو او بې تحلیله کسانو تبلیغ کاوه، چې د ولسوالیو امنیت پکار نه دی؛ باید د جلال اباد د ښار امنیت ونیول شي. دوی په دې نه پوهېدل، چې د داعش او طالبانو رهبري په ولسوالیو کې وه. هغوی له ولسوالیو په جلال اباد ښار، ګاونډیو ولایتونو او حتی د کابل پورې عملیات پلان او تنظیموي. که په راتلونکي کې هره اداره غواړي چې د جلال اباد امنیت وساتي، باید د جلال اباد د شاوخوا ولسوالیو امنیت ټینګ کړي کنه دا ممکنه نه ده چې د جلال اباد په ښار کې دې امن وي. که تروریستي حملې او جنګونه هم نه وي، بیا هم د سازمانیافته جنایي ډلو په وړاندې په مبارزه کې هم د جلال اباد شاوخوا ولسوالیو کې حاکمیت د جلال اباد د ښار لپاره مهم دی.

په همدې وخت کې د ملي امنیت ریاست د لس زره کېلو ګرامو په اندازه انفجاریه مواد د باریکاو له ساحې سره د مخکنۍ اطلاع په اساس ونیول. دا انفجاریه مواد د خیبر پښتونخوا د چیراټ د سیمنټو په فابریکه کې د سیمنټو د خلطو پشان پیک شوی و. د چیراټ د سیمنټو فابریکې مدیریت او کنټرول د پاکستان د اردو په لاس کې دی. همدا شان د شپږ سوه کیلوګرامو په اندازه د صوتي بمونو مواد او امونیم نایتریټ د جلال اباد ښار په یوه سرای کې ونیول شول. سرای وان او چوکیداران یې تښتیدلي و او تر ډېره وخت پورې هیڅوک سرای ته د خپلو نورو مالونو پسې نه راتلل او سرای امنیتي کسانو ساته. د دغه موادو له نیولو وروسته د صوتي بمونو د چاودنو لړۍ هم د جلال اباد په ښار کې ډېره راکمه او له نشت سره حساب شوه.

د ننګرهار د امنیتي قواو د پلان او عملیاتو له وجهې، طالبانو او داعش د پسرلي او اوړي په جنګي موسم کې ونشو کړای، چې یوه پوسته هم له حکومت نه ونیسي او یا یو قدم پرمختګ وکړي؛ بلکې موږ د دوی نفوذ په بټې کوټ، کوټ، مهمندرې، نازیانو، غني خېلو، لعل پورې، هسکې مېنې، چپرهار، خوږیانو، شېرزادو، پچیر و اګام، اچین/سپین غر او سره رود ولسوالیو کې ډېر راکم او په زیاتو ولسوالیو کې په بشپړه توګه له منځه یوړه.

د ۲۰۱۹م کال د جون د میاشتې په ۲۳مه نېټه، چې د سرطان د میاشتې له دویمې نېټې سره یې سمون درلود، د خوګیانو او سره رود ولسوالیو له ولسونو سره د لیدنو په خاطر مې سفر وکړ؛ په دغه سفر کې له ما سره د ننګرهار د امنیې او د څلورمې پلې لوا قوماندانان ملګري و.؛ زموږ پلان دا و، چې سهار به خوګیانو ولسوالۍ ته لاړ شو او ماسپښین به په سره رود ولسوالۍ کې له ولسونو سره وګورو. کله چې د سره رود ولسوالۍ له مرکز نه تېر شولو، د ننګرهار د ملي امنیت ریاست لومړي مرستیال سید نورحیدر سادات راته تلیفون وکړ، چې د کابل د امنیت شورا د نصرت مرکز نه امر شوی دی، چې هر چېرته استئ بیرته له هماغه ځای راوګرځئ او مخکې حرکت ونه کړئ. د څلورمې لوا قوماندان جنرال عبدالکریم نیازی له ما سره په موټر کې و؛ څلور پنځې دقیقې د سرک پر سر له لوی قطار سره ودرېدو چې څنګه تصمیم ونیسو. بېرته مې سادات صیب ته تلیفون وکړ، چې مسئله سیاسي ده که امنیتي؟ سادات صیب وویل چې: اوس له کابل څخه د اطلاع تفصیل راورسید، سیاسي نه ده، بلکې امنیتي ده. له خوګیانو ولسوالۍ دمخه د قیلغو په سیمه کې تاسي ته طالبانو کمین نیولی دی؛ نو ورتګ مو ښه نه دی. ما ورته وویل: چې مسئله امنیتي ده، نو موږ پرې ورغللو؛ ځکه چې هلته په ولسوالۍ کې ولسونه خبر شوي دي؛ که بېرته ستنیږو؛ نو له دې سره د خلکو روحیه وژل کېږي او د طالبانو روحیه پیاوړې کېږي، نو زمونږ تګ حتمي دی.

جنرال نیازي هم راته وویل چې دوی کافي قوت لري او ترتیبات نیولی شي. هماغه و، چې د خوګیانو په طرف مو حرکت وکړ؛ د خوګیانو ولسوال او

نظامي شورا غړیو ته مو خبر ورکړ؛ چې زموږ له راتګ دمخه د لومړي کنډک قرارګاه ته ځانونه ورسوئ. قیلغو ته نارسیده، د ملي اردو د کندک په قرارګاه کې مو د خوګیاڼو له نظامي شورا سره ناسته وکړه. داسې مو وانمود کړه، چې موږ د کندک په قرارګاه کې له سرتېرو سره ګورو. له نظامي شورا سره د ناستې وروسته مو عاجل د لومړي کندک قوماندان جګړن رسول خان په مشرۍ پلان جوړ کړ، چې کومې قواوې چې مجهزې سلاوې لري، باید د قیلغو په سیمه کې د کمین د له منځه وړولو لپاره عملیات تر سره کړي. د دغه عملیاتو لپاره یو بلوک ضربتي مخکې لاړو؛ چې دښمن متلاشي کړي او بیا موږ ورپسې حرکت وکړ؛ د دغه عملیاتو په نتیجه کې طالبانو د سرک او ولسوالۍ له ساحې څخه لرې شوي و. کله چې د قیلغو ساحې ته ورسېدو، طالبانو له لرې څخه راکټونه او هاوانونه وویشتل، خو امنیتي قواو هم پرې متقابل ډزې وکړې. طالبان په کافي اندازه له ساحې لرې شوي و او د هغوی مرمۍ زموږ ساحې ته نه رارسیدلې، چې په دې توګه هغوی ونه توانېدل، چې خوګیاڼو ولسوالۍ ته زموږ د ورتګ مخه ونیسي.

لومړۍ مو په ولسوالۍ کې د ملکي مامورنیو سره اداري مجلس وکړ او وروسته مو له خلکو سره وکتل. د خوګیاڼو ولسونه ډېر خوشاله شول، چې موږ سفر لغو نه کړه، د انکشافي شورا مشر الله نظر وویل چې د نا امنۍ له وجهې په خوګیاڼو کې فقر زیات دی او انکشافي کارونو ته باید توجو وشي. قومي مشر-ډګروال میرزمان وویل چې له خوګیاڼو سیمې خلکو بو جوړ کړي ده؛ خو بو درک نشته. د دې سیمې دښمنان هسې هوایي ډزې وکړي او بیا ورک شي. د خلکو لویه غوښتنه د ابکو صیب، د سرمې او بر بیار د پلونو جوړول و؛ ما هم په خپلو خبرو کې وویل، چې د ډګروال میرزمان خان په خبره چې ببو شته اما ببو نه ښکاري، موږ ته هم پر لاره وویل شول، چې دلته د ببو له ویرې رانشو خو موږ راغلو او ببو درک نه لري. د ابکو صیب او د سرمۍ پلونو د جوړولو وعده مو له ولسونو سره وکړه او همداشان د اقراء د پروګرام له لارې، د ۲۸ ښوونځیو د

جوړولو وعده وکړه. له غونډې وروسته، د کبړې په بازار کې وګرځېدلو، له دوکاندارانو او خلکو سره مو خبرې وکړې اوهم مو د کبړې له بازار سره نږدې د یو ښوونځي د ودانۍ جوړولو ډبره کېښوده. دا چې موږ له ځان سره د رسنیو کسان نه و بیولي، نو د دغه کمین په هکله مو خبر خپور نه کړ. که څه هم ډېرو رسنیو پوښتنه وکړه، خو موږ ورته وویل چې څه خاص خبره نه وه او په دې توګه خوګیاڼو ولسوالۍ ته زموږ ورتګ د طالبانو لپاره د شکست او ضعف نښه شوه.

په بېرته راتګ کې مو د سره رود ولسوالۍ کې له خلکو سره وکتل. د امنیتي ادارو او ولسوال په قول، په دغه وخت کې د سره رود ولسوالۍ له ۸۸ قریو څخه ۲۲ قریې د طالبانو په لاس کې وې، د قومي شوراګانو په استازیتوب ملک اکرم خبرې وکړې، د خلکو ستونځې په ټولو ولسوالیو کې یو شان وې؛ زیاترو د مکتوبونو، کلینکونو، سرکونو، برق او زراعتي پروګرامونو غوښتنه کوله. د سره رود په سیمه کې مهمه مسئله د کابل - جلال اباد د دویم سرک د لومړي فیز جوړول و، چې قراردادي شرکت د محلي قراردادیانو نه تقریبا شپږ لکه ډالره قرضداری و او هغه قرض یې نه ورکاوه. تقریبا له څلور کلونو راپدېخوا دا قرارداد نه عملي کېده، اکثره پلچکونه نیمګړي پاتې و او ماشنیري یې له ولسوالۍ سره نږدې د سرک پر سر له کلونو راهیسې ودرولې وه؛ چې د دې پروژې نور تفصیل به پراختیایي برخه کې ورکړل شي.

په دغه غونډه کې سید احمد فاطمي د انکشافي شورا او برهان الدین سیرت د مدني ټولنو په استازیتوب خبرې وکړې. ټولو ولسوالیو ته چې ما سفر کاوه، له خلکو سره مې وعدې نه کولې او د هغه څه وعدې مې کولې، چې عملي بڼه یې درلوده، ځکه په تېرو کلونو کې چارواکو له خلکو سره زیاتې وعدې کړې وې او خلکو د چارواکو په وعدو اعتبار نه کاوه. د حکومتولۍ لپاره د خلکو په منځ کې د چارواکو د خبرو اعتبار زیات اهمیت لري او تر ډېره حده د خلکو په منځ کې ما دا اعتبار تر اخره وساته.

د ۲۰۲۰م کال د اپریل په دولسمه نېټه خوګیاڼو ولسوالۍ ته د ویم ځل لپاره ورغلم او هغه وعده مې چې له ولسونو سره د ابکو صیب او هم د سرمې د پل جوړولو په اړه کړې وې پوره کړه. د ابکو صیب د پل افتتاح مو وکړه. کله چې د خوګیاڼو ولسوالۍ ته ورسېدو، د خوګیاڼو د ولسوال او امنیه قوماندان موټرې له موږ نه دمخه رواني وې، د پاخه سرک عمومي لار یې پرېښوده، ځکه دا لاره ډېره خرابه وه. تقریباً د لسو دقیقو لار مو په یوه ساعت کې طی کړه، څو د ابکو صیب پل ته ورسېږو، په اکثرو ځایونو کې هاموي ټانګونه په اسانۍ تېرېدای نه شو، د ابکو صیب په زیارت کې د ښارویو مېله هم وه او ډېرو کسانو ولیدو چې د پل د افتتاح لپاره راغلي یو.

د ابکو صیب له پل سره د خوګیاڼو یو شمېر مشران او د محلي پاڅون کوونکو قوماندانان لکه ملک حسن، ملک مکی او نور ولاړ و. پل مو افتتاح کړ او په پله د وزیر تنګې له خوا پیاده راتېر شولو. له افتتاح وروسته، ولسي-خلکو راته ست و سلا هم ونه کړه او ملک حسن راته وویل، چې مخامخ مه ځه ځکه خطر شته دی او بېرته په همدغه لار لاړ شئ چې په کومه راغلي استئ. امنیه قوماندان ایمل نیازي ته مې وویل چې په کومه لار راغلي یو، هغه خامه ده او کېدې شي چې زموږ له راتګ وروسته هلته ماینونه ښخ شوي وي او د تطهیر ټیم هم نلرو. بله دا چې د خلکو لپاره د روحیې ورکولو په خاطر باید په عمومي لاره چې پوخ سرک دی او هم لنډه ده لاړ شو. هغه هم دا ومنله او محلي قوماندانانو د مشورې په خلاف مو حرکت وکړ، خو هغوی زموږ ملتیا او بدرګه ونه کړه. ضربتي هاموي ټانکونه مو مخکې کړل، ۵۰۰ متره لار به مو وهلې نه وه، چې د راکټونو، پیکا او کلاشینکوفونو ډزې زموږ په قطار پیل شوې. لس پنځلس دقیقې مو متقابلې ډزې وکړې او د خطر له ځای ووتو، د مقابل لوري په ډزو کې دوه تنه سیمه ایز خلک ټپیان شول، چې هغه مو جلال اباد ته انتقال او له تداوۍ وروسته ښه شول. د دغه کمین مسئله مې هم مطبوعاتي نه کړه، د خوګیاڼو ولسونو او دوستانو ته به مې همېشه ویلې، چې

دوه ځلې درغلم؛ چې تاسي ته خدمت کړم، خو دواړه ځلې مو رابانـدې ډزې وکړې. تاسي زما پوروړي یاستئ؛ خو موږ بیا هم درتـه پلونـه، ښـوونځي او نـور انکشافي کارونه کوو. د ابکو صیب پل د خوګیـانو د وزیـرو تنګـي ولسـونو تـه نهایت ډېر مهم و او عام خلک ډېر زیات خوشاله و، ځکـه د سـیلابونو او یـا د اوړي په موسم کې د زیاتو اوبو له امله په دغه لار موټرې نشوې تېرېدلې. زنانـه او ماشومان په اسانۍ تېرېدای نه شو، حتی د ځـایي طالبـانو پـه خپلـو میرمنـو او خلکو دا هم پیرزو نه وه، چې حکومت د دوی لپاره د خیر کارونه وکړي.

## د داعش خراسان د خلافت مرکزونو له منځه وړل

دا چې د طالبانو نفوذ د ننګرهار په ختیځ اوپه لویدیځ سیمو کې پـه خاصـه توګه سره رود او خوګیانو ولسوالیو کې کـم او د داعـش نفـوذ پـه چپرهـار کـې ختم شو، د نظامي شورا د پلان مطابق مو د اچین ولسوالۍ ته پاملرنه زیاته کـړه؛ څو د داعش خراسان د رهبرۍ مرکزونه په باندر او د مامند درو په سیمو کې لـه منځه یوړل شي.

کله چې د داعش ډله په سوریه او عراق کې پیـدا شـوه، د ننګرهـار د کـوټ په ولسوالۍ کې د اسلامي حزب پخواني قوماندان عبدالرحیم مسلم دوست[30] له دغه ډلې سره خپل بیعت اعلان کړ. په کوټ کې د داعش د ظلمونو له املـه پـه سلهاوو کسان شیهدان او زیات شمېر کورونه وران شول. ډېری کورنۍ د کـوټ د ولسوالۍ نه نورو سیمو ته کډه شـوې. د دوی ظلمونـه دې حـد تـه ورسـېدل، چې مسلم دوست هم په خپلو کړو پښېمانه او له داعش ډلې یـې فاصـله ونیـوه. مسلم دوست د دوی وحشت وروسته وغنده، خو هغه وخت اوبه له ورخه تیرې وې. د نوموړي د حمایت له امله په سلهاو کسان په کوټ کې شهیدان شوي و.

[30] https://www.nunn.asia/78369/مسلم-دوست-افغانستان-کې-داعش-د-استخبار/ (اخري ځل دا ویپ پانه په ۱۴ مارچ ۲۰۲۱م وکتل شوله)

د یادونې وړ ده، چې په پېښور کې د مجاهدینو د تنظیمونو د جوړېدو په دوران کې او په خاصه توګه د مهاجرینو په منځ کې د وهابي/سلفي مفکورې له زیاتېدو سره د عربانو لخوا په پیښور او قبایلي سیمو کې سلګونه مدرسې جوړې او تمویل شوې. د کونړو په اصطلاح اکثره دغه وهابیانو/سلفیانو ته خلکو د مساعدو وهابیان/سلفیان ویلې؛ ځکه کله چې مساعدې (کمکونه) ختم شول، په کونړ کې د وهابیانو/سلفیانو نفوذ هم کم شو. د همدغه مدرسو جوړېدلو، د داعش او نورو افراطي ډلو ایجاد ته زمنیه برابره کړه. افغانستان د دې ډلو لپاره د ټریننګ او پلانونو جوړولو ښه سیمه وه، ځکه د وخت حکومتونو په دوی کنترول نه درلود؛ د روسانو د وتلو په وخت کې د عربانو شمېر زرهاو کسانو ته رسیده.د جلال اباد په جګړې کې د سرخ دېوال په سیمه کې له بېلا بېلو هېوادونو راغلي عربان له مجاهدینو سره یو ځای په لومړۍ کرښه پراته و[۳۱].

د عربانو ګروپونو په لومړیو کې د مجاهدینو او وروسته له طالبانو ډلو سره مرسته کوله او د دوی د چتر لاندې په افغانستان او هم نورو هېوادونو کې تخریبي عملیات پلانول. ښه بېلګه یې اسامه بن لادن و، چې په اوایلو کې خالص د اسلامي حزب قوماندان، انجینر محمود سره په توره بوړه کې اوسېده او وروسته کندهار ته لاړو. په کندهار کې یې د طالبانو له مشر ملاعمر سره بیعت وکړ؛ البته د پاکستان رول د دغه ټولو ډلو په رشد او حمایت کې مهم و، ځکه د پاکستان لپاره د افراطي ډلو ساتل، حمایت او له دوی ګټه اخیستل، د هغوی د ستراتیژیک عمق د پالیسۍ مهمه برخه وه او ده. د پاکستان له جوړېدو راپدېخوا دوی لومړی په کشمیر او وروسته په افغانستان کې له دغه افراطي ډلو نه استفاده وکړه. پاکستان د دغه ډلو په جوړېدو، ساتلو او مدیریت کې پوره تجربه لري، چې ښه نمونه یې د اخوان المسلمین (جوانان مسلمان) د ګروپ

---

[۳۱] د واقعیتونو په بهیر کې (د لیکوال په دغه کتاب کې یو څه یادونه شوېده)

غړي و، چې د داود خان په وخت کې یې پاکستان ته پناه یوړه، هغوی یې په خپل غېږ کې وروزل او تر ننه پورې افغانستان د دوی له لاسه قرباني ورکوي. د داود خان له دورې دمخه د ظاهرشاه د پادشاهي په وخت کې هم پاکستان سید اکبر ته چې د ځدرانو د ببرک خان ځوی و، پناه ورکړې وه. د پاکستان صدراعظم لیاقت علي خان د پېښور د دینز هوټل (Deans Hotel) په یوه غونډه کې د افغانستان په هکله توهین آمیزه خبرې کړې وې او د هغه خبرې په سید اکبر ښې نه وې لږېدلې. هماغه و، چې سید اکبر ورپسې خپله تفنګچه راویستې وه او لیاقت علي خان یې هلته وواژه. سید اکبر هم په متقابله ډزو کې ووژل شو. همدا شان که څه هم د اکثرو عربانو داعیه د خپلو دکتاتوري حکومتونو پرضد مبارزه وه، خو ددې لپاره، چې په افغانستان کې خپلو فعالیتونو ته توجیح پیدا کړي، نو خپلې مبارزې او جنګ ته یې د پان اسلامېزم او جهاد رنګ ورکاوه. همدا علت و، چې د دې ډلو حمایت د مجاهدنیو او طالبانو ډلو سره د تغیر په حالت کې و.

لکه پورته مې چې یادونه وکړه، کله چې طالبانو په شېرزادو ولسوالۍ کې له موټر بمي حملې وروسته د ننګرهار د امنیتي او دفاعي قواو او غوڅ ملاتړ ګډو عملیاتو او فشارونو له امله ضعیفه شول، د داعش ډلې وزیرو تنګۍ، زاوه او حتی د شېرزادو د مرکیخېلو پورې سیمې له طالبانو ونیوې. د تورې بوړې او د هسکې مېنې له اوغز تنګي تر باندر درې پورې ټولې غرنیزې سیمې د داعش په کنترول کې شوې او د دوی اکمالاتي لاره له اورکزو سره نښتې پاتې شوه.

دا چې په ننګرهار کې کافي قواوې نه وې، د نظامي شورا تصمیم دا و، چې طالب او داعش دواړه باید زیات تقویه کېدلو ته پرېښودل شي. هر یو که زیات قوي کېږي، هغه بله ډله باید د امنیتي قواو لخوا وټکول شي او یو قسم توازن د دوی تر منځ وساتل شي؛ څو موږ خپل پلانونه له پروګرام سره سم تطبیق کړای شو. په نظامي شورا کې نظر دا و، چې تر څو ژمی رانشي۔ دا ممکنه نه ده، چې داعش ختم شي؛ ځکه د هغوی لپاره اکمالات او هم د جنګیالو کمک له اورکزو تر سره کېدلای شي. د ملي امنیت نظر دا و، چې

تقریبا درې زره کسان د داعش به په دغه سیمو کې موجود وي او هغوی تر اخرې سلگۍ پورې جنگیږي. کله چې د ژمي په موسم کې په غرونو کې د واورو او یخنۍ له امله لارې بندې شوې، د دوی پر ضد تصفیوي عملیات باید د باندر په دره کې پیل شي، ځکه هغه وخت به د دوی د تگ او راتگ او د اکمالاتو لاره له اورکزو سره د یخنۍ له امله بنده وي. کله چې د دوی لاره له اورکزو سره بنده شوه، بیا دوی د هسکې مېنې، تورې بوړې او وزیرو تنگي کې خپلو کسانو او کورنیو ته اکمالات نشي کولای. همدا شان د هسکې مېنې د اوغز، د پچیر و اگام د تورې بوړې او د خوگیاڼو د وزیرو تنگي ترمنځ به هم د دوی تگ او راتگ د یخنۍ له امله مشکل وي. دوی مجبوره دي، چې تسلیم شي او یا تر اخري سلگۍ پورې جنگ وکړي. کله چې د خوگیاڼو په سیمو کې د داعش پرمختگ زیات شو او یو شمېر کورنۍ د دوی د ویرې له امله بېځایه شوې، د نظامي شورا د پرېکړې په اساس مو د زاوې او وزیرو تنگي په سیمو کې د ملي امنیت د ۰۲ قطعاتو عملیات او همداشان د قاطع ملاتړ هوایي بمباریو ته دوام ورکړ؛ څو د دوی د پرمختگ مخه ونیول شي. همداشان د خوگیاڼو د وزیرو تنگي په خوله کې بیسونه او پوستې تقویه شوې؛ څو د دوی د پرمختگ مخه د خوگیاڼو په لورې هم ونیول شي.

کله چې په طالبانو د داعش او حکومت له خوا فشار زیات شو، د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر د میاشتې په شپږمه نېټه طالبانو د شېرزادو یو شمېر مشران وغوښتل، چې د حکومت امنیتي قواوې، د داعش په خلاف له طالبانو سره پروتوکول او اوربند وکړي. د شېرزادو ځینو مشرانو له طالبانو سره د پخوا رابطه درلوده او همدا علت و، چې د شېرزادو مشرانو د شېرزادو په خلاصون کې له حکومت سره مرسته نه کوله، چې نور تفصیل به یې د شېرزادو ولسوالۍ برخه کې ورکړل شي، د شېرزادو مشرانو لکه حاجي دلاور جرنیلزاده، مزار حاجي، حاجي میرباش، حاجي فضل کریم، مدیر فیض محمد، د مرکیخېلو حلیم او لعل اغا په دغه سیمو کې د طالبانو له مشرانو سره لکه تورعبدالله (د طالبانو د

لوگر پخوانی والي)، مولوی حمدالله، مولوي تکل، مولوی نیک محمد مشهور په رهبر، مولوی خیرالله، شیخ سید ندیم اغا او د ننگرهار لپاره د طالبانو له نام نهاده والي پیراغا سره ناسته درلوده. که څه هم دوی وویلې چې پیراغا نه و او یا یې نه پېژانده، خو د ملي امنیت د راپور په اساس، پیر اغا هم په دغه ناسته کې موجود و. د دوی په استازیتوب، حاجي دلاور جرنیلزاده د اکتوبر په ۷مه نېټه د طالبانو پیغام ماته راوړ، چې طالبان وایي: ژمې راروان دی، که حکومت له دوی سره پروتوکول وکړي، دوی به داعش د خوګیانو او وزیرو تنګي په سیمه کې ختم کړي. دویم دا چې که حکومت بېځایه شوو کورنیو ته اجازه ورکړي، چې بېرته خپلو سیمو ته ستانه شي نو ښه به وي، چې داعش بیا د دوی په کورونو کې ځای ونه نیسي. درېیم که حکومت د شېرزادو او خوګیانو سیمو کې له طالبانو سره اوربند وکړي، نو ښه به وي. طالبانو همدا ډول وړاندیز د وزیرو تنګي، خوګیانو او پچیر و اګام مشرانو ته هم کړی و، چې د دوی غوښتنه هم د نظامي شورا له لوري رد شوه.

طالبانو په همدې ورځ په یو زرنج کې انفجاریه مواد ځای پر ځای کړی و، څو له ولایت سره نږدې زموږ په موټرو چاودنه وکړي. دا چې تل د ولایت تدابیر قوي و، دوی د جلب و جذب د مرکز مخې ته، چې زما له استوګن ځای سره دېوال شریک و، په یو کاستر موټر باندې، چې د جلب و جذب نوي سربازان یې انتقالول، د دغه زرنج چاودنه وکړه. په دغه چاودنه کې ۱۱ کسه نوي سربازان شهیدان او ۳۲ ملکي کسان زخمیان شول. د انفجار په ځای کې درې نور ماینونه هم په لاره کې ښخ شوی و، چې کله امنیتي قواوې محل ته رسیږي، دوی به هغوی ته د ریموټ کنترول په ذریعه انفجار ورکوي، خو هغه ماینونه له انفجار دمخه کشف او خنثی شول. حاجي دلاور ته مې وویل، چې طالبان او داعش ډله دواړه په ضعیفه حالت کې دي او موږ نشو کولای، چې له دوی سره محلي اوربند یا پروتوکل وکړو. د موږ لپاره دواړه ډلې یو دي او موږ به خپلو امنیتي پلانونو ته له پروګرام سره سم دوام ورکوو. یوازې شېرزاد او خوګیانې نه، بلکې ټول ننګرهار او افغانستان د موږ لپاره مهم دی. د نن ورځې

انفجار دا ښيي، چې دوی جنګ نه ودروي. که موږ له دوی سره هلته پروتوکل وکړو، دوی به بیا حملې د ننګرهار او افغانستان نورو سیمو کې له هغه ځای نه پلانوي او دا ډول پروتوکولونه بیا څه ګټه نه لري.

د اکتوبر په ۸مه نېټه مو نظامي شورا راوغوښتله او د طالبانو پورته غوښتنې مې له دوی سره شریکې کړې. د نظامي شورا غړي او په خاصه توګه د ملي امنیت رئیس هم په دې نظر و، چې دا د طالبیانو اوپراتیفي لوبه ده او د ننګرهار عمومي امنیت لپاره څه ګټه نه لري. پدې توګه د طالبانو دا غوښتنې مو رد کړې. د بېځایه شویو ولسونو بېرته ستنېدو په اړه د طالبانو غوښتنه له خپلو خلکو سره د خواخوږۍ په موخه نه وه، بلکې د طالبانو د کنترول په سیمو کې د خوراکي موادو کمبود موجود و او د خلکو په بهانه دوی د خوراکي موادو انتقال لپاره ځانونه تقویه کول. که ولسي خلک په دغه سیمو کې ونه اوسي، نو دوی ته د خوراکي موادو په انتقال بندیز و او نه یې شو کولای، چې خپل مراکز اکمال کړي.

د طالبانو د فشار له امله د وزیرو او سلیمانخیلو تنګیو مشرانو هم څو ځلې تقاضا کړې وه، که دوی خپلو کورونو ته لاړ شي او د بمبارونو د نه کولو ګرنټي ورکړل شي، نو ښه به وي. دوی ته هم وویل شول، چې امنیتي قواوې په دغه سیمو کې د داعش او طالبانو پر ضد جنګ ته دوام ورکوي او دا ذمه واري ځوک نشي کولای، چې هلته به بمباري نه کېږي او یا به ملکي کسان جنګونو کې نه وژل کېږي. که په خپل مسؤلیت ځي، موږ ورته څه نه وایوو؛ خو د خوراکي موادو په انتقال به بندیز دوام پیدا کوي؛ په همدې وخت کې د پچیرو اګام ولسونه هم د جلغوزو په تقسیم سره وران و؛ ځکه د هغه سیمې ټېکه یو کس ته ورکړل شوې وه او نور ولس ورسره مخالفت کاوه. د جلغوزو د ځنګلونو په ساحه کې داعش نفوذ درلود او اړینه وه، چې دغه قراردادي له داعش سره د خپلو ګټو په خاطر اړیکه درلودای، چې جلغوزې د سلیمانخیل له تنګي څخه په خرو او قچرو خوګیانو او پچیر و اګام سیمې ته انتقال کړي.

داعش د جلغوزو له درکه هم عاید ترلاسه کاوه، د دې لپاره چې ولسونه تاوان ونه کړي؛ نو د جلغوزو د انتقال لپاره مو اجازه ورکړه او هغوی خپله ستونځه په قومي کچه حل کړه.

د پورته وضعیت د تحلیل له مخې د اچین عملیات د سپتمبر په یوولسمه نېټه پیل شول. د پلان مطابق به لومړی د وچ کوټ په سیمه کې تر باغدرې پورې ۱۲ پوستې د ملي امنیت پاڅون کوونکو او یو قوي بیس به د سرحدي قواو له لوري جوړېږي، چې د پاڅون کوونکو پوستې حمایه کړي. د نظامي شورا له خوا د عملیاتو لپاره مشترک پلان جوړ او منظور شو. د ملي امنیت رئیس، د څلورمې پلې لوا، د سرحدي لوا، د عامه نظم لوا او د ننګرهار امنیه قومندان هر یو به پخپله د اچین سیمې ته ځي؛ څو له نږدې عملیات وڅاري. د یادو عملیاتو حمایت د قاطع ملاتړ هوایي قواو او په اچین کې ځانګړو قطعاتو هم کاوه. په دغه عملیاتو کې د پاڅون کوونکو تعداد تقریبا پنځه سوه کسانو ته رسېده، چې مشري یې حاجي معاون او حاجي قلم کوله. حاجي دهقان چې د نازیانو په ولسوالۍ کې د پاڅون کوونکو مشر و، هغوی هم په دغه عملیاتو کې برخه درلوده او کوښښ دا و، چې د نازیانو د دوه خولي او سپینې ژۍ له لارې داعش لپاره اکمالات ونه رسیږي.

د منګل باغ په مشري د لشکر اسلام ډله، چې د نازیانو د صفري ساحې په سپینه ژۍ کې اوسېده، ورسره اړیکه ونیول شوه، چې د داعش ډلې حمایت ونه کړي او یا ورته لار ورنه کړي؛ ترڅو دوی د اورکزو لوري ته ونه تښتي. د ننګرهار نظامي شورا د لشکر اسلام په نیت نه پوهېده؛ ځکه د پاکستان استخباراتي ادارې په دې ټولو ډلو نفوذ درلود. د یادونې وړ ده، چې د منګل باغ ګروپ په دغه سیمو کې له کورنیو سره اوسېده او هغوی ته وویل شول: که دوی د داعش حمایت وکړي، کورنۍ به یې بمبار او پر وړاندې به یې عملیات

پیل شي. زمونږ ارزونه دا وه، چې منګل باغ[۳۲] ډله د پاکستان لخوا حمایه کېږي او په راتلونکې کې یاده سیمه کې سر خوږی جوړولای شي؛ ځکه دوی له طالبانو سره رابطه درلوده او باید خلع سلاح شي. له جمهور رئیس سره مو په دوه ځلې لیدنو کې د منګل باغ مسله مطرح کړه او د هغه نظر هم دا و، چې منګل باغ ډله باید بې وسلې شي. دا چې په ننګرهار کې پوره قوتونه نه و، دا هم شوني نه وه، چې په څو جبهو کې همزمانه جنګ ته دوام ورکړل شي. د داعش د نفرو اټکل د دریو زره نفرو په شاوخوا کې و؛ خو وروسته جوته شوه، چې د دوی تعداد د دغه وړاندوینې نیمایي و او یا دا چې یو شمېر یې له عملیاتو دمخه د اورکزو سیمې ته اوښتي و.

د سپتمبر په دیارلسمه نېټه سهار وختي د ملي امنیت رئیس ډګرجنرال واحدي زنګ راته ووهه، چې د داعش ډلې اوله دفاعي کرښه د باندر په سیمه کې ماته شوه او درنې سلاوې یې پرېښودلې دي او ځینې کوښښ کوي، چې د سپینې ژۍ له لارې تېرا ته وتښتي؛ خو ماینونه نهایت زیات دي او دوی په سرعت پرمختګ نشي کولای. حتی په لارو او سړکونو کې یې ونې هم چپه کړي دي، چې ټانګونه پرمختګ ونه کړي. تقریباً د باندر او باغدرې اخري برخو ته اوه اته کیلومتره نوره غرنیزه لار پرته ده، چې هلته پوستې واچول شي.

د باندر درې په دیوانه بابا سیمه کې د داعش خراسان مرکز و او د داعش رادیو هم له هغه ځای نه نشرات کول. د داعش پر ضد د باندر درې تصفیوي عملیات د زیاتو ماینونو له امله څه د پاسه یوه میاشت وخت ونیوه او د اکتوبر په ۱۵مه نېټه امنیتي قواو ټوله دره تصفیه او د زرې سیمې ته ورسیدل او له هغه ځای د باغدرې په سیمه عملیات پیل شول.

---

[۳۲] منګل باغ د امریکانو د ډرون په حمله کې د ۱۳۹۹ هجری د تلې په ۲۵ نېټه ووژل شو. https://khwazasht.com/archives/3853 (دا صفحه د مارچ د میاشتې په ۲۸ نېټه، کال ۲۰۲۱م کې په اخرې ځل وکتل شوه)

په همدې ورځ مو له ولسونو سره په جلال اباد کې د داعش پرضد د عملیاتو تفصیل د یو خبري کنفرانس په ترڅ کې شریک کړل. د یادونې وړ ده، چې ډګروال قنداغا ساپي چې د کاپیسا له ساپیانو څخه و، په دغه وخت کې د څلورمې پلې لوا رئیس ارکان و. هغه په دغه عملیاتو کې چې ټول تقریبا دوه میاشتې یې دوام وکړ؛ تر وروستیو پورې په دغه سیمو کې د دفاعي او امنیتي قواو د جګړې رهبري کوله. قند اغا ساپي بیا هلمند کې د دویمې پلې لوا د قوماندان په توګه وټاکل شو، چې له بده مرغه بیا د ماین په یوه چاودنه کې ټپي او وروسته د ۲۰۲۰م کال د اګست په ۱۸ نېټه شهید شو (روح دې ښاد وي). په دغه وخت کې زه د ملي دفاع وزارت لومړی مرستیال او سرپرست وزیر وم؛ چې د ښه خدمتونو په خاطر مو د جنرالی رتبه ورکړه او د جنازې مراسم مو په شانداره توګه د عسکري اصولو مطابق تر سره کړل.

په یوولسم د اکتوبر جمهور رئیس محمد اشرف غني، د ملي امنیت رئیس او زه کابل ته وغوښتلو؛ څو د داعش پرضد د عملیاتو او د ننګرهار د وضعیت په هکله معلومات ورکړو. جمهور رئیس د ننګرهار د وضعیت او هم د داعش پرضد له عملیاتو ډېر خوښ و او موږ ته یې دنده وسپارله؛ که د ننګرهار په شان طرحه د کاپیسا، لوګر او وردګ ولایتونو ته هم جوړه شي؛ نو ښه به وي. په دغه ناسته کې راسره د محلي ارګانو عمومي رئیس عبدالمتین بیګ هم و، زموږ نظر دا و، چې طرحه به همدا وي؛ خو په عملي کولو کې یې د هر ولایت رهبري، د امنیتي ادارو تر منځ همغږي او له ولسونو سره کار مهم دی او که داسې نه وي، نو ځانته طرحې جوړول پایلې نه ورکوي.

په شپاړسم د اکتوبر مو نظامي شورا دایر کړه؛ څو د ننګرهار د وضعیت ارزونه وکړو. د ملي امنیت د راپور په اساس د داعش له ټکولو سره، طالبان بیا راژوندي شوي دي او د شېرزادو او خوګیانو او همداشان د لعل پورې د بیلې په سیمو کې یې تحرکات پیل کړي دي. ښه به دا وي، چې د اچین له عملیاتو وروسته، سمدستي د شېرزادو ولسوالۍ ته د لار د خلاصولو په منظور عملیات پیل کړو. همدا شان طالبان د خوګیانو د وزیرو تنګي، توره بوړې اود هسکې

مېنې اوغز تنګي ته داخل شوي و، که دوی هلته زیات پاتې شي، له ولسونو سره یې اړیکه ټېنګېږي او په راتلونکې کې زیاتې ستونځې جوړولای شوې. په همدې خاطر باید د باندر او باغدرې پوستې ژر تکمیل شي؛ چې طالبان په هغه سیمه کې پرمختګ ونه کړي.

## د هسکې مېنې د جودرې پېښه

د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په ۱۸مه نېټه چې د جمعه ورځ وه، د ننګرهار د یو شمېر مشران، علماء او د مدني ټولنو غړي ولایت ته رابللي و؛ څو له جلال اباد ښار سره نږدې هغه انکشافي پروژې چې عملآ پرې کار روان و، وګورو. د دې کار هدف دا و، چې اکثره افغانان په ماضي حالاتو زیات غرېږي او د حال او راتلونکې په هکله چندان فکر نه کوي. په تېرو څو میاشتو کې په سل ګونه پروژې چې له کلونو راهیسې په ټپه ولاړې وې، په ننګرهار کې بیا پیل شوې وې؛ خو اکثرو کسانو به راته د ځینو زړو پروژو یادونه کوله؛ که کارونه یې پیل شي نو ښه به وي. همدا شان ډېری نوې پروژې هم پیل شوې وې؛ چې ولسونه ترې خبر نه و. د دې کتنو په لړ کې مو شپږه سوه بستریز روغتون، د پوهنتون د نجونې د لیلې ودانۍ، د سره رود د دوه لارې او مملې باغ تر منځ د سرک جوړول، رینګ روډ ته د معدن د تلې انتقال، دجلال اباد د شاهي مانۍ، د امان الله خان د مقبرې، پاچا خان د مزار او په پینځمه ناحیه کې د میوې منډوي د جومات جوړېدو چارې وکتلې.

نیت مو دا و، چې د جمعې لمونځ به له تالاشې چوک سره نږدې د ګمرک په جومات کې کوو. د دولس بجو په شاوخوا کې راته د ملي امنیت مرستیال سید نورحیدر سادات زنګ ووهه، چې داسې تخنیکي اطلاع موجود ده، چې داعش د جلال اباد ښار په کوم جومات کې چاودنه کوي. ماته یې وویل چې له ولایت نه بیرون یاست او که دننه؟ ما ورته وویل: چې له مشرانو سره یم او غواړو؛ چې د ګمرګ په جومات کې لمونځ وکړو. ښاغلي سادات راته وویل،

چې ګمرګ جومات ته مه ځه؛ ځکه چې دوه اوونۍ د مخه هم د مرکیخیلو یوکس هلته ماین ځای پر ځای کاوه، چې پرې وچاودېدو او مړ شو. هر جومات ته چې ځې باید د مخه هلته ترتیب نیول شوي وي او دا چې اوس تقریبا دولس نیمې بجې دي، د دې امکان نشته نو ښه دا ده، چې د جمعې لمونځ د شاهي ماڼۍ په جومات کې وکړئ. ښاغلي سادات وویل چې د ښار ټولو حوزو ته یې دنده ورکړې ده، چې په جوماتونو نظارت زیات کړي او که زه امنیه قوماندان ته هم ووایم نو ښه به وي. ما له امنیه قوماندان سره دا معلومات شریک کړل او د ملي امنیت په مشوره بېرته ولایت ته راغلو. مشرانو ته مې وویل: چې احتمال د انفجار شونتیا موجود وه، نو ځکه مو بیرون کې د جمعې له لمانځه ډډه وکړه.

کله مو، چې د شاهي ماڼۍ په جومات کې لمونځ خلاص کړ، خبر راغی، چې د هسکې مېنې د جودرې د کلي په جومات کې انفجار شوی دی. معلومات نشته، چې ماین ښخ شوی او که ځانمرګی دی؛ خو زیات تلفات لري. وروستي ارقام دا و، چې ٦٢ ملکي کسان شهیدان او ۳٦ زخمیان شوي و. د تخنیکي ټیم بررسې دا وه، چې حمله د یو ځانمرګي لخوا په داسې وخت کې تر سره شوې وه، چې خلک د لمانځه په لومړي رکعت کې و. ځانمرګی کس چې جومات ته داخل شوی و، سمدستي یې خپلو چاودیدونکو موادو ته چاودنه ورکړې وه. دغه کس له جودرې سره نږدې له اوغز تنګي نه دغه سیمې ته ورغلی و او د داعش ډلې کس و. دا چې د داعش د ډلې په مقابل کې د اچین په سیمه کې عملیات پیل شوی و او هم تګ او راتګ یې د باندر درې او اوغز تنګي تر منځ قطع شوی و؛ نو دوی د انتقام اخیستلو په خاطر دا پېښه تر سره کړې وه. متاسفانه د کلي جومات چې له ختو جوړ و، د چاودیدونکو توکو له چاودنې سره د جومات چت راغورځېدلی و. هغه کسان چې په داخل د جومات کې و ، ټول شهیدان او زخمیان شوي و. په دغه ورځ باران هم و، نو امنیتي او دفاعي قوتونه مو هلته ولېږل، چې د مړو راویستلو او د زخمیانو په انتقال کې مرسته وکړي.

د جودرې له پېښې سره ډېرو افغانانو خواخوږي وښوده او حتی له هېواد نه بهر افغانانو هم د شهیدانو کورنیو سره کافي مرسته وکړه. په سبا مو له ولایت څخه هم مرستې ولېږلې او زما نیت و، چې پخپله هم لاړ شم، خو په دې وخت کې راته د جمهور رئیس له دفتر څخه خبر راکړل شو چې جمهور رئیس سبا ته یعنې د اکتوبر په شلمه نېټه د فاتحې لپاره ننګرهار ته راځي او باید لازم ترتیبات ونیول شي. دا چې له هسکې مېنې سره نږدې امنیتي وضعیت ښه نه و او احتمال و، چې له اوغز درې مزایل د جمهور رئیس په هلیکوپترونو او یا د غونډې پر ځای وویشتل شي. که له بلې خوا د هسکې مېنې مشران او د شهیدانو د کورنیو استازي د ولایت مقام یا بلې نږدې ولسوالۍ ته راغواړو، دا کار هم مناسب نه و، ځکه د فاتحې لپاره باید مشران د شهیدانو کورونو یا سیمې ته ورشي؛ نه دا چې هغوی مرکز یا بلې ولسوالۍ ته وغوښتل شي. د جمهور رئیس له امنیتي ټیم او د ننګرهار نظامي شورا سره مو ټوله شپه بحث درلود او بالاخره فیصله په دې وشوه؛ که هوایي قواوې د اوغز په دره او هم د هسکې مېنې نږدې ساحې د هوا له لارې وڅاري او د قاطع ملاتړ ډله هم خپل امکانات په کار واچوي؛ نو جمهور رئیس به د شهیدانو له کورنیو سره د هسکې مېنې په ولسوالۍ کې وګوري. د جمهور رئیس امنیتي مسوولینو او د ننګرهار نظامي شورا له ما وغوښتل چې له قاطع ملاتړ سره اړیکه باید ونیسم او که هغوی اطمینان راکړ، چې هوایې قواوې او ISR به په سیمه کې مؤظف کړي او د ملي دفاع وزارت له هوایي قواو سره به په شریکه ګزمې او څارنه وکړي، نو جمهور رئیس به هسکې مېنې ته لاړ شي او کنه ټول سفر باید لغو شي. کله مې چې د قاطع ملاتړ سره اړیکه ونیوله، هغوي هم راته وویل چې صبر وکړه چې دوی په سیمه کې څومره امکانات لري او د دوي تخنیکي ټیم په دې هکله څه نظر لري؟ باالاخره هغوي اطمینان راکړ چې دوی هوایي ګزمې د ملي وزارت د هوایي قواو سره د اوغز تنګي او هسکې مېنې په شاوخوا کې کولې شي او د احتمالي راکټو مخه نیولې شي.

په شلم د اکتوبر جمهور رئیس هسکې مېنې ته راغې او کافي امنیتي تدابیر نیول شوی و. له جمهور رئیس سره د مشرانو جرګې رئیس فضل هادي مسلمیار، د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمدالله محب، د چارو ادارې مشر ډاکتر فضل محمود فضلي او ګڼ شمېر نور لوړپوړې چارواکي او د پارلمان استازي لکه نوراغا ملکزی، عبدالروف شپون، امیر خان یار، ابرارالله مراد، د کابل وکیله مریم سما او د فراه وکیل حسیني هم مل و. د شهیدانو او د خلکو په استازیتوب د هسکې مېنې ملک ستار، قاري محب الله او ملک دفتر خان خبرې وکړې. د شینوارو د اکثرو مشرانو شکایت د امنیت نشتون، د سرکونو، کورونو او کلینکونو جوړول او په خاصه توګه د جودرې په سیمه کې د اوبو کمښت و، ځکه د اوغز تنګي په سیمه کې د اوبو سربندونه د داعش د ډلې لخوا تخریب شوي و. د مشرانو تقاضا دا وه، چې له شهیدانو کورنیو سره مرسته وشي، د دوی بچي په مدرسو کې واچول شوي او هم له هرې کورنۍ نه یو تن حج ته ولېږل شي.

جمهور رئیس له تسلیت ویلو وروسته په خپلو خبرو کې ژمنه وکړه، چې د جودرې جومات به په ښه توګه جوړوي او په همدې ورځ پرې د ملي پراختیا شرکت لخوا کار پیل شو. جمهور رئیس وویل چې خپل بهرنی سفر مې لغوه کړ او په عوض یې له شینوار قومونو سره د همدردۍ او غمرازې په خاطر هسکې مېنې ته راغلم. نوموړي په خپلو خبرو کې له ما او ملي امنیت د رئیس څخه وغوښتل، چې د داعش پرضد عملیاتو ته دوام ورکړو او دا سیمې تصفیه شي؛ څو بیا داسې پېښې رامنځته نشي-او د جودرې د شیهدانو انتقام باید واخستل شي.

په همدې وخت کې له موږ سره اندېښنه دا وه، چې د جمهور رئیس هلیکوپټرې په خیر سره کښېني او ژر بېرته حرکت وکړي. په دغه غونډه کې د مدني ټولنې یو څو کسو غوښتل، چې خبرې وکړي، خو موږ ورته اجازه ورنه کړه؛ ځکه چې دلته مسئله د دعوو نه وه او جمهور رئیس فاتحې لپاره راغلی و. له دغه ډلې شاه محمود شینواري که څه هم د ولایت نه مخه مې هم پېژاند، یوه

لویه پرېږه د ملي امنیت رئیس او ما پسې فیسبوک کې لیکلې وه، چې گونډې موږ دوی ته د خبرو اجازه ورنه کړه او د دوی په خولو مو د پلسترو پټۍ لږولې وې. دوی ادعا کوله، چې د شهیدانو د کورنیو په استازیتوب یې خبرې کولې او غوښتل یې چې د شهیدانو د کورنیو غوښتنې له جمهور رئیس سره شریکې کړي. حال دا چې همدا کسان په سیمه کې نه اوسېدل او نه هم د شیهدانو کورنیو دوی ټاکلي و، خو د معمول په څېر د دوی عادت و، چې په هره غونډه او حتی په فاتحو کې هم هاها جوړه کړي. ما هم د دوی په دفاع کې یوه اوږده لیکنه وکړه؛ که دوی غواړي چې د ولس ستونځې له جمهور رئیس سره شریکي کړي؛ نو له هغه دې وخت واخلي او کابل ته دې لاړ شي. که دوی د ولایت شوق لري، نو له جمهور رئیس دې وغواړي، چې د شاه محمود میاخېل پر ځای شاه محمود شینواری د ننگرهار د والي په توگه تعین کړي[۳۳]. دوی مازدیگر ناوخته له یو شمېر نورو دوستانو سره ولایت ته راغلل؛ دښاروالۍ په میلمستون کې ناست و. له شاه محمود شینواري مې پوښتنه وکړه، چې ما ته اوس ووایه، چې جمهور رئیس ته دې څه ویلې؟ هغه راته وویل: چې زما زړه و، چې د شینوارو لپاره یوه لیوا منظور کړي او هم د شینوارو ولسوالې دې ولایت شي. ما ورته وویلې چې د لوا منظورېدل اسان کار نه دی، دا ممکنه نه ده او شاید جمهور رئیس درته غوسه شوی هم وي. دا خو د شهیدانو دکورنیو غوښتنې نه شوې، بلکې تاسې د فاتحې په منځ کې خپل موشتکی اوړه کاوه.

## د داعش ماتې او د هغو د کورنیو ساتلو مدیریت

د جودرې له پېښې وروسته، د داعش پر وړاندې د اچین په باندر او باغدرې، د هسکې مېنې په اوغز تنگي، د پچیرو اگام په سلیمانخیلو او تورې بوړې او همدا شان د خوگیاڼو د وزیرو تنگي په سیمو باندې هوایې حملې

[۳۳] زما او د شاه محمود شینواري لیکنې د ننگرهار څپې کتاب کې لوستلی شئ.

زیاتې او د دوې د تګ او راتګ لارې اورکزو ته بندې شوې. طالبانو هم له فرصت نه استفاده وکړه او د خوګیانو د وزیرو تنګي او تورې بوړې په سیمو کې یې د داعش پرضد د خپل غچ اخیستلو په خاطر حملې پیل کړې. کله چې د پورته سیمو ترمنځ د داعش د کتیبو (ډلو) رابطې قطع شوې، نو دوی د خوراکي موادو له سخت کمبود سره مخ شول. هماغه و، چې د دوی د شکست او تسلیمېدو لړۍ پیل شوه.

په لومړي سر کې په همدې ماښام ناوخته یعنې د اکتوبر په شلمه نېټه، د داعش دېرش ښځې او ماشومان د کوټ په سیمه کې پولیسو ته تسلیم شول. په دغه ښځو کې دوه د اورکزو وې، چې پاکستاني شناختي کارتونه یې درلودل، دوه د کندوز وې او نورې د کونړ د شلطن او ناړې ولسوالیو وې. ما د کوټ ولسوال نجیب الله رحماني ته وویل: که دوی خپلوان لري او یا د خپلوانو شمېرې ورسره وي، هغوی خبراو اجازه ورکړئ، چې له خپلو کورنیو او خپلوانو سره یو ځای شي. زموږ پالیسي دا وه، چې په ښځو او ماشومانو باید غرض ونه لرو او هغوی خپلو کورنیو او خپلوانو ته سلامت وسپارو.

د جمهور رئیس له سفر وروسته د اکتوبر د میاشتې په ۲۲مه نېټه مې د ننګرهار د نظامي شورا له غړیو، یو شمېر مشرانو، وکیلانو او رسنیو استازو سره د اچین درې باندر سیمې ته لاړم؛ څو د ولسونو او امنیتي قواو مورال لوړ شي. په دغه سفر کې د نظامي شورا په غړیو سربېره، د ۲۰۱ سیلاب قول اردو قوماندان تورنجنرال عبدالهادي ترین، وکیل فریدون خان مومند، وکیل عبدالروف شپون، د محلي پاڅون کوونکو مشران حاجي معاون، حاجي قلم او حاجي دهقان هم راسره و. د دېوانه بابا تر سیمې پورې مخکې ورغلو؛ اکثره کورونه د جنګونو او هم د خلکو د نشتون له امله ړنګ او شاړ شوي و. دا سیمه د تېرو پنځو کلونو راپدېخوا د داعش خراسان مرکز و. د دېوانه بابا لېسه، چې په ۲۰۰٦م کال کې یې ودانۍ جوړه شوې وه، د لیسې د صنفونو په دېوالونو باندې د داعش شعارونه لیکل شوي و. همدا لېسه د دوی د کتیبو د ټرېننګ مرکز هم

و؛ محلي کورنۍ د باندر په دره کې نه وې، ټولو کورنیو د جنگونو له امله خپل کورونه پرېښودلي او نورو سیمو ته کډه شوي و.

د بېرته راتگ پرمهال مو له اچین ولسوالۍ سره نږدې په سرحدي کندک کې د ولسونو سره غونډه جوړه کړې وه او غرمه مو هم په کندک کې تېره کړه. د اچین ولسوال سید عاشق الله سادات، د سپین غر ولسوال، محمد قاسم خان او د کوټ ولسوال نجیب الله رحماني هم په دغه غونډه کې برخه درلوده. عاشق الله سادات د اچین له عملیاتو مننه وکړه او ویې ویل، چې عملیات د سنبلې د میاشتې په شلمه نېټه پیل شوي و او د میزان په دېرشمه د باندر دره کې پای ته ورسېدل. البته باغدره لا تصفیه شوې نه ده؛ حاجي معاون په خپلو خبرو کې وویل، چې څلور کاله د مخه داعش ډلې د دې ولسوالۍ په مرکز باندې ډزې کولې، اما نن د باندر درې د زري تر سیمې پورې، چې له ولسوالۍ نه تقریبا ۲۵ کیلومتره لرې پرته ده تصفیه شوه او انشاالله باغدره به هم ژر تصفیه شي. ملک شان پاچا، حاجي صادق، ملک سیدحکیم، ملک قیوم، ملک نصیر او له ځوانانو څخه ثاقب شینواري د خلکو په استازیتوب خبرې وکړې او ویې ویل، چې دا لومړني عملیات دي، چې هېڅ ملکي تلفات نه لري. دوی وویل چې د اچین سیمه له خراب گاونډي (پاکستان) سره سرحد لري، یوې پوستې هم سقوط ونه کړ او باید عملیات ونه درول شي، څو د داعش موجودیت په مکمله توگه ختم شي. د دوی په قول، د شنډوني په سیمه کې داعش اوس هم شتون لري او هغه سیمه باید تصفیه شي. ملک نصیر وویل چې: پس له پینځو کلونو دی باندر درې ته لاړ او خپل کور او سیمه یې ولیده او له خوشالۍ کالیو کې نه ځایېده. وکیل فریدون خان او وکیل عبدالروف شپون هم خبرې وکړې او دوی وویل چې د داعش په راتگ کې د هغه وخت ولایتي اداره او هم ولسي مشران ملامته و؛ خو ښه شوه، چې نن ترې دا سیمه پاکه شوه.

د باندر سیمې له لیدو د مخه له محلي مشرانو سره دا وېره وه، چې گوندې موږ د داعش پرضد عملیات ختموو. همدا علت و، چې مشرانو په خپلو خبرو

کې ووېل؛ چې عملیات تر هغې پورې ونه درول شي، ترڅو ټولې سیمې د داعش له نفوذ او کنترول نه په بشپړه توګه پاکې شوي نه وي. ما دوی ته ووېل، چې تشویش مه کوئ؛ موږ لا عملیات پای ته رسولي نه دي. کله چې په تصفیه شوو سیمو کې پوستې تکمیل شوې، نو د باغدرې او شنډونې عملیات به هم پیل شي.

د اکتوبر د میاشتې تر ۲۴مې نیټې پورې د داعش د کورنیو نږدې دوه سوه ښځې او ماشومان د هسکې مېنې، کوټ او اچین په ولسوالیو کې تسلیم شول. په دغه کورنیو کې د اردون، ازبکستان، تاجکستان، قرغیزستان، هند، مالدیف، ترکیې، تاتار، د پښتونخواه د قبایلي سیمو، د پاکستان د پنجاب او د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه ښځې، ماشومان او نارینه شامل و. د دې لپاره چې د دغه کورنیو د ماشومانو، ښځو او همدا شان د مسلحو کسانو مدیریت سم وشي او هم اطلاعاتي تخلیه یعنې معلومات له دوی راجمع شي، د کاري استقامت په اساس د ملي امنیت ریاست ته دنده ورکړل شوه، چې د دوی مدیریت وکړي. تسلیم شوي کسان به لومړی په ولسوالیو کې د ملي امنیت او هم د قاطع ملاتړ د سپیشل فورس لخوا Finger Print کېدل او بیا به د ملي امنیت کارمندانو د امنیتي تدابیرو په نیولو سره جلال اباد ښار کې د ملي امنیت ریاست ته انتقالول.

د دوی لپاره فرموله دا وټاکل شوه، چې هغه ښځې، ماشومان او نارینه چې د نورو ملکونو دي، هغوی به کابل ته لېږدول کېږي، هغه ښځې او ماشومان چې افغانان دي او د نورو ولایتونو یا ننګرهار دي، هغوی به د شناخت او پروسې له ثبت وروسته خپلو کورنیو او خپلوانو ته سپارل کېږي، هغه ښځې او ماشومان چې د اورکزو، باجوړ او نورو قبایلي سیمو دي، هغوی به په جلال اباد کې تر هغې پورې ساتل کېږي؛ څو د جرګې له لارې د دواړو خوا (د داعش د ښځو او د هغوی د خپلوانو) د توافق او د کورنیو له شناخت وروسته، جرګې ته سپارل کېږي. د پنجاب او د پاکستان د نورو سیمو اوسیدونکي به پاکستان سفارت او قونسلګرۍ ته تسلیمېږي؛ څو ټولو ته معلومه شي، چې دا کسان د پاکستان نه افغانستان ته راغلي او جنګېدل. د داعش ټول نارینه غړي که هغه افغانان او یا

بهرنیان و، هغوی به د ملي امنیت په اداره کې ساتل کېږي او له هغوی سره به د عدلي او حقوقي ادارو د طرزالعمل په اساس اجراات تر سره کېږي. څکه دا وېره وه چې یو دم د جلال اباد په ښار کې خپاره نشي-او نورو تروریستي عملیاتو ته دوام ورنه کړي.

په همدې ورځ درې کسه اردونیان چې میرمنې هم ورسره وې تسلیم شول. له دوی سره مې په انګلیسي ژبه مرکه وکړه؛ دوه یې د مالک زاهد او احمد زاهد په نومونو سره ورونه او بل یې عاهد حسین نومېده. دوی د اردون د مفرق ولایت و او د قهتان د قبیلې پورې یې تړاو درلود. له نورو ملکونو د داعش اکثره غړي د ایران له لارې په ویزه کابل ته راغلي و او بیا د خپلو ارتباطاتو په وسیله له داعش ډلې سره په اچین او نورو سیمو کې یوځای شوی و. دوی وویل: چې یو یې موټر چلوه او بل یې مستری و چې په اردن کې یې له داعش سره رابطه پیدا کړه؛ بیا له اردون څخه ترکیې ته او له هغه ځای ایران ته او بیا افغانستان ته په ویزه راغلل. ما ورته وویل: چې انګیزه مو څه وه؟ دوی وویل چې غوښتل یې د امریکا او اسرایلو پرضد دلته جهاد وکړي. ما ورته وویل، چې اسرائیل خو له اردون سره سرحد لري او امریکا هم له ترکیې او اردون نه نیولې د عربو په اکثره هېوادونو کې شتون لري، نو هلته مو ولې جهاد نه کاوه، چې افغانستان ته د جهاد لپاره راتللئ؟ دوی نور ځواب نه درلود بس ویې ویل، چې دوکه شوي یوو. فکر نه کوم چې دوی خپلې دندې سمې ښودلې وې او په حقیقت کې دوی د داعش د کتیبو (ګروپونو) ته د ټریننګ مسؤلیت په غاړه درلود؛ د دوی هر کتیبه شپېته کسه وه.

د دې کسانو تعداد ورځې تر بلې زیاتېده او خبره سل ګونو ته ورسېده. د ملي امنیت ریاست له وسې هم نور پوره نه وه، چې دوی یې د ملي امنیت په ریاست کې ساتلي وې، د وی ته یې د ډوډۍ بندو بست کړې وې، صحي او یا د هایجین (پاکوالي) لازم ترتیبات یې ورته نیولي وي. بالاخره په نظامي شورا کې په دې بحث وشو او فیصله وشوه، چې دوی ټول کابل ته نشي-لېږلی او

هغوی هم هلته ځای نه لري. د امنیت شورا او محلي ادارې له مشر ـ متین بیګ سره وغږېدلم؛ چې هغوی یې د ساتنې په اړه څه نظر لري؟ هغوی هم کوم نظر نه درلود او ویې ویل چې تاسي یې په ننګرهار کې مدیریت وکړئ؛ څو دوی له خپلو کورنیو سره یو ځای شي. موږ ورته وویل: چې د نظامي شورا د فیصلې په اساس، بهرنیان به هلته دروليږو او یوازې اوکرزي او افغانان به دلته وساتو. د دوی امنیت تامین خورا مهم و؛ ځکه که وړه پېښه هم شوي وی، نو د حکومت او ننګرهار لپاره لوی بدنامي وه.

موږ د دوی لپاره د جلال اباد ښار د حاجي کیمپ په سیمه کې ځای تعین کړ. هلته لوی لوی تعمیرونه او خونې وې. په دغه ځای کې تشنابونه، اشپزخانه او د احاطې دېوال هم و، چې امنیت یې ښه ساتل کېدای شو. د امنیت تر څنګ د خدماتو مسئله هم مهمه وه او هم ورته یو جامع امنیتي او لوژستیکي پلان ترتیب شو. په هغه وخت کې دا وېره هم وه، چې په خوراکي موادو کې څوک څه شي وانه چوي او د کمپ په داخل کې ښځې او ماشومان تلف نه شي. تر دغه وخته له ولایتي ادارې سره هېڅ امکانات هم نه و. د محلي ادارې رئیس ښاغلي متین بیګ راته وویل: چې دوی به له جمهور رئیس څخه د لګښتونو لپاره د خاصې بودیجې غوښتنه وکړي. له جمهور رئیس نه امر اخیستلو او د بودیجې انتقال تقریبا دوه میاشتې وخت ونیوه؛ د دولت کارونه او د امکاناتو منظوري او انتقال همېشه وخت غواړي، حال دا چې دې کسانو ته سمدستي درې وخته ډوډۍ، د ماشومانو لپاره شیدې، روغتیایي خدمات، توشکې، کمپلې، د خونو د ګرمولو لپاره بخارۍ او نورو سهولتونو ته اړتیا وه.

په جلال اباد کې مو د سره صلیب ادارې، نورو خیریه مؤسسو او ملګرو ملتونو د UNOCHA ادارې سره عاجله ناسته وکړه؛ چې دوی څه کولای شي او څه امکانات لري؟ د UNOCHA ادارې وویل چې: دوی باید له خپل مرکز نه اجازه وغواړي؛ چې دوی د داعش له کورنیو سره مرسته کولای شي او که نه؟ ما ورته وویل چې ما هم په ملګرو ملتونو کې کار کړی دی او تاسې، چې دېته بشري مرسته نه وایئ، نو څه شي ته یې وایئ؛ ځکه موږ مرسته یوازې ښځو

او ماشومانو لپاره غواړو. هماغه و، چې د ملګرو ملتونو له خاص استازي Tadamichi Yamamoto سره چې له نږدې مې پېژانده وغږېدم او هغې ته مې هم وویل چې دې کسانو ته همدا نن د عاجلې بشري مرستې اړتیا ده. په هر حال د ملګرو ملتونو بیروکراسي هم د حکومتونو د بیروکراسۍ مجموعه ده؛ نو د هغوی لپاره هم وخت پکار و؛ چې مرسته وکړي.

په جلال اباد کې د سره صلیب اداري مشر-محمد نادر جبارخیل ته مې وویل: چې تاسې که هر څومره خوراکي مواد لرئ؛ د هغې مرسته وکړئ او که څه کمبود و، د ولایت مقام به یې پوره کوي. سمدستي مو د خوړلو او د کمپ د تجهیزولو پروسه پیل کړه؛ څو چې موږ دایمي سیستم جوړوه، د امنیه قوماندانۍ ته مو دنده وسپارله، چې دغه کسانو لپاره د هغوی په اشپز خانو کې خواړه پاخه او هلته یې په دېګونو کې انتقال کړي. هر محلي اداري چې څه مرسته کولای شوه، هغه مو منسجم کړه او د ولایت د مرستیالې حبیبه کاکړ په مشرۍ مو یو هئیت وټاکه، چې د اړوندو ملکي او امنیتي ادارو غړي پکې شامل و. ښځینه امنیتي کساني مؤظف شوې، چې د کمپ په داخل کې د ښځو او ماشومانو څارنه وکړي. دعامې روغتیا او سره صلیب ادارو ښځینه پرسونل، ډاکترانې او امبولاسونه مؤظف کړل، چې د دوی تداوي وکړي. ښځو او ماشومانو لپاره د ژمي د جامو او بوټانو اړتیا وه؛ ځکه دویمه جوړه جامې دوی نه درلودې او ډېرو ماشومانو او ښځو د پښو چپلکې اوبوټان هم نه درلودل. د ماشومان لپاره ډایپرې، شیدې او سریلاک هم پکار و؛ هئیت ته مو دنده وسپارله، چې هغه هم په عاجله توګه له بازار څخه واخلي او پوره یې کړي.

مهمه ستونځه دا وه، چې د جلال اباد په ښار کې کافي توشکې او کمپلې نه وې؛ چې سل ګونو کسانو ته بسنه وکړي؛ نو هر څه مو په دویمه ورځ له کابل څخه برابر کړل. ولایتي هئیت ته مې وویل، چې د مصارفو شفافیت باید په نظر کې ونیول شي او زه د ولایت له اوپراتیفي پیسو مرسته کوم؛ څو چې له کابل څخه بودېجه منظورېږي. که د دوی ساتنه او خدمات سم نه وي شوي، نو د

حکومت او ننګرهار لپاره پکې بدنامي وه، نو ځکه خاصه توجو او نظارت پکار و. د نړیوالو او داخلي ژورنالستانو غوا هم لنګه وه، چې د دوی په هکله خبرونه جوړ کړي. د رسنیو، سره صلیب او د بشر حقونو ادارو زیاته دلچسپي درلوده، چې له ښځو او ماشومانو سره مرکې وکړي، د داعش د ژوند او عملیاتو په هکله معلومات حاصل کړي او هم د حکومت د خدماتو او برخورد په هکله راپورونه خپاره کړي.

د کمپ په داخل کې د داعش ماشومانو او ښځو رویه له ښځینه کارمندانو او صحي کارکوونکو سره نهایت خشنه وه او ټول ورته کافر ښکارېدل؛ حتی یوه ورځ یې یوه صحي کارمنده سخته وهلې وه، چې بیا ښځینه امنیتي مسوولینو یې مخه نیولې وه. ټولو ته قران شریفونه او جاینمازونه ورکړل شول او هم له ښځینه مدرسوځخه ملایانې ښځې مؤظف شوې، چې له دوی سره خبرې وکړي؛ څو د دوی په فکرونو کې تغیر رامنځته شي. دوی په لومړي سر کې د ښو خوراکونو او سهولتونو غوښتنه هم کوله او ویل یې چې په غرونو کې ورته ښه سهولتونه و اما دلته نشته دی. نظافت یې هېڅ نه مراعات کاوه. متاسفانه اکثره ښځې دوه، درې، څلور او لس ځله هم یو بل ته په نکاح شوې وې؛ حتی یوې ښځې وویل چې نوموړې ۲۴ ځله په نکاح شوې ده. د داعش په ګروپونو کې دا دود و، چې د کومې ښځې مېړه به په جنګ کې مړ شو، نو د عدت مودې پورې به یې هم صبر نه کاوه او بل کس ته به یې په هماغه ورځ نکاح کوله.

د دې لپاره چې په انګلیسي ژبه نړیوالو رسنیو ته د داعش د شکست په هکله مقاله ولیکم؛ نو ومې غوښتل چې د دوی له یو څو کسانو سره مرکې وکړم[٣٤]. د ۲۰۱۹م کال د نومبر د میاشتې په شلمه نېټه مې د ملي امنیت ریاست

---

[34] https://pajhwok.com/2019/12/14/is-k-eliminated-in-nangarhar-afghanistan-but-left-behind-ruined-houses-and-land-mines/#_ftn2 (اخري ځل دا ویبپاڼه په ١٦م ٢٠٢١م کال وکتل شوه)

کې د داعش د څلورو هندي ښځو او همدا شان د عبدالبصير په نوم د فراه ولايت يو کس، او يو بل کس چې ګلاجان نومېده او د پېښور و، له دوی سره مرکې وکړې. عبدالبصير وويل چې: په لومړي سر کې له طالبانو سره و. څلور کاله د مخه چې کله د طالبانو قوماندان عبدالروف خادم په فراه کې د داعش د حمايت اعلان وکړ او هغه يې مشر وټاکل شو، دی هم ورسره يوځای شو. دوی د فراه ولايت د پشت رود په سيمه کې دعوت چلوه. کله چې عبدالروف خادم ووژل شو، عبدالبصير د خپلو څلورو ورونو، عبدالغني، عبدالواحد، عبدالرازق او عبدالمالک سره مامند درې ته راغلل. دريو ورونو يې هماغلته په مامند دره کې له پاکستاني ښځو سره ودونه وکړل، چې اوس دوه ورونه يې يوه يوه لور لري او بل يې يو ځوی لري. مور يې هم ورسره وه؛ خو بيا هغه مريضه شوه او پس له يوه کال څخه بېرته فراه ته لاړه. تر يوې مياشتې دمخه يې له خپلې مور سره تماس درلود او ژوندی وه. د دې په قول د داعش ډلې ترهغې په يو چا اعتماد او باور نه کاوه؛ چې د کورنۍ غړي او ميرمنې به ورسره نه وې، نو ځکه يې خپله مور د ځان سره راوستلې وه.

له عبدالبصير څخه چې ليک لوست يې نه و زده ما پوښتنه وکړه؛ چې له داعش ډلې سره ستاسې د يو ځای کېدو انګېزه څه شی وه؟ هغه وويل چې په حديث کې راغلي دي؛ چې په قريشو کې به خليفه راپيدا کېږي او کله چې هغه مړ شو، بيا به مهدي اخر زمان پيدا کېږي. د داعش خليفه بغدادي په عراق کې پيدا شو نو له هغه وروسته به مهدي راپيدا کېږي. ما ورته وويل چې بغدادي خو وژل شوی دی او مهدي خو لا تر اوسه پيدا شوی نه دی. متاسفانه نور ځواب يې نه درلود. د دې ورونو اصلي هدف د عقيدې تر څنګ د داعش په منځ کې د ښځو نکاح کول هم و. ډېرې ځوانان په همدې نيت له داعش سره يو ځای شوی و، چې هلته ښځې يو بل ته په نکاح کېږي. عبدالبصير وويل چې: د داعش مشرانو به دوی ته د جنګ او ديني ويډيوګانې ښودلې. نوموړي وويل، خپله يې په کتيبو کې د اشپزۍ دنده په غاړه درلوده. د دی په

قول، د پاکستانیانو تعداد زیات و او ټرېننګ یې ورکاوه. د یوه کال راهیسې د دوی خوراکي مواد مخ په کمیدو و. کله چې د اچین د اغزن، وچ کوټ او کځونو سیمو کې پوستې واچول شوې؛ نو د دوی خوراکي مواد بیخي کم شول. هغه وویل چې داعشیان له ډرون حملو نه زیات ویرېدل او په لارو کې یې ماینونه ښخ کړې و او که د چا به خوښه هم وه، چې وتښتي، د ماینونو له وجهې ځوک تښتېدلې نه شو.

یو بل کس چې اصلي نوم یې ګلاجان دی؛ خو په پېښور کې یې د ممتاز کمانډر په نوم شهرت درلود او د داعش ډلې په منځ کې د یعقوب په نوم یادیده، وویل: چې په پیښور کې د ریګي د کلې دی او په ریګي کې یې ځمکه پاکستان حکومت نیولې ده. د خپلې ځمکې د نیولو او له پاکستان پوځ څخه دانتقام په خاطر یې ۲۰۰ کسیز ګروپ جوړ او په باجوړ کې د طالبانو د عبدالولي له ډلې سره یوځای شو. د عبدالولي ډلې په منځ کې د ممتاز کمانډر په نوم شهرت پیدا کړ. پاکستان د ده کور وسوځوه او ماشومان یې لاهور ته ولیږل او دې وزیرستان ته لاړو. له وزیرستان څخه د کونړ وټه پور سیمې ته لاړو او هلته ورسره ښځه او بچیان هم یو ځای شول. ده وویل: چې بله ښځه یې هم درلوده، چې هغه یې له زوم سره د کامې په ولسوالۍ کې اوسیږي. ممتاز کمانډر وویل چې کله د عبدالولي ډلې ماتې وخوړه، نو ده هم بله لار نه درلوده؛ ځکه چې رزق او امکانات نه و نو له داعش سره یوځای شو.

له دریو هندي میرمنو سره مې په انګلیسي-ژبه مرکې وکړې. یوې چې اسلامي نوم یې مریم و، ویې ویل چې په ۲۰۱۴م کال کې یې له کیرالا ایالت د Mahatma Gandhi University نه په انګلیسي-ادبیاتو کې لسانس دوره تکمیل کړې ده. مېړه یې د بنګلور له پوهنتون څخه په بزنس کې لسانس درلود. دواړه عیسویان و او په یوه وخت کې د ډاکتر ذاکر نایک په مرکز کې مسلمانان شول. هلته یې سره نکاح وکړه؛ مېړه یې له داعش ډلې سره په بنګلور کې اړیکه پیدا کړې وه. دوی تصمیم ونیوه، چې د داعش له ډلې سره به په افغانستان کې یوځای کیږي. د ۲۰۱٦م کال د جون په میاشت کې، ۲۲ کسه هندیان چې

دیارلس یې نارینه، شپږ ښځې او درې ماشومان و، افغانستان ته په جلا توګه راغلل. خو د دوی ډله شپږ کسان و، چې درې میرمنې او درې یې مېړونه و او یوځای راغلل. دوی د ایران له لارې افغانستان ته په الوتکه کې په قانوني توګه راغلل. کابل کې د داعش راه بلد موجود و او هغه دوی جلال اباد ته راوستل. جلال اباد ښار کې یې ښځې او نارینه جلا جلا په یو کور کې د لسو ورځو لپاره وساتل او بیا نازیانو ته یې یوړو او هلته د داعش له لیکو سره یوځای شول.

د دې میرمنې عیسوي نوم Merin Jacob او د مېړه عیسوي نوم یې Bestin Wincent و. لومړی مېړه یې په ۲۰۱۷م کال کې په هوایي بمباریو کې ووژل شو؛ دې میرمنې په دویم ځل له راشد نومې سره چې د داعش د ډلې په منځ کې د ابوسارا په نوم شهرت درلود، نکاح وکړه. نوموړې وویلې چې راشد هم دوه میاشتې دمخه د خوګیانو د زاوې په کلي کې ووژل شو. له لومړي مېړه نه د راضیه په نوم یوه لور او له دویم مېړه یې د امینې په نوم بله لور لري، چې دواړه ورسره یو ځای دي. دې میرمنې وویل چې له نازیانو څخه مامند درې ته لاړو او یو نیم کال هلته و. بیا په مامند دره کې د جنګونو له امله د وزیرو تنګي ته لاړو. دغه مېرمنې زیاته کړه، چې کله افغانستان ته راتلل، پنځه لکه هندې کلدارې یې هم له ځان سره درلودې. داعش له دوی سره مرسته کوله او که کله به ضرورت و؛ نو له خپلو پیسو یې استفاده کوله. ما ورته وویلې چې تاسې خو خورا ډېر په تکلیف شوي یاستئ، چې هم مو دواړه مېړونه د لاسه ورکړل او هم مو په غرونو کې سختې شپې او ورځې تېرې کړې دي؟ هغې وویل چې دا ښه ده چې څومره انسان زیات په زحمت شي همدومره الله زیات اجر انسان ته ورکوي. هر څه چې پېښېږي، په هغې کې د انسان خیر وي. دا میرمن لا په تصمیم پښېمانه نه وه چې د داعش سره یوځای شوې وه.

دویمه ښځه رافیلا (Raffeala) نومیده او په Microbiology کې یې ماستري درلوده. دې وویل، چې پلار یې په ابوظبي کې بزنس درلود او ښه

متمول تجار و. تر دولسم ټولګي یې ابوظبي کې درس ویلی و او بیا یې نور سبقونه په کراله کې وویل. مېړه یې ډاکتر و. دا چې مېړه یې تصمیم نیولی و، چې افغانستان ته راشي، دا هم ورسره راغله؛ ځکه په اسلام کې دا مهمه ده چې باید د مېړه اطاعت وشي. دې وویل چې درې میاشتې کیږي، چې خپل مېړه یې لیدلی نه دی او نه ورته معلومات شته چې ژوندی دی که مړ. دې میرمنې هم دوه زامن درلودل.

درېیمه ښځه فاطمه نومېده. دا میرمن هم په اوله کې هندوه وه، چې نوم یې نمیشا و او وروسته مسلمانه شوې وه. د غاښونو د پوهنځي د درېیم کال محصله وه، چې درې میاشتې یې فراغت ته پاتې وې او له مېړه سره راغلې وه. مېړه یې عیسوی و او وروسته مسلمان شوی و. عیسوي نوم یې Bexen و. ما دې میرمن ته وویل: ستاسي څنګه خوښه ده، چې په افغانستان کې پاتې کېږئ او که غواړئ چې هند ته ستنې شئ؟ په ځواب کې یې وویل چې څه د الله خوښه وي؛ که دلته اوسم او که په محبس کې کوم باک نه لري.

که پورته مرکو ته وګورو، د دوی انګیزو سره توپیر درلود او په حقیقت کې د دوی ماغزه وینځل شوي ول او په خپلو کړنو هم پښېمانه نه ښکاریدل. مګر د مرکو په وخت کې د دوی وضعیت، د ماشومانو ژوند او فکر چې ما کاته، د تاسف وړ و.

د اکتوبر په ۲۴مه نېټه مو ۲۴۳ د داعش تسلیم شوې نارینه له سلاوو سره یوځای د ملي امنیت په ریاست کې د خبرې کنفرانس په لړ کې رسنیو ته وښودل، چې دا د داعش د ماتې بېلګه وه. له دغه ښځو او بندیانو سره مرکې مهمې وې. زما په اند که د ملي امنیت ریاست د داعش له ټولو بهرنیو او کورنیو غړیو سره د اطلاعاتي تخلیې د مرکو راپور ولیکي او چاپ یې کړي، ډېر به ښه وي؛ څو راتلونکي نسلونه د دوی له وحشت، ستونځو او ظلمونو څخه عبرت واخلي.

د خبرې کنفرانس په لړ کې د ننګرهار د سپین غر پوهنتون د طب پوهنځي یو محصل سید ولي، چې د ښېوې ولسوالۍ د سلامپور (اسلام پور)

اوسیدونکي و، هم له ژورنالستانو سره داخل شو و او راته یې وویل چې والي صیب! دا یو کس د ثاقب په نوم زما ورور دی او درې کله کېږي؛ چې له مور نه ورک و؛ له ثاقب څخه مې پوښتنه وکړه، چې په دې دریو کلونو کې چېرته وې؟ هغه وویل چې د اغز په تنګي کې له داعش سره وم او له کور سره یې هېڅ اړیکه نه نیوله. سید ولي ته مې وویل چې دا به کابل ته لیږدول کېږي اوهلته به ترې نور تحقیق هم کېږي؛ خو مور یې نشو خوشې کولای. سید ولي وویل چې دی یې هم نه غواړي چې خوشې شي؛ خو صرف غوښتل یې چې ویې ګوري او خپلې مور ته احوال ورکړي چې زوی یې ژوندی دی.

په لسم د نومبر د یونما له دفتر څخه پوهاند ډاکتر رضوان الله نادري، زمور د یو پخوانې همکار سره چې په کابل کې د یونیما په دفتر کې مو سره کار کوه او د روداتو د ولسوالۍ و، راغی او راته یې وویل چې د دغه همکار یو ځوی چې د انجینرۍ په برخه کې یې تر ماسترۍ کچې پورې روسیه کې زده کړې وې، په ۲۰۱۰م کال کې یې هلته له یوې تاتارۍ جلۍ سره واده وکړ او بیا له هغه ځای څخه داعش سره یو ځای شوی و؛ د دغه همکار په قول نهه کاله کېږي، چې دوی ورسره اړیکه نه درلوده، خو اوس دا تاتاره ښځه د دریو ماشومانو سره کابل کې د دوی کورته ورغلې او هلته ده، خو ځوی یې په هسکه مینه کې د پولیسو لخوا نیول شوی دی؛ که همکاري وکړئ او خوشې شي نو ښه به وي؛ ځکه دوی په دې نه پوهیږي، چې له ماشومانو سره یې څه وکړي. ما ورته وویل چې د ځوی د خوشې کېدو امکان یې نشته او له هغه سره به د ملي امنیت لوري د قوانینو په رڼا کې چلند کېږي. یو شمېر نورې کورنۍ امنیتي ادارو ته د تسلیمې نه په غیر چې کولای یې شول چې خپلو کورنیو ته ځانونه ورسوي، تللي و.

د دسمبر د میاشتې تر شپږمې نیټې پورې په ننګرهار کې د داعش د ډلې ۱۱۸۶ ښځې او ماشومان حکومت ته تسلیم شول. له دې جملې څخه ۱۳۲ ښځې او ۱۸۰ ماشومان چې د نورو ملکونو و، کابل ته ولیږدول شول. ۳۲۴

ښځې د **۵۳۲** ماشومانو سره چې د اورکزو وې، په حاجي کمپ کې وساتل شوې. علاوه له دې د افغانستان د ديارلس ولايتونو ښځې او ماشومان چې رابطه به يې له خپلوانو سره نيول کېده او يا به يې کولای شول، چې راسآ خپلو سيمو ته لاړ شي، مورږ ورته اجازه ورکوله؛ ځکه د زياتو کسانو ساتل مشکل کار و. همداشان د دې احتمال هم و، چې ځينې اخلاقي تورونه هم په امنيتي ادارو لږول شوې وې. له يوې ناوړه پېښې سره د ننګرهار ولايتي ادارې ټوله خواري په سيند لاهو کېده.

د جمهور رئيس د امر په اساس دا ښځې او ماشومان بايد د فرضي کرښې ها خوا خپلو کورنيو او خپلوانو ته د جرګې له لارې سپارلي وی؛ څو ځلې د دېخوا د مشرانو، علماوو او قبايلو رياست لخوا، د مومندو، اپريدو او اورکزو د مشهورو مشرانو او علماو سره تماسونه ونيول شول، چې هغوی يوه جرګه جوړه کړي او دېخوا راشي؛ څو دا ښځې او ماشومان د دوی کورنيو ته تسليم شي، خو هغوی دې ته حاضر نشول، چې راشي؛ ځکه د پاکستان حکومت ورته اجازه نه ورکوله. بيا عبدالصبور خان اپريدی، چې له پخوا څخه په ننګرهار کې اوسېږی، د ملک عصمت الله خان اپريدي په ذريعه د اورکزو د سيمې له خلکو سره تماس ونيوه؛ هلته د داعش د تسليم شوو کورنيو له خپلوانو څخه پنځلس کسيزه ډله په ډېره مشکله ننګرهار ته راغله، هغه کسان به چې د جرګې او هم د ښځو لخوا تائيدېدل، چې د دوی خپلوان دي، بيا به ورته مېرمنې او ماشومان ورکول کېدل. دې پروسې ډېر وخت ونيوه، ځکه چې وروسته بيا څوک دعوه ونه کړي؛ چې د دوی ميرمنې او ماشومان يې نامعلومو کسانو ته په لاس ورکړي او يا خرڅې شوي دي. د ملي امنيت رياست د دوی لپاره د ثبت او رخصتېدلو مکمل لست اچولی و. کله به چې ټول پروسيجر تکمل شو، د هئيت لخوا به تائيد کېده او بيا به دوی خوشې کېدل. دا ښځې او ماشومان د ۲۰۲۰م کال د فبروري د مياشتې د ديارلسمې نېټې پورې په کمپ کې وساتل شول؛ وروستۍ ډله په همدې ورځ چې ۲۱ ښځې او **۳٦** ماشومان و د اورکزو مشرانو ته تسليم او کمپ تخيله شو.

تقريبا څلور مياشتې دا ښځې او ماشومان په حاجي کمپ کې وساتل شول، چې د دوی امنيت، خوراک او خپلوانو ته تسليمي په ډېره ښه توګه تر سره شوه او هېڅ يوه داسې پېښه ونشوه، چې کوم تور داغ د ننګرهار په ولايتي ادارې او پرسونل باندې کېښودل شي. ځای لري چې د ننګرهار ولايت له دوارو مرستيالانو تميم عارف مومند او حبيبې کاکړ، د ملي امنيت د رئيس ډګرجنرال نظر علي واحدي، د امنيې قوماندان ايمل نيازي، سکتوري ريس فضل ربي هميم، سيد روح الله پاچا، انجينر فريد ناصرزی، اداري رئيس قريب الله هجرت، د صحت عامې رئيس ډاکتر نصير احمد دوراني او له ټولو ادارو کارمندانو او په ځانګړې ډول د ننګرهار د سرې مياشتې رئيس نادر خان جبارخيل نه مننه وکړم، چې د دې کسانو په امنيت او پالنه کې يې خاص رول ولوبوه او د ننګرهار د خلکو او ولايتي ادارې ابرو يې پر ځای کړه. د جمهور رئيس، په کابل کې د اکثره نړيوالو ادارو، د بشر د حقوقونو کمېسون او له ټولو دولتي ادارې هم په دې برخه کې ځانګړې مننه کوم. د قبايلو د رئيس، وجيح الله شينواري او د ننګرهار د ځينو علماو او مشرانو نه خاصه مننه چې د جرګې په جوړيدو کې ډيرې هلې ځلې وکړې.

د داعش ماتې د ننګرهار، افغانستان او حتی د نړۍ په سطحه يوه لويه موضوع وه، نو له جمهور رئيس څخه مو وغوښتل؛ که ننګرهار ته راشي او د داعش د شکست اعلان وکړي ښه به وي. جمهور رئيس دا ومنله او د نومبر د مياشتې په ۱۹مه نېټه ننګرهار ته راغی او د داعش ماتې يې په رسمي توګه اعلان کړه. ننګرهار ته له جودرې پېښې وروسته د جمهور رئيس دا دويم سفر و، چې تقريبا د يوې مياشتې په موده کې دننه تر سره شو. که څه هم د اچين په باغدره، تختو او شنډوني سيمو کې تصفيوي عمليات راوان و، خو هلته مقاومت نه و او د امنيتي قواو پرمختګ د زياتو ماينونو له امله ورو و.

په ننګرهار کې د داعش د شکست اعلان ځکه مهم و، چې د اچين په سيمه کې د بمونو مور استعمال شوې وه او په زرګونو بهرني عسکرو هڅه کړې

وه، چې دا سیمه ونیسي؛ خو څه ګټه یې ونه کړه او داعش ختم نه شو. د داعش ختم د ننګرهار د نظامي شورا د ښې همغږۍ، کره پلان او د محلي پاڅون کوونکو د قربانیو پایله وه. په ننګرهار کې د داعش مرکزونه او جغرافیوي کنټرول پای ته ورسید، اما په فکري لحاظ لا داعش ختم شوی نه دی. د ننګرهار په بېلابېلو سیمو کې دا ډله لا هم په هدفي وژنو او تروریستي حملو کې برخه لري. د یادونې وړ ده، چې کله داعش شکست وکړ، طالبانو د وزیرو تنګی ونېوه او ادعا یې وکړه، چې داعش هغوی ختم کړ. د طالبانو ادعاء داسې مثال درلود لکه چې څوک د مار له وژلو وروسته مار په کوتکو ووهي او ادعاء وکړي، چې مار ما مړ کړ. په حقیقت کې دوی د ننګرهار په نورو سیمو کې تحرکات پیل کړل، چې زموږ قواوې هلته مصروفه وساتي او داعش ختم نه شي.

د ننګرهار په غونډه کې جمهور رئیس په خپلو خبرو کې وویل چې دا ډېر د خوښې ځای دی، چې داعش شکست وخوړ، د هسکې مېنې د جودرې له پېښې وروسته چې د داعش د له منځه وړلو وعده مو له ولسونو سره کړې وه، هغه پوره شوه. د ننګرهار د والي، نظامي شورا او په خاصه توګه د پاڅون کوونکو او ولسونو نه مننه کوم او د ننګرهار خلکو ته د دې بریا مبارکي وایم. لکه څنګه چې داعش ختم شو، همداسې به د طالبانو لمن له شېرزادو او حصارک نه هم ټوله شي. د TTP او منګل باغ ډله به هم په اچین او نازیانو کې له منځه یوړل شي، ځکه هغوی هم پرته له مصیبت څخه بل څه دغه سیمې ته نه دي زیږولي. جمهور رئیس وویل چې د اسلامي اصولو او پښتونولۍ له دود سره سم باید د داعش کورنۍ قومي جرګې ته ورکړو، خو د پاکستان حکومت ته دا پښتني میرمنې نه تسلیموو. د ننګرهار ولایتي ادارې او د قبایلو او سرحدونو چارو وزارت ته یې دنده وسپارله، چې د اورکزو، اپریدو او باجوړ سیمو له مشرانو سره اړیکه ونیسي، چې د دې ښځو او ماشومانو خبر واخلي او هغوی ته تسلیم شي. جمهور رئیس هدایت وکړ، چې په دې هکله د ننګرهار د

قومونو او مشرانو مشوره هم واخلئ؛ جمهور رئیس زیاته کړه، چې د پنجابي داعشیانو علنې محکمه پکار ده او د دوی لپاره به ځانګړې محکمه جوړیږي.

جمهور رئیس، چې هر ځل ننګرهار ته راتللی، له قومي مشرانو، علماوو، ښځو، امنیتي ادارو مشرانو او ځوانانو سره یې ځانګړې ناستې هم نیولې. له محلي پاڅون کوونکو سره په ناسته کې حاجی معاون جمهور رئیس ته وویل، چې د امنیتي قواو په حمایت، دوی په ډېرو کمو امکاناتو داعش ته ماتې ورکړه او د ننګرهار په امنیت کې یې مهم رول ولوبوه. تر دې دمه ننګرهار کې د ټولو پاڅون کوونکو ۱۷۷ کسان شیهدان او زخمیان شوي دي. د دوی د قربانیو هم باید قدر داني وشي او امتیازي رتبې او تقاعد دې ورکړل شي. که کندهار کې تادین خان او شمال کې جنرال دوستم چې کارګر و، د جنرالې رتبې ورکړل شوې، نو دوی هم مستحق دي، چې نظامي رتبې واخلي. جمهور رئیس وویل: چې زه ستاسي د توري پوروړې یم او محلي پاڅون کوونکي به په منطقوي اردو کې ځای پر ځای کیږي. په دغه وخت کې د ټول ننګرهار د محلي پاڅون کوونکو شمیر ۲۴۲۹ کسه وه، چې د ننګرهار په ۱۴ ولسوالیو کې د ملي امنیت د ریاست لخوا تنظیم شوي و. د ننګرهار او هم د ختیځو ولایتونو محلي پولیس د افغانستان د نورو سیمو په پرتله د امنیت په راوستلو کې ښه نتیجه ورکړې وه؛ ځکه دوی د یو کس د قوماندې لاندې نه و او په محلي خلکو یې لکه د شمال او نورو سیمو غوندې ظلم نشو کولای.

له جمهور رئیس سره په ځانګړو ناستو کې د قومونو په استازولۍ د شینوارو د مامند درې حاجي عثمان- خدای دې وبښي- خبرې وکړې او ویې ویل، چې دا ښځې او ماشومان به د پښتنو په دود تسلیموو. د علماو په استازیتوب مولوی سید مطهر شاه پاچا او د ښځو په استازیتوب اغلې صبرینا حمیدي او د ولایتي شورا په استازولۍ احمد علي حضرت خبرې وکړې. جمهور رئیس په خپلو خبرو کې دوی ته وویل، چې یو کال د مخه دا فکر چا نشو کولای، چې داعش به مات شي. د والي صیب په مشرۍ، ستاسي په حمایت، د امنیتي ادارو

په ښې همغږۍ او تحلیل هغه داعش چې د بمونو د مور په استعمال او د بېشماره بمباریو په ذریعه له منځه لاړ نه شو، نن له منځه یوړل شو او له ټولو څخه مننه کوم.


Da Afghanistan Bank-JALALABAD BRANCH CREDIT Cash
Date: 11-Jul-2020 Region Date: 1399/04/21 Time: 11:08:23
Account Detail: MOF-5320(AFN) / 2850208035530
Account Name: NEW IMPORTS CUSTOM NANGARHAR PROVINCE
Transaction ID: 14999
Particulars:Cash By
BuyingRate :1 SellingRate :1

| Denomination | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1000 | 500 | 100 | 50 | 20 | 10 | 5 | 2 | 1 | Coins | TOTAL |
| 3300 | 15000 | 180 | 14 | 0 | 0 | 0 | 0 | 93 | 0.00 | 10818793.00 |

Amount : 10818793.00 AFN TEN MILLION EIGHT HUNDREDEIGHTEEN THOUSAND SEVEN HUNDRED NINETY THREE ONLY

| FOR MOF USE ONLY: | | | |
|---|---|---|---|
| Currency Equivalant | Exchange Difference | Mof Cheque no | Exchange Currencies |
| | | | AFN To AFN |

CUSTOMER SIGNATURE POSTED BY: AUTHORISED BY:
[illegible] HAMDARD

په رسنیز ډګر کې د داعش ماتې ښه انعکاس پیدا کړ. د ننګرهار ولایت تصور بدل شو او ننګرهار د افغانستان په کچه د امنیت او حکومتولۍ په راس کې واقع شو. جمهور رئیس کابل ته د ستیندو په وخت نهایت خوشاله و. په همدغه غونډه کې جمهور رئیس ماته د امین والي لقب راکړ او د داعش د ښځو او ماشومانو د مصارفو لپاره یې شل میلونه افغانۍ منظور کړې، چې دا پیسې نږدې یو میاشت وروسته راورسیدې. کله چې له ننګرهار څخه تلم، له دغه شلو میلونو افغانیو څخه ۹،۱۸۱،۲۰۷ افغانۍ مصرف شوې وې او ۱۰،۸۱۸،۷۹۳ افغانۍ مې د بانک له لارې حکومت ته تحویل کړې. په حقیقت کې دا پیسې د قطعي مصرف په توګه راکړل شوې وې، خو دا زما تعهد او دنده وه، چې خیانت به نه کوم او هم هغه اعتماد چې جمهور رئیس او د ننګرهار ولسونو په ما کړی و، باید وساتم. په عکس کې د پیسو د تحویلدو اویز کتلې شي.

که څه هم د اچین د باغدرې په سیمه کې زموږ عملیات روان و، خو د جلال اباد ښار او د حاجي کمپ امنیت ساتل زیات مهم و. د طالبانو لخوا ګواښ موجود و، چې په کمپ به حمله کوي؛ تر څو ولایتي اداره بدنامه کړي. په دغه وخت کې طالبانو خپل تحرکات د لعل پورې، مهمندرې، سره رود،

خوګیانو او شېرزادو ولسوالیو کې زیات کړي و، ځکه هغوی پوهېدل، چې امنیتي قواوې په اچین کې د داعش پر ضد عملیاتو کې مصروفه دي او دا وخت یې غنیمت شمېره، چې د داعش سیمې ونیسي، خپل نفوذ پراخ کړي او په عینې حال کې دا وښایي، چې داعش ته دوی شکست ورکړی دی. د داعش لخوا هم په جلال اباد ښار کې د حملو او موټر بمونو خطر موجود و، ځکه د دې امکان و، چې هغوی به د ښځو او ماشومانو د خلاصون لپاره په کمپ حمله کوي. له ټولو څخه لوی ګواښ د داعش لخوا دا و، چې که د دوی ښځې او ماشومان خوشې نشي، نو دوی به د جلال اباد په ښار کې د نجونو په ښوونځیو او د دولتي چارواکو په کورونو حملې وکړي، جنکې او ښځې به وتښتوي او یا به یې ووژني.

دا اطلاعات دومره زیات شول، چې امنیتي ادارې هم نه پوهېدلې، چې د ښوونځیو امنیت وساتي، که اچین او نورو ولسوالیو کې د داعش او طالبانو پرضد جنګ ته دوام ورکړي او که دجلال اباد ښار امنیتي وضعیت ته پاملرنه وکړي. حتی دا هم مطرح شوله چې د نجونو ښوونځي رخصت کړي خو ما د دې پریکړې سره مخالفت وکړ او ورته وویل چې په دې کار سره د ننګرهار ټولې نظامي لاسته راوړنې د سوال سره مخامخ کیږي. د تروریزم اصلي موخه وېره خپرول دي، نو دا معلومات او تهدیدونه مو له اړوندو ادارو او ولسونو سره هم نشو شریکولای، ځکه ننګرهار کې وېره خپرېده او د ولسونو په مورال یې تاثیر کاوه.

د داعش یو کس چې اصلا د بټي کوټ ولسوالۍ و، راته د وټس اپ له لارې د ۲۰۲۰م کال د جنورې په اومه نېټه له ۰۷۹۱۹۴۶۵۴۸ شمېرې نه مسیج وکړ او لیکلي یې و:

د خلافت اسلامي د امنیت ادارې خارجي رابطو څانګې لخوا

د ننګرهار والي شا محمود میاخیل ته!

زموږ د خفیه سرچینو پر اساس موږ ته خبر راغلی، چې زموږ بندیانې مومنې خویندې سبا ته کابل ته بوتلل کېږي. موږ تاسې ته سپین ګیري او ملکان درلیږل ترڅو زموږ د خلافت خویندې هغوی ته حواله کړې. که زموږ خویندې کابل ته ولیږدول شوې نو زموږ غبرګون ته په تمه اوسي. موږ هماغه فدایان یو او زموږ دریځ هم هماغه دی. زموږ د خویندو سره غیر انساني او غیر اسلامي سلوک به تاسې ته ډېر ګران تمام شي. زموږ د خویندو په غچ کی موږ ستاسې محصلینې، د دولتي ادارو د مامورینو د کور غړي زنانه حتی ستاسی ماشومان به هم زموږ له بریدونو څخه په امن نه شي. شروعات تاسي کړي او اختتام به موږ کوو خو ډېر بد اختتام چې ستاسی زړونه به ودردوي او هېڅ به ونه کړاې شي. نو مخکې له دی چی معامله درته خطرناکه شي زموږ خویندی موږ ته وسپاري او که کابل ته ولیږدول شوې نو انجام به درته ډېر بد وي. "شروعات کونکی لوی ظالم دی"

د دې شخص د مسیج په ځواب کې ما ورته ولیکل:

سلام: ما ستاسي مسیج ولوست.

اول: موږ د انساني او اسلامي همدردې له امله دغه ښځې او ماشومان چې په غرونو او دشتو کې پاتې شوې وې، خوندي ځایونو ته انتقال او لازم سهولتونه ورته برابر کړل. ایا دا تاسې نه ګورئ؟

دویم: دا ښځې او ماشومان له موږ سره بندیان نه دي. د چا چې شرعي محرم پیدا شوی او ښځو هم تائید کړی دی، موږ ورته ښځې او ماشومان سپارلي دي.

دریم: شرعي حکم دا دی، چې دوی باید ملکانو او غیر محرم کسانو ته ونه سپارل شي.

څلورم: دا چې تاسي ګواښ کړی دی، چې متقابل عمل به وکړئ، هغه ستاسي پورې اړه لري، چې خپلو غیرو اسلامي اعمالو ته دوام ورکوئ که نه. که تر اوسه مو غیر اسلامي اعمالو څه نتیجه ورکړې وي او څه ګټه یې اسلام او

افغانانو ته رسولې وي، تاسې له خپلو ځانونو سره باید محاسبه وکړئ، چې دوام ورکړئ او که نه؟

پنځم: موږ خو د هېواد د نافذه قوانینو، اسلامي او انساني مسؤلیتونو په چوکات کې د دې ښځو او ماشومانو عزت وساته، پالنه مو وکړه او دوی مو خوندي کړې. دوی ته مو ښځینه کارکوونکي موظف او طبي سهولتونه برابر کړل. د شرعي احکامو له مخې که محرم یې ثابت نشي، دوی ملکانو ته سپارل نه دي پکار. نور قضاوت د تاسې پورې اړه لري.

د پورته مسیج په ځواب کې همدغه کس بیا له هماغه شمېرې ولیکل:

د اسلامي دولت د ښاري شازلمیو مرکزي شوری لخوا د ننگرهار ولایت گوډاگي او د طاغوتي رژیم والي ته!

سلام علی من اتبع الهدی امابعد!

اولنې ځواب: تاسي چې په دې خطونو کې اسلامي او انساني شعارونه زمزمه کوئ، نو ایا دا ستاسي انسانیت دی، چې تاسي د مجاهدینو بې گناه او غیر محاربې زنانه د چهل او نود په هغه کرغېړن زندان کی بندیانې کړې، چې دېوالونه یې د مجاهدینو په وینو سره دي. ایا دا انسانیت دی، چې د حاجي کیمپ په زندان کی ماشومانو د یخنې له امله سا ورکړه. (د دغه ماشومانو نه یو کس له ولادت نه وروسته ساه ورکړې وه؛ نو دوی دې ماشوم ته اشاره کوله)

ایا دا ستاسي انسانیت دی، چې په حاجي کیمپ کې د یتیمو ماشومانو په سر ستاسي کارمندان یو بل سره جنجال کوي، چی دا زما دی او دا بل زما؛ په داسی حال کی چې سرپرستې زنانه مو ترینه چهل او نود ته اتقالولې او دې یتیمو ماشومانو کړیکې وهلې. (موږ یوازې د نورو ملکونو ښځې او ماشومان کابل ته انتقالول. افغانې او د قبایلو ښځې او ماشومان مو په حاجي کیمپ کې ساتلې و)

ته خو په ولایت مقام کې د سیکولاریزم په خدمت کې بی واکه پروت یې. ته د دغه زنانو له حاله څه خبر یی؛ خو موږ د خپلو خویندو له حاله وخت پر

وخت خبرېږو. دا لازم سهولتونه دېته وايـي، چـې د زنـاورو (ځنـاورو) خـوراک ورباندي کوئ؛ موږ له دغه حالاتو ښه خبر يو خو ته لږ ځان خبر کړه.

دوهم ځواب: زنانه چې له تاسې سره بنديانې نه دي؛ نو بيا يې خپلې خوښې ته پريدئ، هغوی څه ماشوماني خو نه دي د خپلو کورونو لارې ورتـه معلـومې دي او په دی هم پوهيږي چې چيرې ولاړې شي خو تاسي يـو پلمـه نيـولی. او موږ چی کوم ملکان درلیږلي هغوی خـو څـه دا زنانـه نـه پشـاکولی خـو ضرور ورسره خپلې زنانه وې، چی بيا موږ ته سپارلې. تاسـی چـې د غيـر محـرم خـبره کوي دا په رسنيو کی چې کومې زنانه دي له دوی سره کوم شرعی محرم دی دا تاسره چی کومې دولتي فحاشې کارمنداني کتنې او ليدنې کـوي ايـا تـا لـه دوی څخه د کوم محرم پوښتنه کړيده او ته د هغه زنانو له حاله خـبر يـې چـی سـتا د دولت په ليکو کی يـی سرپرسـتان قربانيـان شـول او وس پـه سرکونـو خيراتونـه غواړي. د هغوی د شرعي محرم پوښتنه وکړه. که متقابل عمل موږ وکړ نو بيا بـه تاسي هم شرعی محرم موږ ته راستوې.

دريم ځواب: موږ د متاقبل (متقابل) عمل گواښ کـړې او لله الحمـد مـوږ د کار نه مښکې (مخکې) د شرعی نصوصو پـه اسـتدلال سره خپـل کـار پيلـوو دا چی ته له قران څخه نه يې خبر دا ستا کار دی. موږ له خپل دين څخه خه خـبر يو او پايله باندی موږ مکلف نه يو موږ په جهاد مکلف يو او جهاد ډېـر قـوانين لري خو بيا د انتقام په صورت کې هر قسمه انتقامي کړنه زموږ د ديـن بـی مثالـه خوبي ده. تاسی چی زموږ د تمکين په ساحو د ړندو بمبـاريو پـه تـرڅ کـی پـه قصدي ډول زموږ سلگونه ماشومان او زنانه تر خاورو لانـدی کـړي هغـه کومـه انساني کړنه وه. تاسی چی د امريکی په خوخه (خوښه) يو غير شرعی او غـرب پلوه ديموکراتيک نظام جوړ کړې او ټول شرعي حدود مو د پښو لانـدی کـړي ايـا تاسـی ځـان سره محاسـبه کـړی چـی ستاسـی د واک لانـدی سـيمو کـی امريکايانو ته د افغانستان له گوټ گوټ څخـه زنانـه راوسـتل کيـږی د فحاشـی لپاره دا هم محاسبی ته ضرورت لري که نه. ايا تاسـی د بمونـو د مـور محاسـبه وکړه چی ستا په وطن کی يی ستا د اجازت پرته استعمال کړ او تروسـه ترينـه د

اچين اوسيدونکي زوريږي. ايا تا زانی رجم کړی، غل نـه مـو لاس قطع کـړی، قاتل مو قصاص کړی، قطاع الطريق نـه مـو لاس او پښـه رد او بـدل قطع کـړي دي. دا خو يو څو نمونی دي. ته لا د اسلامي قانون د ايډيالوژۍ څخه خبر هم نه يی. تاسی خو زموږ ولس په غربي رواجونو، عنعناتو، دود دستور او په غـربي فحاشۍ مو اخته کړل. ايا تاسی له ځان سره محاسبه کړی؟ موږ ته زموږ دين مـه راښايه موږ له خپل دين څخه خبر يو. زموږ په دين کی هغه چاته کـافر، ظـالم، او فاسق ويل شوی چی د الله حدود نـه نافـذوي. تاسـی د مسـلمانانو عزتونـه او ناموسونه له ځان سره يرغمـل سـاتلي دي کـه مـو بشري خـدمت اراده وه نـو د ميلمستيا او روغتيايی پالنی څخه وروسته مو بايد لاره ورکړي وای ترڅـو خپلـو د عزت ځايونو تـه تلـلي وای. او دومـره پـيچلي اداري مراحـل بـه مـو د دوی د خلاصون په لاره کی نه جـوړول. تاسـی غـواړۍ تـر څـو د شريعـت تـر عنـوان لاندی خپلو شومو اهدافو ته ځانونه ورسـوۍ او د مسـلمانانو سـپکاوی وکـړی. موږ هم چی همداسی د چارواکو زنانه يرغملی کـړی بيـا دی شرعـي محـارم او خاونـدان راشي چـی فيصـله ورسره وکـړو. دا کړنـی هېڅکلـه هيـری نـه کـړی جنگونه د کوهي او بوکي حيثيت لري کله يو طرف درونـد وي کلـه بـل طـرف خو د زنانو ماشومانو او مستضعفينو په اوښکو خپلو اهدافو تـه ځانونـه رسـول د اصيلو او غيرتي انسانانو کار نه بلکی د ديموکراتيک نظام د مرتدو چـارواکو پـه څير د انسانانو کار دی. کونډی ماشومان او يتيمان مو له خپلو حقونـو او ازادۍ بی برخی کړي دي. او خپلو حرامو او پليت خوراک ته د ژونـد د سـهولت نـوم ورکوۍ. موږ ته ستاسی سهولتونه او ستاسی د زندانونو حالات او توقيف خـانی معلومی او ښکاره دي. په حاجي کيمپ کی دولتی کارمندان او پـوليس يـو بـل ته اشاری کوي چی راشه نـن دربانـدی ازبکـانی زنانـه وگـورم. مـوږ تـه د دغـه خلکو پوره هويت او استوگنځای معلوم دی چی انتقام يی زموږ د وس کار دی الحمد لله. تاسی چی د شريعت خـبری کـوۍ دا مسئله د مسـيجونو لـه لاری د حل وړ نه ده او نه هم تاسی په شريعت خبر ياست گينی دا يی گـز او دا ميـدان

تاسی د افغانستان په سطح تر ټولو لوی مولا مو رامښکی (رامخکې) کړی زموږ د تمکین ساحی ته دی راشی موږ ورته پوره امن او ضمانت ورکوو موږ سره دی مناظره وکړي که یی موږ پړ کړو موږ د خپلی مبارزی نه لاس په سر کیږو او تاسی ته تسلیمیږو که مو ستاسی ملا پړ کړ له تا څخه مو صرف دومره هیله ده چی یواځی له خپلی وظیفی څخه استعفا ورکړه که د حق تلاش کونکی یی. نو مښکی (مخکې) له دی چی موږ خپل غبرگون ته مخه کړو د مسلمانانو زنانه او ماشومان له خپلو ټولو توقیف څخه خه په عزت سره ازادی کړی.

دغه کس بیا لاندې مسیج راولیږه او زموږ هدف همدا وچې مسیجونه راولیږي ترڅو د دی ځآی مشخص او ونیول شي:

د خلافت اسلامي د ښاري شازلمیو د مرکزي شوری لخوا د ننگرهار طاغوتی والي ته!

سلام علی من التبع الهدی اما بعد!

زموږ د راپورونو پر اساسی تاسی د اسلامی خلافت بندیانی زنانه د کابل وحشي زندانونو ته ولیږدولی موږ د هر ممکنه کوښښ له لاری تاسی سره دا موضوع له پیل راهسی چیړلی خو ستاسی ادعاوی بی اساسه او درواغجنی دي. پرون د بعضی زنانو وارثین خپلو زنانو پسی راغلي وو چی تاسی له ځان سره بندیان کړل. ستاسی د دعوی پر اساس باید تاسی خپلو وارثینو ته زنانه خوشی کړی وای خو تاسی غدر او دوکه وکړه. ستاسی ارادی بدلی دي تاسی له خپلو میندو څخه ماشومان ایسار کړل او زنانه مو کابل ته ولیږدولی. بل هغه زنانه چی عمرونه یی له ۱٦ نه تر ۲۱ پوری دي هغه مو ایساری کړي او نوری مو کابل ته ولیږدولی. موږ خپل مسؤلیت ادا کړ خو تاسی غدر او دوکه وکړه نو غوږ شه! که په اته څلویښت ساعته کی مو زموږ بندیانی خویندی د کنړ په مزار دره کی خوشی نه کړی نو د ننگرهار اړونده خونځي (ښوونځي)، مکاتب، پوهنتونونه او لیسی زموږ د موټربمونو هدف دي. برسیره پر دی د دولتي ادارو د کارمندانو د کور غړی او زنانه به هم زموږ له بریدونو روغ پاتی نه شي. دغه زموږ اخري او نه بدلیدونکی فیصله ده او لله الحمد د خلافت اسلامي دوست او دوښمن د

دی شاهد دی چی موږ داسی خلک یو چی څه وایو د الله پـه توفیـق سره هغـه عملي کوو هم. تر څو چی زموږ یوه خور هم ستاسی سره بندي وی تر هغی بـه زموږ د درنو چاودنو او موټر بمونو لړۍ دوام ولري.

د دوی دا پورته ادعاوې سمې نه وې؛ ځکـه کلـه چـې د اپریـدو مشرانو لـه اورکزو مشرانو سره اړیکه ونیوه، د دغه میرمنو د ځینو کورنیو مشران راغلـل او د دوی د خوښې کولو پروسه پیل شوه. هېڅکله ماشومان له میندو جلا شـوي نـه و، حتی که هغه د نورو هېوادونو ښځې او ماشومان هم و. دغه کس چې تهدید یې کاوه، د ملي امنیت د ریاست لخوا د ۲۰۲۰م کال د جنورۍ په دولسـمه نېټـه ونیول شو.

په هر حال د ولایت د مقام او ما لپاره تهدیدونه ورځې تر بلې زیاتېدل، خـو موږ خپلو کارونو او پروګرامونو ته په منظمـه توګـه دوام ورکـاوه. د جنـوري پـه دېرشمه نېټه راته زما د دفتر رئیس انجینر فرید د کابـل لـه مـلي امنیـت او هـم د ننګرهار د هم اهنګۍ مرکز نه یو مکتوب راولېږه، چې په لاندې ډول و:

مکتوب شمار ۶۶۶/۱۵۵ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۹

بمقام ولایت محترم ننگرهار!

مکتوب نمبر ۶۲۰۴ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۹ مدیریت پلان و اپراسون قومانـدانی امنیه ولایت ننگرهار واصل و مینگارد:

تلیگـرام شـماره ۳۸۰۶۶ مـؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۹ مرکـز سـوق و اداره ریاسـت عملیات های جاری ریاست محترم عمومی پلان و اپراسون مینگارد:

اطلاع واصله از یک منبع رسمی حاکیست: پلان حمله تروریستی علیـه شـاه محمود میاخیل والی ننگرهار

جمیل مشهور به جنـگ مسـکونه منطقـه کـرک کوهـات، پاکسـتان کارمنـد بخش MI شبکه استخباراتی کشـور پاکسـتان کـه فعـلا در دفـتر قونسـلگرۍ ان کشور مقیم شهر جلال اباد بحیث دیپلومات اجرای وظیفـه مینمایـد، مـذکور از مدت چار ماه بدینسو در رابطـه بـه محـترم شـاه محمـود میاخیـل والـی ولایـت

ننگرهـار یـک سلسـله معلومـات هـا را جمـع اوری و انـرا بـه دفـتر تـیم شـبکه استخباراتی ISI مقیم اسلام اباد کشور پاکستان که در ترکیب ان اسـامی هریـک جنرال اقبال شاهد، جنرال فیاض نذیر و ملوک قرار دارد، ارسال داشته و تیم یاد شده به اساس این معلوماتها را به بریگیدر مجاهد مشهور بـه بریگیـدر جاویـد، ریس دفتر بخش ۵۰۵ شبکه استخبارات ISI مقیم شهر پشاور وظیفـه سـپرده تـا محترم شاه محمود میاخیل والی ننگرهار را مورد حمله تروریستی قرار دهند که بریگیدر جاوید مذکور با ملا شـیرین رئـیس اسـتخبارات طالبـان، قـاری خالـد فرزند مولوی ظاهر مسکونه اصلی قریه مورگی وزیر ولسوالی خوگیانی ولایـت ننگرهار مسوول فعالیت های تروریستی شبکه مخفی طالبان در شهر جلال ابـاد و قاری شفیق مسوول کاروان فدایی ان گروه در هوتل شلتن واقع منطقـه صـدر رود پشاور ملاقات انجام داده و به این ارتباط به نامبردگان وظیفـه سـپرده تـا در فرصت مناسب محترم شاه محمود میاخیل والی ولایت ننگرهار را در مربوطات شهر جلال اباد مورد حمله تهاجمی و انتهاری قرار دهد.

مراتبه واصله نقلا جهت اگاهی بشما داده شد.

با احترام

قوماندان مرکز هم اهنگی ننگرهار

کاپی:

معاونیت هم اهنگی OCCR

ریاست امنیت ملی ننگرهار

قوماندانی لوا چارم پیاده

مدیریت کشف ساحوی

قوماندان لوای یک سرحدی

قوماندانی لوا هفتم نظم عامه

د ۲۰۱۹ م کال د جون د میاشتې په ۳۱مه نېټه زه له بنکـاک څخـه کابـل تـه راغلم او شپې راته د ملي امنیت اوپراتیفي مرستیال اجمل عابدی د ثناء الله تسل

په کور وویل، چې د عمومي تهدیدونو ترخنګ ستا پرضد مشخص تهدیدونه ډېر زیات دي. د حقاني شبکې، عزیز حقاني ته دنده ورکړې، چې ستا پر ضد پلان جوړ او تا له منځه یوسي، نو ډېر زیات احتیاط کوه. په همدې ورځ له ننګرهار څخه زما موټرې کابل ته راروانې وې، چې د سروبي د تنګي په سیمه کې ورته دوه ځایه کمین نیول شوی و. د کمین په ترځ دوه موټرې وویشتل شوې. د رینجر ډریور اعتبار ګل په ورمېږ ولګېد، خو له زخمي کېدو سره یې موټرې د کمین له ساحې څخه ویستلې وې. په دغه حمله کې د یو هالیکس او یو رینجر باډي او ماشینونه تخریب شوي و. اعتبار ګل د سروبي روغتون ته انتقال شو او خدای فضل وکړ، چې له مرګ څخه بچ او صحتمند شو. د یادونې وړ ده، چې له دغه حملې نه څه موده د مخه ما خپلو ۴۵ ګاردانو او ډرېورانو ته ځانګړی ټرېننګ د خاصو قطعاتو لخوا ورکړی و؛ که دوی یاد ټرېننګ اخیستی نه وای، شاید زیات باډي ګاردان مو له لاسه ورکړي وی.

د ننګرهار په یو نیم کلن ماموریت کې راته دوه ځلې د کابل جلال اباد پر لار او دوه ځلې د خوګیاڼو د قیلغو او وزیرو تنګي په سیمه کې کمین نیول شوی و. علاوه له دې نه یو ځل یو کس له تمانچې سره د ولایت په مخه کې ونیول شو، چې زما د وژلو قصد یې درلود. همدا شان د موټر بم څلور حملې شنډې شوې. په وروستي ځل یو ټونس له سره رود سره ونیول شو، چې یو کس یې د کونړ ولایت د نورګل ولسوالۍ د مزار درې او بل کس د پېښور و. هغه کس چې دوی ته په شېږمه ناحیه کې ځای ورکړی و او موټر یې په خپل کور کې ساتلی و، هغه هم د کونړ ولایت د مزار درې اوسیدونکی و، چې هغه هم ونیول شو. د دې لپاره چې د دښمن مورال قوي نشي؛ نو دا ټولې پېښې مو ههغه وخت مطبوعاتي نه کړې. یوازې هغه یو کس چې د ولایت دمخه له تمانچې سره ونیول شو، هغه وخت مطبوعاتي شو؛ چې د ملي امنیت رئیس له نوموړي سره په رسنیز کنفرانس کې غږېده، چې والي پېژنې که نه؟ هغه کس وویل چې

نه. زه هم هلته ولاړ وم؛ نو د ملي امنیت رئیس ورته وویل، چې والي خو دا دې ولاړ دی او څه گناه یې کړیده چې تا یې د وژلو نیت درلود.

## د شېرزادو او حصارک ولسوالیو د لارې خلاصول

د اچین د بانـدر د درې لـه سـفر وروسـته مـو سمدستي د ملي اردو، امنیـه قومندانۍ او د ملي امنیت ادارو اوپراسونونو ته دنده ورکړه، چې د شېرزادو او حصارک ولسوالیو ته د لارې د خلاصولو پلان ترتیت کړي. د نظامي شـورا پرېکړه دا وه، چې یوه ډله هم باید تقویه کېدو تـه پرېښـودل شي. د داعـش د شکست نـه پـه گټـې اخستنې سره طالبـانو غوښتل، چې پـه ځینـو سیمو کـې پرمختگ وکړي او د داعش ځایونه ونیسي. د ملي امنیـت د اټکـل لـه مخـې د څلور سوو په شاوخوا کې محلي طالبان او د شپږ سوه کسانو په شـاوخوا کـې د نورو سیمو طالبـانو د حصـارک او شېرزادو ولسـوالیو کـې شـتون درلـود، چـې رهبري یې له بیروني طالبانو سره وه. د طالبانو نام نهاده والي، پیر اغا هم په دغـه سیمو کې اوسیده. په حقیقت کې د شېرزادو او حصارک ولسوالۍ د طالبـانو د ختیځو دریو ولایتونو استراحتگاه او د عاید مرکزونه و. د شېرزادو او حصـارک ولسوالۍ د چرسو او مخدره مواد د قاچاق مهمه لاره وه او طالبانو له دغه قاچاق څخه زیاته گټه تر لاسه کوله. سربېره پـر دې پـه یـادو سـیمو کـې لـه شـوکانې، ځنگلونو او جلغوزو څخه هم طالبانو زیات عاید لاسته راوړه.

دواړو ولسوالې د کلونو راهیسې محاصره وې او حکومـت اکـمالات د هـوا له لارې تر سره کول. په ژمي کې د هوا له خرابۍ له وجـې اکـثره وخـت هـوایي پروازونو امکان نه درلود او امنیتي ادارې له سختو مشکلاتو سره مخامخ کېدلې. د دواړو ولسوالیو یوازې تعیمرونه او ډېره لږه ساحه د حکومت پـه کنـترول کـې وه. طالبانو به په ازاده توگه په دغه سیمو کې تگ او راتگ کاوه. عـلاوه لـه دې نه طالبانو د ننگرهار په ختیځو ولسوالیو کې هم تحرکات پیل کړی و او غوښتل یې چې هلته امنیتي ځواکونه مصروف کړي.

د اکتوبر د میاشتې په ۲۳مه نېټه د شېرزادو ولسوالۍ د لارې د خلاصولو په موخه مو په ۲۰۱ قول اردو کې ریګي ماډل پلان د اراضی له نظامي شورا سره یو ځای ولید. تقریباً د مملې باغ او شېرزادو ولسوالۍ تر منځ ۱۴ کیلومتره لار ده. د لارې د ساتلو په خاطر باید دایمې پوستې ځای پر ځای او د هرې امنیتي پوستې د اچوولو مسؤلیت اړوندو امنیتي ادارو ته سپارل شوی و. په دغه عملیاتو کې د ټولو امنیتي ادارو ۸۶۰ تنو برخه درلوده او اټکل دا و، چې د یوې میاشتې په موده کې به دا لاره خلاصه شي.

د شېرزادو ولسوالۍ لپاره مو دوه د محلي اردو ټولي د مخه د ملي دفاع په وزیر منظور کړي و. د شېرزادو له مشرانو سره مو باید خبرې کړي وی، چې د محلي اردو لپاره نفر ورکړي. د جلال اباد په ښار کې د شېرزادو د مشرانو دوه شوراګانې موجودې وې ، چې له یو بل سره یې سخت اختلاف درلود. د دوی دا اختلاف دومره ژور و، چې د سولې لویې جرګې لپاره هم دوی سره جوړ نه شول، چې ترڅو خپل دوه کسه استازي وټاکي. له دوی سره مې څو وارې ناسته وکړه، که د محلي اردو لپاره سربازان ورکړي؛ نو د شیرازادو عملیات به هم ژر پیل شي. دواړو شوراګانو دوه میاشتې منتظر کړو او په اخره کې یې هېڅ همکاري ونه کړه. د شېرزادو په ناامنۍ کې د یادو مشرانو ګټه وه، ځکه اکثرو یې د شوکاڼي معدنونه درلودل او له طالبانو سره یې اړیکې برابرې وې.

د مې د میاشتې په اتمه نېټه د ولایت په مقام کې مې د شېرزادو له دواړو شوراګانو سره مجلس درلود، هغه وخت ما حاجي دلاور جرنیلزاده نه پېژانده. د غونډې هدف دا و چې د شېرزادو مشران د محلي اردو لپاره کسان ورکړي. د شېرزادو مشرانو خبرې وکړې او ویې ویل چې په شېرزادو کې اتفاق نشته نو دوی نشي کولای چې محلي اردو ته کسان ورکړي. حاجي دلارو وویل چې د دې مشرانو خبره سمه ده؛ ځکه د ما پورې دوی هر یو د طالب او داعش له ډلو سره اړیکي لري او په عین حال کې په حکومت کې هم لاسونه لري. دوی به څنګه محلي اردو ته کسان ورکړي. که دوی یې نه مني، نو زه به ورته ووایم

چې څوک له چا سره اړیکي لري. د مجلس هیڅ یو مشر-هم د حاجي دلاور خبره رد نه کړه. ما له حاجي دلاور نه پوښتنه وکړه چې ته چیرته اوسیږي؟ هغه وویل چې کورنۍ مې بلجیم کې ده او دی دلته د شوکانې د تجارانو د اتحادیه مشر دی. زه په حاجي دلاور لږ غصه شوم؛ چې ته پخپله په بلجیم کې اوسیږي او په مشرانو تهمت لګوې. اما وروسته راته معلومه شوله چې د حاجي دلاور خبره سمه وه؛ ځکه یو مشر هم د هغه خبره رد نه کړای شوله. هماغه و چې د شېرزاد او په ننګرهار کې د شوکاني نور معادونونه تر اخره پورې بند کړل ځکه د دغه معادنونو په استخراج او قاچاق کې طالبانو او اکثره د شېرزادو او نورو سیمو مخور مشران شریک و. همدا علت و چې د شېرزادو د سیمې مشرانو نه غوښتل چې سیمه یې په امن شي ځکه بیا د دوی ګټې زیانمنې کېدلې؛ اما دوی د عام ولسونو د بدبختي پروا نه درلوده.

د ۱۳۹۸ کال د لړم په پینځمه نېټه، چې د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر ۲۷مې نېټې سره برابره وه، د شېرزادو ولسوالۍ تصفیوي عملیات پیل شول. د طالبانو قوتونه تیت و پرک و او ونه توانېدل، چې مقاومت وکړي. د یوې میاشتې پرځای د شېرزادو ولسوالۍ لار؛ په دریو ورځو کې تصفیه شوه او امنیتي قواوې د شېرزادو ولسوالۍ ته ورسېدلې او د لارې په اوږدو کې د پوستو په جوړولو پیل وشو؛ له کلونو وروسته دا لار ازاده شوه او د خلکو همکاري تر دې حده ورسېده، چې یوه شپه له شېرزادو څخه یوې میرمن زنګ ووهه، چې طالبان دلته راټول شوي او د ګندمک په سیمه کې ستاسې په پوستو حمله کوي، مقصد، چې چمتو ووسئ؛ په همدې شپه بیا طالبانو حمله وکړه او نهه کسه تلفات یې ورکړل.

دا چې په قطر کې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې رواني وې، د افغانستان حکومت د فعالې دفاع د تعهد په چوکاټ کې امنیتي قواو ډېر پرمختګ ونه شو کولای او هغه پلان چې ترتیب شوی و، چې د شېرزادو او حصارک ولسوالیو ټولې ساحې به تصفیه کیږي، عملي نه شو. د شېرزادو او خوګیاڼو د عملیاتو پر سر له ملي اردو سره زما یو څه اختلاف رامنځته شو؛ ځکه هغوی دا سیمه د

فعالې دفاع په بهانه نه تصفیه کوله. د کوټیخیلو نیمایي سیمه د ضابط ظاهر د قلعه په شمول له طالبانو سره پاتې شوه او نیمایې یې د حکومت د نفوذ په ساحه کې وه. مګر سره له دې هم د شېرزادو د لارې خلاصول، د امنیتي قواو لپاره یوه لویه لاسته راوړنه وه، چې د الوتکو په عوض د ځمکې لارې اکمالات کېدل، خو په حصارک فشار زیات و. اردو د قیلغو او زاوې په سیمو کې هم عملیات ونه کړل، چې د طالبانو د تګ او راتګ لاره قطع کړي. په دغه سیمه کې اصلي علت د مخدره موادو قاچاق و، چې امنیتي ادارو هم پکې لاس درلود. د شوکانۍ استخراج او انتقال مې په قطعي توګه بند کړی و، ځکه د شوکانۍ معدن د حکومت لپاره له ګټې ځخه زیات تاوان درلود. مګر بیا هم کله چې د ملي دفاع وزارت ته راغلم، ننګرهار ته مې له سفر ځخه وروسته د ننګرهار والي، ضیا الحق امرخیل او نظامي شورا سره د ناستې وروسته د حصارک د لارې خلاصولو او تصفیوي عملیاتو د پلان منظوري ورکړه او هغه عملیات پیل شول. د ۲۰۲۱م کال د مارچ په میاشت کې امنیتي قواوې د حصارک ولسوالۍ ته له پنځلس کلونو وروسته ورسېدې. له بده مرغه دغه عملیاتو له یوه کال زیات وخت ونیوه، د شېرزادو عملیاتو په اساس، ما جمهور رئیس ته خپله استعفا ورولیږله او ورته مې وویل که په امنیتي ادارو کې اصلاحات رانشي، نور زه په ننګرهار کې کار نه کوم.

## د محلي پاځون کوونکو ګټې او تاوان

په ۲۰۰۸م کال کې مې په افغاني ټولنه کې د اربکیو او محلي ملېشو جوړولو په اړه په انګلیسي ژبه یوه لنډه مقاله ولیکله، چې زما د انګلیسي ژبې په کتاب" "Understanding Afghanistan (Collection of Articles-2001-2012) کې چاپ شوې هم ده[۳۵]. زما بحث دا و، چې د اربکیان سیستم چې په

[۳۵] د زیات تفصیل لپاره د محلي ملېشو مقاله په دغه کتاب کې د (۱۳۰-۱۴۸) صفحو کې لوستلې شي.

لویه پکتیا کې موجود و، د پخوا په څېر مؤثر نه دي؛ ځکه قومي جوړښتونه د څو لسیزو جنګونو له امله ضعیفه او هم د جنګ عوامل او تاکتیکونه بدل شوي دي. همدا وشوه، چې محلي پولیس /اربکي د هېواد په یو ځای کې څه نا څه مؤثر او په بل ځای کې مؤثر نه و، له ۲۰۰۱م کال څخه راپدېخوا محلي ملیشې په ولایتونو کې د بېلابېلو نومونو لاندې لکه تقویتي پولیس، د عامه محافظت پولیس، محلي پولیس، اربکي او محلي پاڅون کوونکو په نومونو فعالیت کاوه. نچوړ د مقالې دا و چې د محلي ملېشو جوړول که په هر نوم وي، د ثور له کودتاه څخه راپدېخوا د هېواد په ګټه نه دي تمام شي او د رژیمونو د سقوط باعث هم ګرځېدلي دي.

که څه هم ما مخکې د ننګرهار په بېلابېلو ځایونو کې د محلي پاڅون کوونکو یادونه وکړه او قرباني یې هم ورکړې ده، چې البته ضرورت ته په کتو دا وخت ښه کار و، خو کله چې عمومي تهدید د داعش او طالب یا نورور تروریستي ډلو له منځه ځي، دوی پخپله د سیمې خلکو او هم د نظام او حکومت لپاره په لاندې دلایلو سرخوږګی جوړولای شي.

اول: د محلي پاڅون کوونکو مشران په یو شکل نه یو شکل په محلي ګوندیو کې ځانونه ښکېلوي، نو دوی خپل قوتونه د خپلو رقیبانو په مقابل کې استعمالوي.

دویم: په اکثره ځایونو کې دوی په غیر قانوني توګه له سیمه ایېزو سرچینو لکه ځنګل، معدن، ځمکې او غر څخه د ځانونو په ګټه ناوړه استفاده کوي او د ملي شتمنیو د ساتلو په عوض، دوي ملي شتمني لوټوي.

درېیم: په ډېرو ځایونو کې له محلي قاچبرانو سره د مخدره موادو په انتقال او کاروبار کې شریک کېږي او کوښښ کوي چې زمینه بېرته نا امنې ته مساعده کړي؛ څو د دوی اهمیت له منځه لاړ نه شي.

څلورم: محلي پاڅون کوونکي په زیاتو ځایونو کې د محلي ادارې او محلي امنیتي ادارو د کنترول لاندې نه وي. په ننګرهار کې محلي پاڅونکي د ملي امنیت د ادارې په چوکاټ کې منظم شوي و او په دې توګه دوی په محلي

امنیتي ادارو ځانونه پورته ګڼل. په دې توګه د دوی په موجودیت کې محلي ادارې نه تقویه کیږي، بلکې د محلي ادارې د ضعفیه کولو باعث ګرځي.

پنځم: په اوږد محال کې د محلي پاځون کوونکو پروژه لکه د محلي پولیسو په شان په ادارو کې د فساد لامل ګرځي؛ لکه څنګه چې خیالي پولیس پخوا موجود و، همداسې به خیالي پاڅون کوونکي هم موجود وي او اوس هم د افغانستان په ډېرو سیمو کې خیالي پاڅون کوونکي شتون لري. د محلي پاڅون کوونکو کوم وروستي ارقام، چې ما درلودل، نږدې ۲۶ زره کسانو ته رسېدل، زه یقیني یم، چې نیمایي به یې خیالي وي. د خیالي پاڅون کوونکو معاشونه په ځینو ځایونو کې د دوی د مشرانو او هم د ملي امنیت د محلي ادارود پاڅون کوونکو د مدیریت د څانګو ترمنځ تقسیمیږي.

پینځم: کله چې محلي اداره ضعفیه شوه، ولس بېرته له حکومت نه واټن نیسي او د محلي ادارې د خرابې په نتیجه کې ولسونه بېتفاوته پاتې کېږي او یا له مخالفینو سره اړیکې نیسي، ترڅو د محلي پاڅون کوونکو یا ملېشو له شره ځانونه خلاص کړي.

د پورته دلایلو په اساس محلي پاڅون کوونکي په اوږدمهال کې د نظام د کمزورۍ لامل ګرځي او که د ډاکتر نجیب الله او مجاهدینو د نسکورېدو اصلي علت وګورئ؛ نو هغه وخت هم له محلي ملېشو او قوماندانانو نه ولسونه او ادارې پوزې ته راغلي و. همدا ملېشې د نظام په داخل کې د اختلاف باعث شوې؛ نو ځکه دواړو رژیمونو سقوط وکړ.

د حکومتولۍ ښه کېدل او په ټولو د قانون یو ډول پلي کول ددې لامل ګرځي، چې محلي ادارې تقویه شي. زما په اند د محلي ملېشو او پاڅون کوونکو په شتون کې هېڅکله محلي ادارې تقویه کېدای نه شي. ښه به دا وي، چې محلي پاڅون کوونکي وړاندې له دې، چې په ننګرهار او د هېوادو په نورو سیمو کې د ولسونو او حکومت لپاره سرخوږګی پیدا کړي، په منطقوي

اردو کې منحل شي. که نه ننګرهار او هم د افغانستان نورې سیمې به بېرته د همدغه پاڅون کوونکو له امله بې ثباته شي.

## ښه حکومتولي

کله چې د ننګرهار په پوهنتون کې د داعش او طالب بیرغونه اوچت شول، لږه موده وروسته زه ننګرهار ته راغلم. دغه وخت زه د متحده ایالاتو د سولي انستیتوت د افغانستان د برخې رئیس وم. د ننګرهار پوهنتون له نوي رئیس ببرک میاخیل سره مې وکتل او ورته مې وویل: چې موږ په هرات، کابل او خوست پوهنتونو کې د سولې مرکزونه جوړ کړي دي او ښه نتیجه یې ورکړې ده. زه کولای شم، چې همداسې مرکز د ننګرهار په پوهنتون کې هم جوړ کړم؛ څو محصلین د سولې په اهمیت پوه او د سولې په بحثونو کې برخه واخلي. ځکه سوله یوازې سیاسي سوله نه ده؛ بلکې یو محصل د بل محصل سره څنګه واوسیږي، په ټولنه کې د سولې لپاره څنګه کار وشي او څنګه کولای شو چې د سولې فرهنګ رواج کړو؟ ځکه اوس خو زموږ ټول ادبیات د جنګي فرهنګ محصول دی. د ببرک میاخیل دې کور ودان وي، دا یې راسره ومنله؛ که څه هم دا یو لوی خطر و؛ ځکه د طالبانو او داعش لخوا تهدیدونه زیات و. هغه د پوهنتون له دروازې سره به هدفي وژنې ترسره کېدلې او یو ځل یې د پوهنتون دوه پولیس د عمومي ګېټ مخې ته شهیدان او وسلې یې ترې وړې وې. په دغسې حالاتو کې مو د سولې مرکز جوړ او فعاله کړ، له محصلینو سره ترینګونه پیل شول او یو ځلې ما هم د ښې حکومتولۍ په هکله یو لیکچر د ننګرهار پوهنتون په تالار کې ورکړ، چې د محصلینو او استادانو خوښ شوې و. که څه هم دا لیکچر د شرعیاتو پوهنځي یو شمېر استادانو باندې ښه نه لږېده، خو د رد دلیل یې هم نه درلود، ځکه زما بحث د دین او عصري علومو په چوکاټ کې و؛ ولې مې د شرعیاتو پوهنځي استادان یاد کړل؛ ځکه چې یو شمېر استادانو په ښکاره هغه وخت د حکومت د پالیسو مخالفت کاوه او له مخالفینو سره یې همدردي ښودله.

د دې لپاره چې وېره ورکه شي، موږ د هرات، ګوهر شاد او خوست پوهنتونونو استادان او محصلین ننګرهار ته د سیرعلمي لپاره دعوت کړل، چې د هغوی تصور هم د ننګرهار په هکله بدل شي. له هغوی سره دا فکر و، چې څنګه له ماهیپر نه ښکته کېږي؛ نو داعش ډلې به په لارو کې ولاړ وي. دغه وخت ښاغلی ګلاب منګل د ننګرهار والي و. کله چې زه د کورنیو چارو وزارت معین وم، منګل صیب مو د لومړي ځل لپاره د پکتیکا د والي په توګه ولېږه او همکاران سره پاتې شوي و. د شپې منګل صیب د نورو ولایتونو محصلین او استادان مېلمانه کړل؛ څو د جلال اباد شاهي ماڼۍ او نور ځایونه وګوري. د ننګرهار پوهنتون، پروګرام برابر کړې و چې له ماښامي دمخه د پاچا خان او غازي امان الله خان مقبرې هم وګوري. که څه هم دواړه مقبرې جوړې نه وي؛ خو د تاریخي اهمیت په خاطر ورتګ اړین و.

زه او منګل صیب په یوه موټر کې د پاچا خان مقبرې ته لاړو او بېرته په یوه موټر کې ستانه شولو. په دغه وخت کې د تروریستي حملو او د ولایت د کارونو فشار نهایت زیات و. کله چې له موټر څخه ښکته شولو، نو منګل صیب خپلو نفرو ته وویل: چې میاخیل صیب څه شو؛ چې وروسته پاتې نه وي. زه یې په څنګ کې ولاړ وم؛ نو ما ورته وخندل چې منګل صیب! دواړه خو یو ځای په موټر کې راغلو او تر څنګ دې ولاړ یم. هغه هم وخندل او ویې ویل چې تهدیدونه زیات دي او ټول فکر مو له امنیت سره دی.

کله مو چې مرکز جوړ کړ؛ نو ننګرهار پوهنتون ته زما او زما د همکارانو تګ او راتګ هم زیات شو. د ننګرهار په پوهنتون کې د سولې د مرکز د جوړېدو له امله خطر دومره زیات شو، چې هلته د داعش د ډلې لخوا زما د اختطاف پلان جوړ شوی و او کوښښ دا و، چې زما له اختطاف سره به د داعش یو شمېر مهم کسان حکومت خامخا خوشي کوي. د ملي امنیت عمومي رئیس محمد معصوم ستانکزي صیب راته خبر راکړ، چې نور ننګرهار ته مه ځه؛ هماغه و، چې تر یوه کاله پورې جلال اباد ته لاړ نه شوم. کونړ ته مې

هم تګ او راتګ کم کړ؛ که نه مخکې به هره میاشت تللم. په یوه کال یوازې دوه ځلې کونړ ته لاړوم او هغه هم د جلال اباد ښار څخه بارو بار (د درونټې له لارې) لاړم. دا خطر دلته هم پاتې نه شو او بالاخره په کابل کې یې د متحده ایالاتو د سولې په انستیتوت د یوې قوې حملې ترتیبات برابر کړل، چې بیا هم راته ستانکزي صیب معلومات راکړل او د دفتر کوڅه مو وتړله او په داخل د دفتر کې مو هم امنیتي تدابیر زیات کړل. تر دریو میاشتو پورې مو اکثره کارمندانو ته وویل، چې له کورونو څخه کار وکړي.

د ولایت دغه پورته فشارونه او خطرونه ما حس کول؛ خو د دې تر څنګ مې د ننګرهار دنده ځکه قبوله کړه، چې د یو اندازه خدمت باور مې پر ځان درلود او هغه تجربه او شناخت چې مې د ننګرهار او د ننګرهار له ولسونو څخه لره، نو په خپل مثبت رول لوبولو ډاډه وم. ننګرهار ته زه د امتیاز په خاطر نه، بلکې د خدمت په نیت راغلی وم او دا مې په ځآن فرض ګڼله، چې خپلو خلکو ته خدمت وکړم. وایې نیت صاف منزل اسان؛ همدا علت و، چې په ننګرهار کې ډېر کارونه وشول او یو مثبت حرکت رامنځته شو. دا په دې معنې نه وه، چې د ننګرهار ټولې ستونځې زما په دوره کې حل شوې، مګر ډېر ناشوني او نیمګړي کارونه چې له کلونو راهیسې نه و شوي تر سره شول.

د هرې ادارې او نظام لپاره د حکومتولۍ د ښه کېدو اصل نهایت مهم دی. د حکومتولۍ تعریفونه زیات دي؛ خو نچوړ یې دا دی، چې حکومتولي پروژه نه، بلکې د تصمیم ګیرۍ، د خلکو د ګډون او حساب ورکولو پروسه ده. د حکومتولۍ په ښه کېدو کې ټولې دولتي او نا دولتي ادارې او ولسونه مساوي سهم لري. د بېلګې په توګه ولایتي شورا یا وکیل صیبان له حکومت څخه د حساب ورکولو غوښتنه کوي، ولسونه هم حق لري، چې له دوی څخه دحساب غوښتنه وکړي، چې ایا دوی په خپله کاري دوره کې ولسونو او د نظام او سیستم د تقوې لپاره څه کړي دي او که نه؟ د مدني ټولنو فعالان او ادارې هم باید حساب ورکړي، چې دوی سرمایه له کومه کړې ده او خپل ورځني مصارف له کوم کاروبار او د چا له کود څخه لاسته راوړي. که موږ د زوراکانو

او یا مافیایي کړیو خبره کوو، نو که همدا شان حرکات او فساد یو کس د مدني فعال په توګه کوي، دواړه له یو بل څخه هیڅ فرق نه لري. څو کاله دمخه ما په یوه مقاله کې لیکلي و، چې ځینې کسان د مدني ټولنې جنګسالاران دي او د مدني ټولنو جنګسالاري د ټوپک له جنګ سالارۍ څخه خطرناکه لوبه ده؛ ځکه دوی د ولسونو فکرونه او روحیه وژني.

ښه حکومتولي سیاسي او اقتصادي ابعاد لري. په سیاسي اړخ کې باید په انتصابي او انتخابي پوستونو کې انتخاب او تقرر د سلیقې او شخصي ـ غوښتنو پر بنسټ نه وي. په سیاسي پروسه کې ولایتي اداره د پروسې له امنیت ساتلو پرته نور څه رول نه لري. په انتصابي برخه کې مو تر ډېره حده په ادارو کې د تقرر پروسه شفافه کړه؛ په فرمایشاتو او د شخصي سلیقو له مخې د ډېرو کسانو د تقرر مخه ونیول شوه او هغه کسانو چې کار کولای شو، د هغوی حمایت مې وکړ.

د حکومتولۍ په اصل کې هر مامور له پیسو او بودیجې پرته کولای شي، چې ولس ته ډېر کارونه او خدمت وکړي. لکه په دفتر کې حاضري ورکول، له مشتریانو سره ښه سلوک، مشتریانو ته قانون او پروسیجر تشریح کول او لازمه لارښوونه، رشوت نه اخستل، بیځایه خلکو ته ستونځې نه جوړول، ګوندې او پره نه کول، او داسې نور. په همدې اساس مو د مراجعینو کلمه د مشتري په کلمې بدله کړه. مامورین مکلف دي، چې ولس ته خدمت وکړي، نه دا چې ولسونه وځوروي، ولسونو ته ستونځې پیدا کړي او یا له هغوی څخه رشوت واخلي. ولسونه هم حق لري چې له مامورینو د خپلو حقوقو پوښتنه وکړي او هر څوک چې دوی ځوروي، باید مقابله یې وکړي. د ولایت په مقام او اکثرو ریاستونو کې مو د مشتریانو خونې جوړې کړې. د ولایت په دروازه مو ولیکل، چې د ننګرهار ولایت او ټولې ادارې د مشتریانو په خدمت کې دي. د سه شنبې ورځ د مشتریانو د ورځې په نوم وه؛ والي یا د ولایت مرستیال او اکثره سکتوري رئیسان به حاضر و، چې د مشتریانو ستونځې واوري او تر ممکنه

حده د هغوی ستونځې له قانون سره سم ځای په ځای حل کړي. که څه هم دا ستونځمنه پروسه ده؛ ځکه دعوی جلب کسان به هره سه شنبه راتلل؛ خو بیا هم د ډېرو کسانو مشکل حل کېده.

په ښې حکومتولۍ کې دولتي مامورين بايد پره او گوندي ونه کړي، چا ته دسيسې جوړې نه کړي او قانون په ټولو يو شان تطبيق کړي. د قانون په تطبيق کې سليقوي او عاطفي برخورد ځای نه لري، ځکه هر وخت چې قانون تطبيقوې، خامخا يو څو کسه متضرره کېږي، هغوي بيا چيغي او فريادونه کوي، د ډېرو کسانو دروازې ټکوي او اکثره انسانان صله رحمي لري؛ خو که د قانون په تطبيق کې له صله رحمۍ کار واخستل شي، بيا اداره شړيږي او له يو کس سره د مراعات کولو په نتيجه کې زرگونو کسانو ته او په ټوله کې نظام ته ضرر رسيږي. ټول دولتي کار کوونکي بايد يوازې د آمر د خوشحالولو لپاره کار ونه کړي، بلکې نظام او ولس خپل وگڼې اوخپله دنده، وطن او خپلو خلکو ته د خدمت کولو د فرصت وسيله وگڼي.

پر دې سربېره د مجالسو او غونډو په خپل وخت پيل کول مو رايج کړل؛ زما له راتگ دمخه به اکثره غونډې له ټاکل شوي وخت ډېر وروسته پيل کېدلې. د وخت مديريت د ښې حکومتولۍ مهم اصل دی او وخت ته بايد اهميت ورکړل شي. له ولسونو سره د معلوماتو شريکولو لپاره مو د مستقيمو او غير مستقيمو روشونو او ميتودونو څخه کار واخيست؛ په مستقيمه توگه مو هره ورځ له لس گونو او سل گونو کسانو سره ليدل، خپل نظر او د کارونو پرمختگ به مو له دوی سره شريکوه او هم مو له ولسونو څخه د هغوی د ستونځو په هکله اورېدل. په غير مستقيمه توگه مو د فيسبوک، ټويټر او رسنيو سره د مرکو او ټاون هال ميټنگونو له لارې معلومات شريکول. که څه هم په لومړي سر کې راته زياتو دوستانو ويلې، چې زه بايد خپل د فيسبوک او ټويټر اکونټونه بند کړم؛ ځکه فرهنگي مافيا او مغرضه حلقې قوي دي او زما د پوستونو پرضد به خامخا منفي تبليغات او حتی کنځلې درته ليکي، کېدای شي چې دا تبليغات او کنځلې ستا اعصاب خراب کړي او کار به ونه شې کړای. زه د دوی له نظرياتو

سره موافق نه وم؛ ځکه ویره انسان د کار او ابتکار نه وکاږي. که یو والي د خپل ځان او دندې نه دفاع ونشي کولای، هغه هېڅکله هم د ولسونو له حقوقو څخه دفاع نشي کولای، زما په اند، هر لوړ پوړی چارواکی باید له خپل ځان او دندې څخه دفاع وکړي او دا اړینه نه ده چې تل دې د جلالتمآب جمهور رئیس او یا د هغه د دفتر له ټولو ادارو نه دفاع وکړي. که هر څوک د خپل کار او موقف نه دفاع وکړي، پخپله د دولتي چارواکو په وړاندې د خلکو تصور بدلیږي. همدا هدایت او توصیه زما ولایتي ادارو ټولو رئیسانو ته وه؛ چې دوی باید د خپلو ادارو او کار نه دفاع وکړي او معلومات له خواله یا نورو رسنیو له لارې له ولسونو سره په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه شریک کړي. همدا د حساب ورکولو ښه اصل دی.

په اکثرو تصامیمو کې مو اړوندې ادارې او هغه اقشار، چې د پروګرامونو په تطبیق کې یې رول درلود شریکول. که څوک شخصي-اجندا ونه لري، دا د ولسونو حق دی، چې معلومات ور سره شریک شي او په تصمیم نیولو کې ونډه واخلي. که هغوی د تصمیم نیولو په وخت کې موجود وي، بیا ولسونه پوهیږي، چې ولې مو مشخص تصمیم نیولی دی او هدف د تصمیم نیولو څه وه. دا د مدیریت اصل دی، چې د هرچا په هکله تصمیم نیسئ، هغوی باید په تصمیم نیولو کې شریک وي؛ څو د پروګرام په تطبیق کې ښه مرسته وکړي. د ادارو او همکارانو شریکول په تصامیمو او معلوماتو شریک کولو کې مهم رول لوبولې شي. که د ادارو مشرانو او همکاران د خپل مشر-د تصمیم نیول په هدف پوه نه وي، بیا هغوي هم نشي-کولاې چې د حکومت پروګرامونه او پالیسي په سمه توګه تطبیق یا ولسونو ته تشریح کړې شي. ځکه معلوماتي خلا شک او تردید رامنځته کوي، حتی بې اعتباري د ادارو او ولسونو تر منځ ایجادوي او بیا خبره د شک تیوریګانو ته رسیږي. زما په اند د حکومت تقریبا ۹۵ سلنه معلومات هیڅ ستونځه نه لري، چې له ولسونو سره شریک شي.

د کار په لومړۍ میاشت کې مې زرهاوو کسانو ته، چې د مبارکۍ لپاره راتلل په غور سره غوږ نیولی و؛ چې ما لپاره د معلوماتو د بمبارد میاشت وه. په دغه ناستو، غونډو او کتنو کې د ننګرهار د ستونځو تصویر او د ولسونو غوښتنې راته معلومې شوې؛ هر چا به د خپل لرلید په اساس مشورې راکولې. مګر له بده مرغه، چې کومه خاصه طرحه د حکومتولۍ د ښه والي، د امنیت د توسعې او انکشاف لپاره په ټولو کتنو کې نه وه، اکثرو مدني فعالانو، علماوو، استادانو، مشرانو او رسنیو د ننګرهار اوه اته ستونځې بیانولې؛ لکه د هدفي وژنو مخه باید ونیول شي، امنیتي ادارې کار نه کوي، د زورواکانو قدرت باید کم او د غصب مخه ونیول شي، سپین جومات باید تکمیل شي، د غازي امان الله خان او پاچا خان مقبرې باید جوړې شي. بریښنا باید زیاته شي، اسلامي پوهنتون، زر بستریز روغتون او د بهسودو پل دواړه طرفونه باید ورغول شي، د پاکستان ویزې او د روږدو کسانو مخه نیول نورې مهمې غوښتنې وې، دا کارونه مهم و، خو د ننګرهار په امنیتي وضعیت کې چټک تغیر یې نشو راوستلی.

ځینې کسانو دا اعتراض هم کاوه، چې ولې د هدفي پېښو قاتلین نه نیول کېږي؟ د داعش او طالبانو دا ګروپونه چې له منځه لاړل، همدوی د هدفي وژنو مسؤلیت درلود. په زرګونو کسان ونیول شول او د کال په اوږدو کې رسنیو ته ښکار شول. د بېلګې په توګه یو خوارلس کلن ماشوم چې امام الدین نومېده او د خوست اوسېدونکی و او له طالبانو سره یې اړیکي درلودې، د جلال آباد په ښار کې د شپږو هدفي وژنو مسؤلیت پر غاړه درلود، د شاکر په نوم یو بل تن، چې له داعش سره یې تړاو درلود او د چپرهار د شولانې د کلي و، د جلال آباد ښار په څو هدفي وژنو کې یې لاس درلود. همداسې ډېر نور کسان له موټر بمب سره لاس په لاس نیول شوي او رسنیو ته ښکاره شوي دي. یو بل کس چې د شېرزادو و او زما د قتل لپاره رالیږل شوی و، هغه هم ونیول شو.نوموړي او دوه کسو ملګرو یې د انګور باغ په سیمه کې د ملا نور محمد مؤذن، چې د هسکې مېنې و، په شهادت کې یې لاس درلود. که هر څومره به خلکو او رسنیو ته ویل کېدل چې دا کسان نیول شویدي، اکثرو خود غرضو به

بیا هم په خپلو مرکو او خبرو کې ویلې حکومت پاتې راغلې او قاتلین نه نیسي. بعضې وخت ځینې کسان ارادي او یا په غیر ارادي توګه د روباټانو په توګه پروګرام شوې خبرې کوي او د هغو خبرو د محدودې هاخوا د مسایلو په هکله تحلیل نشي کولې.

د یادونې وړ ده، چې زما د ماموریت په دوره کې د درې زرو کسانو په شاوخوا کې طالبان، داعش او د جنایي پېښو مرتکبین نیول شوي و او ګڼ شمېر یې کابل ته انتقال شوي دي. د ننګرهار محبس د ۷۰۰ نه زیاتو بندیانو د ساتلو ظرفیت نه درلود، خو موجود تعداد یې تقریبا درې زره کسانو ته ورسید. زما له راتګ دمخه د ننګرهار په محبس کې تقریبا ۱۷۰۰ کسه و. په دغه کسانو د محاکمو له لوري له اعدام څخه نیولې د اوږدمهاله، منځمهاله او لنډمهاله حبس فیصلې شوې وې. په لومړي کال کې د اوه موټر بمونو او ۲۳ د واسکټونو انتحاري حملو مخه ونیول شوه او په سل ګونو ماینونه خنثی شول. که د هېواد دښمنان په دې حملو توانېدلي وای، نو په سل ګونو بېګناه افغانان به شهیدان شوي وای. زموږ ارزونه دا وه، چې د ۹۵ سلنې حملو مخه نیول شوې وه؛ مګر د پنځه سلنې مخه نشو نیول کېدای. متاسفانه مسلحو مخالفینو، د هاغا ډلې او هم سیاسي مخالفینو به دغه پنځه سلنه واقعاتو ته دومره هوا ورکوله، چې تا به ویل په ننګرهار کې هر څه خراب روان دي؛ اما هغه ۹۵ سلنه پېښې به چې مخه یې نیول کېده، د هغوی به هېڅ یادونه نه کېدله. امنیتي ادارې به هم مایوسه وې، چې له دومره زحمت سره سره یې قدرداني نه کېږي بلکې نور هم دوی ملامتوي.

ماته د امنیتي او نورو ملکي ادارو ستونځې، ظرفیتونه او اجراات په ښه توګه معلوم و؛ ما نه غوښتل، چې په دوی زه د وظیفوي فشار ترڅنګ ولسي فشار هم اضافه کړم. ما لپاره پکار وه، چې په دوی باندې فشار کم او د دوی فشار زه واخلم. تر اخره مې هېڅکله علني د دوی پرضد په رسنیو کې خبرې ونه کړې او نه مې وویل چې امنیت د امنیتي ادارو کار دی. زما فرموله دا وه، چې

کریدت مې ادارو ته ورکول او د ولایت د لومړي درجې مسؤل او د نظامي شورا د رئیس په توګه مې د ټولو نیمګړتیاو مسؤلیت پخپله غاړه اخیست. همدا علت و، چې په ادارو کې مو انګیزه ایجاد کړه، د هرې ادارې مشر-تر خپلې وسې هلې ځلې کولې او پایله یې دا شوه، چې په ټولو ساحو کې تر یو حده مثبت تغیر رامنځته شو.

د حکومتولۍ په برخه زه له جزایي عدالت څخه په ترمیمي عدالت زیات باور لرم او طرفدار یې یم، ځکه د زیاتو کسانو نیول او بندي کول هم د مسایلو د حل لار نه ده. لومړی دا چې یو څوک ولې جرم کوي؟ عوامل او انګیزې یې څه شی دي؟ . دویم دا چې که باالفرض زر تنه مجرمین په لس کلونو بند محکوم شي، د هغوی کورنۍ بې سر نوشته پاتې کېږي او لس کاله بعد پنځه زره نور کسان چې سالمه تربیه یې لیدلې نه ده، ټولنې ته وړاندې کېږي او په دې توګه یوه خبیثه دایره جوړېږي، چې همدا اوس افغانستان له همدغه وضعیت سره مخ دی، چې د جنایي، مافیایي او تروریستي ډلو لپاره سربازګیري نه کمېږي، تروریستانو، جنایي ډلو د مخدره موادو قاچاق برو او ټولو ته افراد جذبیږي او د مجرمینو تعداد هېڅ نه کمیږي. دا په دې معنی نه ده، چې جزایي عدالت مهم نه دی، بلکې د جرایمو انګیزه باید کمه شي او هغه یوازې په هغه صورت کې کېدلې شي، چې د ښې حکومتولۍ په چوکاټ کې ټولنیز عدالت مراعات شي او انکشاف لپاره زمینه مساعده شي.

د ۱۳۹۷ هجري کال د کب نهمه نېټه، چې د ملي دفاعي او امنیتي قواو د ملاتړ او قدرداني ورځ وه. د شیرزي په لوبغالي کې لویه غونډه برابره شوې وه، د معرفت له غونډې وروسته، دا زما لومړۍ بیانیه وه، پوهېدلم، چې خلک به متوجه وي؛ چې زه څه وایم. یوه لنډه بیانیه مې پخپله ولیکله او د کاغذ دمخه مې ولوستله؛ ځکه نه مې غوښتل چې په خبرو کې رانه کومه اشتباه وشي. په افغانستان کې د اشتباه منل او د عفوې فرهنګ ډېر ضعیف دی. که یو چا اشتباه وکړه، هغه اشتباه ورته همېشه د پوزې پیزوان جوړېږي او د پېغور په شکل ورته یادیږي. الله تعالی خپلو بندګانو ته د پیښماني او اشتباه په صورت کې ښښنه

کوي او سجده سهوا د همدې په خاطر ده، خو افغانان وايي: چې د دوی په قاموس کې دا نشته او چا چې اشتباه وکړه، بايد همېشه ورته د اشتباه يادونه شي او عفوه يې په حق کې نه منل کېږي. په عين حال کې مې غوښتل؛ په خپلو خبروکې يو دوه لنډ پيغامونه هم له ولسونو سره شريک کړم؛

د امنيتي او دفاعي قوتونو د ستاينې تر څنګ، ولسونو ته اطمينان ورکړ چې د ننګرهار امنيتي او دفاعي قوتونه د پښوا په څير ضعيفه نه دي، بلکې دوی د دښمن او د ټولو سازمانيافته جنايي ډلو او زورواکانو په مقابل کې کلکه مبارزه کولای شي او هېڅوک نشي کولای، چې د قانون په تطبيق کې د حکومت پر وړاندې ودريږي او يا خنډ واقع شي. قانون به په ټولو باندې يو شانته تطبيقوو او هېڅوک د قانون له سور ځراغ څخه تيريدای نشي.

د ښې حکومتولۍ او چارو د تعقيب لپاره مې د نظامي شورا، د حوزو د مشرانو، د ولسواليو د قوماندانانو، د جنايي کارمندانو، د ناحيو او ښاروالیو د مسؤلينو، د ولايت د رئيسانو، ولسوالانو، ولايتي شورا او همدا شان د هر ټولنيز حرکت سره د واټسپ ګروپونو جوړ کړل. په حقيقت کې د ولسواليو او ولايت او همدا شان د ټولو ادارو ترمنځ مستقيمه رابطه او همغږي رامنځته شوه. اکثره معلومات او هدايات به مې د وټس اپ ګروپونو له لارې شريکول او د کارونو تعقيب به هم د وټس اپ له لارې تر سره کېده. هرې ادارې او ولسوالنو به د خپلو سيمو فعاليتونه شريکول او هر يو به د يو بل په نقش قدم کارونه سرته رسول. له کابل سره هم ما اکثره کارونه د وټس اپ له لارې حل کول او ډېر کم به کابل ته تلم؛ خو کارونه به مې مخ ته وړل. د ادارو مشرانو ته زما سپارښتنه همدا وه، چې تاسي له يو بل سره کاري رابطه پيدا کړئ او په هر ځای کې که له مشکل سره مخېږئ، نو له ما پوښتنه کوئ. د ښه کار لپاره د هرې ادارې مشر-د والي صلاحيت لري او د اشتباه نه بايد هېڅ وېره ونه لرئ؛ البته که بد کار مو کاوه؛ نو ما ورته ويلي چې پوښتنه کوئ؛ هدف دا و چې د بد کار مشوره څوک د خپل امر سره نه کوي. هر څوک په دې پوهيږي، چې ښه او بد کار څه شی

دی؟ خو زما کوښښ دا و، چې پوهه باید زموږ په عادتونو کې تغیر راولی، څو چې پوهه په عادتونو کې تغیر رانه ولي، پوهه په درد نه خوري. همدا روش د اعتماد سازي او د خدمت د انگیزې ایجادولول لپاره و.

لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، د حکومتولۍ ۹۵ سلنه معلومات او پریکړې باید د خپلو همکارانو او ولسونو سره شریکي او هغوي د پریکړو په نیولو کې شریک شي، نو پدیتوگه د وټس اپ گروپونو ایجادول د معلوماتو د شریکولو مهمه وسیله وه. البته وټس اپ محرمه طریقه نه وه خو د معلوماتو په اوسني دور کې اکثره معلومات حتی استخباراتي شبکې هم خپل زیات معلومات د ازادو منابعو نه چې Open Source Information ورته وایې تر لاسه کوي. د وټس اپ له لارې معلومات په اسانه شریکیدلې شو او اکثرو حکومتي کسانو او حتی د بیلابیلا اقشارو مشرانو چې د تکنالوژې سره اشنا نه وه، په اخره کې وټس اپ استعمالولې شو. د ولایتي ادارو مشرانو او ولسوالانو او امنیتي ادارو اکثره منسوبینو باندې د وټس اپ درلودل او استعمال جبري و. د ما نه د مخه هم ځینو کسانو وټس اپ درلود خو د گروپونو جوړولو او معلوماتو شریکولو فرهنگ د وټس اپ له لارې عام شو. د وټس اپ گروپونو کارونو نه زیاته چټکتیا ورکوله او ټول معلومات او هدایت به ښکته قدمو ته ډیر ژر رسیدل. د بیلگې په توگه که په ښار به په موټر کې گرځیدلم او یا د یو ځای نه بل ځآی ته تلم، په لاره کې به کوم مشکل لیده، سمدستې به مې په لاره کې د وټس اپ گروپ له لارې په اړوندو ملکي او امنیتي ادارو غږ کوه چې فلانې ځای کې مشکل دی هغه حل کړي. همدا یو غږ کافي و او هغه مشکل به اکثره حل کیده او پدیتوگه مې کارونه هم په ښه توگه تعقیب کولې شول.

**ولسوالیو ته سفرونه**

دا چې د حکومتولۍ په برخه کې ما یو څه تجربه درلوده، نو له ابتداء څخه زه پوهېدم، چې ۸۰-۹۰ سلنه بیروکراسي چلیږي او خپل وخت باید په اداري

مسایلو مصروف نـه کـړم او اداري کارونـه مـې اکـثره خپلـو معاونـانو او د ادارو مشرانو ته پرېښودي و. تشکیلات په همدې مؤخـه جـوړېږي چـې کارونـه سره تقسیم شي. که یو مشر د هرې ادارې کار پخپله کوي، نو بیا تشیکلات جـوړول او تشکیلاتي پرسوب ته څه حاجت دی. په دیتوګه زمـا زیاتـه پاملرنـه د امنیتـي ادارو تر منځ همغږۍ او له ولسونو سره اړیکو نیولو ته وه، څو ولسونه په ولایتي او محلي ادارو باور پیدا کړي او تر هغه، چې د ولسونو اعتماد او باور په محـلي او ولایتي ادارو پیدا نه شي، حکومتـولي او امنیـت ښـه کېـدای او انکشـاف تـه زمینـه برابرېـدای نـه شي. لـه ولسـونو سره اړیکـه، انګیـزه خلـق کـول او اعـتماد جوړونه یوازې د مېز تر شا په کېناستلو نه رامنځته کېږي، څو مو چـې ولسـوالیو ته سفرونه نه وې کړي او د ننګرهار په فزیکي، بشري او اقتصـادي جغرافیـا مـو ځان پوه کړی نه وي. په همدې موخه مې له یوې اوونـۍ وروسـته ولسـوالیو تـه سفرونه پیل کړل. البته ولسوالیو ته هر سفر لـه امنیتـي تهدیـد سره مـخ و، خـو د خدای (ج) فضل و، چې په هېڅ غونډه کې کومه پېښه رامنځته نه شوله؛ یـوازې د خوګیاڼو ولسوالۍ ته په دوه ځلي سفرونو کې راته کمینونه نیول شـوي و چـې تفصیل یې مخکې ورکړل شویدی.

د امنیت په برخه کې مې یو شمېر ولسوالیو ته د سـفرونو یادونـه کـړې ده. د ننګرهار شلو ولسوالیو ته مې سفرونه درلودل؛ ځینو ولسوالیو تـه څـو څـو ځلـې هم تللی یم. هلته مو له ولسونو سره لوی غونډې نیولې، خپل نظر او تګ لـورې مو ور سره شریکوه، له ولسونو څخه مو اوریدل او پـدې توګـه مـو د سـیمې لـه اصـلي مشرـانو او ولسـونو سره د مسـتقیم کمونیکشـن زمینـه برابرولـه. پـه دغـه سفرونو کې به راسره د نظامي شورا غړي او د ولایتي ادارې اکثره رئیسـانو ملتیـا کوله. د شېرزادو په ولسوالۍ باندې له حملې وروسـته کلـه چـې امنیتـي قـواوې هلته ورسیدې، د قول اردو د قوماندان، جـنرال محمـد زمـان وزیـري او د قـاطع ملاتړ د شرقي زون مسؤل جنرال ډان هیل سره په هلیکوپتر کې لاړم؛ خـو نـورو ټولو ولسوالیو ته زمکني سفرونه درلودل. متاسـفانه یـوازنۍ ولسـوالۍ حصـارک

وه، چې زما له سفر پاتې شوه او دا مې ارمان هم پاتې شو؛ د ننګرهار د مشرانو او ولایتي ادارې د مسؤلینو په وینا له موقت حکومت څخه وروسته زه لومړنی والي وم، که د شیرزادو هوايي سفر حساب کړم، نو د ننګرهار ۲۱ ولسوالیوته مې سفرونه وکړل.

ولسوالیو ته د سفرونو په لړ کې مې لاندې دوه اصول وضع کړي و او همدې اصولو زما اړیکه له ولسونو سره ټینګه کړه او اعتماد جوړونه یې ایجاد کړه.

اول: له جلال اباد څخه مې مربوطه ولسوالیو ته د هغه سیمو وکیلان او مشران له ځان سره نه بیول؛ هغه مشران چې ولسوالیو د ولسوالیو نه بیرون اوسیدل او همیشه یې د ولسونو استازولي کړیدله او یا یې په ولسونو تجارت کړې، د ولسوالۍ په خلکو چندان ښه نه لړیدل؛ ځکه دوی هلته ګوندیو او پرې ته لمن وهله او کوښښ یې کاوه، چې والي هم دې لوبو کې ښکېل کړي. د دې علت دا و چې په هره ولسوالۍ کې یو شمېر مشرانو او وکیلانو به تل په ولایتي مجلسونو، ادارو او هم کابل کې د خپلو ولسونو استازیتوب کاوه او اکثرو به د خپلو سیمو په نوم پروژې اخیستلې او هغه پروژې به یې د خپلو ارتباطاتو له لارې په سیمه کې نیمچه عملي کولې. په خپلو ولسوالیو کې له محدودو کسانو په غیر چې د دوی سره یې رابطه درلوده او یا په ګټو کې شریک و، عام ولسونو له دوی نفرت درلود. کله چې ولسوالیو ته تلم، ولسونو به راته ویل، دا چې له جلال اباد او کابل نه دې څوک له ځان سره نه دي راوستلي، همدا د موږ لپاره لویه خبره ده. ډېرې مشران چې به زما له سفر څخه خبر شول، نو راته ویلې به یې که نورو ولسوالیوته مو له ځآن سره نه بیایي فرق نه کوي، خو لا اقل خپلو ولسوالیو ته مو خبروه، چې درسره لاړ شو؛ ځکه دوی هلته ګوندي او سیالي لري. ما به ورته ښه کوله؛ خو په زړه کې مې ویل، چې خلک خو له تاسې د همدې ګوندې او سیالې له امله نفرت لري او د دوی شتون اوتګ د ولایتي ادارې او ولسونو تر منځ اعتماد جوړونې ته څه ګټه نه رسوي.

دویم: ولسونه اکثره په خپلو ولسوالیو کې د ډېرو پروژنو د عملي کولو نه خبر نه و او یا یې څارنه نه کوله؛ ځکه اکثره پروژې به په روابطو عملي کېدلې او ولس ځانونه د پروژو مالکان نه ګڼل. ولسوالیو ته له سفر دمخه به مې د ولسوالیو په هکله د ټولو انکشافي پروګرامونو ارقام راټولول، هغه پروژې چې نوې منظور او یا کار پرې روان و، د هغوی معلومات به مې له ولسونو سره شریکول. له دې میتود نه مې درې مؤخې درلودې. یو دا چې اکثره وخت ولسونه شکایت کوي، چې د دوی ولسوالۍ ته هېڅ کار نه دی شوی؛ حال دا چې په هره ولسوالۍ کې ډېر کارونه تر سره شوي او یا روان و نو باید دوی ته د دغه کارونو یادونه وشي او هم ځینې چې معلومات نه لري، باید خبر شي. دویم دا چې ولسونو ته مې ویل، چې تاسي باید د روانو پروژو نظارت وکړئ. البته دا مې هم ولسونو ته ویل چې دنظارت په نوم به په کارونو کې مداخله نه کوئ؛ ځکه بعضی وخت د محلي ملکانو او مشرانو د مداخلې له امله به پروژې ودریدلې او یا کارونه نیمګړي پاتې کېدل. که د پروژو په تطبیق کې ستونځه وه، هغوی باید خپل تشویشونه د ولسوال او یا له ما سره په مستقیمه توګه شریک کړي؛ څو پروژې د قرارداد مطابق په ښه توګه تطبیق شي. د ارقامو په اعلانولو سره به په هره ولسوالۍ کې یوه روحیه د مالکیت رامنځته کېدله. له ټولو ستونځو سره سره به په هره ولسوالۍ کې د لس ګونو او سل ګونو میلیونونو افغانیو پروژې روانې وې. په بعضي ولسوالیو کې لکه ښېوه، کامه او بهسودو کې د یو میلیارد افغانیو نه هم زیاتې پروژې پیل شوې وې، خو د دغه ولسوالیو مشرانو به له ټولو څخه زیات شکایت کاوه. دریم دا چې سکتوري ادارې به په هره ولسوالۍ کې مکلف کېدلې، چې له ولسونو سره معلومات شریک کړي. دمخه له دې سکتوري ادارو حتی د پروژو معلومات له ولسوال سره هم نه شریکول. څومره چې معلومات شریکېدل، هماغومره دفساد کچه هم راټیټیدله او ولس د مالکیت احساس کاوه. په دې توګه یو قسم رقابت د ادارو او ولسوالیو تر منځ د پروژ د نظارت په هکله رامنځته شو.

ولسوالیو ته سفرونه، د انکشافي پروژو عکسونه او د ولسوالانو او ولسونو د نظارت عکسونه به مې د فیسبوک او ټویټر له لارې هر سهار د (سلام! سهار په خیر) په نوم نشروه. دا سفرونه به محلي او ملي رسنیو او تلویزیونو هم نشرول؛ تل به مې له ولسونو، مربوطه ادارو او ولسوالانو څخه مننه کوله. په دې ډول به هر ولسوال او سکتوري ادارو مسؤلینو او حتی عام ولسونو راسره د خپلې سیمې عکسونه او فعالیتونه وخت نا وخت شریکول او ما به هم هر سهار د یوې سیمې فعالیتونه نشرول. د خلکو په ونډه سربېره دا ډول کمونیکشن ولسونه د نورو ولسوالیو له کارونو څخه هم خبرول او مثبت رقابت رامنځته کېده.

د جنګ د خبرونو په عوض د ولسونو مینه له ابادۍ سره ډېره زیاته وه او په دې توګه په لس ګونو زره کسانو به زما پوستونه هره ورځ په ننګرهار، د افغانستان په نورو ولایتونو او همداشان له هېواد څخه بهر کتل او یو ښه انعکاس دې سفرونو او د (سلام! سهار په خیر) لړۍ پیدا کړی وه. د ننګرهارعامه پوهاوی په ټولو ساحو کې نورو ولایتونو ته هم ماډل وګرځېد او هر والي به کوښښ کاوه، چې د ننګرهار د کارونو په شان د خپل ولایت کارونه منعکس کړي. د جنګي فرهنګ او ادبیاتو پر ځای مې غوښتل، چې د سولې او بیارغونې فرهنګ خپور کړم. د ذهنیت جوړونې دا لړۍ د فکري بدلون لپاره ډېره مهمه وه. د دغه سفرونو او عامه پوهاوي بله مهمه ګټه دا وه، چې مرکز له ولایت سره، ولایت له ولسوالیو سره، ولسوالۍ له کلیو سره، ولایتي ادارې او هم په ولسوالیو کې د محلي ادارو مسؤلین له ولسونو سره اړیکه زیاته شوه او د ولسونو رول هم په محلي حکومتولۍ، امنیت او انکشاف کې غوښن او د مالکیت احساس قوي شو. څومره چې د مالکیت احساس قوي کیږي، په هماغومره اندازه امنیت په یوه سمه کې ښه کیږي او هغه سیمه د کورنیو او بهرنیو مداخلو نه خلاصیږي.

له ننګرهار څخه د ښو خبرونو او ننګرهار ته د جمهور رئیس د څو ځلې راتګ او توجه له امله، اکثرو وزیرانو او مؤسساتو تګ او راتګ هم ننګرهار ته اضافه شو او هر وزارت کوښښ کاوه، چې په ننګرهار کې پروژې زیاتې کړي؛

ځکه دوی پوهېدل، چې زه له جمهور رئیس سره مستقیمه اړیکه لرم او د کارونو یادونه کوم. په دې توګه که څه هم اکثره وزیرانو مې له کلونو راهیسې ملګري و، خو له جمهور رئیس سره د مستقیم تماس له امله به یې زما وټس اپ او تلیفون ته هم ژر ځواب وایه او د ننګرهار کارونه به یې ژر خلاصول. په دې توګه یوازې په ۱۳۹۸ کال کې ۷۸۵ لوی او وړې پروژې د دیارلس ملیاردو افغانیو په شا او خوا کې بشپړ او یا کار پرې کار روان و؛ په لاندې جدول کې یې کتلی شئ، چې تفصیل یې د ولایت ډیټابیس کې شتون لري.

**د ولسوالیو په سطحه د ۱۳۹۸ کال د انکشافي پروژو معلومات**

| شماره | د ولسوالی نوم | د پروژو تعداد | جمله قیمت | کتنی |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | اچین | ۳۱ | ۷۷۲٦۳۰٦۴ | |
| ۲ | بټی کوټ | ۲۳ | ۲۱۴٦۹۸۴۲۷ | |
| ۳ | بهسود | ۵۳ | ۴۸۴٦۰۰۰٦٦ | |
| ۴ | پچیر اګام | ۱۴ | ٦۵٦۵٦۹۵۰ | |
| ۵ | چپرهار | ۴۱ | ۲۵۷٦۵۰٦۱۵ | |
| ٦ | حصارک | ۲ | ۸۹۹۹۷۰۰۰ | |
| ۷ | خوګیانی | ۳۱ | ۲۲۴۹۳۵۱۷۲ | |
| ۸ | دره نور | ۱۹ | ۴۳۴۲۸۵۸۲۳ | |
| ۹ | ده بالا | ۲۸ | ۲۴٦۹۸٦۲۲۸ | |
| ۱۰ | دوربابا | ۲۷ | ۱۲٦۲۷۹٦۵۹ | |
| ۱۱ | رودات | ۳۲ | ۳۹٦۰۹۲۰٦۲ | |
| ۱۲ | سپین غر | ۷ | ۴۵۸۲۹۷۳۰ | |
| ۱۳ | سرخرود | ۴۴ | ۳۷٦۵۳۲٦۷۰ | |
| ۱۴ | شیرزاد | ۲ | ۱۱۱۳۹۷۳۰۵ | |
| ۱۵ | غنی خیل | ۳٦ | ۱۴۲۷۷۸۷۰۱ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱٦ | گوشته | ۱۱ | ٦۱۱۸٦٦٦۱ | |
| ۱۷ | کامه | ۳۴ | ۴۰۹٦۴۰۷۵۴ | |
| ۱۸ | کوټ | ۷٦ | ۴۰۲۰۷۲٦۸۵ | |
| ۱۹ | کوزکنړ | ۴۴ | ٦۲۹۵۴۹۱۸۳ | |
| ۲۰ | لعلپوره | ۸ | ۳۴۱۲۵۴۲۸ | |
| ۲۱ | مومندره/تورخم | ۳۳ | ۲۵۲۳۹۷۰۸۴ | |
| ۲۲ | نازیان | ۱۹ | ۵۲۵۴۸۴۰۴ | |
| ۲۳ | د ولسوالیو ترمنځ مشترکي پروژی | ۵۵ | ۳۱٦۰۲۷۸۲۲٦ | |
| ۲۴ | مرکز | ۸۸ | ۴۸۹۷۱۹۲۵۴۴ | |
| | جمله | ۷۵۸ | ۱۳۱۹۳۹۷۴۰۸۸ | |
| | تکمیل شوی | ۲۴۴ | ۴۵۷۹٦٦٦۱۰۷ | |
| | روانی | ۵۱۴ | ۸٦۱۴۳۰۷۹۸۱ | |

البته په دغه پروژو کې د جلال اباد په ښار کې د ملي پیوستون او د مؤسساتو ارقام شامل نه دي. د ۱۳۹۹ل مالي کال لپاره د دولتي او نادولتي ادارو له لوري ۲۷۳۲ لوی او وړې پروژې، پروگرامونه او فعالیتونه پلان شول، چې ځینې کارونه تکمیل او ځینې یې روان دي. البته په دغه پروژو کې ټولنیز فعالیتونه، مرستې، عامه پوهاوی، انکشافي پروگرامونه او د حکومتولۍ ښه والی د بېلا بېلو پروگرامونو لخوا شامل و. (تفصیل یې د ولایت د سکتوري ریاست په ډیتابیس کې مطالعه کولای شئ). په دغه پروژو کې زیاتې داسې پروژې هم وې، چې له کلونو راهیسې د بېلا بېلو عواملو له امله په ټپه درېدلې وې، چې د یو څو پروژو تفصیل به وروسته وړاندې شي. د معلوماتو راټولولو په برخه کې زه د سکتوري رئیس فضل ربي همیم او د هغه له همکارانو څخه خاصه مننه کوم، چې زما له سفر دمخه به یې له اړوند ادارو نه ټول معلومات راټولول.

رئیسانو ته به مې د ولسوالیو د سفرونو پرمهال تل ویل، چې له ولسونو سره اصلي ارقام شریکوئ او هېڅکله د دروغو وعدې مه کوئ؛ ځکه د دروغو په

وعدو اعتماد جوړونه نشي کېدای. د توقع په مدیریت کې دا خبره ډېره مهمه ده، چې د ولسونو توقع که زیاته شي؛ نو بیا ورته هغه شوي کارونه هم اهمیت نه لري. په دې اساس، لږې وعدې او زیات کار اړین دی. کله چې له توقع څخه زیات کار وشي، بیا یې ولسونه زیاته قدرونه کوي؛ نو همدا علت و، چې ما نهایت کوښښ کاوه، چې له ولسونو سره وعده ونه کړم؛ بلکې کار وکړم. همدا وعده کې ولسونو ته په اوله ورځ ورکړه چې که کار مې وکړ، کار پخپله معلومېږي او زیاتو وعدو ته حاجت نشته.

هرې ولسوالۍ ته د تګ په وخت کې مې ډېر څه اوریدل، لیدل او یادول. که ولسونو ته غوږ شو؛ نو هر چارواکی ډېر څه د ولسونو له خبرو یادولای شي. هره ولسوالۍ کې مو کوښښ کاوه، چې یو یا دوه ستونځې په عاجله توګه حل کړو؛ څو د خلکو اعتماد پیدا شي.

**تورخم، دوربابا او مهمندرې ته سفر**

د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ په ۲۲مه نېټه تورخم، دور بابا او مهمندرې ته لاړو. په تورخم کې مو لس بستریز روغتون، چې کارونه یې تکمیل شوی و، د عامې روغتیا له رئیس نجیب الله کاموال او ورغلي پلاوي سره په ګډه پرانیست او د سولې په نوم نیالګی مو په تورخم کې کېنوه. د دور بابا په ګړوکو په سیمه کې او د مهمندرې ولسوالۍ سره نږدې مو د دوه اساسي شل بستریزو نویو روغتونو د ودانیو د جوړېدو ډبرې کېښودې. خوشبختانه دواړه روغتونونه زما د تګ نه د مخه تکمیل هم شول. د دور بابا د ګوړوکو سیمه کې هغه هدیرې ته ورغلو، چې یو کال د مخه په دغه سیمه کې د مظاهرې په وخت یوځانمرګي حمله کړې وه؛ د ملک عصمت شینوارې په قول په دغه حمله کې ۸۴ کسان شهیدان او ۲۱۶ کسه زخمیان شوی و. د شهیدانو مړي په یوه لیکه ښخ شوي و؛ د شهیدانو روح ته مو دعاء وکړه؛ خو د هدیرې نه لیدل ډېره دردونکي صحنه وه؛ چې ولې دومره وحشت په ټولنه کې شتون لري چې یو دم دومره کسان له منځه

یوړل شي. دا یوازې ارقام د مړو او زخمیانو نه دي بلکې د هر پیښې د قربانیانو کورنۍ او د هغوي بې سرپرستي د هغوي د کورنیو، سیمې، خپلو خپلوانو او حکومت لپاره وروسته لوی مصیبت جوړوي. دا ډول پیښې هره ورځ په نظام او ټولنه باندې د جګړې بوج او فشار اضافه کوي.

## سره رود ولسوالۍ ته سفرونه

د مارچ د میاشتې په نهمه نېټه مو د سره رود ولسوالۍ د امرخیلو د کلینک د ودانۍ د جوړېدو ډېره کېښوده. که څه هم دا سیمه دروننټې ته ډېره نږدې وه؛ خو امنیتي کسان د یادې ودانۍ د ډبرې ایښودلو مخالف و؛ ځکه طالبانو هلته نفوذ درلود. خپلو امنیتي مسوولینو ته مې وویلې دا مشهوره معقوله ده چې کوم ځای کې ته شتون ونه لري، نو خامخا به ستا مخالف هلته شتون پیدا کوي. که موږ ورنشو؛ نو طالبان به خامخا هلته نفوذ لري او باید حتمي ورشو؛ څو د خلکو په منځ کې د هغوی د نفوذ تصور ختم شي. په ډېرو ځایونو کې طالبانو دوامداره فزیکي حضور نه درلود اما د هغوي د شتون تصور وجود درلود. کله چې Perception یا تصور تغیر شي؛ نو امنیت پخپله تغیر او ښه کیږي. په همدې ورځ مو د فاطمته الزهرا روغتون کې د عاجلې خونې واټ هم پرانیست.

د مارچ په نونسمه نېټه مې د سره رود نوی ولسوال، قاري هجرت الله رحماني د ځینو له مخالفت سره سره پخپله معرفي کړ؛ څو د سیمې ځینو زورواکانو او متنفذینو ته پیغام شي، چې زه له خپل تصمیم څخه په شا کېږم نه. د علماوو شورا په مشرۍ مولوي عزیزالرحمن، د قومونو شورا په مشرۍ ملک عصمت الله بارکزي او د ملکانو شورا په استازولۍ حاجي عبدالواحد احمدزي خبرې وکړې. دغلته له ټولو سره لویه موضوع د کابل-جلال اباد د دویم سرک وه، چې د مملې د باغ پورې د لومړني فیز کارونه چې ۳۳ کیلومتره و، د څلور کلونو راهیسې په ټپه ولاړ و. مهم علتونه یې د زمکو استملاک او د قرار دادي شرکت د ۷۲ محلي ټیکه دارانو څخه تقریبا ۱.٦ میلیونه ډالره قرضداري او تښتېدلی و. د شرکت ماشینري د سره رود له دوسرکې (یوسف میړني چوک)

څخه تر د ولسوالۍ د تعمیره پورې ځای پر ځای ولاړه وه، چې د ترافیکو لپاره یې هم لویه ستونځه جوړه کړې وه، دا مسئله مې وروسته حل کړه، چې د انکشافي پروژو د تفصیل په برخه کې به پرې بحث وشي.

په همدې وخت کې د دور بابا د ولسوال د گومارلو په اړه هم د سیمې خلکو او مشرانو تر منځ اختلاف وه. یوې خوا غوښتل؛ چې ۱۲۰ زره ډالره د سیمه ایيزې ارگانونو خپلواکه اداره کې ورکړي؛ څو یو کس یې د ولسوال په حیث تعین شي. د همدغې ډلې مشر راته دا معلومات پخپله راکړل او فکر یې کاوه، که ته زموږ له ډلې ولسوال ومنې؛ نو تا ته به هم څه درکړو؛ خو مخالفت مه کوه. دا مسئله مې د محلي ارگانونو د ادارې له مرستیال سره شریکه کړه او ورته مې ویل که د دې ډلې کس مو وټاکه؛ زه یې نه معرفي کوم او دا پخپله به د دې ثبوت وي چې تاسي ۱۲۰ زره ډالره اخستلي دي. هماغه و، چې د گوشتې ولسوال مې دور بابا ته تبدیل کړ؛ څو یو بېطرفه کس هلته ولسوال وي او د گوشتې لپاره مې د ولایتي شورا پخواني وکیل، عبدالبصیر گلاب چې د خلکو په منځ کې ښه شهرت درلود، ولېږه.

### هسکې مینې ته سفرونه

د مارچ په **۲۳**مه نېټه مو هسکې مېنې ته سفر وکړ؛ چې د سړو سیمو د نوې تعلیمي کال پرانیسته وکړو او هم هلته ولسونه وگورو؛ هسکه مېنه له تېرو دریو کلونو راهیسې د داعش تر نفوذ لاندې وه او اکثره ولسونه د جنگونو له امله نورو سیمو ته کډه شوي و. د معارف رئیس حسیب شینواری، چې هغه هم د هسکې مینې د پاپین د سیمې و، د غونډې لپاره یې د پاپین لېسه ټاکلې وه، چې د نوي تعلیمي کال پرانیسته به د همدغه لېسې په زنگ وهلو کوو. له تېرو دریو کلونو راهیسې د هسکې مېنې اکثره ښوونځي تړلي او یا د محل په تغیر نورو سیمو کې پرانیستل شوي و. د لومړي ځل لپاره مو د دغه ولسوالۍ د سړو سیمو ښوونځي پس له دریو کلونو پرانیستل او د دغه ښوونځیو پرانیستل د سیمې او

ننگرهار د ولسونو په منځ کې ښه انعکاس پیدا کړ؛ خو د ما لپاره له ټولو نه دردونکې ورځ وه او هېڅکله به مې هغه صحنه هېره نشي.

پر لاره چې تللو؛ د هسکې مېنې اکثره کورونه وران ویجاړ پراته و. په کورنو کې ډېر کسان نه ښکارېدل او خال خال کسانو په ځینو پټیو کې کار کاوه. د سفر پرمهال مو له لارې د محلي پولیسو، ملي پولیسو او ملي اردو یو شمېر پوستو نه کتنه وکړه او یو څه نغدي مرسته مو هم ورسره وکړه. کله چې د پاپین لیسې ته ورسېدو، هلته دمحلي اردو یو ټولې ځای پر ځای شوی و او د لېسې ودانۍ؛ چې پخوا د داعش مرکز و، د بمباریو له امله یې تعمیرونه ړنګ شوي و. امنیتي کسانو راته وویل چې : دوی نه پوهېږي، چې د تعمیر لاندې به څوک حصار وي او که نه؟ خو د ماینونو خطر شته او نږدې تعمیر ته مه ورځئ. غونډه په ازاد میدان کې جوړه شوې وه، د خلکو تعداد کمرنګه وه؛ ځکه په سیمه کې زیات خلک نه اوسېدل. د اغز تنګي او نریو اوبو له لوري د داعش ګواښ موجود و. دردونکې صحنه دا وه؛ چې ماشومان له لرې سیمو نه د غونډېیو په منځ کې خال خال راتلل او هر ماشوم به امنیتي کسانو چې په بېلا بېل نقطو کې ولاړ و تالاشي کول. هغه وخت دا وېره وه؛ چې داعش ماشومان هم د ځانمرګي حملو لپاره استعمالوي. دا چې ماشومان د زده کړې لپاره راتلل، د دې ماشومانو په زړونو کې به څه تېرېدل، چې ولې دوی تالاشي کېږي. زما له سترګو هم اوښکې روانې وې؛ چې جنګ څومره مصیبت دغه سیمو ته راوړی دی؛ چې نن له ماشومانو هم ویرېږو. که مو تالاشي نه کوله او کومه پېښه شوې وی، بیا پېښمانۍ هم څه ګټه نه درلوده. دویمه دردونکې پېښه دا وه؛ چې د دغې سیمې یو کس قومي مشر حاجي ګل خالق چې شاعر هم و، د طالب او داعش پرضد یې ډېر ښه شعرونه وویل او زما ورسره په دغه غونډه کې تعرف وشو؛ خو څو ورځې وروسته حاجي ګل خالق د جلال اباد په ښار کې ترور شو؛ اوس هم د هغه اوچت احساس او په جرئت غږېدا زما په غوږونکو کې انګازې کوي.

د پرانيستې پرمهال له کلونو وروسته هلته ملي سرود وغږول شو او خاص خوند يې درلود. د هسکې مېنې ولسوال رضوان الله بشرمل ښه راغلاست ووايه. ملک خان ضمير او د معارف مدير مصري خان کليوال خبرې وکړې او ويې ويل، چې په هسکه مېنه کې له تيرو دريو کلونو راپدېخوا اته ښوونځي بند و؛ چې پنځه يې نن بيا پرانيستل کېږي. د هسکې مېنې سيمې داعش او طالبانوته د چارتراشو او مخدره موادو د قاچاق لپاره اهميت درلود. متاسفانه په قاچاق او گټو کې محلي امنيتي ادارې او ولسونه هم بيتفاوته و. د امنيتي ادارو ټولو منسوبينو ته مو وويل: که د قاچاق مخه ونه نيسئ؛ نو ټولو ته مسؤليت راجع کېږي او هېڅوک پر يو بل پړه اچولی نه شي. کله چې يو کال وروسته دويم وار دغه ولسوالۍ ته لاړم؛ نو کورونه له ولسونو ډک شوي و، شا او خوا زمکې شنې شوې وې او خلکو خپل عادي ژوند ته مخه کړې وه.

## د بټي کوټ ولسوالۍ ته سفرونه

د ۲۰۱۹م کال د مې مياشتې په ۱۷مه نېټه مو د بټي کوټ ولسوالۍ ته سفر وکړ. د روژې مياشت او د جمعه ورځ وه؛ خو بيا هم په سل گونو کسان د ولسوالۍ په انگړ او تالار کې راټول شوي و. په غونډه کې د بټي کوټ ولسوال عبدالوهاب، قومي مشرانو ډاکتر صديق مومند، مولوي زرمعلوم خوشال، ملک محمد، ملک معلم شير علم، حاجي مطيع الله او عبدالبصير منظور خبرې وکړې. د بټي کوټ ولسوالۍ د کانال د فارمونو مرکزي برخه ده او د زيتون او مالټو فارمونه د طالبانو لپاره د عايد منبع وه. د طالبانو پخوانۍ نام نهاده والي ملا نصرالله ارزگانی پخوا په بټي کوټ کې اوسېده. په دغه سيمه کې د داعش او طالبانو او هم د طالبانو او حکومت ترمنځ ډېرې سختې جگړې تېرې شوې وې؛ يو مشر وويل دلته يو وخت داسې هم و، چې کله به قاتل؛ مقتول حلالوه نو دواړو به تکبيرونه ويل.

د بټي کوټ په ولسوالۍ کې ولسونو دوه مهمې ستونځې درلودلې. یوه ستونځه د بټي کوټ د ولسونو د چاردهي په سیمه کې له نورو سیمو د کوچانو سره درلوده. ولسونو ویل چې دوی له دیشین کوچانو سره ستونځه نه لري؛ خو ستونځه یې د سلطانخېلو د قوم له هغه کوچانو سره ده، چې د طالبانو په وخت کې دلته راغلي و او اوس هم له طالبانو سره اړیکې لري. د سلطانخېلو د کوچانو او د بټي کوټ د ولسونو تر منځ په تېرو دوه درېو کلونو کې نږدې اتیا کسان وژل شوي و. د دې ستونځې د حل لپاره موږ څو ځلې د سلطانخېلو له مشرانو سره ناستې وکړې او ورته مو وویل چې تاسي باید طالبان ونه ساتي. که زور مو پرې نه رسیږي له حکومت سره ملګري شئ او په شریکه به یې مخه ونیسو. که دا هم نشئ کولای، طالبانو ته ځای مه ورکوئ او که هغوی غواړي، چې ارام ژوند وکړي، موږ ورته څه نه وایو؛ چې بیا تر ډېره حده د دوی ستونځه حل شوله.

دویمه مسئله دا وه، د بټي کوټ ولسونو غوښتل؛ څو د بټي کوټ فارمونه دوی ته په اجاره ورکړل شي؛ نه د نورو ځایونو کسانو ته؛ ځکه طالبان نفوذ پیدا کوي او دا سیمه بیا ناارامه کوي. په دغه سیمه کې د حکومتي قواو او طالبانو ترمنځ ډېرې سختې جګړې شوې وې او د محلي پاڅون کوونکو په ذریعه طالبانو ته شکست ورکړل شوی او اوس دا سیمه ارامه ده. پخوا به چې دولتي موټرې تورخم ته تللې؛ نو هېڅ امکان نه و، چې د بټي کوټ په ساحه کې له کمین سره دې مخ نه شي. د بټي کوټ له خلکو سره مو د اجارې مسئله هم ومنله او کانال ریاست ته مو هدایت ورکړ چې سږ کال باید داوطلبي د بټي کوټ ولسونو ترمنځ صورت ونیسي. ولسونو ته مې وویل چې ټولو سکتوري رئیسان به بټي کوټ ته راشي؛ تاسې ور سره خپلې نورې ستونځې شریکې کړئ او امید دی، چې مشکلات به مو حل شي. همداسې مو وکړ چې یوه اونۍ وروسته مو د ولایت نه سکتوري رئیسان او مسوولین بټي کوټ ته ولیږل تر څو د هغوي ستونځې په ګوته او د امکاناتو په چوکاټ کې نوې پروژې هلته پیل کړي. د سرک او ښوونځیو یو شمیر نوې پروژې په بټي کوټ کې عملي شولې

چې وروسته د بټي کوټ ولسونو یو ستاینلیک هم ولایت ته راوړې و. تفصیل یې د پروژو په برخه کې شته.

**د کوټ او روداتو ولسوالیو ته سفرونه**

د ۲۰۱۹م کال د جون په ۲۹مه نېټه مو روداتو او کوټ ولسوالیو ته سفر وکړ. امنیتي وضعیت په دواړو ولسوالیو کې ښه و؛ خو محلي ستونځې زیاتې وې. د روداتو په ولسوالۍ کې د قومونو په استازیتوب د پکتیا پخواني والي رحمت الله رحمت، سید خاطر شاه پاچا، د کمېسون په استازیتوب قوماندان علي‌احمد، د کمېټې په استازولۍ زمرک او د ځوانانو په استازیتوب صفت الله ځواک خبرې وکړې. د سید خاطر شاه پاچا په قول، په ۱۳۱۲ ل کال کې چې کله د سقاو پلویانو د اچین ولسوالۍ وسېځله، د روداتو ولسوالۍ د مزینې سیمې ته انتقال شوه. هغه وخت هسکه مېنه، کوټ او چپرهار هم د اچین ولسوالۍ مربوط سیمې وې. د خلکو تر منځ د ولسوالۍ په نوم جنجال و، چې په دغه ولسوالۍ څه نوم کېږدي؛ ځکه د هرې سیمې خلکو د خپلې سیمې نوم غوښته. بیا صدراعظم هاشم خان او وزیر محمد گل خان مومند فیصله وکړه، چې د دې ولسوالۍ نوم دې رودات شي. د ډاکتر یوسف خان د صدارت په وخت کې کوټ، هسکه مېنه او چپرهار له روداتو څخه جدا شول او ځانته ولسوالۍ شوې.

د روداتو په ولسوالیو کې لویه ستونځه د هغه دوو ډلو ترمنځ وه، چې د ځمکې غصب کې یې لاس درلود. یوې ډلې ته یې کمېسون ویلی او بلې ډلې ته یې کمېټه. اکثره مشران په همدې دوه ډلو کې تقسیم شوې و او همېشه یې سیمې ته پرته له ستونځو نور څه خیر نه رسېده او کله به چې په خپلو منځو کې سټړي شول؛ نو د محلي ادارې او حکومت پرضد به یې فعالیت کاوه او خلک به یې تحریکول چې مظاهرې وکړي. د دې لپاره چې د دوی د غصب مخه نیول شوي وي؛ د نهمې حوزې مرکزمو له بهسودو ولسوالۍ څخه د باریکاو

سیمې ته انتقال کړ؛ ځکه مخکې له ثمر خیلو څخه د روداتو د سیمې پورې علاقه غیر وه او هرچا هر څه کولای شول.

د سرخ دېوال سیمې غصب د یوې ډلې لخوا چې ځانونه یې د سپه سالار غلام حیدر خان څرخي ورثه ګڼله شوی وه؛ دوی له کابل څخه یو حکم اخیستی و، چې حکومت د دوی ځمکه په لوګر کې اخیستې او په عوض یې باید دوی ته ځمکه ورکړل شي. دا حکم دوی ته د کرزي صیب په وخت کې ورکړل شوی و؛ چې د افغانستان په کومه سیمه کې دې ورته معادله ځمکه ورکړل شي. د دوی په قول، په لوګر کې تقریبا ۱۵۰ جریبه ځمکه ترې اخیستل شوې؛ خو د سرخ دېوال په سیمه کې ورته د ۱۲۶۰ جریبه ځمکې قباله ورکړل شوې وه. له هر اړخیزه او اوږدو پلټنو وروسته داسې ښکارېده، چې دوی په لوګر کې هېڅ ځمکه نه درلوده او په جعلي اسنادو یې دا ځمکه اخیستې وه. علاوه له دې یې قباله د ۱۲۶۰ جریبو وه؛ خو په زرګونو جریبه نورو ځمکو یې هم کوله او د روداتو او ننګرهار یو شمېر مشران په دغه غصب کې سره شریک و. په دغه سیمه کې باید د امنیتي او دفاعي ځواکونو کورنیو شهیدانو ته یو ښارګوټی هم جوړ شوی وی؛ خو دوی یې ممانعت کاوه. د محکمې د حکم په اساس مو دا ځمکه د دوی له منګولو خلاصه کړه او تر څو چې محاکم نهایي فیصله کوي، په دغه ۱۲۶۰ جریبه ځمکه کې به هېڅوک کار نه کوي او که باالفرض محکمه د دوی په ګټه فیصله هم وکړي، دوی به بیا هم دا ځمکه د ښارګوټي د نقشې مطابق توزیع کوي. په همدغه سیمه کې معلولینو، شیهدانو او بېوزلو ۲۴۰۰ کورنیو باندې نومرې مو وویشلې او نورې نومرې هم باید ویشل شوی وی. له ما د مخه حیات صیب هم د سرک د حریم په نوم، چې دېرش متره نږدې ابادي ونه شي، یو شمېر کورونه او ودانۍ ویجاړې کړې وې؛ خو اصلي مسئله چې د سرخ دېوال د قبالې وه لاینحل پاتې وه.

دا چې د باریکاو په سیمه کې د نهمې حوزې له جوړېدو سره د کمېټې او کمېسون مخه ونیول شوه، دوی بیا مظاهرې پیل کړې، چې دوی د نهمې حوزې جوړېدل نه مني. د کمېټې او کمېسون لاسونه اوږده و او کابل کې یې

هم نفوذ درلود، څو ځلې يې امرونه راوړل؛ خو موږ ورته وويل چې نهمه ناحيه د جمهور رئيس په حکم د ماستر پلان مطابق جوړه شوې او دا هېڅ امکان نه لري چې لغوه شي. له کمېټې او کمېسون سره مو هره وخت ستونځه وه. د روداتو د پوهنې مدير چې تقريبا اته کاله هلته و، د پوهنې رياست بټې کوټ ته تبديل کړ، د کمېټې او کمېسون مشرانو د پوهنې د مدير دفتر مهر لاک کړې و او د پوهنې د نوي ګومارل شوي مدير پرضد يې مظاهره وکړه. د روداتو ولسوال سيد علي اکبر سادات او امنيه قوماندان سمونمل محمد نواب ته مو وويل چې ولې ملکان د ولسوالۍ په داخل کې يو رسمي دفتر مهرلاک کوي او تاسې ورته ګورئ. دا ملکان ونيسئ او هئيت مې ورته تعين کړ، چې له دوی تحقيق وکړي؛ ځکه د دوی او د طالب تر منځ ما ته څه فرق نشته او دواړه محلي ادارې چيلينجوي. بالاخره دا ملکان کابل ته وتښتيدل او هلته تر څو اونيو پټ و. بيا د سناتور لطف الله بابا او د سنا مجلس رئيس مسلميار صيب راته وويل، چې د دوی له عدلي تعقيب نه که تېر شم، نو دوی به معتبر ضمانتونه ورکړي؛ چې نور به جنجال نه جوړوي. هماغه و چې د کمېسون او د کميټې له شر نه ولايت، د روداتو ولسونه او ولسوالي خلاصه شوه. متاسفانه زما د تګ نه وروسته کميسون او کميټې بيا په خپلو منځ سره جنجالونه پيدا کړي و چې مرګ ژوبله هم شوې وه.

د کوټ ولسوالۍ په هکله مې يو څه تفصيل په امنيتي برخه کې ورکړې، د سختو جنګونو نه وروسته د دغه سيمې د يو مشهوره مخور حاجي حيات خان په وسيله ارامه شوې وه. د قومي مشر حاجي سيد رحمن چې د دغه سيمې پخوانۍ ولسوال و او د حاجي حيات خان ورور هم و، د هغه په قول د داعش د رامنځته کېدو په وخت کې نږدې له زرو زيات کسان د داعش په لاس په په دغه ولسوالۍ کې شهادت رسيدلي دي. مولوي عبدالعزيز خيرخواه وويل چې دا سيمه د شهيد حيات خان په مشرۍ ازاده شوه او بالاخره هغه هم د داعش د حملې قرباني شو. مسلم دوست خراساني چې له داعش سره يې بعيت کړی و،

د همدې سيمې و، چې پخوا د اسلامي حزب قوماندان و. اميرجان کوتوال وويل چې کوټ درې پلاره او ۴۵ کلي لري. په دغه وخت کې د کوټ ولسوال نجيب الله رحماني چې د حاجي سيد رحمان زوی دی، و.

### د ګوشتې ولسوالۍ ته سفر

د ۲۰۱۹م کال د جولای مياشتې په نونسمه نېټه چې د ۱۳۹۸ل کال د سرطان د مياشتې د نونسمې نيټې سره سمون خوري؛ د ګوشتي ولسوالۍ ته د ولايت له مرستيال تميم عارف مومند، د نظامي شورا غړيو، امنيته قوماندان ډګروال رقيب مبارز، د سرحدي لوا قوماندان بريد جنرال حسين خېل او د ملي امنيت مرستيال جانشاه سره يو ځای سفر وکړ. د ګوشتې ولسوالۍ د فرضې کرښې سره نږدې پرته ده چې د خاص کونړ، لعل پورې او کامې ولسوالۍ سره سرحد لري.

دا چې زه هم د خاص کونړ د ولسوالۍ يم او د ګوشتې سيمه له خاص کونړ سره سرحد لري، د دغه سيمې سرحدې لارو سره ښه نا ښه بلد وم؛ ځکه د مهاجرت په وختونو کې په دغه لارو ښو ځلې په غرونو کې پياده تللی وم. کله چې مور مهاجر کېدلو، د ښاپښن کنډو پورې د قبايلو سيمه وه اود پاکستان د مومندو ايجنسۍ پاټک د ګنداو د سيمې نه ښکته د پوليټکل د دفتر سره نږدې په غلنۍ کې و[36]. د بيزو تر سرحده پورې چې کوډاخيل ورته وايي فرضې يا د ډيورند کرښه يادېدله او ځينو به ويلې چې فرضې کرښه د خويزو بريد چې خاپښن کنډو دی، دی. ښاپښن کنډو د مومندو د خويزو او حليمزو تر منځ فاصل حد و. قومي مشر سيال ميراجان او محصل خان غازي هم د کوډاخيلو و. د وکيل فريدون خان مومند پلار، فردوس خان په مزري چينه کې اوسېده. له بده مرغه له کلونو په تېرېدو سره، دا سيمې ټولې د پاکستان ملېشو ونيوې او

[36] د واقعيتونو په بهير کې؛ کتاب کې د مومندو او د دغه سيمې په هکله يو ښه معلومات او د سترګو ليدلي حالات لوستلې شي.

سرحد يې ګوشتې ولسوالۍ ته نېږدې د ګونسرې کنډو ته راورسوه. تقریبا په تېرو څلور لسیزو کې پاکستانیان څلويښت کيلومتره دېخوا راغلي دي. د پاکستان له لوري به کله کله د ګوشتې په ولسوالۍ توغندې هم ويشتل کېدل. د پاکستان د رامخې ته کېدو اصلي علت په دغه سيمه کې د نفرايدو د کانونو موجوديت و، چې محلي مشران، طالبان او د پاکستان تحريک طالبانو په کې په ګډه لاس درلود. د دې لپاره چې د معدنونو ناقانونه او قانوني لوټولو ته زمينه مساعده شي، د محلي مشرانو، طالبانو او د پاکستان تحريک طالبان تر منځ يو خبيثه مثلث جوړ شوې و. تر ډېره حده مو د دغه قيمتي کانو د استخراج مخه ونيوله او څو ځلې مو له ماما خېلو، څپري او د خاص کونړ ولسوالۍ سره په همغږې عمليات وکړل او ځينې ماشينونه هلته تخريب شول؛ خو بيا به هم په پټه توګه د لعل پورې او بټي کوټ ولسواليو له لارې په جالو او کيشتيو کې د دغه ډبرې استخراج او قاچاق تر سره کېده.

متاسفانه په هره سيمه کې چې محلي مشران په خپلو شخصي ګټو مصروفه وي، هغه سيمه وروسته پاتې وي. د ګوشتې ولسوالې هم وروسته پاتې ولسوالۍ وه که څه هم امنيت پکې په نسبي توګه ښه و. محلي مشرانو هميشه د ولسوالۍ په کارونو کې مداخله کوله او کوښښ يې کاوه چې داسې يو کس هلته ولسوال او قوماندان وي چې د دوي ګټې خوندې کړي. هر ولسوال يا امنيتي مسوولينو به چې د دوی د ګټو مخه نيوله، مشرانو به د هغوي پرضد تبليغ کوه او کوښښ يې کاوه چې تبديل يې کړي او يا به يې ورته ستونځې جوړولې. ګوشته او د شيرزادو ولسوالۍ که څه هم مشهوره او با نفوذه مشران او کورنې لري خو دواړو سيمو د معدنونو د قاچاق له امله زياتې ستونځې درلودې او انکشافي کارونه پکې چندان نه و شوې. د دې لپاره چې د معدنونو قاچاق دوام پيدا کړي، بايد دا سيمې نا ارامه وي او لکه مخکې مې چې يادونه وکړه د محلي مشرانو، مخالفينو او قاچاق برو يو شريکه حلقه په دغه سيمو کې وجود درلوده

چې کنټرول بحران ته به یې همیشه زمینه مساعدوله تر څو د معدنونو قاچاق دوام پیدا کړي.

د ګوشتې ولسوالۍ په غونډه کې د قومونو په استازولۍ عبدالکریم خان مومند، حاجي احمدعلي، د ولایتي شورا وکیل افتخار مومند، مولوي عبدالقیوم، اغاجان بیزي او د ځوانانو په استازیتوب دولت شاه مومند خبرې وکړې. مولوي عبدالقیوم وویل، چې د کرزي صیب له حکومت وروسته تاسې اولین والي یاست، چې له ګوشتې څخه کتنه کوئ. په دغه وخت کې حاجي غالب مجاهد د ګوشتې ولسوال و، چې وروسته یې په عوض بصیر ګلاب وټاکل شو. غرمه مو له وکیل فریدون خان سره تېره کړه.

د ګوشتې سفر که څه هم ښه و او خلکو استقبال وکړ خو دا چې دا سیمه مې وروسته پاتې ولیده، دغه سفر چندان خوند رانکړ. دلته مې یوه قصه راپه یاد شوله. The Struggle for Democracy (د دیموکراسۍ لپاره هڅې) یو کتاب دی چې انګلیسي ژورنالستې کریستینا لیمب (Christina Lamb) په پاکستان کې د بینظر بوټو په هکله لیکلی دی چې وروسته بیا بینظر بوټو، دغه ژورنالسته د پاکستان نه وویستله. د ریسرچ په اساس، په دغه کتاب کې دې لیکلي دي چې د پاکستان د پیپل پارټۍ کې اکثره فیوډالان غړیتوب لري خو دوی همیشه د غریبو په نوم شعارونه ورکوي حال دا چې بینظر بوټو په خپله سیمه او ځمکو کې د تعلیم د رشد لپاره د ښوونځیو جوړولو ته اجازه نه ورکوي؛ ځکه که تعلیم رشد کوي، بیا خلک د خپلو حقوقو غوښتنه کوي. د پیپلز پارټۍ یو مشهوره غړی، سلمان تسیر د کالو توکمې با بټنې هم د سرو زرو وي خو ولسونه یې په غربت کې شپې او ورځې تیروي. دوی یوازې د خپلو کورنیو په رشد او تعلیم فوکس کوي او غواړي چې عام ولس د ټولو حقونو نه محرومه وساتي. همدا حالت په ننګرهار کې ما په شیرزادو، ګوشته او دره نور ولسوالیو کې ولید.

**د دره نور ولسوالۍ ته سفر**

په دره نور ولسوالۍ کې لکه د کامې په شان محلي پاڅون کوونکي، محلي پولیس او یا د اردو قطعات شتون نه درلود او ولسونه له حکومت سره همکار دي. دا چې د دره نور ولسوالۍ امنیت ښه و، هره جمعه په سل گونو سیلانیانو له نورو ولسوالیو او ولایتونو نه دره نور سیمې ته تلل. د دره نور ولس اکثره ولسونه په قومي لحاظ پشه یان دي او د ځانگړي دود او عنعاناتو خاوندان دي.

۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په ۱۷مه نېټه مو دره نور ولسوالۍ ته د نظامي ښروا د غړو او د ولایت د سکتوري رئیسانو سره یو ځای سفر وکړ. د ولسوالۍ له ملکي او امنیتي مسوولینو سره مو ناسته درلوده. د دره نور ولسوال عنایت الله هجرت گردیوال د ولسوالۍ وضعیت تشریح کړ. د ولسونو په استازولۍ د پراختیایي شورا مشر ـ ملک ممتاز ، ظابط امیرمحمد، مولوی عبدالحلیم مظهري، ظابط علي والله، مولوي‌عبدالواحد او انجینر محمد سلیم خبرې وکړې او د د انکشافي پروگرامونو او امنیتي برخه کې د ملاتړ تعهد وکړ. که څه هم د ولسونو تر منځ گوندي اورقابتونه و؛ خو په عموم کې دوی د مخالفینو پرضد متحد ولس دی. په دغه کال په دره نور کې دشیمول د برق د پروژې ترځنگ د ۶۶۵.۲ میلونو افغانیو پروژې روانې او یا تکمیل شوې وې او د د ۱۳۹۹ل کال لپاره، د ۱۸۳.۶ میلونو افغانیو پروژې پلان شوې وې.

**د پچیر و اگام ولسوالۍ ته سفر**

د پچیر و اگام ولسوالۍ ولسونه اکثره خوگیاني دي او د تورې بوړې مشهوره سیمه هم د سلیمانخیلو په تنگي کې د دغه ولسوالۍ ساحه ده. د ۱۳۹۸ل کال د اسد میاشتې په دیارلسمه نتیه چې د ۲۰۱۹م کال د اگست له څلورمې نیټې سره سمون خوري، د نظامي شورا له غړیو او رئیسانو سره یو ځای مو د پیچراگام ولسوالۍ ته سفر درلود. په ۱۳۹۶ل کال کې په توره بوړه کې حالت دومره خبر و چې هلیکوپټرونو هم د پچیر و اگام ولسوالۍ کې

کېني، مګر په دغه وخت کې له سلیمانخیلو تنګي او تورې بوړې نه پرته ټولې سیمې په امن کې وې. له نظامي او ولسي غونډې وروسته مو د ګیروخیلو سیمې ته چې له تورې بوړې سره نږدې اخرې امنیتي پوستې هلته وې، په غرونو کې سفر وکړ. توره بوړه تقریبا د دریو څلور کلومترو په حدود کې د دغه سیمې نه لرې پرته وه. دا چې دا سیمې ډېرې غرنۍ دي؛ نو د محلي پاڅون کوونکو او محلي کسانو له حمایت پرته د دغه درو ساتل ممکن نه و. که څه د ګیرو خیلو پوستو ته تګ لوی خطر درلود ځکه، خو د ولسونو په مورال یې ډېر ښه تاثیر وکړ.

د پچیرو اګام د ولسوالۍ له سفر څو ورځې دمخه د دغه سیمې مشران ولایت ته راغلل او ویې ویل، چې د محلي پولیسو ټیم لیډر فیض محمد ډېر ښه سړی دی او په تېر یو نیم کال کې ترې خلک ډېر خوشاله دي؛ که د ولسوالۍ د امنیه قوماندان په توګه پاتې شي نو ډېر به ښه وي. ما ترې پوښتنه وکړه چې د کوم ځای دی؟ دوی وویل چې د کاپیسا ولایت دی او په پښتو هم ښه نه پوهیږي؛ خو له خلکو سره ډېره ښه ګذاره کوي او له برکته یې امنیتي وضعیت ښه دی. له ولسونو او نورو امنیتي ادارو سره هم ښه همغږي لري. د پچیر و اګام د ولس دا ملي احساس مې ډېر خوښ شو؛ چې د بلې سیمې او ولایت چې د دوی په ژبه هم نه غږیږي، د خپل ولس د خیر په خاطر حمایت کوي. کله چې پچیرواګام ته لاړو، په سل ګونو مشرانو او ځوانانو سره مو غونډه درلوده، د مشرانو او ټولو ولسونو په استازیتوب هم یو کس قومي مشر-حاجي ګل ولي اګامي خبرې وکړې او ویې ویل چې ستاسي سر نه په درد کوو ځکه د سرک، ښوونځیو او نورو انکشافي مسایلو په اړه د ټولو غوښتني یو ډول دي؛ نو ولسونو دا پریکړه وکړه، چې یوازې همدې وغږیږي. د ټولو په استازیتوب د خبرو لپاره دی و کس استازیتوب او د امنیه قومندان د ټاکلو په اړه مې د دوی اتفاق ډېر خوښ شو. د پچیرو و اګام لپاره په ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کلونو کې ۴۴۹ میلونو افغانیو په ارزښت پروژې د بېلابېل سکتوري ادارو له لوري منظور شوې وې.

**د نازیانو، اچین/سپین غر ولسوالیو ته سفرونه**

د نازیانو، اچین او سپین غر ولسوالۍ تقریبا د پنځه کلونو راهیسې د داعش د نفوذ لاندې وې او زیات جنګونو په دغه سیمو کې تیر شویدي. دغه ولسوالیو ته مو دوه درې ځلې سفرونه وکړل او د داعش پرضد مو نهایې عملیات په لاره واچول چې د باندر او مامند دره تصفیه شي. تفصیل یې د داعش د له منځه وړلو په برخه کې شویدی.

د ۲۰۱۹م کال د اګست په شپږمه نېټه مو د نازیانو، اچین او سپین غر ولسوالۍ ته د لومړي ځل لپاره سفر وکړ. په دریواړو ولسوالیو کې د سختو جنګونو له امله د سیمې خلک په زیات شمیر سره بېځایه شوي و. پخوا ولسوالان یوازې او یوازې په تعمیرونو کې و؛ خو ولسونو شتون نه درلود. کله چې امنیتي او دفاعي قوتونو د محلي پاڅون کوونکو په ملاتړ داعش ته ماتې ورکړه او دا سېمې یې ونیوې او ولسوالۍ بېرته فعالې شوې، د ولسونو بیرته ستنیدل هم دغه سیمو ته پیل شول. په نازیانو کې ملک دهقان د سیمې په ازادیدو کې مهم رول ولوبوه؛ چې څو ځلې پرې ځانمرګي حملې هم وشوې، زخمي شو او ډېر ملګري یې شهیدان شول خو دا سیمه یې ازاده کړه او اوس په کې امن دی. له نظامي شورا او رئیسانو سره د نازیانو تر دوه خولې پورې په ورغلو؛ خو اکثره کورونه ړنګ و او د سپینه ژی سرحدي تهانه هم له هغه ځای ښکاریده. د خلکو په قول هېڅ والي به د نازیانو دوه خولي سیمه نه وي لیدلې چې په غرونو کې ورته څومره لار ده. د یادونې وړ ده چې د ولس له ملاتړ پرته د یادو سیمو ساتل ناشوني دي.

نازیان د ډیورند له فرضي کرښې سره ۲۴ کلومتره سرحد لري. له ولسونو سره په ناسته کې د نازیانو ولسوال قاضي اسمعیل طارق، ملک حمزه میاخېل، حاجي سهیل خان او ډاکتر بریالي غروال خبرې وکړې. ملک حمزه وویل، چې د میرو څمڅې پخوا چا لیدلې نه وې؛ خو اوس هلته امنیت دی. ملک

سهیل خان وویل چې د دې سیمې د خلکو رنګ، جامه او اقتصاد ضعیفه دی؛ خو د خلکو فکرونه ضعیفه نه دي او همېشه یې د افغانستان په استقلال او ازادۍ کې برخه اخیستې ده. موږ ډیورند له پاکستان سره نه دی منلی؛ صرف امیر عبدالرحمن له انګریز سره هغه وخت فیصله وکړه چې دا د ښکته سیمو مالیه به انګریزان اخلي او د برې سیمې مالیه به د افغانستان حکومت اخلي. د نازیانو په سیمه کې ډېر کم انکشافي کارونه شوي او یوازې د ۴۸.۷ میلونو افغانۍ پروژې روانې وې او د ۲۱۹ میلونو افغانیو پروژې په ۱۳۹۹ل کال کې پلان شوې وې.

د سپین غر ولسوالۍ د اچین د ولسوالۍ یوه برخه وه او د خلکو له غوښتنې سره سم جدا شوه؛ خو د دواړو ولسوالیو ولسوالان په یوه تعمیر کې اوسېدل. که څه هم ولسوالي منظور شوې وه؛ مګر تشکیلات یې نه و او ولسوال قاسم خان له څلورو کلونو راهیسې په غیر رسمي توګه ولسوال و؛ چې ما یې له محلي اورګانونو سره د تشکیلاتو مسئله حل کړه او د سپین غر تشکیلات او بودیجه ځانګړې شوه او ولسوال په رسمي توګه وټاکل شو. د قومي تشکیل په اساس، پخوا نیم سهم د سپین غر او نیم د اچین و.

د اچین ولسوال سید عاشق الله سادات وویل، چې په ۲۰۱۳م کال کې دا سیمه له طالبانو سره وه او په ۲۰۱٦م کال کې دا سیمه داعش ونیوه. له ډېرو جنګونو وروسته اوس هم ۲۰ سلنه سیمه د اچین او سپین غر ولسوالیو لکه دیوانه بابا، مامنددره، باندر، وچ کوټ، پېښه او باغدره د داعش په لاس کې ده او هلته باید عملیات تر سره شي. ملک سیدحکیم، ملک محمد صادق او معاون حاجي د ولسونو په استازولۍ خبرې وکړې. خلکو ته مو ډاډ ورکړ، چې امن راشي، انکشافي کارونه پخپله زیاتیږي او د داعش پر ضد به هم ژر عملیات پیل شي او ټوله سیمه به له دښمنانو که د خدای خوښه وه خلاصه شي. د امنیت په برخه کې د داعش له منځه وړلو په اړه بشپړ بحث شوی؛ د اچین د غونډې له پای ته رسیدو وروسته ماښام ناوخته د کوټ په لاره بېرته جلال اباد ته راغلو.؛ په لاره کې دوکانونه بیرته و، سولري چراغونه په دوکانونو

کې ځوړند و او هر ځای ځوانان ډلې ډلې ګرځېدل؛ د سیمې خلکو راته وویل چې شپږ میاشتې دمخه چا فکر هم نشو کولای، چې والي دې د شپې لخوا په دغه لار لاړ شي او دوکانونه دې بېرته وي؛ خو اوس پوره امن راغلی او ولسونه د خوشالۍ احساس کوي.

**د کامې ولسوالۍ ته سفرونه**

کامه د ننګرهار له مهمو ولسوالیو څخه ده، چې له اقتصادي او سیاسي پلوه د مشرقي په کچه شهرت لري. د افغانستان ګڼ شمېر مهم قاضیان پخوا او اوس د کامې له ولسوالۍ څخه و/دي، د افغانستان نمو وتلې صدراعظم محمد موسی شفیق له کامې ولسوالۍ څخه و او د مشرقي مهم روحاني شخصیت مراد علي صیب هم د کامې و. علاوه له دې کامه د خانانو او مشهورو دولتي چارواکو او سیاسیونو ټاټوبی دی. زما نیکه سید محمد نعمان، چې په منګوال میا صیب یې شهرت درلود، هم له کامې څخه خاص کونړ ته تللی و؛ د کامې په ولسوالۍ کې پوره بلدتیا درلوده، ډېر خپلوان او دوستان مو هلته درلودل؛ په کراتو ورغلی یم او د ولایت پرمهال مې هم د شیریخ لپاره زیات مېلمانه د شپې لخوا کامې ته وړل.

په رسمي توګه د مشرانو سره د کتلو او پروژو د افتتاح لپاره، د اګست په پنځلسمنه نېټه له سکتوري رئیسانو او نظامي شورا سره یو ځای سفر وکړ. په ۱۳۹۸ل او ۱۳۹۹ لمریز کلونو کې د کامې لپاره نږدې د یو میلیارد افغانیو په اټکل سره پروژې بشپړ، رواني او پلان شوې وې؛ خو له دې سره سره یې خلکو له نورو سیمو نه زیات د انکشافي پروګرامونو د نشتون په هکله شکایت کاوه. د ولایتي شورا وکیل اسرار الله مراد غوښتنه دا وه، چې له امنیتي پلوه په کامه کم مصرف کېږي؛ ځکه ولسونه د امنیت په ساتلو کې رول لري؛ نو هغه مصارف باید په انکشافي کارونو وشي. په کامه کې محلي پولیس، محلي پاځون

کوونکو او حتی د ملي اردو قطعات هم نشته او یوازې د ولسوالۍ ملي پولیس شتون لري.

په دغه ورځ مو د شیرګړ او ګج سرک، د مولوي عباس د مدرسې تعمیر، د زاخیلو بولډروال، دبانس د ترویج قرعه، د اوبو شبکه او یو شمېر نورې پروژې افتتاح او ځینې ګټې اخیستنې ته وسپارلې. د کامې ولسوال شریف الله فضلي ښه راغلاست ووایه؛ د علماوو شورا په استاوزلۍ مولوي نور اغاء، د ولسونو او ځوانانو په استازولۍ، ملک رحمان الله دل اغا، ملک محمد رحیم محتاط، حبیب الله ریاض او فضل ربي حاجي خبرې وکړې.

## د شینوارو (غني خیلو) ولسوالۍ ته سفرونه

د شینوارو ولسوالۍ چې د غني خیلو په نوم زیات شهرت لري، څو سفرونه درلودل. زما د ولایت په دویمه ورځ د جمهور ریئس راتګ غني خیلو زما لومړنې سفر و. همداشان د شینوارو ولسوالۍ د تورخم – جلال اباد په لویه لار واقع ده او د مارکو د سیمې لوی بازار د شنیوارو د ولسوالۍ پورې تړاو لري. غني خیل پخوا د شینوارو د لوی ولسوالۍ مرکز و.

د جمهوري ریاست له ټاکنو وروسته، ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په دریمه نېټه مو د امنیتي ادارو او سکتوري رئیسانو په ملتیا د شینوارو (غني خیلو) ولسوالۍ ته د ولسونو سره د لیدنې په مؤخه سفر درلود. لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، دې ولسوالۍ او سیمې ته څو ځلې تللې وم؛ خو له ولسونو سره مو ځانګړې غونډه نه درلوده. ولسوالیو ته د تګ موخه د هغه مومنتوم یا حرکت ساتل و، چې مخکې مو پیل کړی و؛ څو ولسونو ته نور هم اطمینان ورکړل شي. د شینوارو ولسوالۍ د طالب او داعش سره د جنګونو مهم مرکز و. د ولسوالۍ څو کیلومترۍ کې د ګولایي سیمه کې د طالب او داعش مرکزونه پخوا موجود و. ولسوال، معلم معشوق ښه راغلاست ووایه او د ولسونو او ځوانانو په استازیتوب، حاجي نسیم شیرګړوال، قاري سلام، ملک چکن، کشمیر خان او نیک عمل شینواري خبرې وکړې. ټولو د تعلیم، صحت، زراعت او په نورو

برخو کې غوښتنې درلودې. همدغه وخت د شینوارو ولسوالۍ کې د ۵۸۶.۲ میلیونو افغانیو پروژې تکمیل شوې او روانې وې او هم ورته په ۱۳۹۹ل کال کې ۱۰۳.۱ میلیون افغانیو نوې پروژې پلان شوې وې.

د یادونې وړ ده، دا چې د مارکو په سیمه کې لوی بازار وجود لري، د شینوارو د ولسوالۍ سیاسي کلچر په مظاهرو ولاړ دی. همیشه چې کوچنۍ مسله هم وي، یو شمیر کسان بازار ته راووځي او مظاهره کوي او د بازار یو شمیر کسان ورسره یو ځای کیږي. د شینوارو په ولسوالۍ د نورو ولسوالیو ګڼ شمیر کسان هم اوسیږي او په حقیقت کې د شینوارو ولسوالۍ د شینوارو د سیاست مرکز دی.

**د کوز کونړ (ښیوې) ولسوالۍ ته سفرونه**

د کوز کونړ ولسوالۍ بیلابیلو سیمو ته مې تقریبا اوه ځلې سفرونه درلودل. د کاشکوټ – ګوریګ سرک پخول، د کاشکوټ د پروژو افتتاح، د ختیځ د هوایي ډګر د کار پیل او د ناکامورا د پروژو نه لیدنه شامله وه.

د لسونو سره د لیدونو په مؤخه مو د ۲۰۲۰م کال د جنوري د میاشتې په لسمه نېټه ښیوې (کوز کونړ) ولسوالۍ ته سفر وکړ؛ د ښیوې ولسوالۍ د سید جمال الدین افغان په لیسه کې مو د نمونې شپږ صنفي ښوونځي ودانۍ د جوړیدو او ګټنې اخیستنې په مراسمو کې برخه واخیسته. په همدې یو ښوونځي کې مو د پنځو نورو ښوونځیو چې د دوربابا، د خوګیاڼو د شهرنو، د شینوارو د محمد افضل خان لیسه او تورخم کې جوړ شوي و؛ په مجموعي ډول افتتاح کړل. د ښیوې په ولسوالۍ کې د ۶۸۱ میلونو افغانیو پروژې روانې او ۳۰۶ میلونو افغانیو پروژې د ۱۳۹۹ل کال لپاره پلان شوې وې، مګر سره له د د کامې د ولسونو په شان یې شکایت کوه او لا زیاتې پروژې یې غوښتلې.

د خوګیاڼو، چپرهار، شیرزادو او لعل پورې ولسوالیو ته مې د سفرونو یادونه په امنیتي برخه کې کړېده. د بهسود ولسوالۍ د جلال اباد ښار په منځ کې وه نو

همیشه مې د ناحیو او د دې سیمو نه لیدنه کوله. په حقیقت کې د بهسود ولسوالۍ ۹۵ سلنه په ناحیو بدله شوې او مونږ وړاندیز د محلي ارګانونو ریاست ته کړې و چې د بهسود ولسوالۍ عملا ختمه ده نو د دې لپاره چې د ننګرهار اداري واحد کم نشي، په عوض یې د کامې پله نه نیولې د بر کاشکوټ د سربند سیمې پورې چې د کونړ سیند لویدیځ غاړې ته پرته ده او د ښیوې ولسوالۍ سره د پلونو د نشتون له امله مستقیمه رابطه نه لري، د سید جمال الدین افغان د ولسوالۍ په نوم که رسمي شي نو ښه به وي. د تاریخي روایطو او د سیمو د خلکو په وینا، سید جمال الدین افغان د ښیوې د ولسوالۍ د صدر ګټ د سیمې نه و. د صدر ګټ کلی د کونړ سیند جنوب ته د زیړي بابا سیمې سره پروت دی. د سید جمال الدین افغان د ولسوالۍ په جوړیدو سره به د سید جمال الدین افغان نوم، کلی او ځای هم وساتل شي او هم به د دې سیمې د خلکو ستونځې حل شي.

د ننګرهار هره ولسوالۍ ځانته ښکلا او اقتصادي فرصتونه لري. په نږدې ولسوالیو لکه کامه، ګوشته ، بټي کوټ، کوټ، مهمندره، چپرهار، سره رود، بهسود او ښیوې سربېره، د خوګیانو د وزیرو تنګي پورې، د شېرزادو، پچیر و اګام د ګیرو خیلو او توري بوړې پورې، هسکې مېنې د نریو اوبو او پاپین پورې، د اچین او سپین غر د مامند درې او دیوانه بابا پورې، د دور بابا، د نازیانو د دوه خولي، د لعل پورې د ګلداګ او دره نور پورې مو سفرونه وکړل؛ یوازې حصارک رانه پاتې شو او انشاءالله په راتلونکې به هلته هم سفر کوم. د ننګرهار هره سیمه په لیدو ارزي او که دایمي سوله راشي، ننګرهار ځانګړی توریستي اهمیت پیدا کولای شي او د ننګرهار اقتصاد په خاصه توګه د توریزم له اړخه پرمختګ کولای شي. کامه، ګوشته، ښیوه، بټي کوټ، کوټ، مهمندره، رودات، بهسود او سره رود خاص زراعتي اهمیت لري او د ختیځو ولایتونو او افغانستان ګڼ کرهنیز ضرورتونه رفع کولای شي.

**له فساد سره مبارزه**

همېشه اصلاحات له ځان څخه پیل کېږي. کله چې ننګرهار ته د والي په توګه تعین شوم، د معرفي په ورځ مې خپلو خبرو کې د ننګرهار ولسونو ته وویل: چې زه د کار وعده له تاسي سره نه کوم؛ که ښه مې وکړل او یا بد او یا مې کار ونه شو کولای، تاسي به یې وګورئ؛ خو دوه وعدې له تاسې سره کوم چې پیسې نه غواړي، ورکشاپ او ټریننګ ته اړتیا نه لري، بهرني مرستې نه غواړي او هغه زما په واک او اختیار کې دي، هغه دا چې رشوت به نه اخلم، رشوت یا باج به چاته نه ورکوم او واسطه به نه منم. دویم دا چې قانون له هر چا نه زورور دی او قانون داسې دی لکه سور چراغ چې د لینډکروز، کرولا، ریکشې او پیاده رو کسان ټول به ورته ودرېږي. په دغه ژمنه د ماموریت تر اخره ودرېدم، چې له هیچا سره مې د شخصي ګټو په خاطر جوړ جاړی ونه کړ، نه مې چاته باج ورکړ او نه مې چا نه رشوت او پیسې په یو او بل نوم واخیستې.

د کار په لومړۍ اوونۍ کې مې رسماً ټولو ادارو ته ولیکل؛ که زما هر امر د قانون مخالف وي، اداره مکلفه نه ده، چې هغه امر ومني. همدا شان زما له نوم څخه هېڅ خپل او دوست استفاده کولای نه شي او نه کوم دفتر ته ورتللی شي، چې زما له نوم څخه سؤ استفاده او یا د ادارو په کارونو کې مداخله وکړي. تر اخره پورې مې د کورنۍ هېڅ غړی د ولایت په ادارو کې په دنده ونه ګومارل. زما یو ورور، شیدا محمود چې انجینر و، د ازاد رقابت له لارې د محلي ارګانونو نه د جلال اباد په ښاروالۍ کې د انجینر په توګه تعین شوې و خو ما ورته وویلې چې په ښاروالې کې کار نشي کولې که څه هم ته په خپل لیاقت د ازاد رقابت له لارې تعین شوې یې. که هر څومره زه ووایم چې ته په خپل لیاقت مقرر شوې یې او دا ستا قانوني حق دی خو د ټولو تصور به همدا وي چې ته زما په واسطه مقرر شوې یې. په دې خاطر مې اجازه ورنه کړه چې د جلال اباد په ښاروالې کې کار وکړي او هغه بیا په نورو ولایتونو کې کار ته دوام ورکړ.

په ننګرهار او هم په عمومي توګه په نورو ولایتونو او ادارو کې د پارلمان او ولایتي شورا له جوړېدو وروسته ځینو غړیو د نظارت او مصئونیت له کلمو نه سؤ استفاده کوله او د نظارت کلمه په حقیقت کې په ادارو کې په مداخلو بدله شوې وه؛ په ننګرهار کې هم دا یو حقیقت و، چې د ولایتي او ملي شورا ځینو غړیو د نظارت په نوم له ادارو څخه سهمونه اخیستل، چې په تېرو برخو کې یې ما یادونه کړې ده. ولایتي ادارې د دوی مخه ځکه نه شوه نیولای، چې تر ډېره حده ولایتي او امنیتي ارګانونه هم په دغو سهمونو اخیستلو کې شریک و.

ما ټولو ته وویل: چې زه د خپل یو څلوېښت کلن ماموریت ټولو دندو حساب ورکولو ته حاضر یم. هغه دندې که ما په حکومتي ادارو کې سرته رسولي او که په غیر دولتي نړیوالو ادارو او ملګرو ملتونو کې او یا مې هم چېرته مزدوري کړې ده. په دې اساس، خپل څلوېښت کلن اعتبار د ولایت په لړه موده ماموریت نه خرابوم؛ هغه کسان چې په دې ټولو ادارو کې زما نږدې همکاران پاتې شوي دي، هغوی زما په هکله ښه قضاوت کولای شي. کېدای شي چې زما په کارونو کې به نواقص و؛ خو له فساد څخه مو ځان لرې ساتلی و او همدا پاکي په ننګرهار کې زما د بریالیتوب مهم راز و.

شاید ډېر خلک فکر وکړي، چې زموږ ولسونه په اطرافونو کې معلومات نه لري او یا سم قضاوت نشي کولای؛ بلکې داسې نه ده؛ ولسونه په عموم کې د ښو او بدو قضاوت نسبت تعلیمیافته کسانو ته ښه کولای شي. که دولتي چارواکي په اخلاص او صداقت کار وکړي، ولسونه یې همېشه تر شا ودرېدلي او ودرېږي. د یادونې وړ ده، چې د فساد پر ضد مبارزه کې زه د ننګرهار ولسونو له ملاتړ مننه کوم.

فساد ډېر اړخونه لري او د فساد تعریف همدا دی، چې د ځان په ګټه له قدرت څخه سؤ استفادې ته فساد وایي. د فساد ډولونه زیات دي.

- **اداري فساد:** د خلکو بیځایه زورول، د کار نه کول، کارونه د شخصي موخو په خاطر معطلول، خپل خپلوان او دوستان په دندو ګمارل، رشوت اخستل، رشوت ورکول او واسطه.

- **فرهنګي او مدني فساد:** له فرهنګي او مدني حرکتونو څخه د ځان په ګټه سؤ استفاده لکه: د مدني حرکت په نوم شخصیت وژنه، له اشخاصو او ادارو کمېشن اخیستل، هر مثبت کار ردول او په عوض یې منفي خلا پیدا کول، د فرهنګي فعالیتونو په نوم پیسې ټولول او له هغه سؤ استفاده کول، د ژبې او قوم په نوم د خلکو له احساساتو نه سؤ استفاده او ځانونه مړول او داسې نور. کله چې فساد په فرهنګ بدل شي نو بیا له فساد سره مبارزه ستونځمنه وي، ځکه فاسد کسان له ټولوڅخه زیات د فساد چیغې وهي. اکثره کسان، چې د فاسدو کسانو خواته ورځي، بنګلو کې ورسره کېني، د هغوی ډوډۍ خوري؛ نو بیا چې راووځي د هغه فاسدو کسانو صفت هم کوي؛ چې ولا ډېر ښه سړی دی، د میلمنو قدر کوي، له میلمنو سره یو ځای کېني او ښه ستړي مشي-کوي؛ خو دا پوښتنه نه کوي، چې دغه کسانو دا پیسې له کومه پیدا کړې، د علني او مشهود مشروع عاید او مصارفو تر منځ یې انډول شته که نه؟ که عاید یې معلوم نه وي او مصارف یې د پاچاهۍ او میلونرانو وي؛ نو پوه شه، چې دا عاید له غیر مشروع لارې پیدا کوي او مصرفوي یې؛ کنه په مشروع عاید دومره مصارف ممکن نه دي. زما یادیږي چې د داود خان د واکمنۍ وروستیو کې که به یو لوړپوړی چارواکی غریب و؛ نو افتخار به یې کاوه، چې پاک انسان دی او وطن ته یې خدمت کړی دی. که اوس یو لوړپوړې چارواکی کم امکانات ولري او غریب پاتې شي؛ نو ټول پرې ریشخند وهي او وایي چې په یو ګل نه پسرلې کیږي. ډېرو نږدې دوستانو او خپلوانو راته په کراتو ویلې دي، چې تا په دومره لوړو چوکیو دندې اجرا کړې، خو له تا څخه د یوې حوزې د امر او ولسوال ژوند ښه دی. زما ځواب ورته دا و، چې ژوند مې له بل هر چا څخه ډېر ښه دی، ځکه چې زه سکون لرم او په خپل ژوند مې قناعت کړی دی؛ اما چا چې د غیر مشروع لارې سرمایه پیدا کړې، هغوی سکون نه لري او هر یو یې بې له ګولیو خوړلو ویده کېدلې نه شي. هو! زه له یو مشکل سره همیشه مخامخ یم، اکثره دوستان، مدني اوفرهنګي فعالان، کلیوال او خپلوان له ما

ثخه توقع د یو فاسد چارواکي غوندې لري؛ کله چې دوی له ما د پیسو مرسته غواړي؛ همېشه ورته د نه ځواب وایم او دوی فکر کوي، چې زه له دوی سره مرسته نه کوم؛ حال دا چې معاش که هر څومره زیات هم شي؛ بیا هم که په مصارفو کې احتیاط ونه کړم؛ نو نشم کولای، چې خپل مصارف پوره کړم. متاسفانه دا چې په افغانستان کې فساد په فرهنګ بدل شوی، نو د دې فرهنګ تغیرول پراخه او هراړخیزه مبارزه غواړي. زما په اند د مبارزې یو لار دا ده، چې د فاسدو کسانو کورونو ته تګ او راتګ کم او د هغوی په مړي او ژوندي کې برخه وانخیستل شي او هم د هغوی غوندې بایکاټ شي؛ څو د هغوی ولسي-قوت ضعیفه شي. که هر چا د مشروع له لارې ژوند کاوه، نو هغه باید تقویه شي.

- **مافیايي اقتصادي فساد:** په مافیايي فساد کې مشران په مختلفو دندو خپل چوکرګان ګماري او حمایه کوي. په مقابل کې چوکرګان په ښکته برخو کې پیسې ټولوي او خپلو مشرانو ته یې ورکوي. ښه مثال یې په جلال اباد ښارکې د ډنډه مارانو او کلانترانو مافیا ده. ډنډه ماران له هلو او کراچیو او نورو دست فروشانو څخه د میاشتې کم تر کم د ۳۰-۴۰ لکه افغانۍ راټولوي او هغه خپلو حمایت ګرو سره شریکوي. د ننګرهار د زیاتره حویلیو خرچې د همدغه دنډه مارانو او کلانترانو له خوا ورکول کېږي. د مافیايي اقتصاد په اکثرو بزنسونو کې خامخا کوم زوراکی شریک وي؛ څو د تجار سرمایه او تجارت خوندې وساتل شي. زما د ماموریت په شپږو لومړیومیاشتو کې ۱۳.۵ ټنه مواد مخدر په ننګرهار کې ونیول شول، چې بیا هغه د ۲۰۱۹م کال د مې د میاشتې په ۲۸مه نېټه د سرخ دېوال په سیمه کې له کابل نه راغلي هئیت په وړاندې وسوځول شول.
- **جنايي او اخلاقي فساد:** غلا، اختطاف، زوراکي او نور اخلاقي فساد په دغه کټګورۍ کې شامل دی.

- **تروریستي او سیاسي فساد:** کله تروریستي ډلې او هم ځینې سیاسي اکټران په پورته ټولو فسادنو کې لاس لري او د هغوی له نفوذ او امکاناتو څخه د خپلو سیاسي اهدافو په خاطر ګټه اخلي.

که موږ د فساد پورته ډولونو ته نظر واچوو، فساد د افغانستان د بې ثباتې اصلي عامل دی. اکثره دولتي کسان د شخصي موخو او یا له نورو سره د رابطو په خاطر خپله دنده په سمه توګه نه اجراء کوي، له موجوده امکاناتو مؤثره استفاده نه کوي او د دښمن د مهارولو او خلکو ته د خدمت روحیه ضعیفه یا مړه شوېده. هر دنده تعهد غواړي او هر چا چې کومه دنده قبوله کړه، په حقیقت کې تعهد د خدمت کوي او تل باید د خپل مسؤلیت په محدوده کې خدمت وکړي. د خپلې دندې او چوکۍ وقار ساتل په حقیقت کې د نظام او حکومت وقار ساتل دی. دا چې اکثره دولتي او حکومتي چارواکي د خپلو دندو وقار نه ساتي همدا علت دی چې د حکومت او دولت وقار د خلکو په منځ کې راټیت شویدی او عام ولس د دولتي چارواکو نه دفاع نه کوي.

له اداري فساد سره د مبارزې په لړ کې مو د ننګرهار په ټولو ادارو کې تقرر او تبدیلي د فرمایشاتو له مخې بنده کړه او په لس ګونو پوستونه چې خالي و، اکثره د رقابت په اساس ډک شول؛ اداري مو له باجګیرۍ خلاصې کړې او د ننګرهار هېڅ اداره د هیچا د نفوذ او تاثیر لاندې نه وه، بلکې د هرې ادارې مشر کوښښ کاوه، چې د خپلو امکاناتو او صلاحیت په چوکاټ کې پرته له وېرې کار او ابتکار وکړي. البته نورو اصلاحاتو ته هم اړتیا وه، چې د کارونو موثریت لا ښه شوی وی. په ځینو مواردو کې د بودیجې د کمښت له وجهې او له کابل څخه د ځینو مقرریو، لایحو او قوانینو له درکه عمومي ستونځې موجود وې، چې حلول یې کله د ولایتي ادارې له صلاحیته پورته وی؛ خو بیا مو هم کوښښ کاوه، چې د شتو امکاناتو او روابطو نه مؤثره استفاده وکړو.

البته له فساد سره د مبارزې په لړ کې د شینوارو، مهمندرې، خوګیاڼو او سره رود ولسوالیو د امنیې قومندانان، د سرحدي او اردو د کندک څو کسه

قوماندانان، د تورخم کمیسار او معاون، د جنايي مدير او يو شمېر د امنيتي قوماندانۍ مسؤلين، د محبس قوماندان او د يو ولسوال په شمول د ځينو ملکي ادارو او د اقراء برنامې مسؤلين او يو شمېر نور بنديان، له دندو گوښه او يا څارنوالۍ ته معرفي شول.

**نوی کال، د بزگر ورځ، د صنايعو ننداړتون او د نارنج گل مشاعره**

د جمهور رئيس هدايت و، چې په ۱۳۹۸ل کال کې بايد يو ميليون نيالگي د سوله ايیز او سمسور افغانستان په خاطر د حکومت او ولسونو لخوا په ټول افغانستان کې کېنول شي. په ننگرهار کې له نيم ميليون څخه زيات نيالگي په دغه کال د کانال او د زراعت رياستونو او ولسونو لخوا کېنول شول. يوازې د ننگرهار کانال او زراعت رياستونو له خوا د دوو لکو نه زيات نيالگي کېنول شول. د ولسونو په منځ کې مو هم کار وکړ او يو عمومي کمپاين مو په هره ولسوالۍ کې پر لاره واچوه. د کانال رياست لخوا مو ۷ زره د زيتون او ۴ زره زينيتي نيالگې کېنول. دا نيالگې د کريم زي گروپ لخوا ورکړل شوي و او د هډې فارم کې مو د سولې بڼ د جوړېدو په نوم کېنول او د افتتاح په مراسمو کې مو برخه واخيسته. د کانال رئيس، پرويز عليشنگي په دې هکله له کريمزي گروپ سره کار کړې و؛ څو د Corporate Social Responsibility يعنې خصوصي سکتور د ټولنيز مسؤليت په ادا کولو سره چاپيريال ساتنه کې مرسته وکړي. د کانال مجله مو هم د (سولې بڼ) په نوم چاپ کړه.

په ننگرهار کې هر کال د نارنج گل مشاعره کېږي او دا د ننگرهار د خلکو لپاره تاريخي ارزښت لري. دا مشاعره کله دولتي او کله ولسي-رنگ لري. دولتي کسان په دې ويرېږي که مشاعره ازاده او ولسي-شي؛ نو هر شاعر به د حکومتي چارواکو او يا د سيمې د ارزښتونو په خلاف شعرونه وايي او د مشاعرې خوند به خراب کړي. څو ځلې د مخه همداسې شوې وه او حتې استاد نجيب منلي راته وويل: چې دی د نارنج گل مشاعرې د ولسي-کولو مخالف دی؛ ځکه دا مشاعره د وخت حکومت لخوا پيل شوې او بايد د

حکومت په چوکاټ کې محدوده وي. د مشاعرې تنظیم هم همېشه د ننګرهار د اطلاعتو او فرهنګ ریاست کوي. که څه هم د هر چا خبره په خپل ځای سمه ده، خو په دغه کال د ولس د مورال په خاطر زه له ولسي کولو سره موافق وم. د هر نوي کال راتګ د کال د لومړۍ ورځې په لمانځلو پیلیږي، د حمل دویمه ورځ د دهقان ورځ وي او د حمل درېیمه د یخو سیمو د ښوونځیو د پرانستیلو ورځ؛ او د حمل اتمه، نهمه او لسمه د صنایعو نندارتون لپاره ټاکل شوې او د نندارتون د ختم په ورځ به د نارنج ګل مشاعره وه.

د ننګرهار د صنعت کارانو د اتحادیې مشر- حاجي تورملنګ راته وویل: چې سږکال له مزار، هرات او کابل څخه د صنعت کارانو د خونو مشران او استازي هم دعوت شوي دي. که دا نندارتون او مشاعره په ازاده سیمه کې لکه د سراج العمارت په بڼ کې ونیول شي؛ نو ډېر کسان به د صنایعو له نندارتون څخه لیدنه وکړي او د ننګرهار د صنایعو ارزښت به پورته لاړ شي. له نظامي شورا سره مې په دې هکله ناسته وکړه، خو د زیاتو نظر دا و، چې تهدیدات زیات دي او که خدای ناخواسته کومه پېښه وشي؛ نو بیا به یې له ګټې څخه تاوان زیات وي. ما ورته وویل چې ایا د دې امکان شته چې امنیت وساتل شي او قواوې زیاتې کړئ؟ هغوی وویل چې هو! خو په دې شرط چې د سراج العمارت تر څنګ ټولې لارې په مکمله توګه بندې شي او پیاده کسان چې سیمې ته راننوځي هم تالاشي شي. ما ورته وویل که داسې وي؛ نو د لارو بندیدل فرق نه کوي او نندارتون او مشاعره به دواړه په سراج العمارت کې جوړه کړو؛ په همدې فیصله وشوه او لازم ترتیبات ورته ونیول شول.

نږدې یو لک کسانو په درېو ورځو کې د صنایعو له نندارتون څخه لیدنه وکړه او دا لومړی ځل و، چې دومره کسانو د ننګرهار له صنایعو لیدنه وکړه. ننګرهار د تولیداتو ډېر څیزونه درلودل او حتی د ننګرهار ولسونه او ادارې هم ترې خبرې نه وې. په ننګرهار کې غوړي، دوا، اوسپنه، لاسي صنایع لکه

قالینې، خوراکي توکي، دېگ بخارونه، المونیم او داسې نور شیان تولیدېدل؛ د نارنج گل مشاعره هم په ازاده فضا کې تر سره شوه او کومه پېښه رامنځته نشوه.

د حمل لومړۍ ورځ مو په شیرزي لوبغالي کې ولمانځله؛ دا چې روان کال د استقلال له سلمې کالیزې سره مصادف و، د غونډې مراسم په ژوندۍ بڼه د انعکاس او د ننگرهار له ملي تلویزیون نه خپاره شول، چې په زرگونو کسانو پکې برخه اخیستې وه؛ په بیانیه کې مې په لاندې خبرو تمرکز او ټینگار وکړ:

د جلالتماب جمهور رئیس لخوا سږنۍ کال د ملي یووالي، سولې، پرمختگ او انکشاف په نوم، نومول شویدی. سږکال د افغانستان د استقلال د سلمې کالیزې سره هم متصادفه ده او د افغانستان په گوټ گوټ کې به د استقلال د سلمې کالیزې په مناسبت لس گونه بیلابیل پروگرامونه، علمي او فرهنگي سیمنارونه او غونډې ترتیب کېږي؛ څو د افغانستان ځوان نسل د استقلال په اصلي مفهموم او معنی وپوهیږي او څنگه کولای شو، چې سیاسي، اقتصادي او فرهنگي استقلال تر لاسه کړو. په همدې موخه به د افغانستان د استقلال باني، غازي امان الله خان په دویم ټاټوبي یعنې د ننگرهار په تاریخي، ادبي او فرهنگي ولایت کې د استقلال په اړوند یو علمي سیمنار جوړیږي. (علمي سیمنار د ننگرهار په پوهنتون کې جوړ شو او د سیمنار مقالې د کتاب په شکل د استاد هجرت الله اختیار په اهتمام چاپ شوې. د کتاب نوم : (آزادي تر پاچاهي لا تیرې کا »»«« چې د بل تر حکم لاندې زندان شي ) دی.

تقریبا یوه میاشت دمخه د افغانستان د جمهور رئیس جلالتماب محمد اشرف غني په هدایت د هېواد په گوټ گوټ کې د یو میلیون نیالگو کېنولو کمپین د سولې او پرمختگ په خاطر پیل شو، موږ هم د ننگرهار ولایت په مرکز جلال اباد او ولسوالیو کې دا کمپین پیل کړ، چې یوازې د زراعت او کانال ریاستونو په همکاري له دوه لکو نه زیات نیالگي کېنول شول. پرون موږ د کانال په ساحه کې د کریمزي گروپ په مرسته د زیتونو د اوه زره او ځنگلي نیالگیو څلور زره دانې د سولې بڼ تر نامه لاندې کېنول. سربېره پر دې په زرگونو نیالگي د ننگرهار په بېلابېلو سیمو کې د ولسونو لخوا هم کینول

شویدي. په دې اړه زه د ننګرهار د زراعت او کانال له ریاستونو او کارکوونکو او د ننګرهار له لسونو او له کریمزي ګروپ نه مننه کوم، چې د دغه نیالګو په کینولو کې یې مرسته او هلې ځلې کړې دي.

د ننګرهار د سیمې اب و هوا د زراعت او په خاصه توګه د میوه جاتو، سبزیجاتو، مالدارۍ او د چرګانو روزنې لپاره ښه مساعده ده. زما هیله د ننګرهار له بزګرانو او کرنیزو ادارو دا ده، چې د ننګرهار ولایت په مشخصو تولیداتو لکه زیتون، ستروس، خرما، زعفران، ګلاب، مالداري او چرګانو روزنې په ډګر کې د هېواد په کچه د نورو سیمو اړتیاوې پوره او حتی بهر ته زراعتي صادرات ولري. دا چې دجلالتماب جمهور رئیس توجو زراعتي او اقتصادي سکتورونو او په خاصه توګه ننګرهار ته زیاته ده، امید دی، چې موږ به ډېر نږدې وختونو کې په ننګرهار کې ښه پرمختګ او لاسته راوړنو شاهدان ووسو.

متاسفانه په همدغه ورځ زما خواښې چې زما د تره لور هم وه او هم مې د عمه زوي حمیدالله ترې وفات شول. د مراسمو له افتتاح وروسته مې هېچا ته حال ونه وایه او د جنازې لپاره خاص کونړ ته لاړم او ماښام بیرته جلال اباد ته راغلم. حال مې ځکه ونه وایه چې همیشه د چارواکو جنازې او فاتحې تشریفاتي بڼه لري، خلکو ته پکې زیات زحمت جوړیږي او د ثواب نه یې فکر کوم چې عذاب زیات وي. پدیتوګه زه د تشریفاتي فاتحو او خیراتونو مخالف وم؛ نو ځکه مې په ننګرهار کې د دوي فاتحه وانخیستله. دوه اوونۍ د مخه مې د تره زوی سید نظام الدین هم وفات شوی و؛ خو د هغه فاتحه مو هم په ننګرهار کې وانخیستله.

**په جلال اباد کې د ۱۴ ولایتونو د والیانو کنفرانس**

که څه هم د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په میاشت کې د ننګرهار لپاره تهدیدونه زیات. او د دې وېره وه، چې داعش او طالبان به انتقامي تروریستي حملې کوي. د جلال اباد په ښار کې د هدفي وژنو، ځانمرګو او موټر بمونو تهدیدونو

راپورنه موجود و. د محلي اداري عمومي رئیس ښاغلي عبدالمتین بیګ راته وویل: که تاسې امنیت ساتلی شئ؛ نو د څوارلس ولایتونو د والیانو، ولایتي شوراګانو، سکتوري رئیسانو، د پوهنتون د استادانو او مدني ټولنو درې ورځنۍ کنفرانس به د محلي حکومتولۍ د ښه کیدو په هکله په ننګرهار کې ونیسو، ځکه هلته هوا ښه ده، داعش مات شوی او ننګرهار د نورو ولایتونو لپاره ښه رول ماډل دی؛ څو تاسي ورسره خپلې تجربې شریکې کړې. په دغه کنفرانس کې به هر ولایت د خپلو سیمو په هکله طرحې وړاندې کوي او بیا به د هر ولایت دریو ښو طرحو ته تقدیرنامې هم ورکول کیږي.

بې له دې چې په ټولو امنیتي مسایلو فکر وکړم، ورته ومې ویل چې څه مشکل نشته؛ خپل تخنیکي ټیم راولیږئ او ترتیبات به ونیسو. د ګډونکو تعداد تقریبا ۲۵۰ کسو ته رسېده. د امنیت تر څنګ د ۲۵۰ میلمنو لپاره د دریو ورځو ځای برابرول لویه ستونځه وه؛ ځکه په ننګرهار کې ښه میلمستونونه نه و او یو څو محدود هوټلونه موجود و؛ د هر هوټل او شاوخوا سیمو امنیت او همدا شان د میلمنو د تګ او راتګ لپاره امکانات او د لارو امنیت ساتل مشکل کار و. که څه هم د کنفرانس له دایریدو او هم د هوټلونو او شاوخوا سیمو د امنیت لپاره ښه امنیتي پلان د کاغذ په مخ جوړ شوی و؛ خو زما تشویش زیات و، ځکه که یوه وړه پیښه رامنځته شوې وې، د ټول کنفرانس دایریدل یې له سوال لاندې راوستلو.

کنفرانس د اکتوبر د میاشتې په ۲۹ نېټه چې د ۱۳۹۸ هجري کال د لړم (عقرب) د میاشتې نهمه نېټه وه، د دریو ورځو لپاره پیل شو. د کنفرانس د پیل کېدو په ماښام، د شپې په لسو بجو مې د ملي امنیت رئیس نظر علي خان او د هغه لومړي مرستیال، نور حیدر سادات ته زنګ ووهلو چې باید په ښار کې وګرځو او امنیتي تدابیر وګورو. له ولایت څخه د سره رود دو سرکې پورې او همداسې بیرته په سبزۍ منډیې او تالاشې چوک؛ هوایي میدان پورې او بیا د بهسودو د پل پورې ټولې سیمې وکتلې، چې یو چیک پوست هم نه و او نه امنیتي تدابیرو شتون درلود. د پولیسو هېڅ درک نه لریده. د افغانستان په کچه

دومره لوی کنفرانس دی او هېڅکله دومره والیان او محلي کسان په یو ولایت کې راټول شوي نه و. نهایت زیات مایوسه شوم. په همدې شپه راته د ترکیې سفیر هم زنګ وهلې و، چې د افغان-ترک لیسې ته تهدید موجود دی او که امنیتي تدابیر زیات شي ښه به وي. د امنیې قوماندان راته اطمینان راکړی و، چې څلور کسه یې هلته زیات کړي دي. کله مو چې د افغان-ترک لېسه د شپې وکتله، هلته هم هېڅ پولیس نه و او یوازې د هغوی خپل ګاردان موجود و. امنیه قوماندان، ډګروال رقیب مبارز ته مې زنګ ووهه، چې قوماندان صیب هېڅ تدابیر نشته او د پولیسو هېڅ درک نه لږیږي او هرڅه توکل په خدای روان دي. هغه راته وویل چې کېدای شي؛ ستاسي له راوتو سره هغوی ویریدلې وي او ځانونه یې چیرته پټ کړي وي. فکر کوم چې د قوماندان صیب سر ګنګس و؛ نو ما ورته وویل چې دا کنفرانس دې خدای په خیر تېر کړي، زما او ستا نوره ګذاره نه کیږي. په دې وخت کې د پولیسو په لیکو کې دومره ګډوډي رامنځته شوې وه، چې هره جمعه د حوزو آمرین، جنایي آمرین او همداشان د ولسوالیو قوماندانان سره تبدیل کېدل او پخپله قوماندان هم خبر نه و، چې څوک چیرته دی. د کامي امنیه قوماندان چې د امنیه قوماندانۍ معاون تقریبا یوه اوونۍ د مخه تعین شوی و، هغه ته مې زنګ ووهه، چې تاسي چېرته یاست، هغه راته وویل چې دا دوه ورځې کیږي چې تبدیل شوی یم او په کور ناست یم.

د ملي امنیت رئیس ته مې وویل، چې اوس څه قوت لرې، هغه راوکاږه او د ولایت شاوخوا او همداشان د هوټلونو امنیت وساتئ، چې دا کنفرانس په خیر تېر شي. په دغه کنفرانس کې د ننګرهار په شمول د کونړ، لغمان، نورستان، کابل، پکتیکا، خوست، پکتیا، لوګر، غزني، پروان، کاپیسا، وردګ او بامیانو والیانو او مرستیالانو او محلي ادارې مسوولینو برخه درلوده. په اداري او لوژستیکي برخه کې د ولایت د مرستیال تمیم عارف په مشري او هم د ولایت د ټولو محلي ادارو په همکارۍ ډېر ښه ترتیبات نیول شوي و. د جلال اباد په شاهي مانۍ کې ټولو ګډون کوونکو ته د خوراک انتظام، د لاسي صنایعو

نندارتون، د ننګرهار له تاریخي ځایونو او سیمو لیدنه او د کنفرانس اجنډا په ډېره ښه توګه ترتیب شوې وه. د کنفرانس ګډون کوونکي او هم د ننګرهار د ولایتي ادارې منسوبین د امنیتي مشکلاتو نه خبر و او نه مې له دوی سره دا معلومات شریک کړل. د ملي امنیت له رئیس نه خاصه مننه کوم، چې د امنیت ټول مسؤلیت یې په غاړه واخیست؛ حال دا چې د ملي امنیت مسوولیت د فزیکي امنیت ساتل نه و.

د کنفرانس پرانیستې په ورځ ما په خپلو خبرو کې، چې حکومتولي څنګه ښه شي، په ننګرهار کې امنیتي توسعه څنګه رامنځته شوه، انکشافي کارونو ته څنګه زمینه مساعده شوه او بالاخره فرهنګي او فکري تغیر لپاره مو څه کړي و؛ بحث وکړ؛ څو چې په ننګرهار کې مو د جنګ روایت ته تغیر ورکړ. په دویمه ورځ د کنفرانس د والي صیبانو نظریات واورېدل شول او په درېیمه ورځ د هر ولایت کسانو خپلې طرحې ګډون کوونکو ته وړاندې کړلې. د کنفرانس په اخره کې د جمع بندۍ په وخت کې ما پنځلس موارد په نښه کړل، چې ټولو زیاتو امکاناتو ته اړتیا نه درلوده؛ بلکې فکري تغیر ته اړتیا ده، چې په ټولنه او اداره کې اصلاحات رامنځته شي.

۱. د ښېرته حکومتولۍ Open Governance لپاره د داسې کنفرانسونو دایرېدل ډېر مهم دي تر څو ولایتونه په خپلو منځو کې تجربې شریکې کړي. د یو ولایت ښې تجربې باید له بل ولایت سره شریکې شي. ناکامې تجربې باید تکرار نشي؛ ځکه هره تجربه قیمت لري او په دې توګه کولای شو؛ چې د زیاتو امکاناتو او منابعو د ضایع کولو مخه ونیول شي.

۲. د تایلېنډ هېواد په شان، چې One Village One Product هر کلي یو تولیدي فرموله په کار واچوله او اقتصاد یې رشد وکړ، همداسې د افغانستان هر ولایت باید په یوه یا دوه برخو کې انکشاف پیدا کړي. که په هر ولایت کې هر څه ته رشد ورکړل شي؛ نو بیا ارزشي زنځیر نشي تکمیلېدای او په ولایتونو کې اقتصادي رشد ته زمینه نه شي برابرېدای.

۳. له یو ولایت څخه بل ولایت او همداسې په داخل د ولایت کې د خلکو تګ او راتګ له یوې ولسوالۍ څخه بلې ولسوالۍ ته مهمه ده. اکثره کسان د خپل ولایت د ټولو ولسوالیو پوره تصویر نه لري. سفرونه کول پخپله فکري رشد رامنځته کوي. پخوا د لیسو او هم د پوهنتونونو د فراغت په وخت کې علمي سفر تر سره کېده، چې اوس وجود نه لري او دا علمي سفرونه باید زیات شي.

٤. تقریبا دوه لسیزې د مخه به اکثره داسې طرحې د خارجي متخصصینو لخوا وړاندې کېدلې؛ اما اوس د افغانانو په منځ کې ظرفیت شته او له موجوده ظرفیتونو باید د ښې حکومتولۍ په برخه کې استفاده وکړو او د استفادې زمینه باید ځوانانو ته مساعده شي.

۵. د افغانستان پوهنتونونه باید تخصصي شي او هر پوهنتون د سیمې د جغرافیه او امکاناتو په اساس په یو یا دوه برخو کې تر دوکتورا تر کچې پورې ظرفیت پیدا کړي او د تحقیق زمینه ورته مساعده شي. متاسفانه په موجوده حالت کې د افغانستان پوهنتونونه تخصصي نه دی او هر پوهنتون کې متحدالمال فاکولتې موجودې دي، چې له فراغت وروسته په اکثرو برخو کې یې زده کړې په درد نه خوري. په امریکا او نورو هېوادونو کې هر پوهنتون ځانته یو ځانګړتیا لري.

٦. افراد هغه وخت مهم دي، چې سیستم جوړ کړای شي او که سیستم جوړ نشي، د افرادو تغیر او تبدیل هېڅ ګټه نه لري. د افراد تغیر او تبدیل داسې دی لکه چې د موټر انجن خراب وي او ډرېور یې بدلیږي رابدلیږي خو موټر حرکت نه کوي؛ ځکه تر څو د موټر انجن چې سیستم دی جوړ نشي ـ د حکومتولۍ سیستم حرکت کولای نشي.

۷. په اکثرو ادارو کې ډېر پلانونه جوړیږي؛ خو دا پلانونه په درد نه خوري؛ ځکه پلانونه د اړتیا او امکاناتو په چوکاټ کې نه دي. که هر پلان ته تطبیقي او عملي طرحه موجود نه وي، ګټه نه لري او پلانونه به یوازې د الماریو په کنجونو کې پراته وي.

۸. د هر پلان لپاره باید موږ مقایسوي تحلیل ولرو؛ څو Value for Dollar یا مصرف او ارزښت معلوم وي، یعنې په کومه برخه کې چې سرمایه ګذاري کېږي، ګټه یې څومره ده؟ د بېلګې په توګه که په پروژه کې یو لک ډالر مصرف شي، شاید لږ کسان ترې ګټه واخلي؛ اما که په بله برخه کې همدا یو لک ډالر مصرف شي، شاید ډېر کسان ترې ګټه پورته کړي. یو وخت په کابل کې دوه مسلخونه جوړ شول؛ خو په یوه کې هم چېرته وزه حلاله نشوه.

۹. پالیسي سازې ادارې باید اجرایوي کارونه تر سره نه کړي او صلاحیتونه ولایتونو او ولسوالیو ته ورکړل شي. په ولایتونو کې هره اداره په ځانګړې توګه کار کوي او له بلې ادارې سره یې کارونه همغږي نه دي. د بېلګې په توګه که یو چیرته سرک جوړیږي، فواید عامه او ښاروالي باید د اوبو، برېښنا، مخابراتو او نورو ادارو سره معلومات شریک کړي، چې هغوی په دغه سیمه کې څه انکشافي پروګرامونه لري. که سرک جوړ شي او بیا وروسته برېښنا او مخابرات هغه سرکونه شکوي او خپل کیبلونه تېروي، هم مصارف زیاتیږي او هم مؤثریت د کار له منځه ځي. دا همغږي والیان او ولسوالان رامنځته کولای شي؛ نه سکتوري ادارې.

۱۰. متوازه انکشاف په داخل د ولایتونو کې هم ډېر مهم دی. په ننګرهار کې په کلونو کلونو اکثرو ادارو د ننګرهار په څو نږدې ولسوالیو کې کار کاوه او په لرې پرتو ولسوالیو کې یې کار نه و او همیشه بهانه اوعلت یې د امنیت نشتون یادوه. دا چې اوس د ننګرهار امنیتي وضعیت تغیر کړی دی، ټولو دولتي اوغیر دولتي ادارې باید په لرې پرتو سیمو کې کار پیل کړي؛ څو د خلکو امید پیدا شي او په اداره اعتماد وکړي.

۱۱. د قانون حاکمیت او تطبیق باید په ټولو افرادو یو قسم وي. داسې نشي-کېدلې، چې قانون یوازې په غریب تطبیق شي او زوراکي له قانون نه پورته وي. د همدې فرمولې په اساس مې د ننګرهار له ولایتي ادارې نه د زورواکانو لاسونه قطع کړي دي او هېڅوک نشي کولای، چې ولایتي اداره چیلنج کړي او یا قانون په خپل لاس کې ونیسي. البته په همدې برخه کې د وکیلانو، ملکانو،

هاها ډلې او یو شمېر متنفذینو سره په ټکر کې واقع شوې یم او اوس هغوی هم تر ډېره حده مداخله نه کوي. اداره په جوړ جاړي نشی چلیدلې.

۱۲. زیاتره کسان د حقوقو غوښتنه کوي؛ خو د وجایبو په هکله څه نه کوي، چې فرد د ټولنې په وړاندې څه وجایب لري. لکه مخکې مې د حکومتولۍ په برخه دا مثال ورکړې و چې ولسونه رایه ابو جهل ته ورکوي او عدالت عمري غواړي. داسې نه شي کیدلې. په دې توګه د یو کس رایه مسؤلیت او وجیبه ده او هغه باید په ښه توګه استعمال شي.

۱۳.د صلاحیتونو او مسؤلیتونو ترمنځ توازن مهم دی. که د یوې ادارې مشرـته مسؤلیت ورکول کېږي، باید صلاحیت هم ورکړل شي.

۱٤. اسلام د اعتدال دین دی؛ خو متاسفانه له اسلام څخه غلط برداشت او په ډېرو مواردو کې د نیمچه ملایانو تعبیرونو او تفسیرونو ټولنه د افراط پالنې خواته بیولې ده.

۱۵.مهمه مسئله دا ده، چې په خپلو مغزو کې موږ باید خبرې پروسس کړو؛ ښې او ګټورې خبرې په کې وساتو او خرابې خبرې له خپلو مغزو وکاږو. موږ باید د ځآن په اصلاح ډېر فکر وکړو؛ نه دبل په اصلاح. که ځانونه مو اصلاح کړل، کورنۍ مواصلاح کېږي او کورنۍ چې اصلاح شوې، کلی اصلاح کېږي، کله چې کلی اصلاح شو، ولسوالۍ اصلاح کېږي، د ولسوالۍ له اصلاح سره د ولایت او بیا د مملکت اصلاح رامنځته کېږي. اصلاحات باید له ځانه پیل شي. حکومت د ټولنې فوتوکاپي او ټولنه اصل ده. که اصل خراب وي، فوتوکاپي به خامخا خرابه او تته وي.

د کنفراسن له پای ته رسیدو وروسته ټول ګډون کوونکو خوشاله رخصت شول او هیڅ کومه امنیتي پیښه رامنځته نه شوله. د ننګرهار حیثیت د دغه کنفرانس له دایریدو وروسته نو هم اوچت شو. همداسې کنفرانس بیا په بدخشان او د افغانستان په نورو زونونو کې هم جوړ شو او ډېره ښه نتیجه یې درلوده.

له کنفرانس وروسته، زه او د ملي امنیت رئیس ډگرجنرال نظرعلي خان کابل ته لاړو او له جمهور رئیس سره مو وکتل. جمهور رئیس ته مې وویل که امنیه قوماندان تبدیل نه کړئ، نو زه بیرته ننگرهار ته نه ځم. هماغه و، چې جمهور رئیس د کورنیو چارو وزارت ته امر وکړ، چې امنیه قوماندان سمدستي تبدیل او په عوض یې د پکتیکا امنیه قوماندان ډگروال ایمل نیازی، چې مخکې په ننگرهار کې د امنیت امر و وټاکئ. له دې تغیراتو سره د نظامي شورا تر منځ همغږي ښه شوه. په ولایت کې د والي ښې او چپ لاس، د پولیسو او امنیت ملي ادارې دي. که دغه دواړه ادارې له والي سره همکاري ونه کړي، یو والي هېڅکله نشي کولای، چې په خپلو چارو کې کامیابه اوسي.

د همدغه کنفرانس په دوام، بل کنفرانس په بدخشان کې جوړ شو، چې د شمال ختیځ ولایتونو له والیانو علاوه د پروان، هلمند، دایکندي او نیمروز والیانو هم دعوت شوي و.د مشرقي او جنوب ختیځو ولایتونو یې زه هم دعوت کړې وم ؛ څو د ننگرهار تجربې له هغوی سره شریکي کړم. د بدخشان والي وویل: چې د راغستان په سیمه کې د کال ۳۰۰ کېلوگرامه طلا د شگو له وینځلو څخه لاسته راځي؛ خو گټه یې ټوله طالبانو او مخالفینو ته ځي. د شورابک بند مو هم ولید، چې په کم قیمت ۷.۵ میگاواټه بریښنا یې تولیدوله او کارونه یې مخ په تکمیلېدو و.

### د استقلال د سلمې کالیزې لمانځل

د جمهور رئیس د هدایت په اساس باید د استقلال سلمه کالیزه په ټول افغانستان کې په ښه توگه د سلو ورځو لپاره ولمانځل شي او هره ورځ باید د استقلال د لمانځلو په خاطر په هر ولایت کې یو فعالیت تر سره شي. خو د استقلال سلمه کلیزه باید په ننگرهار کې له بل هر ولایت ښه لمانځل شوي وی؛ ځکه چې د استقلال باني غازي امان الله خان په جلال اباد کې ښخ دی.

د استقلال د کلیزې په مناسبت مو یو کمېسون د ولایت مرستیال تمیم عارف مومند په مشري وټاکه، چې د دولتي ادارو نه بر سیره، د تعلیمي ادارو،

اصنافو، رسنیو او مدني ټولنو استازي په مرکز او ولسوالیو کې پراخه برخه واخلي. د مراسمو لپاره یو جامع پلان د جلال اباد ښار او ولسوالیو په کچه جوړ شو، چې په حکومتي چوکاټ کې د لمانځلو په عوض ولسونه د استقلال سلمه کلیزه په ښه شان سره ولمانځي. همداشان د اسد لومړی ورځ چې د بیرغ د ملي ورځې په نوم ځانګړې شوې وه، باید دافغانستان ملي بیرغونه په کلیو او بانډو کې د ولسونو لخوا اوچت شي.

د مرکز لخوا د استقلال د لمانځلو لپاره ټول څلور لکه افغانیو په شاوخوا کې تخصیص ورکړل شوی و. له مرکز څخه یوه غیرعملي طرحه هم وړاندې شوې وه، چې د افغانستان د هرې ولسوالۍ نه باید یوه لاری خاوره کابل ته ولیږدول شي او د هغه خاورې نه به ښتي جوړوي؛ هغه ښتې به بیا په داشونو کې پخیږي؛ د ښتو نه به د دارالامان په سیمه کې د استقلال په نوم، څلي، ودانۍ او د استقلال سلمې کالیزې په نامه یو جومات جوړیږي؛ او دا ځایونه به د افغانستان د ټولې خاورې د ملي یوالي د سمبول استازولي کوي. که څه هم له ننګرهار څخه یو څو لارې خاوره کابل ته ولیږدول شوه؛ خو په کابل کې بیا هغوی د خاورې د استعمال لپاره پلان نه درلود او هغه پروژه ناکامه شوه.

د دې لپاره چې ولسونو ته انګیزه ورکړل شي، د استقلال د سلمې کالیزې فعالیتونه مو هره ورځ د فیسبوک او ټویټر له لارې او همداشان د ولایت له رسنیو د دفتر نه خپرول. د امان الله خان له مقبرې نه نیولې، د جلال اباد د شاهي ماڼۍ، د پښتونستان چوک، د یوسف میړني چوک، سرکونو، ښوونځیو، کلینکونو او نورو انکشافي کارونو مستند عکسونه هره ورځ نشر ـ ته سپارل کېدل. همداشان ولسوالیو ته د سفرونو پروګرامونه او هم په ولسوالیو، ښوونځیو، پوهنتونونو، کلیو او ښارونو کې د استقلال د سلمې کلیزې فعالیتونه په رسنیو او ټولنیزو رسنیو کې ښه انعکاس ورکاوه. په دې توګه یو مثبت ټرینډ (طرزلورې) د ننګرهار د مختلفو اقشارو، ادارو، دولتي او غیر دولتي نهادونو تر منځ رامنځته شو، چې ټولنیزو رسنیو کې د جنګي خبرونو او فرهنګ په عوض، د بیا رغونې،

مثبت فرهنګي تغیر، د ملي احساس راژوندي کولو کارونو ځای ونیوه. زموږ هدف همدا و، چې د جنګي فرهنګ په عوض سوله ایز فرهنګ رواج کړو او خلکو ته د مالکیت، ازادۍ او په خپلو ځانونو د اتکا حس ورکړو، ځکه الله تعالی هم وايي، څو چې تاسي په خپل ځان کې تغیر رانه وړئ؛ نو الله تعالی هم ستاسي په حالت کې تغیر نه راولي. دې ټرېنډ نه یوازې په ننګرهار کې بلکې د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم مثبت ذهنیت رامنځته کړ او مشابه حرکتونه پیل شول. هر ولایت به هره ورځ د خپلو سیمو فعالیتونه د استقلال د سلمې کلیزې په مناسبت شریکول او ټولو به د یو بل نه ښه کارونه کاپي کول.

زما د (سلام! سهار په خیر) پوستونو په ننګرهار کې، د افغانستان په نورو ولایتونو کې او هم له هېواد څخه بهر افغانانو ته د امید روحیه ورکوله، چې په هېواد کې د جنګ تر څنګ د ابادۍ او ژوند کولو ډېر څه روان دي.

له ډېرو سره دا سوال اوس هم شته، چې ولې د خپلواکۍ او یا نورې ملي ورځې لمانځل کېږي او ولې بېځایه مصارف کېږي؟ په ځواب کې یې باید ووایم، چې د همدې ملي ورځو لمانځل په ولسونو کې ملي‌احساس او غرور راپیدا کوي او کله چې ملي احساس او غرور وي، بیا هر څوک په خپل هویت، بیرغ، نظام او هېواد باندې فخر کوي او ملي ارزښتونه خپل ګڼي. کله چې ملي ارزښتونه خپل وګڼل شول، بیا د ملي ارزښتونو لپاره هر څوک د خپلې وسې په اندازه کار کوي، هغه ساتي او پدیتوګه هېواد له جنګ او ورانۍ ژغورل کېږي. متاسفانه په افغانستان کې د تېرو پینځو لسیزو جنګونو له امله ملي ګټې او ملي ارزښتونه په سمه تعریف شوي نه دي او نه ورته کار شوی دی. فکر کوم چې د استقلال سلمې کالیزې د لومړي ځل لپاره بیا یو خوځښت رامنځته کړ. د غازي امان الله خان نوم د استقلال له نوم سره تړلی دی او هغه مهال په ټولو ډګرونو کې یو خوځښت رامنځته شو، که څه هم خوځښت تېز و او د داخلي او بهرني کړیو لخوا له مقاومت سره مخ شو؛ خو بیا هم د افغانستان استقلال او د ملي ګټو تعریف زیات له هغې دورې سره تړلی دی. د غازي امان الله خان په دور کې د استقلال له ګټلو نه بر سیره، **۳۲۲** ښوونځي تاسیس شول، ابتدایي زده

کړې جبري شوې، د مسلکي زده کړو تعلیمي مراکز رامنځته شول، ۱۳۲ بېلابېل کتابونه چاپ او په هېواد کې وویشل شول، د امان افغان اخبار د خلکو په منځ کې فکري خوځښت رامنځته کړ، د ښوونځیو د جوړولو لپاره دوه افغانۍ مالیه زیاته شوله، په ۱۹۲۹م کال کې په لومړي ځل د مستوراتو په نوم د نجونو ښوونځې جوړ شو، چې د شاه امان الله خان میرمن او خویندو هلته معلمي کوله او داسې نور.

د استقلال د سلمې کالیزې په مناسبت مو د ننګرهار په پوهنتون کې د اګست په اتمه نېټه یو علمي سیمنار جوړ کړ او هم د بېلابېلو استادانو او لکیوالانو لخوا مقالې ترتیب او د کتاب په بڼه نږدې شپږ زره ټوکه چاپ او په هېواد کې وویشل شول. د غازي میرزمانخان په نوم علمي سیمنار هم د ننګرهار په پوهنتون کې د اګست په ۲۲مه نېټه دایر شو. همداشان د استقلال د سلمې کالیزې په ویاړ ولسي مشاعره د اګست په ۱۶مه نېټه د شیرزي په لوبغاړي کې جوړه شوه.

په هر حال، د ۲۰۱۹م کال د اګست په اومه نېټه مو د استقلال د سلمې کلیزې په ویاړ یو عمومي کمپاین د جلال اباد له ښار څخه پیل کړ. په همدې ورځ مو په ننګرهار کې د ښځو د تقویتي پروګرام لاندې د لاسي صنایعو نندارتون پرانیست. د بي بي هوا په لېسه کې د دغه لیسې د مدیرې او ښځینه معلمینو لخوا یوه لویه غونده جوړه شوې وه او په هغې کې مو برخه واخیسته. په همدې ورځ، د جلال اباد له لارې د سل ټنه صادراتي توکو او د اسد په ۲۷مه چې د اګست د میاشتې ۱۸مه نېټې سره سمون خوري، لس زره ټنه د شوکانې او سکرو محمولې، چې د پنځوسو لاریو کاروان و، د افغانستان بیرغونه پرې نصیب او پاکستان ته ولیږدول شول. ملي بیرغونو رپېدل او لاریو یوخاص غرور ټولو ته ورکاوه. د استقلال سلمه کالیزه، د ننګرهار ولسونو د جلال اباد په ښار او ولسوالیو کې په ډېرو شاندارو مراسمو ولمانځله، چې د مشرقي په ولایتونو کې یې ملي احساس راژوندي کړ. غونډې او سیمنارونه

ترتیب شول؛ د استقلال د سلمې کلیزې پـه مناسـبت د ولایـت دمقـام لخـوا اور لوبې جوړې شوې، چې په زرهاو کسانو يې ننداره کوله او هم یادې ورځـې تـه وطني ترانې ترتیب شوې وې.

د استقلال د سلمې کلیزې په مناسبت مو ټولو ادارو ته وویل: چې انکشـافي کارونه باید تېز کړي. د جمهور رئیس د هدایت په اساس ټولو ښـاروالیو بایـد د اسـتقلال د سـلمې کلیـزې پـه مناسـبت خـاص رول لوبـولای وی. د ننګرهـار ښاروالیو په جلال اباد او هم ولسوالیو کـې خـاص پروګرامونـه ترتیـب کـړل. لـه سرخاب پله نه نیولې د یوسف مېړني چوک پورې سرک دوه طرفه تکمیل شـو، د سرکونو په منځ کې نوي څراغونه ولړول شول، د یوسف مېړني له چوک نـه د پښتونستان د چوک پورې کټارې او د سرکونو شاوخوا جوړې شوې. هغه کسان چې ډېر وخت جلال اباد ته نه و راغلي، کله به چې لـه درونټـې نـه جـلال ابـاد ښار ته داخلیدل؛ نو له سرخاب پله نه د جلال اباد د پښتونستان چوک پورې بـه يې چې نوي چراغونه او تغیر لیده، هېڅ باور يې نه کېده، چې په دې لنډه مـوده کې څومره ډېر تغیر رامنځته شوی دی. له ټولو نه مهمه مسئله د غـازي امـان الله خان د مقبرې جوړول و، چې هغه جوړه شوه او مقبرې ته د داخلېـدو پـه سـیمه کې د غازي امان الله په نوم یو څلې هم جوړ شو.

البته پورته فعالیتونو د یو شمېر ډلو او افرادو په منځ کې چې فکر یـې پـردی او د ګاونډیو د اغیز لاندې و او یا تنـګ نظـري یـې کولـه، د اسـتقلال د سـلمې کالیزې د لمانځلو په وړاندې یو لړ منفي تبلیغات هم د دین په نـوم کـول. دوی به ویل چې له شرعي ورځو په غیر د نورو ورځو لمانځـل حـرام دي، یـا دومـره لګښتونو ته څه اړتیا ده، باید له خلکو سره مرسته وشي، یا مخـالفینو بـه دا تبلیـغ کاوه، چې تر څو بهرني قواوې په یو ملک کې وي نو استقلال څـه معنـی لـري او داسې نور. متاسفانه زموږ ولسونه همېشه د منفي تبلیغ د تاثیر لاندې راځي او تحلیلونه په واقعیتونو ولاړ نه وي. د سیاسي علومو له نظره استقلالیت تـل نسـبي دی. څومره، چې یو هېواد په اقتصادي او فرهنګي لحاظ قوي کېږي، هماغومره يې سیاسي استقلالیت هم زیاتیږي. که خارجیان په یو هېواد کې د یو تفـاهم او

تړون په اساس اوسي ؛ نو دا معنی نه لري، چې هغه هېواد دې ازادي ونه لري. په جرمني او جاپان کې له دویم نړیوال جنګ راپدېخوا امریکایي ځواکونه شتون لري، نو دا د دې معنی نه لري چې هغوی ازادي نه لري. په اوسني دور کې چې د نړیوالتوب یا Globalization دور دی؛ ټوله دنیا د یو بل پورې په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، معلوماتي او نظامي لحاظ تړلې ده.

د اسد د ۲۸مې نیټې پورې هېڅ کومه پېښه ونه شوه او نه د استقلال د سلمې کالیزې د لمانځلو پر وړاندې چا ممانعت وکړای شو. د اسد په ۲۸مه نېټه چې د پښتونستان چوک، غازي امان الله خان د مقبرې او څلي، د یوسف میړني د څلور لارې او د سرخاب د پله پورې دویم لین سړک د پرانیستې مراسم په پام کې نیول شوي و، نو قوي امنیتي تدابیر هم په لار اچول شوي و. امنیتي ادارو ته مو دنده ورکړې وه، چې دا سیمې د څار لاندې ونیسي، چې په دغه ځایونو او ودانیو کې څوک د مخه مایونه ځآی پر ځای نه کړي. همدا شان د ځانمرګو او نورو ترویستي حملو مخه ونیول شي. له سختو تدابیرو سره سره د استقلال او وطن دښمنانو د صوتي بمونو له نویي تاکتیک نه کار اخیستی و.

کله چې مو سهار لومړی له نظامي شورا سره د غازي امان الله خان په مقبره د ګلو ګېډۍ ایښودولو مراسمو ته تللو، دا پروګرام په ژوندۍ بڼه د ملي رادیو تلویزیون له خوا خپرېده، نو د لومړي انفجار اواز مو واورېد؛ خو موږ خپلو مراسمو ته دوام ورکړ. عسکري قطعه مو معاینه کړه او د غازي امان الله خان په مقبره مو د ګلو ګېډۍ کېښوده او له ملي تلویزیون سره مې په ژوندۍ بڼه خبرې هم وکړې. له خبرو وروسته د پښتونستان له چوک او عیدګاه سره نږدې په هغه لاره چې موږ تللو؛ څو نورې چاودنې هم وشوې. مګر بیا هم موږ خپلو مراسمو ته دوام ورکړ او په واپسۍ کې مو د غازي امان الله خان څلی او همدا رنګه د پښتونستان چوک افتتاح کړه او بېرته ولایت ته راغلو. د دې لپاره چې د خلکو روحیه مړه نه شي، سمدستي له لږو تدابیرو وروسته بیا د ولایت د ودانۍ نه ووتلو. زموږ په راوتلو ولسونه هم خوشاله شول او روحیه یې واخیسته. د

تلويزيون په تپه مو هغه لوی سل متره بيرغ، چې د حيات صيب په وخت کې پرې کار پيل او په همدې ماښام رارسيدلې و، اوچت کړ. په دغه وخت کې هم د ښار په بېلابېلو سيمو کې د صوتي بمونو يو څو نورې چاودنې وشوې. صوتي بمونه يې د اوبو په بوتلو کې د برق په پايو او گلدانونو کې دمخه ځای پر ځای کړي و؛ چې کشفول يې مشکل و. داسې معلوميدل، چې کوم کس د برقي په نوم د برق پايو په منځ کې دا صوتي بوتلې ځای پر ځای کړې وې؛ چې چاوديدونکي توکې پکې زيات نه و او يوازې هغه کسان چې چاودنې ته نږدې و زخميان شوي و؛ خو د دوی موخه وهم او ويره خپرول و.

د دغه صوتي بمونو د چاودنو له امله ۱۳۸ کسه سرسري زخميان شول، چې د زخميانو په ډله کې يوازې پنځه کسه لږ شديد و او وروسته ښه شول. د خدای فضل و، چې هېڅوک مړه نه شول. په همدغه ورځ د ننگرهار حوزوي روغتون او همداشان په گمبيري کې د ملي اردو روغتونو ته ورغلو؛ څکه يو څه زخميان هلته انتقال شوي و. د گمبيري روغتون کې مې چې مريضان کتل، ډاکترانو راته وويل، چې دا يو کس طالب دی او د خوگيانو د چمتلې په سيمه کې د پوليسو پرضد يو ماين په موټر سايکل کې ځای پر ځای کړی و، چې هغه پوليس شهيد او دی پخپله هم په دغه حمله کې زخمي شوی و. ما ورته وويل چې گورئ زموږ او ستاسي همدا فرق دی چې اوس تاته او هم نورو سرتېرو ته يو قسم تداوي کېږي او په دې جنگ او وژنو کې ستاسي څه خير دی؟ په همدې واټ کې يو بل سرتيرې چې دوه ځلې زخمي شوی و، راته يې وويل که روغ شي، بيا اراده لري چې د حکومت په حمايت له مخالفينو سره وجنگيږي.

له پورته چاودنو وروسته امنيتي ادارو خپل تدابير نور هم زيات کړل. په همدې ورځ ۱۵ حلقې ماينونه په ښار کې خنثې شول. د داعش د ډلې يو موټر سايکل له يو ځانمرگي کس سره ونيول شو، ۲۷ حلقې ماينونه په خوگيانو او ۷ ماينونه د شينوارو (غني خيلو) په ولسوالۍ کې خنثې شول. همدا شان د ملي امنيت ادارې يو سوزکي او يو کرولا موټر چې انفجاريه مواد پکې بار و ونيول.

د استقلال د کالیزې د لمانځلو په اوونۍ کې ملي امنیت او پولیسو نهه ځانمرګي واسکټونه، راکټونه، سلاوې، او له سلو زیات کسان د جلال اباد ښار او ولسوالیو کې ونیول. که دا مواد او کسان نه وی نیول شوي؛ نو دښمنانو به د استقلال سلمه کالیزه په یو لوی ناورین بدله کړې وی. زه د ټولو امنیتي ادارو له منسوبینو څخه مننه کوم، چې په پوره میړانه یې د دې ناورین مخه ونیوله.

د ملي امنیت د پلټنو له مخې له ځانمرګو واکسټونو څخه مخالفینو د استقلال د سلمې کالیزې په ورځ د څلورو ځانمرګو، دوه موټر بمونو، یو موټر سایکل بمب او لس ګونو قوي ماینونو د چاودونو پلان درلود. د دوی د تحلیل په اساس، دا صوتي ماینونه په داخل د جلال اباد ښار کې د ځینو ناراضه کسانو او یا د ننګرهار د خلکو په اصطلاح د ځینو حویلیو لخوا د ولایت د بدنامۍ لپاره ځای پر ځای شوي او بیروني لاس پکې نه ښکاریده. په هر حال ما ورته وویلې چې که ثبوت لري او هر څوک پکې لاس لري، باید موږ یې مخه ونیسو او قانوني چلند ورسره وشي؛ خو متاسفانه ملي امنیت هم په دې برخه کې کره شواهد وړاندې نه کړل؛ چې په هغې باندې اجراات شوي وي.

له ټولو تهدیدونو سره سره موږ خپلو پروګرامونو او په ښار کې ګرځېدلو ته دوام ورکړ، د شپې اور لوبې هم لغو نه شوې، ولسونه هم په خپلو کورونو کې کېنناستل او د جلال اباد ښار د ورځې په تناسب، د شپې له لوري له خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه، ښار ټول په څراغونو روښانه شوی و او د شپې پروګرامونه د محلي او ملي تلویزونونو او فیسبوک له لارې ډېر کسانو په ژوندۍ بڼه خپاره کړل. مدني فعال شریف الله ناصري راته وویل: چې د ماښام د اتو بجو په شاوخوا کې غواړې؛ چې د پښتونستان په چوک کې یوه لویه غونډه جوړه کړي، چې ډول او سورنی به هم وي او ځوانان به اتڼونه وکړي؛ څو د ولس مورال نور هم قوي شي. ما ورته وویې چې څه مشکل نشته او زه به امنیتي ادارو ته ووایم چې امنیتي تدابیر ونیسي. د ولسي جرګې وکیل عبدالروف شپون او ځینو مشرانو ته مو وویل چې دوی هم باید په دغه غونډه کې ګډون وکړي.

له ټولو تهدیدونو سره سره، زه د دوی غونډې ته ورغلم او هلته مو ولسونه نور هم تشویق کړل. ډول او سرونی او اتڼونه ښه په درز کې روان و او د فیسبوکونو له لارې په ژوندۍ بڼه نشر ته سپارل کېدل. د خلکو پراخ ګډون او په ژوندۍ بڼه د پروګرامونو خپرولو، د صوتي بمونو پېښې د شعاع لاندې راوستې. د دښمن ټولې دسیسې شنډې شوې او د دښمن لپاره لویه ضربه وه، چې ولسونو په شوق او ذوق سره د استقلال سلمه کالیزه په ښار او ولسوالیو کې په ډېر ښه شان سره ولمانځله. د دې پر ځای چې دښمن د ولسونو مورال ووژني، د دغه صوتي چاودنو له امله د ولسونو مورال نور هم قوي شو او همدا د استقلال د سلمې کلیزې لمانځل و؛ چې د ننګرهار وضعیت یې په امنیتي او سیاسي لحاظ بدل کړ.

## د جمهوري ریاست ټاکنې

ننګرهار ته د والي په حیث له ټاکل کېدو دمخه اوازې وې؛ چې ټاکنې نه کېږي او دنیاوال ټاکنې نه حمایه کوي. طالبانو به هم ګواښ کاوه، که ټاکنې وشي؛ نو دوی به جنګ ته دوام ورکړي. سیاسي مشرانو هم د موقت حکومت زمزمې غبرولې او هر یو د پاچاهۍ خوبونه لیدل. د جمهور رئیس A ټیم له هر چا زیات په تاوده تناره کې خپلې پېړې تپلې او هر یو ځانونه کاندید شمېرل. ځینو، چې په ګاونډي هېوادونو کې سفیران پاتې شوي او هلته یې روابط جوړ کړي و، فکر یې کاوه چې د ګاونډیانو په زور به ټاکنې وګټي. ځینو دا خوبه هم لیدل، چې د موقت حکومت په راس کې به راشي. هغه وخت ما یوه مقاله: شخصي اجنډاوې که ملي اجنډاوې تر عنوان لاندې ولیکله چې پژواک خبري اژانس هم په هغه وخت کې نشر کړه[۳۷]. په مقاله کې مې په ځانګړې توګه د جمهور رئیس A ټیم ته لیکلي و، چې تاسي کوښښ وکړئ؛ جمهور رئیس

---

[۳۷] goo.gl/IPQvnv د دې لینک لیکنه زما د غوره لیکنې په کتاب کې چې په ۱۳۹٦ل کال، د شاه محمود میاخیل فرهنګي او ټولنیز مرکز لخوا چاپ شوې، په ۳۲۲ مخکې مطالعه کولې شي.

کامیابه کړئ او له برحاله جمهور رئیس څخه ټاکنې ګټل اسانه نه دي. که جمهور رئیس په خپلو کارونو کې ناکامیږي؛ نو بیا تاسي د دې مستحق نه یاست، چې ټاکنې وګټئ او نه یې ګټلای شئ. وروسته د A ټیم ځینو غړو ټیمونه جوړ کړل او ډېرې غونډې یې وکړې، خو څه ترې جوړ نه شول.

دا چې ما د متحده ایالاتو له سولې انستیتوت سره کار کاوه، د سولې د خبرو په هکله راته یو څه معلومات و، چې په ښه توګه پرمخ نه ځي. د امریکا پالیسي هم چندان واضح نه وه او د سولې خبرې صرف د دې په خاطر روانې وې، چې د امریکایي قواو وتلو ته زمنیه مساعده شي؛ دا چې وروسته په افغانستان کې څه کېږي، د هغې لپاره نه د افغانستان حکومت او نه امریکا او د هغه متحدینو څه خاص پلان درلود. د دوحې د سولې موافقه هم لکه د جینوا د قرارداد په شان وه چې د جګړې اصلي خواوو یعنې افغانانو په خبرو کې برخه نه درلوده او هغه قرارداد هم صرف د روسانو د وتلو لپاره زمینه مساعده کړه. د جینوا قرارداد کې Negative Symmetry مسئله مطرح وه، چې شوروي اتحاد او د مجاهدینو طرفداران به د امریکا په شمول دواړو خواو ته نوره اسلحه او کمک نه ورکوي. د دوحې په تړون کې هم د افغانستان حکومت مطرح نه و او خبره د امریکا، پاکستان او طالبانو تر منځ وه. د جینوا د قرارداد په شان که د روسانو له وتلو وروسته افغانان سره په خپلو منځو کې وهي او وینو تویول جریان پیدا کوي، نړیواله تولنه به د سیل بین په توګه رول لوبوي او افغانستان به د سیمه اییزو نیابتي جګړو ډګر وي.

د پورته دلایلو په اساس، ماته هم دا مهمه وه، چې حکومت باید تقویه شي او ننګرهار ته د والي په حیث ټاکل کېدل مې ومنل. ډېرو دوستانو راته هغه وخت وویل چې دا حکومت خو له منځه تلونکی دی؛ ولې دې په اخره کې د حکومت دنده قبوله کړه. زما ځواب دا وه، چې حکومت او د نظام ملاتړ په دې حساس وخت کې ډېر مهم دی. په افغانستان کې دایمي ثبات له یو کارا حکومت پرته هېڅکله نشي راتلای. زه اوس هم په دې عقیده یم، چې د سولې

هره پرېکړه چې وي؛ که د راتلونکي لپاره د ښې حکومتولۍ فرمولـه او د ازادو ټاکنو منل پکې نه وي، په افغانستان کې ثبات راوستل ستونځمن دي. د سولې خبرې پـه موقتـه توگـه د ښې حکومتولۍ لپـاره زمینـه برابـرولای شي، امـا پـه افغانستان کې دايمي ثبـات يـوازې د ښې حکومتولۍ پـه نتيجـه کـې رامنځتـه کېدلی شي.

په ډېرو مجالسو کې زما بحث دا و، چې ټـاکنې بايـد حتمـي وشي؛ ځکـه د سولې خبرو پايله لا معلومه نه ده او که ټاکنې ونشي نو يو ضعيفه او غير مشروع حکومت به شتون ولري. په دې توگه به طالبانو ته پلمه په لاس ورشي، چې لـه نامشروع حکومت سره خـبرې نـه کـوي او موقـت حکومـت دې جـوړ شي. د طالبانو او د هغوی د حمايت کوونکو لوی هدف همـدا دی، چـې د افغانسـتان حکومت ضعيفه او طالبان د فاتح په توگه قدرت ونيسي. متاسفانه د ټاکنو لپـاره د جمهور رئيس غني له ټيم نه په غير نورو کانديدانو په اکثره ولايتونو کې او په خاصه توگه په ننگرهار کې دفترونه بيرته نه کړل او نه يې ټـاکنيز کمپـاين کـاوه؛ ځکه اکثره په دې طمعه و، چې ټاکنې به نه کېږي. يوازې جمهـور رئـيس غنـي په دې فکر و، چـې ټـاکنې بايـد حتمـي وشي او ټـاکنو لپـاره ځينـې دفـاتر يـې پرانيستل. يو علت چې کمو کسانو په ټاکنو کې برخه واخيسته، همـدا وه، چـې نوماندانو ولسونه په ټاکنو لا د ورايه بې باوره کړي و او څو مهمو نومانـدانو هـم په اخري اوونۍ کې کمپاين پيل کړ.

په ننگرهار کې د ټاکنو لپاره د نوم ليکنـې تقـويتي پروسـه، د ۲۰۱۹م کـال د جون د مياشتې په نهمه نېټه پيل شوه. پـه تقـويتي پروسـه کـې هغـه کسـانو نـوم ليکنه کولای شوه، چې پخوا يې د ټاکنو لپاره نـوم ليکنـه نـه وه کـړې او يـا يـې عمر د تېرو ټاکنو وروسته اتلس کلنې ته رسيدلی و. د پارلماني ټاکنو پـه وخـت کې د ننگرهار ډېرې سيمې نـا امنـه وې؛ خـو د جمهـوري رياسـت د تـاکنو پـه وخت کې تقريبا له ۹۰ سلنه زياتو سيمو کې امن و، خو بيا هـم پـه ډېـرو سـيمو کې د ټاکنو د طرزالعمل پـه اسـاس، پخـواني بنـد شـوي مرکزونـه دوبـاره بيرتـه نشول. دغه پروسيجر يو څه د ننگرهار نوم ليکنه له مشکل سره مخامخ کـړې وه

او د ننګرهـار زیـات شـمېر کسـان لـه رای اچـونې څخـه محـروم شـول. د دې فرمولې په اساس، د ننګرهار له ۴۵۵ مرکزونو څخه یوازې په ۳۹۵ مرکزونـو کـې ټاکنې وشوې. په دغه مرکزونو کې ۱۶۳۷ محلونه د نارینـه وو او ۸۹۷ محلونـه د ښځو لپاره و. بیا هم د نوم لیکنې د ثبـت تقـویتې پروسـه لـه کابـل نـه وروسـته ننګرهار په لومړی درجه کې وه او زیـاتو کسـانو نـوم لیکنـه وکـړه، چـې د دې پروسې په ښه توګه تر سره کول، پخپله په ټاکنیز بهیر باندې د ننګرهار د ولسونو اعتماد او باور ښوده. د نوم لیکنې په تقویتي پروسه کې د ټاکنو ټول پرسونل لـه تهدید سره مخ نشو او پروسه په ښه توګه په مخ یوړل شوه.

د استقلال له سلمې کالیزې وروسـته د ننګرهـار امنیتـي ادارو د ټـاکنو لپـاره تدابیر درلودل؛ خو بیا هم د ټاکنو لپاره امنیتي ګواښونه د مخـالفینو لخـوا زیـات و. د ۲۰۱۹م کـال د جـولای د میاشـتې پـه دولسـمه نېټـه راتـه د ننګرهـار امنیـه قوماندان ډګروال رقیب مبارز خبر راکړ، چې دوی دقیـق اطلاعـات لـري، چـې مخالفین کوښښ کوي؛ د ټـاکنو تـر وخـت پـورې د ننګرهـار والي، د ننګرهـار امنیه قوماندان، د ننګرهار د ولایتي شورا معاون، د ولایتـي شـورا غـړی، افتخـار مومند، د ننګرهار وکیل حاجي ملک نور اغا، د ښېوې ولسوالۍ د محلي پولیسو قومانـدان حـاجي اکـرم، حاجيعطـاوالله هـډه وال، د ګـل کـریم حـاجي ورور حاجي محمد حلیم او حاجي ادریس غلجی ترور کړي. کـه څـه هـم دا لسـت چندان دقیق نه ښکارېده او هدف یې د اوازو او وېـرې خپـرول و؛ خـو بیـا هـم امنیته قوماندانۍ ټولو کسانو ته خبر ورکړې و چې احتیاط وکړي.

د ټاکنو رسمي کمپاین د ۱۳۹۸ل کال د اسد د میاشـتې پـه شـپږمه نېټـه پیـل شو. د کمپاین لپاره امنیتي پلان د ټول ننګرهار په سطح ترتیب شوی و. د جلال اباد په ښار کې د کاندیدانو د کمپینونو او دفاترو لپاره تدابیر نیـول شـوي و. کـه څه هم د ټاکنو کمپاین پیل شوی و؛ خو د ټاکنو د کمېسون مسول، ذبیح وکړي راته د اسد په اوومه نېټه چې د جولای د میاشتي ۲۹مه نېټـې سره برابـره وه خـبر راکړ، چې په ننګرهار کې نوماندانو لا تـر اوسـه دفترونـه نـه دي پرانیسـتي او نـه

ورته نوماندانو خپل استازي په رسمي توګه معرفي کړي دي، چې د نوماندانو د حقوقي او يا حقيقي شخصيت په توګه استازولي وکړي. يوازې د جمهور رئيس غني په استازولۍ انجينر اباسين بهير دفتر بېرته کړی، خو رسمي معرفي شوی نه دی. د نوماندانو د استازو له معرفي کولو او د ټاکنيزو دفترونو عدم موجوديت، امنيتي ادارو ته هم کار مشکل جوړ کړی و، چې امنيتي پلان د ټاکنو لپاره جوړ کړي. د اګست د مياشتې په اوومه نېټه يوازې د جمهور رئيس محمد اشرف غني او جمهوري رياست نوماند، سيد نورالله جليلي ټيمونو د کمپاين په نوم دفترونه بېرته کړل؛ خو د ټاکنو کمېسون او ولايت مقام ته په رسمي توګه نه و معرفي شوي. له دوی نه مو وغوښتل څو چې تاسي په رسمي توګه د خپلو کمپاينونو او د ټاکنو د کمېسون لخوا ولايت ته معرفي نه شئ، امنيتي ادارې د نوماندانو ولايتي دفترونه او د غونډو تدابير نشئ نيولی. همداغه و، چې دوی رسمي مکتوبونه د خپلو کمپاينونو لخوا راوړل؛ خو د کمپاين وخت مخ په تېرېدو و.

د ننګرهار له عوامو او اکثرو مشرانو سره چې غږېدم، د ډېرو نيت همدا و، چې جمهور رئيس محمد اشرف غني ته به رايه ورکوي. ځينې مشران چې پخوا د ډاکتر عبدالله عبدالله په ټيم کې و، راته يې وويل چې دوی له جمهور رئيس څخه ځکه ملاتړ کوي؛ چې د دوی ولسونو ډاکتر عبدالله عبدالله ته رايه نه ورکوي. دا چې د جمهور رئيس ټاکنيز ټيم ترمنځ منفي رقابت زيات و او حتی د ترانسپورټ د پيسو د ويش په سر د دوی ترمنځ جنجال جوړ شو؛ نو ډېری کسان د جمهور رئيس له ټيم څخه مايوسه او په شوق يې په ټاکنو کې برخه وانخيسته. د جمهور رئيس ټيم په پراګنده ډول ۳۲ دفترونه چې يو شمير يې فزيکي شتون په ننګرهار کې هم نه درلود او امکانات يې اخستلي و، پرانيستل. زما په اند که په ننګرهار کې د جمهور رئيس ټيم دفترونه نه وی پرانيستلی، نو د جمهور رئيس رای به له اچول شويو رايو نه نورې هم زياتې وې.

د والي په توګه زما دنده دا وه، چې ټولو نوماندانو لپاره د کمپاین مناسب او د برابرو شرایطو زمنیه مساعده او بې پلویتوب وساتم. ما لپاره د ټاکنو اعتبار مهم و. د جمهور رئیس د راتګ لپاره همېشه زیات امنیتي تدابیر نیول کېدل؛ خو د ټاکنو د کمپاین د نږدې کېدو پرمهال تدابیر یو څو نور هم جدي شول او یو ښه امنیتي پلان د جمهور رئیس له امنیتي ټیم سره په مشوره جوړ شو. د ټاکنیز کمپاین په خاطر، جمهور رئیس د سپتمبر په ۲۰مه نېټه چې د جمعې ورځ وه، جلال اباد ته سفر وکړ. د شیرزي په لوبغاړي کې ورته لویه غونډه د ټاکنیز ټیم لخوا جوړه شوې وه، چې په زرګونو کسانو پکې برخه واخیسته. د جمهور رئیس هدایت همدا و، چې والیان او ولسوالان باید په ټاکنو کې مداخله ونه کړي؛ نو په دې اساس مو له جمهور رئیس سره ونه وکتل. له بېلابېلو اقشارو سره د لیدنو په خاطر مو ورته د ښاروالۍ میلمستون ځانګړی کړی و.

د جمهور رئیس د راتګ په ماښام، یعنې د سپتمبر په ۱۹مه نېټه د قاطع ملاتړ قواو د وزیرو تنګي په سیمه کې د داعش په دوه مرکزونو هوایي بریدونه وکړل، چې پوره مرګ ژوبله یې هغوی ته اړولې وه؛ خو د سیمې خلکو ادعا وکړه، چې په دې بمباریو کې ۱۶ محلي کسان، چې د جلغوزو ټولو په خاطر د داعش د کنترول سیمو ته تللي و، وژل شوي او ۸ زخمیان شوي دي. په وژل شوو کسانو کې دوه کسه د کونړ، ۱۱ کسه د خوګیاڼو د پیره خېلو، یو د تخار، یو د خوست او بل د پچیرو اګام د ولسوالۍ و. په زخمیانو کې هم درې کسه د خوست، دوه د پیره خېلو او درې کسه د کونړ و. دا چې زخمیان او وژل شوي کسان له نورو سیمو څخه و، نودا پخپله د دې ثبوت و، چې دغه کسانو له داعش سره اړیکي درلودې. په هرحال د حکومت مخالفینو کوښښ کاوه، چې د وژل کسانو جنازې د ولایت مخې ته راوړي او په دې توګه د جمهور رئیس له راتګ سره غوغا جوړه کړي. متاسفانه په دې برخه کې د ننګرهار د ولایتي شورا یو وکیل چې د ډاکتر عبدالله عبدالله د ټیم غړی و، زیات کوښښ کاوه،

چې خلک تحریک کړي؛ تر څو د جمهور رئیس غونډه د شعاع لاندې راولي. د خوګیاڼو ولسوالۍ ته مو هدایت ورکړ؛ چې دا مسئله هماغلته حل کړي او یوازې څو کسه مشران دې د دوی په استازیتوب ولایت ته راشي. که څه هم د قاطع ملاتړ اصرار دا و، چې دا کسان د داعش غړي دي. د دې لپاره چې زیاته غوغا جوړه نه شي، قاطع ملاتړ مسؤلینو ته مو وویل چې کېدای شي داعش هم هلته و، خو دا کسان د غریبي په خاطر د جلغوزو د ټولولو لپاره هلته تللي و؛ نو باید ورسره مرسته وشي. بالاخره د قاطع ملاتړ د وژل شووکسانو هرې کورنۍ ته ۱۶۶۲۱۰ افغانۍ ورکړې. سربېره پر دې د مرکزي حکومت لخوا هم هرې کورنۍ ته یو لک افغانۍ ورکړل شوې. دا مسله مو یو څه مدیریت کړه او د جمهور رئیس غونډه په ښه توګه ختمه او کومه پېښه رامنځته نشوه.

د یکشنبې په ورځ چې د سپتمبر د میاشتې ۲۲مه نېټه وه، د ډاکتر عبدالله عبدالله ټیم هم د کمپاین غونډه درلوده او عیني امنیتي تدابیر چې مو جمهور رئیس ته درلودل، د هغه لپاره هم نیولي و. د ښاروالۍ میلمستون مو ورته پرېښودی و او غونډه یې د شیرزي په لوبغالي کې جوړه کړې وه. د ډاکتر عبدالله غونډې ته هم زیات کسان راغلي و؛ خو د جمهور رئیس د غونډې په پرتله کم او په داخل کې یې یو څه ګډوډي هم رامنځته شوه، چې بیا یې مدیریت وشو؛ په داخل د غونډې کې یو څو کسو د جمهور رئیس غني په پلوۍ شعارونه ورکړي و. ځینو کسان د اوبو په بوتلونو هم وارونه کړي و، خو د امنیتي مسوولینو لخوا یې مخه نیول شوې وه، لکه څنګه مو، چې له جمهور رئیس سره ونه کتل، له ډاکتر عبدالله عبدالله سره هم ما ونه کتل؛ ځکه هغه د حکومت د اجراییه شورا رئیس و.

د ښاغلي حکمتیار د ټیم غړو هم تقاضا وکړه چې سباته یعنې د دوشنبې په ورځ چې د سپتمبر د میاشتې ۲۳مه نېټه کېده، غواړي چې په جلال اباد کې غونډه وکړي. هغوی ته مو وویل چې څه مشکل نشته او عیني امنیتي تدابیر او امکانات، چې مو جمهور رئیس او ډاکتر عبدالله عبدالله ته برابر کړي، هماغه امکانات او امنتیي تدابیر به د دوی غونډې ته هم برابر او د ښاروالۍ میلمستون

به ورته واک کې ورکړو. د ښاغلي حکمتیار زوی حبیب الرحمن حمکتیار او ټیم یې یوه شپه د مخه ننګرهار ته راغلل او د ښاروالۍ میلمستون مو ورته ورکړ. غونډه یې د شیرزي په لوبغاړي کې وکړه خو د ګډوانوالو شمېر یې د جمهور رئیس او ډاکټر عبدالله عبدالله د غونډو په پرتله ډېر کم و. د ښاغلي حکمتیار زوی، حبیب الرحمن غوښتنه وکړه؛ چې مشر- (حکمتیار) له تاسره لیدل غواړي، نو ما ورته وویل چې څه مشکل نشته. که په ولایت کې راسره ګوري او که میلمستون کې زه ورسره کتلی شم. اول یې نیت دا و، چې ولایت ته راشي؛ خو بیا یې وویل که زه میلمستون ته ورشم نو ښه به وي. ما ورته وویل دا چې ښاغلي حکمتیار په حکومت کې دنده نه لري، نو هېڅ ستونزه نشته زه میلمستون ته ورځم.

د ښاروالۍ میلمستون ته ورغلم. د میلمستون صالون ډک و. ښاغلي حکمتیار راغی. له روغبړ څخه وروسته یې خبرې پیل کړې؛ چې حکومت په ټاکنو کې مداخله کوي؛ ټاکنې شفافه نه دي. د صالون اکثره کسان مې له پخوا څخه پېژندل؛ نو ما ورته وویل چې حکمتیار صیب په ننګرهار کې خو حکومت زه یم ځکه چې والي یم. ستاسي ټیم هم دلته ناست دی. دوی او یا تاسي راته ووایئ؛ چې په کوم ځای کې ما مداخله کړې ده. عینې سهولت د امنیت او ځای مو چې جمهور رئیس غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ته برابر کړې و، تاسي ته لا زیات برابر کړی او کم نه دی. له هغوی سره مې ونه کتل اما تاسي ته راغلم. فکر کوم مخکې له مخکې اتهام تړل به سم نه وي. ښاغلي حکمیتار وویل چې تاسي به نه وي کړي؛ خو په نورو ځایونو کې مداخله شوې ده. د ښاغلي حکمتیار د ټیم مشر، استاد عبدالهادي اوچت شو او ورته یې وویل چې والي صیب په ټاکنو کې بیخي مداخله نه ده کړې او موږ ترې مننه کوو.

د جمهوري ریاست ټاکنې د سپتمبر په ۲۸مه نېټه چې د شنبې ورځ وه، تر سره شوې. مسلحو مخالفینو هم نهایت زیات کوښښ کاوه، چې دا ټاکنې

مختل کړي؛ خو دا چې له ټاکنو دمخه د ننګرهار په څو ولسوالیو کې مختل کننده عملیات پیل شوي و، د ټاکنو مراکزو ته حساس مواد په ښه توګه انتقال شول. د جمعې په ورځ مو مطبوعاتي کنفرانس د امنیتي ادارو له مشرانو او د ننګرهار د ټاکنو کمېسون د مشر ذبیح الله وګړي او د شکایتونو د کمېسون مشر ـ حنفي سره یو ځای ورکړ؛ چې ټول لازم امنیتي او لوژستیکي تدابیر نیول شوي او ولسونه دې په پوره ډاډ په ټاکنو کې برخه واخلي. د ټاکنو د کمېسون لخوا د نظارت لپاره کارټونه د جمهور رئیس د ټیم ۲۳۹۴ کسانو ته، د ډاکتر عبدالله عبدالله د ټیم ۲۴۹۳ کسانو ته، د ښاغلي حکمتیار د ټیم ۹۹۷ کسانو ته او د حزت اعتدال د ټیم ۱۳۳۵ کسانو ته ورکړل شوي و. د دې نه برسېره د نورو نوماندانو او مدني ټولنو د څار دفاترو او رسنیو غړو ته هم ورکړل شوې و.

د ټاکنو په سهار دوه ماینونه د هډې په فارم کې، یو ماین د امیر شهید په بڼ کې او یو ماین د مسلمیار صیب د کور شاته په اوله ناحیه کې کشف او خنثی شول. ورپسې ۲۱ نور صوتي ماینونه د جلال اباد په ښار کې کشف او خنثې شول او همدا شان ۹ ماینونه په ولسوالیو کې له منځه یوړل شول. سربېره پر دې ۱۲ صوتي بمونه او لاسي ګرنېټ د جلال اباد په ښار او ۱۱ په ولسوالیو کې وچاودېدل. درې راکټي حملې د مهمندرې، چپرهار او خوګیانو په ولسوالیو باندې وشوې. په دغه ټولو چاودنو کې دوه کسه د سره رود په ولسوالۍ کې شهیدان او ۳۴ زخمیان شول، چې یو شمېر زیات یې سطحي زخمي شوي و. د مازدیګر پورې رسنیو د دغه چاودنو په هکله راپورونه خپاره نه کړل، ځکه مخکې له رسنیو سره ناسته شوې وه؛ څو ولسونه ونه ډار شي او په ټاکنو کې برخه واخلي.

د ټاکنو نهایي پایلې د ۲۰۲۰م کال د فبروري میاشتې په اتلسمه نېټه اعلان شوې، چې جمهور رئیس غني د ۶۴.۵۰ سلنه رایو په اخیستلو، منتخب جمهور رئیس اعلان شو. د ننګرهار رایو، جمهوري ریاست په ټاکنو کې مهم رول درلود او جمهور رئیس د ننګرهار د رایو په اساس جمهور رئیس وټاکل شو. په ننګرهار کې د جمهور رئیس ټولې منل شوې رای، ۱۸۸،۵۲۰ او د ډاکتر

عبدالله عبدالله رای، ۴،۹۵۲ او د ښاغلي حکمتیار رای، ۹،۵۲۶ وې. د جمهور رئیس محمد اشرف غني رایې په ننګرهار کې له کابل څخه هم زیاتې وې. په کابل کې د جمهور رئیس ټولې رای ۱٦٦،٦۱۷ وې[۳۸].

د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته، جمهور رئیس راته وویل: چې ننګرهار ته بیا راځي؛ څو د ننګرهار له ولسونو نه مننه وکړي؛ ځکه د ارګ کیلي ورته دا ځل ننګرهاریانو ورکړه او باید ترې مننه وکړم. د مارچ د میاشتې په دویمه نېټه د جمهور رئیس امنیتي مسؤلین جلال اباد ته راغلل او د شپې په ۱۰:۳۰ بجې مو امنیتي پلان منظور کړ. د جمهور رئیس د راتګ د امنیت د ساتلو په خاطر، دامنیتيادارو ۲۳۵۰ منسوبین مؤظف شوی و. همداشان د ننګرهار له بېلابېلو اقشارو ۱۵۵۰ کسه ولایت ته دعوت شوي و؛ چې په عمومي غونډه کې برخه واخلي.

هوا هم ښه وه؛ د ولایت ودانۍ د مخې په چمن کې ګلان غوړېدلي و. زما نظر دا و، که غونډه د ولایت د ودانۍ مخې ته په ازاده فضا کې وشي؛ نو ښه انعکاس به وکړي؛ ځکه د غونډې مراسم د ملي تلویزیون له لارې په ژوندۍ بڼه خپرېدل. د جمهور رئیس امنیتي او په خاصه توګه د پروتوکول کسانو ممانعت کاوه، چې هوا به ګرمه وي اوجمهور رئیس په لمر کې زیات وخت نشي پاتې کېدلی او همدا شان که کوم احتمالي راکټ راشي نو بیا دوی نشي-کولی، چې امنیت تامین کړي. ما ورته وویل چې دواړه دلایل سم نه دي؛ ځکه اول هوا دومره ګرمه نه ده او نه جمهور رئیس د ډېر وخت لپاره په ګرمه هوا کې پاتې کېږي. دویم داچې که راکټ راشي، نو بیا خو راکټ هرچیرته لګېدلې شي. کوم تدابیر چې نیول شوي، فکر کوم کافي دي او غونډه باید همدغه چمن کې جوړه شي. د PPS مرستیال جنرال محمدالله محمدي، زما خبره تائید

---

[۳۸] http://www.iec.org.af/results/ps (اخري ځل دا ویپاڼه د ۲۰۲۱م کال د مې د میاشتې په دریيمه نېټه وکتل شو)

کړه او ویې ویل، چې جمهور رئیس د مننې په خاطر راځي او که فضا ازاده او ښه وي، نو دا غونډه نوره هم رنګینه کېږي، توکل په خدای همدلته یې تر سره کوو.

د مارچ په دریمه نېټه جمهور رئیس د یو شمېر لوړ پوړو چارواکو لکه د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمدالله محب، د کورنیو چارو وزیر، جنرال مسعود اندرابي، د چارو د ادارې عمومي رئیس ډاکتر فضل محمود فضلي، د محلي ادارې عمومي مشر-عبدالمتین بیګ، د مشرانو جرګې رئیس فضل هادي مسلمیار او وکیلانو سره ننګرهار ته راغی. جمهور رئیس د بېلابېلو اقشارو او د نظامي شورا له غړیو سره ځانګړې ناستې درلودې او له ټولو یې مننه وکړه، چې د دوی په رایو بیا جمهور رئیس شو. ما په خپلو خبرو کې وویل، چې په تیر یوه کال کې دا پنځم ځل دی، چې جمهور رئیس ننګرهار ته راځي او دا په پخپله ښایي، چې جمهور رئیس د ننګرهار له خلکو سره مینه لري. جمهور رئیس ته مې د ننګرهار د خلکو په استازولۍ د ټاکنو د ګټلو مبارکي وویله. یادونه مې وکړه، چې له داځل راتګ سره داعش په ننګرهار کې ختم شوی، افغانۍ مروج شوې او د ټاکنو نتیجه اعلان شوې ده. په تېره یوه اوونۍ کې د امنیتي او دفاعي قواو په ملاتړ د جلال اباد ښار او ولسوالیو کې ۱۸۷ غونډې شوي دي او دا پخپله ښایي چې د ننګرهار ولسونه له نظام نه حمایت کوي. د ننګرهار ولسونه باعزته سوله غواړي او داسې سوله چې د بل جنګ اغاز نه وي، بلکې دایمي سوله رامنځته شي. یو کال دمخه په ننګرهار کې د زورواکۍ او باجګیرۍ، د غصب او فساد او داعش د شتون قیصې وې؛ خو نن په ننګرهار کې د سولې، امن او ابادي قیصې دي. زما پوښتنه له طالبانو دا ده، چې دوی پخوا هر کال د تورخم- جلال اباد له لارې او فارمونو څخه تقریبا څوارلس میلونه ډالره او د خوګیاڼو او شېرزادو له معدنونو د څلویښت میلونو ډالرو په شاوخوا کې کې عاید درلودل. دوی په دې پیسو څه وکړل؟ ایاد دوی کوم پل پلچک جوړ کړ؟ کوم مکتب یا کلینک یې جوړ کړ او یا لا اقل کوم جومات یې پرې جوړ کړی دی؟ زما په اند، طالبان له ټولو نه زیات په فساد کې دخیل

دي. جمهور رئیس ته مې وویل چې د تېر کال په پرتله د ننګرهار په وضعیت کې کافي تغیر راغلی دی؛ خو دا په دې معنې نه دی چې ننګرهار کې ستونځې نشته، بلکې اوس هم ولسونه د تعلیم او تربیې، زراعت، برق او نورو انکشافي پروګرامونو په برخو کې کافي ستونځي لري او باید زیاته توجو ننګرهار ته وشي. په عمومي او خصوصي جلسو کې د ننګرهار په استازولۍ وکیل عبدالروف شپون او د ښېوې معلم محمد اکبر، د علماو شورا په استازولۍ مولوی حمیدالله، د ولایتي شورا رئیس احمدعلي حضرت او د ښځو په استازولۍ صبرینا حمیدي خبرې وکړې.

جمهور رئیس هم په خپلو خبرو کې وویل چې ژرنده که د پلار ده هم په وار ده. اوس د ننګرهار د خلکو وار دی او داخل به د ننګرهاریانو لپاره کار کوم، ځکه د ارګ کیلي ماته دوی په لاس راکړه او ستاسي پوروړی یم. د هېواد په هر ګوټ کې د ننګرهار ځوانانو د امنیتي قواوو بیرغ دنګ ساتلی او قرباني ورکوي؛ نو دا ستاسي حق دی. والیانو ته خاص رول ورکول کېږي او پس له دې به د کابینې په غونډو کې ګډون کوي. جمهور رئیس وویل چې هوا او فضا ډېره ښه ده او زړه مې غواړي؛ چې څو شپې د ننګرهار له خلکو سره وکړم؛ خو امنیتي کسان اجازه نه راکوي؛ ولې بیا به هم راځم. ننګرهار ته د جمهور رئیس د راتګ ټولې غونډې په ښه توګه ترسره شوې او هېڅ کومه امنیتي پېښه رامنځته نشوه.

د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته او په خاصه توګه ننګرهار ته د جمهور رئیس له راتګ وروسته، د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیم لخوا د موازي حکومت د اعلان اوازې زیاتې شوې او غوښتل یې چې په ننګرهار کې د ټاکنو پرضد مظاهرې پلان کړي. په ننګرهار کې راته د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیم غړو وویل چې دوی د مظاهرو پلان نه لري. دوی رایه ورکړې ده او نور دوی پوه شوه او مشکل یې چې څنګه یې په کابل کې حل کوي؛ هغسې دې حل کړي. پدیتوګه د ټاکنو وروسته هم په ننګرهار کې کومه ګډوډي رامنځته نشوله.

**ننګرهار ته د علي وزير او محس داوړ راتګ**

د ۲۰۲۰م کال د مارچ د مياشتې په نهمه نېټه سهار ۴:۴۹ بجې وختي راته د ولايت مرستيال تميم عارف مومند زنګ ووهه چې د ملي امنيت رياست ته د شپې يوه بجه شفر راغلی دی، چې د پښتون ژغورنې دوه مخکښ غړي، علي وزير او محسن داوړ د تورخم له لارې غواړي چې جلال اباد ته او بيا کابل ته لاړ شي؛ څو د جمهور رئيس د لوړې په مراسمو کې ګډون وکړي. هغوی ته د اسلام اباد د لارې په الوتکه کې د تللو اجازه نه وه ورکړل شوې، چې کابل ته لاړ شي. د ولايت د مرستيال له تليفون وروسته د ننګرهار د ملي امنيت لومړي مرستيال، جنرال سيد نورحيدر سادات او د قول اردو قوماندان تورنجنرال عبدالهادي ترين سره وغږيدم؛ چې د جلال اباد - تورخم د لارې د امنيت لپاره امنيتي تدابير ونيسي. همدا شان تميم عارف مومند او د ملي امنيت اوپراتيفي مرستيال جانشاه ته مې دنده ورکړه؛ چې تورخم ته لاړ شي او هلته د ميلمنو هرکلی وکړي او موږ به ورته په ولايت کې او هم کابل ته د تګ لازم تدابير ونيسو.

جمهوري رياست هم راسره اړيکه ونيوله، چې ځانګړې هليکوپټر به جلال اباد ته درشي تر څو دوی کابل ته انتقال کړي؛ ځکه د جمهور رئيس د لوړې مراسم دوی ته معطله دی. په اسلام اباد کې د افغانستان سفير عاطف مشعل او عطاوالله حيران په هليکوپټر کې راغلل؛ چې له دوی سره کابل ته لاړ شي. د عاطف مشعل نظر دا و؛ چې بايد د دوی عکسونه څوک وانخلي؛ ځکه پاکستان به حساسيت وښايي او هم کېدای شي کومه امنيتي ستونځه د تورخم او جلال اباد د لارې ترمنځ رامنځته شي؛ ما ورته وويل چې نيني پټې نه چيچل کيږي او موږ به يې په تورخم او هم جلال اباد کې ښه استقبال وکړو او بيا به يې کابل ته رخصت کړو. د دوی راتګ هم د تورخم له لارې وځنډيده خو دا معلومه نه وه؛ چې پاکستان اجازه ورکوي که نه؟ خو ما د معارف رئيس حسيب شينواري ته وويل چې د ترانې ټيم ډېر ژر برابر کړي او که د هر کلي لپاره

څوک کوم شعر ولیکي نو ښه به وي. عطاوالله حیران ته مې وویل چې زه به خپل پروګرام تطبیقووم او نور تاسې پوه شه او کابل.

بالاخره دوی ته د لس بجو په شاوخوا کې اجازه ورکړل شوه او له تورخم نه را تېر شول. هلته ورسره ملکي او نظامي کسانو عکسونه اخیستي و او اکثرو فیسبوک ته پورته کړي و؛ نو مشعل صیب ډېر په تشویش کې و. بیا زه د چارو د ادارې له مشر ډاکتر فضل محمود فضلي سره وغږېدم؛ چې موږ به دوی ته ښه هرکلی ووایو او له مراسمو څخه وروسته به یې کابل ته رخصت کړو؛ که ستاسي مراسم معطل کېږي؛ هم څه فرق نه کوي؛ ځکه په ننګرهار کې د دوی هرکلی نسبت کابل ته ډېر مهم دی. فضلي صیب راته وویل چې کله ستاسي مراسم خلاص شو نو کابل ته یې راولیږئ او څه مشکل نشته.

له تورخم څخه جلال اباد ته په لویه لار کې ولسوالانو ته مو دنده ورکړې وه؛ چې د سرک په شاوخوا کې یو څه کسان لارو ته راووځي او د دوی هرکلی وکړي. کله چې ولایت مقام ته راوسېدل، د ترانې ټیم ورته ښه راغلاست ووایه. یو شمېر مشران، علماء او د ولایت پرسونل هم ورته د هرکلي لپاره ولاړ و. د نجونو د ترانې ټیم ډېر ښه شعر د ښه راغلاست برابر کړی و. کله چې ماشومانو په خوږ اواز د ښه راغلاست ترانه ویله، د محسن داوړ او علي وزیر له سترګو څخه اوښکې روانې وې او نهایت زیات متاثره شول. کابل ته له رسیدو د مخه د ننګرهار د ښه راغلاست مراسم په رسینز ډګر کې ډېر ښه انعکاس وموند. وروسته بیا په هلیکوپټر کې کابل ته رخصت شول. په ارګ او سپیدار ماڼۍ دواړو کې د لوړې موازي مراسم پیل شوي و. لوړې مراسم په ژوندۍ بڼه نشریدل؛ نو د دوی ورتګ او په مراسمو کې ګډون هم په ژوندۍ بڼه خپور شو. د پاکستان د رسنیو عکس العمل نهایت زیات منفي و او هره لحظه یې د هلیکوپټر عکسونه او په ننګرهار کې د دوی د استقبال کلیپونه خپرول؛ چې دوی ته یې خاص هلیکوپټر رالیږلي و او دا ښکاره ښایي چې دوی د افغانستان

له حکومت سره نږدې اړیکې لري او دا د پاکستان په کورنیو چارو کې د افغانستان مداخله په ګوته کوي.

په هر حال، د محسن داوړ او علي وزیر نږدې کسانو راته وروسته وویل چې دوی د ننګرهار د هرکلي نه زیات متاثره شوي او مننه یې کوله.

**د افغانیو ترویج او د کلدارو بندولو پروسه**

په ننګرهار او نورو سرحدي ولایتونو کې د مجاهدینو تر کنترول لاندې سیمو کې د پاکستاني کلدارو او ایراني تومنو استعمال له تېرو ۴۲ کلونو راهیسې رواج درلود. کله چې په ۱۹۹۲م کال کې د کابل رژیم سقوط وکړ، د کلدارو استعمال د سرحدي ولایتونو په مرکزونو کې هم عام شو. د مشرقي اکثره با علمه او با فرهنګه ولسونو ته د پاکستاني کلدارو استعمال همېشه ځورونکې خبره وه. د ننګرهار د بېلابېلو والیانو لخوا څو ځلې هڅې شوې وې؛ چې کلداري بندې او افغانۍ رواج شي؛ خو هغوی په خپلو هڅو کې بریالي شوې نه و؛ ځکه چې د افغانیو د ترویجولو لپاره انګیزه او بستر سازي نه وه شوې. د مشرانو جرګې رئیس ښاغلي فضل هادي مسلمیار راته څو وارې وویلې: کله به چې په مشرانو جرګه کې او یا نورو مجالسو کې د ننګرهار د کلدارو د استعمال خبره راغله نو ډېر احساس د کمترۍ به یې کاوه.

په ننګرهار او ختیځو ولایتونو کې دوکاندارانو، ریستورانونو، ریکشو او ټرانسپورټ والاو، افغانۍ نه اخیستې او که افغانۍ به دې ورکولې؛ نو په ډېر ټیټ نرخ به یې درنه اخیستې. که چا به په ننګرهار کې زیات وخت تېروه، نو مجبور و؛ چې افغانۍ په کلدارو بدلې کړي. دا کار هغه ننګرهاریانو او مشرقیوالو ته زیات خوندور و؛ چې په کابل کې یې په افغانیو او ډالرو معاش اخیست. کله به چې ننګرهار ته راغلل؛ نو خپل معاشونه به یې کلدارې او د هغه افغانانو په شان چې څو ورځې لپاره به له بهر څخه راتلل او کټه خرچې به یې کوله، کابل مېشتو ننګرهاریانو هم همداسې کټه خرچې په ننګرهار کې کوله. دوی د بزګرانو له حال نه خبر نه و؛ چې د هغوی تولیدات به په پېټو کې خوسا کېدل او

یا کله به چې بزګرانو سبزي او میوه جات منډیانو ته وړل، حتی د منډیې تاجایي به یې پوره کولای نه شوه او خپل تولیدات به یې هماغلته پرېښودل.

طبیعي خبره ده، چې په یوملک یا سیمه کې چې د بل ملک کرنسي-(پیسې) چلېږي، دهغه ملک نفوذ هم په هغه سیمه کې وي. د نیپال په هېواد کې هندي کلدارې چلېدلې؛ نو د هند نفوذ په نیپال کې زیات و. کله چې هند پخوانۍ کلدارې بندې او نوې کلدارې یې مارکیټ ته وړاندې کړې، د زیاتو نیپالیانو سرمایه له منځه لاړه. د نیپال ولسونه او خلک له سختو ستونځو سره مخ شول. د افغانستان بانک د ختیځ زون مسؤل، ښاغلي توحیدیار راته وویل: چې د ننګرهار یو مقتدر والي ته یې درې ورځې انتطار کړی و؛ څو د افغانیو د ترویج په هکله یو کلیپ ترې واخلي. پس له انتظاره ورته هغه والي ویلي و؛ چې ته مو په پاکستان وژني او کلیپ یې نه و ورکړی. په حقیقت کې د کلدارو بندېدل او د افغانیو رواجول، د پاکستان د منافعو پرضد عمل و. د داسې پروسې له تطبیق سره تهدیدونه هم مل و.

کله چې په ننګرهار کې د افغانیو د ترویج پروسه مخ په بریالیتوب روانه شوه، لیکوال او شاعرعطاوالله حیران راته ولیکل، چې د لرې پښتونخوا یو سناتور ورته لیکلي و؛ چې د ننګرهار والي کوم جهاد د کلدارو پرضد پیل کړیدی، ټول یې دومره حمایت وکړئ، چې د پنجاب چیغې اسمان ته وخېژي. دغه سناتور ورته لیکلي و؛ چې تېر کال د پاکستان د سنا په مجلس کې یې یو پنجابي سناتور ته ویلي و، چې د افغانستان د پینځمې صوبې خوبونه به ګور ته یوسئ. هغه پنجابي سناتور ورته ویلی و؛ چې د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې د پاکستان کلدارې اوس هم چلېږي. دغه پښتون سناتور لیکلي و؛ چې د پنجابک دغه خبرې زه بې ځوابه کړم. په دې اساس اوس چې د ننګرهار او خوست والیانو د کلدارو پر ضد جهاد پیل کړی دی، حمایت یې وکړئ.

د ننګرهار په لوی اقتصاد کې د میلیاردونو کلدارو راکړه ورکړه او بزنسونه په افغانیو بدلول څه اسان کار نه و. مرکزي حکومت هم د دغه پروسې د حمایت

لپاره کوم خاص پلان نه درلود، چې د کلدارو په عوض افغانۍ رواج کړي. د افغانيو تبادلې زيات وخت، توجو، امکاناتو او د قيق پلان ته اړتيا درلودله. مرکزي حکومت ننګرهار ته کومه بودېجه نه وه ورکړې، چې عامه پوهاوی مو پرې کړی وی. د کلدارو د تبادلې لپاره افغانۍ هم د ولايتي ادارې په لاس کې نه وې، چې کلداري يې په افغانيو تبادله کړي وي. د افغانستان بانک او هم نورو بانکونو کلداري په افغانيو نه بدلولې او نه يې کلداري اخيستلې. د صرافانو پولي توان هم زيات نه و، چې په ميلياردونو کلدارې په يو دم له خلکو څخه واخلي. دا ټولې هغه ستونځې وې، چې د اسعارو په تبادله يې مستقيم تاثير درلود او ددې ستونځو له حل پرته د افغانيو پروسه له ناکامۍ سره مخ کېدله. په حقيقت کې د کلدارو د له منځه وړلو پروسه او د افغانيو رواجيدل فی سبيل الله تر سره او د حکومت د بوديجې نه پرې يوه افغانۍ هم مصرف نشوه.

د ملي پروسو عملي کولو لپاره هر وخت عامه ذهنيت برابرول او انګيزه ايجادول مهم وي. په ننګرهار کې د داعش د شکست او امنيتي توسعې او همدا شان د استقلال د سلمې کاليزې او د بيرغ د ملي ورځو په ښه شان سره لمانځلو وروسته د ننګرهار په ولسونو کې د مايوسۍ فضا په اميد بدله شوله. د جمهوري رياست په ټاکنو کې ولسونو د نورو ولايتونو په پرتله په پراخه کچه ګډون وکړ. پخوا به د جلال اباد ښار شېږمې ناحيې ته لوړپوړي دولتي چارواکي بې له امنيتي تدابيرو نشو تللی او ډېرو ولسواليو ته دولتي کارمندانو په ازاده توګه سفرونه نشو کولای. دا چې دولتي کارمندانو په اسانۍ سره ولسواليو ته تګ او راتګ نشو کولای، طبيعي خبره ده، چې په اطرافونو کې د حکومت حاکميت ضعيفه او يا په نشت حساب و. په داسې حالت کې د قانون تطبيق او د افغانيو ترويجول هم ممکن نه و. د نورو عواملو تر څنګ، د امنيت نشتون او د حکومت د پراخ حاکميت ضعف مهم علتونه و، چې د افغانيو د ترويج په هکله د ځينو پخوانيو واليانو هلې ځلې ناکامې شوې وې. په هغه وخت کې د ولسونو منځ کې د افغانيو د ترويج لپاره بسترسازي او انګيزه نه وه ايجاد شوې. د دې تر څنګ لکه چې مخکې مې يادونه وکړه، تخنيکي اړخونو ته هم توجه

نه وه شوې، چې یو منسجم پلان په همزمان ډول د ننګرهار په ټولو سیمو او هم له همجوارو ولایتونو سره تطبیق کړي.

کله چې د ننګرهار د والي په حیث وټاکل شوم، ډېرو دوستانو راته مشوره راکړه، چې د معرفت په غونډه کې باید د افغانیو د ترویج وعده ولسونو ته ورکړم؛ که څه هم د کلدارو د بندیدو او افغانیو رواجول زما د کاري اجنډا عمده برخه وه، خو ما نه یوازې د افغانیو د ترویج په هکله، بلکې څنګه مې چې د دې کتاب په پیل کې یادونه کړې، په نورو برخو کې هم ولسونو ته وعدې ور نه کړلې، ځکه څو چې په ادارو او هم د ولسونو په منځ کې د باور انګیزه ایجاد نشي، د ملي پروګرامونو تطبیق او په هېواد او سیمه کې حکومتولي ښه کېدلې نه شي.

د افغانیو د ترویج په هکله به مې کله کله د دوستانو، تجارانو، د اقتصاد د مسلک استادانو او مشرانو سره بحثونه درلودل، خو متاسفانه هېڅ دولتي او غیر دولتي ادارې، اشخاصو او ګروپونو ماته د کومې معقولې او عملي طرحې مشوره رانه کړه. اکثرو طرحو کې همدا یوه خبره وه، چې د زور نه باید کار واخیستل شي. اما په زور کلي نه کېږي او موږ دومره ظرفیت هم نه درلود، چې د قانون د تنفیذ ادارې دا کار په زور وکړای شي. په ټولو پخوانیو پروسو کې د افغانیو د ترویج په نوم نوي فساد لپاره یوه بله لار پرانیستل کېدله. همدا شان په ښارونو او ولسوالیو کې زیاتو کسانو په افغانیو د ګټې او تاوان سنجش نشو کولای؛ ځکه سیکړه یا د افغانیو او کلدارو د نرخونو تبادله ثابته نه وه. د ننګرهار په بازارونو، کلیو او بانډو کې د راکړې ورکړې اساس او حسابونه د خصوصي سکتور، دوکاندارانو او کورنیو تر منځ په کلدارو و. اساس د پانګونې کلدارې وې نه افغانۍ.

د جلالتمآب جمهور رئیس صیب د۱۳۹۸/۲/۲۷ کال ۱۰۶۱ هدایت په اساس، چې د افغانیو د ترویج په هکله یې صادر کړی و، د ننګرهار له بیلابیلو اقشارو سره مو مسلسلې ناستې وکړې، چې څنګه کولای شو؛ کلدارې بندې او

افغانۍ رواج کړو؟ په دغه فرمان کې هم تخنیکي ستونځو لپاره کومه د حل لاره موجود نه وه. د کونړ، نورستان او لغمان والي صيبانو، د پوهنتون استادانو، ولایتي شورا غړیو، صرافانو، اصنافو، د تجارت او صنایعو او سوداګرو خونو، حج او اوقافو ریاست، علمای کرامو، د ولایت رئیسانو او امنیتي ادارو ټولو استازو سره مو ځانګړې غونډې درلودې؛ خو بیا هم کومې مثبتې پایلې ته ونه رسېدو؛ ځکه د اکثرو وړاندیزونه دا و، چې زور او کوټک یې یوازینۍ لار ده.

د ۱۳۹۸ل کال د عقرب د میاشتې په شلمه نېټه، چې د ۲۰۱۹م کال د نومبر د میاشتې یولسمه نېټې سره برابر ده، د کونړ او ننګرهار والیانو، د ولایتي شورا ځینو غړیو او د ننګرهار د اصنافو او نورو اقشارو له استازو سره د ننګرهار ولایت په مقام کې غونډه ونیوه. د کونړ والي ښاغلي عبدالستار میرزکوال نظر دا و، چې له زور څخه باید کار واخستل شي. د لغمان والي ښاغلي اصف ننګ نظر دا و، چې دا اقتصادي مسئله ده باید عامه پوهاوی وشي؛ څو ولس ذهناً اماده نشي، په زور یې تطبیق امکان نه لري. د دواړو والي صيبانو نظر دا و چې که ننګرهار کې افغانۍ رواج نشي نو د دوی په ولایتونو کې امکان نه لري ځکه اکثره عمده توکي د ننګرهار نه دواړو ولایتونو ته وړل کیږي. زما نظر د دواړو تر منځ و، چې موږ باید په یو وخت د کلدارو بندیدو پروسه په مشرقي ولایتونو کې پیل کړو. د ننګرهار غوندې لوی ولایت کې چې د افغانستان د اقتصاد مهمه برخه تشکیلوي، هغه فرمولې، چې په وړو ولایتونو کې باید عملي شي، په ننګرهار کې امکان نه لري. دا هم ممکنه نه ده، چې یوازې له زور څخه کار واخیستل شي؛ باید عملي لارې چارې ولټول شي. د کلدارو د بندیدو لپاره ډېر فکتورونه د عامه پوهاوې تر څنګ لکه تبادله د اسعارو څنګه وشي؟ وړې افغانۍ څنګه توزیع او برابرې شي؟ د نرخونو کنترول څنګه وشي؟ صرافان د زیاتو کلدارو له اخیستلو وروسته څه وکړي؟ دوی چیرته کلدارې په افغانیو یا ډالرو تبادله کړي؟ د وړو افغانیو د احتکار مخه څنګه ونیول شي؟ او داسې نور. زما نظر دا و که د خلکو ګټه د افغانیو په ترویج کې نه وي، یوازې په احساساتو او شعارونو دا پروسه عملي کېدلی نه شي. هر څوک په دې پوهیږي، چې په

خپل هېواد او سیمه کې د کلدارو استعمال د شرم خبره ده. دا چې د دوکاندارانو او عامه ولس ګټې د کلدارو په استعمال کې دي، نو ځکه افغانۍ نه استعمالوي. علاوه له دې د امنیتي ادارو، ملي بانک، د ولسوالیو او ښاروالیو په سطحه د محلي ادارو، اصنافو، تجارانو، علماوو، مشرانو او ټولو اقشارو تر منځ تفاهم او همغږي رامنځته کول مهمه ده. ټول اقشار باید د افغانیو د ترویج د پروسې د تصمیم نیولو او تطبیق په ټولو مرحلو کې شریک وي او ټول باید په عملي ډول مرسته وکړي.

په هرحال د والي صیبانو او هم له مختلفو اقشارو سره زموږ ناستې ډېر خوند ونه کړ؛ ځکه لرلید او د نظریاتو توپیر مو سره درلود. په اخره کې مو وویل: چې هر ولایت باید د خپلې سیمې لپاره عملي پلان جوړ کړي، خو د تطبیق د پیل نېټه باید په یوه وخت کې وي. په دې مو توافق وکړ، چې د قوس میاشت کې به عامه پوهاوی کوو او د جدي د میاشتې له لومړۍ نېټې نه وروسته په څو مرحلو کې به د افغانیو د رواجولو لپاره جدي ګامونه اخلو.

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځې استادانو هم د افغانیو د ترویج په خاطر یو ورځنې سیمنار جوړول په نظر کې درلود او غوښتل یې چې له سیمنار دمخه خپلې طرحې له ولایت سره شریکې کړي. د نومبر د میاشتې په ۲۱مه نېټه مو د والیانو له ناستې وروسته، د ننګرهار د ټولو اقشارو استازي راوغوښتل، چې د استادانو طرحې واوري او خپل نظرونه شریک کړي. یو ساعت مو د دوی طرحو ته غوږ ونیوه؛ خو اخرې خبره یې همدا وه، چې حکومت او ولایت سیاسي اراده نه لري؛ نو ځکه افغانۍ نه مروج کېږي. د اقتصاد پوهنځي استاد نظامي صیب نظر دا و، چې حکومت باید له زور څخه کار واخلي. زه له خپلې چوکۍ پاڅېدم او دوی ته مې وویل: چې دا سیاسي اراده او د ولایت د مقام زور له تاسي سره شو. ما ته ووایې چې څه وکړم؟ ما فکر کاوه، چې تاسي به موږ ته عملي علمي لارې چارې په ګوته کړئ، خو متاسفانه له دوی سره هم عملي طرحه نه وه.

د نومبر په دیارلسمه نېټه چې د عقرب د میاشتې ۲۳مه نېټه سره برابره وه، له سکتوري ادارو، پوهنتون استادانو، مدني ټولنو، معارف ریاست، اصنافو، علماوو، د بانکونو مسوولینو، صرافانو او د جلال اباد ښار کې د ناحیو له مشرانو سره مو ناسته درلوده او له هغوی سره مې خبرې وکړې، چې نور هېڅ دلیل نه دی پاتې څو چې افغانۍ په ننگرهار کې رواج نشي. او ټول باید د افغانیو په ترویج کې همزمان مرسته وکړي. د افغانیو د ترویج لپاره مو یو مشترک کمېسون د تصمیم نیولو جوړ کړ او دوی ته مې وویل چې هره ورځ باید سره ناسته ولرو او ټولې پریکړې به په شریکه سره کوو.

د نومبر د میاشتې په اولسمه نېټه، د ننگرهار په پوهنتون کې مې د افغانیو د ترویج په هکله په علمي کنفرانس کې برخه واخیستله. که څه هم د دوی طرحه مې مخکې اورېدلې وه او ماته عملي نه ښکاریده، خو د عامه ذهنیت د جوړېدو او د پوهنتون د استادانو د حمایت او تشویق لپاره مې په دغه کنفرانس کې گډون وکړ؛ څو د ننگرهار پوهنتون د پلیټ فارم نه د افغانیو د ترویج په هکله جدي پیغام ولسونو ته ورکړم. په همدې ورځ مې د ننگرهار پوهنتون د استادانو له اتحادیې سره ځانگړې ناسته درلوده او له هغوی مې وغوښتل، چې د افغانیو د ترویج لپاره باید په جدي توگه همکاري او حمایت وکړي. که د ننگرهار پوهنتون تقریبا پنځلس زره محصلین وغواړي، چې افغانۍ استعمال او د ولسونو په منځ کې د افغانیو د ترویج لپاره کار وکړي، دا پخپله د عامه پوهاوي او ذهنیت سازۍ لپاره مهمه مسئله ده.

په همدې وخت کې مو له جمهور رئیس غوښتنه کړې وه، چې د داعش د شکست د اعلان په خاطر ننگرهار ته تشریف راوړي؛ نو ښه به وي. د نومبر د میاشتې په ۱۹مه نېټه جمهور رئیس ننگرهار ته راغی او د کونړ، لغمان او نورستان والیان یې هم راغوښتي و. له موقع نه په گټې اخستنې مې له والي صیبان سره د کلداردو د بندیدو په خاطر دویمه ناسته وکړه. دوی ټول بیا په دې عقیده و، که په ننگرهار کې کلدارې بندې نشي نو په مشرقي کې کلدارې نشي-بندیدلی؛ ځکه د ننگرهار اقتصاد په ټولو ولایتونو تاثیر لري. دوی وویل، چې د

نورو ولایتونو دوکانداران عمده اجناس د ننگرهار له عمده فروشانو څخه په کلدارو اخلي، د دوی حسابي معاملې یا کهاتې په کلدارو دي، د جایدادونو پیر او پلورل په کلدارو دی او په منډیانو کې د مالونو او نورو توکو راکړه ورکړه ټوله په کلدارو ده. همداشان خصوصي بانکونه وړې افغانۍ نه اخلي او د وړو افغانیو ارزښت ټیت دی. کله چې ننگرهار د افغانیو د ترویجولو پروسه پیل کړه، دوی به هم همزمان اقدام وکړي.

د اسعارو تبادله په نارمل حالت کې هم یو لویه او مهمه پروسه ده. د دې پروسې مدیریت، د خلکو عکس العمل، تخنیکي او اقتصادي اړخونو سنجول اسان کار نه دی. له ډېرو بحثونو وروسته مو د تېرو هڅو منفي ټکي په گوته او له نویو میتودونو څخه کار واخیست. د افغانیو د ترویج کمېسون مو له حکومتي چوکاټ وویست او ولسي شکل مو ورته ورکړ. د اصنافو، علماو، قومي مشرانو، امنیتي ادارې، ولایتي ادارې، د بانکونو، د صرافانو، ولایتي شورا ، د معارف او پوهنتون استادانو، د تجارانو او صنعت کارانو خونو، مدني ټولنو او ښاروالۍ استازو ته مو په کمېسون کې ونډه ورکړه. همداسې کمېسونه مو د ولسوالیو او ناحیو په سطحه هم جوړ کړل. دغه کمېسونونو په اوله کې هره ورځ او بیا په اوونۍ کې دوه درې ځلې ناستې درلودې او هر ځای کې به چې ستونخه وه، یا وړې افغانۍ به نه رسیدلې، یا به نرخونو کې زیاتې کېده، د کمیسون غړو او اړونده سکتورونو رسیدگي کوله.

د ملي امنیت ریاست ته مو دنده ورکړ،ه چې له بازار څخه څارنه وکړي. په بازار کې عامه ذهنیت ایجاد کړي؛ چې ټول د افغانیو په ترویج کې مرسته او کلداري استعمال نه کړي. د افغانیو د ترویج په ملاتړ به هره ورځ دجلال اباد په ښار او د ننگرهار په ولسوالیو کې غونډې کېدلې. د افغانیو د رواجولو په پار مو په جلال اباد ښار او ولسوالیو کې د کرکټ د سیالیو لړۍ پیل کړه؛ علمای کرامو به هم په مساجدو کې تبلیغ کاوه، د جلال اباد ښار د بزازۍ په جامع جومات کې د جمعه په ورځ په زرهاو کاروباریان لمونځ کوي؛ هلته د جمعې د لمانځه

لپاره لاړم، چې د ننګرهار د ولسونو او په خاصه توګه د دوکاندارانو او سوداګرو نه غوښتنه وکړم، چې د افغانیو په ترویج کې مرسته وکړي. د بزازۍ د جومات خطیب مولوي حمیدالله چې د مشرقي د زون د علماو د شورا مشر هم و، په خطبه کې وویل چې د موږ لپاره شرم دی چې د افغانیو په عوض کلدارې چې د جناح عکس پکې لګېدلی وي په خپلو جیبونو کې ګرځوو او افغانۍ چې زموږ ملي هویت دی نه استعمالوو. ده وویل چې افغانۍ زموږ ملي هویت دی او هېڅوک باید کلدارې په جیبونو کې نور ونه ګرځوي. د خپلو مقتدیانو نه یې وغوښتل چې په اعانه کې هم کلدارې وانه چوي.

د جدي د میاشتې لومړۍ نېټه وټاکل شوه، چې ټول کاروباریان او ولسونه په ننګرهار کې کلدارې بندې او افغانۍ استعمال کړي. د ولایت ټولو امنیتي او ملکي ادارو مسوولینو ته هدایت ورکړل شو، چې د راتلونکې یوې میاشتې لپاره د امنیت ساتلو تر څنګ د ټولو نه مهمه مسئله د ننګرهار ادارې لپاره د افغانیو ترویجول دي. د هرې دولتي ادارې مسوولین او مامورین باید د خپل وس په اندازه له بانکونو نه وړې افغانۍ واخلي او هغه د خپلو کورونو په شاوخوا کې په دوکاندارانو، ریکشو والاو او عام خلکو بانډې وویشي؛ څو دا پروسه د محدودو صرافانو او بانکونو له کنترول څخه ووځي. پخوا چې د افغانیو ترویج پروسې ناکامه شوې وې، یوعلت یې دا و چې دا پروسه د څو کسانو صرافانو او بانکونو په کنترول کې وه، چې هغوی بیا د وړو افغانیو احتکار او فساد ته زمینه برابروله. البته د پاکستان نفوذ هم نادیده ګڼل نه و پکار؛ ځکه په ننګرهار کې د کلدارو طرفدارانو د خپلو ایجنټانو په وسیله منفي تبلیغ له لومړۍ ورځې نه پیل کړي و، چې نرخونه اسمان ته وختل، وړې افغانۍ په بازار کې نشته، صرافان وړې افغانۍ نه اخلي، د افغانیو کمبود په بانکونو کې شتون لري او داسې نور.

په یو هېواد کې د کرنسۍ تغیر په عادي حالت کې هم له یو کال نه زیات وخت نیسي او دا امکان نه لري چې په اوله ورځ دې وړې افغانۍ هر چیرته ورسیږي. دا چې زموږ تبلیغاتي فعالیتونه او عامه پوهاوی د دښمنانو او د کلدارو د ایجنټانو نه زیات و، نو د افغانیو رواجولو تقریبا درې میاشتې ونیولې،

چې په بشپړ توګه رواج اوعملي شوه. علت یې دا و، چې د افغانیو د ترویج پروسه د جلال اباد ښار او ولسوالیو کې په غیر متمرکزه توګه همزمان روانه وه او د مخالفینو تبلیغ څه ګټه نه کوله. دا تبلیغ دومره زیات شو، چې یو ځوان کلداري په یو کټ کې اچولې وې او څو کسه یې تر شا ولاړ و او ویل یې په ننګرهار کې مو د کلدارو جنازه وکړه.

د افغانیو د ترویج د پروسې د پیل په دریيمه ورځ، د افغانستان بانک رئیس وحیدالله نوشیر جلال اباد ته راغی او مخکې له دې چې ولایت ته راشي، په ښار کې ګرځېدلی و او هر چاته به یې چې کلدارې ورکولې، هغوی نه اخیستلې. هغه هم حیران و، چې دا څنګه لوی تغیر په دومره لنډ وخت کې رامنځته شو. د نوشیر صیب په قول، دوی هېڅ باور نشو کولای، چې دا پروسه به عملي کړای شو او د بانک مسوولینو فکر کاوه، چې د فیسبوک په خاطر به یو څو ورځې تبلیغ وي، نور څه نشو کولای.

د وړو افغانیو ویش مو د افغانستان بانک سره په همکارۍ په چټکۍ پیل کړ او کوښښ مو دا و، چې وړو افغانیو احتکار ته زمینه مساعده نشي. په اولو ورځو کې د وړو افغانیو نوي لوټونه (نوټونه) اکثرو خلکو په کورونو کې ساتل او په بازار کې د وړو افغانیو سرکولشن یا تبادله نه تر سره کېدله. د افغانستان بانک مشر ښاغلي وحید نوشیر ته مو و ویل چې ننګرهار باید د وړو افغانیو له کمبود سره مخامخ نشي او هرڅومره وړې افغانۍ چې په مرکزي بانک کې لري، هغه د ننګرهار بانک ته انتقال کړي؛ څو دا اوازې چې وړې افغانۍ نشته، خنثی شي. د افغانستان بانک یو هئیت د جمال نائب په مشرۍ هم له نوشیر صیب سره راغلی و. هغوی نوشیر صیب ته ویلي و، چې د والي طریقه د ویش سمه نه ده او دا پروسه د وړو افغانیو د ویش باید دوی په مخ یوسي. نوشیر صیب ماته زنګ ووهه، ما ورته وویل چې زموږ. منه پکار ده که هغه د ولې وي او که د منې د ونې وي فرق نه کوي. د موږ لپاره دا مهمه ده چې په بازارونو کې د وړو افغانیو ویش په چټکۍ سره وشي؛ څو د وړو افغانیو د کمبود

احساس ونشي. که دوی دا کار په مستقیمه توګه کولای شي، موږ ورسره څه ستونځه نه لرو اوحمایت یې کوو. دوی چې دوه درې ساعته دا پروسه پرمخ یوړه، هر څه ترې خراب شول او د وړو افغانیو ویش د بانک له کنترول څخه بهر شوله او په سلهاو کسانو د بانک مخې ته هجوم یوړ او ګډوډې جوړه شوه. دوی سمدستي نوشیر صیب ته زنګ وهلی و، چې د والي صیب د ویش طریقه سمه ده او بېرته که والي صیب د ټولو ادارو منسوبینو ته دنده ورکړي؛ چې وړې افغانۍ په بازارونو کې وویشي نو ښه به وي. هماغه و چې بیرته مې د ویش لړې په ولایت او هم ولسوالیو کې کمېسونونو ته وسپارله؛ ځکه د دغه پروسې بریا په غیر متمرکز کیدو کې وه.

د افغانستان بانک لخوا فلزي سکې چې په ۲۰۰۳م کال کې چاپ شوې وې او تقریبا ۲۳ کانتینرونه د دغه فلزي سکو د ارګ له چارچنار ماڼۍ سره نږدې په کلونو پراته و، له افغانستان بانک سره په تفاهم هغه کانتینرې ننګرهار ته انتقال شوې. دغه فلزي سکې په ریکشه والاو او دوکاندارانو وویشل شوې. هم ارګ پاک شو او هم دغه راکتو سکو په بازار کې سرکولیشن پیدا کړ. د دغه فلزي پیسو له ویش وروسته په ننګرهار کې د وړو افغانیو د کمښت ستونځه یو څه حل شوله.

د افغانیو د انتقال لپاره دا اړینه وه، چې د کابل – جلال اباد د لارې امنیت ته هم جدي پاملرنه شوي وي. د افغانیو د راوړلو موټرې به د امنیتي کسانو لخوا به منظمه توګه بدرګه کېدلې او په ځینو مواردو کې مو د افغانیو انتقال د هوا له لارې په هلیکوپترونو کې تر سره کاوه. له یو میلیارد زیاتې وړې افغانۍ، چې په مرکزي بانک کې موجودې وې، هغه ټولې ننګرهار ته انتقال شوې؛ خو بیا هم د وړو افغانیو کمبود احساس کېده؛ ځکه چې د ننګرهار اقتصادي راکړه ورکړه له کابل او هرات وروسته لوی اقتصادي مرکزیت درلود. د افغانستان بانک رئیس، ښاغلي وحید نوشیر د شمالي ولایتونو له بانکونو نه زړې وړې افغانۍ ننګرهار ته راانتقال کړې او په دې توګه د دغه وړو افغانیو انتقال، د ننګرهار په بازارونو او دوکانونو کې د وړو افغانیو د کمبود مخه ونیوه. علاوه له دې جمهور

رئیس د افغانستان بانک ته د نورو افغانیو چاپول منظوري ورکړه. کله چې وړو افغانیو په مارکیټ کې سرکولیش پیدا کړ، ورو ورو د کلدارو د ایجنټانو تبلیغ هم ضعیفه کېده او یوازنۍ خبره چې تر اوسه پورې یې کوي، هغه د نرخونو زیاتوالی دی.

د پاکستان حکومت او طالبانو د افغانانو په منځ کې د ټولنیز رسنیو په استعمال او د فیسبوک په ټرینډ چلولو باندې کافي سرمایه ګذاري کړې ده. له یو کال څخه زیاته موده وشوه، چې له ننګرهار څخه تللی یم، اوس هم چې د فیسبوک هر پوست کوم، نو د کلدارو ایجنټان، چې زیات یې په پاکستان کې ناست دي، غواړي چې زما د پوست د اصلي موضوع نه خبره بلې خوا ته یوسي، منفي ټرینډ پیلوي، چې د ننګرهار خلک درته ښېراوې کوي؛ ځکه چې نرخونه دې کنټرول نشو کړای او یا نرخونه په ننګرهار کې د پخوا په پرتله لوړ شوي دي. هګۍ قیمته ده او د چرګوړو نرخ اوچت دي او داسې نور. د دې ټریند اصلي مؤخه دا ده، چې له ننګرهار وروسته زه د دفاع وزارت د لومړي مرستیال او سرپرست وزیر په توګه وټاکل شوم. طالبان او د هغوی پلویانو د دفاع په وزارت کې هم زما فعالیتونه نشول زغملی؛ نو داسې یې وانمود کوله چې په ننګرهار کې زما ماموریت ناکامه و. د دوی دښمنۍ له ماسره شخصي نه ده، بلکې د دوی دښمني د افغانستان د نظام او ملي اردو سره ده، نو ځکه دا اعتراضونه اوس هم دوام لري او کوښښ کوي، چې زما شخصیت وژنه وکړي؛ خو د دوی دا منفي تبلیغ څه ګټه نه لري؛ ځکه د ننګرهار ولسونه او هم د افغانستان د نورو سیمو اکثرو چارواکو او ولسونو د ننګرهار کارونه څارل او د ښو او بدو قضاوت کولای شي.

په عادي حالت کې هم په یو هېواد کې نرخونه هرکال د تیر کال په پرتله یو څه لوړیږي. که موږ دا ووایو چې ولې په ننګرهار کې نرخونه د ظاهرشاه د پادشاهۍ په شان اوس هم نه دي؛ نو دا هیڅکله امکان نه لري. د افغانستان او دنیا نرخونه له ننګرهار څخه، نه کنټرولیږي؛ بلکې د ننګرهار نرخونه د دنیا د

نرخونو د پولي تورم پورې تړلي دي. افغانستان استهلاکي هېواد دې او اکثره توکي له نورو هېوادونو نه افغانستان ته واردېږي. متاسفانه د افغانیو د رواجولو پسې سمدستي د کورونا اوبا راغله او نرخونه د افغانیو له وجهې نه، بلکې د کورونا اوبا له وجهې په ټوله دنیا کې دوه چنده، درې چنده او حتې د ځینو توکو نرخونه له دې هم څو چنده زیات شوي دي. اوس هم د ننګرهار او افغانستان د هغه توکو نرخونه، چې له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته د شمال او غرب له لارو راځي، د پاکستان په پرتله ډېر ارزانه دي. ډاکټر یونس بارګامې راته څه موده د مخه وویل، چې اسلام اباد ته یو کال وروسته تللی و، هغه کوټه (خونه) چې په پخوا به یې عینې هوټل کې په دولس سوه (۱۲۰۰) کلدارو نیوله، دا ځل یې ورته په اوه زره (۷۰۰۰) کلدارو ورکړې وه. دا د یو کال په دننه کې د اسلام اباد د نرخونو مثال و، خو بیا هم په ننګرهار کې د کلدارو ایجنټان وایي؛ چې نرخونه د افغانیو له وجهې زیات شوي دي. ځینې سیاسي مخالفین د حکومت او یا هغه کسان چې په ننګرهار کې زما د ماموریت په دوران کې متضرر شوي او یا مې د هغوی د ګټو او مداخلو مخه نیولې وه، د هغوی ایجنټان هم د کلدارو د ایجنټانو خبره بدرګه کوي. په هر حال ښه دی، چې دوی نور تورونه نشي لږولی لکه ووایي رشوت مې اخیستې، د ځمکې غصب مې کړی او یا د فساد په نورو معاملو کې له چا سره شریک شوی یم. د نرخونو لوړوالې یوازې په ننګرهار کې نه بلکې د افغانستان په ټولو ولایتونو او دنیا کې لوړ شویدي.

د ننګرهار د صرافانو د اتحادیې د مشر، حاجي مصطفي په قول، د افغانیو د ترویج د پروسې په لومړی میاشت کې هره ورځ تقریبا د یو نیم میلیارد کلدارو تبادله د ننګرهار په صرافیو کې په افغانیو ترسره کېدله. یعنې په یوه میاشت کې پنځه څلویښت میلیارده کلدارې د ننګرهار او افغانستان له اقتصادي سیستم څخه ووتلې. د کلدارو په بدل کې به هره ورځ له پاکستان څخه تقریبا یو میلیون ډالره ننګرهار ته راوړل کېدل. په لومړیو ورځو کې راته صرافان راغلل، چې دوی نورې افغانۍ نه لري او دا دومره کلدارې دوی هره ورځ پاکستان ته

نشي انتقالولی. همداشان ننګرهار ته په لارو کې د ډالرو د راوړلو په محال خطر زیات دی. کله امنیتي ادارې هم دوی په لارو کې په عذابوي؛ چې ولې کلدارې انتقالوي اویا ډالر ننګرهار ته راوړي. امنیتي ادارې د کار په اهمیت نه پوهېدلې او ځینو به د خپلو شخصي منفعت په خاطر د صرافانو مزاحمت کاوه.

صرافانو ته مې وویل چې څه پکار دي او څنګه کولای شم؛ چې مشکل مو حل کړم؛ تر څو صرافان د کلدارو تبادلې ته دوام ورکړي؟ دوی وویل که د کورنیوچارو وزارت د دوی ممانعت ونه کړي؛ نو دوی دا کلدارې د سبزیو په لاریو کې د کندهار د چمن او تورخم له لارو انتقالولی شي. ما ورته وویل چې دا څه مشکل نه دی او حتی که امنیتي ایسکورټ یا بدرګه مو پکار وي، هم یې درته برابرولی شم. دوی وویل چې نه؛ ایسکورټ ته حاجت نشته صرف چې امنیتي ادارې په جریان کې وي او مزاحمت ونه کړي؛ ځکه بیا د دوی د پیسو د انتقال فرموله رسوا کېږي. هماغه و چې د کورنیو چارو وزارت له ارشد امنیتي معین جنرال خوشال سادات سره مې اړیکه ونیوله، چې داسې مسئله ده او هغوی باید خپلو کسانو ته په غیر رسمي توګه په لارو او بندرونو کې ووایي؛ چې د صرافانو د پیسو د انتقال مانع نشي. جنرال سادات عیني زما خبره وکړه چې هېڅ مشکل نشته. صرافانو ته زما شخصي نمبر ورکړه؛ که په هر ځای کې مشکل و، سمدستي دی ما ته او یا تا ته تلیفون وکړي او مشکل به یې حل کوو. هغه هم دا خبره وکړه که ایسکورټ یې پکار وي، دوی به یې هم ورته برابر کړي. د دې فرمولې په اساس صرافانو د کلدارو په تبادله کې زیاته مرسته وکړه او دا پروسه د هغوی له ملاتړ پرته عملي کېدلای نشوه؛ ځکه کلدارې د افغانستان بانکونو نه اخیستلې. د افغانیو په ترویج کې د ننګرهار صرافانو هم لوی ریسک ومانه او هم یې مرسته وکړه. هغه وخت به چې هر مشکل د افغانیو په تبادله کې پیدا کېده، ډېری کسانو پړه او ملامتي په صرافانو اچوله، چې دا سمه نه وه؛ ځکه صرافانو په دې ملي پروسه کې له بل هر چا زیاته مرسته وکړه او د ټولو دی کور ودان وي.

یوه بله مهمه مسئله چې د صرافانو مرستې ته په کې اړتیا وه هغه د وړو کلدارو تقریبا نا چله کول و. صرافانو په غټو افغانیو کې ګټه نه کوله او د وړو افغانیو د ویش پروسه هم د دوی په لاس کې نه وه. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه د وړو افغانیو د تبادلې پروسه غیر متمرکزه وه. ولسوالانو، ښاروالانو، د ناحیو مشرانو، د ولایت رئیسانو او مامورینو به غټې افغانۍ راوړلې او وړې افغانۍ به یې له بانک نه اخیستلې او هغه به یې په کلیو او کورونو کې په دوکاندارانو او خلکو باندې ویشلې. دوی ته مې وویل چې تاسې وړې کلدارې په کم نرخ له مشتریانو واخلئ، چې وړې کلدارې بې اهمیته شي او د راکړې ورکړې د دوران نه ووځي. یعنې په هغه وخت کې د سلو کلدارو نه پنځوس افغانۍ جوړېدې، دوی به سل ګون نوټ په دېرشو افغانیو اخیسته. همداشان پنځوس ګون، شل ګیز او لسیز نوټونه د کلدارو په اوله میاشت کې په ډېره ناڅیزه بیه او وروسته بیخي نه تبادله کول. په دې توګه د کلدارو د وړو نوټونو سرکولیشن (دوران) په مارکیت کې ورک او په عوض یې، وړو افغانیو ځای ونیوه. دا فرموله ډېره موثره ثابته شوه او په ډېر لږ وخت کې افغانیو د کلدارو ځای ونیوه؛ ځکه د عامو دوکاندارانو، ریکشو والاو، لاس ګاړو او ترانسپورټ کاروباریانو ګټه د افغانیو په ترویج کې پیدا شوله او د کلدارو د وړو نوټونو اخیستل د دوی په تاوان و. صرافانو ته مو بیا دا زمینه مساعده کړه چې دوی وړې کلدارې د شنیوارو مارکو بازار ته انتقال او د هغه ځای نه پاکستان ته یوسي. په دې توګه د صرافانو او هم د ګېډو والاو؛ چې وړې کلدارې به یې پاکستان ته انتقالولې، یو څه غریبي کېدله.

د افغانستان بانک هم په لس ګونو میلونه ډالره ګټه وکړه او د افغانیو ارزښت ښه او تر ډېر وخته ثابت پاتې شو. د مالي د پخواني وزیر ډاکتر حضرت عمرخیل زاخیلوال په قول، په ننګرهار کې د افغانیو د پروسې په تبادله کې د افغانستان بانک کم تر کمه پنځوس میلیونه ډالره ګټه کړې ده. د افغانستان بانک تر څو میاشتو پورې ډالر بازار ته لیلام نه کړل؛ ځکه چې د افغانیو تورم نه و او تقاضا د افغانیو زیاته شوه. حال دا چې مخکې له دی به دافغانستان بانک

په اوونۍ کې دوه ځلې ډالر مارکیت ته لیلام کول تر څو افغانۍ ثبات پیدا کړي.

د افغانیو ترویج مرحله مو اول له رسمي دفاترو پیل کړه او ټولو دفاترو او ولسوالیو ته مو هدایت وکړ؛ چې هر څوک د دوی دفاترو ته ننوځي باید جیبونه یې تالاشي شي او که کلدارې ورسره وې؛ نو له سره دفترونو ته د ننوتو اجازه مه ورکوئ. سهار وختي چې زه ولایت ته لاړم، نو امنیتي ادارو ته مې خپل جبیونه ښکاره کړل او دا پروسه مې د خپل ځان د جیبونو له تالاشۍ پیل کړه. پدې توګه دفترونو ته د مشتریانو د جیبونو د تالاشې پروسه په ښه توګه عملي شوه او زیات تبلیغ او عامه پوهاوې په دې طریقه هم وشو. همدا شان د ټولنیزو رسینو او وټس اپ له لارې د هرې ادارې مشر او عامه خلکو د افغانیو د ترویج د پروسې عکسونه نشرول. زه هم په دې ورځو کې د جلال اباد ښار په بازارونو او هم ولسوالیو زیات تلم او د افغانیو رواجولو په هکله مو هلې ځلې کولې. په حقیقت کې یو نوع مثبت رقابت او انګیزه د ولسوالیو د چارواکو تر منځ پیدا شوه. ولسوالانو، ښاروالانو او د جلال اباد ښار د ناحیو مسوولینو او امنیتي ادارو منسوبینو په همغږۍ سره په دې هکله خاص زحمت وویست، چې زه ترې مننه کوم.

د افغانیو ترویج له امله ماته مستقیم خطرونه او تهدیدونه هم متوجه و. دا چې په دغه وخت کې زه ډېر بازارونو کې ګرځېدم، نو د ۲۰۲۰م کال د جنورې د میاشتې په دولسمه نېټه یو تن د حکمت الله په نوم چې د شېرزادو ولسوالۍ اوسیدونکې و، د ولایت په مخکې د امنیتي کسانو لخوا ونیول شو؛ چې زما د ترور پلان یې جوړ کړی و. حکمت الله د انګور باغ په سیمه کې د جومات د مؤذن نورمحمد په ترور کې هم لاس درلود. حکمت الله ته ویل شوي و، چې د اولې حوزې په مخ کې باید زما د وتلو لپاره انتظار وکاږي او که والي راونه وتلو نو مازدیګر چې هر رئیس له ولایت څخه راوتلو، هغه باید وولي؛ څو دوی وښایي چې د ولایت په مخ کې یو څوک ترور کولی شي. دا چې دا کس

ډېر منتظر پاتې شوی و او هلته خوځېده؛ نو د پولیسو پرې اشتباه راغلې وه. کله چې حکمت الله تالاشي کوي، نو تمانچه ورسره وه، چې سلنسر-یې درلود او عادي تمانچه نه وه. حکمت الله او یو شمېر نور کسان چې کله د ملي امنیت په ریاست کې د خبري کنفرانس په لړ کې رسنیو ته ښودل کېدل، نو دملي امنیت رئیس ورته وویل چې ته والي پیژنې، هغه وویل چې نه؟ د ملي امنیت رئیس ورته وویل چې والي دا دی او ولې دې ترورلو، ده خو تا ته څه نه و ویلي؟ په هر حال څه موده وروسته د شېرزادو یو شمېر مشران راغلل، چې حکمت الله عفوه کړم نو ما ورته وویلې چې زه ورسره شخصي مشکل نه لرم؛ خو په نورو پیښو کې هم دخیل دی. عدلي او قضایې اداري باید د دی په هکله تصمیم ونیسي.

جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني، د افغانیو د ترویج د پیل په لومړیو دوه اونیو کې له ما تحلیل وغوښته، چې څنګه دا پروسه عملي کوئ. ما ورته په دریو صفحو کې یو لنډ تحلیل ولیکه. چې تېرو ناکامو پروسو څه مشکلات درلودل، څنګه مو ولسونه د دې ملي پروسې په تطبیق کې شریک او د پولي (بانکونو او صرافانو)، امنیتي او محلي ادارو ترمنځ همغږي رامنځته کړه. عامه پوهاوې مو څنګه وکړ او انګېزه څنګه ایجاد شوه. ددې پروسې هغه خلاصه تحلیل، چې جمهور رئیس ته مې د ۱۳۹۸ل کال د جدي په دولسمه نېټه ولیږه؛ کټ مټ یې په لاندې ډول رانقلووم:

**د تېرو ناکامو هڅو ستونځې**

۱.پخوانیو کمپاینونو یوازې شعاري بڼه درلوده او هېڅ کومه معقوله طرحه موجود نه وه.

۲. په تېرو طرحو کې د جریمو مسئله زیاته مطرح وه. داسې هم شوي، چې یو دوکاندار په کلدارو نیول شوی، خو بېرته په کلدارو خوشې شوی دی.

۳.امنیتي ادارو او کمېسون په لارو کې د خلکو د جیبونو د تالاشي پر وخت او هم د دوکاندارانو له دخلونو څخه کلدارې اخیستې او بېرته یې مالکینو ته نه

ورکولې. ډېرو کسانو راته په خبرو کې وویل، چې همدا علتونه و؛ چې د کلدارو بندیدو پخوانیو هلو ځلو نتیجه ورنه کړه او ټولې پروسې له ناکامۍ سره مخ شوې. یعنې سؤ استفاده زیاته شوې وه.

٤.پخوانۍ هلې ځلې او د افغانیو د ترویج پروسه یوازې د صرافانو په کنټرول کې وه او هغوی د مارکیت انحصار په لاس کې درلود. صرافانو نه غوښتل، چې دا پروسه کامیابه شي؛ ځکه د هغوی د تبادلې مارکیټ له منځه تله. بې له جوازه صرافانو او په خاصه توگه د بکسو والاو همېشه له داسې پروسې سؤ استفاده کړې او پر وړاندې یې مهم خنډ و.

۵.د نرخونو د کنترول لپاره منظم میکانیزم نه و او ولسونو ته په هر لحاظ زیات تاوان و.

٦. د ولایت په کچه د افغانیو د ترویج پروسې لپاره عمومي پلان موجود نه و. یوازې د جلال اباد ښار په یو څو کوڅو کې د بندیدو هڅې شوې وې او د ولسوالیو لپاره هېڅ پلان نه و.

۷.عامه پوهاوی کم او ولس ذهناً اماده نه و. د احساساتو ترڅنگ ولسونو ته د افغانیو د استعمال گټې نه وې تشریح شوې.

۸.په هغه وخت کې د افغانیو ارزښت له کلدارو ټیټ و او د ټولو دوکاندارانو او تجارانو د سرمایې اساس کلدارې وې، نو په دې اساس لویو دوکاندارانو خپل مالونه په کلدارو خرڅول او ټولې تجارتي معاملې او حسابونه د قرض او پور په کلدارو و. یعنې کلدارې اساس د تجارت و؛ نو ځکه د کاروبایانو لپاره افغانیو گټه نه درلوده.

۹.د وړو افغانیو نه شتون د دې پروسې په مخ کې لویه ستونځه وه. د افغانستان بانک هم کومه خاصه پالیسي په هغه وخت کې نه درلوده؛ چې څنگه وړې افغانۍ برابرې کړي.

۱۰.د پاکستان نفوذ په سیمه کې هم زیات و او دی؛ چې د خپلو اجنټانو له لارې یې د افغانیو د ترویج مخه نیوله.

۱۱.امنیتي وضعیت او په اطرافو کې د حکومت نه کنترول؛ هم د دې پروسې په عملي کولو کې مهم خنډ و.

د پورته ستونځو په نظر کې نیولو سره، موږ وکړای شول، چې د افغانیو د ترویج پروسه کې له نویو تګلارو کار واخلو؛ ځکه د دومره لویې پروسې د عملي کولو لپاره د افغانستان بانک، نورو اړوندو ادارو او د بېلابېلو سکتورونو سره پراخې همغږۍ ته اړتیا وه. موږ خپله پروسه په څلورو برخو وویشله:

۱.عامه پوهاوی.

۲.له بېلابېلو اقتصادي سکتورونو سره همغږي او هغوی په پروسه کې شاملول.

۳.له افغانستان بانک سره همغږي.

٤. له جلال آباد ښار، ولسوالیو او د همجوارو ولایتونو سره د پروسې عملي مدیریت

## عامه پوهاوی

د عامه پوهاوي په برخه کې مو له لاندې میتودونو کار واخیست:

۱.د عقرب او قوس په میاشتو کې موعامه پوهاوې د جلال اباد ښار او ولسوالیو په سطحه پیل کړ. په خپلو ټولو مجالسو کې مو د افغانیو د ترویج په هکله بحثونه درلودل. ذهناً ولس دې ته اماده شو؛ چې د دې ملي پروسې حمایت وکړي.

۲.د ناکامورا له وژل کېدو وروسته مو عامه پوهاوی لا زیات کړ او ولس ته مو نوره انګېزه هم ورکړه؛ چې پاکستان په دې سیمه کې شوم اهداف لري او نه پرېږدي؛ چې زموږ سیمه په اقتصادي لحاظ رشد وکړي.

۳.د قوس په اخره کې مو د جلال آباد ښار له ټولو خطیبانو سره ناسته وکړه. خطیانو د جمعې ورځې په خطبو کې د افغانیو د ترویج په هکله پراخه تبلیغ وکړ؛ حتی خلکو ته یې وویل چې د جومات په چندو کې نورې کلدارې مه اچوئ. زه په دې برخه کې له علمای کرامو خاصه مننه کوم.

٤.د جلال آباد ښار او ولسوالیو کې واقعي مدني ټولنو او فعالانو هم پراخه کمپاین او لاریونونه له ولسوالانو او دولتي چارواکو سره پر لاره واچول، چې عامه ذهنیت اماده کړي.

٥.د فیسبوک او ټویټر له لارې مو پراخه کمپاین وکړ او په لس ګونو زره کسانو زما پوستونه هره ورځ لوستل او شریکول. د فیسبوک او ټویټر له لارې له یو نیم لک نه زیات کسان زما لیکنې تعقیبوي.

٦.په تېر یوه کال کې زما سلام! د سهار په خیر لیکنې هره ورځ جنګي فرهنګ په سوله بیز او د بیا رغونې په فکري بحث بدل کړ. دغه لیکنو هم په عامه پوهاوي کې مرسته وکړه.

٧.د ننګرهار ولایت د رسنیو دفتر هم سلهاو زره کسان تعقیبوي او کافي کمپاین یې وکړ. مختلفي ویډیوګانې او کلیپونه یې هره ورځ برابرول او نشرول.

٨.د ننګرهار له خصوصي رسنیو او تلویزونونو سره مو هم کار وکړ او د ملي احساس له لورې یې زموږ مرکې او مجالس نشر او ګردي میزونه یې په مکرره توګه جوړ کړل. د دوی عامې پوهاوي اوس هم دوام لري. (نوټ: د یادونې وړ ده چې د انعکاس تلویزون په دې برخه کې خاص پروګرامونه هره ورځ درلودل. اکثره وخت به شهیدې ملاله میوند د دې بحثونو کوربنه وه. روح دې ښاد او یاد به همیشه تلپاتې وي. د انعکاس تلویزون د سیاسي چارو کوربه، شکرالله پاځون په دې برخه کې ډېر پروګرامونه په مخ یوړل او زه ترې خاصه مننه کوم)

٩.د نظامي شورا غړي، رئیسان، ولسوالان، امنیه قومندانان، د حوزو آمران او د جنایي ادارو مسؤلین د وټس اپ په ګروپونو کې شامل و. وخت په وخت به ورته هدایت ورکول کېده او هغوی له خپلو اجرااتو ډاډ راکوو او د افغانیو د ترویج لپاره یې غونډې درلودې. د ټولو ادارو، ولسوالانو، ښاروالانو، د ناحیو امرینو او ولسونو تر منځ یو مثبت رقابت رامنځته شو.

۱۰.متاسفانه د بېلابېلو ملحوظاتو په خاطر، د ننګرهار ولایتي شورا اکثرو غړو او وکیلانو په دې کمپاین کې ډېر رول نه درلود. (نوټ: د یو څو وکیلانو نه په غیر اکثرو ډېره دلچسپي د افغانیو په ترویج کې نه درلوده. دوی فکر کاوه چې د افغانیو ترویج کریډیت والي اخلي، نو همکاري یې نه کوله. یو شمېر وکیلانو زما د ماموریت تر اخره پورې له ولایتي اداري سره همکار نه درلوده او د دوی مخالفت د ما لپاره ګټه درلوده، ځکه د دوی مخالفت، د د ې باعث ګرځیده چې زما محبوبیت د ولسونو په منځ کې ورځ تر بلې زیات شي. د ولایتي شروا د وکیل ډاکټر ناصر کاموال نه پرته، د ولایتي شورا د افغانیو د ترویج په هکله یو مجلس هم ونه نیوه او نه یې د خپلو فیسبوک پاڼو له لارې لیکنې وکړې. متاسفانه ځینو وکیلانو او د هاها ډلو کوښښ کاوه چې دا پروسه ناکامه کړي.)

**له بېلابېلو اقتصادي سکتورونو سره همغږي او هغوی په پروسه کې شاملول**

۱.د پخوانیو کمیسیونونو یوه لویه تشه دا وه، چې یوازې څو کسه حکومتي چارواکي او یا د امنیتي ادارو استازو پکې غړیتوب درلود. په موجوده پروسه کې د بېلابېلو قشرونو، اتحادیو، اصنافو، صرافانو، حج و اوقاف ریاست، علماو، مدني ټولنو غړیو، د ولایت سکتوري اداري او د افغانستان بانک غړیتوب درلود.

۲.د والي د نظارت لاندې کمېسیون په اوونۍ کې درې غونډې کولې او هره غونډه کې چې کومې ستونځې به وې، د هغوی لپاره مو شریک پلان جوړو او عملي کوو. دلته د تضاد مسئله نه وه، بلکې د ټولو په منځ کې د همکارۍ روحیه وه او ده.

۳.پخوا به یو کمېسون یوازې د ولایت په کچه و؛ خو اوس په هره ولسوالۍ او ناحیه کې مشابه کمېسونونه د ولایت په شان جوړ شوي دي. دا پروسه د جلال اباد په ښار او ولسوالیو کې په یو قسم تطبیقیږي.

**له افغانستان بانک سره همغږي**

۱.د افغانستان بانک د شرقي زون رئیس احمدزي توحیدیار په خاصو هلو ځلو او هم د افغانستان بانک له عمومي رئیس ښاغلي واحد نوشیر سره زموږ مستقیم تماس موجود و او په دې اړه یې پوره همکاري له موږ سره کړې ده.

۲.د داسې لوی پروسې لپاره د بانک همکاري نهایت زیاته مهمه وه. د ننګرهار اقتصادي راکړه ورکړه او نفوس د څو ورو ولایتونو په تناسب ډېر زیات دی، نو د افغانستان بانک توجه مهمه وه. په لومړي سر کې حتی د افغانستان بانک ریس نوشیر صیب هم نه منله، چې دا پروسه به په دومره چټکۍ سره په مخ لاړه شي، نوموړي ننګرهار ته سفر وکړ، هر څه یې په خپلو سترګو ولیدل، نهایت زیات خوښ و او له راتګ نه یې وروسته همکاري څو چنده زیاته شوه، چې زه ترې خاصه مننه کوم.

۳.د ورو بانک نوټونو موجودیت او ویش نهایت مهم و. په دې هکله، بانک په مسلسله توګه ډاډ راکړی او د افغانیو له کمبود سره لا مخامخ شوي نه یوو. د ورو افغانیو ویش غیر متمرکز او د صرافانو په کنترول کې نه و.

٤.د صرافانو لپاره مو اسانتیاوې د بانک او امنیتي سکتور په مشوره برابرې کړې، نو په دې هکله هم څه ستونځه نه وه.

**د پروسې عملي مدیریت له جلال آباد ښار، ولسوالیو او د همجوارو ولایتونو سره**

۱.لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، هغه میتودونه چې په ورو ولایتونو کې عملي کېږي، د ننګرهار په لوی ولایت کې چې اقتصاد یې لوی او نفوس یې زیات دی، امکان نه درلود او نه یې نیتجه ورکوله.

۲.د عامه پوهاوي او ورو افغانیو ستونځې له حل کولو وروسته، د جدي له لومړۍ نېټې نه یوه اونۍ دمخه موږ د افغانیو د ترویج مسئله د خپل ځان او

دفاترو نه پیل کړه؛ څو ولس په دې متیقن شي، چې دا پروسه عملي کېږي او دا ځل موږ جدي یوو.

۳.اوله پرېکړه مو دا وکړه، چې هېڅوک دولتي دوایرو ته له کلدارو سره ننوتلی نه شي. دا پروسه مو یوه اونۍ د ننګرهار په مرکز او د ولسوالیو په ټولو دفاترو کې عملي کړه او عمومي ذهنیت جوړ شو. دې کار ډېره ښه انګېزه خلکو ته ورکړه.

٤.د جدي له لومړۍ نېټې څخه، چې د یکشنبې ورځ وه، دوه ورځې دمخه یعنې د پنجشنبې په ورځ مو د جلال آباد ښار ټول خطیبان مېلمانه کړل، چې د جمعه په ورځ په خپلو خطبو کې د افغانیو د ترویج په هکله بحثونه وکړي او د جدي له لومړۍ نېټې نه باید د کلدارو په راکړه ورکړه بندیز ولګول شي.

۵.د ۱۳۹۸ل کال د جدي میاشتې په لومړۍ نېټه مو چې د ۲۰۱۹م کال د دسمبر میاشتې د ۲۲مې نیټې سره سمون خوري، اعلان وکړ چې افغانۍ رواجول حتمي دي. هر څوک چې د ملي پروسې پر وړاندې خنډ جوړوي، جرم او ملي خیانت دی.

٦.دوکاندارانو او ترانسپورټ اتحادیو ته مو تخلف په څلورو کټګوریو تقسیم کړ. د لومړي ځل تخلف په صورت کې به دوکان یو ځل د یوې ورځې لپاره بندیږي، د دویم تخلف په صورت کې به درې ورځې او د درېیم ځل تخلف په صورت کې به دوکانونه پینځه ورځې تړل کېږي. له څلورم ځل تخلف سره به له دوکاندارانو څخه د کار جواز اخیستل کېږي. دا اجراات د ښاروالۍ له قوانینو سره برابر و.

۷.د دې لپاره چې یو ګروپ، شخص او یا صرافان دا پروسه کنټرول نه کړي، موږ په غیر متمرکزه توګه د وړو افغانیو ویش پیل کړ. لړې افغانۍ مو صرافانو ته ورکړې، چې هغوی په اعتماد کې وساتو؛ څو زیاتې افغانۍ مو صنفي اتحادیو، په مستقیمه توګه د ولایت د لوړ پوړو چارواکو او بانک په حضور کې په دوکانونو، د تیلو په پمپونو او په ولسوالیو او ناحیو کې د ګډ هئیت له لارې په دوکانونو وویشلې او دا پروسه اوس هم دوام لري.

۸.د دې لپاره چې وړې کلدارې له دوران څخه ووځي او افغانۍ رواج پیدا کړي، صرافانو د کلدارو یو ګون، پنځه ګون، لس ګون، شل ګون او پنځوس ګون له تبادلې نه ډه ډه وکړه او سل ګون هم په ټیټه بیه اخلي. که څه هم دا یو ډول ضرر عامو وګړو ته و؛ خو دا کار اړین و؛ څو د وړو دوکاندارانو، رکشه وانانو او موټروانانو ګټه په افغانیو کې پیدا شي. د جلال اباد په ښار کې تقریبا شل زره رکشې او ۲۵ زره لوی او واړه دوکانونه شتون لري. نو په دې توګه د افغانیو په تبادله کې د دوی رول مهم و. که په هر ریکشه کې لس کسه د ورځې سپاره شي، دوه سوه زره کرته تبادله یا ترانزاکشنونه (Transactions) صورت نیسي، نو افغانۍ پخپله رواج پیدا کوي.

۹.د جمعه لمونځونه مې په لویو جوماتونو کې وکړل، خلکو ته مې د افغانیو د ترویج په هکله خبرې وکړې او له تېرو پروسو سره مې دا پروسه مقایسه کړه او د ولس د همکارۍ نه مو مننه وکړه. همدا شان په بازارونو وګرځېدو. د دې پروسې د عملي کولو څارنه مو په جدي توګه وکړه، چې د رسنیو او سوشل میډیا له لارې ورته په پراخه کچه کوریج ورکړل شو او مثبت تاثیر یې په عامه اذهانو درلوده.

۱۰.په راروانه میاشت کې مو بانکونو ته ویلې چې ټولو مامورینو ته معاشونه په وړو افغانیو ورکړي. د یوې یا دوه میاشتو په سایکل کې به دا پروسه سل په سلو کې کامیابه شي.

۱۱.د پروسې په ټولو پړاونو کې مو معلومات له ولسونو سره شریکول او ولسونو اعتماد ورځ تر بلې زیاتیږي.

۱۲.قرار له معلوماتو تقریبا نوي سلنه دا پروسه تر اوسه کامیابه ده او انشاالله که دا پروسه همداسې روانه وي ډېر ژر به سل په سلو کې عملي شي.

۱۳.همجوارو ولایتونو هم د کلدارو د بندیدلو پروسه پیل کړې ده، چې په ختیځ زون یې تاثیر مثبت دی.

۱٤.په ننګرهار کې امنیتي توسعې هم د دې پروسې په عملي کېدو کې خاص رول درلود او د حکومت حاکمیت لا نور هم تقویه شو.
۱۵.له ټولو مهمه خبره دا ده، چې هر تصمیم عملی کوو او یوازې شعار نه ورکوو. هغسې پریکړې چې عملي جنبه یې نه درلوده، هغه مو نه کولې.

## متوقع ستونځې

۱.پاکستان شاید په هر شکل چې وي کوښښ به وکړي چې د ننګرهار په ولایت کې امنیتي ستونځې پیدا کړي خو زموږ امنیتي او دفاعي قوتونه متوجې دي.
۲.د ولایت د مقام پر ضد، تهدیدات زیات دي خو کوښښ کوو چې لازم تدابیر ولرو.
۳.پاکستان کوښښ کوي، چې جعلي افغانۍ داخل کړي او په دې توګه د افغانیو اعتبار راټیټ کړي، چې یو څه شواهد هم لیدل شوي دي. د افغانستان بانک او د ملي امنیت له ریاست سره هغه معلومات شریک شوی او هغوی د جعلي افغانیو د مخنیوي په هکله اړین اقدامات کړي دي.
٤.په لرو پرتو ولسوالیو کې پاکستان کوښښ کوي، چې ستونځې د دې پروسې د مخنیوې په خاطر پیدا کړي خو هلته هم د ولسونو د ملاتړ له امله پروسه په ښه توګه روانه ده.
۵.پاکستان او د هغوی پورې تړلي حلقې د سوشل میډیا له لارې کوښښ کوي، چې دا پروسه ناکامه وښیي خو د هغوی منفي تبلیغاتو څه نتیجه نه ده ورکړې. موږ هم په منظمه توګه هره ورځ د سوشل میډیا او رسنیو له لارې د پروسې د فعالیتونو او د ولس د ملاتړ د بهیر په هکله معلومات له ولسونو سره شریکوو چې ښه نتیجه یې ورکړې ده.

دا چې جلالتماب جمهور رئیس د مالیې د وزیر په حیث او هم په نړیوال بانک کې پاتې شوې و، په مالي، انکشافي او اقتصادي چارو ډېر ښه پوهېږي.

زما له تحلیل وروسته یې رسمي یاداشت له خپل دفتر څخه راولېږه او غواړم چې هغه دلته کتې مټ شریک کړم.



جمهوری اسلامی افغانستان

ریاست عمومی دفتر مقام عالی ریاست جمهوری

معاونیت منابع و اداره

شماره هدایت:

تاریخ: ۱۴/۱۰/۱۳۹۸

**هدایت رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

*پیرامون گزارش تحقق هدایت مقام عالی به ارتباط جلوگیری استفاده از اسعار خارجی:*

چخانسوری صاحب:

له میاخیل صاحب نه یوه نړی مننه. راتلونکی اونۍ کښې ارګ کښې یو مجلس ونیسی چې هغوی خپل پروګرام د افغانستان ټول ولس ته تشریح کړي. بیګ صاحب دي ترتیبات ونیسي چې نور والی صاحبان چې په ولایاتو کښې یې کلدار او نوري خارجی پیسي رواج لري دا بریالی طرح تطبیق کړی.

**محمد اشرف غنی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانیو ترویج د افغانستان په کچه یوه خاصه انګیزه پیدا کړه او ننګرهار او د ننګرهار د خلکو او هم د مشرقي د ولسونو حیثیت او غرور پورته لاړو. د ولایتي اداري حاکمیت په کلو او باندو کې نور هم پراخ او ټینګ شو. هره ورځ به له ولسوالیو څخه ډلې ډلې ځوانان، مشران، علماء او د بېلابېلو ټولنو استازي

او حتې د کابل او نورو ولایتونو نه با احساسه هېوادوال ننګرهار ته راتلل او د افغانیو په ترویج به یې خوشالې ښکاره کوله. ستاینلیکونه، مډالونه او نښانونه به یې ولایت او ماته ډالۍ کول. دا ستاینلیکونه او مډالونه سل ګونو ته ورسېدل، چې په الماریو کې نه ځایېدل. د مشرانو جرګې، ولسي- جرګې او د تجارانو د خونو لخوا لوړ مډالونه راته راکړل شول. دا ټولې ستاینې د ننګرهار د خلکو لپاره د افتخار ځای و. جمهور رئیس هم ماته د وزیر محمد اکبرخان عالي مډال منظور کړ.

زه د ننګرهار د ولسونو له ملاتړ او همدا شان د ټولو اړوندو ادارو او په خاصه توګه د جلالتمآب جمهور رئیس صیب او نورو دولتي مشرانو نه مننه کوم، چې د دې پروسې ملاتړ یې وکړ. دا په زغرده ویلی شم، چې د داعش له ماتې هم د کلدارو بندولو پروسه مهمه او اړینه وه. ځای لري چې په دې برخه کې د ولایت د مرستیالانو ښاغلي محمد عارف تمیم مومند او آغلې حبیبه کاکړ، سکتوري رئیس فضلي ربی همیم او د ټولو ادارو مشرانو، ولسوالانو، ښاروالانو او د ناحیو مشرانو، د امنیتی ادارو مشرانو چې نومونه یې د دې کتاب په اخره کې مل دي، مننه وکړم چې هر یو د زړه له تله منډې ووهلې، ستونځې یې وګاللې، خپل ژوند یې په خطر کې واچوه، خو د افغانیو د ترویج پروسه یې بریالي کړه.

د ولایت د مقام د دفتر رئیس انجینر فرید احمد ناصرزي، خپل سکرتر محمد صادق کریمزي، د ننګرهار د علمای کرامو او په خاصه توګه د مولوي حمیدالله، مولوي حبیب الله جلالبادي، د حج او اوقافو رئیس قاري محمد داود مجاهد، د اصنافو مشرانو، حاجي باز محمد عرب، حاجي عزیزالرحمن عرب، حاجي شکرالله جلندري او خانزاده افغان، د تېلو د تصدی مشر-احمد شاه پاچا، د تېلو د پمپونو د اتحادی مشرحاجي منګل، د ولایتي شورا غړیو ډاکتر ناصر کاموال، عبیدالله شنیواري، استاد اسرارالله مراد او افتخار مومند، د ولسي- جرګې غړي، وکیل عبدالروف شپون، د افغانستان بانک د زون مسوول احمدزي توحیدیار او د خصوصي بانکونو مشرانو، د سوداګرۍ د خونې استازو

ډاکتر اسدالله مخلص، ډاکتر شمس الحق مجاهد، ملي سوداګر حاجي زلمی او حاجي تور ملنګ، د صرافانو د اتحادېږ مشر ـ حاجي مصطفی، د ډاکترانو د اتحادېږ مشر ډاکتر ایمل ذکي، د درملو د اتحادېږ مشر ـ نجیب الله صاحبزاده، مدني فعال شریف الله ناصري ، د تېلو د پمپونو خاوندانو، د ترانسپورت، د غوږ او نورو صنفي اتحادیو مشرانو، د معارف او د پوهنتونونو استادانو، قومي مشرانو، ځوانانو، واقعي مدني فعالانو او رسنیو څخه مننه کوم، چې دا ملي پروسه یې کامیابه کړه. همداشان له ټولو دوستانو او په هېواد مئینو افغانانو څخه، چې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې اوسیدل او یا له هېواد نه بهر و، د ټولینزو رسنیو له لارې زما د کار له لومړۍ ورځې یې حمایت کړی او ډېرو دوستانو راته ښې مشورې راکړي، له ټولو نه د زړه له تله مننه کوم. د دوی د ملاتړ او حمایت نه په غیر دا ممکنه نه وه، چې زه په خپلو چارو کې مؤفقه او د افغانیو د ترویج دا ملي پروسه مو بریالۍ کړي وی. د افغانیو په ترویج کې د افغانستان بانک د عمومي رئیس واحدالله نوشیر خاصه توجو، د وړو افغانیو رسول، د کابل په نرخ ډالر په افغانیو تبادله کول او د هغوی د همکارانو مشورو او حمایت مهمه ونډه درلوده، چې مننه ترې کوم.

د یادونې وړ ده، چې د داسې لوی پروسې تطبیق ځینو کسانو ته خامخا مشکلات هم پیښ کړي وي او یو څوکسه به زیانمن شوي هم وي، زه ترې بښنه غواړم. سیاست کې یوه فرموله ده، چې ورته Zero Sum Game یا د صفر او ټوله لوبه وایي چې یو لورې یو څه تاوان کوي خو بل لورې بیا خامخا یو څه ګټه کوي. په هره پریکړه کې یو کس تاوان کوي، خامخا بل کس ګټه کوي. که یو شمېر میلمانه ننګرهاریان چې په کابل کې یې ډبل معاشونه اخیستل او یا یو شمېر کسان چې یوازې په عادي تنخواه یې ګذاره کوله، یو څه متضرر شوي، مګر په کل کې د ننګرهار ولسونو، وړوکاروباریانو او بزګرانو ډېره ګټه وکړه. د ننګرهار د اقتصاد یوه زیاته برخه په توریزم ولاړه ده او هغه کسان چې له کابل یا نورو سیمو نه ننګرهار ته راځي، مجبور دي چې مصارف په افغانیو

وکړي او ګټه يې د ننګرهار ولسونو او ځايي کاروباريانو ته ځي. که د فيسبوک د هاها ډله قانع نه وي، هغوی ته جميل صبر غواړم؛ خو په لويه کې د دې پروسې د برياليتوب کريدت د ننګرهار او ختيځو ولايتونو ولسونو ته دي، چې اوس د کلدارو د استعمال له وجهې نه زوريږي او د افغانستان د نورو ولايتونو په شان هسکه غړی ګرځي.

## له کورونا سره مبارزه

د جمهوري رئيس په هدايت، د ۲۰۲۰م کال د جنوري مياشتې په شلمه نېټه مو د جمهور رئيس له ارشد سلاکار ډاکټر شاد محمد څرګند سره، د اوه ولايتونو واليانو، تايليند ته سفر وکړ، څو دغه ولايتونه په يو اقتصادي زون کې سره کار وکړي. په دغه سفير کې د کونړ والي عبدالستار ميرزکوال، د نورستان والي حافظ عبدالقيوم، د لغمان والي محمد اصف ننګ، د بدخشان والي، محمد ذکريا سودا، د کاپيسا والي عبداللطيف مراد او د پنجشير والي انجينر نظام الدين نظامي، د مالي وزارت استازی رفيق الله دانش او د څرګند صيب له دفتر څخه مسيح الله ليوال او ما ګډون درلود. د سفر موخه، د تايليند د سوداګرۍ له وزارت سره په همغږۍ، د افغانستان قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو د استخراج، پروسس، سرټيفيکيشن (Certification)، ټريننګ او بازار موندنې په برخه کې هلته د ځينو کمپنيو او افغاني تجارانو سره ليدل او د همکاري او سرمايه ګذارۍ امکانات برابرول و. په دغه سفر کې مو د افغانستان له سفارت شاژدافير طاهر قادري سره هم په هند کې وليدل، که د هند د حيدر اباد ايالت او ننګرهار ولايت د Sister-city پروګرام لاندې وتړل شي؛ نو ښه به وي ځکه د دواړه ولايتونه ترمنځ په خاصه توګه د تکنالوژۍ په برخه کې همکاري کېدلې شي.

د دغه لس ورځنې سفر په اخري ورځ، په بېنګکاک (Bangkok) کې و، چې په ښار کې هر چا ماسکونه واچول او ډېرو کمو کسانو ماسکونه نه درلودل. د کوربه کسانو نه مو پوښتنه وکړه، چې څنګه په يو دم ټولو کسانو

ماسکونه واچول. هغوی وویل چې پرون خبرونه خپاره شول، چې له چین څخه د کورونا په نوم نوی ویروس، چې په بینګکاک کې یې نښې لیدل شوي دي؛ نو ځکه خلکو د احتیاط په خاطر ماسکونه واچول. موږه هم څو درملتونو او دوکانونو ته لاړو چې ماسکونه واخلو، خو ماسکونه نه پیدا کېدل او ټول خلاص شوي و. په خپلو منځو کې مو ویلې چې خدای دې افغانستان ته دا ویروس نه راولي، ځکه نه افغانان له ماسک سره اشنا دي او نه به څوک دا ډول دسپلین مراعات کړي. د والي صیبانو په منځ کې هم ځینو ویلې چې چورت مه وهئ، کورونا په افغانانو تاثیر نه کوي.

د کوید نونلس (COVID-19) کورونا ویروس مخکني ډولونه لکه SARS او MERS چې مخکې له دې خپاره شوي و، هغه وختونو کې زما سفرونه زیات و. هغه کسان به چې د هندو- چاینا سیمې نه سفرکاوه، ټولو به په هوایي ډګرونو کې ماسکونه اچول او تدابیر به یې درلودل. موږ چې د بنګکاک هوایي ډګر ته راغلو، د هوایي ډګر کارکوونکو او اکثرو خلکو ماسکونه اچولې و، خو هلته هم په درملتونونو او دوکانونو کې ماسکونه نه و چې اخیستي مو وی. د کورونا ویروس دې نوې ډول ته کوید ۱۹ (COVID-19) ځکه وایي، چې دا ویروس د ۲۰۱۹م کال په اخره کې په چین کې راپیدا شو.

د ۲۰۲۰م کال د جنوري په ۲۳مه نېټه د ننګرهار د عامې روغتیا پخواني رئیس ډاکتر نجیب الله کاموال چې په ختیځ کې د WHO د واکسینو پروګرام مسوول و، د شپې له خوا دوه سلایدونه د کورونا ویروس د تدابیرو په هکله چې WHO تیار کړي و راولیږل او راته یې وویل که زه دا سلایدونه د خپل فیسبوک پاڼې له لارې نشر کړم، نو ښه به وي؛ ځکه زما د فیسبوک پاڼه ډېر کسان تعقیبوي. سبا سهار د سلام په خیر لیکنه کې مې دا سلایدونه خپاره کړل، چې د کورونا اوبا په ځینو هېوادونو کې مخ په خپرېدو ده، که داسې علایم مو ولیدل، نو له روغتیاپالانو سره معلومات شریک کړئ. یو کس راته ولیکل چې والي صیب ته خو خبریال نه یې چې دا خبرونه نشروې او ځینو مخالفینو دا هم

وویل، چې اوس والي یوه بله ډرامه پیل کړه، چې د خلکو توجو د ناکامورا لـه پېښې بلې خوا ته یوسي. ما ورتـه ولیکـل چـې د والي دنـده خبریـالي ده، چـې ولس له احتمالي خطرونو نه خبر کـړي او لـه ولسـونو سره پـه ګـډه لازم تـدابیر ونیسي.

د عامه پوهاوي په هکله، له کورونا ویروس څخه د ځانونو بچوني پـه هکلـه له اولې ورځې نه تر اوسه پورې چې تقریبا یو نیم کال تېـر شـوی، څـه تغیـر نـه دی رامنځته شوی. ماسکونه باید واچول شي، دوه مـتره فاصـله مراعـات شي او هم د بېځایه ګڼه ګونې، بندارونو، غونډو او ازدحام نه ځانونه لـري وسـاتل شي. یو بل ته لاسونه او غېږې ورنه کړل شي او لاسـونه پـه دوامـداره توګـه هـره ورځ څو ځلې په صـابون ووینځـل شي. دا ګـړی چـې همـدا لیکنـه کـوم، د کورونـا دویمه او درېیمه څپه په هندوستان، پاکستان، انګلستان او ځینـو نـورو افریقـایي هېوادو کې خپره شوې ده. د ملګرو ملتونو د صحت د نړیوالې ادارې، WHO د ارقامو په اساس، تر اوسه په نړۍ کې 3,198,528 کسه د کورونـا لـه وجهـې مـړه شوي او 152,534,452 میلیونه کسان په کورونـا اختـه شـوي دي[۳۹]. د افغانسـتان په ځینو ښارونو او په خاصته توګه په ننګرهار کـې د کورونـا نـوې درېیمـه څپـه پیل شوې ده. زما په اند د کورونا ویروس مړینه او د اخته کسانوشمېر له دې هم زیات دی، ځکه مخ پر ودې هېوادونو کـې لکـه افغانسـتان، ټولـو کسـانو لپـاره تیستونه نه و، نو د مرګ اندازه هم په سمه توګه سنجول شوې نه ده.

په اسلامي‌هېوادونو او په خاصه توګه افغانستان کې همدا یوه خبره وه، چـې دا ویروس په مسلمانانو تاثیر نه کوي، د افغانانو د معافیت سیستم قوي او اکـثرو علماو به ویلې، چې دا د کفارو کومه دسیسـه ده، چـې د مسـلمانانو پرضـد یـې جوړه کړې ده. ډېرو به ویلې، چې دا په ګرمـو سـیمو کـې تـاثیر نـه کـوي او لـه ګرمې سره دا ویروس له منځه ځـي. د دنیـا د صـحي سـکتور متخصیصـینو هـم

---

[۳۹] https://covid19.who.int (دا د ویبپاڼې صفحه په اخرې ځل د ۲۰۲۱م کال د مې میاشتې پـه درېیمـه نېټه وکتل شوه)

واضحه معلومات نشو ورکولای، چې خنګه دا وبا پیدا شوه او په څه ډول خپرېږي او تاثیرات یې به یې په زړو، ځوانانو او وړو څنګه وي؟ د ټولو عمومي توصیه همدا وه، چې فاصله یا Social Distancing باید ونیول شي، لاسونه باید په مکرره توګه په صابون ومینځل شي، ماسکونه واچول شي، لاسونه باید یو بل ته ورنه کړل شي او په عینې حال هغه کسان چې نور امراض لکه شکر، سرطان او ساه بندي لري، باید ډېر احتیاط وکړي. دا هم معلومه نه وه چې واکسین به په څومره وخت کې د دې ویروس په مقابل کې جوړېږي او په څومره موده کې به هغه توزیع کېږي.

په لومړیو میاشتو کې د ایران مذهبي مشر ایت الله خامنه یي هم دا ویروس د امریکا دسیسه ګڼله[۴۰]. د ایران حکومت او ایرانیانو د کورونا ویروس خپرېدل جدي ونه ګڼل او له چین هېواد سره یې د تګ او راتګ تعلقات وساتل. کله چې د کورونا ویروس له چین څخه ایران ته سرایت وکړ، نو د ایرانیانو وضعیت یې ډېر خراب کړ. هغه افغانان چې په دې ویروس اخته شوي و، ایرانیانو په روغتونو کې نه داخلول او په عمومي ډول یې د ټولو افغانانو د اخراجولو امر ورکړ. په دې توګه هره ورځ به په زرګونو کسان هرات ته داخلېدل او په ډېره چټکې سره د کورونا اوبا په هرات کې خپره شوه. هغه افغانان چې له ایران نه ویستل کېدل، د هېوادو له نوور ولایتونو هم و او پدې توګه دا ویروس په زیاتو ولایتونو کې خپور شو. د افغانستان مرکزې حکومت هم یو شمېر قیودات له هرات څخه د کابل په لوري ولږول، مګر چندان ګټه یې نه درلوده.

مخکې له دې چې دا ویروس په ننګرهار کې خپور شي، له ټولو ولایتونو څخه دمخه د عامه پوهاوي او احتمالي خطرونو د مخ نیوي په خاطر مو یو

---

۴۰ https://www.aljazeera.com/news/2020/3/23/iran-leader-refuses-us-help-cites-coronavirus-conspiracy-theory (اخري ځل دا ویبپانه د ۲۰۲۱م کال د جون د میاشتې په لومړۍ نېټه وکتل شوه)

کمېسون د جنوري د میاشتې په ۲۴مه نېټه په عاجله توګه جوړ کړ، چې د ملګرو ملتونو د ادارو تر څنګ، د ننګرهار ټولو دولتي او غیر دولتي صحي ادارو پکې غړیتوب او ګډون درلود. څرنګه چې هر تصمیم د خلکو په هکله و او د خلکو په ژوند یې مستقیم تاثیر درلود، د حکومت په روغتیایي سکتورنو سربېره، د ډاکترانو د اتحادیې، د درملو د اتحادیې، د امنیتي ادارو غړي، اصنافو، علماو او د ننګرهار د ولایتي شورا په استازولۍ ډاکتر ناصر کاموال پکې برخه درلوده. زما تجربه د داعش د کورنیو د مدیریت او هم د افغانیو د ترویج په هکله دا وه، څومره چې د ټولو اقشارو استازي په کمېسون کې غړیتوب او تصمیم نیولو کې برخه ولري، په هماغومره اندازه د کمېسون پریکړې په ښه توګه عملي کېدلې شي. د مرکز او ولسوالیو په سطحه مو د وټس اپ ګروپونه جوړ کړل او ټولې پریکړې او معلومات به مو د وټس اپ ګروپونو له لارې شریکول. دافغانیو د ترویجو په شان مو په ولسوالیو او ناحیو کې هم له کورونا ویروس سره د مبارزې کمېسونونه د ولسوالانو او ناحیو د مشرانو په مشرۍ جوړ کړل. فکر کوم زما د ماموریت په دور کې د وټس اپ استعمال او ګروپونو جوړول، د ولایت د ټولو چارو په تعقیب او اجرااتو کې خاص رول درلود او د وټس اپ استعمال د دولتيادارو او خلکو تر منځ عام شو. له مرکز څخه د کورونا په خاطر د کمېسون جوړولو هدایت د فبروري د میاشتې په ۲۹مه نېټه راغی، حال دا چې په ننګرهار کې موږ دا ډول کمېسون یو میاشت دمخه جوړ کړی و.

د ملګرو ملتونو د احتمالي وړاندوینې په اساس، که دا وبا په ننګرهار کې خپره‌ېږي؛ نو کم تر کمه له یو لک څخه تر یو لک او شل زره کسانو پورې له منځه وړلی شي. دا رقم زړه بوږنوونکې و. د دې لپاره چې عامه پوهاوی زیات شي، یو لړ جدي پرېکړو ته اړتیا وه، چې ولس دا ومني چې دا ویروس په دنیا کې مخ په خپرېدو دی او دا عامه وبا ده. ولس ته په لاندې څو مهمو برخو کې د عامه پوهاوي اړتیا اړینه وه:

- د وبا خپرېدل، له دین سره هېڅ اړخ نه لري او دا وبا په کافرو او مسلمان، زړو او ځوانانو، ښځو او نرانو، غریبو او مالدارو، په لوستو او نا لوستو، همداشان په لوړ پوړو او ټیټ پوړو ټولو چارواکو باندې یو قسم تاثیر لري. که ځانونه ونه ساتي، نو هېڅوک ترې بچ کېدلې نشي.
- ولسونه څنګه د ګڼې ګوڼې مخه ونیسي ـ، ځکه د افغانانو ټولنیز او اقتصادي ژوند له ګڼ اوسیدلو سره تړلی دی.
- بندارونه، راټولېدنې او ازدحام په بازارونو کې څنګه کم شي؟
- له کلتوري اړخه افغانانو یو بل ته لاسونه او غېږې ورکوي او د یو بل مخونه چېوي؛ نو څنګه دوی له دغه دود څخه ځان وساتي، چې یو بل ته لاس او غېږ ورنه کړي او دا عادت شي؟
- مېلمه پالنه او نورو ټولنیزو او دینې مراسم کې لکه ودونو، خیراتونو، جنازو او جوماتونو کې څنګه ازدحام کمول کم شي؟ د قانون او پریکړو د تطبیق ترڅنګ د عام ولس ذهنیت جوړول مهم و چې مرسته وکړي او پریکړې په خپلو ځانونو او کورنیو بې له زوره تطبیق کړي، ځکه د هرې پریکړې لپاره دا مشکله وه، چې امنیتي اداري مؤظف او هغه په زوره عملي کړي. ځکه چې امنیتي مسوولین د ننګرهار د امنیت په ډېرو نورو مسایلو بوخت و.
- په لومړنیو ورځو کې د عامو خلکو، د رسنیو استازو او حتی یو شمېر ډاکترانو په ډېرو اصطلاګانو لکه قرنطین (Quarantine)، د تجرید مرکز (Isloation Center)، ټولنیز واټن (Social Distancing) او د وینټلیټرز (Ventilators) په استعمال سر نه خلاصېده. دا مهمه وه، چې ولس له دغه اصطلاګانو سره بلد شي.
- که قرنطین او یا نیمه قرنطین او په ګرځېدو بندیز لګول کېږي، څه با ید وشي؟ ځکه فقر زیات دی او د افغانستان ۵۰ سلنه نفوس د فقر کرښې لاندې ژوند کوي.

- له ناچارو او فقیرو کسانو سره څنګه مرسته وشي؟
- صحي سکتور غړي هم نه پوهېدل که د کورونا مریض پیدا کېږي، څه ورسره وکړي؟ څنګه تشخیص یې وشي؟ ځکه په ننګرهار کې د کورونا د ټیست امکانات نه و. د کورونا د مرض علایم د نورو موسومي امراضو لکه ریزش، زکام، ځان دردي او اسهال ته ورته و. همدا شان لازم طبي وسایل لکه (Personal Protection Equipment) PPE او ماسکونه د ډاکترانو د ځان ساتنې لپاره په نشت حساب و. د کورونا د مرض لپاره مشخصه دوا هم نه وه. د مریضانو لپاره رواني تسکین ډېر مهم و، چې مورال یې اوچت وساتل شي یعنې زړه ونه غورځوي، ځکه وېرې یا Placebo د کورونا مریضان ژر له منځه وړل.
- له ټولو نه دا مهمه وه، چې امنیتي ادارې په کورونا ویروس اخته نشي-ځکه د امنیتي پرسونل د مریضۍ په پایله کې د ټولنې عامه نظم خرابیدلی شو او هر څه له کنترول څخه وتل.

متاسفانه په کلیو او بانډو کې ملایان چې د اسلام له دین څخه پوره خبر نه دي، په عوض د دې چې خلکو ته د ځان ساتنې توصیه یې کړې وی، هغوی ته به ویل چې دا د الله تعالی امتحان دی او وېره مه کوئ. تبلیغانو خو بیخي دا خبره نه منله او د جوماتو ګرځېدو ته یې دوام ورکاوه. همېشه له علماوو سره خبره اسانه ده، اما د ملایانو سره چې په دین سم نه پوهیږي، بیا ګذاره مشکله ده، ځکه هغوی له ځانونو څخه فتواې ورکوي او د کلي کور خلک پرې باور کوي. په اطرافونو کې به ډېرو ویلې، چې دا د یهودو دسیسه ده، چې حرمین بند کړي. که به دې ورته وویلې، چې په هرات کې خپره شوې، دوی به ویل چې دا په شیعه ګانو تاثیر کوي، په سنیانو یې نه کوي.

لومړۍ مهمه مسئله دا وه، چې د جمعې په خطبو کې علماو د وبا مرض د خپرېدو په هکله ولس ته عامه پوهاوې وکړي. د جلال اباد ښار له علماو سره مو ځانګړې ناسته وکړه او هغوی وعده وکړه، چې په خطبو کې به د وبا مرض د خپرېدو او ځان ساتنې په هکله تبلیغ کوي. په اسلام کې واضحه راغلي چې د

وبا له مرض څخه ځان لرې وساتئ او کوم ځای کې چې یاستئ، له هغه ځای څخه بل ځای ته مه ځئ، څو نور ستاسي په مرض اخته نشي. هغه پېښې چې د صدر اسلام په وخت کې شوي، د هغې او هم د حدیثو په رڼا کې ولسونو ته باید معلومات ورکړل شوي وی، د بخاري شریف صحیح حدیث دی، چې د جزام مرض نه داسې منډې وهئ لکه یو کس چې له زمري څخه منډې وهي. (فر من المجذوم کما تفر من الاسد).

د پاکستاني او هندي پیرو تبلیغیانو له دواړو ډلو مشرانو سره مې جلا جلا ناستې وکړې او هغوی مو وهڅول؛ چې د کورونا په سیزن کې د تبلیغي اجتماعګانو نه تېر شي. د فیسبوک په پاڼه مې ولیکل، هغه ملایان چې د کورونا د ویروس په هکله شک لري او وایي چې وېره دې نه لري، هغوی باید هرات ته ولېږم؛ چې د کورونا د مریضانو خدمت وکړي ځکه د مریضانو خدمت د دین له اړخه زیات ثواب لري او دوی باید دا ثواب وګټي.

د پورته ټولو ستونځو په هکله مو دا تصمیم ونیوه، چې هر څه باید لومړی له ځان څخه پیل کړو. په لومړي ځل د انعکاس په تلویزیون کې د مثبت ټولنې لخوا په یوه لویه جوړه شوې غونډه کې برخه واخیستله؛ کله چې د غونډې تالار ته داخل شوم، نو ټولو ته مې وویل، چې زه هېچا ته لاس نه ورکوم؛ ځکه د وبا د مرض د خپرېدو په خاطر باید فاصله مراعات کړو. ټولو ته عجیبه غونډې ښکاره شوه. له کابل څخه د ټاکنو د کمېسون یو شمېر لوړ پوړي چارواکي ولایت ته راغلي و، چې د ولایتي شورا وکیل اجمل عمر هم ورسره و، ما هېچاته لاس ورنه کړ او د مومندو د دستور په شان مې ټولو ته وویل: چې په جمع ستړي مه شئ. دا کسان خفه شول خو وکیل صیب اجمل عمر ورته ویلی و، چې خفه کیږي مه ځکه والي صیب هیچا ته لاس نه ورکوي. په هره ناسته او غونډه کې به مو د کورونا لپاره عامه پوهاوی کاوه.

د بهراباد په سیمه کې د معلمینو د شهرک د افتتاح لپاره لاړو او په خپلو خبرو کې مې د کورونا مرض د خپرېدو په هکله کافي بحث وکړ. له خبرو

وروسته، معلمین راپاڅېدل، چې له ماسره ستړي مشي وکړي. ورته مې وویل چې دا زما تبلیغ په تاسي هېڅ تاثیر ونه کړ. ما تاسي ته وویل چې لاسونه او غېږې یو بل ته مه ورکوي، نو چې په تاسي تبلیغ تاثیر نه کوي، په عامو خلکو به څه تاثیر وکړي او هیچا ته مې لاس ورنه کړه.

له کورونا ویروس سره د مبارزې لپاره یو لوی فرهنګي تغیر ته اړتیا وه. د ټولو دفاترو په مخکې مو د اوبو اودانونه او صابون ایښودل جبري کړل، چې هر څوک دفاترو ته ننوځي، باید خپل لاسونه په صابون ووینځي او بیا دفاترو ته داخل شي. له خصوصي سکتور مو هم وغوښتل چې په لارو کې او هم د خپلو دوکانونو په مخه کې اودانونه کېږدي او خلک دې ته تشویق کړي، چې په صابون لاسونه ووینځي. لکه څنګه مو چې د کلدارو د بندیدو د ورځې نه یوه اوونۍ مخکې د عامه پوهاوي کمپین وچلوه چې هر څوک دولتي دفاترو ته ننوځي باید کلدارې یې په جیبونوکې نه وي، همداسې مو د کورونا په هکله دا کمپاین وچلوه، چې هرڅوک دفاترونو ته ننوځي خپل لاسونه باید په صابون ووینځي.

له تلویزونونو سره مې مرکې د کورونا په هکله زیاتې کړې او هره ورځ به مو د ټولنیزو رسینو له لارې نوي معلومات له ولسونو سره شریکول. البته ما ته هم لازمه وه، چې هره ورځ د کورونا په هکله نوي معلومات تر لاسه کړم او هغه له ولسونو سره شریک کړم. لکه مخکې مې چې وویل: چې ډېری ډاکترانو ته هم پوره معلومات نه و، چې څه وکړي او تر اوسه هم ډېرو پوښتنو ته ځوابونه نشته، په دې هکله مې خپل ځوی ډاکتر نایل محمود میاخېل ته چې په امریکا کې د طب ډاکتر دی، دنده سپارلې وه، چې نوي معلومات هره ورځ له ماسره شریک کړي. د ملګرو ملتونو د روغتیا د نړیوالې ادارې به هم هره ورځ د وټس اپ ګروپونو له لارې معلومات شریکول.

د کورونا د اوبا مرض د تشخیص لپاره په ټوله دنیا کې په اولو وختونو کې درې مرکزونه و، چې یو یې د امریکا په اتلانتا، بل په هالیند او درېیم یې په هانګ کانګ کې شتون درلود. د کرونا د تیست کیټونه عام نه و. په دې توګه

تشخیص د کورونا مشکل و. په افغانستان کې په لومړي سر کې یو مرکز په کابل کې جوړ شو، چې سمپلې به له ولایتونو نه کابل ته لیږدول کېدلې او بیا به نتیجه له هغه ځای نه تقریبا په دوه اونیو کې بیرته ولایتونو ته راتله. د سمپلو اخیستلو او ډیټا ساتلو لپاره هم منظم میکانیزم او سیستم نه و. وروسته دویم مرکز په هرات او دریم مرکز په ننګرهار کې جوړ شو، ځکه دلته د عامې روغتیا په روغتون کې د PCR ماشینونه د نورو امراضو د تشخیص لپاره له پخوا څخه موجود و او یوازې د کورنا د تیست لپاره د کټونو اړتیا وه. له دې علاوه په دې ټولو سنټرونو کې د ټیست ظرفیت او د ټیست کیتونه ډېر کم و. په دې خاطر زیاته اتکاء په ټیستونو نشوه کېدلې؛ صرف ټیستونو یوازې د وبا د خپرېدو ټرینډ معلومولی شو چې په کومو سیمو کې اوبا مخ په خپرېدو ده. په لومړي سر کې به چې د چا ټیست مثبت شو، هغه کس به په کورونو کې قرنطین کېده. د نظارت یا Surveillance ټیمونو ډاکترانو او نرسانو به ورته لازم هدایت ورکول. له کورونا ویروس سره مبارزه د جلال اباد ښار او ولسوالیو کې په یوه ډول مخې ته تلله.

کله چې په هرات کې وبا زیاته شوه، په جلال اباد کې مو د ایران قونسلګرۍ ته مکتوب ولېږه، چې په قونسلګرۍ کې د ویزو څانګه بنده کړي، ځکه هره ورځ له هرات څخه ننګرهار ته د سلهاو کسانو تګ او راتګ په چټکۍ سره ویروس ننګرهار ته انتقالولی شو. دا تصمیم مو بې له دې چې د خارجه وزارت له لارې غوښتنه وکړم، د ننګرهار د ولایتي اداري له ادرسه مو یو مکتوب د ایران قونسلګرۍ ته ولېږه، ځکه پوهېدم، چې د خارجه وزارت له لارې کم تر کمه شاید دوه درې اوونۍ ونیسي-او په دې وخت کې دا مرض ننګرهار کې په چټکۍ سره خپریدلی شي.

د ننګرهار د ولایتي اداري لومړنۍ هلې ځلې دا وې، چې د ننګرهار صحي سکتور څو له کورونا د اوبا سره اشنا کېږي، لازم وسایل ترلاسه کوي او د تجرید مرکز په سمه توګه فعالیږي، په کتلوي شکل د کورونا ویروس د

خپرېدلو مخه ونیول شي. دا ممکنه نه وه، چې کورونا به نه خپرېږي، خو په یو دم خپرېدلو یې صحي سکتور فلج کولې شو. دویمه مسئله دا وه، که کورونا خپرېږي، نو باید صحي سکتور فلتې یا هموار وساتل شي، چې ډاکتران د مریضانو پالنه په سمه توگه وکړی شي. درېیمه مهمه مسئله د عامه نظم ساتل و. که امنیتي سکتور په دې مرض اخته کېږي، عامه نظم باید خراب نه شي، ځکه د عامه نظم په خرابېدو سره هر څه له کنتروله وځي او وضعیت بیخي خرابیږي. د ننگرهار د قرنطین او نیمه قرنطین قیوداتو، د ایران قونسلگرۍ د ویزو ځانگې بندول، د ولایت او ولسوالیو تر منځ په تگ او راتگ بندیز، له کابل او گاونډیو ولایتونو سره د تگ او راتگ مخه نیول، د پینجشنبې په ورځ له کابل څخه جلال اباد ته لارې بندول، چې میلمانه ننگرهاریان هره جمعه له کابل څخه رانشي او له ځانونو سره ننگرهار ته ویروس انتقال نه کړي، د تورخم قرنطین او عامه پوهاوي دا گټه وکړه، چې په کتلوي توگه د کورونا ویروس په ننگرهار کې خپور نه شو. د کورونا د تجرید په مرکز کې سیستم فلتې یا هموار وساتل شو او د مریضانو تعداد همېشه د ۲۰-۴۰ کسانو په منځ کې و او عامه امنیت خراب نشو. که څه هم د ننگرهار د ملي امنیت په ریاست کې ۴۱۴ کسه د رئیس، معاونینو او مدیرانو په سطحه د کورونا په ویروس اخته شول او ټول دفاتر وتړل شول. کله به چې کومه امنیتي پېښه کېدله، نو خلکو به راته ویلې چې ولې امنیتي ادارې امنیت ساتلو کې پاتې راغلي، اما خلکو ته مو نشو ویلای، چې ټول ملي امنیت په کورونا اخته دی. هغوی که د ریاست دېوالونه هم وساتي، لویه خبره ده. همداسې د پولیسو او ملي اردو یو شمېر کسان د مشرانو په شمول په کورونا اخته شوي و.

پینځه میاشتې ما شخصا کوښښ وکړ، چې له کورونا څخه بچ شم، خو کله چې د ښیوې په ولسوالۍ کې د محلي پاڅون کوونکو د مشر- حاجي اکرم په جنازه کې ځانمرگي حمله وشوه، د جمهوري ریاست لومړی مرستیال، امرالله صالح او ورسره لوړ پوړی پلاوی جلال اباد ته راغلل، نو له دوی سره زیات تماس د دې باعث شو ، چې زه هم د مې د میاشتې په ۲۴مه نېټه په کورونا اخته

شم. د قوي احتمال په اساس، د ملي امنیت اوپراتیفي مرستیال اجمل عابـدي دا ویروس درلود او موږه یې هم پرې اخته کړو. ښه وه چې دا د ننکیـو مـرض مـو تیر کړ. د ولایت معاونین او اکثره رئیسـان هـم پـه کورونـا اختـه شـوي و. د دې کتاب د لیکلو په وخت کې د کورونا دریمه څپه په هنـد کـې خپـره شـوله او د هغـه هېـواد صـحي سـکتور فلـج او اکسـیجن پـه روغتونـو کـې نـه پیـدا کېـده. همداسـې د اکسـیجن لـه کمبـود سره د پیښـور روغتونـه هـم مخـامخ دي. پـه افغانستان کې هم دریمه څپه مخ پـه خپرېـدو او دافغانسـتان مکاتـب بیـا د دوه اونیو لپاره رخصت کړې شول، چې د دوه اوونیـو رخصـتي دوه وار تمدیـد هـم شوه. په کابل، ننګرهار او نورو ولایتونه د اکسیجن کمبود سره مخامخ دي. ډیـر مهم کسان او مشران د کرونا د نوې څپو سره له منځه لاړول.

په لومړیو شپو کې د کورونا ویروس درلودل د خلکو په مـنځ کـې یـو قسـم شرم ښکارېده او هر چا به له یو بل څخه کرکه او وېره درلوده. د دې لپـاره چـې څوک له مریض کرکه ونه کړي، ډېرو به ویلې چې په ننګرهار کـې محرقـه پیـدا شوې او مریضان یې په محرقه اخته دي. دا چې د ټیستونو کافي زمینـه مسـاعده نه وه، ډېرو کسانو کورونا په محرقه بدله او تېره کړه. په ننګرهار کې لومړۍ پېښه د مارچ د میاشتې په یو دېرشمه نېټه ثبت شوه. په کورونـا اختـه کـس، حضرـت بلال نومیده او د لغمان ولایت و، چې تازه له سعودی عربستان څخـه د عمـرې اداء کولو نه وروسته راستون شوی و. د دې شخص هویـت مـو پـه هغـه وخـت کې ځکه نشر کړ، چې خلکو ته معلومه شي کورونا په مسلمانانو تاثیر کوي ولو که له عمرې نه هم څوک راغلی وي. حضرت بـلال، جـلال ابـاد کـې د خپلـې لمسۍ کور ته راغلی و او ټیست یې د ننګرهار په نوم ثبت کړی و، یعنې لغـمان چلې یې کړی و. بیا هغه په لغمان کې تشخیص او هلته قرنطین شـو. د لمسـۍ د کورنۍ غړي یې هم په جلال اباد کې پـه خپـل کـور کـې قـرنطین کـړی شـول. دویمه پېښه د اپریل د میاشتې په دریمه نېټه ثبت شـوله. عمراخـان ګلابـزی لـه امریکې بیرته راواپس شوی و، ځکه د کورونا ټیست یې مثب و. دواړو پیښو تـه

مو پوره تبلیغ وکړ، چې کورونا په ټولو هېوادونو کې یوقسم په مسلمان او غیر مسلمان تاثیر لري. کله چې حضرت بلال په لغمان کې قرنطین شو، ډاکتران او خپلوان یې هم ورته نږدې نه ورتلل، ځکه د کورونا په هکله نهایت زیات تبلیغ له امله د خلکو په منځ کې وېره خپره شوې وه. د ۲۰۲۰م کال د اپریل د میاشتې په شپږمه نېټه د کابل په امیري روغتون کې ډاکتر حنیف الله حنیف چې د کونړ ولایت د پیچ درې و، د کورونا په ویروس مړ شوی و، جنازه یې ننګرهار تـه راوړه. د بهراباد په هدیره کې خلکو مړی نه پرېښوده؛ چې ښخ یې کړي. لـه ځایي خلکو سره دا وېره وه چې کورونا به د دوی په سیمه کې خپره شي. بیا یې جنازه د مقام خان سیمې هدیرې ته یوړه؛ خو هلته هم خلکو جنازه ښخېدلو تـه نه پرېښوده. کله چې ما ته خبر راغی؛ نو ښاروالۍ او امنیه قوماندانۍ تـه مـو هدایت ورکړ، چې نوموړی هلته ښخ کړي او څوک یې ممانعت ونه کړي ځکه ویروس له ځمکې څخه نه خپرېږي.

په اوله کې مو په عامه پوهاوي تاکید کاوه، خو وروسته مو توجو دا وه، چې له کورونا سره خلک اشنا شي او وېره ونه لري. کله چې د روژې د میاشتې پـه وروستۍ ورځ زما د کورونا ټیست مثبت شو، پـه فیسبوک مـې ولیکـل چـې مـا ځان قرنطین کړ او د اختر په ورځو کې له خلکو سره لیدل نه کوم. خپل مـورال باید لوړ وساتو او بل هدف مې دا و، چې د کورونا درلودل د شرم خـبره نـه ده. په همدې ورځ، د افغانستان د علماو شورا رئیس مولانا قیام الدین کشاف چې زما استاد، د پلار مې ملګری او په یوه دفتر کې مو سره ډېر وخت کـار کـړې و، وفات او جنازه یې ننګرهار ته راوړه. د جمهور رئیس هدایت و، چې جنازه یـې په ښو مراسمو سرته ورسېږي. کله چې د ښاروالۍ له میلمستون څخه راووتـم او د جنازې لپاره شیرزي لوبغالي ته په لاره وم، چې د صحت عـامې رئـیس راتـه زنـګ ووهـه چـې زمـا د کورونـا ټیسـت مثبـت دی؛ نـو لـه لارې څخـه بیرتـه ګرځېدلې نه شوم. د ننګرهار د رسنیو د دفتر مشر عطاءالله خوګیاني راتـه وویـل چې دا خبر نشر کړو، ما ورته وویل چې هو! خو زما نیت دا نه و، چې له جنازې یې د مخه نشر نه کړئ. هغه سمدستي په لاره خبر پوست کړی و، چې د والي

صیب ټیست مثبت شو او خدای دې شفا ورکړي. که څه هم ماسک مې اچولې و خو دهاها ډلې تبلیغ پیل کړ، چې والي پخپله په ګڼه ګوڼه کې برخه اخلي او نور منع کوي. په هر حال د هاها ډلې دا نیوکه سمه وه باید بېرته راګرځېدلی وی؛ خو بعضی وخت کې موقف او شرایط داسې ایجابوي، چې شاته څوک نشي تللی. (د کورونا په هکله او هم د ننګرهار د پېښو په هکله زما د فیسبوک ورځني پوستونه، د ننګرهار د څپو، په نوم کتاب کې چاپ شوي دي. فکر کوم چې لوستونکو ته به یې لوستل دلچسپه وي)

له کورونا سره د مبارزې په لړ کې د هرې پرېکړې په هکله تصمیم نیول اسان نه و، ځکه په هره پرېکړه کې ولس متضرره کېده. موږ پرېکړه د ګټې او تاوان په حساب نه کوله. د پرېکړو موخه د مرګ او ژوند تر منځ وه، چې ځنګه د احتمالي تلفاتو مخه ونیول شي. د ۲۰۲۰ م کال د مارچ د میاشتې په یولسمه نېټه د صحت عامې معین، ډاکتر فدا محمد پیکان ننګرهار ته راغی، چې د کورونا د ویروس د مخنیوي لپاره څنګه تدابیر ونیسو؟ هغوی پلان درلود چې حوزوي روغتون کې د کورونا د تجرید لپاره جدا وارد جوړ کړي. ما ورته وویل چې په داخل د روغتون کې د کورونا او نورو مریضانو ترمنځ جدا والی مشکل دی او ټول مریضان به له خطر سره مخ شي. موږ بله کورونا چې د داعش د کورنیو ساتل و، په ننګرهار کې تېره کړې ده. حاجي کیمپ مو بیرته ترمیم او رنګ کړی دی. هلته تشنابونه، اشپزخانه، د ډاکترانو لپاره د اوسیدو ځای او احاطه هرڅه شتون لري. د تجرید مرکز لپاره له ټولو نه ښه ځای حاجي کیمپ دی، چې له ښار لږ بیرون هم دی. د اوبو کمبود مشکل مو هم د نوي څاه په جوړولو سره حل کړی دی. حاجي کیمپ ته یو ځای لاړو، چې هغه ځای یې وکاته، نو ډېر زیات یې خوښ شو او ویې ویل چې داسې سهولت او ښه ځای په کابل کې هم نشته. فیصله په همدې شوه، چې د کورونا د تجرید مرکز به په حاجي کیمپ کې وي. که مریضان زیاتېدل، بیا د ننګرهار پوهنتون له لیلې څخه د دویم اپشن په توګه استفاده کولای شو. په حاجي کیمپ کې تر

دوه سوه مريضانو پورې ځای په ځای کېدای شول. د عامه روغتيا رياست ته دنده ورکړل شوه، چې کوم اضافه چپرکتونه په روغتونونو کې لري، هغه دې حاجي کيمپ ته انتقال کړي، ځکه د کورونا د مريضانو لپاره يوازې جلا ځای مهم دی او د ضرورت په وخت کې اکسيجن ته اړتيا لري.

اعلان مو وکړ، چې د تجريد مرکز لپاره حاجي کيمپ وټاکل شو او هغه به په دوه سوه بستريز روغتون بدلوو. زموږ له اعلان سره سم د شرق تلويزيون خبريال حاجي کيمپ ته لاړ او راپور يې جوړ کړې و چې کافي امکانات لا په روغتون کې نشته دی. د هاها ډلې يو شمير کسان هم حاجي کيمپ ته ورغلل اوعکسونه يې اخيستی و، چې روغتون خو داسې نه وي او هېڅ شي په روغتون کې نشته دی. دا چې ما هم د خبريالي دنده کړې وه او په ننګرهار کې مې له خبريالانو څخه زيات معلومات له ولسونو سره هره ورځ شريکول، نو ورته ومې ليکل، چې تاسي د روغتون او تجريد د مرکز فرق نه شئ کولای، نو ښه دا ده چې په طبي اصطلاګانو ځانونه پوه کړئ او بيا کره معلومات له ولسونو سره شريک کړئ. تر اوسه لا په ننګرهار کې د کورونا کومه پېښه نه ده ثبت شوې او موږ د احتمالي شيوع يا خپرېدو لپاره تياری نيسو. موږ کله ويلي چې په يوه شپه کې حاجي کيمپ په دوه سوه بستريز روغتون بدل شوې دی، بلکې ويلي مو دي چې دا به د تجريد مرکز وي او تر دوه سوه مريضانو پورې هلته ځايېدلی شي. په هر حال زموږ د هرې پريکړې په مقابل کې د ننګرهار د هاها ډلې به هاها جوړوله، خو په اخره کې د هاها ډلې دومره خپل اعتبار له لاسه ورکړی و، چې زما ځواب ته يې حاجت نه و. ولسونو، واقعي مدني فعالانو او د ادارو غړيو به پخپله د هغوی منفي نيوکو ته ځواب ورکاوه. د عوامو په اصطلاح د ننګرهار د هاها ډله سوړې ته ننوتله او همدا اصطلاح د افغانستان په نورو ولايتونو کې هم د منفي ګرا کسانو په مقابل کې عامه شوه.

د يادونې وړ ده، چې په لومړي سر کې د صحت عامې ډاکتران په دې نه پوهېدل، چې څه نوع لست د طبي وسايلو او اړتياو برابر کړي. تر يوې مياشتې پورې دوی لست برابر نه شو کړای او دا داسې وخت و، چې د افغانستان هوايي

او ځمکنۍ لارې له نږدې هېوادونو سره تړل شوې وې او هوايي پروازونه افغانستان ته بند شول. طبيعي خبره ده، چې کله د يو هېواد لارې بندې شي، د هر ډول اجناسو کمبود رامنځته کېږي او د خوراکي مواد نرخونه هم لوړېږي. دا چې کلداري تازه بندې شوې وې، نو د کلدارو ايجنټانو به د نرخونو لوړوالی له افغانيو سره تړه، چې د افغانيو د رواج کېدلو سره نرخونه لوړ شول. البته يو شمېر فرصت طلبه کسانو او تجارانو له داسې فرصت څخه ګټه هم کوله، خو د ننګرهار قرنطين او د نرخونو کنترول د هېواد په کچه له ټولو ولايتونو نه ښه و. د قرنطين او نيمه قرنطين په وخت کې زه زيات په ښار کې ګرځيدلم؛ څو پرېکړې په سمه توګه عملي شي.

هر سکتور خپل دلايل درلودل، چې دوکاونه يې بايد بيرته وي. خياطانو ويلې چې اختر راروان دی او د دوی ټول کال ګټه د روژې په مياشت کې ده، نو دوی ته بايد اجازه ورکړل شي، چې د خياطي دوکانونه يې بيرته وي. سلماني خانو هم خپل عذر درلود. درملتونونو او د دواپانو عمده فروشانو خپل دليل درلود که د دوی دوکانونه بنديږي، نو صحي توکي نور هم قيمته کېږي. صرافانو هم ويلې، چې که صرافي بنده وي؛ نو تجارت، راکړه او ورکړه ټول په ټپه دريږي. هره پرېکړه به له کورونا سره د مبارزې کمېسون په شريکه کوله او عملي کول يې هم د کمېسون د غړيو کار و. له درې ورځو مکمل قرنطين وروسته مو يوازې د خوراکي توکو دوکانونو ته اجازه ورکړه، چې بيرته وي، ځکه د جلال اباد ښار، ولسواليو او هم په ختيځو ولايتونو کې د اړتياو کمبود و. هره پرېکړه د عامې روغتيا او د ملګرو ملتونو د روغتيا د نړيوالې ادارې په مشورو او معلوماتو په اساس نيول کېده، ځکه که د هغوی مشورو ته غوږ نه وی نيول شوی، نو د احتمالي پيښو مسؤليت د ولايت په اداره و. پدې توګه هېچا نشو ويلی، چې د ولايت پريکړې يوازې د والي په خوښه دي، بلکې د پرېکړو او عملي کېدلو مسؤليت د ټولو شريک مسؤليت و. له تجارانو سره مو منظمې ناستې درلودې او هغوی ژمنه وکړه، چې هغه توکي چې په ګدامونو کې

لري، هغه به په پخوانیو نرخونو پلوري او ډېرو دا ژمنه عملي کړه. البته کله به چې کوم یو کس زیاتی کولو او خبر به کمېسون ته رسیده، نو مخه به یې کمېسون پخپله نیوله.

په داسې حالت کې د نرخونو کنترول اسانه نه وې، ځکه تجارانو هم ډېر مالونه نه درلودل او مجبور و، چې نوی خرید هر ورځ وکړي او په نوې بیه خپل مالونه خرڅ کړي. که تجارانو نوی خرید نه وی کړی، بیا مارکیټونه د خوراکي موادو له کمبود سره مخامخ کېدل او نرخونه څو چنده لوړېدل. په دیتوګه د عرضې او تقاضې تر منځ تعادل ساتل پکار و. دا د بحران مدیریت و او د بحران په مدیریت کې اصلي مشکل باندې فوکس کول پکار وي او جانبي عوارضو باندې زیات بحث نه کېږي. اصلي مسئله د کورونا ویروس کنترول او په چټکې نه خپریدل و، نور مسایل چې نرخونه کمیږي یا زیاتیږي، دا د مارکیټ کار و چې بازار پخپله کنترولول. البته د احتکار د مخنیوي لپاره ولایتي اداري مسؤلیت درلود او ډېر دوکانونه او سرایونه مو بند کړل او هیچا مالونه احتکار کولای نه شول چې قیمتي ته یې وساتي.

د عامې روغتیا وزیر، ډاکتر فیروزالدین فیروز ننګرهار ته راغی او په ښار کې سره وګرځېدو او د تجرید مرکز نه مو لیدنه وکړه. په خبرې کنفرانس کې چې په ژوندې بڼه خپرېده، نوموړي وویل، چې د ننګرهار تدابیر د کابل او د افغانستان له نورو سیمو نه ډېر ښه دي. هغه وویل چې له کورونا سره د مبارزې پریکړې یوازې په ننګرهار کې عملي شوي دي؛ حتی په کابل کې هم داسې پریکړې نه دي عملي شوي.

د ننګرهار د پختورګو په روغتون کې اته وینټیلیزر یا د ساه اخستنې ماشینونه کاغذ پیچ له پخوا څخه موجود و، چې ډاکتران یې په استعمال نه پوهیدل. وینټیلیزر په هغه مرحله کې پکاریږي، چې مریض تقریبا ختم وي او کله چې مریض په وینټیلیزر پریوت چانس د رغیدو یې ډېر کم او په نشت حساب دی. دا ماشینونه زیاتره په پرمخ تللي هېوادونو کې د انشورنس د سو کېدلو دمخنیوي په خاطر استعمالیږي، چې وښایې د مریض تداوې یې تر اخرې حده

کړې ده. په دغه وخت کې د عامو خلکو په منځ کې اوازه وه، چې د افغانستان په روغتونو کې وینټلیزرز نشته او صحي سکتور تیاری نه لري. وینټیلرز په ټوله دنیا کې کمې وې او دا ممکنه نه وه، چې د افغانستان په روغتونونو کې دې عام وي، د عامې روغتیا وزیر راته وویل چې د خلکو د تسکین لپاره به دا اته دانې وینټلیزرز رسنیو ته وښایو او یو به لغمان او یو به کونړ ته هم ورکړو؛ څو خلکو ته په رواني ډول ډاډ ورکړل شي. ما ورته وویل چې سمه ده. رسنیو ته مو وینټیلیزرز وښودلې. په اول سر کې ډېرو فکر وکړ، چې دا وینټیلیزرز تازه له کابل څخه راغلي دي.

د ننګرهار لپاره یو ښه زیرې دا و، چې د ۲۰۲۰م کال د اپریل د میاشتې په دویمه نېټه، ډاکتر عبدالعزیز روحاني چې د ننګرهار د بهسود د هډې د سیمې اوسیدونکی و، له انګلستان څخه راغې او ویې ویل چې په رضاکاره توګه چمتو دی چې د کورونا د تجرید په مرکز کې کار وکړي، ډاکترانو ته له کورونا سره د مبارزې او وینټیلیزر لپاره ټریننګ ورکړي؛ څو د دوی وېره ورکه شي او د مریضانو ښه خدمت وکړي. له ډاکتر روحاني سره مې د ولایت په مقام کې ولیدل او راته یې وویل چې په ننګرهار کې له کورونا د ویروس سره د مبارزې په برخه کې تدابیر له انګلستان نه هم ښه دي؛ صرف ډاکترانو ته ټریننګ ورکول مهم دي. چې وېره ونه لري او د مریضانو تداوي وکړي. ډاکتر روحاني د صحت عامې له ریاست سره په همغږۍ، یو لست د صحي اړتیاو ډېر ژر برابر کړ او هغه اجناس له تدارکاتي پروسې وروسته ډېر ژر اکمال شول. ډاکتر عبدالعزیر وویل چې د کورونا شدیدو مریضانو ته یوازې اکسیجن زیات مهم دی. په دې توګه د تجرید مرکز لپاره مو تقریبا د لس زره بالونونو اکسیجن په ډېره ټیټه بیه قرارداد وکړ، چې وروسته د اکسیجن نرخونه نهایت پورته لاړل او د افغانستان ټول روغتونونه د اکسیجن له کمبود سره مخ شول. د بریښنا د قطع کېدلو له وجهې، پرته له یوې ورځې د ننګرهار د تجرید مرکز تر اخره پورې د اکسیجن له کمبود سره مخامخ نشو. د ننګرهار تجرید مرکز ته د کابل، لغمان او

کونړ نه هم مریضان راتلل او موږ چاته نه، نشو ویلی چې مه راځئ او د ټولو تداوي په یو شان کېدله.

د ننګرهار لپاره مرکزي حکومت ۱۵۰ میلیونه افغانۍ تخصیص ورکړی و، خو له دغه بودیجې موږ صرف ۸۵ میلیونه افغانۍ مصرف کړې وې، چې پنځلس میلیونو باندې خوراکي توکې اخیستل شوي و؛ څو د کورونا فنډ له لارې ناچارو کسانو سره مرسته وشي. ننګرهار یوازنې ولایت و، چې د ډاکټرانو او نرسانو د دریو میاشتو معاشونه یې هم ورکړي و.

د ډاکتر صیب روحاني راتګ په ننګرهار کې له کورونا سره د مبارزې برخه کې زیاته مرسته وکړه او هغه وېره چې د ډاکترانو په منځ کې وه، ورکه شوه، چې مریضانو ته به نه نږدې کېدل. ده به یوازې ماسک او دستکشې اچولې او ډېر وخت به یې د تجرید مرکز دهلیزونه او تشنابونه هم پخپله پاکول. د ننګرهار ولسونه باید د ډاکتر صیب روحاني هلې ځلې هېڅکله هېرې نه کړي او زه ترې دلته یو ځل بیا مننه کوم. ډاکتر صیب روحاني د ننګرهار نه سربېره په کونړ او لغمان کې هم ډاکټرانو او نرسانو ته ټرېننګ ورکړ، چې څنګه ځانونه وساتي او د مریضانو تداوي وکړي. متاسفانه د هاها ډلې حتې په هغه هم تور ولږوه، چې په قراردادونو کې شریک و.

د ننګرهار عامه پوهاوی د هېواد په کچه نمونه او نورو ولایتونو به د ننګرهار ډېرې پریکړې کاپي کولې. د یادونې وړ ده، چې په ننګرهار کې په عامه پوهاوي باندې د حکومت له بودیجې څخه یوه افغانۍ هم نه وه مصرف شوې. کله چې ولسونو ته انګیزه ورکړل شي، ولسونه پخپله له حکومت سره همکاري کوي. جمهور رئیس د کابینې په مجلس کې وویل چې یوازې ننګرهار خپله بودیجه په ښه توګه مصرف کړې ده او نورو ولایتونو کې د کورونا د بودیجې نه سؤ استفاده شوې او یا په غلطه توګه مصرف شوې ده.

د کورونا ویروس د خپرېدو په لومړیو میاشتو کې جمهور رئیس په اونۍ کې دوه ځلې د کابینې غونډې نیولې او والیانو هم د VTC (Video Teleconferencing Capability) له لارې برخه اخیستله. د ۲۰۲۰م کال د

اپریل د میاشتې په شپږمه نېټه په لومړني VTC کې چې والیانو د لومړي ځل لپاره په کابینه کې برخه واخیستله، د محلي ادارې مشر- عبدالمتین بیګ له ما وغوښتل چې د والیانو په استازیتوب زه خبرې وکړم او په ننګرهار کې له کورونا سره د مبارزې فعالیتونه شریک کړم؛ ځکه ننګرهار نور ولایتونو او مرکز لپاره الګو وه. د کابینې په غونډه کې مې د ننګرهار یاد شوي فعالیتونه په لنډه توګه شریک کړل او علاوه له دې مې جمهور ته وویل چې د افغانستان صحي سکتور له کورونا سره د مبارزې په هکله چمتووالې نه لري. په ولایتونو کې د عامې روغتیا له ریاست سره په همغږۍ د کورونا سره د مبارزې جلا ټیمونه باید جوړ شي، چې یوازې د کورونا ویروس مدیریت وکړي. که څه هم قرنطین په ننګرهار کې په ښه توګه شوی، خو دایمي قرنطین ممکن نه دی او باید په تدریجي توګه قرنطین کم شي او خلک باید خپلو کارونو او ژوند ته دوام ورکړي؛ ځکه فقر زیات دی او دا معلومه نه ده، چې دا ویروس څومره وخت دوام کوي. جمهور رئیس او کابینې زما دا غوښتنې تائید او په هر ولایت کې یې د کورونا لپاره جلا ټیمونه جوړ کړل. په تدریجي توګه مو د قرنطین قیودات هم کم کړل.

له بیوزلو کورنیو سره د مرستې په خاطر مو په ننګرهار کې د کورونا فنډ په نوم یو حساب جوړ کړ. د دې حساب مسؤلیت مو د ننګرهار د ولایتي شورا وکیل ډاکتر ناصر کاموال، د ډاکترانو د اتحادیې مشر- ډاکتر ایمل ذکي او د ننګرهار د سوادګرۍ د خونې اجرائیه رئیس، ډاکتر شمس الحق مجاهد ته وسپاره، په لومړي سر کې ما خپل د یوې میاشتې معاش او له خپلې کورنۍ څخه پنځه زره او پنځه سوه (۵۵۰۰) ډالره د مرستې لپاره رالیږلي و، د بانکي حساب پرانیستلو لپاره ورکړل. دا لومړی ځل و، چې د ولایت په ابتکار د مرستو صندوق جوړ او هغه په ښه توګه مدیریت شو. اخري ارقام ښایي چې د دغه صندوق سره ۱۸،۵۱۹،۷۶۰ افغانۍ، ۱۵۲،۲۲۰ ډالره او د ۱۲۷،۳۶،۹۷۱ افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته شوې وه. د مرستې کوونکو د مرستو

مشخصات او دمرستو ویشل په انلاین توگه هرچا کتلی شول[٤١]. نورو ولایتونو او حتې مرکز هم د مرستې صندوقونه جوړ کړل؛ خو ښه نتیجه یې نه درلوده. د مرستو د توزیع لپاره ډاکتر صیب ایمل ذکي یوه اصطلاح رامنځته کړه چې د بیوزلو تعداد د ټولنې له نیمایې څخه زیات دی نو دا امکان نه لري چې هرچاته دا مرستې ورسیږي. دا مرستې باید ناچارو کسانو ته ورکړل شي. د ناچارو کسانو تعریف دا و، هغه کسان چې بیگاه ته خوراک نه لري، هغوي ناچاره کورنۍ دي. د دې لپاره چې د ناچارو کورنیو تشخیص وشي، د ۱۲۱ کسانو په شاوخوا کې د پوهنتون استادان، ډاکټران، علما، د مدني ټولنو استازي او مشران حاضر شول، چې د جلال اباد ښار په هره ناحیه کې وگرځي او ناچاره کورنۍ په نښه کړي.

د روژې مبارکې میاشتې په سخته گرمۍ کې رضا کار کسان په ناحیو وگرځیدل، کورنۍ یې په نښه کړې او د ویش لړې یې په ښه توگه سرته ورسوله. همېشه د مرستو له راټولو نه د مرستو ویش زیات مهم دی. که د مرستو د ویش سم مدیریت ونشي، نو د مرستو ویش په یو نا ورین بدلیږي. متاسفانه د ناظرینو یو شمېر کسان لکه ډاکتر ناصر کاموال، ډاکتر ایمل ذکي، ډاکتر شمس الحق مجاهد، ډاکتر اسدالله ښالېز، اباسین بهیر او یو شمېر نور په کورونا هم اخته شول. ټولو ناظرینو او د دوی همکارانو د ځانونو خطر ومانه؛ څو د کورونا فنډ له پروسې سره شوې مرستې ناچارو کورنیو ته په ښه توگه وویشل شي. د ناظرینو لست په هره ناحیه کې کتلی شئ، چې زه له هر یونه د زړه له کومي مننه کوم.

[٤١] http://coronangr.info (اخرې ځل دا پانه د ۲۰۲۱م کال د مې په دویمه نېټه وکتل شوه)

## د کورونا فنډ د ناحیوي ټیم ناظرین

| عمومي ګڼه | ناحیه | ګڼه | نوم |
|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 1 | داکتر نجیب الله کاموال |
| 2 | | 2 | نوشاد اصغر |
| 3 | | 3 | شیرشاه شیرزی |
| 4 | | 4 | فضل الله یوسفزی |
| 5 | | 5 | حاجي قنداغا |
| 6 | | 6 | محمد رحیم |
| 7 | | 7 | فضل حلیم |
| 8 | | 8 | جان محمد |
| 9 | | 9 | باز محمد عابد |
| 10 | | 10 | عبدالباسط |
| 11 | | 11 | حاجي شیرین اغا آمر ناحیه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 12 | 2 | 1 | فرید شینواری |
| 13 | | 2 | شاه محمود شینواری |
| 14 | | 3 | رحمت الله زیارمل |
| 15 | | 4 | هدایت الله |
| 16 | | 5 | لطف الله |
| 17 | | 6 | گل محمد |
| 18 | | 7 | هارون هلال |
| 19 | | 8 | مجیب الله محسن |
| 20 | | 9 | قاري عمران |
| 21 | | 10 | شمس الرحمن |
| 22 | | 11 | جلیل الرحمن |
| 23 | | 12 | جلال خان |
| 24 | 3 | 1 | اسدالله بنالیز |
| 25 | | 2 | اباسین بهیر |
| 26 | | 3 | عبادالله صدیقي |
| 27 | | 4 | تسل نیاز مظلومیار |
| 28 | | 5 | سرحدي ځواک |
| 29 | | 6 | نسیم صافی |
| 30 | | 7 | دوست محمد سادات |
| 31 | | 8 | شکرالله صدیقي |
| 32 | | 9 | مطیع الله صدیق |
| 33 | | 10 | احمد شاه کاموال |
| 34 | | 11 | مرتضی |
| 35 | | 12 | سید حمیدالله |
| 36 | | 13 | انجنیر زاهدالله |
| 37 | | 14 | درانی د ناحیي امر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 38 | 4 | 1 | پوهنوال ببرک میاخیل |
| 39 | | 2 | استادخالد شینواری |
| 40 | | 3 | احمد ضیا عبدالزی |
| 41 | | 4 | سعادت ښاد |
| 42 | | 5 | سلیم صمیمي |
| 43 | | 6 | شاکر حضرتي |
| 44 | | 7 | سمیع الله حضرتي |
| 45 | | 8 | کامران ایوب احمدزی |
| 46 | | 9 | محمد هلال |
| 47 | | 10 | فرید احمد استقلال |
| 48 | | 11 | شفیق ننگرهاری |
| 49 | | 12 | یعقوب شینواری |
| 50 | | 13 | حبیب شینواری |
| 51 | | 14 | رفیع الله عادل |
| 52 | | 15 | خیرالله |
| 53 | | 16 | سمیع الله |
| 54 | | 17 | سمسور ځوانمل |
| 55 | | 18 | انجنیر اجمل شمس |
| 56 | | 19 | مختار احمد سجاد |
| 57 | | 20 | عزیز خان ستانکزی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵۸ | 5 | 1 | ډاکټر نجیب الله کاموال |
| 59 | | 2 | رحیم گل |
| 60 | | 3 | غورځنگ درانی |
| 61 | | 4 | حکمت خان |
| 62 | | 5 | مولوی حبیب الله |
| 63 | | 6 | غلام نبي |
| 64 | | 7 | ایمل |
| 65 | | 8 | احسان الله |
| 66 | | 9 | حشمت الله |
| 67 | | 10 | باسط شیرزی |
| | | 11 | کږه وال امر د ناحیې |
| 68 | | 12 | حسین قاسمي |
| 69 | 6 | 1 | نقیب احمد اتل |
| 70 | | 2 | امین ستانکزی |
| 71 | | 3 | کریم صادق |
| 72 | | 4 | نعمت علم |
| 73 | | 5 | نوید حقمل |
| 74 | | 6 | امین رنځور |
| 75 | | 7 | خیال براتزی |
| 76 | | 8 | عبدالله همدرد |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 77 | 7 | 1 | ضياالرحمن حسرت |
| 78 | | 2 | خبيب اميري |
| 79 | | 3 | شفيق الله خوږيانی |
| 80 | | 4 | ميرويس رحماني |
| 81 | | 5 | برهان الدين سيرت |
| 82 | | 6 | حامد محمودي |
| 83 | | 7 | ذكرالدين |
| 84 | | 8 | احمد ظاهر زهير |
| 85 | | 9 | مجنون هاشمي |
| 86 | | 10 | پښتون رحماني |
| 87 | | 11 | لمر مومند |
| 88 | | ۱۲ | شفيق نيازی |
| 89 | | 13 | شكيب شريفزی |
| 90 | | 14 | سميع الله هاشمي |
| 91 | | 15 | سباوون مبارز |
| 92 | | 16 | هدايت الله زهير |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 93 | 8 | 1 | محمد تمیم اسحق زی |
| 94 | | 2 | ضیاء الدین همت مل |
| 95 | | 3 | فتح محمد امیري |
| 96 | | 4 | حضرت علي شیاب |
| 97 | | 5 | سلیم جمالزی |
| 98 | | 6 | ذاهدالله اسحق زی |
| 99 | | 7 | داکتر ضمیر بهسودی |
| 100 | | 8 | جانان غیرتمل |
| 101 | | 9 | بلال احمد مصلح |
| 102 | | 10 | شریف الله ناصري |
| 103 | | 11 | سفر محمد |
| 104 | | 12 | عمر خان درمل |
| 105 | | 13 | سهراب |
| 106 | | 14 | شاکرالله |
| 107 | | 15 | طیب ملکزی |
| 108 | 9 | 1 | شیرین اغا جهانگیر |
| 109 | | 2 | عصمت الله حلیمي |
| 110 | | 3 | هدایت الله پاچا |
| 111 | | 4 | لطف الرحمن دانشمل |
| 112 | | 5 | نصیب الله |
| 113 | | 6 | میرویس |
| 114 | | 7 | سیف الرحمن |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 115 | همکاران | 1 | ملاله میوند |
| 116 | | 2 | شکرالله پاځون |
| 117 | | 3 | عبدالوافي نایب زی |
| 118 | | 4 | جمیل الباسط نعمتیار |
| 119 | | 5 | شکران احسان |
| 120 | | 6 | رفیع الله یوسفزی |
| 121 | | 7 | هدایت لطیفي |

تقریباً د جلال اباد ښار په نهه ناحیو کې لس زره کورنیو ته د کورونا فنډ مرستې وویشل شوې. د مرستو دې لړۍ د سوداګرو او متمولو کسانو ترمنځ نه یوازې په افغانستان، بلکې له هېواد څخه بهر افغانانو په منځ کې هم انګېزه پیدا کړه، څو هغوی هم له غریبو او ناچارو کورنیو سره په دغه سخت وخت کې مستقیمې او یا نا مستقیمې مرستې وکړي. اخري ارقام چې له بېلابېلو اشخاصو او ادارو راټول شوي و، د ننګرهار د ولایت په کچه تقریبا یو لک او پنځوس زره (۱۵۰،۰۰۰) کورنیو سره په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه مرسته شوې وې. له دېرش زره کورنیو سره یوازې ګلبهار خیره ټولنې مرسته کړې وه.

د ۲۰۲۰م کال د اپریل د میاشتې په پینځمه نېټه مو چې د کامې ولسوالۍ ته سفر درلود، له کورونا سره د مبارزې او ناچارو کورنیو سره د مرستو د عامه پوهاوي په غونډه کې د کامې مشرانو راته وویل چې تاسې د کامې له خلکو نه بېغمه اوسئ، د کامې متمول کسان به پخپله د خپلو ناچارو کورنیو لاس نیوی کوي او هغوی د دې لپاره یوه کمېټه ټاکلې ده. دا د انساني خواخوږۍ یو ښه مثال و او ډېر هغه کاموال چې له هېواد نه بهر اوسېدل، له خپلو خلکو سره یې د همدې کمټې له لارې مرستې وکړې.

په همدې وخت کې مرکزي حکومت د نړیوال بانک په مالي مرسته، د وچې ډوډۍ د ویشلو پروسه په ښارونو کې پیل کړه. په ننګرهار کې د کورونا

فنډ د فرمولې او لستونو په درلودلو سره د وچې ډوډۍ ویش تر یوې میاشتې پورې دوام وکړ. د جلال اباد ښار ۱۶۵ ګذرونو کې ۱۵۴۶۲ کورنیو سره هره ورځ لس ډوډۍ د ښار د ۷۱۳ نانوایانو له لارې مرسته کېدله. د دې مرستې یوه موخه دا وه، چې خوراکي مواد او په خاصه توګه اوړه په بازارونو کې کم نه شي. د دې وېره وه، چې اوړه په بازارونو کې کم شي؛ نو د افغانستان حکومت له قزاقستان سره په موافقه وکړای شول، چې د حیرتان سرحد بیرته وساتي او اوړه وارد کړي. د قزاقستان حکومت په دې هکله خاصه مرسته وکړه کنه د تورخم له لارې د اوړو راوړلو امکان نه درلود؛ ځکه پاکستان تورخم په کلکه توګه تړلی و او په پېښور کې هم د اوړو کمبود او قیمتي وه. پاکستان دا وېره درلوده، چې اوړه به داخل د افغانستان ته قاچاق شي. د جلال اباد د اوړو تجارانو د ښاروالۍ له لارې د مرکزي حکومت د فرمولې په اساس قرارداد کاوه، چې نانوایانو ته به اوړه رسوي او نانوایان به بیا هغه کورنیو ته چې له مخکې د ناحیو لخوا په ګوته شوي، هره ورځ د یوې میاشتې لپاره لس وچې ډوډۍ ورکوي. د هېواد په کچه د دې پروګرام مدیریت د جمهور رئیس لومړي مرستیال، امرالله صالح کاوه. د مرکزي حکومت زیاته توجه دا وه، چې په بازارونو کې خوراکي موادو، تېلو او ګازو کمبود رامنځته نه شي.

د کورونا فنډ ویب ډیزاین او انلاین سیستم په رضاکاره توګه پکسل هب PixelHub IT Solution ګروپ جوړ کړی و. د کورونا فنډ د مدیریت د شفافیت او د ولسونو د اعتماد جوړونې لپاره د دوی دا تخنیکي مرسته د قدر وړ وه. د تکنالوژۍ دا کمپنۍ د ننګرهار تکړه ځوانانو شکران احسان، جمیل باسط نعمتیار او رفیع الله یوسفزي، چې په هند کې یې د تکنالوژي په برخه کې درس ویلې و جوړه کړې وه. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه د کورونا فنډ د مرستو راټولول، د اشخاصو نومونه او د مرستو ویشلو اندازه او نومونه د کورنیو سره په انلاین ډول هرچا کتلی شول.

د ننګرهار له کورونا سره د مبارزې عامه پوهاوی هغه وخت اوج ته ورسېد، چې د تورخم په ساحه کې مو د قرنطین مرکز جوړ کړ. د ۲۰۲۰م کال د مارچ

په ۲۸مه نېټه راته په پاکستان کې د افغانستان سفیر ښاغلي عاطف مشعل زنګ ووهه، چې له پاکستان حکومت یې اجازه اخیستې او هغه افغانان چې په پېښور او یا اسلام اباد کې بند پاتې دي او د قرنطین له وجهې نشي ـ ګرځېدلی، اجازه ورکړي؛ چې راتلونکې اونۍ کې تورخم ته انتقال او د تورخم دروازه د دریو ورځو لپاره بېرته کړي. د عاطف مشعل په قول، تقریبا درې زره کسان به دوی تورخم ته په دریو ورځو کې انتقالوی او احتمال شته، چې نیمایي له دغه کسانو د کورونا په ویروس اخته وي. دا چې همداسې مسئله په هرات کې له افغانانو سره شوې وه، چې د دېرش زره کسانو په شاوخوا افغانان، ایرانیانو راوویستل او هرات د یو لوی ناورین سره مخامخ شو، نو زما وېره دا وه که دې کسانو ته بې له روغتیایي چیکه اجازه ورکړل شي، چې افغانستان ته داخل شي، نو ننګرهار به هم د هرات په شان له یو ناورین سره مخامخ شي. په عاجله توګه مې د کورونا کمېسون راوغوښته او د موجوده امکاناتو په رڼا کې مو یو پلان جوړ کړ، چې تورخم ته لاړو شو او د قرنطین مرکز د جوړېدو لپاره ځای وټاکو. ډاکتر ناصر کامول، ډاکتر ایمل ذکي، سکتوري رئیس او له یو شمېر امنیتي کسانو سره تورخم ته لاړو او له سروې وروسته مو د ګمرګ په بندروالي کې د خیمو وهلو لپاره ځای وټاکه. امنیتي او صحي تدابیرو د چیک لپاره مو د تورخم په دروازه او هم د تورخم په ښارګوټي کې امکانات برابر کړل.

سکتوري رئیس، فضل ربي همیم په مشرۍ مو درې کسیز هئیت د تورخم د ښاروال، انجینر راحت الله زیارمل او د ننګرهار د اداري او مالي رئیس، قریب الله هجرت په شمول وټاکل، چې له ټولو ادارو سره اړیکه ونیسي ـ او هره اداره چې خیمې لري، تورخم ته یې انتقال کړي، څو د درې زره کسانو لپاره د اوسېدو او خوراکي توکو ترتیبات ونیسي. د یادونې وړ ده، چې تر دې دمه له مرکز څخه یوه افغانۍ هم ننګرهار ته نه وه انتقال شوې. د ولایت له موجوده امکاناتو مو استفاده وکړه. په لاره کې راته ډاکتر ناصر کامول وویلې که له مرکز څخه بودېجه راونه رسیږي نو څه پکار دي؟ ما ورته وویلې چې څه ستونځه

نشته، ځکه د داعش له بودیجې تقریبا یولس میلونه افغانۍ لـه مـاسره پـاتې دي او جمهور رئیس قطعي امر راکړی، چې د اړتیا په وخت کې چیرته لازم وګـڼم، مصرف یې کـړم. لکـه د داعـش پـه برخـه کـې مـې یادونـه کـړې ده، دا پیسـې مصرف نشـوې او کلـه چې لـه ننګرهـار څخـه تلـم، نـو دا پیسـې مـې بیرتـه د حکومت په مرکزي حساب کې داخل کړې.

ډېرو کسانو راته هغه وخت کې وویـل چـې دا ممکنـه نـه ده، چـې پـه درې څلـور ورځـو کـې دې درې زره کسـانو لپـاره سـهولتونه لکـه د قـرنطین ځـای، خوراکي موادو برابرول، اوبه، توشکې، تشنابونه او نور شیان برابـر شي. مـا ورتـه وویـل کـه د ولسـونو او ادارو تـر مـنځ همغـږي وي، دا کېـدلې شي. د قـرنطین ترتیبات مو په منظمه توګه د فیسبوک له لارې هـره ورځ نشرـول. دغـه نشرـانو د هېواد په کچه یو لوی انعکاس وکړ او د عامه پوهاوي پـه برخـه کـې ډېـر مـوثره تمام شول. زموږ تبلیغ دا و، چې دا کسان به د څوارلس ورځو لپاره ساتل کیږي او هېڅ واسطه به نه منل کیږي. هره ورځ به راته په لس ګونو وزیرانـو، وکیلانـو، دولتي چارواکو، خپلوانو او اشنایانو ټلیفونه کول، چې د دوی خپلوان هم راځي او که هغوی هلته ونه ساتل شي نو ښه به وي. زما ځواب رغنده و، چـې دا هـېڅ امکان نه لري او لکه څنګه چې کورونا اوبا موږ او غریب نـه پیـژني؛ همداسـې موږه هم واسطه نه شو منلی. ډېر دوستان او خپلوان رانه خفه هم شول.

د دې تبلیغ نه مو موخـه دا وه، چـې هغـه کسـان کـه پـه پاکسـتان کـې پـاتې کېدلی شي، نو باید هلته پاتې شي او رانشي څو موږ د نورو کسانو د راتګ ښـه مدیریت وکړی شو. دویم دا چې ترڅو د دې کسانو ابتدایي ټیست کیږي، باید ښارونو ته لاړ نشي چې د هرات په شان ناورین په ننګرهار او ختیځـو ولایتونـو کې رامنځته نشي. ټولنیزو مسایلو ته هر څوک له خپلې زاوې او تجربې ګـوري. ډاکتر مقیم شاه میاخیل دې خدای وبښي، د ننګرهـار عامـه روغتیـا پـه ریاسـت کې د تغـذیې د څـانګې مسؤل و. هغـه راتـه د تـورخم د قـرنطین پـه هکلـه پـه فیسبوک کې ولیکل: والي صیب! په روژه کې به د دې کسـانو د خـوراک مینـو څه وي؟ ما ورته ولیکل چې موږ د میاعلي صیب لمسیان یو او کله چې لیونیـان

په میاعلي صیب کې تړل کیږي، هلته ورته څلویښت ورځې تور مرچ او ډوډۍ ورکوي. که نور څه نه و، نو همدا مینو به تطبیقوو. متاسفانه ډاکتر مقیم شاه هم څو میاشتې وروسته د کورونا د ناروغۍ له امله مړ شو. روح دې ښاد وي.

کله چې په تورخم کې خېمې ولګېدې نو د ډېرو کسانو یقین راغی، چې کیمپ جوړیږي او قرنطین عملي کیږي. سکتوري رئیس ښاغلي همیم راته وویل چې توشکې او کمپلې به څنګه کړو؟ ځکه هم پرې زیات مصرف راځي او بل دا چې د جلال اباد ښار په مارکیټ کې په دومره تعداد سره کمپلې او توشکې نه پیدا کیږي. ما ووته وویل چې ته سودا مه کوه؛ زه یې درته پیدا کوم. هماغه و چې د شپې مې خپلو کسانو ته وویل چې په خاص کونړ کې زموږ په حجره کې چې څه توشکې، بالښتونه او کمپلې موجودې دي، هغه سهار وختي دې ولایت ته راوړئ. ټولو راته وویل چې په دې څه کوئ؟ ما ورته وویل چې سبا ته به یې درته ووایم. عطاءالله خوګیاڼي ته مې وویل چې د رسنیو استازي په نهه بجو راوغواړئ، چې مطبوعاتي کنفرانس لرم. د خپلې حجرې توشکونه چې تقریبا پنځوس دانې وې، د بالښتونو او کمپلو سره د ولایت په چمن کې ټاله کړې او تر کنفرانس ورکولو پورې مې هېچا ته څه ونه ویلې، چې زما هدف څه دی؟ دا چې د دې توشکو رنګونه ښه او هوا هم ښه وه، د ګلانو له رنګونو سره عکسونه د رسنیو او هم فیسبوکیانو لپاره دلچسپه و. په مطبوعاتي کنفرانس کې مې وویل چې ما د خپلې حجرې ټولې کمپلې، توشکونه او بالښتونه د تورخم د قرنطین د مرکز لپاره راوړل؛ نو د ننګرهار په خلکو غږ کوم، چې هر څوک دې یو توشک، یوه کمپله او یو بالښت له روجايي سره راوړي او په دې سخته ورځ کې باید مرسته وکړي. که خدای ناخواسته دا مرض خپریږي، د هر چانه هرڅه پاتې کیږي. په خلکو مې دا غږ هم وکړ، چې داسې نه چې زړې توشکې مو راروانې کړې وې. دا چې د ننګرهار او مشرقي خلک میلمپاله دي، دا افغانان چې له پاکستان څخه راځي، د ټول ننګرهار میلمانه دي او په کور کې چې کوم ښه توشک لرئ، هغه راوړئ. په دوه ورځو کې د جلال

اباد ښار د ناحیو او ولسوالیو نه ۲٦۴۸ توشکې، ۲٦۴۱ بالښتونه، ۲۷۰۱ کمپلې، ۳۹۷ روجایانې، ٦٦٦ جای نمازونه او ۱۳۴ خوراکي دیشونه ولایت ته راټول شول او ټول د ښاروالۍ، پولیسو او اردو په لاریو کې تورخم ته انتقال شول.

دغه عمومي اپیل یا غوښتنې د ولایت اتوریته نوره هم لوړه کړه، چې د ننګرهار ولسونو د والي په غږ مرسته وکړه او دا ټوله پروسه په منظمه توګه د رسینو او ټولنیزو رسنیو له لارې هره ورځ خپرېده، چې په ټول افغانستان کې یې د عامه پوهاوې لپاره زیاته ګټه وکړه. د یادونې وړ ده، چې کله د تورخم د قرنطین پروسه ختمه شوه، دا توشکې، کمپلې، بالښتونه او نور شیان یو څه په تورخم کې امنیتي کسانو ته، یو شمېر زیات یې په ننګرهار کې مدرسو ته، د ولایت اجیرانو ته او همداشان د ننګرهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته ورکړل شوې. متاسفانه ځینې د هاها ډله اوس هم چې کله کوم پوست کوم، نو وایي چې والي صیب د قرنطین توشکې دې څه کړې؟ هغه کسان چې داسې کامنټونه کوي، زه په یقین سره ویلې شم چې دوی به یو بالښت هم نه وي ورکړی، خو منفي ګرا کسان همېشه نه پخپله کار کوي او نه د نورو ښه کارونه زغملی شي. د توشکو د راټولو، انتقال اوتوزیع مسؤلیت مو د ولایت د بشري منابعو رئیس احمد ضیا عبدالزي ته سپارلی و، چې په ښه توګه یې مدیریت وکړ او مننه ترې کوم.

متاسفانه د افغانستان سفیر او په پېښور کې د افغانستان د قونسلګرۍ تر منځ همغږي نه وه. په پیښور کې د افغانستان قونسل ښاغلي نجیب احمدزي راته وویل، چې دوی د افغانانو د انتقال لپاره له پیښور څخه تورخم ته هېڅ تدابیر نه لري. همداشان هغه وویل چې دی فکر نه کوي چې اکثره افغانان به په کورونا اخته وي؛ ځکه په پیښور کې هم کلک قرنطین شته او په ګرځېدو بندیز دی. هر څوک باید پخپله تورخم ته ځانونه ورسوي.

د ۲۰۲۰م کال د اپریل د میاشتې په اومه نېټه د پاکستان سرحدي ملېشو د تورخم دروازه بېرته کړه. تقریبا یولس سوه کسان راغلل او هغه ټول د صحي سکتور د کاروکوونکو لخوا په سمه توګه چیک او د قرنطین په مرکز کې د

ورځې لخوا وساتل شول. د شپې د اتو بجو په شاوخوا کې راته له فرضي کرښې نه هغه خوا راپور راکړل شو، چې په زرهاو کسان پـه لـواړګي او نـورو پـاټکونو کې جمع شوي او سبا تورخم ته درځي. پاکستاني ملیشې خلکو ته وایـي، چې سهار وختي دې هرڅوک د تورخم دروازې ته ځانونـه ورسـوي او د پاسـپورټ له چیک کولو پرته به ټولو ته اجازه ورکوي. د پاکستان ملېشو په پاټکونو کې له ټولو څخه له سلو نیولې تر زرګونو کلدارو پورې د هر کس نه اخیستلې او دوی ته یې اجازه ورکوله چې لواړګي ته ځانونه ورسوي. په تورخم کې د افغانستان د دخولې څانګې د راپور په اساس، کله چې تورخم دروازه بندېدلـه، نـو پـه هغـه ورځ تقریبا دېرش زره افغانان پاکستان ته داخل شوي و. هماغه و، چې د شـپې مې سکتوري رئیس او امنیتي کسانو ته وویل که پـه قـرنطین شـویو کسـانو کـې علایم د کورونا نه وي، ټول پرېږدئ چې خپلوکورونـو تـه لاړ شي، څـو مـوږ د سبا لپاره تدابیر ونیسو.

د پاکستان ملېشو او د تورخم مسؤلینو هماغسې وکړل. په دویمه ورځ یـې د تورخم دروازه له ټاکل شوي وخت دمخه بېرته کړه. تقریبـا شـپاړس زره کسـانو ته یې د خروجې ویزې له وهلو په غیـر اجـازه ورکـړه، چـې د تـورخم لـه لارې افغانستان ته داخل شي. بیا هم صحي سکتور وکولای شول چې د نه زره کسانو تبه او ابتدایي علایم وګوري، خو ښه خبره دا وه، چـې د کورونـا علایـم پـه چـا کې نه ښکاریدل. فکر کوم چې پاکستان دوه هدفه درلودل، چې یو یې زمـوږ د قرنطین پروسه ناکامولـه، ځکه زیات تبلیغ ورته وشو او دویم دا چې د مخـالفینو ځینو کسانو ته یې هم په دې کسانو کې اجازه ورکوله، چـې داخـل د افغانسـتان ته راشي؛ ځکه په دغه وخت کې د غوړکي عملیات هم روان و.

په هر حال امنیتي ادارو تـه دنـده ورکـړل شـوه، چـې پـه لارو کـې د سروبي پورې سیار چیک پاینټونه جوړ کړي، څـو مشـکوک کسـان پـه نښـه کـړي. لـه رسنیو سره ما د پاکسـتان د دغـه حرکـت پـه مقابـل کـې سـخت عکـس العمـل وښوده او دا مې د پاکستان دسیسه وګڼله. مشعل صیب راته وویل چې پاکسـتان

ستا په مرکو خوښ نه دی. ما ورته وویل که هغوی زما په خبرو خوښ نه وي، نو موږ د هغوی په دې عمل قطعا خوښ نه یو، ځکه د ټولو اصولو خلاف یې دومره کسان بې له خروجې ویزې راپرېښودل. په درېیمه ورځ تقریبا ۱۸ زره کسان داخل شول، خو د ټولو خروجې او دخولي ویزې ووهل شوې او هم صحي چیک په سمه توګه وشو او کومه ستونځه رامنځته نه شوله. دوی دا کار په دویمه ورځ هم کولې شو خو قصدا یې ونه کړ.

که څه هم موږ د تقریبا ۳۵ زره کسانو قرنطین ته ترتیبات نه درلودل، خو بیا هم د تورخم قرنطین عامه پوهاوی زیات کړ او ننګرهار وضعیت د هرات په شان له ستونځې سره مخامخ نشو. د ننګرهار په تاریخ کې داسې عکس العمل ولسونو نه و ښودلی، چې د خپل کور توشکې او کمپلې دی د مصیبت په وخت کې راټولې او مرسته وکړي. د ولایتي ادارې او هم ولسونو لپاره دا یوه ښه تجربه وه، چې څنګه په عاجله توګه ولسونه د مصیبت په وخت کې مرسته وکړي.

د حکومتولۍ او امنیت په برخه کې ډېرې ټولنیز مسؤلیتونه او کارونه، ولایتي اداره په ځانګړې توګه نشي تر سره کولی، څو چې ولسونه منسجم نشي- او له ولایتي ادارې سره مرسته ونه کړي. زما په اند، د ننګرهار د کورونا فعالیتونه د ننګرهار او هم نورو ولایتونو لپاره په راتلونکې کې ښه تګلاره کېدلی شي، چې څنګه د مصیبت په وخت کې ولسونه سره منسجم او له مصیبت ځېلو کورنیو او کسانو سره مرسته وکړي.

په ننګرهار کې د ولایت په کچه او هم په ناحیو او ولسوالیو کې له کورونا سره د مبارزې پر وړاندې لکه د افغانیو د ترویج د کمېسونونو په شان کمېسونونه جوړ شوې و، چې د عامه پوهاوي، احتمالي تدابیرو او له بېوزلو سره د مرستې لپاره یې ښې پایلې درلودې. د جلال اباد په ښار کې د ولایت په کچه اوه کمېټې جوړ شوې وې، چې هرې کمېټې منظمې غونډې درلودې. دوی به خپل وړاندیزونه اونظریات عمومي کمېسون ته راوړل او بیا به عمومي پریکړې په عمومي کمېسون کې تر سره کېدې. دغه کمېټې په لاندې ډول وې:

۱. د کورونا فنډ د مرستو راټولولو او ویشلو کمېټه: ډاکتر ناصر کاموال، ډاکتر ایمل ذکي او ډاکتر شمس الحق مجاهد د دغه کمیټې په راس کې و.
۲.امنیتي کمېټه : د ننگرهار د ملي امنیت رئیس یې په راس کې و، چې امنیه قوماندان، د ملي امنیت او قوماندانۍ مرستیال، د ترافیکو مدیر او د ترانسپورت رئیس ورسره غړي و. د ټولو امنیتي، ترافیکي او ترانسپورتي مسایلو په هکله دوی تصمیم نیوه.
۳.د ښاري مدیریت کمېټه: په راس کې د جلال اباد ښاروال روح الامین حسن و. د اصنافو په استازیتوب ورسره حاجي بازمحمد، د صرافانو مشر-حاجی مصطفی، حاجي عزیزالرحمن عرب او شکرالله جلندري غړي و.
٤.د تجارت او ترانزیت کمېټه: د ننگرهار د گمرک رئیس نصرالله صاحبزاده یې په راس کې و او ورسره د ننگرهار د تجارت د خونو مشران، د صنعت او تجارت رئیس حسن محسن، د تورخم ښاروال انجینر راحت الله زیارمل، د تورخم کمیسار، د ترانسپورت رئیس، د صنعتي خونې اجرائیه رئیس اجمل شمس او د تجارت د خونې مرستیال ډاکتر مخلص غړي و.
۵.طبي خدماتو د اهتمام کمیټه: د ننگرهار د عامې روغتیا رئیس ډاکتر نصیر احمد دورانی یې په راس کې و او ډاکتر نجیب الله کاموال او ډاکتر عبدالعزیر روحاني یې غړي و.
٦. د عامه پوهاوي کمېټه: د دغې کمېټې په راس کې د ولایت مرستیاله حبیبه کاکړ تعین شوې وه. د حج او اوقافو رئیس قاري محمد داود مجاهد، د اطلاعاتو او فرهنگ رئیس رحیم الله خوگیانی، د ولایت د رسنیو مشر-عطاءالله خوگیانی، د رسنیو او مدني ټولنو په استازیتوب انجینر زلمی لطیفي، شیرشاه همدرد، انجینر محمد شفیق شایق، شریف الله ناصري، ملاله میوند، نثار ژوند، د بشر د حقونو د ختیځ زون مشره صبرینا حمیدي، د ښځو چارو رئیسه فتانه عزیزي او د ولایت د جندر امره، پېغله پښتنه یې غړي و.

۷.مالي او تدارکاتي کمېسون: د دغه کمیټې په راس کې د ولایت مالي او اداري مرستیال تمیم عارف مومند و، چې د ملي‌امنیت، ښارنوالۍ، د امنیه قوماندانۍ او د مستوفیت با صلاحیته استازي، د ولایت اداري رئیس، د مدني ټولنو په استازولۍ ډاکتر اسدالله ښالېز او د رسنیو په استازولۍ شکرالله پاڅون د دې کمېسون غړي و، څو په ټولو تدارکاتي مسایلو کې شفافیت مراعات شي.

البته پورته کمېټو که یې لازم ګڼل کولای شو، چې نور کسان هم په کمیټو کې اضافه کړي.

د کابل په ګډون، نورو ولایتونو د ننګرهار فعالیتونه او پریکړې په زیاتو مواردو کې کاپي کولې. د بېلګې په توګه کله چې کابینې فیصله وکړه، چې ښوونځي، تعلیمي مراکز او پوهنتونونه دې وتړل شي، په ننګرهار کې ورسره رستورانونه او هوټلې هم بندې شوې، ځکه چې په کابل، هرات او نورو زیاتو ولایتونو کې کورونا خپره شوې وه، نو ډېری کسانو کوښښ کاوه چې ننګرهار ته راشي او په هوټلونو کې واوسيږي. د ننګرهار د پوهنې ریاست له انعکاس تلویزیون سره په همکارۍ زده کوونکو ته درسونه د تلویزیون له لارې په ژوندۍ بڼه هره ورځ خپرول چې وروسته د شرق تلویزیون هم دا لړۍ پیل کړه. له دې ابتکار وروسته کابل او نورو ولایتونو کې انلاین کلاسونه هم پیل شول.

په لومړي سر کې د دوه اونیو لپاره عمومي قیودات په جلال اباد ښار کې ولړول شول او ټول تفریحي ځایونه د کامې د شیریخ دوکانونو په شمول بند کړل شول. د مالونو په منډیي بندېز ولړېده او هره فیصله تقریبا ۹۵ سلنه عملي کېدله. امنیتي ادارو، ولسوالانو او ولسونو ټولو همکاري کوله. د دې لپاره چې د حکومت حاکمیت نور هم ښه تطبیق شي، د جلال اباد ښار کې مو عمده فروشانو ته اجازه ورکړه، چې د شپې لخوا دوکانونه بیرته کړي، څو ګاونډي ولایتونه او ولسوالۍ خوراکي توکي له جلال اباد څخه وپیري. په اوله شپه دومره خلک جلال اباد ښار ته راغلل تا به ویل چې د اختر شپه ده. د قرنطین فاصله نه مراعت کېدله، خو د شپې لخوا له ولایتونو څخه جلال اباد ته تګ او راتګ او د خوراکي توکو وړلو په امنیت هم خاص تاثیر درلود، چې له خلکو

سره د ګرځېدو وېره ورکه شوه. کـه څـه هـم پـه اولـه شـپه مـې زیـات تشـویش درلود، چې کومه پېښه ونه شي، خو د خدای فضل و چې کومه پیښه رامنځته نه شوه.

د جمهور رئیس د فرمان په اساس، د کورونا د مخنیوي په خـاطر د ننګرهـار لـه محبس څخـه د جنـایي جرمونوتقریبـا یـولس سـوه بنـدیان خوشـې شـول. متاسفانه همدې خوشې شویو مجرمینو بیا په جرمونو کې لاس درلـود او زیـات یې بیرته ونیول شول.

په لومړیو درېو میاشتو کې چې د ننګرهار په مرکـز او ولسـوالیو کـې مـوږ د تلفاتو کوم ارقام راټـول کـړل، تقریبـا یـونیم زر کسـان مـړه شـوي و، خـو د دې تشخیص مشکل و، چې ایا دا ټول په کورونا مړه شوي و او کنه؟ ځکـه اکـثره د عاجل خونې مریضان هم د کورونا سنټر ته وړل کېدل. اکثره کسان به چـې مـړه کېدل؛ نو کورنیو به یې ویلې چې محرقه یې درلوده. په هر حال ننګرهار کې لـه کورونا سره مبارزه کامیابه وه او هغه احتمالي تلفات چې له یو لک کسانو نه بـه زیات مړي، د هغو مخه ونیول شوه.

هر بحران جالبې قصې هم په ټولنه کې پرېږدي، چې بیا تر ډېر وخته پـورې دا قصې د خلکو په منځ کې د شفاهي تـاریخ پـه توګـه پـاتې کېـږي. د ۲۰۲۰م کال د اپریل په څلورمه نېټه راته انجینر فرید ناصرزي وویل، چـې تېـر ماښـام د دوی په کوڅه کې لویه ستونځه وه. د یو کس پنځـه زامـن او خپلـوان لـه ایـران څخه راتلل؛ نو د ګذر خلک پرې خبر شوي و. خلکو یې کـورنۍ تـه ویـلي و، چې دوی باید خپلو کورته رانه شي؛ ځکه له ایران څخـه د راسـتنیدونکو پـه اړه دا وېره شته، چې ویروس بـه لـه ځـانونو سره خپلـو سـیمو تـه راوړي. پـلار یـې اصرار کاوه، چې خامخا به راځي او خبره تر شخړې پـورې ورسـېدله. د جرګـې له لارې فیصله وشوه، چې دا کسان به په تجرید مرکز کې قرنطین کېږي او که د کورونا ټیست یې منفي و، نو بیا به خپلو کورونو ته راځي. یو بل کس په روښان مینه کې د نصوارو له امله پرنجی کړی و؛ نو خلکو پولیسـو تـه خـبر ورکـړی و،

چې دا کس کورونا دی. پولیسو هغه د ټیست لپاره روغتون ته وړی و. دا چې د کورونا ټیست د مثبتې او منفي نتیجې راتګ یوه اونۍ وخت نیوه ، کله چې دغه کس کورته ځي نو دکور خلکو ورته ویلی و؛ چې لومړی تشناب تـه لاړ شـه او ځان ووینځه او بیا جدا خونه کې کېنه چې کورونا بل چاته انتقال نـه کـړې. دی کس که هرڅومره ویـلي و، چـې پرنجـی یـې د نصـوارو لـه املـه و؛ خـو خپلـې کورنۍ یې هم نه مانه او په جدا خونه کې خپلې کورنۍ قرنطین کړی و. د پکتیـا په احمد ابا ولسوالۍ کې ولسوال په کورونا اختـه شـوی و. صـحي کـارکوونکي یې کور ته ورغلي و، چـې د تجریـد مرکـز تـه لاړ شي او خپـل ټیسـت وکـړي. ولسوال سرتنبه و او روغتون ته نه تله. کله چې د صحی کـارکوونکو او خلکـو لخوا مجبور شوی و، نو بیرون راوتلی او یو صحي کارمند یې ټینګ په غېږ کـې نیولی و او په خوله کې یې ورته ټوخی کړی و.

یو ځلې په کابل کې ښاروالۍ او د جمهور رئیس دکورونا د اړیکو د مسؤل د دفتر لخوا له خلکو سره د مرستې په خاطر څلور نیم کیلو غنم وویشـل شـول. دا نهایت بې منطقه پرېکړه وه، چې څلور نیم کیلو غنم به څنګـه وړه کـوي او د یوې کورنۍ د یوې ورځې مصرف یې هم نه پوره کاوه. زیاتو کسانو دا غـنم پـه پلاستیکي خلطو کې اچولی و او پـه بـازار کـې ګرځېـدل. د کرونـا د مرسـتو پـه هکله ما یو پوست کړې و نو یو کـس راتـه لـیکلي و چـې والي صـیب د څلـور کیلو غنمو په هکله څه نظر لري. که څه هـم د کابـل غنمـو ویـش د ننګرهـار د ولایتي اداري پورې هیڅ اړه نه درلوده خو ځینې غوښتل چې زما خولـه وګـرې نو ما ورته ولیکل که دانه دانه یې وخوري نو قرنطین مو پرې ښه تیریـږي او کـه په لپه لپه یې وخوري نو د یوې ورځې روژه ماتې مو پری کیږي. نو ستا خوښـه چې دانه دانه یې خوري او که په لپو. دې جملې هم زیات انعکاس د خلکو په منځ کې وکړ.

داسې لوی مصیبت ته نه یوازې افغانستان، بلکې د دنیا پرمخ تللي هېوادونو هم تیاری نه درلود. د سیاسیونو، ولسونو او روغتیایي سکتور د متخصیصـینو تـر منځ اختلاف په هره سـیمه او هېـواد کـې موجـود و. ځینـو هېوادونـو کـې پـوره

قرنطین، په ځینو کې نیمه قرنطین او په ځینو هېوادونو کې حتی د امریکا په شمول، جمهور رئیس ټرمپ د روغتیایي سکتور له سپارښتنو سره مخالفت درلود. ننګرهار هم له دغه مشکل نه بچ نه و. کېدای شي ډېرې پرېکړې هغه وخت ځینو لپاره معقولې نه ښکارېدې خو د یوې اداري مشر ـ د معلوماتو او احتمالي خطرونو په اساس پرېکړې کوي. شاید ځینې وختونه د مسوولینو پرېکړې له عامه ذهنیت سره برابرې نه وي؛ خو د دې اړتیا وي چې تصمیم باید ونیول شي. د کورونا ویروس لکه بې پاسورده Wi-Fi په شان و، چې هرچا به درلوده؛ نو له نږدې کېدو سره مقابل لورې ته ویروس انتقالولی شو. طبي اصطلاح ده، چې په اول کې ځان ساتلو او وروسته Herd Immunity یا کتلوي معافیت ته اړتیا وه، چې د وبا مخه نیول شوې وی. د همدې فرمولې په اساس، د تلفاتو کچه په ننګرهار کې کمه شوه.




د کورونا فنډ د ویش په هکله د جلال اباد ښار د څلورمې ناحیې رپورټ چې د پوهنوال ببرک میاخیل په مشرۍ رضاکارو چمتو کړی و، کټ مټ دلته نشروم تر څو راتلونکي کې د نورو ټولنیزو مسایلو په هکله ترې کار واخیستل شي.

**د ترسره شویو فعالیتونو لنډیز**

لمړی د کورونا فنډ د مرستو د رامنځته کېدو لپاره په ولایتي کچه یوه مفکوره رامنځته شوه. په همدې تړاو لومړنۍ غونډه چې د کورونا فنډ د رهبرۍ

لخوا په مرکزی دفتر کې جوړه شوی وه، پر دغه مفکوره زیات بحث وشو او د جلال اباد ښار په نهو ناحیو کی د کورونا فنډ د مرستو وېش لپاره مسئولین په گوته شول، چې دځلورمې ناحیې لپاره هم څوو تنه هر یو ببرک میاخیل ، احمد ضیا عبدلزی ، عبدالبصیر سباوون ، اجمل شمس او...، وټاکل شول؛ چې ځینو ان دسروې پرمهال سر هم را ښکاره نه کړه .

په ځلورمه ناحیه کې مو دکورونا فنډ د مرستو دسروې لپاره د عملي چارو د پیل په موخه د ناحیې د اړوند گذرونو د مشرانو، د ناحیې د آمر او په گوته شویو خارونکو په شتون کې غونډه وکړه. په دې غونډه کې مو د رضاکارانوزکړی هم پراخه کړه او په ناحیه کې مو یو شمېر مدني فعالان هم په دې چاره کې را شریک کړل. په غونډه کې د رضاکارانو ټیمونه جوړ شول، چې د ځلورمې ناحیې رضاکاران په لاندې جدول کې ذکر شوی دي.

**د ځلورمې ناحیې د رضاکارانو نوملړ**

| نوم | شمېره | |
|---|---|---|
| پوهنوال ببرک میاخیل | ۱ | ځلورمې ناحیې رضاکاران |
| استاد خالد شینواری | ۲ | |
| احمد ضیا عبدالزی | ۳ | |
| سعادت ښاد | ۴ | |
| سلیم صمیمي | ۵ | |
| شاکر حضرتي | ۶ | |
| سمیع الله حضرتي | ۷ | |
| کامران ایوب احمدزی | ۸ | |
| محمد هلال | ۹ | |
| فرید احمد استقلال | ۱۰ | |
| شفیق ننگرهاری | ۱۱ | |
| یعقوب شینواری | ۱۲ | |

| | | |
|---|---|---|
| | ۱۳ | حبیب شینواری |
| | ۱۴ | رفیع الله عادل |
| | ۱۵ | خیرالله |
| | ۱۶ | نقیب الله |
| | ۱۷ | سمسور ځوانمل |
| | ۱۸ | عزیز خان ستانکزی |
| | ۱۹ | حیات الله حمیدی |

رضاکارانو ته دنده وسپارل شوه ، چې د څلورمې ناحیې د یوولسو (۱۱) گذرونو د مشرانو ،متنفذینو ، او جوماتونو له ملا امامانو سره په شریکه د مستحقو کورنیو سروې پیل کړي. د سروې په موخه د هر گذر د جوما تونو امامان، متنفذین، اود گذرونو مشران او گذر وکیلان مشخص شول.

تر غونډې یوه ورځ وروسته څلورو(۴) تاکل شویو گروپونو په ساحو کې عملاً خپلې چارې د مشرانو، گذر وکیلانو، او د جوماتونو ملا امامانو په شتون کې پیل کړې.

باید یادونه وشي چې دا سروې د هغې پخوانۍ سروې په پام کې نیولو سره وشوه، چې د ناحیې د گذر وکیلانو لخوا وړاندې شوې وه ، خو دا چې د کورونا فنډ په کمېټه کې پرېکړه شوې وه، چې د گذر وکیلانو پر سروې بیا کتنه وشي او یواځې تعریف شوي مستحقین پکې ځای پر ځای شي، نو پر همدې اساس پخوانۍ سروې ته په کتو دا چاره پیل شوه، چې هغه پاتې شوي مستحقین په گوته شي چې نهایت زیات ناچاره وي.

## د ځلورمې ناحیې په فعالیتونو مفصل بحث

### د پیل خبرې

داچې د کورونا فنډ مرستې د ننګرهار دوالي شامحمود میاخېل ابتکار و او هدف دا و چې له دې لارې د جلال اباد ښار په ټولو ناحیو کې له ناچارو او مستحقو کورنیو سره مرستې وشي؛ نو د مستحقینو د تشخیص او د کورنیو د انتخاب لپاره په ټولو ناحیو کې یو رضاکار د مسؤل په توګه وټاکل شي؛ چې په ځلورمه ناحیه کې پوهنوال ببرک میاخیل ته د رضا کارانو مسولیت چاره ور تر غاړې شوه.

د ځلورمې ناحیې رضاکار مسؤل د خپلې رهبرۍ لاندې د رضا کارانو ټیمونه جوړ او په بېلابېلو ګذرونو کې د کورنیو د سروې او د ناچارو او مستحقو کورنیو دغوراوي دنده ور وسپارل شوه . زیاترو رضا کارانو په پوره صداقت سره د مستحقو کورنیو د انتخاب لپاره خپلې سروې ګانې ترسره کړې، په ذکر شویو ګذرونو کې کور په کور سروې د سهار له اتو بجو څخه پیل او تر مازیګر ان ځینې ورځې به تر ماښام پورې سروې جریان درلود.

### د سروې موخې

د رضاکارانو لخوا د سروې موخه دا وه، چې کورنا فنډ شته مرستې په نهایت زیاتو نا چارو ویشل شي او په دې موخه ناچاره کورنۍ په ګوته او د مرستو لپاره په نښه شي او د مستحقنینو په لیست کې شامل شي.

### د سروې لنډ جریان

ګمارل شویو رضاکارو ټیمونو د ګذر له وکیلانو او دجوماتونو له ملا امامانو سره په همغږۍ د ځلورمې ناحیې د ځلورو ګذرونو لومړي ، دوهم، درېیم او ځلورم ګذر کې د سروې چارې پیل کړې. په لومړۍ ورځ په دریو ګذرونو کې د سروې چارې سمې مخته لاړې ، خو په دوهم ګذر کې د خلکو د زیاتو غوښتنو له امله چې هر چا خپل ځان په دغه سروې کې مستحق ګڼلو د زیاتې

ګنې ګونې له امله زموږ د سروې چارې له خنډ او ځنډ سره مخامخ شوې، او زموږ رضاکاران په لومړي ورځ په دې ونه توانیدل، چې دوهم ګذر کې خپله سروې بشپړه کړي، په دویمه ورځ سیمې ته ورغلو له مشرانو او متنفذینو سره مو ولیدل قناعت مو ورکړ او رضاکارانو مو خپلې چارې پیل کړې او سروې یې تر سره کړه . په یادو څلورو ګذرونو کې سروې اته (۸) ورځې ونیوې، چې لامل یې هم په دغو ګذرونو کې د نفوس زیات والی و ، لکه دواړه قصبې، زوړ ښار، او د شپاړسو (۱٦) فامیلو ساحه.

همدارنګه زموږ د سروې چارې د ګذرونو د ترتیب له مخې، مخته لاړې لکه پنځم ، شپږم ، اووم ، اتم ، نهم ، لسم او یوولسم ګذر کې زموږ ګمارل شویو رضاکاره ټیمونو د سروې چارې پیل کړې.

دا چې د کورونا د وایروس د خپرېدو اندیښنې زیاتې وې، نو زموږ رضاکارانو د یو ستر خطر په منلو سره په ریښتنې ډول خپلې چاري مخته وړلې ، او نهایت هڅه همدا وه چې حق دې حقدار ته وسپارل شي، او مستحق اشخاص په نښه شي. په دې وروستیو پاتې اوو (۷) ګذرونو کې د سروې چارې اړوند رضاکارانو مخته یوړې ، چې د ځینو ګذر وکیلانو لخوا همکاري فوق العاده وه؛ خو له بده مرغه بیا یو نیم ځای کې د ګذر وکیلانو له رضاکارو ټیمونو سره ښه همکاری نه کوله؛ لکه: خپلو موکلینو تر تاثیر یا اغېز له امله به یې قناعت نشو ورکولی، پړه به یې په رضاکارنو اچولوله چې دا صلاحیت او مسولیت د همدوی دی، خو زموږ رضاکارانو خپلې چارې د مستحقو د تعریف په بنیاد مخته وړلې. باید یادونه وکړو چې په دغه اوو (۷) ګذرونو کې د سروې چارې په شاو خوا دولسو (۱۲) ورځو کې بشپړې شوې چې د څلورمې ناحیې د ټولو ګذرونو سروې په شاو او خوا یوویشتو (۲۱) ورځو کې ترسره شوه.

**د گذر د وکیلانو لخوا د ترتیب شویو لیستونو په اړه معلومات**

کوم لیستونه چې په اړونده گذرونو کې د گذرونو د وکیلانو لخوا ترتیب شوي و؛ نیمگړي و. په ځینو گذرونو کې دوی یواځې تقریبي شمېرې وړاندې کړې وې. کومو لیستونه چې په لاس کې وو د بیا کتنې او د لا شفافیت لپاره یې د رضاکارانو ټیمونو کور په کور بیا ځلې سروې وکړه او ناچاره او مستحقې کورنۍ یې د هماغه تعریف له مخې چې د کورونا فنډ د لومړنۍ غونډې لخوا یې فورم ترتیب شوی و، په لیستونو کې انتخاب کړې.

**د مستحق تعریف او پېژندنه**

مستحق لکه له نوم څخه یې جوته ده، معنی یې ده حق درلودونکی یا هم هغه څوک چې په یو مال کې حقدار او د برخې اخیستو وړ وي او همدارنگه په هغه فورمه کې چې د کورونا فنډ عمومي کمیټې لخوا ترتیب شوې وه مستحق شخص هغه څوک په گوته شوی و، چې معاش یا تنخا ونلري، دځمکې عاید او کور کرایه ورته نه راځي ، له بهر څخه منظمې مرستې ورسره نه کېږي او په ټوله کې د عاید هېڅ سرچینه ونلري. همدارنگې کورونا فنډ د مرستو مستحق د یادې فورمې تر مخه هغه څوک گڼل شوی چې بیخې لا چاره وي او لږ تر لږه د یوې او یا دوو ورځو لپاره یې خوراکې توکې په کور کې نه وي.

**د ناحیې آمر**

د څلورمې ناحیې آمر بریالی (چلند) چې د دغې پروسې تر پایه یې له رضاکارانو ټیمونو سره خپله همکاري کړې او په اړونده گذرونو کې یې د مشکلاتو او ستونزو د رامنځته کېدو په وخت کې خپله همکاري او رسیده گي کړې ده.

**ناحیوي ټیمونه**

په ځلورمه ناحیه کې د رضاکارانو ځلورو(۴) ټیمونـو سروې کـړې ده ، چې په یوولسو (۱۱) ګذرونو کې یـې زیـات مسـتحق او بـې وزلـه خلـک مشـخص کړي دي .

ټولو ټیمونو په دقت سره دسروې چارې مخته یوړې ، ټیمونـو د کـار میتـود داسې و: چې د کورنۍ مشر او یا هم د کورنۍ له بل غړي سره یې خبرې کولې، د وضعیت پوښتنه یې ترې کوله، د کورنۍ د کور حالـت بـه یـې ولیـده، لـه دې وروسته به یې د هغې فورمې له مخې چې د کورونا فنډ په اوله کمېټه کې جـوړه شوی وه؛ تصمیم نیولو، که کورنۍ به ناچاره وګڼل شوه، نو لیست کې بـه شـامله شوه، همداسې به یې چارې مخ ته وړلې، دسروې لـه چـارو بـه تـل د دغـه ټـیم مشر پوهنوال ببرک میاخیل او ورسره د ټیم نورو غړیـو اسـتاد خالـد شـینواري ، انجینر کامران ایوب او د یادې ناحیې مشر بریالي لیدنه کوله .

**د فعالیت ناحیه او د ناحیې حدودات، د ګدرونو شمېر او د ناحیې نفـوس (د ناحیې په اړه بشپړ معلومات):**

| |
|---|
| ځلورمه ناحیه دجلال اباد ښار په پنځو لویو ناحیو کې یوه لویه ناحیه ده ، شا او خوا اته کلومتره مربع مساحت لري. د یو ان هبیتات د سروې له مخې ځلورمه ناحیه شا او خوا اته زره کورونه لري، ځینې لوی کورونه یې دکـورنۍ پـه بنـه دي چـې پـه ګڼو فامیلو مشتمل دي .<br>دا چې ځلورمه ناحیه دجلال اباد ښار په ختیز کې موقعیت لري نـو ، د شـینوارو او مومندو له سیمو څخه وروستي را کوچیدلي خلک هم زیـاتره پـه همـدې ناحیـه کې مېشت شوي دي . ځلورمـه ناحیـه یـوولس ګذرونـه او پنځـه دیـرش دګـذرونو وکیلان لري ، په ټولو ګذرونو کې یې ټاکنې نه دي شوي چې ګذرونـه یـې معیـاري او په شرایطو برابر وکیلان ولري .<br>دځلورمې ناحیې څلور خواوې : شمال ته یې لومړنۍ ناحیـه ( دقصبې پـر لـور |

دغزیدلي سرک ،کینې لوری) سهیل ته یې دکانال نهر د مقام خان تـر خـوړ پـورې ، ختیځ ته یې دننگرهار هوایي ډگر ، نهمـه ناحیـه او یوولسـمه ویالـه، لـودیځ تـه یـې دویمه ناحیه (له تالاشی چوک نه دانگور باغ پر لور غزیـدلی سرک ، دهـډې فـارم تر نهره پورې ) دڅلورمې ناحیې سر شمېرنه په دقیق ډول نه ده شوې، خو د نـاحیې دمشر بریالي چلند په وینا دغه ناحیه شا او خوا دوه سوه زره وگړي لري چې په وینا یې دوی نورو ادارو ته هم همدا تقریبي شمېر ورکوي.

### د گذر د وکیل لخوا د لومړني لیست ترتیب:

د گذر دوکیلانو له خوا له موږ سره لومړنی لېست په منظم ډول نـه دی شریـک شوی ، دوی دکاغذ پر مخ دځینو گذرونو یاداښتونه لرل، خو ددوی په وینا درټولـو گذرونو سروې یې نه وه کړې، ځکه یې منظم لیست نه لرلو .

### د ناحیو د آمرینو لخوا د ثانوي لیست ترتیب

په ناحیه کې هم کوم منظم لیست او دسروې ارقام موجود نه وو، چـې مسـؤلین یې له موږ سره شریک کړي .

### د ناظرینو لخوا د نهاني لیست ترتیب

د ناظرینو لخوا چې د څلورمې ناحیې په یوولسو گـذرونو کـې د مسـتحقینو سروې وشوه چې په کې په ټولیز ډول زرگونه داسې کورنۍ، په گوته شوې چې اړمن او بې وسه خلک وو، خو د دوی له منځه هغه کورنۍ چې بیخـي لا چـاره وې او د مستحق په تعریف کې راتللې د څلورمې ناحیې د رضـاکارانو لخـوا پـه گوته شوې، په نښـه شـویو مسـتحقینو او لا چـارو کورنیـو چـې کوپونونـه پـرې وویشل شول شمېر (۱۷۳۳) تنو ته رسیږي، چې د راپور سره ضم یې لیست هـم موجود دی .

## د توزیع پلان

تر هغې وروسته چې اړمنې کورنۍ او مستحقین په ګوته شول او هغه فورمو ته د دوی یاداښتونه ورسیدل، چې له وړاندې نه ترتیب شوې وې دغه لیستونه د کورونا فنډ عمومي کمیټې ته وسپارل شول چې تر مخه یې د توزیع لپاره پلان جوړ شو.

د توزیع پلان په دې بڼه و، چې د ترتیب شوي لیست له مخې مستحقینو ته د کوپون کتابچې په پام کې ونیول شوې، د کوپون کتابچې ناحیې ته راوړل شوې او د لیست مطابق د ګذر وکیلان او هغه رضاکار ټیم چې په دې برخه کې یې په هر ګذر کې کار کړی و، موظف شول چې د تذکرې په لرلو سره تثبیت شوي مستحق ته د کوپون پاڼه ورکړي ، همدارنګه د کوپون د پاڼې د ورکړې پرمهال دوی ته د موادو د ورکړې ورځ هم ځانګړې شوه چې د توزیع پرمهال هر اړمن شخص خپل کوپون په لاس کې لره او همدارنګه یې خپله پیژند پاڼه هم ورسره وه، چې د کوپون او پیژند پاڼې په لرلو سره د موادو د اخیستو ځای ته به د ورتګ اجازه ورکول کېده.

## د توزیع ځای

د کورونا فنډ د موادو د توزیع لپاره د شیرزي لوبغالی چې نسبتاً یوه پراخه ساحه ده په پام کې نیول شوی وه، په دغه پراخ میدان کې د شپې لخوا د موادو رانتقال لړۍ پیل شوې او ترسهاره پورې به کاریګرو مواد لوبغاړي ته انتقالول. دغه بېلابېل مواد چې وړه، غوړي ، بوره ، چای ، لوبیا او نور توکي پکې وو په منظم ډول هر سهم او برخه د دوو مترو په فاصله کې ځای پر ځای کېدل، د شیرزي لوبغالی هم له امنیتي پلوه او هم له فزیکي پلوه یو خوندي ځای و، چې د جلال اباد ښار د بېلابېلو ناحیو د کورونا فنډ مرستې همدلته پر مستحقینو وویشل شوې.

## د توزیع میکانیزم

د کورونا فنډ د موادو ویش په دې ډول و، چې وړاندې چې کوم کوپونونه مستحقو خلکو ته ورکول شوي و، نو هر کس باید د توزیع پرمهال یاد کوپون له ځانه سره لرلی؛ ورسره به یې خپله تذکره او بله پیژند پاڼه هم ضروري وه، نو په همدې اساس دوی تر چیک او پلټنې وروسته د لوبغالي میدان ته رهنمایي کېدل او د فاصلې په پام کې نیولو سره دوی هلته کېناستل، د میرمنو لپاره د لوبغالي په سهیل لویدیځه برخه کې ځای په پام کې نیول شوی و او هغوی هلته د موادو د اخیستو لپاره منتظرې وې .

کله چې ټول مستحق وګړي لوبغالي ته داخل او په منظم ډول د لوبغالي په منځ کې ځای پر ځای شول؛ نو په ترتیب سره د ویش لړۍ د ننګرهار د محترم والي شاه محمود میاخېل، د کورونا فنډ د مشرانو او د ناحیې د رضاکارانو لخوا پیل کېدله. تر پیل وړاندې یو شمېر لاسي کراچۍ لوبغالي ته رادننه کېدلې چې په ترتیب سره به یې د هر تن لپاره بیل شوي خوراکي توکي په کراچۍ کې بارول او له هر تن نه به د هغه کوپون اخیستل کېدو او له موادو ډکه لاسي کراچۍ به ورته مشخصه کېده چې تر کوره یې مواد ورسره ورسوي.

د جلال اباد ښار څلورمه ناحیه د نورو ناحیو په پرتله ګڼ نفوسه او د زیات مساحت لرونکې ده، څرنګه یې چې د مستحقینو شمېر هم زیات و، نو په پیل کې له موږ سره اندیښنه دا وه، چې ښايي د مواد ویش نا منظم شي او یا هم دویمې ورځې ته پاتې شي خو د الله په فضل او د چارو د ښه مدیریت له امله د موادو توزیع په ډېر ښه شکل سرته ورسېده. (۱۷۳۳) په ګوته شویو مستحقینو له جملې نه پر (۱۷۲۹) ناچارو د کورونا فنډ مواد وویشل شول او دا چاره په بریالیتوب سره سرته ورسیده.

**د خپلو کاري تجربو په اړه په زړه پورې کیسې**

په سروې ګانو کې موږ تجربه شو، چې څنګه کولای شو مستحق او واقعي ناچاره کورنۍ وپیژنو. دا مو هم زده کړل چې څنګه کولای شو؛ په شفاف ډول له لاسوهنو سپارښتنو پرته مستحقې کورنۍ انتخاب کړو.

بله تجربه او زدکړه مو دا وکړه چې څلورمه ناحیه څومره حدودات لري ؟ او له کوم ځای څخه پیل او تر کوم ځای پورې رسیدلې ده ؟ تخمیني نفوس یې څومره دی ؟

په څلورمه ناحیه کې د اوسیدونکو په توګه موږ دا معلومات نلرل چې دغه ناحیه څو ګذرونه لري؟ او د ګذرونو د حدوداتو په اړه مو هم معلومات نه لرل او ددې ساحو اوسیدونکو ته هم معلومات نه و، چې دوی په څویم ګذر کې اوسیږي.

زموږ رضاکاران چې د مختلفو مسلکونو او دندو لرونکې و، زیاترو د ولس سره کار نه و کړی، نودا یوه نوې تجربه وه چې دوی هر ډول غوښتنو ته قناعت ورکونکی ځواب ورکړی. دا تجربه مو هم حاصله کړه، چې د هرې طبقې خلک وپیژنو او د هغوی په احساس پوه شو، دا تجربه مو هم حاصله کړه چې کوم ډول خلک په خپل حق صبر کوي او څوک یې نه کوي. چې په دغه سروې کې موږ ته دا ثابته شوه، چې ډېری خلک پخپل حق صبر نه کوي.

**جالبې او په زړه پورې کیسې**

اول داچې ځینې کورنۍ به داسې هم وې چې هم به یې خپله او هم به یې د اولادونو تذکرې راوړې، چې دا هم د مستحقو لیست کې ونیسئ، نو بیا به ټیم پلټنه وکړه، له همدې کورنۍ څخه به دوه یا درې نومونه د ګذروکیل ناحیې ته ورکړي و، چې د ټیم لخوا به یو مستحق تن په نښه او د مستحقو په لیست کې به یې نوم ولیکل شو.

ځلورمې ناحیې د پنځم ګذر د روښان مینې په ساحه کې داسې کورنۍ، چې د کور هېڅ سرپرست يې نه درلوده او هېڅ وخت يې د خپلې حيا او عزت له امله د چا دروازه نه ټکوله، چې د کومک غوښتنه ترېنه وکړي همدا علت و چې د وکيل ګذر لخوا به هر وخت له مرستو پاتې و، چې زموږ رضاکارانو ته د همدې سيمې د يو اوسيدونکي لخوا دغه کورنۍ معرفي، چې کله يې د ټيم لخوا ليدنه وشوه نو د کور سرپرست يې لس (۱۰) کلن ماشوم و، چې په وينا يې همدې سېمې خلک ورسره کله کله مرسته کوي چې خوشبختانه د کورونا فنډ له مرستو برخمن شول.

همدارنګه بله جالبه قصه دا وه، چې ځينو ګذرونو کې به چې موږ له يو مشر او سپين ږيرې ځخه پوښتنه کوله، چې ته موږ ته داسې ناچاره کورنۍ په ګوته کړه، چې ډېر بې وزله وي يا هم کونډه يا معلول وي نو اول به يې خپل ځان او خپله کورنۍ ښودله چې معلومات به مو وکړل نو مستحق به نه و.

دسروې په جريان کې له داسې پېښو سره هم مخامخ شوي يو، چې د کوم کور دروازه به د ټيم لخوا ټک ټک شوه چې حالت يې وګوري نو د کور خاوند چې به له ورايه ټيم ته مستحق ښکاره شو، چې خبرې به يې ورسره وکړې، په خپله به يې اعتراف وکړ چې دا مرسته دډېرو نا چارو لپاره ده او زموږ څه ناځه وس رسيږي او ددې مرستې مستحق نه يو ، ځو ځايه له داسې پېښو سره مخ شوي يو .

## هغه درسونه چې د تشخيص ، ويشنې او له خلکو سره د کار پرمهال مو زده کړل

دا چې د ځلورمې ناحيې په رضاکارانو کې يو شمېر تجربه لرونکي اشخاص هم و، چې د خپلو اداري او ټولنيزو تجربو پر اساس يې د مسايلو او مشکلاتو پر وړاندې هر چاته ښه قناعت ورکولی شو، دوی د نورو لپاره د صبر، زغم، او حوصله مندۍ ښې بيلګې وې . زموږ رضاکارانو د خواله رسنيو له لارې ،همدارنګه په مخامخ غونډو او ناستو کې د پروسې د ښه پرمخ بيولو لپاره

خلکو ته سپارښتنې کړې وې. همدارنګه د دغه پروسې لپاره یې له ګذر وکیلانو، متنفذینو او ملا امامانو سره معلومات په ښه شکل او هر وخت شریک کړي و ، نو همدا لامل و چې د پروسې په تشخیص او پرمخ بیولو کې د څلورمې ناحیې رضاکاران د زیات مشکل سره نه و مخامخ شوي چې دا پروسه زموږ د رضاکارانو لپاره یوه ډېره ښه تجربه وه، چې د اشخاصو په تشخیص او استخدام کې یې ترېنه هم ښه زده کړه وکړه.

### د خلکو نیوکې او منفي نظرونو په اړه

موږ دا منو چې په دې پروسه کې به مشکلات و؛ خو ځینې خلک چې خپله خو یې ټولنې ته کوم خیر یا خدمت له لاسه نه کېږي، برعکس د نورو خلکو ذهنونه تخریبوي. هره نیوکه چې کېږي که ناسمه وي ، نو هم پلټل یې ضروري دي چې حقایق را برسېره شي او که پرځای نیوکه وي اصلاح رامنځته کوي. بیلګې په دې ډول دی موږ ته دعمومې کمېټې دیو غړي له خوا وویل شول ،چې د څلورمې ناحیې یو وکیل د خپلو خپلوانو نومونه لیکلي چې مستحق نه دي، خو کله چې موږ د ګذر وکیل او خپل رضاکاران راوغوښتل نو ادعا کونکي تیلفون ته مو ټیلیفون وکړ چې د سپیناوی لپاره راشي؛ خو له راتګ څخه یې انکار وکړ، موږ ورته په تیلفون د یو یو مستحق نوم یادونه وکړه چې په هر یو که نیوکه لري؛ چې نا مستحق دی نو مهرباني وکړه، نو خپل تیلفون یې بندکړ او سپیناوي ته حاضر نشو، ښایي دغه ادعاکونکي د ګذر له وکیل سره کومه شخصي ستونزه لرله او په دې اساس یې غوښتل چې وکیل ګذر نوم بدی کړي.

له څلورمې ناحیې څخه یو تن یو سیمه ییز تلویزیون ته کورونا فنډ په پروګرام کې زنګ وهلی و او دعوه یې کړې وه [چې دلته د غواګانو تجار نوم دغریبو په لیست کې لیکل شوی خو واقعی مستحق پاتې شوي دي ] کله چې زموږ د رضا کار ټیم لخوا پلټنه وشوه ، نو یو شخص خپل خوسکی د خپلې

میرمنې د درملنې لپاره پلورلې و او بل هیڅ کوم څاروی او داسې قیمتي څه یې په کور کې نلرل او نه یې د عاید کومه سرچینه وه، چې درملنه یې وکړي ، بدبختانه میرمن یې هم د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات شوه. کله چې مو له ادعاکوونکي سره له نږدې اړیکه ونیوله نو ځواب یې دا و چې زما نوم ولې نه دی لیکل شوی؟ حال دا چې د مستحقو په تعریف کې نه راتلو.

**د فعالیتونو د اجراء په وخت کې فرصتونه، ننګونې، مثبت او د ضعف ټکي**

**فرصتونه:**

- نږدې ټول رضاکاران او ګمارل شوي ټیمونه د څلورمې ناحیې اوسیدونکي و ، چې د راغونډیدو او ناستو پر مهال یې په راټولیدو ستونزه نه وه.
- د زیاتره رضاکارانو ښه کاري تجربه او پوره مهارت خلکو ته په قناعت ورکولو او د چارو په ښه مخ بیولو کې یو ښه فرصت و چې په اسانۍ سره یې ستونزې هوارولې.
- د ناحیې د زیاترو ګذر وکیلانو او د جماعتونو د ملا امامانو او قومي متنفذینو له پروسې سره ښه همکاري او ډاډګېرنه یو لوی فرصت و.
- د ناحیې د آمر او پرسونل ښه تخنیکي همکاري او له موږ سره په غونډو کې فعاله برخه اخیستنه.

**ننګونې:**

- د څلورمې ناحیې د نفوسو د شمېر زیاتوالی چې رسیدګی ورته په دومره کم وخت کې د ښه کیفیت لرونکې سروې مخه یې نیوله.
- په زیاترو ناپلاني ساحو کې د خلکو اوسیدل چې د سروې پر مهال یې د مستحقینو تشخیص ستونزمن کړی و.
- د ناحیې پراخوالی او د ګذرونو تر منځ د نامنظم سیستم موجودیت.

- د مرستو کموالی او د مستحقینو زیاتوالی چې ټولو ته یې رسیدل ستونزمن کړی و.

**مثبت ټکي:**

- د سروې پر مهال د مستحقینو په پیژندلو کې د خپلوۍ او اړیکو نه پالل او یواځې مستحق او لاچاره په گوته کول.
- د خبرېدو پر مهال د مستحقو کورنیو ته رسیدل او له پلټنې وروسته یې د مستحقینو په لیست کې شاملول.
- د بیروني او زورواکو اشخاصو نه لاسوهنه

**کمزوری ټکي:**

- د گذرونو د ځینو وکیلانو خپل منځي ستونزې او له پروسې سره همکاري نه کول.
- د گذرونو ترمنځ د حدوداتو نه مشخصوالی، چې د سروې پر مهال یې ستونزې پیدا کولې.
- په یو گذرکې د څو وکیلانو شتون، چې له امله یې ځینې مستحق هم له لیست څخه پاتې کېدل .
- په ناحیه کې د نفوسو او کورنیو د منظم ډیټابیس نشتوالی چې د اړتیا پر مهال تربنه گټه پورته شي.
- د سروې له بهیر سره د یو شمېر رضاکارانو په ربښتیني ډول نه همکاري، چې له امله یې په چارو کې ځنډ او ځنډ رامنځته کیدو.

**پایله:**

د کورنا فنډ مرستې د ننگرهار ولایتې اداري یو نوښت و، چې د افغاني سوداگرو او د هېواد په داخل او بهر کې د یو شمېر با احساسه افغانانو په مالي

مرسته يې پروسه پيل شوه. هغه څه چې د پروسې د ښه پرمخ بیولو لپاره لازم و، هغه د دغه بهیر ښه مدیریت او ژمن ټیم و. ددې پروسې مدیریت د رهبرۍ ټیم او رضاکارانو لپاره يې یوه نوې تجربه وه. په داسې حال کې چې له یوې خوا دغه پروسه رضاکارانه وه، چې معمولآ د رضاکارانه پروسو مدیریت خورا ستونزمن کار وي، ځکه چې په داسې پروسو کې نه مکافات وي او نه هم مجازات، دحقوقو او وجایبو له پلوه هم یو څوک په دې مکلف نه وي، چې حتمن دې یوه چاره سرته ورسوي، یواځې یو اخلاقي مسولیت يې هر څوک ګنې . نو د پروسې د مدیر لپاره يې مدیریت هم خاص مهارت غواړي، چې په نرمه ژبه هر څوک قانع او چارې ښې پرمخ بوځي .

کورونا فنډ د مرستو ویش په ننګرهار کې داسې مهال پیل شو، چې د کورونا ناروغۍ وېره په ټوله نړۍ او زموږ په هېواد کې خپره وه، هغو رضاکارو ټیمونو چې د دې پروسې پرمخ بیولو لپاره ټاکل شوی و، د یو لوی خطر په منلو سره دا چاره پرمخ بیوله. نو په داسې حالاتو او شرایطو کې د یوې لویې پروسې مدیرت کول هم اسان کار نه و. دا چې د ننګرهار فرهنګي چاپیریال د دغه ولایت د قلموالو او یو شمېر مدني فعالانو ته د دې احساس ورکړی و، چې په دغه پروسه کې خپله خواخوږی ښیي ، نو همدا لامل و چې د دوی فرهنګي مېنې او له خپلو خلکو سره خواخوخوږي د دې لامل شوه چې دکورونا فنډ د مرستو وېش په خورا ښه طریقه پر مخ لاړه.

بدرګه که محبت را سره نه وای ـ عاقبت به په خونخوارو لارو تلل څوک .

یوه ستره ستونزه او ننګونه چې د کورونا فنډ د مرستو د پروسې پر وړاندې موجوده وه ، هغه زموږ د خلکو د عامه پوهاوي د کچې ټیټ والی و، خو دا چې له موږ سره ښه بشري ځواک موجود و ، نو خپلو خلکو ته يې په ساده او اسانه ژبه پوره پوهاوی او قناعت ورکولو.

دا چې هره پروسه او بهیر فرصتونه ، ننګوني مثبت او منفي ټکي لري، نو دې پروسې هم ښیګڼې لرلې او هم ځینې ستونزې چې وړاندې يې یادونه

وشوه. مګر په ټوله کې د دې پروسی ښه فرصتونه او مثبت ټکي د دې لامل شول چې دغه پروسه بریالۍ او زیاترو خلکو ته د قناعت وړ وګرځي.

**سپارښتنې:**

- د دې سروې ګانو پر مهال باید ښاروالۍ او شهداء او معلولینو ، کار او ټولنیزو چارو له ادارې سره د مستحقو کونډو او یتیمانو یو منظم ډیټابیس موجود وي ، چې د اړتیا پر مهال ترې ګټه پورته شي.
- د ښاروالۍ په هره ناحیه کې باید د نفوسو شمېر او د ناحېې د اوسیدونکو په اړه بشپړ معلومات موجود وي .
- د ګذر هر وکیل له هر وکیل سره باید د شواهدو او اسنادو پر بنیاد د ګذر د ټولو اوسیدونکو معلومات او بیا په ځانګړی ډول د بی وزلو، یتیمو، کونډو او ناچارو کورنیو بشپړ معلومات وي.
- د هرې ناحېې او ګذر په اړه په عامه جادو کې د ناحېې او ګذر لوحې موجودې وي، چې ځایي اوسیدونکو ته بشپړ معلومات وي چې دوی په کومه ناحیه او کوم ګذر کې اوسي .
- په ناحیو کې د ناحېې او ګذرونو په اړه بشپړ معلومات بروشر ( چاپ شوې پاڼې ) موجود وي، چې هر څوک یې په اړه لومړني معلومات ولري.
- د نا پلانې ساحو لپاره یو منظم پلان جوړ شي چې د اړتیا پرمهال او ددې پروسو د پلې کېدو لپاره ترینه ګټه پورته شي.
- درضا کارانه چارو دتر سره کېدو پر مهال باید هغه رضا کار د خپل خوښي خلک وګمارل شي ، چې ژمنتیا او تعهد ولري ، څکه ځینې یواځې نومونو ته خوشحاله وي، خو چې کله مسولیت ور سپارل کېږي نو بیا ترېنه اوږې خالي کوي ، ما ددې پروسې په جریان کې زیات داسې کسان ولیدل چې یواځې دنوم لپاره را سره و.

د پورته معلوماتو په بنیاد، په عیني حال کې د کورونا له مصیبت څخه مو د فرصت په توګه استفاده وکړه، چې د ولسونو او ادارو تر منځ همغږي زیاته شوله، د حکومت حاکمیت په ولسوالیو کې نور هم ښه او پراخه شو او حس د مالکیت او په حکومتولۍ د برخې اخستنې خلکو ته ورکړل شو. په دې برخه کې د ننګرهار د ولسونو، ټولو ملکي او امنیتي ادارو، رسنیو، علمای کرامو او مشرانو نه مننه کوم، چې د ولایتي ادارې او کمېسونو هر تصمیم ته یې لبیک ووایه او په ننګرهار کې د یو لوی مصیبت مخه ونیوه.

## د نازیانو او دور بابا شخړه

دې کې هېڅ شک نشته، چې د داعش او طالبانو د نفوذ له امله د شینوارو ولسونو، مشرانو او په کل کې ننګرهار او مشرقي ولایتونو ډېره قرباني ورکړه، خو په عیني حال کې د شینوارو سه پای او علیشیرخېلو مشرانو د داعش او طالبانو په راتګ کې رول درلود. د مشرانو د ګوندیو، رقابتونو او شخصي-مفاداتو له امله یوې ډلې طالبانو ته لاره ورکړه او بلې ډلې د داعش راتګ ته زمنیه مساعده کړه. په ۱۳۹۲ل کال کې د د دواړو قومونو ته ترمنځ په دښتنه باندې جنجال پیدا شو، چې په لکونو افغانیو تاوان یې ولسونو ته ورسېد او په عیني حال کې تقریبا ۶۷ کسه له دواړو خواو ووژل شول. په ۱۳۹۳ل کال کې د نازیانو د سن خېلو او د دوربابا د شیخانو تر منځ په همدې ډاګ بیا شخړه وشوه، چې له دواړو خواو نه، نه کسه زخمیان شول. په ۱۳۹۸ل لمریز کال کې د پېښې خلکو د مهمندري په ډاګ دعوه وکړه او د ګوړو په سیمه کې مظاهره جوړه کړه. په مظاهره کې ځانمرګي حمله وشوله چې ۸۴ کسه مړه او ۲۱۶ کسه زخمیان شول. کله چې د ننګرهار امنیت ښه شو، طالبانو غوښتل چې د شینوارو او هم نورو سیمو کې د مشرانو له لارې نفوذ پیدا او زړو شخړو ته لمن ووهي؛ څو امنیتي وضعیت بیا ګډوډ کړي. طبیعي خبره ده، چې کله خپل منځي شخړې په یوه سیمه کې پیدا کېږي، خامخا په هغه سیمو کې مخالفین نفوذ پیدا کوي او هغه سیمې بیا ناامنه کېږي.

د ۲۰۲۰ م کال د اپریل په میاشت کې د ننګرهار ولایتي اداره چې د کورونا د ویروس سره لاس او ګریوان وه، د تورخم د قرنطین لپاره په امنیتي تدابیر مصروفه وه، په عینې حال کې امنیتي ادارو د مهمندرې او دور بابا ولسوالیو په غوړکي، څاګي او ماشین ناو سیمو کې عملیات پلان کړي و؛ څو د طالبانو مرکزونه له منځه یوسي، د نازیانو او دور بابا د قومونو ترمنځ په دولتي دشته بیا شخړه رامنځته شوله.

د اپریل د میاشتې په اوومه نېټه چې کله پاکستان په زرهاو کسان یو دم د تورخم په دروازه راخوشې کړل، په همدې ورځ د دوربابا او نازیانو قومونو په خپلو منځو کې د دښتې په سر زړه لانجه تازه کړه او د یو بل پرضد یې لښکر کشي وکړه. په دغه جګړه کې شپږ کسه ووژل شول او اتلس زخمیان شول. د ننګرهار امنیه قوماندان مو سیمې ته ولېږه، چې د روژې په میاشت کې د اضافي تاوتریخوالي مخه ونیسي. البته د ولایتي شورا ځینو غړیو چې له ولایتي ادارې سره مخالفت کاوه او ځینو له طالبانو سره لاس درلود، په همدې وخت کې غوښتل چې دې مسئلې ته نور هم لمن ووهي. د فاتحې په نوم به ډله ډله کسان نازیانو او دوربابا ته روان و او د فاتحې په نوم به یې دې لانجې ته لا لمن وهله. کوروناییې ماحول یې هم په نظر کې نه نیولو.

مخکې له دې چې د دوی تر منځ شخړه زیاته شي، زه د نازیانو د مشرانو په استازولۍ له سهیل خان حاجي سره او همداشان د نازیانو د ولسوال قاضي اسمعیل طارق او د دور بابل ولسوال، شیرشاه حسیني سره وغږیدم. مشرانو تعهد وکړ او یو خط یې هم امضا کړ، چې لښکر کشي-به نه کوي. له اختر څخه وروسته به د دوی ستونځې ته یو هئیت ټاکو، چې د دواړو ولسوالیو تر منځ ستونځه په دایمي توګه حل کړي. متاسفانه له دې پریکړې وروسته بیا هم د نازیانو مشرانو لشکر کشي وکړه او پورته تلفاتو رامنځته شول. د دور بابا لخوا مشکل د دور بابا پخواني ولسوال حاجي همیشه ګل او حاجي کوتر جوړ کړې و، چې هلته یې د مسلم اباد او شیخ اباد په نوم غیر قانوني شهرکونه د پخوانیو

پریکړو په خلاف جوړ کړي و. که څه هم دا دولتي ځمکې وې او پوښتنه یې باید دولت کړي وی، خو د نازیانو شینوارو د دغه سیمې د مالکیت ادعا کوله.

د ننگرهار د ملي امنیت رئیس او امنیه قوماندان ته مې د نـده ورکـړه، چې د دوی له مشرانو سره وگوري چې مسئله د اوس لپاره غلې شي. ما ورتـه وویـل چې زه اوس له دوی سره نه گورم، ځکه دوی خپل تعهد مات کـړی او ولسونه دې مشرانو د خپلو شومو اهدافو په خاطر پـه جنـگ اچـولي دي. لـه اختر نـه وروسته چې د کورونا حالت ښه شي، د دوی نـه بـه بیا پوښـتنه وکـړو. پـه دغـه وخت کې د ولسي جرگې وکیل عبدالروف شپون، د حج او اوقافو رئیس قـاري محمد داود مجاهد، د ولایتي شورا وکیل اجمل عمر هم یوه جرگه برابـره کـړې وه او د دواړو قومونو تر منځ یې د اختر تر لسمې ورځې پـورې تیـره کېښـودله. دغه تیره اصلا د شینوارو د شپږو ولسوالیو مشرانو کېښوده ځکـه هغـوی پـه دې پوهیدل که له شینوارو بهر نورو قومونو ته اجازه ورکړي، چې په دې مسئله کـې مداخله وکړي، شینواري بیـا د پخـوا پـه شـان پـه لـوی مصیبت اختـه کېـږي. د شینوارو د نورو ولسوالیو مشران په دې هم پوهیدل چې د شخړې پـه دې پـروژه کې مخالفین لاس لري. له هسکې مېنې څخـه قـاري محب الله او لـه اچـین نـه سید حکیم حاجي په دغه جرگه کې ډېر مثبت رول ولوبوه. له نازیانو او دوربابا مشکل حاجي سهیل خان، گل داد خان، میرحمزه، پایمیر، امـان الله، میـرزاعلي، غنچه گل، سردارولي، حاجي زرولي، حاجي ظاهرالله او عزیزالله جوړ کړی و.

زموږ فیصله دا وه، چې اول بایـد د دواړو ولسـوالیو حـدودات د اسـنادو پـه اساس معلوم شي او بیا هره ولسوالۍ کې چې چا د ځمکې غصیب کړی وي، د قانون مطابق به ورسره برخورد کېږي. له دې علاوه باید دې دښتو کې شـهرکونه جوړ شي او د سیمې خلکو ته ورکړل شي چې دا دښتې د خلکو لـه جنجـال او ویش نه خلاصې شي. د مړو او زخمیانو د پوښتې پـه هکلـه بایـد قـومي جرگـه فیصله وکړي؛ ځکه په مغلوبه جنگ کـې مشـخص مـدعي نـه وي او ټـول قـوم پکې دخیل وي. داسې مشکلات تقریبا د ننگرهـار پـه اکثرو ولسـوالیو کـې لـه کلونو راهیسې پاتې و او باید حل شوی وی. د اخرې فیصلې پـورې چـې دواړه

خواوې بیا شخړه ونه کړي، د ملي‌اردو یوه پوسته د دواړو ولسوالیو تر منځ ځای پر ځای کړی شوه. په همدې ورځ د ملي‌امنیت ریاست دوه ځانمرگي لـه دوو واسکټونو سره هم ونیول.

جمهور رئیس د سلاکار وزیر، ضیاالحق امرخیـل پـه مشرۍ یـو هئیـت هـم ننگرهار ته راولیږه، چې د محلي ارگانونو مرستیال، جـنرال ایـوب سـالنگي او د ملي امنیت مرستیال جنرال عبـادالله عبـاد او لـه مـلي امنیـت شـورا څخـه ډاکـتر صبعت الله صبعت هم ورسره ملگري و. دوی سیمې تـه لاړل او هماغـه پرېکـړه یې چې موږ کړې وه تائید کړه چې پس له اختر نه به د دوی مشکل پـه دایمـې توگه حل کوو. د جون د میاشتې په ۲۶مه نېټه بیا د دور بابا او نازیـانو تقریبـا لـه شپیته کسو مشرانو سره د ښاروالۍ په میلمستون کې ناسته درلـوده، چـې د دوی ترمنځ بله تیره د شپږو میاشتو یا د یوه کال لپاره کېږدو، څو ولایت نـورو امنیتـي مسایلو او د کورونا مدیریت ته توجه وکړي. وکیل عبدالروف شپون هم موجود و. د شینوارو د مشرانو هر یو قاري سلام، حاجي سید حکیم، قاري سید محمـد او ملک کمین نظر دا و، چې دواړه خواوې دې دوی ته واک ورکړي او یـا دې خپل مسایل د حکومت له لارې حل کړي. له دیرو بحثونو وروسته، بلـه تیـره د شپږو میاشتو لپاره کېښودل شوله.

طبیعي خبره ده، چې طالبان او دهغـوی حامیـان د حکومـت لـه عملیـاتو او پلانونو په دغه سیمو کې خبرېدل. په امنیتي برخه کې یادونه شوې، چې له ټولو ستونځو سره د غوړکي عملیاتو ته دوام ورکړل شو، دلشکر طیبـه مهـم مرکـز لـه منځّه یوړل شو او هغه سیمه تصفیه شوه. حتی پاکستان د غوړکي په سیمه کې د پوستو جوړېدو مخالفـت وکـړ او د درنـدو وسـلو ډزې سره تبادلـه شـوې، خـو پوستې هلته واچول شوې. له بدغه مرغه د دور بابا او نازیـانو شـخړې د ماشـین ناو عملیات په تعویق واچـول. د ماشـین نـاو د نیولـو او تصـفیې سره، د طالبـانو نفوذ په ننگرهار کې په مکمله توگه له منځه تله، ځکه حصارک او شـېرزادو تـه حمایه هم د ماشین ناو له لارې او هم د مخدره موادو قاچـاق د همـدغې لارې

تر سره کېده. زما په اند، د نازیانو او دور بابا شخړې تر شا د طالبـانو او پاکسـتان د استخباراتي شبکې لاس و، ځکه د سیمې یو شـمېر مشرانو د پخوا څخـه لـه طالبانو سره اړیکي درلودې او د تورخم د قرنطین د ماتولو پلان هـم پـه همـدې موخه ترتیب شوې و؛ چې په عینې ورځ د نازیانو او دوربابا شخړه رامنځته شوه.

## د جلال اباد ښاري نظم

د افغانستان اکثره ښارونه پنځوس کاله د مخه د کمو خلکو لپاره پلان شـوي و. له ۲۰۰۲م کال وروسته په میلینونو افغانانو بېرته خپلو سیمو ته سـتانه شـول، د بې نقشې کورونو او د ښارونو غیر پـلاني پراختیـا پـه ټـول افغانسـتان کـې لویـه ستونځه جوړه کړې ده. که څه هـم پـه ۲۰۰۴م کـال کـې د افغانسـتان د تحکـیم (Afghanistan Stabilization Program) په نوم یـو عمـومي مـلي پروګـرام د کورنیو چارو وزارت په مشرۍ لـه څـو وزارتونـو سره پـه همغږۍ د ولسـوالیو د جوړولو لپاره جوړ شـو. هغـه وخـت د محـلي ارګـانونو اداره د کورنیـو چـارو د وزارت پورې تړاو درلود او زه د کورنیـو چـارو وزارت اداري معـین وم، چـې د محلي ارګانونو اداره زما د معینیت یـوه برخـه وه. د مـلي تحکـیم پروګـرام درې ځانګړې موخې درلودې، چې په ولسوالیو کې حکومتولي ښه شي، د ولسـوالیو په شاوخوا کې باید ښارونه جوړ شوي وی، چې عین سهولتونه چې پـه ښـارونو کې موجود دي، هغه په ولسوالیو کې هم برابر شوې وې، څـو پـه لویـو ښـارونو باندې د نفوسو د تراکم مخه نیول شوې وي. دا چې ولې دا پروګرام ناکـام شـو، د همدې موضوع په تړاو یوه مقاله ما لیکلې ده، چې د امریکا د منځنۍ ختیځ د انسـتیتوت[42](Middle-East Institute) لـه خـوا چـاپ شـوې ده. بدبختانـه پـه لومړي سر کې د جمهوري رئیس کرزي د مداخلې له وجې او وروسـته چـې د

[42] https://www.mei.edu/publications/afghanistan-stabilisation-program-asp-national-program-improve-security-and-governance (اخري ځل دا ویبپاڼه د ۲۰۲۱م کـال د جـولای پـه ۱۵نیټه وکتل شوله)

کورنیو چارو وزیر ښاغلي علي احمد جلالي او ما استعفا ورکړه، د فساد له امله هغه پروګرام په سمه توګه عملي نه شو.

د جلال اباد ښار نفوس هم بې اندازې زیات شوی دی او لکه چې د حکومتولۍ په برخه کې مې یادونه کړې، د څو ولسوالیو زیاته برخه د جلال اباد په ښار کې مدغم شوې ده. کله چې د لویو ښارونو په شاوخوا بې نفشې کورونه جوړ شي، غربت هم ورسره زیاتیږي او دې ته په انګلیسي-ژبه کې Slum Houses وایي. ډېر هېوادونه د دغه بې نقشې ابادیو په له منځه وړلو کې بریالي شوي نه دي. که څه هم د ښار د ښکلا او پاکوالي لپاره یوه اندازه هلې ځلې وشوې، چې د سرخاب له پل نه نیولې د سره رود دوه لارې پورې د سرک دوه طرفه کول،د یوسف میرني چوک او د پښتونستان چوکونو جوړ شول، د ډنده غاړې پاکول، یو زیات شمېر هډې له ښار څخه ویستل، د یو شمېر زیاتو تختونو او لاسي ګاړو لپاره د ښار په بېلابېلو برخو کې ځانګړې ځایونه ټاکل او د سرکونو پاکول وشول؛ خو د دې پروګرامونو عملي کولو زیاته انرژي او دومداره تعقیب غوښتنه. که څه هم ښار یو اندازه پاک شو؛ خو که دومداره تعقیب نه وي، د ډنډ غاړه بیا ډکه شوې، تختونه او په سرکونو د ریړو ازدحام زیات شوی دی.

په ښار کې د رکشو د نمبر پلیټونو په توزیع د اداري مجلس د پریکړې په اساس بندیز لګول شوی و او بې نمبر پلیټه موټرې د جلال اباد ښار ته نه شوي داخلیدلی. مګر بیا هم په ښار کې ګڼه ګوڼه همیشه زیاته وه. علاوه له دې د ښاري نظم په ګډوډۍ کې د امنیتي ادارو،ښاروالی، ډنډه مارانو، ولایتي شورا او ځینو زورواکانو برخه درلوده او هغوی هم د ښاري نظم جوړېدو په مقابل کې همیشه خنډونه جوړول. په کراتو د رکشو مالکینو، د ترانسپورت اتحادیو او ډنډه مارانو د ولایتي شورا په مقر کې غونډې او مظاهرې وکړې؛ خو موږ ورته چندان اهمیت نه ورکاوه او کوښښ مو کاوه چې په تدریجي توګه د ښار نظم

ښه کړو. زما په اند څو چې ښاري فرهنګ ښه نشي، تر هغې پورې د یو ښار نظم ښه کېدلی نشي او فرهنګي تغیر وخت او دومداره کار او تعقیب غواړي.

## د پاکستان د ویزو مسئله

د پاکستان د ویزو مسئله له کلونو راهیسې په ننګرهار او کابل کې لویه ستونځه ده، چې تر اوسه ورته د حل اساسي لاره نه ده پیدا شوې. که څه هم د وخت حکومتونو د ناسالمو پالیسو په افغانستان کې د پاکستان مداخلو ته زمینه مساعده کړې ده خو ټولو هېواد والو او نړیوالو ته معلومه ده، چې د افغانستان د څو لسیزو جګړو تر شا پاکستان په مستقیمه توګه لاس لري. پاکستان دا نیابتې جګړې په افغانستان او سیمه کې د بېلابېلو افراطي ډلو لکه د جوانان مسلمان، مجاهدینو ګروپونو، طالبانو، د داعش د خراسان څانګې، لشکر طیبه، لشکر اسلام، جنید خراسان او داسې نورو ډلو په واسطه د خپلو ژورو ستراتیژیکو اهدافو په خاطر چې دوی ورته Strategic Depth Policy وایي، پر مخ وړي. پاکستان وخت په وخت کله یوه ډله او کله بله ډله د خپلو ژورو ستراتیژیکو اهدافو په خاطر ایجاد کړې او دا ډلې تر اوسه پورې د خپلو ګټو په خاطر استعمالوي. که څه هم د جوانان مسلمان غړي لکه انجینر ګلب الدین حکمتیار، استاد رباني، احمدشاه مسعود، مولوي خالص او نور د داود خان په وخت کې پاکستان ته تښتېدلي او هلته د افغانستان د حکومت پرضد مسلح او تربیه شول؛ خو د پاکستان نفوذ په افغانستان کې د ثور له کودتاه څخه وروسته، د زیاتو مهاجرینو په ورتګ سره، زیات شو. د پاکستان نفوذ اوس د افغانستان په ټولو اقشارو کې شتون لري. په دې هلکه د ژور بحث ګنجایش په دغه برخه کې امکان نه لري ځکه په دې اړه کتابونه هم لیکل شوي دي[٤٣].

---

[٤٣] په پېښور کې د احزابو د ایجاد او په کونړ او لغمان ولایتونو کې د جوانان مسلمان د ډلې د حملو په هکله د لیکوال د کونړ ولایت او د واقعیتونو په بهیر نومونو کتابونو کې یو څه یادونه شوې ده.

په ننګرهار کې د پاکستان نفوذ له بل هر ځای څخه زیات دی او د ننګرهار اکثره معززین د پاکستان د قونسلګرۍ سره راشه درشه لري. په استخباراتي تګلاره کې هغه کسان چې د کوم هېواد له استخباراتو سره زیات روابط لري، هغوی همیشه له ټولو نه زیات د هغه هېواد په وړاندې چیغې وهي او شعارونه ورکوي، چې خلک په خپلو خبرو غلط کړي. په ننګرهار کې د هند، پاکستان او ایران قونسلګرۍ پرته له جاسوسۍ بل څه کار نه لري او هم په دغه سیمه کې له زیاتو معززینو سره ښه روابط لري. دوی د وکیلانو، ملکانو، سپین ږیرو، مدني فعالانو، ژورنالیستانو او حتی د زیاتو والیانو په خطونو ویزې او سکالرشیپونه ورکوي. ځینې دغه مدني فعالان او سپین ږیري بیا دا ویزې او سکالرشیپونه په خلکو خرڅوي هم. په یو نیم کال کې چې زه په ننګرهار کې والي وم، یوې قونسلګرۍ ته هم لاړ نه شوم او نه مې یوې قونسلګرۍ ته د چا د ویزې په هکله سفارش وکړ. یو وخت راته یو والي چې مخکې د مشرقي په یوه ولایت کې دنده اجرا کړې وه، زنګ ووهه، چې یو کس ته د پاکستان ویزه پکار ده که د زه قونسلګرۍ امنیتي کسانو ته ووایم چې هغه پرېږدي او داخل ته لاړ شي، ما ورته وویل چې دا کار زه نشم کولای. هغه والي راته وویل چې کله دی په دغه سیمه کې والي و، نو قونسلګرۍ به په ډېره ښه توګه ویزې د والیانو په سفارش ورکولې؛ نو ته څنګه دا کار نه شې کولای. ما ورته وویل چې بس زه دا کار نشم کولی. قونسلګریو دوه درې ځلې ما ته وړاندیز وکړ که له خپلوانو او دوستانو څوک معرفي کوي، دوی به ورته سکالرشیپونه ورکړي. ما ورته وویل چې دا سیاسي رشوت دی او زه یې نه اخلم. که سکالرشیپونه ورکوئ؛ نو د لوړو زده کړو وزارت ته یې ورکړئ او هغوی به یې د شفافې پروسې له لارې مستحق کسانو ته ورکړي.

دلته درته د ننګرهار د ولایتي شورا د دوه مهمو کسانو قصې کوم. نومونه یې څکه نه اخلم، چې شاید ځینې یې شخصي عقده وګڼي؛ خو هغه کسان چې دا لیکنه لولي او له جریان څخه خبر دي پرې پوهېږي. د پاکستان په قونسلګرۍ

کې یو کس د میاصیب په نوم دی چې له کلونو راهیسې هلته دنده لري او د پاکستان د استخباراتي شبکې غړی دی. دا میاصیب او د قونسلګرۍ غړي له اکثره خلکو سره دومره ژور روابط لري، چې دوی ودونه ته دعوت کېږي او د قونسلګرۍ غړي د زیاتو مشرانو په مړي او ژوندي کې برخه اخلي. یوه ورځ راته د ننګرهار د ولایتي شورا یو وکیل مسیج وکړ؛ چې ته زموږ هېڅ پوښتنه نه کوې او هیر کړي دې یو. ما ورته ولیکل چې پوښتنه مو کوو؛ خو مصروفیتونه زیات دی نو ښښنه غواړم هره ورځ درته زنګ وهلی نه شم. دغه وکیل راته بیا ولیکل چې زما دوستان دي او هغوی ته ویزې پکار دي که ویزې ورته واخلې. ما ورته وویل؛ چې زه د ویزو والي نه یم او قونسلګرۍ ته نشم ویلی. دغه وکیل سمدستي پوه شو؛ چې د میاصیب په عوض یې ماته په غلطې کې مسیجونه کړي دي. ما هغه وکیل ته وویل چې خدای مو رسوا کوي نو داسې وي لکه تاسې. بیا تر اخره پورې هغه وکیل زما پرضد غبږ نشو پورته کولی.

د ۲۰۱۹م کال د جون د میاشتې په اتلسمه نېټه دوه کسه کمیشنکاران د (.....) او (....) په نومونو له قونسلګرۍ سره مخامخ پلازا کې په داسې حال کې ونیول شول چې لیپ ټاپ کمپوترې، پاسپورتونه او فورمې ورسره وې. دوی ته دا ځای د ولایتي شورا یو مهم غړي په ۸۰۰ ډالرو د میاشتې نیولی و. د ولایتي شورا دغه مهم کس د امنیه قوماندانۍ ته زنګ وهلی و؛ چې دا کسان خوشي کړي؛ خو دا چې زه هغوی خبر کړی وم، نو دا کسان یې خوشې کولی نه شول. بیا د همدغه وکیل سکرتر زما سکرتر ته زنګ وهلی و؛ چې پولیسو د دوی په کور باندې چاپه اچولې او د دوی لیپ ټاپ او بعضي شیان یې ترې وړي دي؛ حال دا چې دا مسئله بالکل دروغ وه. سهار چې دا کمېشنکاران ونیول شول، د پاکستان قونسلګرۍ هم په همدې ورځ په ۱۱:۳۰ بجو قونسلګري بنده کړه او قونسل ماته زنګ وواهه چې پولیسو بې نظمي جوړه کړې ده او دوی کار نه شي کولای. ما ورته وویلې چې پولیسو بې نظمي نه ده جوړه کړې، هغه کمېشنکاران چې له تاسي سره یې اړیکه درلوده نیول شوي دي. اوس تاسي په دې بهانه ویزې بندوئ. همداشان یو بل کمیشنکار به پاسپورتونه د پاکستان

نیشنل بانک ته او له هغه ځای څخه د قونسلګرۍ په ډیپلوماتیک موټر کې د ویزو لپاره قونسلګرۍ ته وړل. همداسې څو نورو ځایونو کې د قونسلګرۍ کمیشنکاران موجود و. کله چې ما د کمېشنکارانو د نیولو خبر د فیسبوک له لارې نشر کړ، د ننګرهار د هاها ډلې یو کس چې له دغه کمیشنکارانو سره یې لاس درلود، په فیسبوک راته په کامنټ کې ولیکل چې والي صیب د جزا په کود کې خو کمیشنکار ته جزا نشته. ما ورته ولیکل چې دلته د تذویر او جعل مسئله ده یوازې کمیشنکاري نه ده.

د پورته مقدمې په دوام د پاکستان د ویزو مسئلې لپاره د لاندې څلورو عواملو له امله د حل لاره نشي پیدا کېدلی.

اول: پاکستان د خپلو دغه ژورو ستراتیژیکو اهدافو په منظور، د ویزو له مسئلې څخه د سیاسي علومو په اصطلاح د سافټ پاور (Soft Power) په توګه کار اخلي. د افغانستان حکومت او افغانان له یوې خوا د پاکستان سره په نا اعلان شوې جګړه اخته دي خو له بلې خوا په میلیونونو افغانان په پاکستان کې ژوند کوي او هر یو د پاکستان د ویزو په اخیستلو سر ماتوي. پاکستان په دې پوهیږي؛ چې زیات افغانان تاوان، بیعزتي او مرګ هم منې خو د پاکستان له تګ نه یې زړه نه صبرېږي. په دې توګه دوی افغانانو او دنیاوالو ته ښایي، چې هره څومره د پاکستان په مقابل کې تند عکس العملونه وښایي، بیا هم هره ورځ په زرهاو کسان د پاکستان د ویزو په خاطر د دوی د قونسلګریو او سفارت مخې ته ولاړ او پاکستان ته محتاج دي. پدې توګه د افغانستان حکومت په سیاسي لحاظ کمزوری ښکاره کوي. د ننګرهار هر والي تر یوه حده کوښښونه کړي دي؛ خو څه نتیجه یې نه ده ورکړې.

هر والي غواړي چې د خپل ماموریت په وخت کې ډېرې ستونځې حل کړي، امنیت ښه شي او ولسونه خوشاله وي خو بیا ولسونه د والیانو محدودیتونه او مشکلات په نظر کې نه نیسي چې یو والي تر کومه حده صلاحیت لري. د ویزې ورکړه او نه ورکړه د هر سفارت او حکومت خپله پالیسي ده او هېڅ

حکومت په يو بل فشار نشي راوستلای چې څومره ويزې د ورځې ورکړي. په ډيپلوماتيکو مسايلو کې چې يو هېواد د بل هېواد په مقابل کې يوازينی دريز نيولی شي، هغه باالمثل عمل دی. بدبختانه د افغانستان د حکومت په ډېرو مواردو کې باالمثل عمل نشي-کولی، چې ډېر علتونه لري. که باالفرض د افغانستان حکومت باالمثل عمل وکړي، د تېرو څو لسيزو مداخلو او جنګونو له امله، د سيمې او نړۍ استخبارات د افغانانو په منځ کې زيات نفوذ لري او هغوی افغانان د خپل حکومت په مقابل کې ودروي. کله چې زه د ننګرهار والي شوم، د پاکستان له قونسلګرۍ سره وغږيدم، چې په مسايلو ځان پوه کړم او څنګه کولی شو چې د ويزو مسئله حل کړو. له ما دمخه د حيات صيب په وخت کې د ولايت لخوا د ټوکنو ورکولو سلسله جوړه شوې وه، چې بيا يې ډېرې ستونځې پيدا کړې او خلک نور هم په تکليف شول او حتی د قونسلګرۍ د ويزو برخه د يو څه وخت لپاره بنده شوه. په لومړي سر کې د پاکستان قونسل عابدالله راته يو څه مشکلات د امنيت په برخه کې وويل چې د افغانستان حکومت ورته د وسلې پرمټ (اجازه) نه ورکوي، چې دوی د قونسلګرۍ په داخل کې خپل امنيت وساتي. حال دا چې د هند قونسلګرۍ ته يې اجازه ورکړې ده. بله مسئله دا وه چې د پاکستان د قونسلګرۍ د بيرون امنيت کسان د هند د قونسلګرۍ په تناسب ډېر کم دي حال دا چې د پاکستان د قونسلګرۍ په مخ کې هره ورځ زيات بيروبار وي او له زرو څخه زياتې ويزې ورکوي، خو هند د پنځوس سلو کسانو په حدودو کې ويزې ورکوي. بل دا چې د دوی ډيپلوماتانو ته د بهرنيو چارو وزارت په وخت ويزې نه ورکوي او هم د ننګرهار په محبس کې پاکستاني بنديانو د ليدلو لپاره په اسانۍ اجازه نه ورکول کيږي.

تر ډېره حده دا پورته غوښتنې معقولې وې نو ما ورته وويل: که څه هم پاکستان ډبل ستندرد پاليسي د ويزو په هکله لري، ځکه که د تورخم له لارې پاکستان ته افغانان ځي بايد ويزه واخلي او که د چمن له لارې ځي ويزې اخيستلو ته حاجت نشته، خو بيا به هم زه له بهرنيو چارو وزارت او د امنيت

شورا سره وغږېږم، چې دا ستونځې حل کړم. تاسې هم باید د ویزو پروسه ګړندۍ کړئ؛ څو د بیرو بارو مخه ونیول شي. د پاکستان قونسل د ویزو د چټکتیا وعده وکړه. کله چې مې له بهرنیو چارو وزارت سره خبرې وکړې او معلومات مې حاصل کړل، د سلاح د جواز مسئله د ډېره وخته روانه وه او نه یې غوښتل چې د جلال اباد قونسلګرۍ ته د سلاح درلودلو اجازه ورکړي؛ حال دا چې په هرات کې یې د پاکستان قونسلګرۍ ته اجازه ورکړې وه. د امنیت مسئله جدي وه، ځکه چې یو ځل د پاکستان قونسلګري د افغانانو لخوا تخریب شوې وه او بل ځل پرې ځانمرګي حمله شوې وه. د امنیت شورا او د ملي امنیت له عمومي رئیس ستانکزي صیب سره په دې مسئله وغږېدم او هغوی دوه میله سلاح قونسلګرۍ ته ورکړه. د ډیپلوماتو د ویزو مسئله مې هم ورته حل کړه. سربېره پر دې مې د قونسلګرۍ زاړه پولیس لرې او په عوض مو د امن عامې خاصه قطعه ځای په ځای کړه، چې هم بیروني امنیت د دوی تامین شي او هم د خلکو په نظم کې مرسته وکړي.

د قونسلګري په مخکې مو ویزو اخیستونکو لپاره سیوري او د ښځو لپاره یو وړوکی کور چمتو کړ، چې ښځې هلته په عزت سره انتظار وکاږي. تشنابونه او نور سهولتونه مو هم ورته برابر کړل. ښاروالۍ ته مو دنده ورکړه، چې هره ورځ د ویزو د کاري ساعتونو له ختم وروسته، هغه سیمه پاکه کړي، خکه په زرهاو کسانو هره ورځ هلته خوراک کاوه او فاضله شیان به یې پرېښودل، نو د هغوی صفایي اړینه وه. یو څو ورځې حالت ښه شول او د قونسلګرۍ په مخ کې بیروبار کم شو. پاکستان قنسل راته وویل چې اوس د ولایتونو او ولسوالیو په اساس د ویزو نوبت ته حاجت نشته که د ټولو ولایتونو او ولسوالیو کسان هره ورځ راشي نو بیروبار به نور هم ختم شي. ما ورته وویل چې د نفرو تعداد موږ ته نه دی معلوم او خامخا بیروبار جوړیږي؛ نو موجوده تقسیم اوقات ته باید دوام ورکړو. له بده مرغه کله، چې د ویز اخیستو په برخه کې لږ سهولت رامنځته شول، ډېری کسان چې پاکستان ته نه تلل بیا یې هم ویزو ته مراجعه

کوله. دا چې قونسلګرۍ د مهال ویش په له منځه وړلو ټینګار کاوه، هدف یې بیا ګډوډي جوړول و. ما تر وروستیو د تقسیم اوقات په مسئله کې تغیر رانه وړه، ځکه زه پوهېدم چې د ویزو اخستونکو شمېر زیات دی او په یو دم د زیاتو کسانو د کنټرول امکان نشته. کله چې امرخیل صیب والي شو، هغه یې په یو شکل قانع کړی و؛ چې ټول خلک دې راجمع او پاسپورټونه دې ترې واخلي او بیا به دوی په نوبت ویزې ورکوي. کله چې ویزو اخستلو لپاره د پاسپورټونو د جمع کولو اعلان وشو، د ۲۰۲۰م کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۱مه نېټه د شیرزي په لوبغاړي کې په زرهاو کسان راټول شول، چې خبره له کنټرول نه بهر شوه. متاسفانه په دغه ورځ دولس ښځې او نارینه د ازدحام له وجهې مړه شول.

قونسلګرۍ بیا بهانې جوړې کړې او کله به یې په یو نوم او کله په بل نوم د ویزو د ورکړې بهیر ودراوه. بیا یې دا بهانه جوړه کړه، چې دوی په قونسلګرۍ کې کافي پرسونل نه لري، له خپلو ډریورانو او ګاردانو څخه کار اخلي چې ویزې ولګوي، نو د قونسلګرۍ پرسونل باید زیات او یا باید په خوست کې ورته د نوې قونسلګرۍ د پرانیستلو اجازه ورکړل شي. د جلال اباد په قونسلګرۍ کې د خوست، لوګر، غزني، کونړ، لغمان او نورستان اوه ولایتونو کسانو ویزې اخیستلې. ما ورته وویل چې زه د ننګرهار والي یم؛ تاسي ماته ووایاست، چې د ورځې څو ویزې ورکولی شئ؟ چې موږ په هماغه اندازه درته نفر منظم کړو. دوی دا ژمنه هم نه کوله او ځواب یې دا و، چې موږ یې درته نشو ویلای. د ۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په اتلسمه نېټه مو په بهرنیو چارو وزارت کې د پاکستان د شارژدافیر او په جلال اباد کې د پاکستان له قونسل سره ناسته درلوده؛ څو د ویزو ستونځو ته د افغانستان په سطح د حل لاره پیدا کړو. له بحثونو او خبرو دا جوته شوله، چې پاکستان نه غواړي د ویزو مسئله په اساسي توګه حل کړي او لکه څرنګه چې مې مخکې یادونه وکړه، دوی د ویزې د ورکړې مسئله د نرم قوت یا سافټ پاور په توګه د افغانستان د حکومت په مقابل کې استعمالوي. کنه د مسایلو د حل لپاره په تخنیکي لحاظ حل لارې موجودې وې، چې د پاکستان ویزه یو کلنه کړي، د انلاین له لارې د ویزو لپاره

لکه د نورو زیاتو هېوادونو پشان درخواست واخلي یا د هند سفارت په شان کوم خصوصي سکتور ته د پاسپورتونو د جمع کولو مسؤلیت ورکړي.

دویم: د ویزو ورکړه د پاکستان قونسلګرۍ منسوبینو لپاره او هم د پاکستان ډېرو حلقو ته تر اسلام اباده پورې د عاید یوه لویه منبع ده. هغه کسان چې د ویزو لپاره قونسلګریو کې استخدامېږي، خامخا به خپلو مشرانو او چارواکو ته لوی سهم ورکوي. همدا علت دې، چې د پاکستان قونسلګري ولایت ته د ویزو د ورکړې تعداد نه په ګوته کوي. دوی وایې چې هره ورځ د ۱۰۰۰-۲۰۰۰ ویزې ورکوي، خو هغه کسان چې بیرون انتظار کوي، په حقیقت کې یې نیمایې هم په نوبت ویزې نه اخلي او اکثره ویزې دوی د خپلو کمېشنکارانو له لارې ورکوي. یوه ورځ د پاکستان قونسل راته وویل، چې تا ویلي دي، چې د پاکستان قونسلګري په کمېشنکارۍ کې لاس لري، دا کمېشنکاران خو افغانان دي نو څنګه دوی پکې لاس لري. ما ورته وویل چې باالفرض لس کسه کمېشنکارانو بیرون زر پاسپورته راټول کړل، نو دوی په دې پاسپورټونو څه کوي؟ ځکه کمېشنکاران خو ویزې نه لګوي. ویزې خو د پاکستان قونسلګرۍ لګوي نو که داخل د قونسلګرۍ کې که کمېشنکاران نه وي، نو کمېشنکاران بیرون هېڅ نشي کولی. کله به چې په دوی فشار راوستل شو، دوی به بیا د ورځې په لس ګونو کسان د قونسلګرۍ د تګ راتګ په لاره د میلمنو په نوم قونسلګرۍ ته داخلول. که زیات فشار به په کمېشنکارانو راوستل شو، دوی به بیا پاسپورټونه د نیشنل بانک په دیپلوماټیک موټر کې انتقالول او ډیپلوماتیک موټر ودرولو امکان نه درلودل. حتی دوی به پاسپورتونه په لواړګي کې له خلکو څخه اخیستل او په هغوی به یې بیا ویزې لګولې. که فرض کړو د ورځې دوی زر ویزې په سل ډالره ورکولې؛ نو د ورځې د پاکستان قونسلګرۍ سل زره ډالره عاید و او که پنځه سوه ویزې به یې ورکولې نو د ورځې د دوی پنځوس زره ډالره عاید لاسته راوړه. که د ورځې پنځوس زره حساب شي، نو د دوی د میاشتې یو نیم میلیون عاید درلود. دغه یونیم میلون عاید دوی تر اسلام اباد

پورې په خپلو منځو کې ویشه او هم یې د ننګرهار په یو شمېر ملکانو، د هاها ډلې او نور کسانو باندې چې دوی ته وفاداره و،مصرف کاوه. که والي به د دوی په مقابل کې سخت دریز ونیوه، نو د هاها ډلې او د دوی پورې تړلو کسانو به چیغې جوړې کړې، چې د قونسلګرۍ په مخ کې فساد دی او والي په دې کې برخه لري او په دې توګه یې ولایتي اداره د پاکستان د قونسلګرۍ په اشاره بدناموله.

دریم: لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، د ننګرهار د هاها ډلې، د ننګرهار یو شمېر وکیلانو او د امنیتي ادارو مسوولینو به هر یو کوښښ کاوه، چې په امنیتي ادارو کې د خپلو ډلو یو کس نیم د قونسلګرۍ د امنیت په خاطر هلته مقرر کړي. د امنیتي کسانو هر ګروپ چې به مو لرې کړ، بل ګروپ به هم د همدې کمېشنکارانو او قونسلګرۍ سره لار درلوده؛ ځکه دلته د عاید لویه منبع وه. په دې خاطر، ډېر تغیرات به راوستل شول؛ خو څه نتیجه یې نه ورکوله.

څلورم: زموږ د ولس زړه هم له پاکستان نه صبرېده. د ویزو اخیستونکو په منځ کې یو سلنه یې مریضان نه و؛ خو زرهاو کسانو به ټولو همدا ادعاء درلوده، چې دوی مریضان دي او پاکستان ته د تداوې لپاره ځي؛ ځکه په ننګرهار کې سم ډاکتران، لابراتوار او دوا نشته دی. مګر واقعیت داسې نه و؛ ځکه اکثره افغانان چې په پاکستان کې اوسېدل، هغوی مجبور و چې افغانستان ته له هرو شپږو میاشتو وروسته راشي او ویزه ولګوي. هغه یو سلنه کسان چې مریضان هم و، د زیاتو علاج په ننګرهار او یا کابل کې امکان درلود او په ډېرو خاصو مواردو کې البته د تداوۍ امکان به په افغانستان کې نه و؛ خو بیا هم دوی د ویزې اخیستلو بې شرمې منله. په عینې حال دا د افغانستان د صحي سکتور په مقابل کې یو قسم منفي تبلیغ هم و. زما ډېر نږدې خپلوان پاکستان ته د تداوې لپاره تللي و؛ خو بیرته یې له هغه خوا څخه د هغوی جنازې راوړې وې. بعضې وخت د بعضې مرضونو علاج که هر چېرته څوک لاړ شي نشته دی؛ خو بیا هم افغانان پیسې مصرفوي او له هغه خوا مړي افغانستان ته راوړي. ولسونو ته قناعت اسانه نه و؛ چې پاکستان ته دې لاړ نشي-او یا دې ویزې په پیسو نه

اخلي. دا چې ویزه اخیستونکي په پیسو ویزې په هر حالت کې اخلي؛ نو پخپله به د قونسلګرۍ او کمیشنکارانو بازار ګرم وي. کله چې د کورونا اوبا په خاطر څو میاشتې تورخم بند او هېڅ تګ او راتګ نه و، هېڅ کوم مصیبت په ننګرهار رانغی او د ټولو تداوي د افغانستان په داخل کې کېدله.

## انکشافي پروژې او ستونځې

زما د ماموریت په یو نیم کال موده کې په سلګونو پروژې د ننګرهار په بېلابېلو ولسوالیو کې عملاً پیل شوې. د دغه پروژو اکثره کارونه د بېلابېلو عواملو پر اساس په ټپه درېدلي و. له ځینو پروژو څخه محلي ملکانو، زورواکانو، ولایتي ادارې، وزارتونو، وکیلانو او حتی طالبانو د سهم غوښتنه کوله او ځینې د شرکتونو او قراردادیانو د فساد له امله ولاړې وې. د یو قراردادي شرکت مسؤل راته وویل چې داسې وخت هم شوی، چې یو والي غوښتی و او کولکولیټر یا د محاسبې ماشین یې راخیستې، له قراردادي سره یې حساب کړی، چې څومره ګټه په پروژه کې کوي او د والي سهم باید له مخکنې څخه ورکړي. کله چې د سرخاب پله او د سره رود د دوه لارې پورې د سرک د نوې لین پروژه تقریبا دوه کاله د مخه زما له راتګ نه ورکړل شوې وه، نو ما غوښتل، چې قرارداد لغوه کړم، قراردادي راته وویل چې درې میاشتې وخت راکړه سرک به د استقلال د سلمې کالیزې د ورځې پورې تکمیل کړم. کله یې چې سرک تکمیل کړ، نو ما ترې پوښتنه وکړه چې دا سرک دې ولې مخکې نه تکمیلوه؟ هغه راته وویل چې ولایتي ادارې رانه سهم غوښته او که هغه سهم مې ولایتي ادارې ته ورکړی وی؛ نو دا سرک به مې په څه شي جوړ کړی وی. دا چې سهم یې نه ورکاوه، ولایتي ادارې ورته ویلي و چې سرک هم مه جوړه.

هغه اخرې ارقام چې سکتوري ریاست او د رسنیو دفتر له ادارو راټول کړي و، په دغه لنډه موده کې تقریبا د ۱۹ میلیارود افغانیو په اندازه ۱۱۰۰ لوی او

وړې پروژې د جلال اباد ښار او ولسوالیو کې پیل شوې. په دغه پروژ کې څه نوې او ګڼ شمېر یې زړې وې، په دې کې تقریبا دوه سوه بابه ښوونځي او له سلو څخه زیات د جوماتونو جوړول، غازي امان الله خان او پاچا خان مقبرې، د خوګیاڼو د ابکو صیب او سرمې پل، د کابل-جلال اباد سرک د اول فیز تکمیلول، د بهسود اول او دویم پل ترمیم، د تنګي د څلوېښت متره سرک عملاً کار پیلول او تقریبا ۴۰ سلنه کار سرته رسول، د شیر سوه بستریز روغتون کار پیل او زما په وخت کې تر ۸۰ سلنه یې کارونه یې بشپړ شوي و، د کاشکوټ او ګوریک دولس کیلومتره سرک پخول او د جلال اباد د شاهي ماڼۍ د بیا رغونې کار او داسې نورې پروژې شاملې وې. تقریبا په هره ولسوالۍ او د جلال اباد ښار په هره ناحیه کې په لس ګونو پروژې روانې وې، چې د خلکو په ژوند او د کار موندنې په برخه کې ښه فرصت مساعد شو. ولسوالیو ته په سفرونو کې مې هر مجلس کې ولسونو ته سپارښتنه کوله، چې د پروژو په تطبیق کې باید ولسي-نظارت قوي شي، څو د پروژو د تطبیق کیفیت په ښه توګه تر سره شي. ولسونو او ولسوالانو ته مې ویل، چې هر شرکت مکلف دی، چې د پروژو معلومات له ولسونو سره شریک کړي، خو هېڅوک دا حق نه لري چې د نظارت په نوم د شخصي موخو په خاطر د پروژو په تطبیق کې خنډ او ځنډ رامنځته کړي. که کوم شرکت د کار کیفیت خراب وي، هغه په نښه او که اصلاحات یې نه راوستل نو معلومات دې له ولایتي ادارې سره شریک کړي، څو ولایتي اداره یې پوښتنه وکړي.

یوه بله مهمه ستونځه، چې د پروژو په تطبیق کې وه، هغه د اکثرو پروژو په تطبیق کې به یو څوک ولایت، څارنوالي، امنیتي ادارو او یا حتې ولایتي شورا ته عارض کېدل، چې دغه پروژه دوی ته ضرر لري. مسؤلینو به بیا هغه عریضې اړوندو ادارو ته راجع کولې او په دې توګه به د پروژو کار ځنډېده او یا حتې ودریده او قراردادي به نور کار نشو کولې. ځکه په دولتي ادارو کې د قضیو دوران میاشتې او کلونه نیول چې مسایل حل کړي. د عارضینو ادعاوې به اکثره د استملاک او دولتي ځمکو د شخصي-مالکیت وې. کله به د چار کور او

ځمکه په عام المنفعه پروژو کې له منځه تله نو د عـام المنفعـه پـروژو د تطبیـق مخه به یې نیوله. په عام المنفه پروژو کې ما دا فرموله سرچپه کړه او هرچاتـه بـه مې ویل که په محاکمو کې ستاسي حق ثابت شو، نو حکومت بـه د اسـتملاک له قانون سره سم بدل درکوي خو د پروژو تطبیق پـه هـېڅ صـورت کـې معطـل کېدلې نه شي.

په لنډه ویلې شم چې هره پروژه چې په ننگرهار کې نه عملي کېدلـه تـر شـا یې ټولنیزې ستونځې او فساد و. څو چې ټولنیزې ستونځې نه وې حل شـوي او د فساد مخه نه وی نیول شـوي، دا پـروژې نـه عمـلي کېـدلې. د یـو څـو پـروژو یادونه دلته په مختصره توگه کوم.

## د پښتونستان چوک او قصر بیا جوړول

د جلال اباد شاهي ماڼۍ چې د امیر عبدالرحمن په وخت کې جـوړه شـوې وه، په تېرو شپیتو کلونو کې یې اساسي رغونه نه وه شوې. له جمهور رئیس سره په لومړۍ کتنه کې هغه وعده وکړه چې د جلال اباد شاهي ماڼۍ، د غـازي امـان الله خان او پاچا خان مقبرې، د ننگرهار سپین جومات او یو شمېر نور جوماتونه به جوړوي. ماته یې هدایت وکړ چې د عملي کار لپـاره شرایـط برابـر کـړم او د واحد عملیاتي اداري مرستیال عبدالرحمن عطاش بـه درولېـږم او عمـلاً بـه کـار پیل کړئ.

که څه هم په ننگرهار کې د والي د اوسېدو لپاره دوه کورونه و، خو د ثور له کودتاه څخه وروسته اکثره والیـان د ننگرهـار پـه شـاهي مـاڼۍ کـې اوسـېدل او اکثرو بـه دفـتري کارونـه هـم لـه هماغـه ځـای سرتـه رسـول. د والي یـو کـور د UNAMA دفتر ته د شیرزي صیب لخوا ورکړل شوی و او بل کور کلـه چـې د ۲۰۰۵م کال د مې د میاشتې په ۱۲مه نېټه مظاهره کوونکو د پاکستان قونسلگري وسېځله، حاجي صیب دین محمـد هغـه وخـت د والي کـور پـه موقتـه توگـه د پاکستان قونسلگرۍ ته ورکړ، چې قونسلگري بنده نشي. له بده مرغه اوس پـرې

د پاکستان قونسلګرۍ خېته اچولې او ادعاء کوي چې د افغانستان حکومت باید د هغوی د قونسلګرۍ د جوړېدو مصارف ورکړي. د پاکستان د قونسلګرۍ ځای هم پخوا د جمهور رئیس محمد اشرف غني پلرنې کور و، چې د جمهور رئیس پلار شاه جهان احمدزي د پاکستان په قونسلګرۍ خرڅ کړی و. اما د جمهور رئیس ورور حشمت غني احمدزی ادعاء کوي چې دا کور یې نه دی خرڅ کړی او هغوی ورته پوره قیمت نه دی ورکړی؛ خو د پاکستان قونسلګرۍ بیا دا ادعاء ردوي او وايي اسناد لري چې قیمت یې ورکړی دی. حشمت غني دوه درې ځلې ماته تلیفون وکړ؛ که دا کور ورته ونه سپارم، نو دی به قانون په لاس کې واخلي او پخپله به کور ونیسي. ما ورته وویې چې قانون په لاس کې اخیستل ستا کار نه دی او قانوني مرجع شته. که هر څوک غیر قانوني کار وکړي، د قانون په چوکاټ کې به ورسره برخورد کېږي. که ادعاء لرې، قانوني مرجع شته او د ستري محکمې د حکم په اساس به کور تاسي ته وسپارل شي؛ نه د شخصي روابطو او قانون په لاس کې اخیستلو له لارې.

کله چې د ننګرهار والي شوم، د شاهي ماڼۍ وضعیت ډېر خراب و او د راغورځېدو احتمال یې هم و. له جمهور رئیس څخه مو وغوښتل که خاصه بودېجه ورته منظور کړي او دا تاریخي ماڼۍ چې د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې جوړه شوې ده، ورغول شي نو ښه به وي. جمهور رئیس واحد عملیاتي ته دنده وسپارله، چې کار پرې پیل کړي. د ۲۰۱۹م کال د اپریل په شپږمه نېټه د شاهي ماڼۍ د بیا رغونې چارې پیل او د ولایت میلمستون چې د ښاروالي میلمستون په نوم یادیږي، هلته ورکډه شولم. که څه هم امنیتي تهدیدات هلته و؛ خو بیا بله چاره هم نه وه. په ښاروالۍ میلمستون کې د فامیل د اوسیدلو امکان نه و؛ خو بیا وروسته مو له یوناما دفتر سره نږدې د سولې دفتر چې پوره کباړ پکې و، پاک او یو څو خونې مو ترمیمم کړې او هلته د خپلې کورنۍ سره اوسیدلم. د اټکل له مخې د شاهی ماڼې کار باید په یوه کال کې تکمیل شوی وې؛ خو دا چې کله پرې کار پیل شو، د یوې ستونځې نه بله ستونځه راپیدا کېدله. ټول قصر- شاوخوا سیمې، کانالیزسون، د خدماتو خونې او د انګړ

دیوالونه ټولو سپړدل غوښتل او باید مسلکي کسانو پکې کار کړی وی، هماغه و چې کارونه یې ځنډني شول او بیا جمهور رئیس په ژمي کې د جبل السراج د ماهي د جوړېدو ټول کسان چې تعداد یې تقریبا ۴۰۰ کسانو ته رسېدو، راولېږل او کارونه یې چټک شول. بیا هم زما د تګ پورې یې تقریبا ۸۰ سلنه کار خلاص شوی و او اوس به پای ته رسیدو ته نږدې وي.

د ښاروالۍ میلسمتون پخوا له کابل څخه د خوشه مړیو چارواکو او وکیلانو د بنډارونو ځای و. خوشه مړي مې ځکه یاد کړل، چې یو شمېر مشاور وزیران چې په واسطو او سیاسي ملحوظاتو د اداري چوکاټ نه بهر مقرر شوي و، ولایتونو ته به یې سفرونه کول اوځانونه به یې مهم معرفي کول چې ګوندې جمهور رئیس رالیږلي دي. دوی به په دغه میلمستون کې له خپلې ډلې سره پراته و او د ښاروالۍ یا والیانو مفته ډوډۍ به یې خوړله. په عینې حال کې به دوي له عایداتي ادارو څخه هم لیدنه کوله او یو څه قلنګ او تحفې به یې هم راټولولې او دا کار په ژمي کې ډېر زیات معمول و؛ ځکه د جلال اباد هوا ښه او اکثرو ادارو به جلال اباد ته د راتګ لپاره بهانه جوړوله. په ژمي، پسرلي او منې کې به ننګرهار ته د هئیتونو سیل راروان و؛ که له یوې خوا یې کاري سفرونو زیات ارزښت نه درلود خو له بلې خوا د جلال اباد ښار د توریزم لپاره ښه و.

دا چې ماته معلومات و چې دا په نامه اکثره مشاور وزیران په میاشتو هم جمهور رئیس نشي لیدلی او هسې بیرون خلکو ته ځانونه مهم معرفي کوي، باید د دوی لاسونه د ولایت له ادارو څخه قطع او هم د ښاروالې په میلمستون کې د دوی د اوسیدلو مخه ونیسم. دوی ته وویل شول چې د ښاروالي په میلمستون کې د والي کور دی او هلته د اوسیدلو ځای نشته. یوازې شاروال ریاض الله درمل چې کورنۍ یې په کابل کې وه هلته راسره اوسېده. درمل صیب ته مې وویل چې زه د ښاروالۍ ډوډۍ نه خورم او که اشپز دې کوم ښه څه د روژې په خاطر پخول، د انډیوالي په شکل به یې سره یو ځای خورو. دا چې روژه مو سره شریکه وه، له درمل صیب سره به مې هر ماښام د جلال اباد

ښار په نظم او انکشاف خبرې کولې. د جلال اباد ښار چوکونه بیخې خراب و او هېڅ داسې چوک نه و، چې د سړي زړه پرې خوشاله شي. درمل صیب ته مې وویل که د ټولو چوکونو لپاره ښه ډیزانونه جوړ شي، یو څه به یې ښاروالي جوړ کړي او یو څه به په ملي سوداګرو جوړ کړو او د هغوی نوم او د بزنس لوګو به هم پرې ولږو. درمل صیب راته وویل چې سمه ده او دې به پرې کار پیل کړي. په اوه اوونیو کې یې دننه د پښتونستان چوک او هم د سره رود د دوه لارې (یوسف میرني) او یو شمېر نورو چوکونو لپاره ډیزایونه جوړ کړل. درمل صیب وویل چې د پښتونستان چوک او هم د یوسف میرني چوک به د استقلال د سلمې کالیزې پورې د ښاروالۍ له بودیجې جوړ کړي. ما ورته وویل چې وخت ډېر کم دی او امکان به ونه لري، خو هغه وویل چې امکان یې شته چې شپه او ورځ پرې کار وکړو.

د پښتونستان چوک چې د ولایت او شاهي قصر مخې ته دی، پخوا په دغه چوک کې د پښتونستان نقشه، فواره، د ناستې ځای او هم د پښتونستان بیرغ ځړول شوی و. د چوک سره مخامخ د دل ارام رستورانت و، چې د خپل وخت ډېر پاک او لوکس رستورانت و. د ثور له کودتاه دمخه به چې له کابل څخه کونړ ته تللو؛ نو کله کله به مو هلته له ملګرو سره ناسته کوله او ښه خوراک په شل افغانۍ و. هغه وخت کلدارې په ننګرهار کې چا نه پېژندلې. کله چې مجاهدینو جلال اباد ونیوه، دا چوک یې وران او د جوړیدو په نوم یې د پښتونستان سمبولونه لرې کړل. وړوکی چوک یې جوړ کړ چې هېح نما یې نه درلوده.

د دې لپاره چې پخوانې نوم تازه شي او هم دا چوک په ښه توګه جوړ شي، د ښاروالي له ډیزانونو نه مو یو ښه ډیزان په شریکه د درمل صیب سره خوښ کړ. کله چې په چوک کار پیل شو، د هاها ډلې او هم یو شمېر پاکستان پلوه کسانو هاها پیل کړه؛ چې والي د پښتونستان چوک له منځه وړي؛ نو ځکه یې چوک وران کړ. په هر حال دواړه چوکونه د استقلال د سلمې کالیزې پورې

جوړ شول. زه له درمل صیب او وروسته د نوې سرپرست ښاروال روح الامین حسن څخه منته کوم چې د ښاروالۍ ژمنه یې پوره کړه.

د دې لپاره چې د چوک تاریخي قدامت وساتل شي، تصمیم مو ونیوه چې په چوک باید د لوی افغانستان د مهمو شخصیتونو عکسونه او هم د افغانستان او پښتونستان بیرغونه وځړول شي. د چوک په ډیزاین کې د لسو عکسونو د ځړولو ځای و. عکسونه باید د لوی افغانستان، د معاصر افغانستان او هم د مشرقي د سیمې استازولي وکړي شي. پس له ډېرو مشورو مو د لاندې مهمو شخصیتونو عکسونه په چوک کې نصب کړل: احمدشاه بابا، خوشال خان ختک، سید جمال الدین افغان، امان الله خان، خان عبدالغفار خان، محمد اشرف غني، شهید سردار محمد داود خان، محمد موسی شفیق، خان عبدالصمد خان او ولسي شاعر ملنګ جان. د چوک په منځ کې د مرمرو په لوی تیږې، د افغانستان ملي سرود او د مولانا فصل محمود مخفي شعر لیکل شوی دی. دواړه چوکونه او د هم د سرخاب د پل او د یوسف میړني د چوک پورې دوه طرفه سرک تکمیل شو او د اسد په ۲۸مه نېټه افتتاح شول، د زرګونو ځوانانو د عکسونو اخیستلو ځای شو او یو څه د جلال اباد د ښار بڼه ورسره بدله شوه. که هر کال په تېرو شلو کلونو یو یو چوک هم جوړ شوی وی، اوس به د جلال اباد ښار بڼه بدله وی.

## د غازي امان الله خان د مقبرې جوړول

دا چې د جلال اباد غوندې یو مهم تاریخي ښار کې تاریخي ابداتي ځآیونه څومره ډېریږي، هماغومره د سیلانیانو ګڼه ګونه زیاتیږي او هغه د یو سیمې په اقتصاد مهم تاثیر لري. د امیر شهید باغ چې له ولایت سره نږدې د سراج الامارت سره مخامخ پروت دی، د غازي امان خان مقبره هلته شتون لري. که څه هم په لومړي ځل په دغه باغ کې امیر حبیب الله ښخ شوی دی، مقبره د غازي امان الله او باغ د امیر شهید د باغ په نوم یادیږي.

امیر حبیب الله خان په دغه بڼ کې د گلف Golf د لوبې میدان جوړ کړی و. کله چې مو له جمهور رئیس محمد اشرف غني سره یو ځای د امان الله د مقبرې نه لیدنه کوله، په موټر کې ورسره ناست وم؛ نو راته یې وویل چې کله امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۹م کال د فبروري په شلمه نېټه د لغمان په کله گوش کې وژل کېږي، نو سردار نصرالله خان چې د یوې اوونۍ لپاره په کابل کې پاچا شو او زیات دینداره و؛ نو امر یې وکړ چې امیر حبیب الله خان چې عیاش سړی دی، په دغه گلف میدان کې ښخ کړئ. امیر حبیب الله خان په جلال اباد کې د اوسیدو په وخت په دغه بڼ کې له انگریزانو او نورو خارجیانو سره د گلف لوبه کوله. پد یتوگه دا ځای د امیرحبیب الله خان د ښخیدلو لپاره تعین شو. دلته د امیر حبیب الله خان نه سربېره، غازي امان الله خان، د نوموړي مېرمن ملکه ثریا، سردار عنایت الله خان او د امیر حبیب الله خان لور شفیقه سراج ښخ دي. که څه هم دا مقبره د غازي امان الله خان د مقبرې په نوم یادیږي خو دلته د افغانستان درې پادشاهان، امیر حبیب الله خانه، غازي امان الله خان او سردار عنایت الله خان (د دریو ورځو لپاره پادشاه و) ښخ دي. د ننگرهار پخوانی والي او د جمهوري ریاست مرستیال، حاجي عبدالقدیر چې کله په ۲۰۰۲م کال په کابل کې شهید شو؛ نو د هغه مړی یې هم جلال اباد ته راوړ او د امان خان له مقبرې سره نږدې ښخ کړی شو؛ چې د هغه مقبره د هغه د کورنۍ لخوا د امان الله د مقبرې سره نږدې جوړه شوې وه.

له مقبرو سره نږدې یو وړوکی جومات جوړ شوی و. په ۱۹۹۲م کال کې چې کله د کابل رژیم سقوط کوي؛ نو د بڼ په داخل کې له جومات سره نږدې ملا امام او مؤذن ځانونو ته کورونه جوړ کړي و او هغوی نه غوښتل چې د غصب ځمکه پریږدي او کورونه یې وران شي. که مقبره په پخواني بڼه جوړیدله نو باید د جومات ساحه په مقبرې کې داخل شوي وی. د مقبرې شاوخوا په ډېران بدله شوې وه او دوی اجازه نه ورکوله، چې دا مقبره په اساسي توگه جوړه شي. د جومات ملا امام او مؤذن به همیشه دا پلمه کوله چې د جومات ورانول او د مقبرې جوړول شرعي خبره نه ده، خو په حقیقت کې یې د

غصب ځمکې کورونو ته چل جوړ کړی و. کله به چې چا غوښتل کار وکړي نو دوی به یوه ډله ملایان له ځان سره ملګري کول او د کار مانع کېدل به. دوی ویل چې که له مقبرې سره نښتې جومات شهید کېږي، نو باید بل جومات جوړ شي. بالاخره د واحد عملیاتي اداري لخوا تصمیم ونیول شو، چې یو بل لوی جومات به په ښه توګه له مقبرې سره نږدې جوړ شي او پخوانۍ جومات به هم په داسې شکل د مقبرې سره یو ځای شي چې محراب و منبر یې وساتل شي او که څوک غواړي چې د نفل دوعا یا لمونځ هم وکړي، هلته به یې کولی شي. له دې سره هم د جومات ملاامام او مؤذن اجازه نه ورکوله، چې د هغوی کورونه ړنګ شي، خو ما ورته وخت ورکړ چې دا غصب دی او باید کورونه تخلیه کړئ. د جومات د جوړېدو بهانه خلاصه شوله. بیا یې هم یو ډله علما له ځان سره ملګري کړل او څو ځلې ولایت ته راغلل، مګر زه له خپل تصمیم څخه په شا نه شوم او ورته ومې ویل چې نور له تاسي سره نه ګورم. په اخرې ځل چې راغلل، د ولایت مرستیال تمیم مومند ته مې وویل چې ورسره وګوري او هغه ورسره د دریو میاشتو لپاره د کور د کرایې وعده کړې وه او په دې شکل د مقبرې کار پیل شو او ملا امام او مؤذن د جنجال نه خلاص شولو.

د مقبرې د کار لپاره مسلکي کسان له هرات څخه راوستل شول، ځکه د بیا رغونې خته باید په سمه توګه پخه شوي وی او د دغه تاریخي ابداتو د رغونې کارونو مسلکي کار ته اړتیا درلوده. د استقلال د سلمې کالیزې پورې یې له رنګ پرته نور ټول کارونه بشپړ شوي و. د مقبرې د سرک، چمن او نور صفایي کارونه د ښاروالۍ له بودیجې څخه تمویل شول، چې په دې توګه د غازي امان الله د مقبرې کارونه سرته ورسېدل او هغه مو د استقلال د سلمې کالیزې په ورځ پرانیستله، چې اوس ورته هره ورځ په لس ګونو کسان د ننګرهار او نورو ولایتونو نه ورځي او د غازي امان الله خان له مقبرې کتنه کوي.

## د پاچا خان (خان عبدالغفار خان) د مقبرې جوړول

کله چې په ۱۹۸۸م کال کې، تقریبا ۳۴ کاله د مخه، پاچا خان په پېښور کې وفات شو، نو د هغه له وصیت سره سم یې جنازه ننگرهار ته راوړل شوه او د جلال اباد د شیشم باغ په سیمه کې د هغه په کور کې خاورو ته وسپارل شوه. د پاچا خان هدف دا و، چې د لرې پښتونخواه هغه پښتانه چې له دې سره مینه لري، برې پښتونخواه ته به د دې زیارت ته راځي او په دې توگه به د لر او بر پښتنو تر منځ یو قسم رابطه د تگ او راتگ موجود وي او د ډیورند فرضي کرښه نه شي کولای، چې پښتانه سره وویشي. د پاچا خان د مقبرې د جوړولو کار په هماغه وخت کې په ډېره ابتدایي سطحه پیل او یوازې د قبر شاوخوا یې جوړه شوله. د مجاهدینو او طالبانو په دور کې هم پرې کار ونشو او د دې یو علت دا وه، چې په ایډیالوژیکي لحاظ هغوی د پاچا خان له مفکورې سره مخالف و. هغه وخت به پاچا خان ویل چې د افغانستان جگړه د روس او امریکې ترمنځ جگړه ده او پښتانه د دغه تپل شوې جگړې قرباني دي.

د یادونې وړ ده، چې د پاچا خان کورنۍ چې په مالي لحاظ یې کافي امکانات درلودل او همداشان په پېښور کې د عوامي نیشنل پارټۍ نورو مشرانو هم کولای شول چې د پاچا خان سنټر او مقبره په ښه توگه جوړه کړي متاسفانه هغوی هم په تېرو څه د پاسه دریو لسیزو کې د پاچا خان د مقبرې جوړولو ته توجه ونه کړه. په پېښور کې یې د پاچا خان په نوم سنټر جوړ کړ، خو په جلال اباد کې یې د دغه مقبرې د جوړولو اراده ونه کړه او توقع یې دا وه چې د افغانستان حکومت باید دا مقبره جوړه کړي.

په هر حال د طالبانو له پرځېدو وروسته د جمهور رئیس حامد کرزي په وخت کې د پاچا خان د مقبرې د جوړېدو هڅه پیل او د پاچا خان د مقبرې د جوړولو لپاره ځانگړې بودیجه منظور کړه. د چارو د سرته رسولو لپاره دا دنده په پېښور کې د پاچا خان سنټر ته ورکړل شوله او هغوی یو نقشه جوړه کړله، چې د گنبدې د جوړولو تر څنگ به په دریو چتونو (پوړونو) کې مرکز او یو لوی کتابتون هم وي. کله چې کار پیل شو، یوازې د لومړي پوړ کانکریت

واچول شو او نور کار همداسې پاتې او هغه بودیجه حیف و میل شوله. په تېرو دوه لسیزو کې د ننګرهار ولسونو او فرهنګیانو او د پاچا خان د مفکورې لارویانو له هر والي نه دا غوښتنه درلوده، چې دا د ننګرهار لپاره د شرم خبره ده، چې د پاچا خان مقبره دې نیمګړې پاتې وي. کله چې زه په ۲۰۱۹م کال کې والي شوم، له جمهور رئیس محمد اشرف غني سره په لومړۍ لیدنه کې مې د پاچا خان د مقبرې په شمول د ننګرهار د ابداتي ځایونو د جوړونې غوښتنه وکړه، نو نوموړي په ډېر ورین تندي په ننګرهار کې د څو مهمو ځایونو د جوړونې وعده راکړه او واحد عملیاتي ادارې ته یې دنده وسپارله چې په عاجله توګه د پاچا خان، غازي امان الله خان، د ننګرهار په شاهي مانۍ، له شاهي مانۍ سره نږدې په سپین جومات او شېږ سوه بستریز روغتون باندې کار پیل کړي. لکه چې مخکې مې یادونه وکړه، چې د هرې پروژې تر شا تخنیکي او ټولنیزې ستونځې وې او که هغه ستونځې نه وی حل شوي، کارونه نشول پیل کېدلې.

هغه شرکت چې د پاچا خان د مقبرې کارونه پخوا پیل کړي و، هغه تښتیدلي و او هلته یې یو څه سیخ، یو ماشین او نور واړه شیان پریښودي و. د پاچا د مقبرې د ساتلو لپاره به هرکال له چارو د ادارې څخه یو میلیون افغانۍ د پاچا خان د سنتر په نوم اخستل کېدلې. دا پیسې به یو کس چې د کونړ د شیګل و او په پیښور کې د پاچا خان د سنتر لخوا ورته دنده سپارل شوې وه، چې د پاچا خان کور ساتنه وکړي، اخستلې او هغه یوازې د مقبرې چوکیدارې کوله. دغه کس به هر چا ته ویل چې اول باید د دغه شرکت د کارونو تصفیه وشي، نو بیا باید د پاچا خان د مقبرې کارونه سرته ورسیږي. دغه کس د پاچا خان په پخواني کور کې چې یوه وړوکې ودانې وه، د ځآن لپاره د ناستې پاستې میلمستون جوړ کړی و او د کال یو میلیون افغانۍ یې له حکومت څخه د پاچا خان د سنتر د فعالیتونو په نوم اخیستلې، چې په حقیقت کې دوی هیڅ فعالیت نه درلود. همداشان د پاچا خان د سنتر لپاره نقشه هم په جلال اباد کې

نه وه او هغه په پېښور کې د پاچا خان د سنټر له مسوولینو سره وه، خو هغه نقشه دوی چاته نه ورکوله او فکر یې کاوه چې دا به لنګه غوا وي او د پاچا خان د سنټر په نوم دوی دوه ځلې پیسې اخیستي و، خو کارونه همداسې نیمګړې پاتې و.

په هر حال دوه درې میاشتې مو هلې ځلې وکړې، چې د هغه لومړنۍ نقشې کاپي پیدا کړو. کله چې د هغه نقشې سکیچ پیدا شو، د هماغه ابتدایي سکیچ په بنیاد، واحد عملیاتي ادارې انجینرانو د پاچاخان د مقبرې د دویم او دریم پوړ نقشه جوړه او د ۲۰۱۹م کال د اپریل د میاشتې په څلورمه نېټه عملا د پاچا خان په مرکز او مقبره باندې عملي کار پیل شو. د شرکت هغه پخواني شیان د لست په اساس واحد عملیاتي ادارې مرکز ته انتقال شول. کله چې د چارو ادارې لخوا د پاچا خان د مرکز په نوم د میلیون افغانیو د بودیجې د منظورۍ وړاندیز، جمهور رئیس ته وړل شوي و، نو هغه لیکلي و، چې د میاخیل صیب نظر واخلئ چې د دې بودیجې منظوري اړینه ده او کنه؟ ما ورته ولیکل چې د دې بودیجې منظوري هېڅ اړینه نه ده او دا شخص او پاچا خان مرکز دا بودېجه د خپل ځان لپاره مصرفوي. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، دوی صرف دوه کسه د چوکیدار په نوم نیولي و او خپله مهمانخانه یې هلته جوړه کړې وه او هېڅ نوع فرهنګي فعالیت یې نه درلود. هغوی ته مو وویل چې نوره بودېجه نشته او تاسې دا ځای پرېږدئ.

کله چې په مقبرې کار پیل شو، بیا هم ډېرو فکر کاوه، چې دا ځل به هم د مقبرې د جوړولو کار سرته ونه رسیږي او د پخوا په څیر به هر څه نیمګړي پاتې شي. دا چې اکثره مهم کارونه ما پخپله له نږدې تعقیبول، نو په ننګرهار کې د واحد عملیاتي ادارې مسؤل انجینر سید عمران سادات ته مې وویل چې د امان الله خان، پاچا خان، سپین جومات، شاهي ماڼۍ او شېر سوه بستریز روغتون کارونه ته باید لومړیتوب ورکړل شي. تقریبا هره اوونۍ مې کارونه له نږدې څارل او وخت په وخت مې له ساحو نه لیدنه هم کوله. د شپږسوه بستریز روغتون نه په غیر چې هغه باید په دوه کلونو کې بشپړ شوی وی، اولنې پلان دا

و چې دا نور کارونه به د شپږو میاشتو او یو کال په موده کې تکمیلیږي. یوازې د امان الله خان مقبره په شپږو میاشتو کې تکمیل شوله، خو د پاچا خان د مقبرې کارونه زیات و او یو څو میاشتې د نقشې په پیدا کولو او جوړولو مصرف شوې. په اخري څلورو میاشتو کې مې انجینر سادات ته وویل چې دا کارونه باید تېز شي؛ ځکه د ۱۳۹۹ل کال د سنبلې د میاشتې په اخره کې زما نیت و، چې له ننگرهار ولایت څخه استعفا ورکړم او دا کارونه باید زما له استعفا څخه دمخه ختم او یا زیاته برخه تکمیل شوي وي. د پاچا خان په مقبرې، واحد عملیاتي اداري دوه شفه کار پیل کړ او د ۲۰۲۰م کال د جولاې د میاشتې په یوولسمه نېټه زما له تگ نه څو ورځې دمخه دمقبرې کارونه تکمیل شول. په دې هکله زه د انجینر سید عمران سادات له مخلصانه هلو ځلو مننه کوم.

د پاچا خان مقبرې جوړولو سیاسي اړخ هم درلود. هغه گروپونه چې د پاچا له مفکوري سره موافق نه و او یا د بېلابېلو استخباراتي شبکو له لوري هڅول کېدل، هغوی به د مرکز د جوړېدو په وخت کې منفي تبلیغات هم کول، چې د مقبرو جوړول د دین له اړخه سمه نه ده او دا بودېجه یې باید په نورو کارونو مصرف کړي وې او یا غریبانو ته یې باید ورکړي وی. په هر حال په عین حال کې په زرگونو کسانو د امان الله خان او پاچا خان د مقبرو د جوړېدو هرکلی کوه. د ټولنیزو رسنیو له لارې به مې د پاچا خان د مقبرې د جوړولو چارو پرمختگ وخت په وخت له خلکو سره شریکوه. د پښتون ژغورنې حرکت هم دغه وخت په لره پښتونخواه کې پیل شوی و نو له هغه ځای نه یې د مشرانو او ځوانانو خاصه توجو دېخوا راواړوله. کله چې د مقبرې چارې بشپړ شوې، له لرې پښتونخوا څخه راته ایمل ولیخان، افراسیاب خټک او یو شمېر نورو مشرانو ټلیفونونه وکړل او د پاچا خان د مقبرې په جوړولو د لرې پښتونخواه ولسونه نهایت زیات خوشاله و. اوس د پاچا خان مقبره او مرکز د پاچا خان د فکر او د ننگرهار د تاریخي آبداتو مهم ځای دی. هره ورځ زیات ننگرهاریان

او هغه کسان چې له نورو سیمو څخه د جلال اباد ښار نه لیدنه کوي، د پاچا د مقبرې نه هم کتنه کوي او هلته عکسونه اخلي او د پاچا خان په مزار کې فرهنګي او ټولنیزې غونډې تر سره کیږي.

## د کابل – جلال اباد سرک د لومړي فیز بشپړول

د کابل- جلال اباد دویم لین سرک د لومړۍ برخې (د سره رود او میملې تر باغه) قرارداد، چې ۳۳ کیلومتره اوږدوالې لري، په ۲۰۱۴م کال کې د اسیا د پراختیایې بانک لخوا د BXRB Seer په نوم چینایي کمپنۍ ته ورکړل شوی و، چې تر شا یې د پنجشیر حاجي کاتب لاس درلود. د فواید عامې وزارت د سرک د نظارت چارې یو بلې کمپنۍ ته چې Shelada نومیده، ورکړی و. چینایې کمپنۍ بیا دا قرار داد یو بل قراردادي محمد ولي ته چې د هلمند اوسیدونکي و د Sub-contractor په توګه ورکړی و. محمد ولي بیا یو بل نماینده د حاجي کریم په نوم درلود، چې په سیمه کې یې تقریبا ۷۲ محلي ټیکه دارانو ته د سرک د بېلابېلو برخو کارونه ورکړی و. کار تقریبا ۷۰سلنه شوی و، خو اسیایي بانک تقریبا سل سلنه د پروژې پیسې چینایي کمپنۍ ته ورکړې وې، اما چینایي کمپنۍ او محمد ولي به چا حاضرولی نشو. کارونه په ځای ولاړ او محمد ولي د محلي قراردادیانو تقریبا ۱.٦ میلیونه ډالره قرضداری و. محلي قراردادیانو کار نه کاوه او ویلی یې چې ترڅو دوی ته قرض ورنکړل شي، دوی کار نه کوي، ځکه نور دوی امکانات نه لري. اسیایې بانک ویلی چې د کابل-جلال اباد د سرک لومړۍ برخه تکمیل نه شي، دوی د دوییمې برخې لپاره قرارداد نه ورکوي. د دې تر څنګ د استملاک پیسې هم مهمې وې، چې هغه اسیایي بانک نه ورکولې او د قرارداد په اساس باید تقریبا ۳۰۰ میلونه افغانۍ خلکو ته د استملاک په خاطر ورکړل شوي وي. اسیایی بانک او فواید عامې وزارت ویلې چې دوی محمد ولي او یا محلي قراردادیانو ته پیسې نشي ورکولای، ځکه له دوی سره قرارداد نه لري او وزارت مالیه باید پیسې چینایې کمپنۍ ته ورکړي. محمد ولي به ویلې چې چینایې کمپنۍ دوی ته

پیسې نه ورکوي، نو ځکه دی نشي کولای چې کار ته دوام ورکړي. چینایي کمپنۍ یو کس نماینده، چې ترجمان و او د پنجشیر ولایت و، ویلې یې چې چینایي کمپنۍ د محمد ولي قرضدارې نه ده او ټولې پیسې یې ورکړي دي. د چینایي کمپنۍ تقریبا لس میلونه ډالره ضمانت له مالي وزارت سره پاتې و، نو موږ ورته وویل، څو چې دا مسئله تصفیه شوي نه وي، هغه پیسې باید ورنه کړي.

د دې لپاره چې د مسئلې حل لاره پیدا کړو، اول باید په چینایي کمپنۍ چې نیمچه دولتي وه فشار واچوو، چې هغه له محمد ولي سره خپل حسابونه تصفیه کړي او بیا محمد ولي خپل حسابونه له محلي قراردادیانو سره تصفیه کړي او باقي کار پیل شي. همداشان له مالیې وزارت څخه باید د استملاک لپاره ۳۰۰ میلونه افغانۍ چې د ځمکو قیمت له مخکې څخه تثبیت شوی و، واخیستل شي او د ځمکو مالکینو ته ورکړل شي.

د ولایت مرستیال تمیم عارف مومند چین ته سفر درلود او هلته یې هم د کمپنۍ له مسوولینو سره دا مسئله مطرح کړې وه، خو څه نتیجه یې نه وه ورکړې. کله چې زه د جمهور رئیس لخوا چین ته د تجارت له وزیر اجمل احمدي سره د One Road, One Belt نړیوال کنفرانس ته ولېږلم؛ هلته مې هم د چین د خارجه وزارت له مسوولینو سره دا مسئله یاد کړه. هغوی بیا خپل سفارت ته هم خبر ورکړی و، چې دا مسئله حل کړي. د مسئلې د حل لپاره مې د چین ل سفیر سره په کابل کې وکتل او ورته مې وویل چې دا د چین د حکومت لپاره ښه نه ده، ځکه د چین نوم د دغه سرک د نه تکمیلېدو سره همیشه یادیږي. تاسي باید مداخله وکړئ، څو چینایي کمپنۍ خپله ستونځه له محمد ولي سره حل کړي. د چین سفیر دا خبره ومنله او چینایي کمپنۍ چې مرکز یې په تاشکند کې و، له هغوی سره تماس ونیوه او هغوی خپل نماینده کابل ته راولیږه. بیا هم نه محمد ولي او نه د چینایي کمپنۍ مسوولین ننګرهار ته راتلل چې دوی مسئله له محلي قراردادیانو سره حل کړي. اصلا مسئله دا وه،

چې د فواید عامې د سرکونو مسؤل د نظارت کمپنۍ او شرکتونو ټولو په خپلو منځو کې سره جوړ جاړی درلود.

دا مسئله مې د فواید له نوې سرپرست وزیر یما شمس سره مطرح کړه او ورته ومې ویل چې دا مسئله باید حل شي. د هغه دې کور ودان وي، چې د ۲۰۱۹م کال د اپریل په ۲۱مه نېټه یې د فواید د سرکونو د نظارت رئیس عبدالمجید قاضي زاده، د حاجي ولي نماینده، حاجي کریم، د نظارتي کمپنۍ استازی او انجینر باز محمد راولیږل. له دوی سره زما یو خوری انجینر خوشال چې هغه هم د فواید عامې په وزارت کې کار کاوه راولیږه. انجینر خوشال دوی ته اطمینان ورکړی و چې والي زما ماما دی او مشکل به حل کړو. کله چې دوی راغلل، خبرې هماغه زړې وې او مسئله هېڅ نه حل کېدله. ما محلي قراردادیانو ته وویل چې تاسې په محمد ولي او حاجي کریم عریضه وکړئ چې دوی ستاسي قرضداري دي او همداشان حاجي کریم ته مې وویل چې تاسي په چینایي کمپنۍ او فواید عامې وزارت عریضه وکړئ چې هغوی ستاسي قرضداري دي او حق یې نه ورکوي، نور زه پوهېږم چې څه وکړم.

چې کله مې له دوی عریضې واخیستلې، د امنیه قوماندانې جنایي مدیر ته زنګ ووهه، چې له ځان سره پولیس راوله چې دا کسان ټول بندیان کړي. هماغه و چې جنایي مدیر راغی او دوی ته مې وویلې چې تاسي اوس په یو بل ادعاء لرئ او تر څو چې تاسې معتبر ضمانتونه ورنه کړئ، تللی نه شئ.

خوری مې راته راغی چې دا یو انجینر له اسیایي بانک سره کار کوي او که هغوی خبر شي نو خپل دفترونه تړي او دا به لویه مسئله شي. ما ورته وویل چې اسیایي بانک او سیستم له تا څخه زه ښه پېژنم او څو چې دا مسئله تصفیه نشي، دوی نه شي خوشې کېدلې او دلته به په مهمانخانه کې کرار ناست وي. درې څلور ساعته مو دوی کېنول او محمد ولي او هم ترجمان ضمانتونه ورکړل. وزیر د فواید عامې شمس صیب ته مې هم تلیفون وکړ، چې مشکل داسې دی او هغه هم ملاتړ وکړ، چې څو دوی په خپلو منځو کې حساب تصفیه نه کړي، ټول دې هلته وي. هماغه و چې دوی حساب تصفیه کړ او کارونه په سرک

باندې بیا پس له شپږو کلونو پیل شول. البته د امنیت مسؤلیت موږ په غاړه واخیست، ځکه که دوی خپلې قطعې ته صبر کولای؛ نو مسئله بیا نه حل کېدله. د دغه سرک په نوم د محافظت عامې یوه قطعه وه، چې هغه قطعې منسوبینو ته هم معاشونه نه و، ورکړل شوي او هغه منحل شوې وه، خو موږ بیا هغوی راټول کړل. څو ځلې د سرک جوړولو په کمپ باندې حملې هم وشوې او د طالبانو ځینو گروپونو ممانعت کاوه، خو سرک بالاخره د سره رود له دوه لارې (یوسف میړني چوک) نه تر مملې باغ یورې تکمیل شو. له مالیې وزارت نه مو د ۳۰۰ میلونه افغانیو د استملاک پرداخت کارونه هم خلاص کړل خو مستحقو کسانو ته لا توزیع پاتې وه.

## د سپین جومات قرار داد لغو کول او د چارو پیل

د جلال اباد سپین جومات د شاهي ماڼې ترڅنگ د امیر عبدالرحمن په وخت کې جوړ شوی و. دا تاریخي ابده وه او باید له ابتدا نه شهید شوی نه وی. په ۱۹۹۲م کال کې د کابل رژیم له سقوط نه وروسته کله چې مجاهدینو ننگرهار ونیوه، د جومات د چارو ترمیم یې وکړ؛ خو د طالبانو په وخت کې د جومات د پراخوالي په خاطر یې مخکنی جومات چې تاریخي ابده وه، ړنگ او یو بل وړوکې جومات یې هلته جوړ کړ. په ۱۳۹۲ل کال کې د زلزلې له امله په نوي جومات کې هم درزونه پیدا شول او باید بېرته له سره جوړ شوی وی. د ننگرهار والي گل اغا شیرزي په وخت کې د سپین جومات په نوم له تجارانو څخه مرسته وغوښتل شوه او پخپله یې هم وعده وکړه، چې یو میلیون ډالر به ورکوي او دا جومات به جوړوي. د جومات چارې پیل شوې او د جومات په نوم بانکي حساب بېرته شوی و، چې په تورخم کې به یې له هرې لارۍ د جومات بیارغونې په نوم درې سوه روپۍ اخیستلې. په هغه وخت کې په زرگونو لارې هره ورځ د تورخم له لارې افغانستان ته داخلېدلې او د ناټو قواو ته زیات اکمالات د تورخم له لارې تر سره کېدل. متاسفانه گل اغا شیرزي هم

خپله ژمنه د یو میلیون ډالرو پوره کړې نه وه او د جومات قرارداد هم په یوه صفحه کاغذ کې په لیکلي ډول په نه میلونه شپږ لکه نه نوې زره اوه سوه اویا (۹،٦۹۹،۵۷۰) ډالرو په بیه د شرق بیلډرز شرکت ته چې فضل واحد په نومې کس د شرکت مشر و، ورکړل شوی و. په دغه یو پاڼې قرارداد کې نه د جومات مشخصات معلوم و او نه هم د پیل او پای موده.

د سپین جومات قرارداد، د شرکت مشر فضل واحد او د جومات ملا امام ته لنګه غوا وه او په میلونو ډالره یې د تجارانو او خلکو نه د جومات د جوړولو په نوم وهلي و. فضل واحد او د جومات ملاامام یو ځلې بندیان هم شول، خو بیا هم د جومات مسئله نه حل کېده. زه یې شپږم والي وم چې دا مسئله لاینحله پاتې وه. هر مدني فعال به هر والي ته د جومات د نه جوړېدو او هم ملایانو به په ولایتي اداره باندې نیوکې کولې چې ولایت د جوماتونو جوړېدو ته توجه نه کوي. په لس ګونو نور جوماتونه په ننګرهار کې حکومت جوړ کړي و او هم زما په وخت کې له سلو نه زیات جوماتونه جوړ شول؛ خو سپین جومات قضیه هر والي ته د پوزې پیزوان و.

له ما مخکې د ښاغلي حیات الله حیات په وخت کې د ننګرهار د مرستیال والي تمیم عارف په مشرۍ یو هئیت تعین کړی و، چې دا مسئله وڅېړي. کله چې زه راغلم ما هم تمیم عارف ته وویل چې مسئله خلاصه او هئیت دې له عدلي او قضایي ادارو سره په مشوره، اخري نظر ماته وړاندې کړي چې زه تصمیم ونیسم.

اخري ارقام دا و، چې د جومات تقریبا ۲۵،۲۰ سلنه کار تکمیل شوی و او په مقابل کې قراردادي شرکت ته ۱،۲۷۷،۵۴۴ ډالره ورکړل شوي و. که څه هم د جومات قرارداد چې تقریبا ۹،۷ میلیونه ډالره و د جومات د اصلي قیمت نه دوه درې چنده زیات و، خو بیا هم په همدغه نرخ د ورکړل شوي قرارداد، قیمت قراردادي ته مجرا شوی و او یوازې ٦،۸٦٦،۸۵ ډالره د قراردادي پاتې کېدل. په بانک کې د جومات په نوم تقریبا شپږ لکه ډالره موجود و، خو د محکمې د مخکني حکم په اساس هغه هم قراردادي ته نشو ورکول کېدلی؛

ځکه قراردادي د خلکو نه په میلونو ډالره قرضداری و. په مختلفو استعلامونه کې قراردادي فضل واحد خپل قرضونه تر ۵،۲ میلونو ډالرو پورې ښودلي و. له هر چا یې د جومات په نوم قرضونه اخیستل، د ولایت مقام ته دا مهمه وه، چې قرارداد باید لغوه شي او د دوی دوسیه محکمې ته ولیږل شي، چې د شرکت او نورو قراردادیانو ترمنځ فیصله وکړي. اکثرو کسانو چې په فضل واحد قرض و، هغوی هم نه غوښتل چې دا قرارداد لغوه شي او دا دلیل یې راوړه که قرارداد لغوه کېږي، حکومت باید دا ۵،۲ میلیونه ډالره هغوی ته ورکړي؛ ځکه هغوی پوهېدل، چې دوی له قراردادي نه څه بودولی نه شي، ځکه هغه دوپه شوي و. زما دلیل قرضدارانو ته داو، چې تاسي باید له قراردادي سره مسئله د محکمې له لارې حل کړئ او ولایت یا حکومت دا قرضونه د خلکو نشي ورکولی، ځکه تاسي له ولایت سره نه قرارداد کړی او نه مو قرض مستقیما ولایت ته ورکړی دی، بلکې دا ستاسي او د قراردادي ترمنځ مسئله ده.

بالاخره د ۲۰۱۹م کال د مارچ په شلمه نېټه مې د قراردادي، د محکمې او څآرنوالي رئیسان، قرضداران او قراردادي راوغوښتل او هئیت خپل نظر او معلومات د رسینو له لارې شریک کړ او اخري وړاندیز د هئیت همدا و، چې قرارداد باید لغوه او دوسیه محکمې ته ولیږل شي. د رسنیو په مخکې مې ځای په ځای قرارداد لغوه کړ، که څه هم قرضداران او قراردادي موافق نه و. رسینو ته مې وویل چې د جومات پاتې چارې په چاندو نه جوړو او جمهور رئیس وعده کړې چې واحد عملیاتي اداري له لارې چې دولتي شرکت دی، د جومات پاتې برخه به جوړیږي. کله چې مې دوسیه عدلیې ریاست ته ولیږله، قراردادي محکمه طلب شو او بیا دوسیه محکمې ته لاړه. څو چې د محکمې فیصله نهایي شوي نه وې، په جومات باندې کار نشو پیل کېدلی. لومړۍ محکمه ولایت وګټله، خو قراردادی قناعت ونه کړ او استناف طلب یعنې د دویمې محکمې د فیصلې غوښتنه وکړه. د ننګرهار د استناف محکمې هم د ولایت په ګټه فیصله وکړه او قراردادي تمیز طلب یا دریېمې محکمې ته لاړ

نشو. په دې توګه د قراردادي له جنجال څخه ولايت خلاص شو، خو د قراردادي او قرضدارانو تر منځ جنجال لا په محکمه کې اوس هم پاتې دی، ځکه د هغه شپږ لکه ډالرو ويشل په قرضدارانو باندې اسان کار نه دی. کله چې ابتداييه او استناف محکمې مو له قراردادي څخه وګټلې، د ۲۰۱۹م کال د جولای په ۱۴مه نېټه، د سپين جومات د جوړېدو کار بيا پيل شو. په حقيقت کې اوه اته مياشتې زموږه په محاکمو کې ضايع شولې. کله چې له ننګرهار څخه تلم؛ نو د سپين جومات د ګنبدو او داخل کې تقريبا ٦۰ سلنه کارونه سرته رسيدلي و او کار پرې روان و.

د سپين جومات قراردادي بيا د پارلمان د شکايتونو کمېټې ته عارض شوی و، چې د ننګرهار والي په غير قانوني توګه د سپين جومات قرارداد فسخ کړی دی. د دغه کمېسون يو شمېر غړيو چې د ۹.۷ ميليونو ډالرو نوم اوريدلی و، نو دې رقم ته بوګنې نيولې و؛ چې شايد دوی ته هم څه پکې ورسيږي او ننګرهار ته راغلل. د قراردادي عريضه د لوګر يو وکيل، شاه پور احمدزي د شکاياتو کمېسون ته وړې وه او د هئيت د رالېږلو امر يې اخيستې و. د هئيت په ترکيب کې د ننګرهار دوه کسه وکيلان هم و. که څه هم د شکايتونو د کمېسون مشر-وکيل نور اغا ملکزی د سپين جومات له مسئلې څخه خبر و، بايد هئيت يې ننګرهار ته نه وی رالېږلی؛ خو هغه راته وويل چې فکر يې نه و شوی او عريضه يې سهوا امضا کړې وه چې هئيت ننګرهار ته راشي.

د اګست په ۳۱مه نېټه دوی ننګرهار ته راغلل. د ننګرهار وکيلان له دوی سره ولايت ته رانغلل؛ خو د لوګر دوه کسه وکيلان مومند او شاه پور احمدزی له مکتوب سره د سپين جومات د مسئلې د څېړلو لپاره راغلل. له دواړو وکيلانو سره تقريبا پنځوس کسه باډيګاردان هم و. کله چې زه خبر شوم نو دوی ته مې وويل چې په عوض د دې چې زما کارونه تقدير کړئ، تاسي د يو کس په خوله چې ميليونونو ډالره يې وهلي دي، راراون شوي ياست، دا سمه نه ده. د دې پر ځای چې دوی لومړی ولايت ته راشي، دوی امنيتي مسوولينو ته ويلي و، چې ستړي دي او غواړي چې د ښاروالۍ په ميلمستون کې استراحت وکړي

او وروسته به والي وګوري. ما امنيتي کسانو ته وويل چې دوی ته ووايه چې د ښاروالۍ ميلمستون د والي کور دی، هلته ځای نشته. که دوی رسمي راغلي وي خامخا به د سفريه کرايه اخلي نو سپين غر يا بل هوټل ته دې لاړ شي. که امنيتي کسان يې پکار وي، نو امنيه قومندانۍ ته به ووايم؛ چې د دوی امنيت تامين کړي خو په ميلمستون کې دوی ته ځای نشم ورکولی.

ما دوه ورځې دوی ونه ليدل، خو وکيل نور اغا ملکزی راته وويل چې خير دی د يو څو دقيقو لپاره يې وګوره نو ښه به وي. دوی ولايت ته راغلل او غوښتل يې چې لږ تيز لاړ شي خو ما خبرو ته پرينښودل او ورته ومې ويل چې په دې مسئله کې بحث نه کوم؛ ځکه مسئله په محکمه کې ده او هيڅوک د دې صلاحيت نه لري چې د محکمې په پريکړو کې مداخله وکړي. وکيل صيب مومند چې په اصلي مسئله پوه شو نو ښبنه يې وغوښتله او په دې توګه ولايت د سپين جومات د قراردادي له لانجو څخه په مکمله توګه خلاص شو.

## د اسلامي پوهنتون د احاطې ديوال مسئله

په افغانستان کې د اسلامي پوهنتون جوړيدو ډېره غوغا جوړه کړې وه. د پوهنتون د جوړيدو په مقابل کې دوه مهم ټکي و. يوه مسئله د ځای وه چې داخل د افغانستان کې پرې د بيلابېلو سيمو جنجال و. دويمه مسئله د ايرانيانو وه چې هغوی داسلامي پوهنتون جوړيدل، په افغانستان کې د سعودي عربستان د نفوذ زياتوالی ګاڼه. ايران او سعودي عربستان د خليج په سيمه کې زيات رقابت لري او د شيعه او سني اختلاف د تقوې لامل هم د همدوی د اختلاف له امله سيمه کې زيات شوی دی. ايرانيانو په کابل کې د خاتم النبين علمي مرکز د شيخ اصف محسني په مرسته جوړ کړی و چې د ايران له قم سره مستقيمې اړيکي لري.

په هر حال، په ۲۰۱۲م کال کې د افغانستان کابينې پريکړه وکړه؛ چې دا پوهنتون دې په ننګرهار کې جوړ شي. د کوټ او روداتو ولسوالۍ تر منځ ورته

زر جريبه ځمکه بېله شوه. د اسلامي سازمان له ادارې سره په تفاهم، د پوهنتون د احاطې کارونه بايد د افغانستان د داخلي بودېجې نه تمويل شوې وې او نورې مرستې به د اسلامي هېوادونو سازمان او سعودي عربستان ورکوي.

د ۲۰۱۹م کال د جون د مياشتې په لومړۍ نېټه مو د ننګرهار پوهنتون له رئيس او استادانو سره ناسته درلوده، چې د اسلامي پوهنتون د احاطې د جوړېدو ستونځه څنګه حل کړو. قرارداد د پوهنتون د احاطې د جوړولو لپاره د ۳۸ میلیونه افغانيو په مصرف د لوړو زده کړو د وزارت لخوا ورکړل شوی و، چې بيا قراردادی شرکت محل کې بل چاته په ټيکه ورکړی و. کارونه يې له کلونو راهيسې پاتې و او قراردادې د سيمې خلک بهانه کول چې کار ته يې نه پرېږدي. د ديوال يوه برخه د سيمې خلکو نه پرېښودله او ادعا کې کوله چې دا سيمه دوی په بيع اخيستې ده او هميشه به چې کار پيل کېده، دوی به ښځې او ماشومانو راويستل او مظاهره به يې کوله. د کوټ او ننګرهار په نورو سيمو کې دا معمول شوې و، چې يو تعداد د سيمې غاصبينو به په خلکو دولتي ځمکې خرڅولې او ورته ويلې به يې چې د شخص دې ذمه وار يم او د دولت دې ذمه وار نه يم. د پاکستان نه بيرته راستنيدونکي مهاجر هم مجبور و چې د کورونو لپاره دا ځمکې واخلي. په دغه سيمه کې هم تقريبا دوه سوه کورنيو د کورونو لپاره يو څه ځمکه اخيستې وه، که څه هم دوی پوهېدل، چې دا ځمکه دولتي ده. د پوهنتون او د ولسي خلکو تر منځ يو پنځلس کسيزه کمېټه وټاکل شوه، چې دا ستونځه حل کړي. همدې دوه ستونځو د اسلامي پوهنتون جوړېدل له خنډ سره مخ کړي و. د دې وېره هم وه، چې دا پوهنتون به کابل يا بل ځای ته انتقال شي او دا وېره هم وه، چې اسلامي پوهنتون به په افغانستان کې جوړ نه شي؛ ځکه د افغانستان حکومت خپله ذمه واري پوره کولای نه شوه. په همدې ورځ مو د ننګرهار پوهنتون په داخل کې د يو جومات د تکميليدو افتتاح هم وکړه، چې د پوهنتون د رئيس ډاکتر يحی فهيم په هلو ځلو په تېرو پنځو مياشتو کې جوړ شوی و. د دغه جومات تهداب تقريبا دوه نيمې لسيزې مخکې په ۱۳۷۲ل کال کې ايښودل شوی او کارونه يې ناتکميله پاتې و.

کله چې مې له لوړو زده کړو وزارت سره مسئله تعقیب کړه، له هغوی نه مو وغوښتل چې شرکت مجبوره او کار تکمیل کړي. کنه قرارداد باید لغوه کړي. دا چې قرارداد د لوړو زده کړو د وزارت لخوا ورکړل شوی و، ولایت د لغو کولو صلاحیت نه درلود. دلته هم دفساد مسئله موجود وه او قراردادي کارکم او بیکفیته کړې و او پیسې زیاتې اخیستې وې. بالاخره قرار دادي مجبوره شو، چې کار بیا پیل کړي خو بیا هم د سیمې خلکو ممانعت کاوه. د کوټ ولسوالۍ نه حاجي سیدرحمن او حاجي وارث خان راته وویل چې د اسلامي پوهنتون ساحې ته که زه لاړ نه شم او له خلکو سره ونه غږیږم، دا مشکل نه حل کیږي، ځکه د دې مسلې حل د ولسوالیو له وسې پورته دی. د اکتوبر د میاشتې په ۱۷مه نېټه د اسلامي پوهنتون ساحې ته د پورته مشرانو او د کوټ او د روداتو ولسوالانو سره یو ځای لاړو. په یوې عادي څپره کې له مشرانو سره په ځمکه کېناستو، چې یوازې دوه زړې سطرنجۍ یې غوړولې وې. که څه هم امنیتي خطر و او امنیتي کسانو عجله کوله خو له دوی سره مو کافي بحثونه وکړل. زما خپله تجربه دا ده، چې له مشرانو سره که زیات وخت تیر کړې او په مسایلو ورسره بحث وشي، په اخره کې درته مشران پخپله د حل لار ښایي او اکثره مسایل په اسانۍ سره حل کیږي.

خلکو ته مې وویلې چې په دې خو تاسي هم پوهیږي چې دا ځمکه دولتي ده او تاسي ځمکه په غیر قانوني توګه اخستلې او نیولې ده. دا هم درته معلومه چې د دې پوهنتون جوړیدل حتمي دي او که تاسي مرسته ونه کړئ، نو دا پوهنتون د ننګرهار نه بل چیرته ځي. ستاسي مجبوریت او غریبي هم راته معلومه ده او تاسي فکر کوي که د دیوال احاطه کې دننه ستاسي کورونه راغلل نو هغه به ورانیږي. د دې لپاره چې دا مشکل حل کړو، زه درسره وعدې نه کوم خو ستاسي نومونه به ولیکل شي او بل ځای کې که شهرک جوړیدو، تاسي ته به اولویت ورکړو چې هلته درته نمرې درکړو. دویمه مسئله دا ده چې د احاطې دیوال جوړیدو ته اجازه ورکړئ او هغه کورونه چې د احاطې په داخل کې

پاتې کيږي، هغه به ترې هغې پورې نه ورانوو ترڅو د پوهنتون جوړيدو نقشه پرې نه وې راغلې او هغه هم کلونه غواړي څکه د بوديجې په پيدا کولو کې اوس هم اساسي ستونځه شته. د دغه گروپ ځوانانو يو څه احساسات ښودل خو يو سپين ږيري وويلې چې والي صيب ته د ننگرهار گورنر يې او دا چې موږ لپاره گورنر دلته راغلې دی، نو دا د موږ لپاره ډېره لويه خبره ده او ستا د نظر سره موافق يو او د احاطې ديوال جوړيدو ته اجازه ورکوو. دغه سپين ږيري وويلې چې کله په پيښور کې مهاجر و نو د يو تهانه دار سره به غږيدلې نشولو او نن د خوشالي او خوښې ځای دی چې په خپل ملک کې د گورنر سره غږيږو. دوعا د خير مو وکړه چې روان شو، دغه مشرانو وويلې چې تاسي به خامخا د موږ سره چای او سباناري کوي. که چای راسره ونه څښې، نو بيا موږ ته خپلې ميرمنې پيغور راکوي چې والي څنگه د تاسي نه بې له چايو لاړو. د دې سپين ږيرو مينه مې چې وليدله، امنيتي کسانو ته مې وويلې چې بس د دوی سره زيات وخت پاتې کيږو او چای څښو.

دا چې دوې زموږ موټرې ليدلې وې او خبر شوي و چې موږ راراون يو نو دوی پسه حلال کړی و او داسې ښه وريته (کباب) د پسه يې جوړ کړی وه، چې په کلونو کې مې دومره مزه داره وريته نه وه خوړلې. دا قصه مې ځکه وليکله چې د افغانستان خلک احسان فراموشه نه دي؛ په دې شرط چې چارواکي هم د دوی احترام وکړي. دا چې د دوی سره په ځمکه کيناستو، د دوی خبرو او ستونځو ته مو غوږ ونيوه او موږ هم ورسره په نرمه لهجه خبرې وکړې، دوی دومره مينه راکړه چې هيڅکله به زما له ياده ونه وځي. له قانون څخه تېر نه شولو، نه مو د احاطې مسير ته تغير ورکړ او له دې سره سره يې زموږ زياته قدرداني او ميلمه پالنه وکړه او د احاطې مسئله پس له څو کلونو حل شوه.

**د برکاشکوټ او کچړۍ د سرک تکمیلول**

د کامې د پله او د ښیوې ولسوالۍ د برکاشکوټ سیمې پورې د دې سرک اوږدوالی نږدې شل کلومتره دی. د دغه سرک لومړۍ برخه له کامې پله نه نیولې د کچړۍ سیمې پورې؛ کله چې مولوي عطاالله لودین د ننگرهار والي و پیل او تکمیل شوه. اما دویمه برخه د کچړۍ له کلي څخه د برکاشکوټ د کلي پورې چې ۱۲،۶ کیلومتره سرک و، د خلکو داختلاف او دمحلي ملکانو د باجگیرۍ له وجې پاتې شو. زه یې پنځم والي وم؛ چې دا کار همداسې نیمگړی پاتې و او د دې سیمې خلکو لپاره ډېره لویه ستونځه وه. قراردادي تښتېدلی و. له دغه سرک د مخکني قراردادي قرارداد باید لومړی لغوه شوی وي. هغه قرارداد لغوه شو او د سرک بیا سروې وشوله. د سرک په دغه برخه کې ۳۳ پلچکونه او دېرش واشه و چې هغه هم باید تکمیل شوي وي.

د فواید عامې وزارت ته مو وویل چې هغوی به له قراردادي سره خپله فیصله د عدلي او قضایي ادارو له لارې حل کړي؛ خو د سرک د تکمیولو لپاره باید نوې بودیجه پیداکړي. د نړیوال بانک NRAP پروگرام، د ختیځ زون لپاره یو څه بودیجه درلوده او ورته مو وویلې چې له پراگنده کارونو او چغل اچولو نه به ښه دا وي، چې یو اساسي کار وکړئ. له فواید عامې وزارت او NRAP پروگرام سره په تفاهم د دغه سرک لپاره مو ۱۴۱ میلیونه افغانۍ منظور کړې. د ننگرهار د فواید عامې ریاست سرپرست انجینرحامد ضیا د دغه سرک په تکمیل او د پروژې په منظورۍ کې ډېرې هلې ځلې وکړې. همداشان د دغه پروگرام د ختیځ زون مسوول محمد نذیر ننگیال هم د بودیجې په منظورۍ کې خاصه توجو وکړه او زه له دواړو ځانگړې مننه کوم.

د ۲۰۱۹م کال د جولاې په نهمه نېټه د سرک پخولو کار پیل شو. د سرک د افتتاح لپاره پخپله سیمې ته لاړم، چې محلي ملکان او محلي اداره د شرکت په کارونو کې مداخله ونه کړي. د خلکو په استازیتوب، حاجي محمد دین، معلم ایاز، انجینر میا پادشاه او استاد غفوري خبرې وکړې او ټولو ډاډ راکړ، چې

هېڅوک د شرکت په کارونو کې مداخله نشي- کولی. د Build Tech شرکت مسؤل، انجینر محمد نظر ته مې وویل که هر څا مداخله کوله نو ما خبر کړه. کله چې دا سرک جوړ شو، د دویمې برخې کارونه په ښه توګه تر سره او د لومړۍ برخې د سرک د پخولو له کارونو سره یې ډېر فرق درلود. دا چې په دغه لاره به کله کله زه هم کونړ ته تلم؛ نو د سرک کارونه به مې له نږدې څخه هم کتل. د شرکت مسوولینو ته مې وویل چې تاسې هم باید له قرارد سره سم کار په ښه ډول تکمیل کړئ. کله چې د کارونو کیفیت خرابیږي، یو علت یې همدا دی، چې له شرکتونو څخه چارواکي او یا محلي مشران، زورواکان او مخالفین سهمونه اخلي او د همدې سهمونو اخیستلو له امله د اکثرو پروژو کارونه بې کیفیته تر سره کیږي.

## د ختیځ صحي کامپلکس د کار پیل

لکه چې د دې کتاب په سریزه کې مې یادونه کړې، د ننګرهار ولسونو په تېرو شلو کلونو کې له هر والي او چارواکی، چې به په ننګرهار ته راتله، مشخصې غوښتنې درلودې. په دغه وړاندیزونو کې یو د زربستریز روغتون جوړېدل و. والیانو او چارواکو به د ولسونو دغه غوښتنو د سرته رسولو لپاره ژمنې کړې؛ خو په اخره کې به بیا هېڅ نه و. په همدې خاطر ما له ولسونو سره وعدې نه کولې او کوښښ مې کاوه چې کارونه عملا شروع کړم او چې کارونه شروع شول، ولسونه ړانده نه دي او هر څه ګوري.

د ختیځو څلور ولایتونو لپاره د ظاهر شاه د واکمنې په دوره کې د ننګرهار حوزوي روغتون جوړ او له هغه وخت څخه راپدېخوا یو څه بسترونه پکې اضافه او یو څه نوي تعمیرونه پکې جوړ شوي، چې د ننګرهار د حوزوي روغتون ظرفیت اوس تر پنځه سوه بستریز روغتون تر سطحې پورې رسیدلی دی. سره له دې د نفسوسو د زیاتوالي له امله د ننګرهار په حوزوي روغتون باندې فشار نهایت زیات دی او صحي خدمات څنګه چې لازم دي، روغتیاپالان نشي تر سره کولی. په ۲۰۱۳م کال کې د شیرزي صیب لخوا د

شـپږمې نـاحیې د رینـګ روډ سره ورتـه څمکـه وټاکـل شـوه او د زر بسـتریز روغتون ډبره یې کېښوده. د ډبرې له ایښودلو په غیر نور هېڅ کار ونشو. حال دا چې هغه وخت په ننګرهار کې زښتې زیاتې پیسې د PRT او نورو نړیوالو ټولنـو لخوا ورکول کېدې. په وروستو کلونوکې د توبرکلوز مریضانو لپاره یـو پنځـوس بستریز روغتون په یوه څنډه کې جوړ شو او د ځمکې احاطه یې تکمیل شوه.

په ۲۰۱۸م کال کې جمهور رئیس غني بیا د دغه کامپلیکس ډبره کېښوده او په لومړي سر کې یې د ۶۰۰ بستریز روغتـون د جوړېـدو وعـده وکـړه؛ چـې پـه کراره سره به زر بستریز روغتون ته لوړ شي. بیا هم د جوړېدو کار یې پیـل نشـو او علت یې دا و چې د عامې روغتیا وزارت په خپـل کـاري پـلان کـې بودېجـه ورته نه درلوده. کله به چې د زر بستریز روغتون د جوړېدو خبره کېدله، خلکـو نه باوروله او ویل به یې دا څوم ځل دی، چې د دغـه زر بسـتریز روغتـون ډبـره کېښودل کیږي او هسې چارواکي خلک دوکه کوي. کله چې زه والي شوم؛ نـو جمهور رئیس غني ته مې وړاندیز وکړ چې د دغه روغتـون د چـارو پیـل کـول نهایت مهم دی؛ ځکه چـې تـاسي هـم د نومـوړي روغتـون د جوړېـدو وعـده خلکو ته ورکړې ده. هماغه و؛ چې جمهور رئـیس د دغـه روغتـون د جوړېـدو مسؤلیت واحد عملیاتي ادارې ته وسـپاره. لـه بیـا افتتـاح نـه پـه غیـر د نومـوړي روغتون چارې د ۲۰۱۹م کال د اپریل د میاشتې پـه پینځمـه نېټـه پیـل شـوې. د پلان له مخې باید د روغتون چارې په یونیم کال کې بشپړ شوي وی. کلـه چـې د روغتون کارونه پیل شول، د عامه روغتیا وزارت د HIV د پروګرامونـو رئـیس، ډاکټر محمد یونس بارګامې دوه درې میاشتې وروسته راغی؛ نو راته یـې وویـل که د دغه روغتون چارې پیل شي نو ډېر ښه به وي. ما ورته وویـل چـې څـومره موده د مخه دې د روغتون له ساحې څخه لیدنه کړې ده؟ هغه وویـل چـې دوه میاشتې د مخه نو ما ورته وویل چې دا سمه نه ده او فکر کـوم چـې پنځـه شـپږ میاشتې د مخه هلته تللی یې. ویې ویل کیـدای شي همداسې وي؛ نـو مـا ورتـه

وویل چې ښنګه له ما څخه رخصت شوې، نو هیله مې دا ده چې د روغتون ساحه وګورې او درته به جوته شي چې څومره یې کارونه پرمخ تللي دي.

په هر حال، وخت په وخت به مې د روغتون د جوړېدو د پرمختګ چارې د ټولنیزو رسنیو لارې له ولسونو سره شریکولې او کله به مې چې له نورو پروژو څخه لیدنه کوله، د روغتون له ساحې څخه به مې هم کتنه کوله. کله چې د ۲۰۲۰م کال د جولای په میاشت کې له ننګرهار څخه تلم، په یو کال او دریو میاشتو موده کې د روغتون تقریبا ۸۰ سلنه کارونه بشپړ شوي و. امید دی چې باقي پاتې چارې هم ژر بشپړ شي.

**د درونټې- هجرت کلي او یوسف میرني د چوک پورې د سرک پراخول**

لکه چې مخکې مې یادونه کړې، د سرخاب پل او د یوسف میرني د چوک پورې د سرک پراخوالې او دویم لین سرک د استقلال د سلمې کالیزې پورې بشپړ شو؛ خو د درونټې او سرخاب پله ترمنځ د دویم لین سرک او همداشان د درونټې او هجرت کلي پورې د سرک پخولو چارې د بودېجې د نشتون له امله نیمګړې پاتې وې. د فواید عامې وزارت د جلال اباد ښار په داخل کې د سرکونو د جوړولو لپاره یو څه بودېجه درلوده نو هغه بودېجه د درونټې او سرخاب پل ترمنځ سرک پراخوالي ته انتقال کړه؛ ځکه د ښار په داخل کې د ښاري ترون د پروګرام له لارې بودېجه ښاروالۍ درلوده، چې هغه سرکونه جوړ کړي. په دولتي پروسیجرونو کې له لوې برخې نه بلې برخې ته د بودېجې انتقالول، لوی درد سر دی او زیات وخت ته اړتیا لري. د فواید وزارت له موافقې وروسته، هغوی د سرک ډیزاین چارې پرمخ یوړې خو بیا یې وویل چې د سرک د ګلدانونو او پیاده رونو لپاره بودېجه نه لري. ما ورته وویل چې دا ساحه د جلال اباد ښار د اومې ناحیې پورې مربوط شوې ده؛ نو ګلدانونه او پیاده رو به ښاروالۍ جوړ کړي.

د فواید عامې وزارت بیا وویل چې هغوی د استملاک لپاره بودېجه نه لري او هغه کورونه او دوکانونه چې د درونټې او سرخاب پله تر منځ جوړ شویدي،

هغه باید ړنګ شي او د استملاک مسئله ولایت باید خلاصه کړي، څو هغوی کار پیل کړي. د اړوندو ادارو یو مشترک هئیت مو تعین کړ؛ چې وګوري څومره کورونه ورانیږي او هم د خلکو څومره ځمکه د سرک د پراخوالي له امله استملاک ته اړتیا لري، چې ایا ولایت او ښاروالي یې د استملاک قیمت ورکولی شي یا نه؟ د اسنادو له کتلو او پوره پلټنې نه وروسته دا جوته شوه چې د دورنټې او سرخاب پله ترمنځ د سرک په شاوخوا کې کورونه او دوکانونه ټول په دولتي ځمکه کې په غیر قانوني توګه جوړ شوي دي. که کورونه په غیر قانوني توګه هم جوړ شوي وي، د کورونو او دوکانونو ورانول څه اسانه کار نه دی او ولسونه همېشه عکس العمل ښایي. له مشرانو سره وغږېدم او هغوی د کابل پورې عریضې کړې وې، چې د سرک د جوړېدو له امله د دوی شخصي-ځمکې له منځه ځي او باید د استملاک د قانون په اساس دوی ته بدل ورکړل شي. په حقیقت کې د دوی ادعا سمه نه وه، خو عریضې دوران پیدا کولی شي او په دې توګه د سرک د جوړېدو بودېجه د ولایت له لاسه وتله او کارونه نیمګړي پاتې کېدل.

د یادې سیمې مشرانو سره په وروستي ځل وغږېدم او ورته مې وویل چې تاسي پوهیږئ چې د ځمکې اسناد نه لرئ او دا سرک خامخا باید پراخ شي؛ ځکه ترانزیتي سرک دی. که دا سرک پراخیږي، ستاسي د ځمکو قیمتونه هم پورته ځي او تاسي لپاره ګټه لري. دویمه دا چې ننګرهار ستاسي کور دی او له دورنټې څخه د یوسف میرني تر څلور لارې پورې سرک د ننګرهار پوزه ده او که پوزه سمه نه وي، ننګرهار او د جلال اباد ښار ښه نه ښکاري؛ نو تاسې باید د سرک د جوړېدو ممانعت ونه کړئ. اوس مور دا بودېجه لرو او دا د ولایت له ګوتو وځي، نو دا سرک باید خامخا جوړ کړو. مه ځان ته سر خوږی پیدا کوئ او مه ولایت ته. کورونه او دوکانونه به حتما ورانیږي. که ولایت یې درته وران کړي، شاید ګډوډ یې وران کړي او ستاسي ډېر شیان خراب شي. که تاسي یې پخپله په خپله خوښه وران کړي نو د ځینو شیانو نه به استفاده وکړئ. د مشرانو

دې کور ودان وي، پس له دې خبرو يې موافقه وکړه چې کورونه او دوکانونه به پخپله ورانوي، خو موږ باید ورته وخت ورکړو؛ په هغه ځایونو کې چې د کورونو دېوالونه ورانیږي، دوی به نوي دېوالونه د سرک له ساحې لرې جوړ کړي، چې بې ستره نشي. ما ورته وویل چې دا خبره ستاسي سمه ده، خو بهانه به نه کوئ او په عملي توګه به کار پیلوئ چې قراردادي شرکت ته هم بهانه ورکه شي چې کار پیل کړي.

کله چې خلکو د دوکانو او کورونو په ورانولو پیل وکړ؛ نو یو مازدیګر ورغلم او له مشرانو سره د سرک په سر کېناستم او ورته ومې ویل چې صرف د مننې په خاطر راغلې یم، چې په دې کار سره مو د سرک په جوړېدو کې مرسته وکړه. ملک عصمت د دغه ځای مشر مننه وکړه، چې د تفاهم په نتیجه کې مو دا مسئله حل کړه. دلته تفاهم دا معنې نه لري چې قاطعیت موجود نه و. ولسونه په دې پوهیدل، چې په هر حالت کې دا سرک جوړیږي خو په عینې حال کې نرمه خبره کول، وخت ورکول او تفاهم ډېر مشکلات په اسانه توګه حل کوي.

د درونټې او هجرت کلي سرک تر منځ هم همداسې ستونځه وه. که څه هم د دغه سیمې قومي مشر عبدالرحمن شمس چې د شهید هجرت له کورنۍ څخه دی، ډېرې هلې ځلې وکړې او هم یې شخصي ـ ځمکه د سرک په پراخوالي کې له منځه تلله، خو د ځینو کسانو چې کورونه له منځه تلل، هغوی دا ویلې چې دوی سرک شخصي خپل کورونو ته تېروي او حال دا چې دا مسئله سمه نه وه؛ ځکه په هغه سیمه کې په سلهاو نور کورونه هم و. د ولایت مالي او اداري رئیس قریب الله هجرت چې د شهید هجرت زوی او وړوکی له پلار څخه پاتې شوی و، د هغه هم دلچسپي وه، چې دا سرک د هجرت د کلي د سرک په نوم یادیده او غوښتل یې چې د پلار نوم یې ژوندي پاتې شي، نو ډېرې هلې ځلې یې د سرک په جوړولو کې کولې. د ۲۰۱۹م کال د نومبر میاشتې په اولسمه نېټه مو د سرخاب - درونټې او همداشان د درونټې او هجرت کلي ترمنځ د سرک د دویم لین د پراخیدو د کار افتتاح وکړه.

ډېرو کسانو خپل کورونه وران کړل؛ خو یوه کورنۍ چې له کابل څخه د جنګونو په وخت کې دلته راغلې وه، په دولتي ځمکه یې کور جوړ کړی و او شرکت یې نه پرېښوده چې کار وکړي. د کور د ورانولو مخنیوې یې کاوه او د هغوي کور د سرک په منځ کې و. د دغه کورنۍ دوه نجونو ځانونو ته مدني فعالانې هم ویلې او د جمهوري ریاست پورې یې اړیکي درلودې. هلته یې هم عریضې کړې وې، چې والي د دوی کورونه د ځایي قوماندان عبدالرحمن شمس په لمسون ورانوي. د سره رود ولسوال قاري هجرت او یو هیئت مې ورلېږه چې وګوري د دوی خبره سمه ده کنه؟ هغوی چې وکتل ځای دولتي دی نو ځواب مې ورلېږه چې د سرک د جوړولو کار ځوک ودرولی نه شي او که تر سبا پورې مو اجازه ورنه کړه؛ نو بیا درسره قانوني چلند کوو. په سبایې په دفتر کې ناست وم چې ګورم دوی دفتر ته راغلې او چې څنګه دفتر ته له خپلې مور سره راننوتې نو د تېلو بوی شو. دوی په ځانونو تېل اچولي و او ویل یې که حکومت د دوی کور وران کړي، نو دوی به ځانونو ته اور واچوي. زه پوهېدلم چې دوی هسې ډرامه جوړه کړې ده نو ورته مې وویلې چې دا ستاسي کار دی چې ځانونو ته اور اچوئ او کنه؟ خو سرک به خامخا جوړېږي او بیا مې زیاته کړه، چې د ځمکې د مالکیت سند لري، ویې ویل نه او دا زموږ حق دی چې د دولت په ځمکه کې کور جوړ کړو. ما ورته وویل چې ته غواړې چې د ولایت د چمن په منځ کې کور جوړ کړې؛ نو ولایت خو د دې اجازه تاته نه درکوي چې دلته کور جوړ کړې. بالاخره دوی پوه شوې، چې په هېڅ صورت یې غوښتنه نه منل کېږي نو بیا یې بهانه جوړه کړه چې دوی دېوال نشي کولی او عاید نه لري؛ نو هغه ساحه چې په سرک کې له منځه ځي، په نوره ساحه کې دوی ته دېوال وشي. بیا مو ښاروالۍ ته دنده ورکړه چې دېوال ورته جوړکړي او په دې توګه د سرک چارې پرمخ لاړې.

د پلان مطابق د درونټې او سرخاب پله ترمنځ دویم سرک باید د ۲۰۲۰م کال تر اخره پوره بشپړ شوی وی، خو دا چې د ۲۰۲۰م کال د جولاې په

میاشت کې ننګرهار ته لاړوم، د دې کتاب د لیکلو تر وخته چې له یو کال څخه هم زیاته موده تیره شوې، هغه سرک بشپړ شوی نه دی. علت دا دی چې هر کار تعقیب او جدیت غواړي او کله چې تعقیب او د قانون په چوکات کې جدیدیت نه وي، کارونه پخپله ډیله یا ورو کېږي.

**د بهسود د پلونو رغول او د عبدالخېلو څلوېښت متره سرک جوړول**

د بهسود پل چې تقریبا شپېته کاله پخوا د کابل پر سیند جوړ شوی، د ننګرهار شمال او شمال ختیځې ولسوالۍ لکه بهسود، کامه، ګوشته، کوز کونړ او دره نور له جلال اباد ښار سره نښلوي. سربېره پر دې د کونړ او نورستان ولایتونو نه د موټرو د تګ او راتګ هم په همدغه لار دی. هره ورځ له نږدې ولسوالیو او سیمو څخه په زرهاو کسان د کاروبار لپاره جلال اباد ښار ته تګ او راتګ په دې لاره کوي. د بهسودو او کامې د پله ترمنځ سرک هم نهایت تنګ دی. که د موټرو په رش کې څوک بند شو؛ نو په ساعتونو پکې بند پاتې کېږي. د دغه لوی مشکل د حل لپاره د بهسودو د زوړ پل تر څنګ د دویم پل جوړېدل په نظر کې نیول شوي و او هم د بهسود له پل څخه د تنګي له لارې د عبدالخیلو سیمو ته څلوېښت متره سرک باید جوړ شوی وي. د امکان په صورت کې له ثمرخېلو سره یو بل پل باید د کونړ په سیند جوړ شي، څو د کامې او ګوشتې ولسوالۍ له جلال اباد ښار سره ونښلوي.

له ما دمخه د بهسود دویم پل د ټولګټو چارو د وزارت له خوا جوړ شوی و، خو ګټې اخستنې ته لا سپارل شوی نه و، ځکه له یوې خوا د کیفیت ستونځه وه او له بلې خوا د پله په دواړو خواو کې د ننګرهار د دوه زورواکو تېل پمپونه او ځایونه و او هغوی اجازه نه ورکوله او ویل یې چې تر څو حکومت دوی ته د استملاک قیمت ورنه کړي، دوی د پمپونو او کورونو جوړولو ته اجازه نه ورکوي. لومړی پل هم د څو چاودونو او جنګونو له امله سوری سوری و او احتمال د دې و، چې چپه شي؛ ځکه د پل د پایو شاوخوا تقریبا لوځې شوې وې. څو چې دویم پل باندې تګ او راتګ نه وي پیل

شوی؛ نو د لومړي پل بیا رغونې هم امکان نه درلوده؛ ځکه د موټرو د تګ او راتګ باید په مکمه توګه بند شوې وې. دا جنجال له څو کلونو راهیسې موجود و او خلکو لپاره نهایت زیاته ستونځه وه.

د پله جنوب خواته د حاجي ګل کریم پمپ و؛ نو هغه ته مې وویل چې دا د تا لپاره ښه نه ده چې کار مو بند کړی دی او د قانون په اساس به استملاک قیمت درکړل شي؛ خو کار بندول سمه خبره نه ده. هغه راسره ومنله. که څه هم د استملاک قیمت له پخوا څخه تعین شوی، خو د مالیې وزارت ورته بودیجه نه درلوده؛ نو ما ورته وویل چې د استملاک د قیمت په هکله به زه له مالیې وزارت سره وغږیږم چې د ځمکې او پمپ قیمت د راروان کال په بودیجه کې ونیسي. دا چې له زوړ قراردادې سره د پل د دواړو خواو د جوړیدو قرارداد شوی نه و او یوازې پل جوړېدل یې په قرارداد کې شامل و؛ نو هغه هم کار نشو کولی. دا قرارداد له اول نه نیمګړی و؛ ځکه پل چې د سرک سره وصل نه شي؛ نو هسې ډیکوریشن پیس په شکل یې څه ګټه نه درلوده. د مشرق نیازي ساختماني شرکت چې د بهسودو او عبدالخېلو سرک قرارداد له ټولګټو چارو وزارت څخه اخیستی و، د نوموړي شرکت مالک انجینر عزیزالله نیازي ته مو وویل چې د سرک دا برخه د دوی په قرارداد کې شامله ده او کنه؟ هغه وویل چې شامله ده؛ خو ډیزاین یې باید د ټولګټو وزارت وکړي او دوی ته یې وسپاري. ما وویل چې زه به د ټولګټو چارو سرپرست وزیر ښاغلي یما شمس ته ووایم، چې عجله پرې وکړي او تاسي هم باید کارونه ژر پیل کړئ. دا چې یما شمس مو ملګری و او هم مې انجینر نیازي له مخکې پیژاند، هغوی ډیزاین ډېر ژر تکمیل کړ او په نوي پل کار پیل شو، چې په لومړي سر کې د موټر د تګ او راتګ لپاره ساحه برابره کړي چې د لومړي پل د ترمیم چارې پیل شي.

د ټولګټو چارو د وزارت په مرسته د لومړي پل د ترمیم چارې هم پیل شوې. د دغه پل ترمیم هم لویه ستونځه وه، ځکه دا پل د څو چاودنو له امله تخریب شوی او ټول پل سپړدل غوښتل. د پل ګوټکې او نټونه په مارکیټ کې

نه پیدا کېدل، ځکه هغه وخت دا پل د چکوسلواکیا هېواد لخوا جوړ شوی و او د پل نښونه او ګوټګې د هغه ځای نه راوړل شوې وې. د پخوانیو ګوټکو او نښونو په ډیزاین باید نوې ګوټکې او نښونه جوړ شوې وې چې دی کار هم وخت غوښته. په هر حال د پل د جوړېدو کار روان شو او هر مدني فعال او د هاها ډلې به راته هره ورځ لیکل چې والي صیب د بهسود پل رش نه ګورې؟ ما به ورته لیکل چې کار پرې روان دی او انتظار وکړئ چې جوړ شي.

د بهسودو د لومړي پل د ترمیم چارې د ۲۰۱۹م کال د اګست په نهمه نېټه د اختر په شپه بشپړ شوې. د دغه پل له ترمیم سره یو څه سهولت په تګ او راتګ کې رامنځته شو او د دې زمینه مساعده شوله، چې د دویم پل دواړه غاړې هم جوړې شي. همداشان د لومړي پل د ړنګېدو مخه ونیول شوه. د پل اول قیر واچول شو؛ خو چې د دواړو پلونو دواړه خواوې نه وي جوړې شوي، د قیر دویم لاس نشو اچول کېدلی. دا ټول تخنیکي مسایل و او ولسونو ته یې تشریح کول اسانه نه وه. د بهسود لومړی پل په هرو دوه مترو کې جاینټونه درلودل او څو چې دویم لاس قیر نه وي اچول شوی، نو په اول لاس قیر باندې جاینټونه نشول بندیدلی او درزونه یې کول. د هاها ډلې سمدستي عکسونه د درزونو واخیستل چې ګوره د پل په جوړولو کې فساد شوی دی. د هاها ډلې لپاره په ننګرهار کې د هر منفي کار پیدا کېدل زیرې و او کوښښ یې کاوه چې مثبت کارونه منفي وښايي او د خلکو ذهنیتونه مشغوش کړي.

همداشان له بهسود څخه عبدالخېلو سیمې پورې د تقریبا څوارلس کیلومتره څلوېښت متره سرک چارې هم د مشرق نیازي ساختماني شرکت لخوا پیل شوې. د دې لپاره، چې د سرک په جوړېدو کې سمدستي خنډ واقع نه شي نو د سرک کار یې د عبدالخیلو لخوا پیل کړ؛ ځکه د سرک زیاته برخه په دولتي ځمکه کې وه او یوازې درې څلور کیلومتره ساحه چې نږدې د بهسودو پل سره وه، د خلکو شخصي ملکیت و او استملاک کارونه یې باید بشپړ شوي و، خو ځایي خلکو همکاري نه کوله او څو ځلې به یې د سرک ډیزاین د ټولګټو چارو په وزارت کې بدل کړل شو او هرې ډلې به کوښښ کاوه چې د سرک

مسیر ته تغیر ورکړي. ما د ټولګټو چارو وزارت او هم شرکت ته وویل چې هېڅوک د سرک مسیر ته تغیر نشي ورکولای او د لومړني ډیزاین مطابق باید کارونه پرمخ لاړ شي؛ ځکه د سرک د مسیر تغیر کارونه د ډېر وخت لپاره په شا اچوي.

د عبدالخیلو له سیمې چې سرک جوړیدل پیل شول، بیا هم د ۱۲۰ کورونو، مکتب او دوه دریو جوماتونو شیهدانول پکې حتمي و. اکثره دا کورنۍ د کونړ وې او ما ورته وویل چې دا ستاسي په خیر ده او د سرک د پراخوالي ممانعت مه کوئ؛ ځکه دا د کونړ او هم نورو سیمو لپاره چې په دې لاره تګ او رانګ کوي، په ګټه ده. د هغوی د کور ودان وي، جنجال یې ونه کړل او هرچا خپل کورونه پخپله وران کړل. یو ځلې چې سیمې ته لاړم، نو دې سیمې مشهوره سپین ګیرې، زبردست حاجي راته وویلې چې یه والي صیب! موږ سرک غوښته خو دومره لوی سرک مو نه غوښته چې حجرې، جوماتونه او ښوونځي مو پکې وران شي. ما ورته وویل چې له نن څخه پنځوس کاله وروسته فکر وکړه چې څه پکار دي. د سرک ډېر کارونه تر سره شول او استملاک کارونه هم پرمخ روان و. د بهسود پل شمال خواته د دره نور د حاجي موسی هوټل و او هغه ممانعت کاوه خو ما ورته وویلې چې دا هوټل به حتمي ورانیږي. هغه هم د ګل کریم حاجي په شان ویلې چې اول باید ورته قیمت ورکړل شي او د استملاک مامورین یې کار ته نه پریښودل. د دې علت دا وه چې د هوټل یوه برخه د غصب ځمکه وه او اسناد یې نه درلودل. باالاخره وخت مې ورته وټاکه که د سرطان میاشتې تر اخره پورې هوټل تخلیه نه کړي، نو هوټل حکومت ړنګوي او په سرک کارپیل کیږي. متاسفانه چې زه د ملي وزارت دفاع ته لاړم او د دې کتاب د لیکلو پورې د هوټل د تخریب کارونه پاتې دي. دغه سرک باید په یو نیم کالو کې جوړ شوې واې خو کارونه یې اوس په ټپه ولاړ دي.

په پورته کارونو سربېره تقریباً زما یونیم کلنه دوره کې نور کارونه لکه: د ننگرهار د نجونو لیلیه، د ۲۰۶ ښوونځیو د ودانیو او د ۱۲۰ نه زیات د جوماتونو کارونه پیل شول. د خوگیاڼو د ابکو صیب او بر بیار د سرمې پلونه جوړ شول، چې مخکې یې یادونه شوې. همداشان د کانال د زیتونو فابریکې لپاره نوې ماشینونه راغلل او د واټرپمپونو لپاره سولري پروژه پیل شوه. د دره نور په شمل سیمه کې د اوبو او لمریزې برېښنا د پروژې تقریبا نوې سلنه کارونه مخې ته لاړل. د جلال اباد ښار او ولسوالیو د بېلابېلو پروگرامونو له لارې په سل گونو پروژې پیل او بشپړې شوې. فکر کوم چې زما د ماموریت په لنډ وخت کې د دومره کارونو پیلول او سرته رسول اسانه نه و او د دوامداره تعقیب پرته یې امکان نه درلودل.

## هدفي وژنې او عوامل يې

د جنايي او هدفي وژنو ترمنځ فرق دا دی، چې د هدفي وژنو انگېزه سیاسي او د جنايي وژنو انگیزه شخصي او مادي وي. اما د افغانستان د روان کړکیچ په دوران کې د هدفي او تروریستي وژنو انگیزه سیاسي او جنايي دواړه ده. مخالفین د تهدید او فشار په وسیله غواړي، چې د ټولنې له مالدارو اقشارو څخه باج واخلي او که چا باج نه ورکاوه؛ نو د هغه قشر یو کس له منځه وړي، څو نور مجبور شي چې دوی ته باج ورکړي. همدا شان تروریستي ډلې د بېلابېلو اقشارو لکه علماء، ملکان، مشران او د مدني ټولنو غړي په دې خاطر په نښه او له منځه وړي، چې د حکومت حمایت ونه کړي. د افغانستان په روانه جگړه کې تروریستي، جنايي او حتی سیاسي ډلې په خپلو منځو کې له یو بل سره همکاري او تماسونه لري او د یو بل سره مرسته کوي، ځکه دوی د یو بل حمایت ته اړتیا لري. تروریستان جنايي ډلې په ښارونو کې استخداموي او هدفي وژنې او اختطافونه پرې تر سره کوي او کله چې په جنايي ډلو باندې په ښارونو کې فشار زیاتیږي، دوی د مخالفینو ساحو ته پناه وړي. په دې توگه د جنايي، تروریستي او سیاسي قتلونو ترمنځ توپیر نه کیږي.

د هدفي وژنو سلسله د افغانستان په هره دوره کې شتون درلود. د داود خان په وخت کې د پلان وزیرعلي احمد خرم د مرجان په نوم د یو کس له خوا د ۱۹۷۷م کال د نومبر دمیاشتې په شپاړسمه نېټه په کابل کې ووژل شو[٤٤]. میر اکبر خیبر د ثور له کودتاه دمخه ووژل شو او د ثور کودتاه لپاره یې زمینه مساعده کړه. د ثور له کودتاه وروسته دا سلسله ګړندۍ شوه او ډېر کسان په کابل او پېښور کې د جهادي تنظیمونو، د پاکستان د استخباراتي شبکې او د کابل د حکومت له خوا د هدفي وژنو ښکار شول. د هدفي وژنو لست ډېر اوږد دی او باید په دې هکله یو هر اړخیزه تحقیق تر سره شي. په دې لړ کې زما دوه ورونه سردار محمود او امیر محمود، د ماما زوی مې اجمل ختک او د ترور زوی مې ډاکتر روح الله عمر هم په پېښور کې د جهادي ډلو او پاکستان د استخباراتي شبکو له خوا ورک او شهیدان شوي دي.

کابل ته له طالبانو د راتګ سره ډاکتر نجیب الله او د هغه ورور د پاکستان د استخباراتي کړیو په اشاره په دارشول. د داعش او طالبانو په راتګ سره د هدفي وژنو سلسله د پښتونخواه په لر او بر سیمو کې اوج ته ورسېدله. په سل ګونو او حتی زرګونو مشران، علما، مخور، لیکوالان او سیاسیون چې د ازاد او ملي فکر خاوندان او د استخباراتي شبکو د فعالیتنو منتقدین و، د ډیورند د فرضي کرښې په دواړو غاړو او ښارونو کې په نښه او ووژل شول. د پښتنو په اصطلاح د سر سړی دوی پرېښښود. ځینې سیاسي ډلې هم خپل رقیبان د هدفي وژنو په وسیله له منځه وړي؛ خو تروریستي ډلې هغه اقشار په نښه کوي چې اسیب پذیره وي.

د هدفي وژنو رواني فشار په امنیتي ادارو او ولایتي چارواکو باندې هم نهایت زیات وي. د هدفي وژنو د قربانیانو خپلوان او دوستان، سیاسي خود

---

٤٤ http://www.kabulnath.de/Salae_Panchoum/Shoumare_91/Dr.Siasang-Daoud-22.html (اخري ځل دا ویبپاڼه په ۲۵ اپریل ۲۰۲۱م کال وکتل شوله)

غرضـه افـراد، د همـدې تروریسـتي ډلـو پلویـان یـا پـه اصـطلاح نیکتـایي داره تروریستان چې هره ورځ په رسنیو کې ناست وي، مدني فعالان او د هاهـا ډلـه، ټول په عوض د دې چې اصلي عاملین ملامته کړي، په مرکز کې جمهور رئیس او په ولایتونو کې والیان ملامتوي. ټول په دې پوهیږي، چې عاملین څوک دي، د کومې ډلې پورې تړاو لري او ولې هـدفي وژنـې تـر سره کېږي؛ خـو بیـا هـم والیان ملامتوي. پښتو کې متل دی چې وایي مړ هم زه او پړ هم زه.

کله چې د همدې تروروستي ډلو کسان نیول کېږي، بیا ورپسې ملک او مـلا، متنفذ او وکیل راخوځي وي چې احمد او محمود ښه سړی دی او باید خوشـې شي. که د همدې ډلو پورې تړلي څوک په عملیاتو کې وژل کېږي، بیا ولسـونه د مخالفینو په خوله، جنازې د ولایت مخې ته راروانې کـړې وي او وایـې چـې ملکي کسان په عملیاتو کې وژل شوي دي. د ملکي تلفاتو د ملامتولـو سلسـلې ته د حامد کرزي په وخت کې زیاته هوا ورکړل شوله. کله به چې حامد کـرزی د بهرنیانو سره جوړ رانغی؛ نو د بهرنیانو او حتې د خپلو امنیتـي ادارو د عملیـاتو پرضد به یې بیانې ورکولې او هغه به یې غندلې. حامد کرزي نیـوکې داسـې وې ته به وایي چې دې جمهور رئـیس نـه دی؛ بلکـې مـدني فعـال او ملـک دی او هېڅ مسؤلیت د افغانستان د روانو حالاتو په اړه نه لري. که ښه کېدل او که بد، د هېواد د مشر او جمهور رئیس په توګه د هغه مسؤلیت و چـې د هېـواد سـتونځو ته یې د حل لاره پیدا کړې وی.

تررویستي ډلې هدفي وژنې کله په داسې اشخاصو تر سره کـوي چـې هـېڅ باور پرې نشي کېدلې. د ۲۰۱۹م کال د اګست په دیارلسمه نېټه، پولیسو د جلال اباد په ښار کې یو څوارلس کلن هلک ونیوه، چې په شپږو هدفي وژنو کې یـې لاس درلود. دا هلک امام الدین نومیده، د خوست ولایـت د قلنـدر ولسـوالۍ د کڅکي سیمې د منې د کلي و. امام الدین یتـیم پـاتې شـوی و. کاکـا ګـانو یـې ورسره مرسته نه کولـه. بیـا طالبـانو دی جلـب کـړی و او درې کالـه یـې ورتـه د بامیانو په کومه سیمه کې ټریننګ ورکړی و. دا هلـک د ټولـو خفیفـه سـلاو پـه استعمال ډېر ښه پوهېده او د جمناستیک ټریننګ یې هم درلود. له بامیانو څخه

طالبانو د هدفي وژنو لپاره جلال اباد ته راوستی و، چې درې کسه د اردو، دوه پولیس او یو د محلي پولیسو قوماندان یې وژلي و. امام الدین په ویډیویي اعتراف کې وایي چې دا ظلم له ما شوی او پښېمانه یم. اوس د حکومت خوښه ده چې ما وژني او که بندي کوي مې. دا قصه ساده نه ده. په ټولنیز لحاظ ډېر بحث ته اړتیا لري او دا قصه موږ ته د ټولنې ستونځې په ګوته کوي، چې د افغانستان د جنګ په دوام کې د بهرني عواملو تر څنګ داخلي عوامل څومره مهم رول لري.

د هدفي وژنو سلسله په ننګرهار او ختیځو ولایتونو کې هم ډېره اوږده سابقه لري. د ختیځو ولایتونو یو شمېر زیات شخصیتونه په پېښور، کابل او ختیځو ولایتونو کې له منځه یوړل شول. ځینو یې سیاسي انګیزه درلوده او ځینو یې د خپل منځي اختلافاتو ښکار شوي دي. په دې لړ کې پوهاند بهاوالدین مجروح، عزیزالرحمن الفت، مولوي جمیل الرحمن، حاجي قدیر، حاجي محمد زمان غمشریک، شمالي خان، انجینر محمود، فضل حق مجاهد، ډاکتر عبدالله لغمانی، د لغمان قوماندان ناصر ، ملک زرین د کونړ او ګڼ شمېر نورو یادونه کولی شو. متاسفانه دا سلسله له ما دمخه، زما د ولایت په وخت کې او اوس هم روانه ده او ورځ تر بلې یې قربانیان زیاتیږي.

هغه هدفي وژنې چې زما د ولایت په موده کې پېښې شویدي غواړم چې یادونه یې وکړم؛ ځکه دا د دغه سیمې د تاریخ یوه ترخه برخه ده. د ځینو هدفي وژنو انګیزې او پېښو په هکله غواړم چې معلومات د تاریخي سند په توګه شریک کړم. په امنیت او د حکومتولۍ په ښه کولو کې د ولسونو رول همیشه خورا مهم وي. البته ولسونو ته انګیزه ورکول د دولتي او سیاسي مشرانو، علماو، قومي مشرانو، لیکوالانو، مدني ټولنو او د ټولنې د ټول تعلیمیافته قشرونو دنده ده. د افغانستان امنیتي وضعیت او څلورو لسیزو جګړو، د نفوسو زیاتوالی، فقر او نیابتو جګړو د دې لپاره زمینه مساعده کړې ده چې جنګ دوام وکړي. څو چې افغانان پخپله ځانونه له جنګ نه خلاص نه کړي او په خپل حالت کې

تغیر رانه ولي، نو جنګ هم نه ختمیږي. الله تعالی هم وایي چې که یو قوم په خپل ځان کې تغیر رانه ولي نو الله تعالی هم د هغه قوم په حالت کې تغیر نه راولي. که ووایو چې ګاونډیان زموږ په ملک کې مداخله کوي، دا هم کمزوری خبره ده چې بل ستا په کور کې مداخله کوي. که ووایو چې نورو هیوادونو افغانان سره په جنګ اچولي دي، نو دا هم د کمزورۍ خبره ده، چې ولې افغانان دومره بې کفایته او وچ مغزي دي، چې د نورو په لمسون جنګونه کوي. که ووایو چې خپل اولادونه افغانانو ته نورو په خپله غاړه اچولي ، نو بیا هم دا د افغانانو کمزوري ده، چې خپل اولادونه په سمه توګه نشي روزلی، نور ترې د خپلو اهدافو په خاطر د وسیلې په توګه کار اخلي. که ووایوچې فقر دی نو ځکه ځینې ځوانان هرې خواته لاس اچوي، دا هم سمه نه ده، ځکه که یو څوک فقیر شو نو دا په دې معنې نه ده چې نور به وژني او خپل ملک به ورانوي.

د افغانستان په دې اوږد ناورین کې له ټولو څخه زیات قصور په خپله د افغانانو دی. که ووایو چې حکومت ضعیفه دی، دا هم د افغانانو کمزوري او ضعف دی چې فاسد کسان پرې حکومت کوي. ولس اصل دی او حکومت د ولس فوتو کاپي ده چې اصل خراب وي نو فوتو کاپي به خامخا خرابه وي. د افغانستان سیاسي طبقه، دولتي چارواکي، علما، مخور او متنفذین، متخصیصین، مدني او روشنفکره طبقه او په کل کې ټول ملت تر اوسه ناکام ملت دی ځکه دوی ونه کړای شول، چې د پردیو له جګړې څخه ځانونه خلاص کړي. دوی ونه شول کړای، چې یو ښه ملي سیاسي حرکت رامنځته کړي. عام ملت په دې کې زیات ملامته نه دی؛ ځکه د افغانستان ملت په سیاسیونو، علماو، روشنفکرانو، سیاسي ډلو او احزابو، تکنوکراتانو او مذهبي مشرانو باندې اعتماد وکړ، د دوی ملاتړ یې وکړ، دوی یې قدرت ته ورسول؛ خو په حقیقت کې ټولو د افغانستان د ملت او د افغانستان د خاورې سره جفا وکړه او ویې نشول کړای چې د افغانستان ستونځو ته د حل لارې پیدا کړي.

پـه هـر حـال، د افغانسـتان د قـانون د تنفیـذ او کشـفي ادارې او پرسـونل د افغانستان د موجوده چیلنجونـو پـه انـډول کـافي پرسـونل، وسـایل، ټریننـګ او تجربه نه لري. د مجرمینو د تلیفونونـو لپـاره پـه ننګرهـار کـې د کنـترول سیسـتم وجود نه درلود او هر نمبر د تعقیب لپاره بایـد کابـل تـه د مـلي امنیـت عمـومي ریاست او یا د کورنیو چارو وزارت له مخدره موادو سره د مبارزې ریاسـت تـه ورکړل شوی وی. هغوی بیا د هېواد د اولویتونو په تناسب قضـیو تـه لومړیتـوب ورکاوه ځکه د هېواد په کچه هم کافي د کنترول سیستمونه شتون نه لـري، چـې د هر چا نمبر مانیټر یا کنترول کړي. هلته مو هم د شخصي ـ نفـوذ او د ادارو لـه مشرانو سره د شخصي شناخت څخه کـار اخیسـته، چـې د ننګرهـار مسـایلو تـه لومړیتوب ورکړي. ډېری کسانو به ننګرهار کې ویلې چې که له یو ځـای څخـه د متضرره نمبر تـه زنـګ وهـل کیـږي نـو ولـې امنیتـي ادارې د جنایتکـارانو او تروررستانو ځایونه نه معلوموي، خو په حقیقت کې دوی د ادارو له ظرفیتـه خـبر نه و. زما د کار پالیسي دا وه، چې اول به مې د یوې ادارې له مسـوولینو څخـه د هغوی ظرفیت پوښتنه کوله، چې ایا امکانات او ظرفیت لري کنه؟ نو بیا به مې له هغه ادارې څخه د ظرفیت په تناسب د کار توقع کوله. د مدیریت په علم کـې د ظرفیت او امکاناتو څخه اوچته توقع د ادارو او همکارانو نه ده پکار. پښتو کـې هم متل دی وایي، چې غواړي د چا د ټوپک نه زړه بد کړې نو نښـه ورتـه لـرې کېږده نو ما دا کار نه کاوه.

د ظرفیت د نشتون تر څنګ، امنیتي او دفـاعي قوتونـه پـه زیـاتو جبهـو کـې همزمان جنګیږي اومبارزه کـوي. کـه جنـایي او تروریسـتي ډلـې لـه بهـر څخـه تقویه کیږي؛ خو په داخـل د افغانسـتان کـې ورتـه پـه کورونـو او کلیـو کـې یـو څوک ځای ورکوي. که ولسونه خپل وجایب په سمه توګـه اداء کـړي، حقـوق هم په ښه توګه تر لاسه کولی شي. د حقوقو او وجایبو تـر مـنځ مسـتقیمه رابطـه ده. څومره چې ولسـونه او دولتـي چـارواکي خپـل وجایـب پـه سـمه توګـه اداء کړي، هماغومره حقوق هم په ښـه توګـه تـر لاسـه کـولی شي. کـه پـه شـواهدو

خبرې وکړو، په موجوده وخت کې د افغانستان ټولنه مریضه ده. د بشر د حقونو د ادارې د راپور په اساس، په افغانستان کې پنځه اویا سلنه وګړي په یو قسم رواني تکلیف اخته دي[۴۵]. پدې توګه د افغانستان اداره هم د مریضې ټولنې تولید دی؛ خو د خلکو توقع له خپل ځان او هم له حکومت څخه د یوې سالمې ټولنې او ادارو په شان ده.

اکثره خلک قانون ماتونکي دي، خو بیا وایي چې د قانون د تنفیذ ادارې ولې قانون ماتونکي نه کنترولوي او مجرمین نه نیسي. دا داسې معنې لري، چې یو کس ووایي چې زه سړی نه یم نو ما سړی کړه. د پولیسو او هم د ملي امنیت پرسونل د ننګرهار په هره امنیتي حوزه او ولسوالۍ کې د جغرافیې او ستونځو په تناسب ډیر کم پرسونل لري. د امنیت ملي په هره حوزه او ولسوالۍ کې له اوه اته کسو څخه زیات نه دی. د پولیسو د حوزو پرسونل اکثره غیر مسلکي او د جهادي قوماندانانو بقایا ده؛ نو مشکل یوازې په تغیر او تبدیل نه حل کیږي بلکې د قواو تر منځ همغږي ډېره مهمه وه. په همدې منظور مو له ولایت سره نږدې، د جلال اباد ښار د پولیسو په لومړۍ حوزه کې د سوق او ادارې مشترک مرکز د ملي پولیسو او ملي امنیت جوړ کړ. د ننګرهار امنیه قوماندان او د ملي امنیت د جلال اباد ښار مرستیال به په مستقیمه توګه نظارت کاوه. د دغه مرکز جوړېدل، ډېر مؤثره ثابت شو او د ډېرو پیښو په مخنیوي او مدیریت کې یې مهم رول درلود.

لکه مخکې مې چې په امنیتي برخه کې یادونه کړې، د استقلال د سلمې کالیزې د لمانځلو په وخت کې امنیتي ادارو په جلال اباد ښار او ولسوالیو کې د یو لوی ناورین مخه ونیوله، د ټولو نیمګړتیاو سره سره، امنیتي او دفاعي قوتونو هره ورځ د لسو ګونو پیښو مخه نیوله. د امنیتي ادارو او همداشان د عدلي او قضایې ادارو منسوبین هم د هدفي وژنو او تروریستي پیښو قرباني و.

---

[۴۵] https://www.hrw.org/news/2019/10/07/afghanistan-little-help-conflict-linked-trauma (اخرې ځل دا ویبپاڼه د ۲۰۲۱م کال د جون د میاشتې په دولسمه نېټه وکتل شوه)

امنیت که له یوې خوا د حکومتونو او دولتونو مسؤلیت دی؛ خو له بلې خـوا د ولسـونو مسـؤلیت هـم دی. لـومړنی مسـؤلیت د والـدینو دی، چـې د خپلـو اولادونو په تعلیم او تربیه فکر وکړي. متاسفانه په افغانستان کـې ټـولنیز فرهنـګ یوازې د بچو په راوړلو دی. بچې راوړه او کوځې ته یې خوشـې کـړه، چـې هـر قسم تربیه شول، هرچا چې په هره لاره استخدام کړل، څه فرق نـه کـوي. همـدا علت دی چې په تېرو څلورو لسیزو جنګونو کې د بشري قوت کمبود نشته او د هر ډلې لپاره د جلب او جذب بشري قوت په ټولنه کـې شـتون لـري. څـو چـې کورنۍ د اولادنو د راوړلو په عوض د اولادونو په تعلیم او تربیه فکر ونـه کـړي، ترهغې پورې به د افغانستان د جنګ خبیثـه دایـره همداسـې روانـه وي. پـه دې برخه کې د هدفي وژنو د پېښو خلص تفصیل او عوامل یې چې تر کومـه حـده ماته کشفي ادارو راکړي له تاسې سره شریکوم؛ ځکه دا د ننګرهـار د تـاریخ لـه ټولو دردونکي حالت و؛ چې د پردیو تر څنګ، خپلـو هـم یـو بـل سره وژل. د ثور له کودتاه څخه وروسته چې په افغانستان کې جګـړې پیـل شـوې، پـه هغـه وخت کې د حکومت او مجاهدینو د ډلو ترمنځ صفونه سره معلوم و او د هـرې ډلې د کنترول ساحه معلومه وه اما د ۲۰۰۱م کال څخه وروسته چې کله طالبـانو حکومت د ائتلاف د قواو لخـوا لـه منځـه یـوړل شـو، طالبـانو، داعـش او نـورو تروریستي ډلو د حکومت او هم د خارجي قـواو پـه مقابـل کـې فعالیتونـه پیـل کړل، صفونه سره بیل ونه ساتل شول؛ ځکه د خپلو او پردو تـوپیر نـه کېـږي. پـه ډېرو قضیو کې د کورنۍ خپل غړي او یا د ډلې کسان لاس لـري. پـه حکومـت کې به کار کوي، د حکومت له امکاناتو او قدرت څخه به اسـتفاده کـوي؛ خـو کار به تروریستي ډلو ته کوي، چې همدا ډول خلکو ته په سـیاسي علومـو کـې پینځم ستون (Fifth Column) وایي. د ډېرو لا هویت هم پټ نه دی او علني د تروریستي ډلو څخه په رسنیو او ټولنیزو رسنیو کـې ملاتـړ کـوي او د حکومـت پرضد اصلي رواني جګړه همدې نکټایي داره تروریستانو روانه کړې ده چـې د بیان دازادې په نوم د تروریستانو ملاتړ کوي.

که څه هم دوی نه راژوندي کېږي؛ خو د دې تحمیلي جنګونو د قربانیانو په لست کې د دوی د نومونو یادونه او د دوی د وژنو نه عبرت اخیستل اړین دي. هره پېښه که له یوې خوا د دوی د کورنیو لپاره نه جبران کېدونکي وه؛ خو له دوی سره د ولایتي او امنیتي ادارو منسوبین او مشران او زه شخصاً د یو مسؤل کس په توګه له ټولو نه زیات ځوریدم. یو شاعر وایي:

زړه یې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی

په لیدو د زخمي زړه، چې زخمي نشي

هره پیښه هرې کورنۍ ته مهمه ده خو دلته د څو پیښو یادونه کوم چې زیاتو کسانو سره د دې پیښو په هکله سوالونه موجود دي.

### د ډاکتر ناکامورا ترور

که څوک احساس ولري، د هر انسان او حتی د حیوان او نبات ژوند هم ورته اهمیت لري. موږ چې واړه و نو راته ویل کېدل به چې وړوکی مېږی هم درنه باید ازار نه شي او په لارو کې به مو په مېږانو پښه نه ایښودله. په خپل کور کې مو ډېرې تراژیدي لیدلې او خپل ورونه مو د لاسه ورکړي دي؛ خو د ډاکتر ناکامورا وژنې لکه څنګه چې یې نور با احساسه افغانان او بشرپال ځورولي، د یو مسؤل کس په توګه له ټولو څخه زه هم زیات وځورولم. متاسفانه د افغانستان دښمنان د افغانانو عادي ژوند هم نه شي زغملای. هغه کسان چې د افغانانو د ژوند د ښه کېدو لپاره ښه نیت لري او کار کوي، په یو شکل نه یو شکل له منځه وړي. د خفګان خبره دا ده، چې بهرنۍ حلقې همیشه خپل شوم اهداف په خپلو خرخ شویو افغانانو باندې تر سره کوي. افغانان همیشه دا وایي، چې په افغانستان کې بیروني لاسونه کار کوي او د افغانستان د تباهۍ پلانونه جوړوي؛ خو دا هېڅکله نه وایو، چې د بهرني لاسونو سره که داخلي لاسونه نه وي، یوازې بیروني لاسونه څه نشي کولای. د افغانانو لویه کمزوري همدا ده چې خپل لاسونه ورته نه ښکاري او تل له بهرنیو لاسونو نه شکایت کوي.

کله چې د داعش ډلې ته په ننګرهار کې شکست ورکړل شو او د داعش جغرافیه له منځه یوړل شوله، طالبان هم ضعیفه شول اوامنیتي توسعه د ننګرهار په ۹۵ سلنه سیمو کې رامنځته شوله، د ننګرهار د دوه ویشت ولسوالیو نه ۲۱ ولسوالیو ته تګ او راتګ دولتي مامورینو او عام ولس پرته له ویرې شپه او ورځ تر سره کولې شو، د ننګرهار تصویر په داخل د افغانستان کې اوهم بهرنیانو ته ډیر ښه شو. د افغانستان او د سیمې دښمنانو بیا هم کوښښ کوه، چې ننګرهار په یو ډول نه یوه ډول نا ارامه او بدنامه کړي.

درې اویا کلن ډاکتر تیځوناکامورا (Dr. Tetsu Nakamura) چې په ننګرهار کې یې په کاکا ناکامورا شهرت درلود په ۱۹۸۴م کال کې د طب په برخه کې د زده کړو له بشپړولو وروسته پاکستان ته لاړو او دوه کاله وروسته یې د ننګرهار په دره نور ولسوالۍ کې صحي کلینک جوړ کړ. هلته له خلکو سره د اړیکو وروسته په دې فکر شو چې د صحي اوبو د څښلو د کمښت او غذایي ستونځو له امله د کلي خلک په کلورا او نورو امراضو اخته کیږي؛ نو توجو یې د څاګانو ویستلو او د کونړ سیند له اوبو څخه په موثره توګه ګټې اخستنې ته وکړه. ډاکتر ناکامورا به ویلې چې ښه امنیتي تدابیر له ځایي خلکو سره ښې اړیکي لرل دي. د ډاکتر ناکامورا خبره سمه وه، چې هغه د ځایي خلکو سره ستونځه نه درلوده؛ خو د پاکستان پورې تړلې تروریستي ډلو د هغه کارونه نشو زغملی.

ډاکتر ناکامورا د کونړ سیند د ښیوې ولسوالۍ د سید جمال الدین افغان له ټاټوبي صدر ګټ څخه د شل کیلومتره په اوږدو، ګمبیري دښتې ته د ویالې د جوړولو کار پیل کړ، دا هغه پروګرام و، چې د داود خان په وخت کې پلان شوی و چې د کونړ سیند اوبه به د ګمبیري له دشتې د خړوبولو وروسته د دورنتې بند ته غورځیږي. دغه ویاله چې د ګمبیري تر دښتې پورې رسیږي، په زرګونو جریبه ځمکه یې خړوبه کړې او زرګونو کورنیو ته یې د ژوند کولو زمینه برابره کړیده. که چا دا ویاله لیدلې وي، د غرونو په لمن کې د مار په شان

داسي تاو راتاو شوې ده، چې ټولې شاړې ځمکې یې چې پخوا به پکې اغـزي شنه کېدل، خړوبه کړي دي. د ویالې دواړه خواو ته د ولو ونې کرل شوي دي.

د کـونړ پـه سـیند بانـدې د PMS (Peace Japan Medical Services) د موسسې کار ګاونډیانو ته د زغملو وړ نه و. د ډاکتر ناکامورا ملګـری او همکـار Ito Kazuya چې د زراعت په برخه کې یې زده کړې درلـودې، د ۲۰۰۸م کـال د اګست د میاشتې په ۲٦مه نېټه د دره نور ولسوالۍ د بوډیـالۍ پـه سـیمه کـې د څلور کسانو له خوا وتښتول شو. کله چې دا جاپانی انجینر تر یـوه ځایـه پـورې بیـایي، درې ډزه یــې پـه ښـه او ورون بانـدې ولي او د زیـاتې وینـې ورکولـو وروسته هماغلته مري. په سبا یې د کلي خلک د ایتو مړی په یوه نـاو کـې پیـدا کوي. له اختطافچیانو څخه یو کس د عادل شاه په نوم چې د دره نور ولسـوالۍ و، د ملي امنیت لخوا نیول کېږي او هغه په اقرار کې ویلي و، چې د پاکستان یـو تروریستي ګروپ دوی ته ویلي و چې دا جاپانی اختطاف کړئ. په دغه وخـت کې ناکامورا په پیښور کې د جاپـان کـایی Peshawar- Kai د مؤسسـې مشري کوله[٤٦].

ډاکتر ناکامورا د خپل ملګري له وژل کېدو وروسته، خپل کارونو ته نور هم زور ورکړ او د کونړ سیند د کاشکوټ، کامې او عبـدالخېلو د کانـالونو او ویـالو سربندونه یې جوړکړل او په زرګونو حاصل خېزو او غیـر حاصـل خېـزو شـاړیو ځمکو ته د کونړ د سیند په اوبډو کې د کرکیلې زمینه برابره کړه. دا چې ډاکـتر ناکامورا ۷۳ کلن و، نو د افغانستان د کـار د قـانون پـه اسـاس د نومـوړي د کـار اجازه نه شوله نوې کېدله؛ نو جمهوري ریاست ته د افغانستان د تابیعت غوښتنه وشوله څکه د تابعیت د قانون په اساس، ده په افغانستان کې له لس کلونو څخه زیـات وخـت تېـر کـړی و. د تـذکرې د قـانون پـه اسـاس بایـد یـو کـس د دی ضمانت کړی وی. نو زما د دفتر رئیس، انجینر فرید نـاصرزي د دې تصـدیق او

---

[٤٦] https://apjjf.org/-Michael-Penn/2870/article.html (دا صفحه پـه اخري ځـل د ۲۰۲۱م کـال د اپرېل په ۲۹مه وکتل شوه)

ضمانت وکړ او بالاخره ناکامورا تـه د افغانسـتان تـذکره د جمهـور رئـیس لخـوا ورکړل شوله. د تذکرې له اخیستو څخه وروسته ما هـم د ولایـت پـه مقـام کـې ولید او په قدرداني کې مو ورته چپن او پکول ورکړل.

د ۱۳۹۸ل کال د عقرب په دولسمه نېټه د ملي امنیت اداري د ډاکتر ناکامورا په هکله امنیتي اطلاع تر لاسه کړې وه چې هغه ته تهدید موجـود دی. د اطـلاع له تدقیق وروسته دعقرب په شلمه نېټه د ملي امنیت مسؤلینو د ډاکـتر ناکـامورا اداري امنیتي مسؤل او هم د دغه اداري افغاني مـشر انجینر ضیاء تـه پـه لیکلـې ډول اطلاع ورکړې وه، چې داسې معلومـات دوی لـري چـې د ډاکـتر ناکـامورا ژوند د تهدید لانـدې دی او هغـه بایـد احتیـاط وکـړي. د مـلي امنیـت اداري د هغوی څخه استحضاري هم اخیستې وه، نو که دی د یو څه وخت لپاره بهر لاړ شي ښه به وي. ډاکتر ناکامورا د لږ وخت لپاره جاپان تـه لاړو؛ خـو د قـوس پـه لسمه نېټه بېرته جلال اباد ته راغی. د ملي امنیت ریاست د قوس په یولسمه نېټه بیا د ډاکتر ناکامورا له دفتر سره اړیکه نیولې وه چې تهدید کم شـوی نـه دی او که هر چیرته ځي نو باید پوره امنیتي تـدابیر ونیسي. دا چـې ډاکـتر ناکـامورا لـه خپل کار سره بې کچې مینه او تعهد درلود، دی تهدیدونو ته یې چنـدان توجـه ونه کړه.

یوه ورځ بعد چې د ۲۰۱۹م کال د دسمبر د میاشـتې څلورمـه نېټـه وه، دفـتر کې ناست وم چې د سهار ۸:۱۰ دقیقې د ولایت مرستیال، تمیم عارف مومند او سکتوري رئیس فضل ربي همیم راته راغلل او ویې ویل چې د بهسودو لـه پلـه سره نږدې د فواید عامې د ریاست مخې تـه د جاپـاني مؤسسـې PMS (Peace Japan Medical Services) په مشر، ډاکتر ناکامورا په موټرو باندې ډزې شوې او هغه زخمي دی او حوزوي روغتون ته انتقال شـوی دی. همداشـان پـه دغـه حمله کې د ناکامورا په تعقیبي موټر کې څلور کسه سـاتونکي او د هغـه ډریـور هم وژل شوي دي. په وژل شـوو کسـانو کـې د ګـاردانو قومانـدان، منـدوزی د

کابل د ده سبز اوسیدونکی، عبدالقدوس او سید رحم د دره نور اوسیدونکي، جمعه گل د لوگر اوسیدونکی او ډریور یې زین الله د لغمان اوسیدونکی و.

له امنیتي ادارو سره د چیک کولو وروسته، سمدستي د ننگرهار حوزوي روغتون ته لاړم، چې د جراجي متخصص، ډاکتر صیب سرور د عملیاتو په خونه کې د دې خپه بېرته کړې وه او وضعیت کې یې ښه نه و. د جلال اباد په هوايي ډگر کې د قاطع ملاتړ له مسوولینو سره وغږېدم که دی ژر بگرام ته د تداوې لپاره انتقال شي. هغوی وعده وکړه که میدان ته راوړل شي؛ نو هلته به یې ډاکتران وگوري او که د انتقال و نو بگرام ته به یې انتقال کړي. هغوي دوه هلیکوپترونه د انتقال لپاره تیار او د هوايي ډگر د روغتون سره نږدې ولاړ و. ډاکتر صیب سرور وویل چې دوی باید لږ صبر وکړي چې تر میدانه پورې په امبولانس کې د انتقال لپاره تیار شي. هماغه و، چې خیټه یې ورته وگنډله او تر میدانه پورې یې له ډاکترانو سره یو ځای په امبولانس کې انتقال کړ. په میدان کې امریکایي ډاکترانو هڅه وکړه خو متاسفانه هلته مړ شو.

د جاپان له سفیر Mitsuji Suzuka سره وغږېدم چې څه وکړو؟ هغه هم راته وویل چې تاسي لږ صبر وکړئ، چې د خپل حکومت او د ناکامورا له کورنۍ سره وغږېږي چې څه پکار دي. جمهور رئیس هدایت هم دا و چې د جاپان له سفارت سره په همغږۍ یې مړی کابل ته انتقال کړئ. ټوله ورځ مې د جلال اباد په هوايي ډگر کې تېره کړه او بالاخره د زیاتو تلیفونو او تماسونو وروسته، د شپې په لس بجو مو د ډاکتر ناکامورا مړی کابل ته انتقال کړ. د ناکامورا له جسد سره زه یوازې په هلیکوپتر کې وم. د ناکامورا د کار په هکله مې د دې ټولې پروژې د سترگو کېدلې. د ولایت په دور کې دوه ځلې مې ورسره ناسته درلوده او همیشه به یې په مسکا کې خبرې کولې او ویلې به یې چې د کونړ له لیوني سیند سره خاصه مینه لرم. کله به چې کونړ ته تللم نو په لاره به مې د دې کارونه کتل او همیشه به مې د نوموړي خدمت سترگو ته درېده. که میلمانه به راسره و نو خامخا به د کونړ په لاره د سلام پور په سیمه کې د هغه ویالې د سربند په ساحه کې ودریدلو چې نوموړي د گمبیري دښتې

ته تیره کړې وه او د دې د کار یادونه به مې دوستانو ته کوله. په هلیکوپتر کې مې هم له ځان سره دا چرُت هم وهه چې د دې د کورنۍ او د جاپان خلک به د افغانستان په هکله څه فکر کوي؟ جاپانیان او د هغه کورنۍ شاید همدا فکر وکړي چې ناکامورا هغه خلکو وژلی د چا لپاره چې دې خدمت کاوه. اما عام ولس خو په دې نه پوهیږي، چې د افغانستان بدبخته گاونډي د دې په قتل کې لاس لري. بیا به مې فکر شو چې د افغانستان بدبخته گاونډي خو افغانان نه پریږدي، چې افغانستان جوړ شي خو ځینې بدبخته افغانان هم د خپل وطن تخریب کې له دښمنانو سره لاس لري نو څه باید وشي؟ همدا تعهد مې له ځان سره د ناکامورا په شان درلود، کهل چې د ناکامورا ملگری ایتو ووژل شو، نو هغه کار د ایتو کار ته دوام ورکړ او موږ هم باید د خپل هېواد جوړونې ته دوام ورکړو بله چاره نشته.

د هلیکوپتر په پرواز کې او هم کابل کې یخنې نهایت زیاته وه. گرمې جامې او پټو مې نه و د ځآن سره اخستې، نو نهایت زیاته یخني مې وشوله. د جاپان سفیر مې د کابل په نظامي هوایي ډگر کې ولید. د ننگرهار د خلکو اوهم د افغانستان د خلکو لخوا مو ورته تسلیت ووایه او غمرازي مو ورسره وکړه. د جاپان سفیر د ناکامورا له مړي سره زما په ورتگ نهایت خوشاله شو او د هماغه ځای نه یې د تسلیت پیغام خپل هېواد ته او د ناکامورا کورنۍ ته ولیږه. د ناکامورا مړی لومړی د قاطع ملاتړ عدلي طب څانگې ته انتقال شو. ترڅو مړی د عدلي طب له معاینې خلاصېده، د جاپان له سفیر سره د شپې تر دولس بجو پورې بهر ولاړ وم او د شپې په یوه بجه بیرته جلال اباد ته په هلیکوپتر کې راغلم. دردونکې پېښه او دردونکې حالت و، چې تمثیل یې د یو افغان او بیا د یو مسؤل کس په توگه په دې لیکنه کې نشم کولی.

د دسمبر د میاشتې په شپږمه نېټه کابل ته د ننگرهار له شلو کسانو مشرانو او علماو سره لاړو، څو جاپان ته د ډاکتر ناکامورا د مړي د لیږلو په مراسمو کې برخه واخلو. د دسمبر د میاشتې په اومه نېټه مو د کابل په هوایي ډگر کې د

ډاکتر ناکامورا د لور، میرمن، د PMS مؤسسې مرستیال، Dr.Kunitaka Joo او د جاپان له سفیر سره نیم ساعت ناسته درلوده. هغوی ته مې د ننګرهار د خلکو لخوا تعزیت او تسلیت ووایه. هغوی ته مې وویل چې د افغانستان دښمنان هر هغه څوک له منځه وړي، چې څوک دافغانستان د خلکو لپاره خدمت کوي. ډاکتر ناکامورا هم د خپل ملګري، ایتو پشان د هماغه ناځوانه دښمنانو لخوا ووژل شو.

د PMS د موسسې مرستیال، Dr.Kunitaka Joo وویل چې د دوی اداره دولس زره غړي لري او د ډاکتر ناکامورا کار اوس پیل شو او دوی به یوه ورځ هم د هغه کارونه ونه دروي. د ډاکتر ناکامورا لور، Akiko راته وویل چې ښه شو چې دوی کابل ته راغلل. دلته چې دوی د جمهور رئیس او د افغانانو مینه ولیدله، چې څومره یې زما له پلار سره درلوده، موږ یې نور هم تشویق کړلو؛ چې زیات کار وکړو، څو د هغه له کارونو زیات خلک ګټه واخلي او دهغه کارونه به دوام پیدا کوي. په هوایي ډګر کې جمهور رئیس محمد اشرف غني، د ملي امنیت سلاکار، د چارو د ادارې مشر ډاکتر فضل محمود فضلي او ګڼو نورو دولتي چارواکو د ډاکتر ناکامورا په جنازه کې برخه واخیسته او په خاصو دولتي مراسمو یې د ډاکتر ناکامورا جنازه جاپان ته رخصت کړه. یاد به یې د افغانانو او په خاصه توګه د مشرقي د ولسونو په منځ کې تلپاتې وي.

د ډاکتر ناکامورا د موټر پسې یو تعقیبي پیک اپ موټر چې څلورکسه ساتونکې پکې ناست و، متاسفانه هېڅ ډز نه و کړی. ډېری کسان وایي چې باید د هغه امنیت ساتل شوی وی خو د امنیت په خاطر ساتونکي ورکړل شوي و. پېښه داسې رامنځته کېږي چې یو کرولا موټر د ډاکتر ناکامورا د موټر مخه نیسي او پر هغې ډزې کوي او بله کرولا موټر کې چې مسلح کسان پکې و، د ساتونکو په موټر ډزې کوي او هغه وژني او قاتلین له سیمې څخه په رڼا ورځ تښتي. دواړه کرولاوې چې په سیمه کې د کورونو د ځینو امنیتي کمرو لخوا کتل کېږي د مستوفیت په طرف ځي خو بیا نور له امنیتي کمرو نه پناه کېږي. په همدغه ورځ دا ټولې سیمې ولټول شوې، خو د ده قاتلین پیدا نشول. لکه چې

مې د نورو هدفي وژنو په هکله یادونه کړې، وایي څه توره تیره او څه ادې ورسته. په افغانستان کې همدا حالت دی. که پلانونه د بیرون هم پلان کېږي خو خامخا ورسره د سیمې یو څو کسه لاس هم لري. که داخلي لاسونه نه وي، بیروني کسان څه نشي کولای چې تخریب وکړي. متاسفانه د ولسونو نه هم ساه وتلې ده، چې په داسې مواردو کې قاتلینو ته ګوري، نه اقدام کوي او نه سم معلومات له امنیتي ادارو سره شریکوي. امنیتي ادارې هم خپل مسؤلیت په سمه توګه نه اداء کوي. د فساد تر څنګ زیات فشار او دوامداره جنګ هم د دې باعث شوی دی چې امنیتي ادارو ته دا فرصت په لاس نه ورکوي چې په مسلکي توګه دوامداره تعلیم او تربیه وګوري، چې له ولسونو سره لازمه همکاري ایجاد کړي.

د جمهور رئیس او ولایت په هدایت د ملي امنیت ریاست ته دنده ورکړل شوه، چې د قاتلینو د پیژندو او پیداکولو هلې ځلې پیل کړي. بالاخره قاتلین په نښه شول. دا تروریستي حمله د تحریک پاکستان د ډلې د یو قوماندان، امیرنواز محسود چې په حاجي دوبی مشهور و، دهغه لخوا تر سره شوې وه. حاجی دوبی په ننګرهار کې جعلی تذکره او لایسنس د شاه حسین د ابراهیم د زوی په نوم جوړ کړی و. همدې ډلې د انعکاس د تلویزیون، انجینر زلمي په اختطاف او همداشان د سناتور لطف الله بابا د ورور په وژنه کې هم لاس درلود او دی د پاکستان لخوا حمایه کېده. د دې ګروپ مهم غړي حمزه او خان ولي نومیدل چې دواړه د پاکستان اوسیدونکي و. په ۱۳۹۹ کال کې ملي امنیت د کونړ د شلطن ولسوالۍ د بچې په سیمه کې د امیرنواز محسود په مرکز حمله وکړه چې شپږ کسه د دغه ډلې د سخت مقاومت په اساس ووژل شول خو امیرنواز او حمزه په تیښته بریالي شول. حاجی دوبی او حمزه په جعلي اسنادو کابل ته تګ او راتګ کاوه او په بعضي مهمو نورو اختطافونو او هدفي وژنو کې یې لاس درلود. د ۱۳۹۹ل کال د دلوې په لسمه نېټه حاجی دوبی او حمزه کابل ته تللي و، چې په دولسمه ناحیه کې یو مهم کس اختطاف کړي، خو د هغه کس

د باډيګاردانو لخوا اميرنواز محسود (حاجی دوبی) لـه يـو کـس ملګـري سره ووژل شول او حمزه په تېښته بريالی شو. د ملي امنيـت د معلومـاتو پـه اسـاس، حمزه اوس په پاکستان کې دی. اصلي ستونځه دا ده چې په داخـل د افغانسـتان او په خاصه توګه ننګرهار کې امير نواز له چـا سره رابطـه لـري او چـا لـه ده سره همکاري کړې ده، نه ده پيدا شوې. څو چې داخلي همکاران يې پيـدا نشيـ، د داسې هدفي وژنو مخه نيول مشکل کار دی. ملي امنيـت او هـم نـورې کشـفي ادارې په دې هکله ناکامه دي او علت يې شايد همدا وي چې مخـالفين او هـم جنايي ډلې د کشفي ادارو په منځ کې نفوذ لري او د هدفي وژنو د مشـورې سر امنيتي ادارو ته په ډېرو مسايلو کې په لاس نه ورځي.

د ۲۰۱۹م کال د دسمبر د مياشتې په پنځه ويشتمې نېټې، جمهـور رئـيس لـه ناکامورا سره د شيهدانو شويو پنځو کورنيو د ورثې په خاطر په کابل کې وليدل. راته يې وويل چې د پنځو واړو د شهيدانو کورنيو ته اپارتمانونـه پيشـنهاد کـړئ چې منظور يې کړي. اپارتمانونه مو ورته پيشنهاد او جمهور رئيس منظور کـړل. په افغانستان کې د PMS د مؤسسې مشر، انجينر ضيا چـې د ناکـامورا پـه جنـازه کې په جاپان کې برخـه اخسـتې وه، وويلـې چـې پـه جاپـان کـې د ناکـامورا د مؤسسې ټولو غړيو د جمهور رئيس نه مننه وکړه چـې د ناکـامورا جنـازه يـې پـه خپلو اوږو پورته کړې وه. نوموړي وويلې چې د PMS موسسې په ننګرهار کـې نهه سربندونه، ۱۶۰۰ د څښلو اوبو څاګانې او ۱۴ څاګانې د زراعتي ځمکو لپاره جوړې کړي دي. همداشان ۲۲ زره هکتاره ځمکـه د دغـه سربنـدونو لـه برکتـه خړوبه شوې ده. د جمهور رئيس نه مو د ناکـامورا د پـارک د ځمکـې امـر هـم واخيست؛ ځکه هغه دې په اجاره اخيستې وه.

## د حاجي ګل خالق او نور محمد شهادت

د ۱۳۹۸ل کال د حمل په دېرشمه نېټه چې د ۲۰۱۹م کال د اپريل له ۱۹مـې نېټې سره سمون خوري، د هسکې مېنې په وطن مين انسـان حـاجي ګـل خـالق چې قومي مشر او شاعر هم و د جلال ښار د انګورباغ په سيمه کې د جمعـه پـه

ورځ د لمانځه په وخت کې شهید شو. دا پېښه په داسې حال کې وشوله چې په سل ګونو کسان په جومات کې د لمانځه لپاره ناست او د جومات په مخکې یو مسلح پولیس هم ولاړ و. دوه کسه د جومات داخل ته له تمانچو سره ننوځي او حاجي ګل خالق چې په دریيم صف کې ناست دی، شهیدوي. تروریستان په ارامه د جومات نه وځي او بیرون په یوې ریکشا کې تښتي. په جومات کې د ګل خالق د ترونو زامن، د کورنۍ غړي او زیات کسان و او خامخا د یو څو کسانو سره به سلاوې هم وې، خو هېچا هڅه نه وه کړې؛ چې دا کسان ونیسي- او یا یې وولي. دا قاتلین د جومات کسان په سوکانو او څپېړو هم نیولی شو خو د ټولو کسانو نه سپینې تښتیدلې وې او قاتلین په ارامه فرار کوي. له پېښې څخه وروسته، د دې ناحیې او د هسکې مېنې ځینې مشران ولایت تـه راغلـل او ویـې ویل چې پولیسو بیغیرتوب وکړ او هېڅ عکس العمل یې ښکاره نه کړ. دا په یوه میاشت کې دویم کس و چې په همدغه سیمه کې وژل کېږي. ما ورتـه وویـل چې پولیس هم د همدغه ټولنې بچیان دي. دا چې تاسي هم هېڅ عکس العمل ښکاره نه کړ، نو د داسې بیغیرته ولس به همداسې بیغرتـه پـولیس وي. لـه دې پېښې وروسته مې د ټولو نـاحیو مشران راوغوښـتل او همـدا خـبرې مـې ورسره وکړې، چې د خپلو کورنیـو او د خپـل ځـان پـه خـاطر بایـد د حکومـت ملاتـړ وکړي او مشکوک کسان په خپلو سیمو کې په نښه او له پولیسـو او امنیـت مـلي سره همکاري وکړي. څه توره تیـره او څـه ابـې ورسـته. څـه د پولسـو او امنیتـي ادارو نقص دی او څه د ولسونو؛ نو ټول باید پـه شریکـه سره د خپلـو نـاحیو او سیمو په امنیت کې له یو بل سره مرسته وکړو. نن ګل خالق شهید کړی شو، سبا ته یو بل کس د تاسي نه وژني.

حاجي ګل خالق قومي مشر او شاعر و. همیشه به یـې د وطـن پـه مینـه او د طالبانو پرضد شعرونه په مجالسو کې ویل او د ننګرهار زیادتره رسنیو بـه د دې په اواز شعرونه هم نشرول. پخوا هم څو ځلې زخمي شـوی و. طالبـانو بـه ورتـه همیشه اخطارونه ورکول؛ خو د دې هوډ همدا و چـې دوی پـه غلطـه دي او لـه

هغوی سره يې سخت مخالفت درلود. د حمل د مياشتې په دريیمه نېټه چې د هسکې مېنې بند شوي مکاتب مو پس له درېو کلونو پرانيستل، حاجي ګل خالق د پاپين ليسې ته راغې او هلته يې د طالبانو پرضد خپل يو شعر په غونډه کې ووايه. د هسکې مېنې له سفر وروسته ولايت ته راغی او د سلاح جواز غوښته يې کوله او يو څو شيبې راسره کيناسته او د زړه خواله مو وکړه. د سلاح جواز امر مې ورکړ؛ خو متاسفانه هغه امر د دی په درد ونه خوړ او له سلا سره له خپل ځان څخه په دفاع ونه توانېده.

د ۲۰۱۹م کال د مارچ په اومه نېټه د هسکې مېنې حاجي نور محمد چې په سرکاتب يې شهرت درلود، د انګور باغ په سيمه کې د ماسختن له لمانځه وروسته د دوه کسانو لخوا چې تفنګچې ورسره وې، ووژل شو. حاجي نور محمد د انګور باغ په سيمه کې د الفتح په جومات کې ځان مؤذن کړی و. په جومات کې ډېرو کسانو شتون درلود او هيچا غبرګون ښکاره نه کړ. د نور محمد قاتل، حکمت الله هغه کس و، چې زما د ترور په قضيه کې د ولايت په مخه کې د تمانچې سره ونيول شو او له طالبانو سره يې تړاو درلود. متاسفانه نور محمد پخپله هم له داعش سره پخوا اړيکې درلودې او طالبانو د انتقام په خاطر په نښه کړی و.

**د پچير و اګام د ولسوالۍ د ماهر شهادت**

د پچيرو اګام د ولسوالۍ يو کس د ماهر په نوم د مارچ په ۳۱مه د جلال اباد ښار کې ووژل شو. که څه هم د دی کورنۍ دا نه منله خو د امنيتي ادارو د راپور په اساس، د دوی مسئله شخصي دښمني وه او له پېښې څو ورځې د مخه يې د پچيرواګام په ولسوالۍ کې يو جنګ هم کړی و.

**د مولوی محمد حنيف شهادت**

د ۲۰۱۹م کال د مې د مياشتې په دريیمه نېټه د هډې اخونزاده صيب د جامع جومات ملا امام، قاري محمد حنيف ووژل شو. د ملي امنيت د

معلوماتو په اساس، مولوی حنیف د خپل زوم لخوا چې نجیب الله نومیده او لـه داعش سره یې اړیکي درلودلې، شیهد شوی و.

## د مولوي سمیع الله ریحان شهادت

که څه هم مولوي سمیع الله ریحان په کابل کـې شـهید شـوی و، خـو ځـای لري چې دلته هم د دې یادونه وکړم ځکه هغه زړور او په وطن مئین دیني عالم و، چې د امنیتي او دفاعي قوتونو نه یې همیشه ملاتړ کاوه او پـه ډاگـه یـې ویـل چې د افغانستان جنگ ناروا دی. د ۲۰۱۹م کال د مې د میاشـتې پـه ۲۴مـه نېټـه راته د ملي امنیت رئیس نظرعلي واحـدي زنـگ ووهـه چـې مولـوي سـمیع الله ریحان په کابل کې په داسې حال کې شهید کړی شـوی دی چـې د جمعـې پـه ورځ یې ورته په مایک کې انفجاریه مواد ایښودي و. جنازه یې د مې د میاشتې په ۲۵نېټه ننگرهار ته د کابل نه په هلیکوپټر کې انتقال شوله. د دې وېره وه چـې د جنـازې یـا د تـدفین پـه وخـت کـې کومـه بلـه پېښـه رامنځتـه نـه شي؛ ځکـه ترورېستي ډلو په هدیرو او جنازو کې هم چـاودنې کـولې. د جنـازې لپـاره مـو امنیتي ترتیبات په ښه توگه ونیول او جسد یې د بهسـودو پـه نهمـه ناحیـه کـې د هغه په پلرنې هدیره کې خاورو ته وسـپارل شـو. روح دې ښـار او خـدای دې د جنتونـو سردار کـړي. پـه عینـې وخـت کـې اوازه شـوله چـې کومـه ښـځه چـې ځانمرگې ده، د هغه کورته ورغلې چې ځانمرگي حمله وکړي. د ښځو پـه مـنځ کې یې وېره خپره کړې وه خو بیا دا اوازه دروغ وه.

## د مولوي عزت الله عزتماب شهادت

د ۱۳۹۸ل کـال د جـوزا د میاشـتې پـه ۳۱مـه چـې د ۲۰۱۹م کـال د جـون دمیاشتې د ۲۱مې نیټې سره یې سمون خوړه، مازدیگر راته د ملي امنیت رئـیس زنگ وواهه چې د اهل سـنت والجماعـت مشرـ، مولـوي عـزت الله عزتمـاب د بیس اکمالاتي په سیمه کې د نامعلومو کسانو لخوا په شـهادت ورسـېد. مولـوي

عزتماب په ريکشا کې سپور و او کورته تله چې شهيد کړی شو. له نوموړي سره دوه ميله تفنگچې هم وې؛ اما هېڅ يې ونشو کړی. مولوي عزت الله به اکثره وخت د جمعې لمانځه لپاره د ولايت شاهي ماڼې جومات راتله او هلته به يې له مور سره د جمعې لمونځ کاوه. په همدې جمعه هم موجود و. د نوموړي په شهادت هم نهايت زيات خفه شوم. مولوي عزت الله د داعش د ډلې لخوا وژل شوی و.

**د قاري هدايت الله هجران شهادت**

د ۲۰۱۹م کال د جون د مياشتې په ۲۷مه نېټه د بتي کوټ له مشرانو سره په مجلس کې ناست وم چې خبر راکړل شو چې د حج و اوقاف د رياست سره نږدې، قاري هدايت الله هجران شيهد کړی شويدی. قاري هجران شاعر هم و او د حج و اوقاف په رياست کې د حج د برخې مدير او د طالبانو په وخت کې د دره نور ولسوال هم و. د حج او اوقافو وزير مولوي عبدالحکيم منيب سره يې چې د طالبانو په وخت کې معين و، خاص تعلقات درلودل. د حج او اوقافو وزير په عوض د دې چې د علماو ډاډگيرنه او حکومت حمايت وکړي، ماته زنگ ووهه او داسې غږېده ته به وايي چې د طالبانو استازی دی. راته يې وويل چې تاسي د علماو امنيت نه ساتئ او علما به جوماتونه بند کړي. ما ورته وويل چې وزير صيب! ته د حکومت وزير يې او که د طالبانو نماينده؟ دا ستا دنده ده چې له علماو سره کار وکړې او علما تشويق کړې چې د حکومت حمايت وکړي. تا ته پته ده چې افغانستان په يو نا اعلان شوې جنگ کې اخته دی او هر ولايت کې او حتی کابل کې هم علما، ډاکټران، مشران او دولتي چارواکي د هدفي وژنو ښکار کېږي او دا د مملکت په سطحه ستونځه ده، څو چې جنگ روان وي، هدفي وژنې به هم ورسره روانې وې. قاري هجرت سلاح درلوده او ته چې دومره معلومات لرې چې تهديد ورته و، نو بايد د خپل شخصي امنيت خيال يې ساتلی وی. د امنيتي ادارو د معلوماتو په اساس، د

قاري هجران په وژل کېدو کې داعش لاس درلود خو د حج او اوقاتو وزیر غوښتل چې له دې قتل څخه سیاسي استفاده وکړي.

په دغه وخت کې لکه چې د ۰۲ قطعې د عملیاتو په برخه کې مې یادونه کړې، یو څو کسه علما چې له داعش سره یې تړاو درلود، په شپني عملیاتو او یو څو کسه د عقیدوي اختلافاتو له امله په خپلو منځو کې سره وژل شوي و. په ظاهره به اکثره علماو ویل چې دوی اختلاف نه لري خو په باطن کې دوی پوهېدل چې دوی له یو بل سره اختلاف لري او د دې قتلونو تر شا څوک دي. په یوې مرکې ما وویل چې علما باید په خپلو منځو کې اختلافي مسایل حل او یو بل سره ونه وژني. زما دې مرکې یو څه علما په قهر کړي و او ویلې یې چې ولایت د علماو په وژنه کې لاس لري، نو ځکه د ۰۲ قطعې د عملیاتو مخه نه نیسي.

په هر حال، ځینو علماو اوازه خپره کړه، چې دوی نور د تراویحو لپاره جوماتونو ته نه ځي؛ ځکه چې په ننگرهار کې امن نشته او د علماو ژوند خوندي نه دی. حال دا چې دغه وخت کې د ننگرهار امنیت د کابل او د افغانستان د نورو سیمو په پرتله زیات ښه و او زیاتو علماو چې د حکومت طرفدار و، هغوی دا منله چې امنیت ښه شوی دی، ځکه له ما دمخه د داعش د ډلې لخوا زیات علماء شیهدان شوي و. د هغوی په جمله کې د ننگرهار د حج او اوقافو رئیس مولوي حقاني یادونه کولی شم، چې په یوه ځانمرگي حمله کې شهید کړی شوی و. متاسفانه هغه علما چې د داعش او طالبانو طرفداران او د حکومت پرضد و، دوی قصدا داسې اوازې خپرولې.

د حج او اوقاف رئیس، قاري محمد داود مجاهد ته مې وویل چې د علماو د ټولو مذاهبو او ډلو مهم مشران چې د حکومت ملاتړي او یا په نظریاتي لحاظ له حکومت سره مخالف دي، خبر کړه چې د جولای د میاشتې په پنځمه نېټه به د ښاروالی په میلمستون کې سره ناسته ولرو او د روژې ماښامنی به هم

هلته وکړو. د ملي امنیت رئیس ته مې وویل چې هغه معلومات چې د داعش او طالبانو طرفدارو علماو په خپلو منځو کې سره وژلي دي، هم له ځان سره راوړه.

تقریبا له سلو څخه زیات علما راغلل. له روژه ماتي وروسته، مو خبرې سره پیل کړې. د علماو په استازیتوب، د ننګرهار د شرعیاتو د پوهنځي استاد مولوي محمد شریف رحماني، مولوي عبدالعزیز خیرخواه، مولوی شیخ صادق، مولوي حبیب الله جلال ابادی او د ختیځو ولایتونو د علماو شورا مشر، مولوي حمیدالله صدیقي خبرې وکړې. دوی په خبرو کې په تکرار ډول لاندې حدیث تکراروه چې (کلکم راع و کلکم مسوول عن رعیته) هر مسوول شخص د خپل رعیت مسولیت لري. دوی وویل چې داسې اوازه ده چې دولس سوه علما په ټول افغانستان کې او دوه سوه علما یوازې په ننګرهار کې ټارګیټ دی چې ووژل شي، نو دوی ځکه وېره لري. دوی وویل چې دا نړیواله پروژه ده چې علما له منځه یوسي او حکومت باید د علماو امنیت وساتي. مولوي شریف رحماني وویلې چې حکومت غربي تهذیب خپروي نو ځکه ولس له حکومت څخه جدا دی او بیروني اشغال باید ختم شي. مولوي عبدالعزیر خیرخواه مننه وکړه چې د ۰۲ دو عملیات مو د اوس لپاره متوقف کړل خو د مولوي نوراغا او د هغه د زامنو وژل کېدل د دوی له یاده نه وځي. دی وویل چې متاسفانه په ننګرهار کې د داعش/سلفي او حنفي علما په خپلو منځو کې اختلاف لري. د ایران د قونسلګرۍ له جوړېدو سره اوس د فاطمیونو نفوذ هم په ننګرهار کې پیدا شوی او هغوی ستا د راتګ نه د مخه غلط قران شریفونه چاپ او تقسیمول. پورته خبرې ټول ضد و نقیض وې او د دوی د خبرو ترمنځ اختلاف معلومېده. بالاخره د دوی غوښتنه دا وه چې هر عالم ته د دوه کسانو معاش او د سلاح ګرځولو جواز ورکړل شي نو دوی به بیا خپل کسان له ځانونو سره ګرځوي.

البته د جوماتونو بندول او دا اوازه خپرول د حکومت پرضد مهمه مسئله وه او ما باید له دوی سره جدي بحث کړی وی؛ نو په همدې خاطر مې دوی راغوښتي و. ما دوی ته وویلې چې دا کومې خبرې چې له تاسي سره اوس

کوم، همدا خبرې سبا ته په مطبوعاتو کې هم کوم. بیا ستاسي خوښه چې جوماتونه بندوئ، که فتوا ورکوئ او که زما پرضد مظاهرې کوئ فرق نه کوي، ځکه زه هم د چوکۍ پروا نه لرم که والي اوسم یا نه. تاسي هغه ایات او حدیث ماته وایاست، چې حکومت ته مسؤلیت راجع دی؛ خو هغه ایات او حدیث چې تاسي ته مسؤلیت راجع دی په هغوی بحث نه کوئ. دا راته هم ووایاست، چې څنگه مو عمل وي، هغسې مو چارواکي دي. موږ ستاسي فوتوکاپي یو، که اصل خراب وي، فوتوکاپي به هم خرابه وي. دا قتل و قتال څه نوې خبره نه ده او تاسي باید په شریکه موقف ونیسئ؛ چې ولس له دې مشکل نه خلاص کړئ. د دین لویه برخه دنیایي معاملات دي او په هغوی بحث نه کوئ. همداسې عکس العمل تاسي ولې په نورو هدفي وژنو، انفجار او انتحار باندې نه ښکاره کوئ. له ډېر بحث نه وروسته مې ورته وویل چې څومره زیات عکس العمل ښکاره کوئ، په هماغه اندازه مشکلات زیاتیږي، حکومت بې ثباته کیږي او د نشت نه بد حکومت هم ښه دی. د حکومت د ضعیفه کېدلو په عوض راسره د حکومت په تقویه کیدو کې مرسته وکړئ.

دوی ته مې وویلې چې تاسې ته معلومه ده، چې دومره تشکیل او بودیجه د ننگرهار ولایتي اداره نه لري چې د ننگرهار سلهاو علماو ته دوه کسه معاسونه ورکړو. دا هم گرنټي نه ده، چې ټول علما به د حکومت په طرفدارۍ تبلیغ کوي ځکه تاسي ته معلومه ده چې یو شمېر علما له داعش او یو شمېر له طالبانو سره خواخوږي لري. تاسي په خپلو محلاتو کې د ولسونو سره کار وکړئ او په شریکه له امنیتي ادارو سره د محلونو د امنیت په خاطر کمیټې ایجاد کړئ. یوازې سلاح او باډیگارد څه نشي کولای، ځکه اکثره کسانو چې سلاح او باډیگارد او حتی زرې موټرې هم درلودې، د مخالفینو لخوا له منځه وړل شوي دي چې ښه مثال یې مولوی صیب ریحان و. علماو ته د سلاح جواز د قوانینو په اساس به ورکول کیږي، ځکه بیا هر طالب او د مخالفینو پلوې کسان هم د سلاح او د سلاح د جواز غوښتنه کوي او دا پخپله زمینه نورې نا

امنې ته برابروي. کور دې د ټولو ودان وي، د مرستې ژمنه يې راسره وکړه او د ولايتي ادارې حمايت يې وکړ. لکه د ډاکټرانو په شان د دوی عکس العمل کم شو، تهديدونه د علماو هم ورک شول. تروريستي ډلې همېشه د هغه وسيلې نه کار اخلي کومه چې زيات خلک د حکومت پرضد تحريک کولی شي.

**د ډاکتر نوروز شينواري شهادت**

د ۲۰۱۹م کال د جولای د مياشتې په درېيمه نېټه د داعش ډلې د ډاکترانو اتحاديې ته اخطار ورکړی و که دوی دوه لکه ډالره باج ورنه کړي؛ نو دوی به ډاکتران په نښه او ووژني. زما له راتګ دمخه د ملي امنيت رياست په قول، ډاکترانو هره مياشت تقريبا دوه لکه ډالره د داعش او طالبانو ډلو ته باج ورکاوه. دوی ته باج ورکول په حقيقت کې داعش تقويه کول و. له دوې سره مې مجلس درلود او ورته مې وويل که له يوې خوا تاسي څو کسه ځآنونه خلاصوئ خو له بلې خوا داعش په لس ګونو نور ننګرهاريان او افغانان د جنګ په ډګر کې وژني. زموږ توجو زياته دا وه چې د داعش او طالبانو منابع وچې شي. څومره چې د تروريستي ډلو منابع وچيږي، په هماغه اندازه د دوی نفوذ او قوت هم کمېږي. د جولاې د مياشتې په يولسمه نېټه، ملي امنيت ۱۶ کسه چې د داعش او طالبانو غړي و او ډاکټران يې تهديدول ونيول، خو بيا هم د داعش شبکې په دغه وخت کې ډېرې فعالې وې او د دوی ګروپونه دوه نفري او درې نفري وې او د ټولو شبکو نيول او کشف اسان نه و. د بيلګې په توکه په همدې وختونو کې چې ډاکتر نوروز شينواری شهيد کېږي، د ملي امنيت رياست يو کس د شاکر په نوم چې د چپرهار د شولانې د کلي اوسيدونکی و او له داعش سره يې اړيکې درلودې ونيوه. شاکر سره د پلچرخي د محبس نه د داعش ډلې يو کس د سجاد په نوم د انستګرام له لارې تماس نيسي او هدايت ورکوي چې د جلال اباد په ښار کې د مشخصو ډاکترانو او تجارانو نه لس زره ډالره واخله او که يې درنه کړل نو بيا يې ووژنئ. د دوی شبکه دومره مغلقه وه چې د داعش بنديانو به د محبس نه خپل کسان د

انستګرام له لارې رهبري کول. دا چې څنګه دا کسان په محبس کې د انټرنیټ او تلیفونونو نه استفاده کوله، جدا څېړنه غواړي، چې یا دوی د محبس په امنیتي کسانو کې طرفدار لري او یا امنیتي مسوولین د فساد له امله د پیسو په مقابل کې دوی ته اجازه ورکوي چې په داخل د محبس کې دوی تلیفون او انټرنیټ استعمال کړي. هغه ډاکټران او تجاران چې د تهدید لاندې و، ملي امنیت هغوی ته خبر ورکړی و، چې احتیاط وکړي. د یادونې وړ ده چې یوشمېر ډاکټرانو او دوا فروشانو له تروریستي ډلو سره خواخوږي هم درلوده. د ډاکټرانو نږدې خپلوانو هم د ډاکټرانو په تهدید کې لاس درلود. د بیلګې په توګه د ۲۰۲۰م کال د جنورۍ د میاشتې په شپاړسمه نېټه هغه کس چې جلدي متخصص ډاکټر امرالله عظیمي یې تهدیدوه، ونیول شو. متاسفانه دغه کس د ډاکټر عظیمي تره و، چې پخپله یې دواخانه هم درلوده او د داعش لپاره یې کار کوه. د اکتوبر دمیاشتې په دویمه نېټه یو کس د طارق جمیل په نوم چې د ننګرهار په دیارلس هدفي وژنو کې لاس درلود له یو چسپکي ماین سره ونیول شو. طارق جمیل یو کال د مخه د جهادوالله په نوم د یو کس په قتل کې نیول شوی و، خو د ملي امنیت له قوله، عدلي اوقضایي ادارو ورته برات ورکړی و.

د ۲۰۱۹م کال د سپتمبر په نهمه نېټه راته ماښام د ننګرهار امنیه قوماندان، رقیب مبارز زنګ ووهه چې د ډاکترانو د اتحادی د مشر ډاکتر نوروز شینواري موټر ته چسپکي ماین ایښودل شوی او هغه پکې شهید شوی دی. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، ډاکترانو ته تهدید په دې ورځو کې زیات و او دوی باید خپلو موټرو ته متوجې وی. ډاکتر شینواري خپل موټر همیشه په یو ځآی کې ودروه او هېڅوک ورته مؤظف هم نه و. هغه ویډیو چې څنګه یې د دې په موټر کې ماین نښلوه وروسته ما ولیدله چې دوه کسه په رکشا کې راځي او بل کس ورته له سرک څخه ورته رهنمایي کوي.

ډاکتر صیب نوروز ښه اورتوپیدي ډاکتر و او څو ځلې مو ورسره ناسته درلوده. تشه یې نه ډکیدونکې ده. ډاکترانو د دې په وژنه غبرګون وښود او

اعتصاب یې وکړ. ما ورته وویل چې څومره تاسې زیات غبرګون وښایاست، په هماغومره اندازه تاسي نور هم ټارګیټ کېږئ، ځکه تروریستي ډلې پوهیږي چې د دوی تاکتیک کار کوي. دوی ته مې وویل چې د داعش لمن مخ په ټولېدو ده او په دې حساسه مرحله کې باید همکاري وکړي او هم ټول باید خپلو موټرو او ځایونو ته متوجه اوسي؛ ځکه ولایت نشي کولای چې هر ډاکتر ته امنیتي کسان ورکړي. له ډېرو بحثونو وروسته، ډاکټران قانع شول او خپل اعتصاب یې بند کړ او زیات عکس العمل یې ونښوده. د ډاکترانو د تهدیدونو په تړاو تر دغه وخته پورې ټول ۴۳ کسه نیول شوي و اما کله چې ډاکترانو غبرګون کم شو، د ډاکترانو تهدیدونه هم کم شول.

**د ډګرمن میر عباس پاچا شهادت**

د ۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په پنځمه نېټه، د بهسود د بنې ګاه په سیمه کې د نهمې حوزې امر، میرعباس پاچا په موټر چاودنه وشوه، چې نوموړی او ډریور یې شهیدان، دوه کسه کارکوونکي او درې کسه محلي کسان زخمیان شول. میر عباس پاچا د ننګرهار د ولسونو په منځ کې خاص ځای درلود. کله چې مو غوښتل له کورنۍ سره یې مرسته وکړو، د دې کورنۍ په یوه زاړه کرایي کور کې چې یوازې دوه درې خونې یې درلودې اوسیدله. کله که چې په امنیتي ادارو کې د فساد خبره کوو، نو بیا داسې پاک کسان هم په امنیتي ادارو او ټولنه کې شته چې ټول ولس پر هغوی افتخار کوي. روح دې ښاد وي او خدای دې ورته جنتونه نصیب کړي.

**د استیناف محکمې د دوه کارکوونکو شهادت**

د ۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په لسمه نېټه د استیناف محکمې دوه کسه کارکوونکي، کاتب خان د استیناف د داخلي او خارجي امنیت مدیر او قدرت الله باسولی د نظامي محکمې د دیوان محرر، د جلال اباد ښار په اتمه ناحیه کې شهدان شول. په سبا یې ما د استیناف محکمې له قاضیانو سره ناسته

درلوده او هغوی دا وړه درلوده چې د امنیت داخلي او خارجي قضیې باید په کابل کې وڅېړل شي. متاسفانه چې د دغه کارکوونکو په شهادت کې د ننګرهار د حصارک د ولسوالۍ د ابتداییه محکمې برحاله قاضي زامنو چې له داعش سره یې اړیکي درلودې لاس لره، چې وروسته ونیول شول.

### د ملک تور شهادت

د ۲۰۱۹م کال د جولای په دولسمه نېټه د پچیر او اګام په ولسوالۍ کې د محلي پاڅون کوونکو په قوماندان، ملک تور باندې د وراره د واده په مراسمو کې د داعش د ډلې لخوا ځانمرګی حمله وشوله چې د ملک تور په شمول، لس کسه مړه او ۱۵ کسه زخمیان شول.

### د استاد مسعود نیکبخت شهادت

د ۲۰۱۹م کال د اګست په ۲۷مه نېټه، د ننګرهار پوهنتون استاد، مسعود نیکبخت ته په موټر کې چسپکي ماین ځای په ځای شوی او شهید کړل شو. استاد نیکبخت د خالص د اسلامي حزب د تنظیم مرستیال هم و. د ملي امنیت د ارزونې په اساس، د داعش ډلې لخوا دا عمل تر سره شوی و؛ ځکه د ننګرهار په پوهنتون کې د داعش جرړې وې او د نوموړي موټر هم هلته ولاړ و.

### د شیخ اکرم په جنازه کې ځانمرګي حمله

د ۲۰۲۰م کال د اپریل په دولسمه نېټه د سپینې ماڼې په هوټل کې مې په خبري کنفرانس کې کولې چې خبر راته راغی چې د ښېوې په ولسوالۍ کې د محلي پولیسو د قوماندان، شیخ اکرم په جنازه کې ځانمرګي حمله شوی او زیاته مرګ ژوبله لري. شیخ اکرم تېر ماښام د قلبي حملې له امله وفات شوی و. د ښېوې او دره نور ولسوالیو د ولسونو تر منځ که له یوې خوا پکې د مخالفینو نفوذ کم و خو له بلې خوا محلي رقابتونه او ګوندې پکې د بل هر ځای نه

زیاتې وې. د همدې محلي رقابتونو په لړ کې د دې ولسونو تر منځ ډېرې خونړې پېښې رامنځته شوي دي. په دغه پېښه کې ۳۶ کسه شهیدان او ۳۳ کسه زخمیان شوي و. د شهیدانو په جمله کې، د ننګرهار د ولایتي شورا وکیل عبدالله (لالا خان) چې د وکیل نوراغا ملکزي زوی او پخوانی جهادي قوماندان ډګروال زړورجان هم شامل و. امنیتي ادارو د جنازې لپاره لازم تدابیر د محل په سطحه نیولی و او اړیکل دا و چې د کورونا ویروس له وجهې به ډېر کسان په جنازه کې برخه وانخلي. متاسفانه د ښېوې او دره نور ټول مهم کسان د خپلو ټولو پلویانو سره دغه جنازې ته په رقابت سره تللي و چې تعداد یې زرهاو ته رسېده. د مسلحو باډیګاردانو او امنیتي کسانو تعداد دومره زیات و چې د دوست او دښمن ترمنځ فرق نه کېده او محلي امنیتي پلان قابل د تطبیق نه و. په همدې ګڼه ګوڼه کې ځانمرګی په یونیفورم کې داخل کېږي او د لالا خان سره نږدې خپل چاودیدونکي واسکټ انفجار ورکوي. د وکیل نوراغا ملکزي او شیخ اکرم تر منځ روابط ښه نه و او دوی په دې خاطر برخه اخیستې وه، چې د هغه کورنۍ دا فکر ونه کړي چې دوی د نوموړي په مړینه خوشاله دي. د وکیل نوراغا ملکزي ادعا په محلي مشرانو او امنیتي ادارو وه، چې دوی دغه ځانمرګی په یو سپین لینډ کروزر موټر کې راوستې و، څو دی او د دې د کورنۍ غړي له منځه یوسي. د دې ادعا دا وه چې له انفجار وروسته په دوی زیاتې ډزې وشوې او زیات کسان د امنیتي کسانو په ډزو کې وژل شوي دي. اما د دې مدعیانو ویلې که دوی دا کار کوه نو دوی بیا په جنازه کې ګډون نه کاوه. د شیخ اکرم ورور جنرال مؤمن ویلې چې هېڅوک په خپله جنازه کې داسې ګډوډي نه جوړوي. متاسفانه د یو بل پر ضد یې جدي ادعاوې درلودې. لکه چې د هدفي ژونو په مقدمه کې مې لیکلي دي، پخوا په ننګرهار کې ځانمرګی اخیستل شوي او د یو بل پرضد استعمال شوي هم و نو د ملک نور اغا ادعا په دې خاطر وه. د جمهوري ریاست لومړی مرستیال ښاغلی امرالله صالح هم ننګرهار ته د مې د میاشتې په شپاړسمه نېټه د فاتحې لپاره راغی او وکیل نوراغا ملکزي ور سره خپلې خبرې او شواهد شریک کړل. وکیل نور اغا

عریضه په وکیل حاجي حضرت علي، د ښیوې د محلي پولیسو په معاون میرزمان، د ښیوې په امنیه قوماندان، جنایي امر او ملي امنیت مدیر او همدا شان د شیخ اکرم په ورور جنرال مؤمن، د ملي اردو جګړن رحمت الله قادري چې د دره نور و او یو شمېر نورو کسانو درلوده. د لوی څارنوالۍ د مرستیال فرید احمد غوري په مشرۍ د دې مسئلې د څېړنې لپاره له کابل څخه یو لوړ پوړې هئیت ننګرهار ته راغی؛ ځکه د وکیل نور اغا ملکزي ادعاوې په لوړه کچه د یو بل پرضد وې نو له مرکزي حکومت نه د ننګرهار ولایتي ادارې غوښتنه دا وه، چې یو لوړ پوړی بېطرفه هئیت د دې مهمې قضیې د څېړنې لپاره جلال اباد ته ولېږي.

د ننګرهار ولایتي او امنیتي ادارو چې د ولایت په کچه کوم تحقیقات کړي و، هغه ټول معلومات یې له هئیت سره شریک کړل خو فکر کوم لوی څارنوالۍ په دې هلکه تر اوسه پورې کومه نهایي فیصله نه ده کړې.

### د اختطاف پېښې

#### د انجینر زلمي لطیفي د اختطاف پېښه

د انعکاس تلویزیون بنسټګر او مشر انجینر زلمی لطیفي زما له راتګ څخه دمخه د جلال اباد ښار له درمسال سره نږدې د اطلاعاتو او کلتور ریاست ته مخامخ د اعجاز ستور له مخې څخه اختطاف او په دغه پېښه کې د نوموړي ډریور شهید کړی شوی و. کله چې ننګرهار ته راغلم، نو له امنیتي ادارو سره مې په لومړۍ ناسته کې د نوموړي د اختطاف په هکله پوښتنه وکړه، چې د هغه د اختطاف په هکله معلومات څه دي او د راخوشې کېدلو په هکله څه پرمختګ شوی او که نه؟ د ملي امنیت رئیس راته وویل چې انجینر زلمي د تحریک طالبان پاکستان د ډلې لخوا اختطاف شوی دی او په دې کې د پاکستان لاس دی. احتمال لري چې د چکنور په سیمه کې ساتل شوی وي.

د انعکـاس تلویزیـون د کـارکوونکو د حمایـت پـه خـاطر د کـار د پیـل پـه لومړۍ اونۍ کې انعکاس تلویزیون ته ورغلم او هلته مې هغوی تـه ډاډ ورکـړ، چې موږ دا مسئله تعقیبوو او خپل نهـایي کوښـښ بـه کـوو چې انجیـنر صیب راخوشـې شي. کلـه چې انجیـنر زلمـی راخـلاص شـو راتـه یـې وویـل چې اختطافچیانو ورته انعکاس تلویزیون ته زما د ورتـګ ویـډیو هـم ښـودلې وه او ورته ویلي و چې ولایت هم ستاسي د تلویزیون حمایـت کـوي. د ژورنالسـتانو ټولنې او یو شمېر کسانو به همېشه د نوموړي مسئله په ناسـتو کـې مطـرح کولـه خو د ملي امنیت ریاست، د انجینر زلمي له ورور انجینر همایون سره پـه اړیکـه کـې و او ډېـری معلومـات لـه ژورنالسـتانو او نـورو ادارو سره دوی شریکـولی نشـول؛ ځکـه د اختطـاف پـه مسـایلو کـې اختطـاف کـوونکي اکـثره وخـت د خواخوږو په ډله کې نفر لري او غـواړي چـې د کـورنۍ او یـا د امنیتـي ادارو د کړنو او د کورنۍ د روحیې په هکله معلومات ترلاسه کړي.

بالاخره انجینر زلمی د ۱۳۹۸ل کال د حمل په شلمه نېټه چې د ۲۰۱۹م کال د اپریل میاشتې له نهمې نیټې سره سمون خوري؛ پس له څلـور میاشـتو او شـلو ورځو شکنجو او تکلیف څخه راخلاص شو. ماښام د ولایت له مرستیال تمـیم عارف مومند، د ولایتي شورا رئیس احمد علي حضرت، وکیل سـهراب قـادري او وکیل اجمل عمر سره ناست وم او د سولې جرګې په لیسـتونو مـو کـار کـاوه، چې عطاوالله خوګیاڼي راته وویـل چـې اوازه ده، چـې انجیـنر زلمـي راخـلاص شوی دی. له ملي امنیت ریاست سره مې اړیکه ونیولـه او هغـه راتـه هـم وویـل چې هو لږه شیبه دمخه د جلال اباد ښار د پنځم پمپ سره په ریکشا کـې راوړل شوی و او خلاص شوی دی. هغه ریکشا کې چـې دی پکـې راوړل شـوی و د کار لاندې ده. دا ګروپ دومره ماهر و، چې دغه ریکشا یې هم د انجیـنر زلمـي په نوم اخیستې وه؛ ځکه څو ورځې د مخه یې د انجیـنر زلمـي تـذکره او اسـناد غوښتي و.

له انجینر زلمي او انجینر همایون سره مو خـبرې وکـړې، مبـارکي مـې ورتـه وویله او نهایت خوشاله شوم چې له ټولـو تکلیفونـو بـا وجـود، راخـلاص شـو.

انجینر همایون ته مو وویل که وضعیت یې ښه وي نو مـوږ درځـو چـې انجیـنر صیب له نږدې څخه وګورو. هغه وویل چې څه مشکل نشته ضعیفه شـوی دی، اما خبرې کولای شي او حجره کـې لـه خپلوانـو او دوسـتانو سره ناسـت دی. د ملي امنیت رئیس او امنیه قوماندان تـه مـې زنـګ ووهـه چـې راشي او ټـول یـو ځای د انجینر زلمي لیدو او د راخلاصېدو مبـارکۍ تـه ورغلـو. د انجیـنر زلمـي خبرې ښې وې؛ خو کېناستل او پاڅېدل ورته مشکل و. ډېره یې هم کـافي غټـه شوې وه. زموږ په لیدو ډېر خوشاله شو.

څو ورځې وروسته مې له انجینر زلمي سره خبرې وکړې، چې د اختطاف او راخوشې کېدو ټوله قصه ترې پخپله واورم. انجینر زلمي څلور میاشـتې او شـل ورځې په یوه وړوکې کور کې چې د مـلي امنیـت ریاسـت تـه نـږدې د مـدني جومات تر څنګ و، ساتل شوی و. د دې د ساتلو خونې تـه درې قطـاره پـردې اچول شوې وې او بهر یې څه نشو لیدلی. د جومات اذان به یې اوریده او هغـه کسان چې د نوموړي نظارت یې کاوه د پکتیـاوالو او وزیـرو پـه ژبـه غږېـدل. د دې په قول د کور اوسیدونکي اغلبا د لوګر یا د پکتیـا اوسـیدونکي و. کلـه کلـه یې د نږدې کورونو نه په پشه یې ژبه خـبرې هـم اوریـدلې. د مـلي امنیـت هغـه معلومات چې تحریک طالبانو او پاکستان د انجینر زلمي په اختطاف کـې لاس درلود، سم و. په جلال اباد کې ټول سیاسي هدفي وژنې، اختطاف او انفجارات له همدغه کور نه رهبري کېدل او د دوی اوپراتیفي مرکز د پولې هغه خوا و. لـه انجینر زلمي څخه تقریبا ۴۵۰ زره ډالره اخستل شوي و او پیسـې یـې اختطـاف کوونکو ته د کونړ په چپه دره کې د طالبانو د کنترول لاندې ساحه کـې ورکـړل شـوې وې. د انجیـنر زلمـي پـه اختطـاف کـې د پاکسـتاني طالبـانو یـو مشـهور قوماندان امیرنواز محسود چې په حاجي دوبی مشهور و او کله کله به د کونړ په چپه دره او شلطن کې اوسېده لاس درلود. د امیرنواز دوه معـاونین چـې مسـتعار نومونه یې خالد او حمزه و، اعجاز سټور ته تګ او راتګ کاوه او دې هم هلتـه د سټور دمخه اختطاف شوی و. ویل کېږي چې خالـد وژل شـوی دی. انجیـنر

زلمي ته د خوشې کېدلو په وخت کې سپين کاټن جامې هم له کونړ څخه راوړل شوې وې. همدې گروپ د ډاکتر ناکامورا په وژل کېدو کې هم لاس درلود چې يادونه يې مخکې شوې ده. د انجينر زلمي په قول، امير نواز محسود د دی سره يو ځل ناست هم و او ورته ويلې و چې بايد تر دوه ميلونو ډالرو ورکړي ځکه دی يې د پيسو په خاطر اختطاف کړيدی.

**احمد قريشي اختطاف او ډرامه**

د احمد قريشي په نوم يو هلک، چې د ښوونځي شاگرد و او له کرکټ سره يې شوق درلود، د بهسود د کرکټ ميدان نه د کور پر لورې چې په اتمه ناحيه کې و لا درکه شو. په فيسبوک او رسنيو کې ډېره هاها جوړه شوله. زما تجربه دا وه چې څومره يوه مسئله مهمه کېږي، هماغومره د اختطاف مسايل سختيږي. په هر حال زه په کابل کې وم او له کورنيو چارو ارشد معين، خوشال سادات سره مې اړيکه ونيوله او هم مې د ننگرهار امنيتي ادارو ته دنده ورکړه، چې د نوموړي د اختطاف مسله په جدي توگه تعقيب او عاملين يې بايد پيدا شي. جنرال خوشال سادات يو ماښام پخپله د بهسودو په سيمه کې په عملياتو کې برخه درلوده چې احمد قريشي پيدا کړي. د تليفوني تماس په اساس امنيتي ادارو ته د اختطاف ساحه د همدغه ماشوم د کور شاوخوا ساحه ښکاريده، خو په دغه ماښام پيدا نشو اما کله چې سيمه محاصره شوه، د ۲۰۱۹م کال د اپريل په اوله نيټه دا ماشوم راپيدا او ويې ويل چې اختطافچيانو خوشې کړ. په سبا يې زه له کابل څخه جلال اباد ته راغلم او اوه بجې مو مطبوعاتي کنفرانس ورکړ. ماشوم له مطبوعاتو سره خبرې وکړې اما ما ژورنالستانو ته وويل چې ډېرې پوښتنې بايد ترې ونه شي؛ ځکه دا ماشوم د دولس ديارلس کلونو په عمر دی او لازمه نه ده. احمد قريشي-ته مې د کرکټ بټ و بالونه اخستي و او هغه ورکړل. ځيني ژورنالستانو ځانونه خفه کړل. وروسته دا پته ولږيده، چې دا اختطاف نه و؛ بلکې دې ماشوم د خپل کاکا کره ځان پټ کړی و، څو په دې توگه شهرت حاصل کړي او خلک ورسره مرسته وکړي. د اپريل په دويمه يو

بل ماشوم د ریحان الله په نوم چې د روداتو په ولسوالۍ کې زما له راتګ څخه دمخه اختطاف شوی و، د ملي امنیت د عملیاتو په اساس خوشې شو او هغه هم له احمد قریشي سره یو ځای رسنیو ته وښودل شو. د ریحان الله په اختطاف کې هم خپلوانو یې لاس درلود او د دې په کورنۍ یې فشار راوسته چې ځمکه ترې واخلي.

**د عبدي محمد اختطاف**

یو کس د عبدي محمد په نوم د ۱۳۹۸ل کال د ثور د میاشتې په شلمه نېټه په جلال اباد کې اختطاف شو او زوی یې باز محمد د دوا کارو بار کاوه. کله به چې یو څوک په ننګرهار یا کابل کې اختطاف کېده؛ نو سمدستي به اوازې خپرې شوې چې په دغه اختطاف کې کشفي او امنیتي ادارې لاس لري. د خلکو خبره هم تر یوه حده سمه وه؛ ځکه ځینې اختطافچیان او جنایي ډلې همېشه له محلي امنیتي کارمندانو سره یو څه اړیکي لري او په ځینو مواردو کې یې امنیتي ادارې بېرته د جنایي ډلې کسان د همکار په توګه استخداموي، چې له دوی سره همکاري وکړي. په دې توګه کله استخباراتي همکاران اوایجنټان ډبل ګیم هم لوبوي.

طالبانو، جنایي ډلو او مخالفینو به هم له دغه تبلیغاتو څخه دوه ګټې پورته کولې. یو به یې ولس په خپلو امنیتي‌ادارو بې اعتباره کاوه او بل به همدې ولسونو په ادارو فشار راوړه، چې ولې دا اختطاف کوونکي نه نیسي- ډېر اختطاف کوونکي ونیول شول خو اختطاف کوونکو هم لویه شبکه درلوده، چې له دوبۍ څخه نیولې د کابل او افغانستان په ټولو ولایتونو کې تر پېښوره پورې یې لارې درلودې. نفر به په کابل کې ونیول شو، پیسې به ترې په دوبۍ او پېښور کې اخیستل کېدلې، یا به نفر په جلال اباد کې اختطاف شو، پیسې به ترې په پکتیا، کونړ او خوست ولایتونو کې اخیستل کېدلې. د عبدي محمد کورنۍ هم تور پورې کاوه، چې د ملي امنیت ریاست په دغه اختطاف کې

لاس لري خو کله چې خلاص شو، هغه ترکیې ته لاړو او له ملي امنیت سره یې همکاري ونه کړه؛ ځکه مسئله یې د خپلې کورنۍ ترمنځ وه.

### د ملک اجمل اکبر اختطاف او راخوشې کېدل

د ۲۰۱۹م کال د دسمتر په پینځمه نېټه د ګرین هټ هوتل مالک ملک اجمل اکبر د دروني په سیمه کې اختطاف شو؛ خو دا چې له امنیتي ادارو او ما سره یې سمدستي تماسونه ونیول، د اختطافچیانو ساحه په سره رود کې په نښه شوه او ټوله ساحه ولټول شوه، چې بالاخره ملک اجمل چې په کوم کور کې ساتل شوی و پیدا شو. دوه کسه چې په کور کې یې د نوموړي ساتنه کوله ونیول شول او دوه موټرې هم لاسته راغلې؛ خو د اختطاف اصلي کسان تښتېدلې و.

### د قوماندانۍ د درېو جنایي کارمندانو نیول

د ۲۰۲۰م کال د جولای د میاشتې په لومړۍ نېټه د امنیه قوماندانۍ درې جنایي کارمندان چې دوه یې د منطقوي کنترول مسوولین او یو یې باډیګارد و، د امنیه قوماندان ایمل نیازي لخوا ونیول شول. دغه درې کسان امید، خیبر او صادق په نومونو له څو کلونو راهیسې په دغه قوماندانۍ کې کار کوه او د ننګرهار له اختطافچیانو او جنایي حلقو سره یې اړیکه درلوده. دوی تقریبا یو لک افغانۍ هره میاشت د اختطافچیانو او جنایي جرمونو جنایتکارانو څخه اخیستلې او په مهمو قضیو کې یې اضافي سهم هم درلود. دا کسان په دې ډول ونیول شول چې د امنیه قوماندان په مخابره کې غږ کړې و، چې اختطافچیان او جنایتکاران مو هر چیرته ولیدل، ویې وژنئ او رحم پرې ونه کړئ. د لومړۍ حوزې د یو پولیس خوا سره نږدې یو ډریور چې د سره رود له مشهور اختطافچي اسلم سره یې لاره درلودله، د امنیه قوماندان دا غږ اوریدلی دی. دغه ډریور بیا د پولیسو د یو قوماندان، جهانزیب په نوم چې ملګری یې و، ویلې و چې ما مه وژنئ زه به درته اصلي نفر دروښایم، چې څوک له اسلم سره

په قوماندانۍ کې لار لري. دغه کس داسې فکر کړ و؛ چې امنیه قوماندان دی پیژندلی او حال دا چې دا تصادفي خبره وه. د دې دریو کسانو له نیولو سره د اختطاف قضیې هم په جلال اباد کمې شوې.

**د جنازو راوړلو فرهنګ د ولایت مخې ته**

په سیاسي علومو کې وايي چې د هر هېواد حکومتونه او ولسونه جلا فرهنګ لري. په فرانسه کې خلک همیشه زیاتې مظاهرې کوي او د اکثرو مسایلو په هکله خلک سرکونو او جادو ته راوځي. په امریکا کې چې کومه پېښه وشي نو ولسونه د قوانینو په تغیر فکر کوي او کوښښ کوي چې د فشار، لابي او مظاهرو له لارې قوانین تغیر کړي. په ننګرهار کې هم د ولایت مخې ته د جنازو راوړل په یو سیاسي فرهنګ بدل شوی دی.

د ۲۰۱۹م کال د اپریل په دریيمه نیټه، د ۰۲ قطعې د حصارک د ناصر خېلو په سیمه کې د ډاکتر نظر ګل په کور باندې شپني عملیات کړي و؛ چې ډاکتر نظر ګل، پنځه ماشومان او اوه ښځې یې وژل شوې وې. دا ماشومان دوی د حصارک نه رابار کړي و او غوښتل یې چې ولایت مخې ته یې راوړي. بیا یې د سره رود په دولارې کې امنیتي قواو مخه نیولې وه. د حصارک مشران چې په جلال اباد کې اوسیدل له یو څو کسو سره ولایت ته راغلل او غوښتنه یې دا وه چې شپني عملیات بند شي. او دا دهشت ګردي ده. د حصارک سیمه د طالبانو په کنترول کې وه او ډاکتر نظر د طالبانو او سیمې د خلکو ډاکتري کوله او ورور یې د طالبانو قوماندان و. په همدغه شپه ورور یې هم کورته تللی و خو په دغه عملیاتو کې ونه وژل شو. له شپني عملیاتو څخه طالبانو سخته وېره درلوده او هره پېښه به چې کېدله، طالبانو کوښښ کاوه چې محلي خلک مجبوره کړي، مړي د ولایت مخې ته راوړي، څو په ولایتي او مرکزي اداره باندې فشار راوړي چې شپني عملیات تر سره نه کړي. د شپني عملیاتو ستونځه د کرزي صیب له وخته بهرنیانو سره روانه وه. کله به چې بهرنیانو د فساد مسئله

مطرحه کړه نو کرزي صیب به د شپني عملیاتو په مقابل کې عکس العمل وښود او کوښښ به یې کاوه چې ولسونه د خارجي قواو په مقابل کې راوپاوري. هغه کسان چې ۰۲ قطعې ژوندي نیولو، هغه ورته وروسته خوشې کول. د ۰۲ قطعې بهرني مشاورینو او مسوولینو سره د ملي امنیت رئیس او زه کیناستلو او ورته مو وویل چې دا طریقه ستاسي چې ښځي او ماشومان وژنئ سمه نه ده او باید بیا دا کار تکرار نشي، چې تر یوه حده هغوی دا خبره ومنله.

د ۲۰۱۹م کال د اپریل په شپږمه نېټه د هسکې مېنې په سیمه کې د قاطع ملاتړ لخوا د سیمې یو کس د شپې لخوا وژل شوی و او پینځه کسه یې نیولي و. د سیمې خلکو ویلې چې دوی پټي اوبه کول او قاطع ملاتړ ویلې چې دوی په لاره کې ماینونه ښخول چې دوی یې د کمرو شواهد په لاس لري. د سیمې خلکو ویل که د دوی بندیان خوشې نشي-نو دوی دا شهید نه ښخوي او ولایت مخې ته یې راوړی و. هماغه و چې د قاطع ملاتړ سره مو اړیکه ونیوله او هغوي د دوی بندیان خوشې کړل.

د ۲۰۱۹م کال د مې په دریمه، د بابړیانو په سیمه کې د دوه کورنیو تر منځ په ځمکه جنګ وشو، چې یو کس پکې ووژل شو او قاتلین ونیول شول؛ خو بیا هم د مقتول خپلوانو او د سیمې کسانو مړی د ولایت مخې ته راوړ. ما ورته وویلې چې د دې مړي راوړل څه معنی لري؟ ځکه جنګ په ځمکه شوی او قاتلین نیول شوي دي نو موږ نور څه وکړو؟ هسې مړي، ځانونه او هم ولایت مه شرموئ. له مړي سره د هاها ډلې کسان به یو ځای شول او صرف غوښتل یې چې ولایت بدنامه کړي او وښایي چې په ننګرهار کې ناامني ده.

د ۲۰۱۹م کال د مې د میاشتې په دریمه نېټه، له کامې پله سره نږدې مولوی مطیع الله او مولوي سمیع الله چې سره ورونه او د کونړ د وټه پور و، په کور کې د ۰۲ قطعې لخوا ووژل شول. همداشان د صنوبر په نوم یو کس چې مشهور په عبدالله و، د داعش د جلب و جذب مسؤل و، هغه هم د ۰۲ قطعې لخوا په کور کې وژل شوې و. مولوي مطیع الله او مولوي سمیع الله په ۸ د مې ۲۰۱۷م کال په کابل کې د شهید سردار محمد داود خان روغتون په حمله کې متهم و.

علماو د دوی په وژنه عکس العمل ښکاره کړ. بیا له دوی سره کېناستلو؛ د ملي امنیت رئیس شواهد شریک کړل. متاسفانه د ۰۲ قطعې عملیاتو طریقه سمه نه وه ځکه دا کسان باید نیول شوي وی او عدلي او قضایي ادارو ته یې تسلیم کړي وی. د حکومت او د طالبانو د صحرایي محکمو تر منځ باید فرق موجود وي.

د مې د میاشتې په پینځمه نېټه له ۰۲ قطعې سره بیا کېناستو او ورته مو وویل چې په هغه سیمو کې چې حکومت تسلط لري باید، ۰۲ عملیات ونه کړي او له ملي امنیت ریاست سره عملیات همغږي کړي او هغه ساحو کې چې حکومت تسلط نه لري، ۰۲ دې د طالب او داعش پرضد عملیات تر سره کړي؛ ځکه په ښارونو کې داسې وژل د حکومت پر وړاندې عامه ذهنیت خرابوي او مخالفین له دې عملیاتو څخه د تبلیغاتو په توګه ګټه اخلي او خلک مجبوروي چې د حکومت پرضد مظاهرې وکړي او مړي د ولایت مخې ته راوړي. په همدغه ورځ د خوګیانو د قیلغو په سیمه کې د ۰۲ قطعې د ملي امنیت د شورا د سلاکار، ډاکتر حمدالله محب کور چې د طالبانو مرکز و، بمبار او تخریب کړی و. طالبانو له دې استفاده کوله چې د کابل حکومت د ملي امنیت مشاور هم د دې واک نه لري چې خپل کور له ۰۲ قطعې څخه وساتي او هغه یې تخریب کړ. ځینو دا اوازه هم خپره کړه، چې امریکایانو، ځکه د ملي امنیت شورا د سلاکار کور بمبارد کړ؛ چې هغه د امریکا د خاص استازي خلیل زاد پرضد په امریکا کې خبرې کړې وې. په حقیقت کې د قیلغو سیمه کې طالبان اوسیدل او له دغه کور څخه یې د مرکز په توګه استفاده کوله؛ نو ځکه ۰۲ د عملیاتو په ترڅ کې چې قواوې یې د خطر لاندې وې، په دغه کور بمباري وکړه او هغوی په دې هم نه پوهیدل چې دا کور د ډاکتر حمدالله محب دی او که نه. د کور د تخریب نه وروسته هغوي خبر کړې شول چې تاسي د ډاکتر حمدالله محب کور تخریب کړیدی. محب صیب د ما نه هم پوښتنه وکړه چې مسله څنګه وه

او ما ورته وویلې چې دلته قصدي مسله نه وه او د طالبانو د شتون له امله کور تخریب شویدی.

د ۲۰۱۹م کال د مې د میاشتې په نهمه نېټه، د ۰۲ قطعې په چیرهار کې عملیات وکړل؛ چې د لېسې مدیر مولوی نوراغا، دوه زامن یې نورالامین او حاجي محمد، استاد گلجان او د هغه زوی صداقت یې ووژل. استاد گل جان او زوی یې له مدیر نوراغا کره د شپې لپاره ورغلي و او دوی هدف نه و؛ خو اصلي هدف نورالامین و چې له داعش سره رابطه درلوده. خلکو بیا مظاهرې کولې چې ۰۲ باید دشپې عملیات ونه کړي. د چپرهار د قلعه شېخ سیمه کې چې ۰۲ عملیات کړي و، هغه سیمه کې داعش نفوذ درلود او حکومتي نفوذ هلته نه و. که دوی له داعش سره رابطه نه درلودی، نو حکومتي معلمین څنگه په دغه سیمه کې اوسیدلې او تگ او راتگ کولې شول.

د ۲۰۱۹م کال د جولای د میاشتې په ۲۰مه نېټه د ۰۲ قطعې د سره رود د بالا باغ په سیمه په یو کور شپني عملیات وکړل چې درې طالبان یې ووژل او څو کسه ځایي اوسیدونکي یې له ځان سره راوستی و. په دغه وخت کې د سره رود د بالا باغ سیمه د طالبانو په کنترول کې وه. په سبا یې د دغه سیمې تقریبا ۲۵ مشران طالبانو رالیږلي و؛ چې د ولایت پرضد عکس العمل وښايي او له ولایت څخه د شپني عملیاتو د بندیدلو غوښتنه وکړي. په دغه مشرانو کې مولوي اخلاص الدین د دغه سیمې د جامع جومات خطیب، د بالا باغ د لیسي- مدیر لعل بیگ، حاجي غفار او مولوي سیدالدین د ولسي- تړون مشران و. له دغه کسانو سره ضیاالدین همت مل هم و. دوی راته وویل چې دوی هم د طالبانو نه په تنگ دي او ځایي طالبان نشته ټول د نورو سیمو دي. ولس یو کس ته د میاشتې شپږ زره افغانۍ معاش ورکوي چې له کورونو څخه طالبانو ته ډوډۍ راټوله کړي، ځکه که د نورو ځایونو طالبانو په کورونو گرځي نو د دوی سیاسرې بې ستره کیږي. که په یخنې کې د اوداسه لپاره یخې اوبه طالبانو ته راوړی؛ نو بیرته یې دربانډې وړي چې گرمې راوړئ. مولوي اخلاص الدین وویل چې طالب په زوره جومات ته راځي، په زوره له دوکان څخه سودا اخلي

او په زوره په موږ ډوډۍ خوري؛ نو ښه داده چې د دغه سیمې د امنیت په هکله تصمیم ونیسي چې د طالبانو له شره خلاص شو. څرنګه چې دا کسان د همدې سیمې و او یو بل یې سره پېژندل، نو په عوض د دې چې د ۰۲ په عملیاتو بحث وکړي، دوی وویل چې څومره ژر کولی شي چې دا سیمه امن کړي؛ نو ښه به وي او دوی د حکومت ملاتړي دي. هماغه و چې ما هم دوی ته وعده ورکړه چې انشاالله ډېر ژر به دا سیمه امن کړو. لږه موده وروسته مو د بالا باغ، څرخیلي او نورو سیمو کې پوستې واچولې او هلته تصفیوي عملیات وشول او سیمه امن شوه. زه هم د نظامي شورا له یو شمېر غړو سره دغه سیمې ته ورغلم. ځایي اوسیدونکي چې ۰۲ قطعې له ځان سره راوستي و، خوشې کړل.

د مې د میاشتې په ۲۴مه نېټه، ۰۲ قطعې د شېرزادو ولسوالۍ د توتو په سیمه کې چې د طالبانو د کنترول لاندې سیمه وه، عملیات تر سره کړل، چې په دغه وخت کې یو موټر چې د سیمې نه تښتیده، د ۰۲ قطعې پرې ډزې کړې وې چې په نتیجه کې یوه ښځه او دوه کسه ماشومان وژل شوي و. په دغه عملیاتو کې علاوه له دې، دوه کسه طالبان هم وژل شوي و او د ۰۲ دو قطعې نه یو کس په دغه عملیاتو کې زخمي شوی و. د طالبانو په لمسون، د سیمې ځایي خلکو دا جنازې ولایت خواته راروانې کړې وې. د ننګرهار د ولایتي شورا د یو غړي په لمسون، د شېرزادو یو شمېر ځوانان هم ورسره یو ځای شوي و؛ چې جنازې د ولایت مخې ته راوړي. دې کې شک نه و چې د سیمې خلک وژل شوې و خو هلته ټوله سیمه له طالبانو سره وه او همدا ځایي کسان له طالبانو سره و. دا چې امنیتي قواوې د ریحان مولوي د جنازې د امنیت په ساتلو کې مصروفه وې نو د ولایت مرستیال، امنیه قوماندان او د سره رود ولسوال ته مو دنده ورکړه چې د شېرزادو جنازې د ولایت مخې ته رانه وړي او له سره رود سره یې مخه ونیسي. د روژې میاشت وه خو بیا هم هغوی جنازې د سره رود دوسرکې (یوسف میرني چوک) پورې راوړې وې او لاره یې بنده کړې وه. بیا د جلال اباد او د شېرزادو د یو شمېر مشرانو په وساطت جنازې بیرته

توتو ته یوړل شوي او د ولایت مخې ته یې رانه وړې. طالبانو همېشه لـه ملکـي تلفاتو څخه د حکومت پرضد د فشار وسیله په توګه استفاده کړې او هدف یـې دا و چې شپني عملیات بند شي؛ ځکه مخالفینو د شپني عملیـاتو او د ډرون لـه حملو څخه زیاته وېره درلوده.

د ۲۰۱۹م کال د سپتمبر په پنځمه نېټه چې د ۱۳۹۸ل د سـنبلې ۱۴مـه نېټـې سره برابره ده، سهار وختي راته د ملي امنیت رئیس زنګ وواهه، چې تېره شپه د ۰۲ قطعې د جلال اباد ښار په څلورمه حوزه کې عملیات کـړي دي؛ چـې د یـو کور څلور کسه ورونه یې وژلي او اته کسه یـې لـه ځـان سره وړي دي. کـورنۍ یې جنازې راخیستې او د ولایت مخې ته یې راوړي. دخلکو تعداد هم شـاید د ۵۰۰-۶۰۰ کسانو پورې وي. د مشرانو جرګې مشر، فضـل هـادي مسـلمیار راتـه زنګ ووهه او وویلې چې اوس د ننګرهار وضعیت مخ په ښـه کیـدو دی، دوی داسې کارونه کوي، چې تاسې ته ستونځه جوړه کـړي. پـه همـدې وخـت کـې راته د ولسي جرګې غړي عبدالروف شپون زنګ ووهه چې دا وژل شوي کسان یې خوریونه دي او په لاره کـې دی ژر جـلال ابـاد تـه رارسـیږي. مـا دواړو تـه وویل چې موږ له ۰۲ قطعې سره فیصله کړې وه، چې پـه امـن سـیمو کـې او پـه خاصه توګه په ښار کې به عملیات نـه کـوي او کـه شـواهد لـري، بایـد لـه مـلي امنیت سره شریک شي او هغوی به بیا د افغانستان د موجوده قوانینو پـه رڼـاکې اجراات وکړي. ما ته اوس یوازینې لار همدا پاتې ده؛ چـې اسـتعفا ورکـړم او دا مسئله د افغانستان په سطحه د حل لار غواړي. د ولایتي اداري له وسې پوره نـه ده چې د دوی مخه ونیسي. دوی راته وویل چې تـه بـه پـه هـېڅ صـورت کـې استعفا نه ورکوې او په شریکه به دا اوسنۍ مسـئله او هـم د ۰۲ دعملیـاتو مسـئله حل کوو. په عیني حال کې مخکې له دې چې د مظاهره کوونکو او د مقتولینـو له کورنیو سره وغږیږم، د ملي امنیت عمومي رئیس محمد معصوم ستانکزي، په ختیځ کې د غوڅ ملاتړ مشر جنرال ډان هیل او د ۰۲ قطعې بهرني مشاورینو تـه ولیکل چې زموږ او ستاسې شریکې فیصلې په خلاف د ۰۲ قطعـې پـه داخـل د ښار کې عملیات کړي دي او زه د رسنیو په مخکې استعفاء ورکوم؛ ځکه مـا تـه

هم بله لار نه ده پاتې. دوی هم زما د استعفا په مسئله ډېر وارخطا شول. د ۰۲ قطعې قوماندان راته وویل چې دوی کره شواهد لري چې د دوی دوه کسه چې صرافي کوي، د داعش له یو تن مشر ـ عمر سره اړیکې لري. د عمر ورور په عربي اماراتو کې چندې راټولوي او د دوی صرافۍ ته یې رالیږي او بیا یې دوی عمر ته لیږي. قاري جهانزیب چې په حاجي جهانزیب شهرت لري، او همدا شان جهانگیر مشهور په عبدالمقدم د داعش د مالي مسوولینو په توگه کار کوي. مالي مرستې جهانزیب ته حواله کېږي او بیا د دغه دوه ورونو، د عبدالقادر صادق او عبدالصبور بهار په واسطه داعشیانو ته په کونړ او ننگرهار کې توزیع کېږي. همدا شان دوی د جلال اباد په ښار کې هم د داعش لپاره مالي مرستې راټولوي.

د مقتولینو نه قاضي قادر، جهانزیب زاخېلوال، صبور زاخېلوال او بهادر زاخېلوال، مشر ورور، حاجي بهادر له حج څخه راغلی و او د دوی په کور کې گڼه گوڼه هم زیاته وه نو کله چې عملیات تر سره کېږي، له بده مرغه، چې دا نور هم په کې وژل شوي دي، ما ورته وویل چې هر څه وي، تاسي باید داعملیات نه وی کړي او له ملي امنیت ریاست سره مو معلومات شریک کړي وی. د عملیاتو دغه طریقه سمه نه ده. له وکیل شپون سره یو ځای مو د مقتولینو د کورنۍ د غړیو او مشرانو سره وکتل او هغوی جنازې د پښتونستان له چوک څخه روغتون ته انتقال کړې او ډاډ مو ورکړ چې د دغه موضوع به جدي پلټنه کوو. په سبا یې جنازې ښخې شوې او موږ هم د فاتحه لپاره د دوی کور ته ورغلو او هلته مې له خلکو سره په جومات کې خبرې وکړې.

د امنیت شورا او جمهور رئیس دفتر ته مې وویل چې تاسې یو هئیت له کابل څخه راولیږئ، چې دا مسئله وڅېړي او په عین حال کې د ټولو ۰۲ قطعو د عملیاتو لپاره باید یو طرزالعمل جوړ شي. جمهور رئیس هم ډېر خفه و او د ملي امنیت عمومي رئیس، محمد معصوم ستانکزي هم د دغه مسئلې په سر استعفا ورکړه. ستانکزي صیب ما ته وویل چې ته استعفا مه ورکوه او همدا زما

استعفا کافي ده او د حل یوه لاره به پیدا شي. د ستانکزي صیب په استعفا هم د زړه له تله خفه شوم؛ ځکه هغه د ننګرهـار د امنیـت پـه برخـه زمـوږ ډېـر کلـک حامي و او د هغه په مرسته مو د ننګرهار امنیت ښه کړی و، داعش مو لـه منځـه یوړ او د شېرزادو عملیات مو پیل کړل. له کابل څخه د لوی څارنوالۍ هئیـت د جنرال احمدزي په مشرۍ د تحقیق لپاره راغـی. د مقتولینـو کـورنۍ ادعـا کولـه چې له کوره یې د نوې زرو څخه زیات ډالر وړل شوي دي. فکر نه کوم چې د دوی د کورنۍ دا ادعا سمه وه. بیا هم له ډېر جرګو او بحثونو نـه وروسـته، د ۰۲ قطعې ۱۴۰ زره ډالره د مقتولینو کورنیو ته ورکړل او د ۰۲ قطعې عملیات په امنو سیمو ساحو کې ودرول شول.

د ۲۰۱۹م کال د سپتمبر په ۱۵ نېټه، د جلال اباد ښار په اوومه ناحیه کې دوه کسو جنګ کړی و او یو بل یې په چاقوګانو سره وهلي و. دواړه کسان روغتـون ته انتقال شوي و او له دواړو خواو څخه پولیسو دوه دوه کسه نیـولي و. د یـوې خوا یو کس په روغتون کې وروسته مړ شوی و؛ نو جنازه یې د ولایت مخې تـه راوړې وه او ادعا یې کوله چې داعش وژلی دی. ما لـه مـلي امنیـت او پولیسـو څخه پوښتنه وکړه؛ هغوی راته وویل چې دا د دوی خپل منځي جنـګ و او لـه دواړو خواو څخه نفر نیول شوي دي. د ولایت مخ ته د ننګرهار د هاها ډلې یو کس هـم ورسره یوځـای شـوی و او رسـنیو سره یـې خـبرې کـړې وې، چـې د ننګرهـار امنیتـي وضـعیت خـراب دی. کلـه چـې مـې د مـړي د کـورنۍ غـړي راوغوښتل، دوی راته وویل چې د ننګرهار څو کسو مدني فعالانو پـه اصـطلاح د هاها ډلې ورته ویـلي و؛ چـې مـړی د ولایـت مخـې تـه یـوسي؛ څـو سـتاسي پوښتنه وشي او په عینې حال کې دا کس په اردو کې و؛ نو بیا بـه مـو اکرامیـه او تقاعد هم اجرا شي. ما ورته وویل که تصدیق پکار وي؛ نو څه خـبره نـه وه امـا جنازه ولایت مخې ته راوړل ښه کار نه دی؛ ځکه تاسې هم خپل مړی شرموئ، هم ننګرهار او هم ولایت.

د ۲۰۱۹م کال د دسمبر د میاشتې په دویمه نېټـه، د بګـرام خاصـو قطعـاتو د اچین ولسوالۍ د پیښې په سیمه کې د ملک غني په کور چاپه اچولې وه، چې د

ملک غني زوی حکمت او د زرمحمد په نوم یې یو بل کس وژلي و او اته کسه یې بندیان کړي و. ځایي خلکو جنازې نه شخولې او د بندیانو د خوشې کېدو غوښتنه یې کوله. دوی جنازې د شینوارو ولسوالۍ تر مارکو سیمې پورې راوړې وې؛ بیا مو د اچین او شینوارو ولسوالیو د ولسوالانو او مشرانو په ذریعه ولایت ته د دوی د جنازو د راوړلو مخه ونیوله او له بګرام څخه مو د بندیانو د خوشې کیدو وعده ورسره وکړه.

### د سولې مشورتي لویه جرګه

د مارچ میاشتې په وروستیو کې د جمهور رئیس هدایت راغی؛ چې د سولې مشورتي لویه جرګې ته له هرې ولسوالۍ څخه باید استازي په دوه اونیو کې وټاکل شي. د لوی جرګې د فیصلې په اساس به له طالبانو سره د خبرو اترو چوکاټ تعین شي. په ولسوالیو کې ټاکنې باید د ولایتي شورا تر نظر لاندې وشي. دا چې وخت کم و، د ولایتي شورا لس غړي د وکیل عبید شینواري په شمول چې د ولایتي شورا مرستیال و، په جلال اباد کې موجود و او له هغوی سره مو پلان جوړ کړ چې ولسوالیو ته لاړ شي او د هرې ولسوالۍ د سهمیې په اندازه استازي وټاکي. د ولایتي شورا رئیس احمد علي په دې وخت کې بهر و. د ټولو ولسوالیو مشرانو په خپلو ولسوالیو کې استازي وټاکل. یوازې حصارک او شیرزادو ولسوالي چې ناامنه وې، مشرانو یې باید خپل استازي په جلال اباد کې ټاکلي وی. د حصارک مشرانو خپل استازي وټاکل، خو د شیرزادو ولسوالۍ مشرانو د استازو به ټاکلو سره جوړ نه شول. د شیزادو ولسوالۍ یو سهم سپین غر او بل سهم د پچیر و اګام ولسوالۍ ته ورکړل شو. د سولې مشورتي جرګې ته هم ټاکنې له اصلي ټاکنو کمې نه وې، ځکه محلي رقابتونه په هره ولسوالۍ کې و او هرې ډلې کوښښ کاوه، چې خپل کسان وټاکي. د دور بابا په ولسوالۍ کې حتی رای اچول شوې وې، چې ۱۷۴۰ رای حاجي همیشه ګل او ۵۱۹ رای د حاجي فرمان په نوم یو مشر اخیستې وې او دواړه د

لوی جرگې لپاره وټاکل شول. د مشورتي لوی جرگې لپاره ۸۵ کسه سهم ورکړل شو و؛ چې د جرگې د غړیو لست په لاندې ډول و:

| د سولې مشورتې جرگې ته د نوماندانو نوم لړ او سهمیه ۱۳۹۸/۰۱/۲۰ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | ولسوالی | سهمیه | نارینه | ښځینه | نوم | کتنې |
| ۱ | کامه | 4 | 1 | | محمد آصف صمیم | |
| | | | 1 | | حاجی هدایت الله | |
| | | | 1 | | محمد شفیق | |
| | | | 1 | | عبدالناصر مومند | |
| ۲ | اچین | 5 | 1 | | حاجی قومندان | |
| | | | 1 | | رضا خان | |
| | | | 1 | | حاجی غوزه گل | |
| | | | | 1 | رویا گل | |
| | | | 1 | | محمد علی | |
| ۳ | مهمندره | 3 | 1 | | زرداد | |
| | | | 1 | | پوهاند شاولی | |
| | | | 1 | | محمد حنیف گردیوال | |
| ۴ | دوربابا | 2 | 1 | | حاجی فرمان گل | |
| | | | 1 | | حاجی همیشه گل | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ٥ | نازیان | 1 | 1 | | محمد حمزه میاخیل | |
| ٦ | کوزکنړ | 3 | 1 | | فضل الرحیم | |
| | | | 1 | | محمد اکبر | |
| | | | 1 | | ملک قیص ملکزی | |
| | | | | 1 | شفیقه | |
| ٧ | لعلپوره | 1 | 1 | | نجیب الله | |
| ٨ | گوشته | 2 | 1 | | شمالی خان | |
| | | | 1 | | حاجی عبدالکریم | |
| ٩ | چپرهار | 3 | 1 | | فیض الله عمر | |
| | | | 1 | | ملک محکم | |
| | | | 1 | | سید احمدالله | |
| ١٠ | کوټ | 3 | 1 | | مولوی عبدالعزیز | |
| | | | 1 | | حاجی سید رحمان | |
| | | | | | ایاز خان | له ډېر تعقیب وروسته یې هم خپل اسناد حاضر نه کړل |
| ١١ | شینوار | 3 | 1 | | حاجی ملک چکن | |
| | | | 1 | | حاجی سید وهاب شاه | |
| | | | 1 | | ملک عبدالصمد | |
| | | | | 1 | شبانه | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | سرخرود | 7 | 1 | | حاجی عبدلواحد | |
| | | | 1 | | محمد انور اکرام | |
| | | | 1 | | مدیر عصمت الله | |
| | | | 1 | | عبدلرحمن شمس | د ولایتی شورا په ......... گنه مکتوب سید رزاق پاچا په عوض یی شمس معرفی شو |
| | | | 1 | | شکر الله مشکور | |
| | | | | 1 | صفیه صدیقی | |
| | | | | 1 | نیلوفر عزیز | |
| ۱۳ | سپین غر | 3 | 1 | | حاجی عثمان | |
| | | | 1 | | ملک کمین | |
| | | | 1 | | حاجی پښتون | |
| | | | 1 | | شمشاد | |
| ۱۴ | حصارک | 2 | 1 | | ډاکتر زرعلی معروف | |
| | | | | 1 | فاطمه الزهرا سنگین | |
| | | | | | | |
| ۱۵ | خوگیانی | 7 | 1 | | ملک فتح الله خان وزیری | |
| | | | 1 | | حاجی ریس خان | |
| | | | 1 | | رحمت الله زیارمل | |
| | | | 1 | | ملک عمر لایق | |
| | | | 1 | | شریف الله | |
| | | | | 1 | حسینه | |
| | | | 1 | | مدیر الله نظر | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ١٦ | بهسود | 6 | 1 | | زبیح الله زمری | |
| | | | 1 | | انجنیر معراج | |
| | | | 1 | | شریف الله ناصری | |
| | | | 1 | | ملک نعمت | |
| | | | 1 | | شاه ولی | |
| | | | 1 | | ملکو خان | |
| ١٧ | شیر زاد | 4 | | | پریکون یی کړی و، چې بیا یې یو سهم پجیراگام او بل سپین غر ته ورکړل شو | |
| ١٨ | رودات | 4 | 1 | | لعل محمد درانی | د روداتو مشرانو شکایت درلود، چې ټاکنې قطعا انتخابي نه دي، بلکې انتصابي دي |
| | | | 1 | | پوهندوی احسان الله احسان | |
| | | | | 1 | شفیقه /نسیم گل محرم | |
| | | | 1 | | استاد رحمت الله رحمت | |
| ١٩ | بټی کوټ | 4 | 1 | | ملک محمد | |
| | | | 1 | | سر معلم گل اغا | |
| | | | 1 | | قومندان ممتاز | |
| | | | | 1 | لیلما /محرم زاهدالله | |
| ٢٠ | دره نور | 2 | | | | |
| | | | 1 | | عبدالغنی | |
| | | | 1 | | روستم | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | پیچیراگام | 2 | 1 | | ملک شاه محمود | |
| | | | 1 | | گل ولی خان | |
| | | | 1 | | شفیق الله | |
| ۲۲ | هسکه مېنه | 2 | 1 | | اصف شینواری | |
| | | | 1 | | حبیب الرحمان | |
| ۲۳ | جلال اباد ښار | 12 | | 1 | هیلۍ | |
| | | | | 1 | شغله | |
| | | | | 1 | کرشمه نظیمی | |
| | | | 1 | | محمد ظفر | |
| | | | | 1 | جمیله | |
| | | | | 1 | صبرینه حمیدی | |
| | | | 1 | | مسعود | |
| | | | | 1 | زرغونه/ محرم شفیع الله | |
| | | | 1 | | میر محمد | |
| | | | 1 | | ارشاد رغاند | |
| | | | 1 | | حاجی محمد معصوم | |
| | | | 1 | | نوراغا ځواک مدنی فعال | |
| | | | 1 | | زلمی | |
| | | | | 1 | ناجیه منیره اخندزاده | |
| | **جمله** | **85** | **70** | **16** | | |

د سولې په مشورتي جرګه کې د والیانو په شمول ۳۲۰۰ کسانو ګډون درلود او د افتتاح په ورځ درې سوه کسه دیپلوماتانو او د نړیوالو ادارو استازو، د قضاییه

او اجراییه قواو مشرانو د میلمنو په توګه ګډون وکړ. د دغه جرګې د دایریدو مسؤلیت د محمد عمر داودزي او ورسره کمېسون په غاړه و.

د اپریل په ۲۹مه نېټه د چین له سفر خخه وروسته سهار چې کابل هوايي ډګر ته راورسیدم، خپل کور ته د جامو بدلولو او لږ استراحت نه وروسته لوی جرګې تالار ته لاړم. طالبانو د دغه جرګې د دایریدو مخالفت کوه خو سره له دې هم جرګه دایره شوله. په لغمان کې یې یو کس د شیرزاد ساپي په نوم چې جرګې ته تګ کل شوی و، طالبانو شهید کړې و. د جرګې په منځ کې ۵۱ کمېټې وټاکل شوې، چې هرې کمېټې رئیس، مرستیال او منشي درلودل او د کمیټو لخوا باید ټاکل شوې وې. استاد عبدالرب رسول سیاف د دغه جرګې د مشر په توګه وټاکل شو. جرګې پنځه معاونین او شپږ منشیان درلودل. له مشرقي څخه د مشرانو جرګې رئیس د لوی جرګې د مرستیال په توګه تعین شو؛ نو فیصله وشوله چې له کونړ څخه پخوانی سناتور رفیع الله حیدري د منشي او له لغمان نه عبدالخالق حسیني پشه د مرستیال په توګه د رایو په اکثریت وټاکل شول. همداشان جیبه سرابي (هزاره) او د ولسي- جرګې رئیس عبدالروف ابراهیمي (ازبیک) د معاونانو په توګه وټاکل شول. له مشرقي څخه درې کسو په مدیره هئیت کې ونډه درلوده. د ننګرهار او مشرقي ونډه د کمېسونو په مشرتابه کې لویه وه او ۱۱ کسه یوازې له ننګرهار څخه د کمیټو د مشرانو په توګه ټاکل شوې و.

د جرګې په دوران کې جمهور رئیس غوښتل چې له والیانو سره جلا جلا وګوري؛ خو بیا پلان بدل شو او د والیانو سره یې په شریکه وکتل. د والیانو په استازیتوب مو د کابل والي ته وخت ورکړ، چې د ټولو والیانو په استازولۍ خبرې وکړي او د ولایتونو اصلي ستونځې او د والیانو وړاندیزونه شریک کړي. د پیښنهادانو لویه برخه د مسؤلیت او صلاحیتونو تر منځ نه تعادل په ولایتونو کې لویه ستونځه ایجاد کړیده. د کابل والي مسایل په ډېره ښه توګه مطرح کړل او جمهور رئیس هم ډېر خوشاله شو. له دغه مجلس وروسته مو مسلسل درې

شپې لـه امنيتـي، سـکتوري او عـدلي او قضـايي ادارو د مشرانو سره د جمهـور رئيس په موجوديت کې، پـه شريکـه ناسـتې درلـودې. د تخـار والي عبـدالحق شفق، په سکتوري برخه کې، د پنجشير والي انجنير کمال الدين نظـامي، د اوبـو په برخه کـې او د کنـدهار والي حيـات الله حيـات دعـدلي او قضـايي ادارو پـه غونډو کې د واليانو په استازيتوب خبرې وکـړې. دوی وړانديزونـه او سـتونځې شريکي کړې او جمهور رئيس مربوطه وزيرانو ته لازم هدايت ورکړل. جمهـور رئيس وزيرانو ته وويل چې کابينه کابل محور ده او واليان افغانستان محور دي؛ نو د واليانو وړانديزونو ته بايد اهميت ورکړئ او د واليانو تليفونونـو تـه بايـد پـه ۷۲ ساعتونو کې ځواب ووايي. رئيس جمهور په خپلو خبرو کـې دا هـم وويـل چې ننگرهار کې قابل د ملاحظې تغير راغلی دی، چې يو څـه بـدلون د حيـات صيب په وخت کې پيـل شـو، خـو مياخيـل صـيب هغـه تغيـر تـه دوام ورکـړ او ننگرهار د نورو ولايتونو لپاره بايد ماډل اوسي. هر ولايت لپاره واضحه د سـولې طرحـه غـواړم او د اسـتقلال سـلمه کـاليزه بايـد پـه ښـه توگـه پـه ولايتونـو کـې ولمانځل شي.

د سولې مشورتي جرگې پنځه ورځې دوام وکړ او ۲۳ ماده يې پرېکړه ليـک يې تصويب کړ. جمهور رئيس د جرگې ټولې پريکړې ومنلې او ويې ويل چې دايمي اوربند ته حاضر دی، چې له طالبانو سره يې وکړي. جمهور رئيس وويل چې د سولې وروسته به زموږ لويه لاسته راوړنه دا وي، چـې پـه خارجيـانو اتکـا ونه لرو او د گدايي لاس چاته ونه غځوو. جمهور رئيس وويل؛ چې لـه طالبـانو سره په داخل د افغانستان او هم له هېـواد نـه بهـر پـه هـر ملـک کـې چـې دوی غواړي، خبرو کولو ته حاضر يم. مذاکراتي ټيم بـه تعين کـړي او اوس تـوپ د طالبانو په پښو کې دی. جنگ چې په هر منظور وي، پرته له مصيبت څخـه بـل څه ولسونه ته نه ورکوي. متاسفانه د جمهور رئيس لخـوا د مکـررو وړانـديزونو تر څنگ، تر اوسه لا د سولې په خبرو کې خاص پرمختگ نـه دی راغلـې. کـه څه هم د دې کتاب د ليکلو په وخت بهرني قواوې د افغانستان نـه ووتلـې، خـو بيا هم طالبان د جنگ په دوام او افغان وژنې تاکيد کوي.

**تورخم ته تګ او هلته د عمران خان راتګ**

په لوړو حکومتي دندو او هم په سیاست کې ریسک اخیستل او د مهمو مسایلو په هکله تصمیم نیول اړین وي. که هر حکومتي چارواکی او یا سیاستمدار په خپلو پریکړو او د هم د هېواد د حالاتو او منافعو په هکله بیتفاوته، مذبذبه او د ویرې له امله تصمیم ونشي نیولی، په حقیقیت کې دا له مسؤلیت څخه فرار او تېښته ده. دا ډول مشرانو ته فرصت طلبه سیاسیون او چارواکي هم ویل کېږي.

د ډیورند فرضي کرښه د امیرعبدالرحمن له وخت څخه تر اوسه پورې د افغانستان یو حکومت هم په رسمیت نه ده پیژندلې. د پاکستان د جوړېدو په وخت کې افغانستان یوازینی هېواد و چې د پاکستان د جوړېدو پرضد یې په ملګرو ملتونو کې منفي رایه ورکړه او علت یې همدغه د ډیورند د فرضي کرښې نه منل و. د پاکستان مخالفت او عقده له افغانستان سره د پاکستان د جوړېدو راپدېخوا ده او همدا په خصوصي مجالسو کې وایي چې افغانستان د دوی دوست هېواد نه دی. دا چې په افغانستان کې حالات بدل شول او میلیونو افغانانو د مجبوریت له مخې پاکستان ته مهاجر شول، جدا خبره ده.

پاکستان د افغانستان له جنګ څخه د فرصت ګټه واخیستله او خپلو موخو ته ورسېد، چې افغانستان ضعیفه کړي او د افغانانو او سیاسي ډلو په منځ کې ژور نفوذ پیدا کړي. د پاکستان د استخباراتي شبکې (ISI) د افغانستان د څانګې مسؤل کرنیل یوسف او Mark Adkin "د قطبي خرس په لومو کې" ( The Bear Trap) کتاب په اخر کې لیکي چې د افغانستان د جګړې نه هر څوک خپلو موخو ته ورسېدل خو یوازیني خلک چې خپلو مؤخو ته ونه رسیدل، هغه افغانان دي. یعني د پاکستان د استخباراتو مسوول کس هم په دې خبره اعتراف کوي چې افغانان خپلو مؤخو ته چې په افغانستان کې ثبات او ازادي وه، ونه رسیدل.

د نړیوالو حقوقو له مخې د دولتونو رسمیت پېژندنې په اړه دوه مهمې اصطلاګانې دي چې یو ته یې De Facto چې موجود حالت وي اما قانوني نه وي او بل ته De Jure حالت وایې که موجود هم نه وي، خو قانوني حیثیت لري. تورخم که افغانستان په رسمیت نه دی پېژندلی؛ خو د De Facto حالت په شکل موجود دی؛ ځکه هلته د افغانستان او پاکستان سرحدي قواوې شتون لري، پاسپورتونه هر ورځ هلته ټاپه کېږي او ګمرکونه وجود لري. په ۲۰۱۳م کال کې چې جمهور ریس کرزی په قدرت کې و، پاکستان د سرحد د مدیریت په نوم له بلوچستان اوچمن سره اغزن تار غزول پیل کړل. په همدې کال پاکستان له ګوشتې ولسوالۍ سره نږدې د ګونسرې په سیمه کې دروازه جوړه کړه چې د سرحدي قواو ور سره جګړه وکړه او یو کس عسکر د قاسم خان په نوم هلته شهید شو چې بیا ولسونو د هغه جنازه د جلال اباد په ښار کې په اوږو کړې وه او د پاکستان پرضد یې شعارونه ورکول. د جمهور رئیس کرزي په وخت کې چې فرصتونه زیات و، نړیوال حمایت هم موجود و او په داخل کې هم ولسونو د حکومت نه پراخه ملاتړ درلود، د افغانستان د حکومت پالیسي د پاکستان په هکله واضح نه وه او حتی یو وخت داسې هم راغې چې جمهور رئیس له امریکا سره مخالف شو او وویل که د امریکا او پاکستان تر منځ جګړه وي، نو دی به د امریکا په عوض د پاکستان سره ودریږي.

پاکستان په ۲۰۱۴م کال کې د تورخم د دروازې سره نږدې د نوې دروازې دجوړیدو چارې پلان کړې وې چې په اوله کې د افغانستان د حکومت لخوا یې ممانعت وشو. په ۲۰۱۶م کال کې له سرحدي شخړې وروسته چې د پاکستان د فوج یو میجر او یو افغان پولیس ووژل شول، پاکستان په تورخم کې د خیل کنترول په ساحه کې هغه دروازه جوړه کړه. د ثور له کودتاه څخه وروسته، کله چې په افغانستان کې جنګونه زیات شول او د افغانستان حکومتونو نفوذ په سرحدونو کې کم شو، نو پاکستان له دې موقع نه زیاته استفاده وکړه او په ډېرو ځایونو کې په لس ګونو کیلومتره د افغانستان په لورې رامخې ته شوي او خپل چیک پاتنونه یې جوړ کړي دي. کله چې موږ

پاکستان ته مهاجر کېدلو، د پاکستان د حکومت پاټک یا چیک پوست د غلنې په سیمه کې و او یوازې یو موټر به د ورځې د خاپښ بېخ ته راتله. که چا هغه سیمه لیدلې وي، د گوشتې ولسوالۍ له سرحد څخه تقریبا کم تر کمه پنځوس کیلومتره فاصله لري او په ټولو ساحو کې د انارگي پورې پاکستان پوستې جوړې کړې دي. په دې اساس، د تورخم مسئله او هم د اغزن تار غزول نوې خبره نه وه. له پاکستان سره سرحدي ستونځې زما له ولایت څخه د مخه موجود وې او اوس هم شتون لري. دا مسئله د ولایت د سطحې پورې اړه نه درلوده، بلکې دا ملي مسئله ده او په ملي سطحه حل غواړي. له یوې خوا پاکستان په ډېرو سیمو کې مخې ته راغلی او اغزن تار یې لږولی؛ خو له بلې خوا خپلو ایجنټانو ته دا په خوله کې ورکوي چې د افغانستان حکومت استقلال نه لري او څه نشي کولای چې د پاکستان مخه ونیسي. په همدغه سرحدي سیمو کې بیا خپل افغانان او پښتانه د افغانستان د حکومت پر ضد جنگوي، څو خپلو شومو اهدافو ته ورسیږي.

په هر حال د ۲۰۱۹م کال د سپتمبر دمیاشتې په شپږمه نېټه راته په پاکستان کې د افغانستان سفیر، عاطف مشعل زنگ ووهه چې د راروانې جمعې په ورځ، جمهور رئیس محمد اشرف غني تورخم ته درځي. هغه وویل چې په هغه سفر کې چې د پاکستان صدراعظم، عمران خان کابل ته درلود؛ دا وعده شوې وه چې د تورخم د ترانزیت څلور ویشت ساعته بېرته کېدلو د افتتاح لپاره به دواړه مشران په شریکه سره د تجارتي لاریو (Trucks) تگ او راتگ په رسمي توگه په تورخم کې پرانیزي. د هغوی د راتگ لپاره باید گمرگ، سرحدي او امنیتي اداري لازم تدابیر ونیسي. عاطف مشعل راته وویل چې جلال اباد ته په لاره دی چې په گډه د تدابیرو د نیولو لپاره تورخم ته لاړ شو. ما ورته وویل چې جمهور رئیس دې په خیر راشي؛ خو زه لا تر اوسه پورې خبر نه یم او نه چا احوال راکړی دی. فکر کوم په سیاسي لحاظ د جمهور رئیس راتگ به تورخم

ته سم نه وي. اول داسې سفرونه بیاد په د رسمي چینل لخوا ولایت ته خبر ورکړل شي، ځکه د حکومتولۍ تقاضا او پروسیجر همدا دی.

سمدستي مې د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمد الله محب، د چارو د ادارې عمومي رئیس ډاکتر فضل محمود فضلي او د محلي ارګانونو عمومي رئیس عبدالمتین بیګ سره دا مسئله مطرح کړه او ورته مې وویل چې د ټاکنو د مخه او هم وروسته دا سمه نه ده، چې جمهور رئیس دې تورخم ته راشي. که ترانزیت لاره پرانیستل کیږي، د تجارت یا ترانسپورټ وزیر دې راشي او که په محلي کچه یې پرانیزي نو د خیبر پښتونخواه والي او زه به یې پرانیزو. دوی ته مې وویل که څه هم د جمهور رئیس تګ تورخم ته د ترانزیت د ۲۴ ساعته لارې د پرانیستلو په موخه دی، خو مخالفین او هم یو شمیر احساساتي کسان به اوازې خپرې کړي؛ چې د ډیورند فرضي کرښه یې په رسمیت وپیژندله. محب صیب وویل چې دوی د دې مسئلې په هکله فکر نه و کړی او دا مسئله به له جمهور رئیس سره مطرح کړي. لږه شیبه وروسته راته ډاکتر محب راته زنګ ووهه چې ستاسي خبره سمه ده، جمهور رئیس نه درځي. د ترانسپورټ وزیر، یما یاري او تاسې یې پرانیزئ.

ډاکټر صیب فضلي او عبدالمتین بیګ هم د جمهور رئیس له راتګ څخه خبر نه و او دا تصمیم د ملي امنیت د سلاکار او جمهور رئیس لخوا نیول شوې و. زه هم پوهېدلم چې ځینې د پاکستان پلویان او خود غرضه عناصر به زما پرضد تبلیغ وکړي؛ خو د هېواد د ملي ګټو په خاطر د جمهور رئیس فشار ما واخیست. مشکل په افغانستان کې دا دی چې ځینې خود غرضه عناصر د دندو د صلاحیت په چوکاټ کې قضاوت نه کوي. زما موخه دا وه چې تورخم ته د وزیر او یا والي په تګ سره، د ډیورند کرښه په رسمیت نه پیژندل کیږي او مونږه دا صلاحیت لرو؛ اما د دولت د مشر له تګ څخه مخامخا مخالفین ناسم تعبیر کوي؛ چې وګوره د ډیورند فرضي کرښه یې په رسمیت وپیژندله. په سختو حالاتو کې هم دا معمول دی چې سرحدي والیان سره ګوري او د سیمې

مشکلات سره حل کوي. سرحدي او امنیتي مشران همېشه په تورخم کې د بیرغ لاندې جلسې کوي او د دواړو خوا ترمنځ محلي ستونځې حل کوي.

په هر حال عاطف مشعل راغی او په شریکه تورخم ته لاړو خو په لاره کې مې ورته وویل چې جمهور رئیس تورخم ته نه راځي. هغه هم فکر نه کاوه؛ چې د جمهور رئیس راتګ لغو شوی دی. ما ورته ونه ویل چې زه له امنیت شورا سره په تماس کې شوم او جمهور رئیس دا ومنله چې رانشي. د سپتمبر په دیارلسمه نېټه راته د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین محمد ادریس زمان راته زنګ ووهه چې سبا ته عمران خان تورخم ته راځي او قرار دا و چې جمهور رئیس درشي خو اوس هغه نه درځي نو تاسي، عاطف مشعل او د ترانسپورت وزیر یما یاري به د تورخم دروازې د ۲۴ ساعته پرانیستولو په مراسمو کې د پاکستان له صدراعظم سره یو ځای برخه واخلئ. د پاکستان صدراعظم خپل راتګ وځنډوه او علت یې همدا و چې باید جمهور رئیس په دې مراسمو کې برخه اخیستی وی. کله چې د جمهور غني نه ګډون دوی ته یقیني شو، نو عمران خان د سپتمبر په ۱۸مه نېټه تورخم ته راغی.

د افغانستان له لورې د ترانسپورت وزیر یما یاري او زه تورخم ته لاړو. هلته د خیبر پښتونخوا ګورنر او اعلی وزیر له یو شمېر مشرانو سره مخکې راغلي وو. د پروتوکول په اساس، د افغانستان سفیر د هغه خوا د ټولو مراسمو مسؤلیت د افغانستان د هئیت لپاره درلود؛ خو هغه هم تورخم ته نه و راغلی. کله چې عمران خان راغی نو له فرضی کرښې له نوې دروازې سره نږدې یې د افغان مریضانو لپاره د ایمرجنسي روغتون پرانیسته وکړه. د افتتاح مراسمو نه وروسته، عمران خان غوښتل چې له مطبوعاتو سره خبرې وکړي؛ خو افغاني هئیت لپاره چوکې له هغه سره یو ځای نه وې ایښودل شوې او فکر کوم چې علت به یې همدا و چې د پروتوکول په اساس د هغه انډول نه و؛ نو د ترانسپورت وزیر او ما تصمیم ونیوه، چې په خبرې کنفرانس کې ګډون ونه کړو او صحنه مو پرېښودله او بېرته دېخوا راواوښتولو او له رسنیو سره مو خبرې وکړې.

د روغتون د پرانیستولو عکس چې هغوی بارډر لیکلی و، د طلوع نیـوز او د پاکسـتان رسـنیو خپـور کـړ او سمدسـتي د هاهـا ډلـې او د حکومـت سـیاسي مخالفینو زما پرضد تبلیغ پیل کړ چې ګونديې موږ د تـورخم کرښـه پـه رسـمیت وپېژندله. لکه مخکې مې چـې وویلـې د ډیورنـد کرښـه د والي د صلاحیت نـه پورته ده او زه پوهېدلم چې مخالفین به دا تبلیغ کوي، خو د وطن د ملي منـافعو په خاطر، دا بار او ملامتیا مـا واخیسـتله. پـه هـر حـال څـو چـې ریښـتیا راځـي، دروغو به کلي وران کړي وي. اوس هم کله چې زما د کارونو توصـیف څـوک په ټولنیزو رسنیو کې کوي، سیاسي مخـالفین هماغـه د تـورخم عکـس اچـوي، چې په حقیقت کې هېڅ حقوقي ارزښت نه لري.

په همدې ورځ سهار د لسو بجو په شاوخوا کـې د الیکترونیکـي تـذکرو پـه دفتر ځانمرګي حمله وشوله. د حملې په تقریبا ٦٥ کسـه د الیکترونیکـي تـذکرو کار کوونکي او نږدې دوه سوه او پنځوس کسـه مشـتریان پـه انګـړ کـې و. اول کس چـې انتهـاري حملـه پـه دروازه کـې کـړې وه، دویـم کـس چـې انګـړ تـه داخلیدو، مسلحو کسانو نه و پریښودي، چې ودانۍ ته داخل شي. دا چـې مـوږ د ټاکنو لپاره امنیتـي تـدابیر درلـودل او د ښـار پـه څـو ځـایونو کـې مـو خـاص قطعات ځای په ځای کړي و، سمدستي خاص قطعاتو هم ځانونه الیکترونیکـي تذکرو دفتر ته رسولي و او دا حمله یې ډېره ژر په ښه توګه مهار کړه.

له تورخم څخه په لاره کې سخت په تشویش کې وم او فکر مې کاوه چـې خامخا به لس ګونه کسان مړه او زخمیان وي. امنیتي ادارو راته لحظه پـه لحظـه ډاډ راکوه چې حمله د کنترول په حالـت کـې ده او انتهـاري لـه یـو کـنج څخـه پراګنده ډزې کوي خو د تلفاتو کچه ډېره کمه ده. زما بـاور نـه راتلـه؛ خـو چـې کله ځانمرګی له منځه یوړل شول او د ودانۍ تخریب مو ولید، فکر کوم معجزه وه چې په داخل د ودانۍ کې تلفات رامنځته نه شول. متاسفانه یو کـس پـولیس او درې ملکي کسان چې په دروازه کې و، د لـومړني ځـانمرګي پـه حملـه کـې شهیدان شوي و. یو څو کارکوونکي چې ځان ځ له دېوال نه غورځولی و، هـم زخمي شوي و. زیاتو کسانو د شا دیوال لـه لارې ځانونـه غورځـولي و او نـورو

کسانو ته مرګوني تلفات نه و اوښتي. زما په اند د عمران خان راتګ او د ځانمرګي حملې کول د ننګرهار په اداره باندې سره تړاو درلود.

**چین ته سفر (۲۳-۲۹ اپریل ۲۰۱۹م کال)**

چین د وریښمو لارې په تقلید چې ۲۰۰۰کاله د مخه یې اهمیت درلود، په ۲۰۱۳م کال کې یو پروګرام د BRI (The Belt and Raod Initiative) په نوم په لاره واچوه چې چین د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، منځني ختیځ او حتی افریقا او اروپا سره وتړي او له افریقا څخه جنوبي امریکا ته هم لاره پیدا کړي. البته چین غوښتل چې دا رابطه د ځمکې، هوا او بحر له لارې کوریدورونه (سرپټي دهیلزونه) جوړ کړي. د چین حکومت د یو تریلون ډالرو نه زیاته سرمایه ګذاري په دغه پروژه کې پلان کړې وه. له پاکستان سره د CPEC (Chines-Pakistan Economic Corridar) په نوم پروژه درلوده چې د ګوادر بندر ته ځان ورسوي. چینایانو له ننګرهار سره په دوه ملحوظو دلچسپي درلوده که حالات او امنیت د افغانستان ښه شي نو افغانستان به هم د CPEC برخه شي. همداشان چین د شرقي ترکستان اسلامي حرکت ETI (Eastern Turkistan Islamic Movement) نه وېره درلوده، چې د داعش او طالبانو ډلو سره یې اړیکه درلوده او هغوی د چین په شرقي برخه کې د یغور مسلمانانو په منځ کې نفوذ درلود، نو غوښتل چې د هغوي مخه هم په افغانستان کې ونیسي. په دې لړ کې چینایانو له ننګرهار سره دلچسپي درلوده، چې د زراعت او اوبو په برخه کې مرسته وکړي خو د چینایانو سرمایه ګذاري په ارام زړه وي او هغوی عجله نه لري.

د اپریل د ۲۵-۲۷ پورې دا کنفرانس د چین په پایتخت، بیجنګ کې دایریده، نو له ۱۵۰ ملکونو او پنځوسو نړیوالو ادارو څخه جمهور رئیسان، صدراعظمان، والیان، ښاروالان او د نړیوالو مهمو ادارو لکه د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک او IMF مشرانو برخه درلوده. د افغانستان جمهور رئیس، محمد

اشرف غني هم دې کنفرانس ته دعوت شوی و خو دا چې د اپریل په ۲۹مه نېټه د سولې مشورتي جرگه په کابل کې دایریدله، نه یې شو کولی چې په دې کنفرانس کې برخه واخلي. د والیانو له جملې نه یې زه وټاکلم چې د تجارت وزیر، اجمل احمدي سره یو ځای په دې کنفرانس کې برخه واخلم. د محلي ارگانونو د دفتر رئیس نجیب مطهری هم راسره و. که څه هم د ننگرهار امنیتي وضعیت ښه نه و او هم د سولې مشورتي لوې جرگې لپاره باید ټاکنې تر سره شوي وی، خو د جمهور رئیس د هدایت په اساس لاړم او د ټاکنو مسؤلیت مو د ولایت مرستیال تمیم عارف مومند او ولایتي شورا مرستیال، وکیل عبید شینواري او د ولایتي شورا نورو وکیلانو ته وسپاره؛ ځکه د ولایتي شورا رئیس په ننگرهار کې نه و. په دغه کنفرانس کې د چین جمهور رئیس شي ژیاوپنگ، د روسي جمهور رئیس ولادیمیر پوتین، د پاکستان صدراعظم عمران خان، د مصر جمهور رئیس جنرال سیسي، د دوبي صدراعظم شیخ محمد، د قزاقستان جمهور رئیس نور سلطان نظربایوف، د مالیزیا صدراعظم ډاکتر مهاتیر محمد، د سنگاپور او ایتوپیا صدراعظمان، د ملگرو ملتونو سرمنشي او گڼو نورو مشرانو برخه درلوده.

که څه هم افغانستان د اقتصاد له اړخه ډېر مطرح نه و، خو د جغرافیوي موقعیت په اساس او هم د نړیوالو قواو شتون افغانستان ته اهمیت ورکړی و او زموږ د هئیت پذیرایي ډېره ښه وشوله. دا چې د انگلیسي-الفبا په اساس، افغانستان په سر کې راځي نو زموږ د ناستې چوکې هم د ملکونو په حساب د کنفرانس په لومړي سر کې له جمهور رئیسانو څخه وروسته وې.

چین ته دا زما لومړی سفر و. په هوایي میدان کې یې د تشریفاتو لپاره خاصه سفیره درلوده. هر یو هئیت به د الوتکې د گیټ نه VIP خونو ته بدرگه کېده. د VIP میلمنو لپاره یې په هوایي ډگرکې زیاتې خونې درلودې او سفیرې به میلمنو ته په هره خونه کې ښه راغلاست وایه. د هر هئیت لپاره ترجمانان و او د هوایي ډگر نظم ډېر ښه و. هئیتونو ته به په VIP خونو کې چای، کافي او د خوړو بندوبست و، څو چې د بکسونو د راخیستلو او پاسپورتونو د کارونو د

خلاصولو پورې دمه وکړي. د بکسونو د راخيستلو او پاسپورټونو د ټاپه کولو نـه وروسته، ميلمانه په ځانګړو لوکسو بنسونو کې مشخصو هوټلونو ته وړل کېـدل. د کنفرانس له غونـډې وروسـته پـه تفـريح سـاعتونو کـې د هـر هئيـت مؤظـف ډريورانو او ترجمانانو د هئيت په خوښه د ښـار مهـم ځايونـه هـم کتلـی شـو. د چين مشهور تاينـامين ميـدان، د چـين د جمهـوري رياسـت ودانـۍ، د پارلمـان ودانۍ او بازارونه مو وليدل. همداشان مو د چين مشهور ديوال ته يـوه ورځ دوه ساعت سـفر وکـړ او د چـين هغـه لـوی ديـوال (Great Wall) يـوې برخـې تـه وختلو. واقعا په ليدو ارزيده. د نړۍ مشهورې امپراطورۍ لکه د چين، انګلستان، کريملين، چک، ويانا، جرمني، تاج محل، لاهور، سپنه مـانۍ او کپيتـل هيـل او نور ډير ځايونه په ليدو ارزي. څکه يو شاعر وايي:

په خالي ويلو څوک نه سړی کېږي
تر څو سياح د هر بلاد نشي سړی

**د تاوتريخوالي د منع د کمېسون د جلسې يوه پېښه**

واليان، ولسوالان، ملکان او مشران کله له داسې مسـايلو سره مخـامخ کېـږي چې د هغې مسايلو لپاره د حـل لارې چـارې پيـدا کـول پـه عـرفي، حقـوقي او قانوني لحاظ مشکل وي. پلار مې دې خداې وبښي، قصه کوله چـې يـوه ورځ په خاص کونړ کې له ولسوال سره ناست وم چې يـو کـس ولسـوال تـه عريضـه راوړه او ليکلي يې و چې د دي چرګه د ګاونډې کره ځي او هلته هګي اچـوي، خو ګاونډي ورته د دې د چرګې هګي نه ورکوي. ګاونـدي نـه يـې د چرګـې د هګيو مطالبه درلوده. پلار مې وويل چې ولسوال ماته عريضه راکـړه چـې مـدير صيب! دا مسئله به څنګه حل کړو. پلار مې ورته ويلې و چـې خپلـه چرګـه دې کنترول کړي چې د ګاوندي حريم ته نه ننوزي.

د ۲۰۱۹م م کال د جون په ۲۷مه نېټه راته د ولايـت مرسـتيالې حبيبـې کـاکړ وويل چې د تاوتريخوالي د منع کمېسون کې دوی يو څو ستونځې لري او هغه

نه حل کېږي. که زه په کمېسون کې برخه واخلم او هم د استیناف د محکمې رئیس وي نو ښه به وي. ما په کمېسون کې برخه واخیستله. مهمه مسئله دا وه چې په (...) ولایت کې یوه جنۍ چې تقریبا د یولس کلونو وه، خپل ماما یې اختطاف کړې وه او شپږ کاله یې له ځان سره ساتلې وه او نامشروع اړیکې یې هم ورسره درلودې؛ چې په دغه موده کې د دغه جنۍ دوه زامن هم شوي و. کله چې ماما یې نیول کېږي، له عدلي تعقیب څخه وروسته، محکمه دا سړی په شل کاله بند محکوموي او جنۍ له زامنو سره د ننګرهار امن کور ته راولي. د ننګرهار په امن کور کې دا جنۍ او ماشومان ډېر وخت تیروي خو یو څوک پیدا کېږي چې دا جنۍ په نکاح واخلي خو جنۍ نه غواړي چې ماشومان له ځان سره وساتي. همداشان جنۍ نه غوښتل چې ماشومان دارالایتام ته وسپاري او هلته یې روزنه وشي. په قانوني لحاظ ماشومان باید د جنۍ کورنۍ ته تسلیم شي؛ خو جنۍ هغه هم نه غوښتل او ویل یې چې دا ماشومان باید خپل نیکه ته چې د ماما پلار یې دی، تسلیم شي. هغه کس چې غوښتل یې دا جنۍ په نکاح واخلي ویلې چې د ماشومانو مسئله که حل شي، نو دی به له جنۍ سره نکاح وکړي. بله مسئله دا وه چې دی ماشومانو لپاره د تذکرې د ولدیت څنګه تعین کړي؛ که څه هم ماشومان یې د خپل ماما نه دي خو دا چې له ماما سره نکاح نه کېږي نو د حل لاره به څه وي؟ بالاخره د جنۍ نیکه دې ته حاضر شو چې دا ماشومان له ځان سره یوسي او ورته وویل شول چې تذکرې هم ورته په خپل نوم واخلي ځکه په اینده کې به دا ماشومان د نیکه په سهم کې شریک هم وي. د داسې حالاتو حل اسانه نه دی ځکه ګناه یو کس کړې وي خو دردونه او مصیبتونه یې ټولنې او څو کورنیو ته پاتې کېږي.

هدف مې د پورته قصې نه دا و چې هر تصمیم که شخصي ـ هم وي، ضرر او ګټه یې عامه ده او هر انسان باید په خپلو پریکړو کې ډېر احتیاط وکړي، څو کورنۍ او ټولنه ورنه متضرره نشي.

**شخصي امنيتي ګواښونه**

په تیرو څلورو لسیزو کې د بېلابېلو دندو له امله هغه که د ژورنالیزم په ډګر کې وه، که د نړیوالو ادارو لکه د ملګرو ملتونو او نورو تحقیقي اداره سره د ریسرچ په برخه کې وه، که مې په غیر دولتي موسساتو کې کار کړی و او یا په حکومتي مهمو لوړو پوستونو کې وم، همیشه زما ژوند له تهدید سره مخامخ و. د دې تهدیدونو له امله مې خپل دوه ورونه په پیښور کې له لاسه ورکړل. پدې توګه همېشه خپلو امنيتي تدابیرو ته پخپله متوجه وم/یم. څومره چې د یو چارواکي پوستونه لوړیږي، هماغومره د بیروني او داخلي مخالفینو لخوا ورته تهدیدونه زیاتیږي.

په امنيتي لحاظ د ننګرهار ولایت دنده ماته له ټولو دندو نه زیاته ستونځمنه وه؛ ځکه زه د تروریستي ډلو د مخالفت او هم د داخلي کړیو لخوا له تهدید سره مخ وم. ځیني دا فکر کوي چې والي لپاره امنيتي تدابیر زیات دي نو هغه له تهدید سره مخ نه دی. حال دا چې داسې نه ده، ځکه د افغانستان په موجوده حالت کې دښمن او مخالف تا سره په یوه صف کې دی او د دوست او دښمن فرق نشي کېدای. ډېری دولتي چارواکي د داخلي کسانو لخوا له منځه وړل شوي دي. په دې اساس، د ډېرو دوستانو او نږدې خپلوانو زما د امنیت په هکله زیات تشویش درلود. دلته غواړم چې د یو څو پیښو یادونه کوم چې له ورځني تهدیدانو علاوه ورسره زه مخ شوی یم.

د ۲۰۱۹م کال د اپریل په ۲۲مه نېټه کابل ته روان وم، چې د مشعلي کمر په تنګي کې زما په موټرو باندې ډزې وشوې او جګړې نږدې یو ساعت دوام وموند. د کمین والا مخالفین له سیند ها خوا په یو ناو کې پټ ناست و او نه لیدل کېدل؛ مګر هغوی ته سرک ښه ښکارېده. په مخکني رینجر کې زما د محافظت د قطعې قوماندان، څارمن فرید ناست و. کله چې ډزې پیل شوې، ډریور په ډېره چالاکي سره ځان نږدې پوستې ته ورسوه. د کابل – جلال اباد په لاره مو تل د موټریز کاروان د هر موټر ترمنځ نږدې ۵۰۰ متره فاصله ورکوله. له

لومړي رينجر وروسته زما موټر و؛ نو زه ځای په ځای ودرېدم او بیرته شاته شولو. بیا مو د عامه نظم لېوا قوماندان جنرال نصير ساپي ته زنګ ووهه او هغه د علي خان کڅ له بيز څخه دوه هاموي ژر راولیږلې او ټولې موټرې مو له سيمې وويستې. نورې موټرې مو رخصت کړې او يوازې دوه زرهې موټرو کې چې هاموي يې بدرګه کوله د سروبي په خوا لاړو. په دې وخت کې د شمشاد تلويزيون خبريال لطيف احساس د کابل له خوا جلال اباد ته روان و؛ نو پوست يې کړی و چې موږ تېر شولو خو والي صيب ته دې خدای خير پېښ کړي، هماغه و، چې د دوستانو زنګونه را سر شول، خو ما ورته ويلې څه خبره نه وه او خير خيريت و. دا مسئله مو مطبوعاتي ځکه نه کړه چې دښمن نور هم زړور کېده.

د ۲۰۱۹م کال د جولای د مياشتې په ۲۵مه نېټه د ملي امنيت رياست خبر راکړ، چې د داعش د خراسان څانګه پلان لري چې د والي په دفتر، کور او يا د ملي امنيت په رياست باندې حمله وکړي. ځو ورځې د مخه د طالبانو لخوا د موټر بمب يو تهديد هم موجود و. هغه موټر د ۰۲ قطعې لخوا د خوګيانو ولسوالۍ د مرکيخېلو په سيمه کې کشف او د ۱۳۹۸ل کال د سرطان په ۲۷ نېټه په يو کور کې د ډرون د حملې په واسطه له منځه يوړل شو. دا معلومات د شيرين په نوم يو کس چې د سهيل په مستعار نوم يې فعاليت کاوه او د جلال اباد ښار په اوله حوزه کې ونيول شو په واک کې ورکړي و؛ دغه کس د خوګيانو ولسوالۍ د نوکړخيلو اوسيدونکی و. نوموړي زما د کور او ولايت د مقام د تګ او راتګ لارې څارلې. شيرين بيا معلومات ورکړل چې د طالبانو سر ګروپ علي حيدر مشهور په لقمان، تحسين مشهور په مصطفی او ګل نور په ګډه موټر بمب پلان کړی و او قاري اسمعيل په دغه موتر بمب کې انفجاريه مواد ځای په ځای کړي او غوښتل يې چې جلال اباد ته يې انتقال کړي. دوی ته ويل شوي و که موټر د جلال اباد ښار ته يې دننه نه شو کړای، نو بيا دا موټر بمب دې د سره رود په ولسوالۍ استعمال کړي.

د ۲۰۱۹م کال د اگست د میاشتې په ۱۵مه نېټه چې له کامې څخه راغلم، د ملي امنیت رئیس راته زنګ ووهه چې د خپلواکۍ د ورځې پورې باید له ولایت نه ونه وځم. د هغوی په قول، د داعش ډلې د محلي مافیایي کړیو په حمایت په امنیتي یونیفورم کې زما پر ضد د ځانمرګي برید پلان ترتیب کړی دی. د هغوی سپارښتنه دا وه، چې هر چیرته ځم باید زما امنیتي کسان د نورو ادارو یونیفورم لرونکو کسانو ته متوجه وي؛ څو د نفوذي کسانو مخه ونیول شي. د ملي امنیت رئیس وویل که باالفرض هر چیرې ځم باید مکمل امنیتي پلان له مخکې ترتیب شوی وې او دا تهدید باید بابیزه ونه ګڼم. امنیتي ادارې استخباراتي معلومات معمولاً د درې څلورو لارو ترلاسه کوي. یوه برخه یې د تخنیکي وسایلو له لارې، بله برخه یې د مخالفینو په منځ کې د نفوذي روابطو له لارې؛ خو ټول معلومات ورسره نه وي او کله یو څوک د روابطو یا حسن نیت په اساس خبر ورکوي. ځینې وخت په ملي امنیت دا اتهام هم لږېږي چې دومره معلومات دوی لري؛ نو ولې اقدام نه کوي. اکثره وخت چې څوک خبر دوی ته ورکوي، د ټول پلان په هکله ورته معلومات نه وي. د بیلګې په توګه په والي د حملې پلان شته خو دا ورته معلوم نه وي چې دا پلان څوک او څنګه عملي کوي. پورته معلومات مې له څارمن فریدالله حمزه سره شریک کړل، چې د ولایت، قصر او زما له نږدې امنیتي کسانو سره دا معلومات شریک او په ګډه تدابیر ونیسي. له دې علاوه مې خپل زوی احسان محمود چې زما د کور امنیت ته به متوجې و او د ګاردانو مشر- سمونمل شاه اغا او همداشان خپل سکرتر صادق کریمزي سره دا معلومات شریک کړل؛ چې متوجې اوسي. د ملي امنیت مرستیال او د ښاري ځانګې مسوول، سیدحکیم مسؤلیت په غاړه واخیست چې زما د غونډو او سفر ټول پلانونه به دې پخپله له څارمن فرید سره جوړوي، چې کومه پېښه رامنځته نشي.

د ۲۰۱۹م کال د دسمبر د میاشتې په نهمه نېټه یو منې وین MiniVan د سره رود ولسوالۍ سره نږدې ونیول شو. په دغه موټر کې یو ځانمګری او ډریور و

چې موټر يې شپږمې ناحيې ته انتقالوه او بيا يې غوښتل چې د ولايت په ودانۍ ځانمرګي حمله وکړي. موټر کې چاوديدونکي توکې طالبانو د شهرزادو په ولسوالۍ کې ځای په ځای کړي و. د انتقال کوونکي غوښتل چې موټر لومړۍ شپږمې ته انتقال کړي او په يو کورکې وساتي. د موټر انتقال کوونکي او د کور خاوند، دواړه د کونړ ولايت د نورګل د ولسوالۍ اوسيدونکي و خو ځانمرګی د لرې پښتونخوا د پيښور په رينګ رود ساحه کې اوسېده. ځانمرګي اول ځان د کونړ د نورګل ولسوالۍ معرفي کړ؛ خو وروسته يې وويل چې د پېښور دی.

د ۲۰۲۰م کال د جنورې د مياشتې په دولسمه نېټه يو تن د حکمت الله په نوم چې د شهرزادو ولسوالۍ اوسيدونکې و، د ولايت په مخکې د امنيتي کسانو لخوا ونيول شو چې زما د ترور پلان يې جوړ کړی و. په دې ورځو کې زه د افغانيو د ترويج په خاطر ډېر بازار کې ګرځېدلم. حکمت الله د انګور باغ په سيمه کې د جومات د مؤذن، نورمحمد په ترور کې هم لاس درلود. حکمت الله ته ويل شوي چې د اولې حوزې په مخ کې بايد زما د وتلو لپاره انتظار وکړي او که والي را ونه وتلو نو مازديګر چې هر رئيس له ولايت څخه را وتلو، هغه بايد وولي؛ خو دوی وښايي چې د ولايت په مخ کې يو څوک ترور کولی شي. دا چې دا کس ډېر د حوزې په مخ کې منتظر پاتې شوی و، د پوليسو پرې اشتباه راغلې وه. کله چې نوموړي تالاشي کوي، تمانچه ورسره وه. دا تمانچه عادي تمانچه نه وه او سلنسر يې ورته اچولی و. کله چې له رسنيو سره مو د ملي امنيت په رياست کې مطبوعاتي کنفرانس درلود، دا کس هم وښودل شو. له حکمت الله سره د ملي امنيت رئيس لنډه مرکه وکړه او هغه مرکې زيات انعکاس پيدا کړ. هغه مرکه په لاندې لينک کې کتلای شئ[٤٧].

د ۲۰۲۰م کال د فبرورې د مياشتې په شپږمه نېټه د ملي امنيت رئيس خبر راکړ، چې د ولايت د مقام او والي پرضد امنيتي تهديدات نور هم زيات شوي دي، ځکه پاکستان د داعش سقوط، د افغانيو ترويجول او د غوړکي عمليات

[٤٧] https://fb.watch/6dsmIUFH9W/ (اخري ځل دا لينک د جون د مياشتې په ۱۹مه نېټه وکتل شو)

نشي زغملی؛ نو باید د نظامي شورا له لوري د ولایت د امنیت لپاره قوي امنیتي تدابیر ونیول شي، ځکه د ولایت امنیتي پرسونل د مغلقې حملې په مقابل کې کافي توانایي نه لري. د ولایت شاوخوا امنیتي پلان د نظامي شورا د OCCP په سطحه جوړ شو؛ څو د احتمالي حملې مخه ونیسي. د جمهور رئیس له راتګ وروسته، د ۲۰۲۰م کال د مارچ د میاشتې په څلورمه نېټه راته نظامي شورا کې د ملي امنیت رئیس بیا وویل چې د دوه احتمالي موټر بمونو د حملې پلان د ولایت په مقام شته، چې یو یې د طالبانو لخوا او بل یې د داعش لخوا پلان شوی او باید احتیاط وکړم. د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۲۱مه نېټه راته د قول اردو د کشف ادارې اطلاع راکړه، چې د لشکر طیبه د شرق زون مسؤل، قاري یحیی په نوم دوه کرولا موټرې له انفجاریه موادو ډکې او د چپرهار او بټي کوټ په سیمو کې ځای په ځای کړېدي، څو د ننګرهار په والي، د امنیت په رئیس یا د ننګرهار د ولایتي شورا په رئیس خانمرګي حمله وکړي. همداشان د شاکر او نور محمد په نومونو دوو تنو ته د قاري یحیی له لوري دنده سپارل شوې وه، چې د هند د قونسلګرۍ په ترجمان، ښاغلی ودود ځانمرګې حمله وکړي. دا پورته معلومات د هغوی لخوا د ولایتي شورا د رئیس او ښاغلی ودود سره شریک شوي دي چې احتیاط وکړي. له دغه دوه کرولا موټرو څخه یو یې د مومندرې په سیمه کشف او له منځه یوړل شو.

د ۲۰۲۰م کال د اپرېل د میاشتې په دولسمه نېټه مو د خوګیانو د وزیرو تنګي په سیمه کې د ابکو صیب د پُل افتتاح لپاره له ننګرهار د امنیه قوماندان ایمل نیازي، سکتوري رئیس فضل ربي همیم او د ټولګټو چارو د رئیس انجنیر حامد ضیا سره یوځای لاړم. له دې خوا د خوګیانو ولسوال او امنیه قوماندان چې مخکې و، عمومي لاره یې بچ کړه او د کلیو په منځ کې د وزیر تنګي له خوړ څخه تېر شول او د ابکو صیب زیارت له اړخه پله ته راغلو. د پُل افتتاح مو وکړه او پیاده په پله د خوګیانو د ولسوالۍ په لوري تېر شول. له افتتاح څخه وروسته مو غوښتل چې په عمومي سرک بیرته لاړ شو. د پاڅون کوونکو

قوماندانانو ملک مکي او ملک حسن راته وویل چې په دې لاره مه ځئ، ځکه د کمین احتمال شته. ما ورته وویل چې دا لار بهتره ده ولو کـه کمـین هـم وي، ځکه هغه بله لاره باندې چې راغلي یو خامه ده، هاموي گرځیـدلی نشي- او پـه عین حال کې د دې احتمال شته چې ماینونه چا ښخ کـړي وي. دوی لـه مـوږ سره رانغلل او موږ د کړې په لوري حرکت وکړ. کله چې د خوگیاڼو ولسوالۍ د دوسرکې په لور مو حرکت وکړ، تقریبا د پُل یو کیلومترۍ کې کمین نیول شـوی و او د راکټونو ډزې زموږ په کاروان پیل شوې. له پنځلس - شلو دقیقو جگـړې وروسته ډزې کمې شوې او بیرته جلال اباد ته راغلـو. پـه دغـه جگـړه کـې دوه کسه محلي کسان زخمیان شول چې د جلال اباد حوزوي روغتون تـه انتقـال او له درملنې وروسته رخصت شول. دا دویم ځل و چې په خوگیاڼو کې د ما لپـاره کمین نیول شوی و. لومړي ځل د ۲۰۱۹م کال د جون د میاشتې په **۲۳**مـه نېټـه، چې د **۱۳۹۸**ل کال د سرطان د میاشتې له دویمې نیټې سره یې سمون درلـود، د قیلغو په سیمه کې کمـین نیـول شـوی و چـې تفصـیل مـې مخکـې د خوگیـاڼو ولسوالۍ ته د سفر په برخه کې ورکړی دی.

د مې د میاشتې په لومړۍ ورځو کې د ننگرهـار ولایـت د امنیتـي کسـانو پـه منځ کې، په یو کس د نفوذي حملې شک و. هغه کـس مـو د ولایـت د امنیتـي کسانو نه لرې او بل ځای مؤظف کړ او تلیفونه یې د تعقیب لاندې ونیول شول. که څه هم دغه کس روابط تثبیت نه شول خو احتیاط پکار و. لـه دې وروسـته، د ۲۰۲۰م کال د جون د میاشتې په څلورمه نېټه د ننگرهـار د امنیـت امـر، سـلیم توطاخیل شخصي ساتونکی او ډریور، امید د محمداجان زوی، د پولیسو له یـو رینجر او دوه کلاشینکوفونو سره وتښتېده او په خوگیاڼو کې له طالبـانو سره یـو ځای شو. دغه کس د میدان وردگو د ولایت و، چې لـه یـوه کـال نـه راپـدېخوا دلته مؤظف شوی و. فکر کـوم چـې د نفـوذي حملـې لپـاره یـې ځـان د لـوگر ولایت څخه ننگرهار ته د سلیم توطاخیل له گومارل کېدو دمخـه تبـدیل کـړی و. بلا وه خو برکـت یـې نـه و. همدارنگـه سره لـه دې چـې د ولایـت داخـل او میلمستون ته حتی د قول اردو د قوماندان، د امنیت ملي رئیس، د امنیه قوماندان

او د دریواړو لواګانو د قوماندانانو باډیګاردانو ته اجازه نه وه؛ چې داخل شي خو په سفرونو کې د دې خطر موجود و چې نفوذي کسان حمله وکړي. دغه ډېرور په ډېره اسانۍ سره کولی شو، چې په مورږ حمله وکړي ځکه له ولایت د محوطې نه بیرون په باډیګاردانو کنترول نه و. فکر کو په خپل ځان ویریدلی و چې د حملې په صورت کې دی هم له منځه ځي نو ځکه یې د حملې نه یې تیښته ښه ګڼلې وه. اما کولی یې شول چې د طالبانو ځانمرګو حملې ته زمینه مساعده کړې وې او یا یې کولې شول چې د امنیت امر ووژني او وتښتي.

د ۲۰۱۹م کال د کوچني اختر په شپه د جلال اباد په ښار کې پنځه ځانمرګي واسکټونه ونیول شول؛ چې درې یې له دې واسکټونو نه په فابریکه کې جوړ شوي و. مخالفینو کوښښ کاوه، چې د اختر په لمانځه کې ویره خپره کړي خو بیا هم د امنیتي ادارو د ښه تدابیرو له امله د جلال اباد ښار او ولسوالیو تقریبا ۱۱۰۰ محلونو کې د اختر لمونځونه وشول. په ټولو مساجدو او عیدګاو کې د جمهور رئیس او د والي پیغامونه د ولسوالانو، ښاروالانو او امامانو لخوا ولوستل شول او کومه امنیتي پېښه رامنځته نشوله.

د امنیتي ستونځو په هکله یوه خاطره دلته شریکوم. زما کشری زوی، احسان محمود میاخېل چې په اداره او منجمنت کې یې لسانس له امریکا څخه کړی دی او د ماسترۍ لپاره یې امادګي نیوله چې زه د ننګرهار والي شولم. کشری زوی همیشه مور او پلار ته نږدې وي، نو ورته ومې ویل چې ماسترۍ دې پرېږده او راشه ځکه دلته په کور کې مې له میرمنې سره څوک نشته. د کور کارونه ته به متوجې اوسې، زما ایمیلونه به چیک کوي، له خارجیانو سره به فوکل پاینټ اوسي او هم داخل د کور او ولایت کې به زما امنیتي مسایلو ته پام لرې. احسان جان دا مسؤلیت په داوطلبه توګه قبول کړ او اته میاشتې یې راسره په ډېرو سختو شرایطو کې بې له رسمي دندې تیرې کړې. مبالغه نه کوم خو احسان د کار او پابندۍ ښه دسپلین لرې. د کار کولو لپاره یې یو شرط رابانـدې کېښود چې د سپورت لپاره به یو څه وسایل ورته اخلم نو هغه مې ورسره ومنل.

زما شخصي امنیت لپاره یې راته ښه سیستم جوړ کړ او له ګاردانو سره لکه د کشر ورور په توګه یې رابطه درلوده. هر سهار به یې زما د دفتر لاره، چوکۍ او مېزونه ټول پخپله چیک کول چې ګوندې چا بمب او یا نور څه نه وي ایښودي. همداشان زما خوړو ته متوجې و چې ځوک پکې څه وانه چوي.

د ۱۳۹۸ل کال د حمل په ۲۷مه نېټه ښهار وختي دفتر ته لاړ نو زه هم ورپسې ډېر ژر لاړوم. ګورم چې میزونه او چوکې پخپله چیک کوي. له یوې خوا خوشاله شوم چې زما د امنیت لپاره خپل ژوند په خطر کې اچوي خو له بلې خوا د مور او پلار همېشه زیات تشویش له اولادونو سره وي او د ټولو نه زیات په اولادونو دردیږي. مور او پلار د اولادونو په خاطر خپل ژوند په خطر کې اچوی خو دا یې هېڅکله پیرزو نه وي چې اولادونه دې د دوی په خاطر ژوند په خطر کې واچوي. ډېرې کسان خپل اولادونه خوندي ځای ته لیږي او خپله خطر مني خو ما برعکس خپل زوی له خوندي ځای نه نا امنه ځای ته راوست او له خطر سره مې مخ کړ. دا صحنه راباندې ډېره سخته تېره شوه، دی مې پوه نه کړ خو له سترګو نه مې اوښکې توی شوې. راته یې وویل چې څه خبره خو نشته. ما ورته وویل چې نه سترګې مې الرژي لري، سهار کله ترې اوښکې بهیږي.

جنګ ډېره ناوړه پدیده ده. خپل یاد داشتونو کې مې دا صحنه ځکه ولیکله لکه څنګه چې زه په خپل اولاد ځوریږم، همداسې د هر افغان ژوند چې په خطر کې اچول کیږي، یا وینه یې تویږي، طبیعي خبره ده چې د هغه کورنۍ او دوستان به پرې ځوریږي. بې له مبالغې ما هېڅکله خپلو باډیګاردانو، ډریورانو او شاوخوا کسانو ته په ټیټه سترګه نه دي کتلي او نه مې ورته سخته خبره کړې ده، بلکې ټولو ته مې د ورونو او اولادونو په شکل نظر کاوه. همیشه مې د دوی امنیت ته له ځانه نه هم زیات متوجې وم. زما امنیتي پرسونل که هغه د کورنیو چاور په وزات کې و، که د ننګرهار په ولایت کې او یا هم د ملي دفاع په وزارت کې که دا لیکنه لولي، د دې خبرې تائید شاید وکړي. البته لکه څنګه

مې چې د خپلو اولادونو نه د کار، دسپلین او خدمت توقع وه، همداسې دوی هم خپل کار په اخلاص سرته رسوه چې زه د ټولو نه مننه کوم.

**له ننګرهار څخه استعفاء او خدای په اماني**

کله چې د ۲۰۲۰م کال د مارچ په درېیمه نېټه جمهور رئیس ننګرهار ته راغی، د ملي امنیت سلاکار، ډاکټر حمدالله محب، د چارو د ادارې مشر، ډاکټر فضل محمود فضلي او د محلي ادارو مشر، عبدالمتین بیګ ته مې وویل چې د کورونا له ویروس سره د مبارزې او هم د اوړي د جنګي موسم نه وروسته د سنبلې په میاشت کې به زما په ننګرهار کې یو نیم کال پوره شي او نور نه غواړم چې ولایت ته دوام ورکړم. تر یو حده مې کار وکړ او د ننګرهار وضعیت ښه شو. هغوی نظر دا و چې تر یوه کاله پورې نور هم باید پاتې شم خو ما ورته وویل چې دا ممکنه نه ده؛ ځکه تقریبا په دغه موده کې ما هره ورځ که درې شفته نه وې؛ نو دوه شفته مو کار کړی دی او یو نیم کال کار په دریو کالو حساب دی. دوی زما د استعفا خبره جدي وانخستله. د جون د میاشتې په یولسمه نېټه مې استعفا لیک د محلي‌ادارې عمومي رئیس عبدالمتین بیګ ته ورکړ، چې جمهوري ریاست ته یې ولېږي. بیګ صیب وویل چې فکر نه کوم جمهور رئیس ستاسې استعفاء ومني. د جون د میاشتې په دیارلسمه نېټه مې یوه کاپي محب صیب ته او یوه کاپي فضلي صیب ته جلا جلا ورکړه.

د دوی نظر دا وه؛ چې ولې استعفاء کوم او هم د استعفاء نه وروسته څه غواړم چې وکړم. دوی ته مې د استعفا په هکله خپل دلایل وویل چې زیات یې د امنیتي سکتور پورې تړاو درلود او د کار مې ورته وویل چې چیرته نه ځم همدلته په کابل کې اوسم او د حکومت حمایت کوم. که جلالتماب جمهور رئیس موافق وي، د حکومتولۍ په چارو کې مې د جمهور رئیس د سلاکار په توګه وټاکي او د چا ځای به مو هم نه وي نیولي. که دا نه وي، د سناتور په صفت مې دې وټاکي. دا دندې د معاش په خاطر نه، بلکې په دې خاطر غواړم

چې په ننګرهار کې د داعش، طالب او نورو جنايي حلقو سره مو مبارزه وکړه نو دامنيت په خاطر يو څو کسه محافظين بايد ولرم. که دا هم نه وي، کور مو ودان او موږ به خپل عادي ژوند ته د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې دوام ورکړو. د حکومت له موجوده معاش څخه زيات له نړيوالو ادارو سره د مشاور يا همکار په توګه په اسانۍ سره پيدا کولی شم او څه مشکل نشته.

د دواړو نظر دا و، چې دا سمه نه ده او بايد اجرايیوي صلاحيت ولرم. د جون په ۲۶مه نېټه راته محب صيب زنګ ووهه چې جمهور رئيس غواړي چې د ملي دفاع وزارت د وزير په حيث دې تعين کړي. د ځينو دلايلو په اساس مې ورته وويل چې د دفاع وزارت دنده نه قبولوم خو په لومړي سر کې که د لومړي مرستيال په توګه تعين شم ښه به وي. که د دفاع وزير اسدالله خالد صحت ښه شو؛ ډير ښه او کنه بيا بل داسې څوک وټاکي چې زه ورسره کار وکړی شم او يا تر يوه وخته به د سرپرست په توګه کار وکړم. بيا محب صيب راته زنګ ووهه چې جلالتماب جمهور رئيس وايي چې د دفاع وزارت د لومړی معاون په توګه به دې عاجل تعين کړو؛ ځکه د وزير صيب صحت ښه نه دی او ته به پخپله سرپرست پاتې يې. د رئيس صيب په قول راروان يو کال نهايت زيات مهم دی؛ ځکه د خارجي قواو وتل مطرح دي، د سولې او جنګ خبرو مديريت مهم دی او هم په حمايوي برخه کې زياتو اصلاحاتو او تغيراتو ته اړتيا ده. هماغه و چې له دوی سره مې د دفاع وزارت د لومړي معاون د تعين کېدلو دنده ومنله.

د جون د مياشتې په ديرشمه نېټه راته محب صيب مسيج وکړ چې ځان تيار کړه او ډېر ژر به ستا تقرر اعلان شي. د جولای په څلورمه نېټه، جمهور رئيس د VTC له لارې د ننګرهار د ولسونو سره غونډتل چې خبرې وکړي او ترتيبات مو ورته ونيول. جمهور رئيس زه کابل ته وغوښتلم، څو په ننګرهار کې زما د کاري دورې په خاطر د وزير محمد اکبر خان عالي مډال هم په همدې ورځ راکړي او د هماغه ځايه زما د تبديلي اعلان وکړي. متاسفانه په دغه ورځ په اقتصادي چارو کې د جمهور رئيس ستر سلاکار محمد يوسف غضنفر دکورونا له

وجهې مړ شو. د ارګ چار چنار ماڼۍ ته یې مډال راوړی و؛ خو د نوموړي د مړینې له امله جمهور رئیس د چار چنار ماڼۍ ته رانغی او د مډال ورکړه وځنډېدله خو د ننګرهار له ولسونو سره یې د VTC له لارې خبرې وکړې.

په لومړي سرکې ما خبرې وکړې او په مجهول ډول مې وویل چې په ننګرهار کې یو څه کار شوی دی خو اوس هم لا ډېر کار ته په ټولو برخو کې اړتیا ده. موږ تر اوسه ٥٠ سلنه مزل کړی او ٥٠ سلنه لار پاتې ده. څه مو چې په ننګرهار کې تر سره کړي، دا مو د ولسونو په حمایت تر سره کړي دي او زه له ټولو ولسونو نه مننه کوم. د ننګرهار نه په VTCد علماو په استازولۍ مولوي سید مطهر شاه، د قومونو په استازولۍ معلم محمد اکبر، د معلولینو د ټولنې په استازولۍ مسعود ساپي، د ډاکترانو په استازولۍ ډاکتر ایمل ذکي، د خوانانو په استازولۍ سید اغا حلیمزي، د کروندګرو په استازولۍ محمد قدیر، د ننګرهار د سکهانو په استازولۍ اقبال سنګ، د صرافانو په استازولۍ حاجي مصطفی، د تجارانو او صنعتګرانو په استازولۍ حاجي تورملنګ او د ښځو په استازولۍ استاد شیلا بابري خبرې وکړې. جمهور رئیس په اخره کې وویل چې د جلال اباد ښار لپاره د SDF یا د پراختیا او انکشاف پلان برابر شوی دی. د ننګرهار د نفوسو مسئله جدي ده، څو د معلیمنو تعداد زیات شي. همداشان په تورخم ښارګوټي پانګونه کوي چې هغه ښه جوړ شي. د دې تر څنګ به ننګرهار پوهنتون ته مالي ازادي ورکړي او همداشان د اوبو مدیریت ته به توجو وشي.

په سبا جمهور رئیس زما د ټاکل کېدو فرمان د ملي دفاع وزارت د لومړي معاون په توګه امضا کړ او زما د تبدیلي اوازه خپره شوله. جلال اباد ته د رارسیدو سره سم د خدای په امانۍ مجالس پیل شول. له دندې څخه خدای په اماني اخیستل اسان کار نه دی؛ ځکه د ښو همکارانو، دوستانو او ولسونو نه جدا والې اسان نه وي او د ولایت په دنده کې والي هره ورځ له امنیتي او ملکي ادارو نه نیولې، د خصوصي سکتور، اصنافو، تعلمي مراکزو، علماو، قومي مشرانو، منتخبو استازو، فرهنګي او مدني ټولنو، لیکوالانو او سل ګونو عام

کسانو سره سرو کار لري. د ننګرهار په دوره کې زه لـه موافق او مخـالف ټولـو کسانو منندوي یم. په اجراییوي دنده کې که یو څو کسـه مخـالف ونـه لـري یـا خفه شوی نه وی، نو بیا خو مې خپله دنده په سـمه توګـه نـه ده اجـرا کـړې. پـه اجراییوي موقف کې هرچا تـه څـوک ښـه نشي-ویلی او پـه هـره پرېکـړه کـې خامخا یو څو کسه متضرره کېږي.

د جولای د میاشتې په لسمه نېټه مو د چـارو د ادارې د رئـیس ډاکـتر فضـل محمود فضلي او دهوانوردی د عمومي رئیس ډاکتر محمد قاسم وفـاییزاده سره یو ځای د ګمبیري په دښته کې د جلال اباد د نوي هوایي ډګر دجوړېـدو ډبـره کېښوده، د بهسودو پُل د دواړو خوا د ترمیم چارو د ختمولو او هم د پاچا خـان د مزار د جوړېدو افتتاح وکړه.

د خدای په امانې په دې لړۍ کې، د معارف او ماشومانو په استازولۍ هماغه د ترانې ټیم چې محسن داوړ او علي وزیـر تـه یـې ترانـه برابـره کـړې وه، زمـا د خدای په امانې لپاره ولایت ته راغلل او په اداري مجلس کې یې زما د رخصتي په هکله جوړه شوې ترانه وویله، چې د هغه ماشومانو خوږ اواز مې تر اوسـه پـه غوږونو کې انګازې کوي. په ننګرهار کې تقریبا په یونیم کال ماموریـت کـې د ښوونځیو پـه ۱۸۲ ودانیـو کـار پیـل شـو. د امنیـت د پراخـوالي سره پـه نازیـانو، هسکې مېنې، لعل پورې، خوګیاڼو، او پچیرواګام ولسوالیو کې ډېر بند ښوونځي بیا پرانیستل شول. معارف او زده کړې ته همیشه بایـد زیاتـه توجـو وشي، ځکـه څو د علم ډیوې په جهل غالبې نشي، تر هغې پورې پـه یـو ملـک کـې دایمـې ثبات نشي راتلای.

په څو ورځو کې چې په ننګرهار کې پاتې شولم، د ننګرهار بېلابېلو اقشـارو او ادارو راته د خدای په امانې مراسم برابر کړي و. عدلي او قضایي ادارو سره د ښې همغږۍ او عدم مـداخلې پـه پـار، د ننګرهـار د اسـتیناف محکمـې پـه یـوه خاصه غونډه کې راته د قضاییه قوې لخوا ستاینلیک چې د سـترې محکمـې د عالي شورا لخوا منظور شوی و راکړ. د ننګرهـار د اسـتناف د رئـیس عبـدالولي قاضي زاده نه خاصه مننه.

د علماو په استازولۍ، په ختيځو ولايتونو کې د علماو د شورا رئيس شيخ مولوي حميدالله صديقي لخوا وستايل شوم. همداشان د ننګرهار پوهنتون له رئيس پوهاند ډاکتر خليل احمد بهسودوال او استادانو نه مننه کوم چې زما د کارونو ستاينه يې وکړه. د ننګرهار ولايتي شورا نه مننه چې خاصه ميلمستيا يې برابره کړې وه او د ټولو لوړو ژورو سره يې زما د کارونو ستاينه وکړه. د تجارت د خونې رئيسه هئيت او غړو يوه لويه ميلمستيا برابره کړې وه او ستاينليکونه يې راکړل. د يادونې وړ ده، چې د ولايت په وخت دا لومړنۍ او اخرنۍ ميلمستيا د تجارانو وه، چې د رخصتي په وخت کې مو وخوړه. تجاران که له يوې خوا د خپلو زحمتونو او کاروبار له لارې يو عايد تر لاسه کوي، خو له بلې خوا په سختو شرايطو کې کار کوي. د افغانستان نازکو حالاتو کې د تجار ژوند او سرمايه هميشه په خطر کې ده. د خصوصي سکتور د ودې نه په غير يو هېواد هېڅکله پرمختګ نشي کولی.

د کار تر اخري ورځې پورې هره ورځ ډلې ډلې کسان او د بېلابېلو اقشارو استازي ولايت ته راروان و. زيات کسان زما په تګ خفه و؛ خو کېدای شي يو څه چې ما يې د ولايت په وخت کې مخه نيولې وه، خوشاله هم و. له ژورنالستانو سره د خدای په امانۍ په محال، شيرشاه همدرد، رحيم الله خوګياڼي او انجنير زلمي خبرې وکړې. انجنير زلمي وويلې چې موږ ستا ملاتړ په فکري لحاظ کړی دی او دې ته به دوام ورکوو. د شيرشاه همدرد يو څو خبرې دلته رانقلوم: په لومړي سر کې چې تاسي راغلئ نو زموږ تشويش و چې مشکله ده چې ننګرهار مهار کړی شئ او ولايت ستاسي د وسې وتلې خبره ده. خو زموږ اټکلونه سم ثابت نه شول. په دې موده کې مو د شرافت فرهنګ ته وده ورکړه، باجګيري مو ختمه کړه، د فکري بدلون لپاره مو کار وکړ. دا شعار چې په سهم نه يم راغلی او چاته سهم نه ورکوم تل به د خلکو په منځ کې پاتې وي. ستاسي د شناخت او ملګرتوب نه چا سؤ استفاده کولی نه شوه. په ادارو کې مو د مداخلو فرهنګ ختم کړ. اطلاعاتو ته د لاسرسي فرهنګ دې د ټولنيزو رسنيو له

لارې رواج کړ، پخپله دې د حکومتولۍ او رسنیو په برخه کې لیکچرونه بېلابېلو ټولنو ته ورکړل، پخپله دې خبريالي وکړه او د باز سازۍ نوې ریکارډ دې په ننګرهار کې ټینګ کړ. همدرد صیب وويل چې هغه بله ورځ راته د ننګرهار يو وکیل وويلې چې والي مې بدې شي خو پاک سړی دی. همدا خبرې ستاسې په هکله کافي دي.

د پارلمان په استازولۍ عبدالروف شپون راته د ولسي جرګې رئیس په امضا تقديرنامه راوړه. زه فکر کوم چې زه به اولین کس اوسم چې د قضاییه، مقننې او اجراییه قواو مشرانو په تقدیرنامو او مډال په یوه وخت کې وستايلم. د مشرانو جرګې رئيس هم د مشرانو جرګې په عمومي تالار کې په مډال او تقدیرنامې وستايلم. د جلالتماب جمهور رئیس، د قاضي القضات فضلیتماب سید یوسف حلیم، د مشرانو د جرګې د رئيس فضل هادي مسلمیار او د ولسي- جرګې رئيس، میررحمان رحماني د ستاينې او لوروني نه خاصه مننه کوم.

د جولای د میاشتې په یولسمه نېټه چې د ۱۳۹۹ل کال د سرطان د میاشتې د ۲۱مې نیټې سره سمون خوري، د ولایت مامورینو او خپلو نږدې همکارانو سره خدای په اماني وکړه. په همدې ورځ د ولسونو سره د کرزي په تالار کې یوه لویه غونډه جوړه او عمومي خدای په اماني له ولسونو سره وشوله. د تالار په دننه او بهر کې د ننګرهار د ۲۲ ولسواليو او د جلال اباد ښار د نهه ناحیو نه په سل ګونو کسانو برخه درلوده. د ننګرهار بېلابېلو اقشارو په تحفو او ستاینلیکونو وستايلم چې ټول مراسم د رسینو او ټولنیزو رسنیو له لارې په ژوندې بڼه نشر- شول.

د ننګرهار د ولسونو له ملاتړ او قدرداني خاصه مننه کوم. په خپلو خبرو کې په دې ونه غږېدم چې ما په ننګرهار کې څه وکړل خو هغه وعدې چې مې د ماموریت په لومړۍ ورځ کړې وې تکرار کړې او ورته مې وويل چې هغه مې عملي کړې دي. نه مې چاته باج ورکړ او نه مې له چا باج واخیست. د خپلې دورې د کارونو د ښو او بدو قضاوت ولسونوته پرېږدم. د خپلو خبرو په اخر کې مې ولسونو ته وويل چې د ننګرهار نه د يو څو یاد داشتونو کتابچو سره

چې خلکو ته مې وښودلې لاړم او نور هېڅ نه لرم. دا یاد داشتونه به د امانت په شکل لیکم چې دا هم د ننګرهار د ولسونو او زما د دورې د تاریخ یوه برخه ده. دا دې نن خدای توفیق راکړ چې دا یاد داشتونه مې راټول او منظم کړل او د کتاب په بڼه یې د ننګرهار ولسونو ته ډالۍ کوم.

دا چې ما یوازې یو کرولا موټر درلود نو د ملي دفاع وزارت ته مې وویل چې که یو موټر راولیږي او هم د کابل پورې د لارې امنیت وساتي نو ښه به وي. د ملي دفاع وزیر یو لینډکروزر موټر او امنیتي پرسونل راولیږه. د ننګرهار د ولایت ټول وسایط سره له پرسونله مې په ننګرهار کې پریښودل. د خپل د اوسیدو ځای کې مې چې د کور ځینې محدود وسایل اخیستي و، هغه د تشناب د چپلکو پورې هماغلته پرېښودل؛ چې زما ځای ناستې ترې استفاده وکړي ځکه هغه هم د ولایت د اوپراتیفي روپیو نه اخستل شوي و. کله چې سروبي ته ورسېدو د اردو څلور پینځه خالي رینجرې چې په هر کې یو ډریور ناست و، په نظر راغلې؛ نو د وزارت د قرارګاه قوماندان، جګړن میروس عثماني چې پخپله یې موټر چلوو، پوښتنه مې ترې وکړه چې دا خالي رینجرې چې مسلح کسان پکې نشته، څنګه راوستلي دي؟ هسې قطار مو پرې لوی کړی دی که څنګه؟ جګړن عثماني راته وویل چې موږ فکر کاوه چې له تاسي سره به ډېر بکسونه او سامان وي، هغه به په دې رینجرو کې راوړو. موږ څه خبر و چې تاسي د دوه بکسونو سره موټر ته راوختلی، نه درسره باډیګارد او ډریور و او نه نور څه. موږ ته هم عجیبه ښکاری چې د ننګرهار والي دې دومره په سادګۍ له ولایت څخه رخصت اخلي او هېڅ ورسره نشته.

د ننګرهار دوره د ما لپاره هم د درسونو او عبرتونو نه ډکه دوره وه. ډېر څه مې د ولسونو او خپلو همکارانو ته یاد کړل. د ننګرهار د ولسونو سره زما خدای په اماني په دایمې توګه نه وه، ځکه ننګرهار زما دایمي کور دی او همیشه د ننګرهار له ولسونو سره مې دایمي اړیکي له ولایت نه پخوا هم درلودلې او د ولایت وروسته به یې هم لرم. د وزارت پیل یو نوې چیلنج و او هغه دنده هم

یوه میاشت دمخه د ۱۳۹۹ل کال د حوت د میاشتې په دېرشمه نېټه ختمه شـوله. په قطر کې د اګریمان د رارسیدو پورې مې له موقع څخه اسـتفاده وکـړه چـې د ننګرهار یاد داشتونه منظم او چاپ ته تیار کړم. د وزارت او سفارت قصې به بیـا وروسته لیکو چې هغه هم د ولس امانت دی، باید ولیکل شي او چاپ شي.

په افغانستان کې د دایمي سولې او سوکالۍ په هیله
د ۲۰۲۱م کال د جولای د میاشتې لسمه نېټه
کابل، افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوريت دولت
سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره
ننګرهار ولایت

دولت اسلامی جمهوری افغانستان
اداره مستقل ارگان های محل
ولایت ننگرهار

Islamic Republic Of Afghanistan
Independent Directorate Of local Governance
Nangarharprovince
والي سکرتریت

نمبر ـ ۳۰ نېټه ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۸

د ولایت د دندي نه استعفا لیک

جلالتماب جمهور ریس صیب!
السلام وعلیکم و رحمته الله و برکاته.

تر هر د مخه د تاسي او ستاسي د ټیم نه مننه کوم چي په ما مو اعتماد وکړ او د ننګرهار د ستراتیژیک ولایت د مسوولیت دنده مو په بحراني حالت کي راوسپارله تر څو ولسونو ته د خدمت مصدر وګرځم.

ستاسي د جلالتماب د حمایت او ملاتړ په نتیجه کي مو په تیرو ۱۶ میاشتوکي وکړای شول چي د ننګرهار بحراني وضعیت مثبت خواته تغیر ومومي. په دی لنډه موده کي امنیتي توسعه رامنځته شوله، داعش ختم شو، د طالبانو نفوذ نهایت محدود شو، افغانی مروجي شولي، د زوراکی، باجګریو، غصب او فساد مخه ترډیره حده ونیول شوله، په ټاکنو او د سولي مشورتي جرګه کي ننګرهار ولسونو فعاله ونډه واخستله، تقریبا ۵-۶ زره شهیدانو، معلولینو او معلمینو کورنیو ته د نمرو ویش ترسره شول، تیر کال د استقلال سلمه کلیزه په ښه شان سره ولمانځل شوله، د کرونا ویروس سره مبارزه تر یوه حده په ښه توګه تر سره شوله، تقریبا ۱۱۰۰ انکشافي لوی او وړی پروژي ستاسي په خاصه توجه پیل او اکثره یی تکمیل شولي.

د ټولو نه مهمه مسله ماته د فرهنګي او فکري مثبت تغیر په لور د مثبت قدمونو اختسل او د حکومتولی روایتي بڼي ته په ننګرهار کي تغیر ورکول و. دا مو ثابته کړه که یو قلموال تعهد، جرئت او پاکوالي ولري، کولی شي چي د یو مهم ولایت چاری سمبال کړي. دا ضرور نه ده چي د یو ولایت د چارو د سمبالښت لپاره په زورواکانو او ازمایل شوو ټوپکسالارانو باندي اتکا وشي. دا ټولي لاسته راوني یوازي د والي نه بلکي ستاسي او د مرکزي حکومت په حمایت، د ننګرهار د نظامي او ملکي ادارو ترمنځ دهمغږي او د ولسونو په ملاتړ تر سره شویدي. زه د ټولو نه مننه کوم. د دي تر څنګ دا پورته لاسته راوړني د دي معني نه لري چي ټولي ستونځي په ننګرهار کي حل شویدي بلکي اوس هم یو شمیر زیاتي ستونځي لا حل نه دي او ننګرهار اوس هم زیات کار ته اړتیا لري. د مثبت تغیر په لور چي کوم حرکت پیل شوی باید دوام ومومي او هم ځیني مهمي پروژي چي پلان شوي باید په خپل وخت پیل شي.

د یادوني وړ ده چي د خپلي دوري په ماموریت کي مي یوه ورځ وقفه نه ده کړي او حتی کابل ته هم بی له ضرورته نه یم تللی. په دي دوره کي پنځه خلي په ما مسقیمه توګه حملي وشولي او په غیر مستقیمه توګه هره ورځ د ولایت مقام د تهدید لاندي و خو مونږ هیڅ نوع بهرني او داخلي تهدیدونو ته سر ټیټ نه کړ. ستاسي اعتماد مو وساته او د هیڅ ګروپ او شخص سره مو جوړ جاړي ونه وکړ. که خدمت به مو لږ یا ډیر کړی خو د هر نوع مالي او اداري فساد نه مو ځان لري ساتلي دی. د ننګرهار ولسونه او اړوندي اداري په دي هکله خپل قضاوت په ښه توګه کولي شي.

دا چي ننګرهار یو مهم او ستراتیژیک ولایت دی، زه د شخصي او صحي معاذیرو له امله نور نشم کولي چي خپله دنده په ښه توګه تر سره کړم. په دي اساس ستاسي حضور ته خپله استعفا لیک وړاندي کوم. په نهایت کي د اسد د میاشتي تر اخره پوري به خپلي دندي ته دوام ورکړم او هیله مو ستاسي د حضور نه دا ده چي په دي موده کي زما په عوض یو ښه څوک چي د ننګرهار شمله ورو او فرهنګپالو ولسونو ته د خدمت جوګه وي، وټاکل شي.

په اخر کي زه د نظام او حکومت ملاتړي وم، یم او په راتلونکي کي به هم تر څو چي ساه په تن کي لرم، همیشه به د نظام او دخپلو خلکو په چوپړ کي اوسم.

په درنښت

شاه محمود میاخیل
د ننګرهار والي

**په ننگرهار کې د شاه محمود میاخېل د ولایت د ماموریت پر مهال د نظامي، ملکي او منختبو ادارو د مشرانو او مسئولینو لیست**

| دننگرهار د نظامي ادارو د مشرانو او مسوولین لست چه په دغه دوره کې دندې اجراکړې | | |
|---|---|---|
| گڼه | نوم | دنده |
| ۱ | ډگر جنرال نظر علي واحدي | ملي امنيت رئيس |
| ۲ | ډگر جنرال محمد زمان وزیري | ۲۰۱ سیلاب قول اردو قوماندان |
| ۳ | تورنجنرال عبدالهادي ترین | ۲۰۱ سیلاب قول اردو قوماندان |
| ۴ | پاسوال غلام سنایی ستانکزی | د امنیه قوماندان |
| ۵ | سمونوال محمد ایمل نیازی | د امنیه قوماندان |
| ٦ | سمونوال عبدالرقیب مبارز | د امنیه قوماندان |
| ۷ | برید جنرال محمد ایوب حسین خېل | د سرحدي لواء قوماندان |
| ۸ | برید جنرال محمد نصیر احمد ساپی | دعامه نظم قوماندان |
| ۹ | برید جنرال محمد کریم نیازی | د ملي اردو څلورمې لواء قوماندان |
| د ولایت مرستیالان او سکتوري ادارو ریئسان او مسوولین | | |
| گڼه | نوم | دنده |
| ۱ | تمیم عارف مومند | د ولایت مالي او اداري مرستیال |
| ۲ | حبیبه کاکړ | د ولایت ټولنیزو او فرهنگي چارو مرستیاله |
| ۳ | انجینر فرید احمد ناصرزی | د ولایت دفتر رئیس |
| ۴ | فضل ربي همیم | د ولایت سکتوري رئیس |
| ۵ | احمد ضیاء عبدالزی | د ولایت بشري سرچینو رئیس |
| ٦ | قریب الله هجرت | د ولایت مالي او اداري رئیس |
| ۷ | گل افضل نادري | د ولایت مستوفي |
| ۸ | نوید بشریار | د ولایت مستوفی او مخکې د گمرک رئیس |
| ۹ | قضاوتمند عبدالولي قاضي زاده | استیناف محکمې رئیس |
| ۱۰ | عبدالولي هاشمي | استیناف څارنوالۍ رئیس |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | مستو خان هلال | عدلي رئیس |
| ۱۲ | ډاکتر یحیی فهیم | پوهنتون رئیس |
| ۱۳ | پوهاند خلیل احمد بهسودوال | پوهنتون رئیس |
| ۱۴ | حسیب الله شینواری | پوهنې رئیس |
| ۱۵ | قاري محمد داود مجاهد | حج اوقافو رئیس |
| ۱٦ | محمد اورنگ صمیم | اطلاعاتو فرهنگ رئیس |
| ۱۷ | رحیم الله خوږیانی | اطلاعاتو فرهنگ رئیس |
| ۱۸ | ریاض الله درمل | جلال اباد ښاروال |
| ۱۹ | روح الامین حسن | جلال اباد ښاروال |
| ۲۰ | نصر الله صاحبزاده | ګمرک رئیس |
| ۲۱ | عبدالباسط عظیمي | ښار جوړوني رئیس |
| ۲۲ | سید اغا میاخیل | د کانال ریئس |
| ۲۳ | پرویز علي علیشنګی | کانال ریس |
| ۲۴ | عبدالقهار حیدري | کانال رئیس |
| ۲۵ | انعام الله ساپی | کرنې رئیس |
| ۲٦ | حامد ضیاء | ټولګټو چارو رئیس |
| ۲۷ | مجیب الرحمن ضیا | د کلیو پراختیا ریس |
| ۲۸ | امان الله میاخیل | کلیو پراختیا رئیس |
| ۲۹ | اکرام الله عابد | برېښنا رئیس |
| ۳۰ | فتانه عزیز | ښځو چارو رئیسه |
| ۳۱ | هجرت الله اختیار | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو رئیس |
| ۳۲ | ډاکتر نجیب الله کاموال | د عامی روغتیا ریئس |
| ۳۳ | ډاکتر خلیل الله حکمتی | د عامې روغتیا ریئس |
| ۳۴ | ډاکتر نصیر احمد درانی | د عامې روغتیا رئیس |
| ۳۵ | نیک محمد ارمان | کوچیانو چارو رئیس |
| ۳٦ | غلام الله افغان | اقتصاد رئیس |
| ۳۷ | عبدالحکیم شېرزاد | کار ټولنیزو چارو رئیس |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸ | نصرت جمیل ذاخیل | اراضی رئیس |
| ۳۹ | محمد صادق دولتزی | اراضي رئیس |
| ۴۰ | نجیب الله قیومي | کډوالو چارو رئیس |
| ۴۱ | حسن خان نیازی | بهرنیو چارو رئیس |
| ۴۲ | نادرخان جبارخېل | سرې میاشتې رئیس |
| ۴۳ | سنگر الکوزی | پېښنو پر وړاندې چمتوالي رئیس |
| ۴۴ | عبدالرزاق ثاقب | مخابراتو رئیس |
| ۴۵ | خالد گردیوال | د صنعت او سوداگرۍ رئیس |
| ۴۶ | محمد حسن نیکبخت | د صنعت او سوداگرۍ رئیس |
| ۴۷ | امین الله یوسفزی | چاپېریال ساتنې رئیس |
| ۴۸ | انجینر ظاهر ستانکزی | اوبو رسولو رئیس |
| ۴۹ | وجیح الرحمن شینواری | قومونو او قبایلو چارو رئیس |
| ۵۰ | سید جواد جلالي | ترانسپورت رئیس |
| ۵۱ | خان وزیر ځاځی | ترانسپورت ریئس |
| ۵۲ | ذبیح الله وگړی | ټاکنو رئیس |
| ۵۳ | انجینر نصرت الله اکرمی | کانونو ریئس |
| ۵۴ | لعل سید مومند | کانونو رئیس |
| ۵۵ | سید عبدالقاهر پاچا | احصایې رئیس |
| ۵۶ | عبدالمالک سلیمانزی | احصایې رئیس |
| ۵۷ | شمس الرحمن شمس | سیندیزې حوزې رئیس |
| ۵۸ | دوا خان مفتون | مسلکي او تخنیکي زده کړو امر |
| ۵۹ | علي محمد کاکړ | شهیدانو او معلولینو چارو امر |
| ٦۰ | محمد طیب | شیهدانو او معلولینو چارو امر |
| ٦۱ | سید احمد شاه | نفتي توکو امر |
| ٦۲ | نثار احمد ژوند | ملي راډیو تلویزیون امر |
| ٦۳ | احمدزی توحید یار | د افغانستان بانک امر |
| ٦۴ | خوشحال حضرتي | د ورزش امر |
| ٦۵ | عبدالوکیل وقار | سپین غر هوټل امر |

| | | |
|---|---|---|
| ٦٦ | انجینر صفت الله زاهد | اټومي انرژۍ امر |
| ٦٧ | صبور دانش | بیمې امر |
| ٦٨ | فخرالدین اخلاصمند | ستنډرډ امر |
| ٦٩ | عبادالله صدیقي | ملي بس تصدۍ امر |
| ٧٠ | انجینر نظیر احمد مختار | ملي بس تصدۍ امر |
| ٧١ | محمد صادق کریمزی | د والي سکرتر |
| ٧٢ | عصمت الله ابراهیمي | د والي کرتر |
| ٧٣ | فواد حاجي زاده | د والي سکرتر |
| ٧٤ | سید احمد فضلي | د ولایت حقوقي مشاور |

**ولسوالان**

| ګڼه | نوم | دنده |
|---|---|---|
| ۱ | حسن خان | حصارک ولسوال |
| ۲ | شمس الرحمن ساپي | خوږیانو ولسوال |
| ۳ | مبارز خادم | شېرزادو ولسوال |
| ۴ | حضرت خان خاکسار | پچیر اګام ولسوال |
| ۵ | محمد صدیق دولتزی | چپرهار ولسوال |
| ٦ | قاري هجرت الله رحماني | سره رود ولسوال |
| ۷ | غالب مجاهد | بهسودو ولسوال |
| ۸ | شریف الله فضلي | کامې ولسوال |
| ۹ | ډاکټر اسماعیل | کوز کونړ ولسوال |
| ۱۰ | ډاکټر هجرت الله ګردیوال | دره نور ولسوال |
| ۱۱ | سید علي اکبر سادات | روداتو ولسوال |
| ۱۲ | رضوان الله بشرمل | هسکې مېنې ولسوال |
| ۱۳ | قاسم خان | سپین غر ولسوال |
| ۱۴ | عاشق الله سادات | اچین ولسوال |
| ۱۵ | نجیب الله رحماني | کوټ ولسوال |
| ١٦ | عبدالوهاب مومند | بټي کوټ ولسوال |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | معلم معشوق | شینوارو ولسوال |
| ۱۸ | قاضي طارق | نازیانو ولسوال |
| ۱۹ | شېرشاه حسیني | دورباباولسوال |
| ۲۰ | نسیم شینواری | مومندرې ولسوال |
| ۲۱ | عبدالبصیر گلاب | گوشتې ولسوال |
| ۲۲ | نعمت الله نورزی | لعلپورې ولسوال |
| **د کرونا فنډ د مدیریت تیم (رضاکارهمکاران)** | | |
| **گڼه** | **نوم** | **دنده** |
| ۱ | ډاکتر ایمل ذکي | کرونا فنډ رضاکاره غړی |
| ۲ | ډاکتر ناصر کاموال | د ولایتي شورا وکیل او د کرونا فنډ رضا کاره غړی |
| ۳ | ډاکتر شمس | د کرونا فنډ رضاکاره غړی |
| **د ولایت مطبوعاتي تیم** | | |
| **گڼه** | **نوم** | **دنده** |
| ۱ | عطاء الله خوږیانی | د ولایت ویاند او مطبوعاتو عمومي مدیر |
| ۲ | سنگر پښتون | د عامه اړیکو مدیر |
| ۳ | نور احمد حبیبي | کمره مین |
| ۴ | اسد الله بارکزی | خبریال |
| ۵ | موسم خان | ویډیو ایډیټور |
| ٦ | خان محمد | خانه سامان |
| **د ولایت د شکایتونو د ۱٦۰ شمیرې مسوولین** | | |
| **گڼه** | **نوم** | **دنده** |
| ۱ | پرویز خان | د ۱٦۰ شمیرې مسوول |
| ۲ | انجنیر ذبیح الله | د ۱٦۰ شمیرې همکار |
| **د ولایتي شورا غړي** | | |
| **گڼه** | **نوم** | **دنده** |
| ۱ | احمد علي حضرت | د ولایتي شورا رئیس |
| ۲ | عبیدالله شینواری | د ولایتي شورا مرستیال |
| ۳ | استاد حمیرا رفیع | منشي |

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | اجمل عمر | غړی |
| ۵ | استاد اسرار الله مراد | غړی |
| ٦ | سهراب قادری | غړی |
| ٧ | ډاکتر محمد ناصر کاموال | غړی |
| ٨ | اصحاب ولی مسلم | غړی |
| ٩ | حاجی افتخار مومند | غړی |
| ١٠ | عبدالله ملکزی | غړی |
| ١١ | شمس الرحمن مسلم یار | غړی |
| ١٢ | عبدالقهار قدیر | غړی |
| ١٣ | حاجی سید  مهدی | غړی |
| د ولسي جرګې غړي | | |
| ګڼه | نوم | دنده |
| ١ | عبدالکریم کریمی | غړی |
| ٢ | فریدون خان مومند | غړی |
| ٣ | ملک قیص نورآغا ملکزی | غړی |
| ۴ | عبدالروف شیون | غړی |
| ۵ | امیر محمد یار | غړی |
| ٦ | نبی الله باز | غړی |
| ٧ | میرویس یاسیني | غړی |
| ٨ | الحاج حضرت علي | غړی |
| ٩ | ابرارالله مراد | غړی |
| ١٠ | نیاز ولي مسلم | غړی |
| ١١ | آرین یون | غړې |
| ١٢ | بی بی حاجی لیلما ولی حکمی | غړې |
| ١٣ | سایمه خوږیانی | غړې |
| ١۴ | انیسه عمراني | غړې |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| د مشرانو جرگې غړي | | |
| گڼه | نوم | دنده |
| ۱ | فضل هادي مسلميار | د مشرانو جرگې رئيس |
| ۲ | لطف الله بابا | غړی |
| ۳ | نواز شريف | غړی |
| ۴ | مولوی عطاوالله لودين | غړی |
| ۵ | مينه شيرزاد | غړی |